نور الایضاح

مولانا ابو الفضل علامۃ الدھر

محمد عبید اللہ الایوبی

القندھاری السلیمانخیلی الحنفی

کتبہ ورتبہ بقلمہ

محمد فضل الحق حقانی

مدرس جامعہ تجوید القرآن کوئٹہ

پروپرائٹر

شمس الحق شمس

مکتبۃ القراۃ والتجوید

کانسی روڈ شالدرہ نزد مسجد نور کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com



Maktaba Tul Ishaat .com


تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں

تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام
Maktaba Tul Ishaat.com

الٰهی تا لره هزار باره شکر دی چی تا توفیق د طباعت د دی
ښکلی تحفی یعنی پښتو نور الایضاح دوهم ۲ ټوک راکړ

نُورُ الاِیضَاح
محشیٰ

پښتو دوهم

۲
ټوک

تصنیف د حضرت علامه ابو الفضل الحاج
محمد عبید الله الایوبی
القندهاری السلیمانخیلی النقشبندی الحنفی،

الناشر
مکتبة القراءة والتجوید
کانسی روډ شالدره کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

الحَمدُ لله وَحده والصلوٰة وَالسلام عَلىٰ من لانبىَ بعده،

وبعد! محترمو لوستونکو! دا بنکلی تحفه پښتو شرح دَ نور الایضاح (دوهم ټوک) چی ستاسو په لاسو لو موجوده ده. دحضرت علامه ابو الفضل محمد عُبَید الله الایوبی القندهاری السلیمانخیلی الحنفی النقشبندی تصنیف دی"

محترمو تاسو ته معلومه ده چی داسلام ددین حقه مخالفینو هر دول، او په هر زمانه، او په هره جامه کی ددین اسلام خلاف تحریکونه چلولی، او چلوی ئی، خو ددی ټولو کوششونو سره سره لله الحمد دا افغانانو په هغه طبقه کی کوم چی دحضرت ایوبی قندهاری دکتابونو سره مینه او علاقه لري، د یهود او هنود، او نصاراؤ دو تحریکونه منجمد او بی فائدی ثابت سوي، زما په فکر دا د حضرت ایوبی د عظیمو مفکوری، انقلابی فکر، او د عظیمو پښتو کتابونو نتیجه ده۔

لِلّٰهِ الحَمد چی دحضرت کتابونه وهغو افغانانو لره کوم چی دوطن مالوف څخه لیری دمسافری او پردیسی ژوند تیروی، هغوی، او د هغوی د بچیانو لپاره د یو معتمد استاذ حیثیت لري، او ولی بی ونه لري چی زمونږ ورونو افغانانو دخپل دین او مذهب پر مسئلو باندی سرقرہا نولوسته تیاردی، هیله ده چی د حضرت ایوبی وټولو کتابونه او په خاص ډول هغه کتابونه چی په پښتو ژبه ژباړه سوی دی هر افغان دقدر په سترګه وګوری او خپل دکور، ونو زیوں او بنا یست ئی وګرځوي. وَالسلام علیکم وَرحمة الله وَبرکاته:

څرنګه چی حضرت ایوبی دکتابت کار وما احقر فضل الحق حقانی ته چی دحضرت دادنی شاګردانو څخه یم، راوسپاری. ما هم دا کار دځان دپاره یو اعزاز وګڼی او د الله په توفیق او ستاسو دمستجابه دعاګانو په برکت سرته ورسید، او حضرت راته حقوق دطبع هدیه کړه۔

ان شآء الله دریم ټوک به هم ژر تر ژره ستاسو تر لاسونو د رورسوو!

فَضَلُ الحَق حَقّانی

مدرس جامعه تجوید القرآن کوئټه وناظم مکتبة القراءة وَالتجوید

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ

وبه نستعین. وَعَلیه توکَّلتُ واسئال الله تعَالیٰ ان یوفقنی لتألیف الجلد الثانی من شرح **نُورالایضَاح** بالخیر والصحة وَالسلامَة، والصلوٰة والسلام علیٰ سید البریة وآله وصحبه الکملة"

داول جَلده سَوه خلاص په عَافیت ؛ دویم جلد دی خدای کی ختم په صحت

همت بلند دار کر نزد خدا و خلق ؛ باشد بقدر همت تو اعتبار تو.

همت لوړ دی باری خدایه ز پوهیږم ؛ مګر مرګ به کله راسی نه پوهیږم.

تر اجل پوری به کار زما داغه وي ؛ دقیامت دپاره زما به ذخیره وي

په قیامت به زما د بخښنی دا بهانه وی ؛ د دعا د خلګو هم به دا بهانه وي۔

قال المصنفؒ

فَصۡلٌ فِیۡ وَاجِبِ الصَّلوٰة

وَهِیَ ثَمَانِیَةَ عَشَرَ شَیۡئًا فصل دی په بیان د واجب د لما څخه او هغه اتلس[١٨] شیان دي. **پوهسه:** چی وجوب په لغت کی لزوم ته وائی. او سقوط ته هم. او اضطراب ته هم. او په شرع کی هغه عمل ته وائی چی پر مونږ لازم وی په داسی دلیل چی په هغه کی شه شبهه ندی وجه دمناسبت دَ لغوی معنا او دَ شرعی. فخر الاسلام علی البزدویؒ داسی بیان کړي ده چه دغه واجب عمل زمونږ څخه ساقط دی علمًا یعنی پر مونږ باندی او یقین نه دی لازم، او پر مونږ لازم ازروی عمل دی. او یا مضطرب دی په ما بین کښی د فرضو او سُنتو. ولی چی عمل یه لکه د فرضو دی او علم یه لکه د سُنتو دی" دامام اعظمؒ څخه روایت دی چی فرق په مابین کی د فرضو او د واجبو لکه فرق په مَابین کی

داسمان اود محکی دی. او بعض فقهاءؒ پر واجب د سنت اطلاق کوی. د هغه معنا داده چې ددی عمل اثبات په سنت نبوی ﷺ سره سوی دئ. او هغه عمل ته په بل ځای کښې بیا واجب وائی. په معنا ددی چې دَ دغه کار کول پر مونږ لازم دی فلا تعارض بین الاطلاقین» کذا فی البحر»

فَائِدَةٌ امام طحطاویؒ وائی: چې ادلہ سمعیه یعنی د قرآن پاک آیتونه او احادیث نبویه **څلور قسمه** دي. **اول** هغه دلیل سمعی دی چې ثبوت یې په شریعت کښې قطعی یعنی یقینی وی او سره د هغه دلالت یې پر مقصود هم یقینی وي. کالنصوص المتواترة المحکمة» که دقرآن آیت وی. او که حدیث نبوی ﷺ متواتر وی چې په دې قسم سره فرضیت او حرمت ثابتیږي او منکر یې کافر گڼل کیږي. لکه پر قرآن مبارک کی» اَقِيْمُوا الصَّلٰوةَ، وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰى وغیر هما. او په احادیثو مبارکه وو کښی: اَلبينة عَلَى المدعى وَاليَمِيْنُ عَلٰى مَنْ اَنْكَرَ وامثاله.

دوهم قسم قطعی الثبوت دی لکن دلالت یې پر مقصود ظنی وی لکه هغه آیتونه دقرآن چې په تاویل سره پر مدعی دلالت کوی. لکه په قرآن مبارک کی: وَالْمُطَلَّقٰتُ يَتَرَبَّصْنَ بِاَنْفُسِهِنَّ ثَلٰثَةَ قُرُوْٓءٍ» چې حنیفیانؒ یې په حیضو ترجمه کوی او شافعیانؒ یې په طهرو ترجمه کوی. چې تفصیل دد لائلو یې په لویو لویو کتابونو د فقهی او اصولو مذکور دی.

دریم قسم یې ظنی الثبوت دی چې دلالت یې یقینی وی. لکه هغه احادیث نبویه چې تواتر ته وی نه رسیدلی. لکن مفهوم او معنا یې یقینی وی چې په اصطلاح د محدثینو ورته اخبار احاد وائی. او په دوهم قسم او دریم قسم سره وجوب او کراهة التحریم ثابتیږی چې منکر یې مبتدع بلل کیږی.

څلورم قسم ظنی الثبوت او ظنی الدلالة دی یعنی دَ قسمه څخه د خبر واحد دی لکن دَلالت پر مراد یې هم ظنی وی یعنی پر تاویل مبنی وی. او په دی قسم

سره سنت والی او استحباب او کراهت تنزیهی ثابتیږی. چې منکر یې محروم الشفاعة النبویه دی په ورځ د قیامت.

سَوَال: په حدیث صحیح نبوی ﷺ کښی راغلی دي چې. شَفَاعَتِیْ لِاَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ اُمَّتِیْ: نو څرنگه تارك السنته یا مکروه تنزیهی د شفاعت نبوی ﷺ څخه محروم ؟

جواب: شفاعت په ورځ دَ قیامت پر دوه قسمه دی یو د پاره د بخښنی د گناه دی. او دوهم د پاره د پورته والی د درجې دئ. حدیث مذکور محمول پر اول قسم دی. او د تارك السنة حرمان د شفاعت څخه محمول پر دوهم قسم دئ. کذا فی شروح کتب الاحادیث النبویه۔

قالَ المصنفؒ فی المراقی: چې مشروعیت د واجباتو د پاره د اکمال د فرضی عملوسوی دئ او سُنت عملونه دَ پاره د تکمیل د واجبو عملو دي. او مشروعیت د مندوباتو او مستحباتو د پاره د اکمال د سنتو راغلی دئ. مثلاً نفس قرائت فرض دی په لمانځه کی او خصوص د اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ او ضم د سُوَرة چې واجب دی د پاره د تکمیل دَ قرائت دی. حتیٰ که یو د غو څخه قصداً پریږدي مکروه تحریمی دی. او که سهواً پریږی دی سجده سهوه به کوي او د غه رنگه نفس رکوع او سجده فرض دی. او طمانینیة چې واجب دی متمم د رکوع او سجدی دی علی الاصح. یا مثلاً نفس طمانینیة چې واجب دی په اندازه د دری واره تسبیح ویلو چې سنت مُتمم د طمانینیة دی.

او تشهد یعنی التحیات په اخیره ناسته کی واجب دَه. او درود پر علیه الصلوٰة والسلام چې سنت دی پوره کوونکی د تشهد ی دَی. او د اغه رنگه بِسْمِ اللّٰهِ ویل چې سنت دی مُتمم دی دَ قرائت د فاتحی چې واجب دی. لکن دا توهم مه کوه چې هر عمل چې سُنت وی خواه مخواه به متمم د واجبو وی. او یا مثلاً دری واره تسبیح ویل په رکوع او سجده کی سنت دي. او کتل و ظاهر ته د پښو په رکوع کی او یا کتل و نرمی ته د پزی په سجده کی مُستحب دی او متمم د تسبیح گانو دی. په دی معنا چې مصلی دی شا و خوا نه گوري. نو ددی تولو کار و په کولو سره لمونځ مثلاً نبہ محفوظ کیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

نوفرائض لکه یو قلعه ده چې پر هغې قلعې دواجبا تو دیوال اګرځیدلی دی. او پر قلعه دواجبا تو قلعه دسنتو دیوالونه دی. او پر قلعه د سنتو دیوال دمندوبا تو دیوال اګرځیدلی دی. نو چې څوک اخیری دیوال بنه و ساتي نو په هغه سره داخلي دیوالونه بیخي بنه ساتل کیږي. او کله چې داخیری دیوال په ساتنه کې سستي وکړه نو کراره کراره به داسستي د نورو دیوالو سستی ته منتفي شي حتی چې بالاخیره د فرضي عمل دیوال به هم ځنډي پرنګ شي. خدای پاک دې مونږ ځنډي وساتي. آمین

اَحکامِ دَوَاجِبُو:

منکر یه کافر نه دی. او کله چې په قصد پرېږدي مستحق د عقاب دی. او پر کولو به ثواب د جنت پیدا کي. او کله چې په سهوه سره پرېږدي سجده سهوه باندې لازمه ده. او کله چې په قصده پرېږدي مستحق د عقاب دی.

لمونځ دې را وګرځوي. او کله چې لمونځ نه را وګرځاوه. فرضي لمونځ سره د نقصا نه اداسو قَالَ المصنفُ

قِرَائَةُ الفَاتِحَةِ

یعنې اول واجب ویل دي د الحمدلله شریفې. لِقَولِهِ عَلَيهِ الصلوٰةُ وَالسَّلَامُ لَاصَلٰوةَ لِمَن لَم يَقرَأ بِفَاتِحَةِ الكِتَابِ» ترجمه: لمونځ نشته هغه چا لره چې الحمدلله شریفه نه ووایي: **سَوَال**: په دې حدیث شریف کې یې نفي د لمانځه کړې ده نو باید ویل د فاتحې فرض شي. **جَوَاب**: چونکه دا حدیث خبر واحد دی نو دې ناسخ د هغه آیت نه شي ګرځیدای: فَاقرَءُوا مَا تَيَسَّرَ مِنَ القُرآنِ دی یعنې چې اطلاق د هغه دې مقید کړي.

نو مطلق قرائت فرض دی په مقتضی د قرآن او خصوص د اَلحَمدُ لِلّٰهِ واجب دی په مقتضی د حدیث نبوي **مَسئَلَه**: که چیرې اکثر آیتونه د اَلحَمدُ لِلّٰهِ ځنډي پاته سوه سهوًا سجده سهوه به کوي او په ترک د اقل سجده سهوه نشته، کما في النهر. لکن مجتبٰی والا وایي چې یو آیت ځنډي پاته شي هم به سجده کوي وَعَلَيهِ الفَتوىٰ. در

مَسئَلَه: که سرې فاتحه په قصد د دعا وَوَیله آیا د واجب په ځای کې درېږي

په فتاوای صغری کښې وایي چې هو درېږي. ولې چې قرآن په قصد سره د سړي د قرائت څخه نه وزي وعليه الفتوى » در، خلافًا للمحيط » قَالَ المصنفُ

وَضَمُّ سُورَةٍ اَوْ ثَلَاثَ اٰيَاتٍ

او دوهم واجب د لمانځه جوتول دي د الحَمدُ لله سره دیوه سورت او یا درې آیته د قرآن شریف. که څوک کښنی سورة وي. او که څه هم کښنی درې آیته وي: لِقولِهِ عَلَيهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ: چې لمونځ نشته د هغه چا چې الحمدلله او یو سورت نه وَوَایي که په فرضي لمانځه کې وي او که په نفلي کې وي"

پُوهَسَه: چې باید درې آیته به قدر د کښنی سورة وي. او د غه هم کافي دی چې یو اوږد آیت ووایي چې په اندازه د درو کښنی آیتو وي. او وجوبُ الضم فقط مذهب د احنافو دی. او ائمه ثلاثه ته د اضم د سورت سنت بولي. سک".

مَسئَلَه: ضم د سورت په اخیرو دوو رکعتو کښې د فرضي لمانځه په قصد سره مکروه دی او که نه. **جَوَاب**: مختار داده چې نه دی مکروه » در"

سَوَال: هغه حدیث چې ذکر شو هغه خو یوازې په ضم د سورت دلالت کوي. او مدعی عامه ده که سورت وي او که درې آیت وي **جَوَاب**: درې آیت په حکم کې د سورت دي. **تَنبِيه**: ویل د فاتحې او ضم د سورت هلته واجب دی چې په وخت کښې فراخي وي. او که دومره وخت وو چې یوازې سورة فاتحه او یا سورة په کښې ځایه دی. نو هر یو چې ځائیږي هغه دې وَوَایي. او که فرضًا وخت بېخي تنګ وو چې دیوه آیته بالا نه په کښې ځائیږي له هغه یو آیت دې په ټولو رکعتو کې وَوَایي. وسقوط الواجب للعذر » قَالَ المُصنفُ

فِي رَكعَتَينِ غَيرِ مُتَعَيَّنَتَينِ مِنَ الفَرضِ

په دوو رکعتو غیر معینو کې د فرضي لمانځه او که لمونځ دوه رکعته وو لکه سحار فرضي یا نور دوه رکعتي سنت یا نفل بیا په دوارو رکعتو کې ضم واجب دی.

ترخپل ځای وځنډول. قال المُصنفؒ

وَضَمُّ الْاَنْفِ لِلْجُبْهَةِ فِی السُّجُوْدِ

اوواجب دی یوځای کول د پزی د تندی سره په سجده
مصنفؒ په مراقی کښی وائی چی مراد د پزی څخه هغه کلک ځای د پزی دی، حتیٰ کی د پزی د سر په هغه نرم ځای سجده وکړه واجب به نه کی پرځای **مسئله**: روا نه ده یوازی پر پزه سجده کول چی په تندی کی عذر نه وی پر صحیح روایت، م، ط در، او د دی مسئلی دلیل هم مواظبة النبیؐ دی. قال المُصنفؒ

وَالْاِتْيَانُ بِالسَّجْدَةِ الثَّانِيَةِ فِی كُلِّ رَكْعَةٍ قَبْلَ الْاِنْتِقَالِ لِغَيْرِهَا

اوبل واجب د لمانځه یعنی که فرضی وی او که نفلی دا دی چی کوی بر دوهمه سجده په هر رکعت کی د مخه تر تللو او کولو د باقی افعالو د لمانځه. چی پر دی باندی هم آنحضرت صلی الله علیه وسلم مواظبت کړی دی. **پوښتنه**: چی د دی مسئلی واضح تعبیر، اتصالُ بَینَ السجدَتَینِ دی. او هغه عبارت چی مراقی وئیلی دی، اعنی. ترتیب بَین السجدَتَین صحیح دی. ولی چی د ترتیب معنا ور وسته کول دی د یوه شی تر بل بیله فصله.
توضیح د دی مسئلی دا دی. که یو سړی سهوًا یوه سجده چی وکړه بیله یه نه وکړه ولاړ شو مثلًا نو هر وخت چی دوهمه سجده ور پیاد سوه و دې کړی. او په اخیر کښی دی سجده سهوه وکړی که فرضًا د دغه سړی هغه پاته سجده ور وسته تر اخیری ناستی ور پیاد سوه او یا پس له سلامه گرځولو او د مخه تر خبرو کولو ور پیاد سوه نو دی دې سجده ور او گرځوی چی فرض ده. لکن اتصال یا ترتیب بَین السجدتین چی واجب وو پاته سو. نو سجده سهوه پر لازمه ده. نو به دا سړی د اسی کوی چی هغه اصلی سجده چی وکړه، بیا دې بیرته ناسته وکړی او التحیات دی هم ووائی. ولی دی چی و سجده اصلیه ته ور وگرځید هغه د مخه ناسته د ده او التحیات یه لغوه سوه. نو د ده په ذمه کښی اخیره ناسته چی فرض ده او التحیات چی واجب وه پاته ده. نو څه وخت چی دوهم اخیره ناسته وکړه

قال المصنف وَفِی جَمِيْعِ رَكَعَاتِ الْوِتْرِ وَالنَّفْلِ

او په ټولو رکعتو کی د وترو او نفلو ضم د سورت واجب دی، اما الوتر، فلانہ سُنة عند الصاحبَین، وفی حکم السنة عند الامام الاعظمؒ،، واما النفل فلان کل رکعتین منه صلوٰة علیٰ حدة،، **پوښتنه**: په څه دلیل قرائت په اخیرو دوو رکعتو کښی د فرضو واجب نه دی لکه د نفلو **جواب**: په دلیل د دی سوال قول د علی رضی الله تعالیٰ دی. چی قرائت په اولو دوو رکعتو کښی قرائت دی په اخیرو دوو رکعتو کښی. وَعَن ابن مسعود وعائشة رضی الله تعالیٰ عنهما چی اختیار لری لمونځ گذاره که په اخیرو دوو رکعتو کښی قرائت وائی او که تسبیح.
قال المُصنفؒ

وَتَعِيْنُ الْقِرَاءَةِ فِی الْاُوْلَيَيْنِ

اوبل واجب د لمانځه دا دی چی معین کوی دی اول دوه رکعتونه یعنی په فرضی لمانځه کی دپاره د قرائت واجب دی. په دلیل د دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم همیشه توب کړی دی پر قرائت په دوو اولو رکعتو کی.
او بعض فقهاءؒ وائی چی په اولو دوو رکعتو کی قرائت فرض دی چی په هغو کښی په دوو اولو رکعتو کی نه ووائی. په اخیر دوو رکعتو کی ووائی هغه قضائی دی.
او بعض کتابو د دی قول ملاتړ کړی دی،، قال المصنفؒ فی نور الایضاح.

وَتَقْدِيْمُ الْفَاتِحَةِ عَلَى السُّوْرَةِ

اوبل واجب د لمانځه د مخه وبل دی د الحمدُ لله تر سورة للمواظبة علیٰ ذالک من النبی علیه الصلوٰة والسلام. **تفریع**: که یو سړی پوره سورة یا بعض سورة که څه هم یو حرف وی یا دری آیته یا بعض د هغو سهوًا تر الحمد لله د مخه ووایه او بیا الحمد لله ور پیاد سوه. نو الحمدُ لله دی ووائی او بیا دی سورة بیا دری آیت ووائی او سجده سهوه دی وکړی. ولی الحمد لله چی واجب وه

Maktaba Tul Ishaat.com

او التحیات یې هم وَوَیله. بیا دې پر یوه طرف سلام وګرځوی او سجده سهوه دې وکړي او بیا دې کښیني او التحیات دې ووائي بیا دې اخیري سَلام د پاره دَوَتلو د لمانځه څخه وګرځوی

مَسئَله: که دې سړي چې قعدهٔ اخیري وروسته یا تر سَلام هم وروسته هغه سجده اصلیه وکړه. لکن تر هغې سجدې وروسته ناسته یې نه وکړه بلکه چې د سجدې سر دا پورته کړی سلامیه وګرځاوه او سجده سهوه یې وکړه لمونځ یې باطل شو. ولې اخیري ناسته چې فرض وه ځندې پاته شوه. **مَسئَله**: که یو سړي بیله صورته مذکوره په لمانځه کې سهوه شو مثلًا د میانځ ناستې چې واجب ده سهوًا ځندې پاته شوې وه لکن دې سړي چې دَ سجدې سهوې څخه سر را پورته کړی. سلامیه وګرځاوه او قعوده یې وَنه کړه لمونځ صحیح دی لکن مکروه دَی. دَلیل د صحت یې دا دی. چې سجده سهوه هغه د مخه قعده چې ده وکړه لِی پورته کوي بلکه التحیات پوَته کوی. نو اخیر فرضي ناسته خوده وکړه نو لمونځ صحیح شو. او د کراهت دلیل یې دا دی چې په اخیره ناسته کې خو التحیات ویل واجب وو. هغه دده سَه پاته شوه ولې هغه د مخه التحیات په سجده سهوه سَره لغوه سوه» فافهم هذا المقام بالتفکر التام» قَالَ المُصنفُ

وَالاِطمِنَانُ فِی الاَرکَانِ او اطمنان یعنی تعدیل ارکان واجب دی دَ اطمنا ن معنا دا ده چې لمونځ کوونکی دې خپل اعضاء په رکوع او سجده کې چې دا واجب دی. او په ولاړه کې د رکوع څخه او په ما بین کښې د دوو سجدو او دا سُنت دَیٔ. **پوښتَنه**: چې ادنی د تعدیل په قدر د یوی تسبیح دی، قهستانی، او د تعدیل وجوب مذهب د امام اعظمؒ او امام محمدؒ، د امام کرخیؒ د بیا ن څخه او امام جرجانیؒ وائي چې د دوی دوو په نیز سُنت دیٔ. لکن اول چې وجوب دی صحیح دی په نیزد محققینوؒ د مذهب حنیفیؒ او د حضرت امام ابویوسفؒ په نیز تعدیل فرض دی کما فِي المرَاقی. لکن کمال الدین ابن الهمامؒ په فتح القدیر کی وائي چې مُراد د ابویوسفؒ د فرض څخه فرض عملی مراد دی چې هغه ته واجب وائي، فارتفع اختلاف الائمة الثلاثة رحمهم الله من البین»

دَرَویش وائي. چې توجیه د ابن الهمامؒ که څه هم د مشهورو کتابو څخه مخالف ده لکن د دین په زړه پوری او د قبول وړ ده. پس دی سبب چې حضرات ائمة ثلاثةؒ پر دی اصل متفق دی چې زیادت پر کتاب الله په خبر واحِد سره نه دی روا. نو په کتاب الله کی خو مطلق» اِرکَعُوا او اسجُدُوا» راغلی دی نو په دی ایت سره نفس رکنیت او فرض والی ثابتیږی که څه هم ادنی د دوا په وي.

نو نسخ دا طلاق د دی ایت یعنی په تعدیل مقید وَل په هغه خبر واحِد سره چې د آنحضرت صَلی الله عَلیه وَسَلم په حضور یو سړی لمونځ وکړی. او تعدیل د سجدی او رکوع یې نه وکړ. علیه السلام ورته وَوَیل صَلِّ فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ» حتی تر دری واره پورې» روانه دی البته قرآن مبارك چونکه قطعی الثبوت والدلالة دی په دې ځای کی نو په دی ځای کی. نو په هغه نفس فرضیت د رکوع او سجدی ثابتیږی. او حدیث مذکور چونکه خبر واحد دی او ظنی الثبوت دی نو په هغه وجوب ثابتیږی او نفی چې په حدیث کی راغلی دی یعنی: فَاِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ» محمول پر نفی د کمال دَیٔ.

سَوال: څه سبب دی چې حدیث مذکور پر سُنت والی د تعدیل نه حمل کوو لکه امام جرجانیؒ چې وائي **جَوَاب**: چونکه تعدیل د پاره دَ تکمیل د رکن دی چې رکوع او سجده نو دي سَببه واجب یې بولو کما مَرَّ بیان ذالكَ»

پوښتَنه: تعدیل الارکان په تولو کتابو کښی په صیغهٔ د جمعی راغلی دی او بیان یې یوازې په رکوع او سجده سره کوی. **جَوَاب**: تخصیص د رکوع او سجدې د دی کبله دی چې دا دوه رکنه غالبًا په تلوار ادا کیږی. نو په اکثرو لمونځ کوونکو کی د تعدیل الارکان مراعات نه لیدَل کیږي. ورنه د قیامی او اخیری ناستی هم تعدیل واجب دی لکن چونکه په وَلاړه کښی قرائت وَیل کیږی او په ناسته کی التحیات ویل کیږی نو تعدیل خود بخود ده پیدا کیږی. حتیٰ که یو سړی په اخیرو دوو رکعتو کی چټه خوله ودریږی نو بیا ده واجبه ده د یوی تسبیح قدر خو دی ودریږی چې تعدیل د رکن دَقیامی راشی، کما فی النهایة» او که چیری دغه سړی یو تسبیح قدر هم نه وه دریدیٔ

نواصل لمونځ یه صحیح دی. ولې نفس قیام خویه وکړه لکن دَ تعدیل واجب پَه ترک سره ګناه ګار دی" طم در ن " **فَائِدَه**: علامه محقق کمال الدین ابن الهمام ؒ په فتح القدیر کې او دده شاګرد ابن امیر الحاج وائي چې مقتضي دوجوب د تعدا الرکوع والسجود چې هغه حدیث سابق وو ددې هم مقتضي دی چې ولاړه د رکوع څخه او ناسته په مابین کې د سجدتین دی هم واجب وي. ولې هغه شخص مذکور چې په حضور نبوي کې چې لمونځ وکړی دا دوه خصلته هم نه وه په کښې، او بل مواظبت نبوي پر دغو دواړو خصلتو دلیل دوجوب د هغو دی" مر" د ر ولیش وائي چې دابن الهمام تحقیق زما هم خوښ دی ومزید التفصیل فی شرح الطحطاوی" قَالَ المصنفؒ

وَالْقُعُودُ الْأَوَّلُ او دغه رنګه واجب دَه اوله ناسته. **پُوهَسَه**: چې مراد داول ناستې څخه غیره اخیری ناستې دی. او معنای مُتبادره مراد نه ده یعنی تر ټوله د مخه ناسته. ولې چې کیدای سی چې سړي دی په لمانځه کې درې ناستې وکړي لکه دیو چا څخه چې درې رکعاته امام تیر کړي وي. نو دا سړي خویوه ناسته پر د امام سره وکړه بیا چې امام سلام وګرځوی دی به ولاړیږی او یو رکعت به تش کوي بیا به کښیني. او بیا به دوه رکعته د لګ کوي بیا به کښیني او بیا به ولاړیږی یو رکعت به تش کوي وَهُوَ الاولیٰ" او بیا به اخیره ناسته کوي. نو که مراد اول په معنای مُتبادره وای نو دا دوهم ناسته نو څه شی ده فرض ده که واجب" او چې مراد غیر الاخیر سي نو اولي دوې ناستې دواړی واجب دي یوه خو په تبع دامام، او امام طحطاوی وائي چې هغه په متابعت دامام فرض دَه ". او دوهمه دده د لمانځه ده حکمًا اوله ناسته ده. او درېیمه ناسته فرض ده ولې چې دده اخیره ناسته دَه" **پُوهَسَه**: چې اوله ناسته واجب دَه په قدر د التحیات په ډیر تلوار. او ددې ناستې په وجوب کې د فرضو، واجبو، نفلو فرق نسته. په نیز دامام اعظمؒ او امام ابویوسفؒ. او دغه ظاهر الروایة او اصح دی، ط، او امام محمدؒ او امام شافعیؒ او امام زفرؒ وائي چې اوله ناسته په نفلي لمانځه کې فرض ده. وَهوالقیاس" قهستانی ط ". او امام کرخیؒ او امام طحاویؒ وائي چې اوله ناسته سُنت دَه.

امام طحطاویؒ وائي چې سنت بوئل یا په دی معنا دی چې اثبات د هغې په سنت نبوی سره دی او یا ددی سببه چې سُنت مؤکد په معنیٰ کې دواجب دی قال وهذا یقتضي رفع الخلاف ای فی المعنیٰ وان کان الخلاف اللفظی موجودًا

سَوال: مصنفؒ وائي چې اوله ناسته واجب دَه او سره ددی که داسې پیښه سی چې امام مسافر وی او په لمانځه کښې یه اودَس مات سِی. او بیا مقیم سړي خلیفه وګرځوی پر دغه مقیم اوله ناسته فرض ده. ولې چې دامام اخیره ناسته دَه **جَوَابُ**: دا فرضیت خو په عذر د استخلاف پیښ سو ورنه اصلًا خو پر مقیم دغه ناسته واجب وه ط ص. قَالَ المصنفؒ

وَقِرَاءَةُ التَّشَهُّدِ فِيْهِ فِي الصَّحِيْحِ او دغه رنګه واجب دی لوستل د التحیات په اوله ناسته کې په صحیح روایت کې. **پُوهَسَه**: چې لفظ د فِي الصحیح تعلق د قعود اول او تشهد په اوله ناسته کې د دواړو سره لري. او مقصود د مصنفؒ رد دی پر هغو فقهاوؤ چې قعود اول او تشهد په هغه کښې دواړه سُنت بُولي. او یا یوازې تشهد سنت بُولي. کَمَا هُوَ المشهور علی الالسنة " د دواړو دواجب والي دلیل مواظبت دی د آنحضرت صلی الله علیه وسلم پر دواړو. قَالَ المُصنفؒ.

وَقِرَاءَتُهُ ای التشهد **فِي الْجُلُوْسِ الْأَخِيْرِ** او واجب دی ویل دَ التحیات په اخیره ناسته کښې. او دلیل په هغه مواظبت نبوی دی. **مَسْئَلَه**: که څوک په اخیره ناسته کښې تشهد نه وَوائي سهوًا یا ټوله یا بعض سجده سهوه پر لازمه دَه " در، ط، قَالَ المُصنفؒ.

وَالْقِيَامُ إِلَى الثَّالِثَةِ مِنْ غَيْرِ تَرَاخٍ بَعْدَ التَّشَهُّدِ او واجب ده ولاړیدل دریم رکعت ته بیله ځنډه پس له ویلو څخه د التحیات **تَفْرِيع**: که یو سړي پس له ویلو دَ تشهد دی په قدر داداء دیو رکن وځنډیدی سهوًا سجده پر لازمه دَه ولې چې واجب دَولاړی بالفور ودریم رکعت ته وځنډیدی فوت سُو" مر،

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکی قصدا دریم رکعت وخندا او لمونځ یه مکروه تحریمی دی. اوپه یوشاذ روایت کی وائی چی له یوحرف ترتشهد بالا ووائی سجده سهوه پرلا زمه نه **مسئله**: کهسړی سهوا په اوله ناسته کی پس له تشهد اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ ووایه یا بالاترهغه سجده سهوه پرلازمه ده. اوکی فقط اَللّٰهُمَّ صَلِّ وویل اوبیا ولاړشوسجده سهوه با ندې نشته: قَالَ المُصنفؒ.

وَلَفْظُ السَّلَامِ دُوْنَ عَلَیْکُمْ

او واجب دی لفظ د اَلسَّلَامُ اونه دی واجب عَلَیْکُمْ ولې چی مقصود چی خروج د لمانځه دی په لفظ د اَلسَّلَامُ حاصل شو. اوسلام فرض نه دی ولی چی آنحضرت صلی الله علیه وَسلم وعبد الله ابن مسعود رض ته وویل اِذَا قُلْتَ ای التشهد الاخیر او فَعَلْتَ هٰذَا یعنی په قدر د تشهدی کښېنستی. فَقَدْ تَمَّتْ صَلٰوتُكَ. نو لمونځ دی پوره شو. اوعلیه السلام لفظ د السلام علیکم نه کی ذکر نومعلومه شوه چی فرض نه دیٔ. لکن یَرِدُ عَلَی المصنفؒ چی مصنف په ډیرو ځایوکښی دوجوب دلیل په مراقی کی مواظبت نبویؐ راوړی دی. نو د عَلَیْکُم پر لفظ خوهم آنحضرت صَلَی اللهُ عَلَیه وَسَلم مواظبت کړې دی نوولی نه دیٔ واجب. **پوهسه**: چی مصنفؒ په مراقی کی دواړه خواووته سلام گرځول واجب بولي. اوامام طحطاویؒ وائې وَهُوَالاصح. اوپه فتح القدیر کښی وائی چی اول سلام واجب دی اودوهم سُنت دیٔ،،

مسئله: وتل د لمانځه نه په نیزدعاموفقهاوو په سَلام اول سرم کیږی. او بعض فقهاءوائی چی دواړه سلامه چی وگرځوی د لمانځه نه وزی **تفریع**: که یو سړی پس له ویلو د امام اَلسّلام د مخه تر عَلیکُم ویلو په دغه امام پسی اقتداء وکړو په نیزد عامو فقهاوو اقتداء یه نه ده صحیح. او بناء پر قول د بعض فقهاووؒ کی پس له سلام اول اود مخه تردوهم سلام په اقتداء پسی وکړه اقتداء یه صحیح ده،، ط، س،

پوهسه: چی سلام گرځول په هغه لمانځه کی چی رکوع او سجده په کښی وی خو واجب دی په اتفاق. اوسجدهٔ شکر، یا سجدهٔ تلاوت له سَلام نشته باالاتفاق،

او امام طحطاویؒ وائی چی د جنازې لمانځه له هم سلام نشته. اوپه زاهدی کی وائی چه د جنازې لمانځه له سَلام سُنت دیٔ، د درویش وائی چی امکان لری چی مراد د طحطاویؒ دی داوی چی د جنازې په لمانځه کی سَلام واجب نه دیٔ، فلامنافاةَ بین قوله وقول الزاهدی فتدبر **فَائِدَهُ**: په مجمع الانهر کی وائی که چیری سړی د اَلسَّلامُ عَلَیکُمْ په ځای کی بل لفظ ووائی که څه هم هغه لفظ د سَلام په معنیٰ وی مثلا اَلبَرَکَةُ عَلَیکُمْ، په ځای کښی د اَلسَّلَامُ عَلَیکُمْ نه دریږی. اوبعض عُلماء وائی که هغه لفظ عربی وو لکه مذکوره دوه لفظه په ځای کی د اَلسَّلامُ عَلَیکُم دریږی اوکه په بله ژبه وو نه دریږی، لکن بحر رائق د شارح څخه نقل کړی چی اجماع پر دې ده چی لفظ عربی پوری نه دی خاص، سلام

پوهسه: چی مصنفؒ په مراقی کی وائی د سَلام په موضوع کی وائې: فی الیمین وَالیسار ددی څخه داسی معلومیږی چی د مخ اړول یمینًا ویسارًا هم واجب دی. او دلیل یه مواظبت نبویؐ دی، قَالَ المصنف فی نورالایضاح.

وَقُنُوْتُ الْوِتْرِ

اوواجب دی دعاءِ قنوت ویل په وترو کښی یعنی په اخیر رکعت کی **پوهسه**: چی قنوت په لغت کی نفس دُعا ته وائی نو اضافت په دعاء قنوت کی اضافتِ بیانیه، د مصنفؒ مراد دادی چی قنوت واجب دی په وترو کښی خاص نه په نورو لمونځوکی. **پوهسه** چی هغه خاصه دعاء اَللّٰهُمَّ اِنَّا،، واجب نه ده بلکه سُنت ده نو که اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا آه یا بله دعا وکړی روا ده اجماعًا، ط، ن، **پوهسه** چی وجوب د قنوط مذهب دی د امام اعظمؒ. او یاران وائی لکه وتر چی سُنت دی قنوط یئ هم سُنت دی، قَالَ المُصنفؒ:

وَتَکْبِیْرَاتُ الْعِیْدَیْنِ

او د غه رنگ واجب دی تکبیرونه د دوو اخترو چی هغه شپږ دی دری په یو رکعت کی او دری په بل رکعت کی. اوپه اول رکعت کی قبل القراءة اوپه دوهم کی بعد القراءة دا صرف مندوب دی واجب نه دیٔ **مسئله**: مصنفؒ په مراقی کی وائی چی هر تکبیر جلا واجب دی که یو تکبیر په کښی پریږدی سجده سهوه پرلازمه ده. اما امام طحطاویؒ چی اولی داده وائی

چې سجده سهوه دې په جمعه او اخترو کښې نه کوي. دَرویش وائي چې وجه بې شاید دا وي چې دا دې لمونځونه دَخلګو لویه اجتماع په کښې ، اځي نو په سجده سهوه کولو کې به خلګو کې اضطراب او افراط تفریط، او هاې هوي پیدا کیږي،، قَالَ المُصنفُ

وَتَعیِینُ التَّکبِیرِ لِافْتِتَاحِ کُلِّ صَلٰوۃٍ لَا العِیدَینِ خَاصَّۃً

او واجب دی معینه کول د اَللّٰہُ اَکبَر دَوَیلو دپاره د شروع د هر لمانځه نه یوازې دَاختر دلمونځو دَپاره،، دَلیل یې مَواظبت نبوي دی. په ذخیره کښې په نقل دَمَراقي دا یې وَائي چې مکروه دَه یعنې تحریمًا شروع په غیرد اَللّٰہُ اَکبَر په اصح روایت کې. او امام سرخسيؒ وَائي چې مکروه نه دَه په اصح روایت کې. او بعض فقهاءؒ وائي چې شروع په اَللّٰہُ اَکبَر سره چې واجب دَه خاصةً داخترو په لمونځو کې دَه،، او په نورو لمونځو کې افتتاح په اَللّٰہُ اکبر سره مندوبه دَه ورَ نه په اَللّٰہُ اَعظَمُ سره مثلاً هم افتتاح رَوادَه. قَالَ المُصنفُ

وَتَکبِیرَۃُ الرُّکُوعِ فِی ثَانِیَۃِ العِیدَینِ

او واجب دی تکبیر د رکوع په دوهم رکعت کې داخترو د لمانځه. دلیل د دې وجوب دا دی چې تکبیر د رکوع په دوهم رکعت کې متصل په زوائدو سره دی نو هغه خو واجب وه نو د رکوع تکبیر هم تبعًا واجب دی بخلاف الرکعۃ الاولٰی ولې چې زوائد تکبیرونه د هغه خو په سر کښې د رکعت دی،، درویش وائي چې دا مطلب دا حکم دَئې چې بې مندوب طریقه داختر لمونځ ادا کوي. او که خلاف المندوب ده په دواړو رکعتو کې تکبیرات زوائد په اول کې د رکعت وَوائي نو د دوهم رکعت د رکوع تکبیر واجب نه دی لِعَدَمِ الاتصالِ بالزوائدِ حتّٰی یتبعُ لَهَا،، او که په دواړو رکعتو کې تکبیرات زوائد پس له قرائته ووائي نو د اول رکعت د رکوع تکبیر هم واجب دی تبعًا للزوائد. قَالَ المُصنفُ

وَجَهرُ الاِمَامِ بِقِرَاءَۃِ الفَجرِ

ای فی الرکعتین او واجب دی په زوره وَیل دقرائت په دَواړو رکعتو کښې د سحار پوه سَه، چې واجب په جهر کې ادنیٰ مرتبه ده یعنې چې بَل سَړي یې اَوري که څه هم یَو

سړی وي. ولې چې یو سَړي هم نه اوري هغه ته مخافته وائي. او کې دوه کسان وا اوري هغه سړي وي. ولې چې یو سَړي هم نه اوري هغه نه مخافته وائي. او کې دوه کسان وا اوري هغه سړي وي. امام طحطاويؒ وائي چې فقهاءؒ وائي چې امام دې پرځان ډیر اعلیٰ د جهر دَه کذا فی الحموي. ولې چې اورول تکلیف نه کوي په جَهر کې دپاره د دې چې په ټوله جماعت والو یې واوري. ولې چې اورَول په بعض قوم کافي دي. نو جهر دې په حسب د طاقت خپل کوي،، بحر وَنهر، لکن که څه هم د ټوله قوم اورول واجب نه دي. لکن مستحب دا ده چې جهر دې پر اندازه د جماعت وي، ط

مسئله: که امام د جماعت تر حاجت بالا یې جهر وکړې گناه ګار دی. قهستاني عن کشف الاصول، امام طحطاويؒ وائي چې دا اولي تر قول د زاهدیؒ چې دابي جعفر نه نقل کوي چې هر څو چې زیات وَالي کوي هغه افضل کار دی. لکن چې ځان ته تکلیف نه ورکوي او بل څوك نه آزاره وي که څه هم تر حاجت د مقتدیانو بالا جهر کوي.

تَبَصِرَۃ

: نن صبا چې لاوډسپیکران پیدا سَوه. نو بعض اماما ن د جمعې لمونځ ټوله په دغه آله کښې کوي خپل قاري والی وَخلګو ته ښیي. او تقریبًا پنځوس کوره پر اوري دا بالاتفاق مکروه دَئې. او دروزې پر میاشت کې چې بعض مساجد و کښې دختم القرآن تراویح کیږي هغه خو ټوله لمونځ او تراویح په دغه آله کې کوي. هغه بیا دا خَلګو ته ښیي چې مونږ ختم القرآن تراویح کَوُو. نن دی کورونو، ښځې، اوزَ ځندی په عذاب وي. بلکه که بل مسجد ورنږدې وي او په هغه مسجد کې د اَلَمْ تَرَ کَیفَ آه تراویح کیږي د هغه آلې څخه یعنې دَآوازه څخه دا مسجد وَالا خپل قرائت نه سِي ویلائ او نِه اوریدلا ی سِي. دا بیا بیخي لوې جُرم دی او دغه اماما ن قیاس د حرَمینو شریفینو پر لمونځو او تراویحو کوي. دا قیاس د دوي غلط دی. ولې په حرَمینو کې خو په زرو بلکه په لکو خلګ په جماعت کې وَلاړ وي او اوریدل د قرآن کریمو هغو ته رِقّتُ القلب او خشوع او خضوع فائده کوي نو بیله دغې آلې امام پر ټولو قرائت نه سِي اوریدلای نُو دا خو جهر په اندازه د جماعت دی نو مستحب دی کما مَرّ، قَالَ المصنف

وَاُولَیَی العِشَائَینِ

او واجب دئې جهر په دوو اَولو رکعتو کښې د ماښام او ماخستن دَلمانځه،

Maktaba Tul Ishaat.com

پوښتنه: چې لفظ د اُولَیَیْن، تثنیه د اُولیٰ ده. اَوَله يې پر زَوَر ووائې دوهمه دوهم يې پرزېر او نون په اضافت سره حذف شو. چونکه دغه اول دوه رکعته شفع اول ده نو ځکه اول او دوهم رکعت ته اولیين وويل. او په لفظ کې د عِشَائَين غلبه د ماخستن وَلماځه ته وَرکړه. ولې چې قانون صرفي تغليب ورکول دی واکثرته يعنې په اعتبار د رکعتو، ط، در، او فقیر وائې چې ممکنه ده چې په مراعات د حديث مبارک د عشائين ويلې دي. قَالَ المُصَنِّفُ **وَلَوقَضَاءً** يعنې که څه هم دا دوه لمانځه قضاء سوي وي او په جماعت سره قضاء ئ اوړي. ولې چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم داغسې کړي دي» مر» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالجُمُعَةِ وَالعِيدَيْنِ وَالتَّرَاوِيحِ وَالوِتْرِ فِي رَمَضَانَ

او دغه رنګ واجب دی جهر په قرائت سره دَجُمعې په لمانځه کې او د دوو اخترو په لمانځه کې او په تراویحو کښې او په وترو کې لکن دَ روژې په میاشت کې.

مسئله: کې جهر په قرائت سره د جمعې په لمانځه کې یا د اخترو په لمانځه کې سهوًا پرېښو سجده سهوه دې نه کوي. امام طحطاوي وائې» دفعًا للفتنة. تفصيل وَړاندې تېر سو، او بعض فقهاءٌ وَائي چې جهر او اسرار په لمونځو کې سُنت دی نو ځکه په په ترک سره سجده سَهوه نه لازمېږي ط، عن زيلعي» او د قهستانيّ هغه خبره چې دقاعدې څخه يې نقل کړې دی چې امام په مَاسِوَا کې د فرضي لمونځو مختاره دی که په جهر کوي او که نه که څه هم وتر یا د اخترو لمونځ وي چې دواړه واجب هم دي او جهر په افضل دی بناءً پر قول د دغو بعض فقها وو دهٔ. او په هدایه کې تصريح کړې ده چې امام مخير دی په نوافلو کښې دَ شپې لکه دَ تهجد لمونځ اعتبارًا بالفرض في حق المنفرد، لکن قول دَ مصنفٌ په وجوب سره دَ جهر په اخترو او تراويحو او په وترو کې اظهر دَی. او مصنف وتر په روژې پورې وَتړل. ولې چې وتر په غير کې دَ روژې د میاشتې په جماعت سره کول بدعت مکروه دیُ. قَالَهُ الحَلَبِيّ.

قَالَ المُصَنِّفُ **وَالإِسرَارُ فِي الظُّهرِ وَالعَصرِ وَفِيمَا بَعدَ أُولَيَيِ العِشَائَينِ وَنَفلِ النَّهَارِ** او واجب دی کرار قرائت ويل يعنې صرف چې په ځان يه واوري په ټولو رکعتو کې دَ ماپښين د لمانځه او د مازدیګر د لمانځه او په اخيرو دوو رکعتو کې دَ ماخستن او په اخيره رکعت کې د ماښام او دغه رنګه اسرار واجب دی په نفلو کښې دَ ورځې «

مسئله فقهاءُ وائي چې په سرّي لمانځه کښې دا پروا نه لري چې بعض کلمې په جهر سره ووېل سي، ولې چې په حدیث کښې د بخاري او مسلم ابوقتاده رض د رسول کريم صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّم د لمانځه داسې حکايت کړې دی چې دَه مبارک په اخيرو دوو رکعتو کې فاتحة الکتاب وَ ويله. او په مونږ يې او ديدی يو ايت ګاهې. او په فتح القدير کې وائي چې لږ جهر په سِرسِي لمانځه يا لږ سِر په جهري لمانځه کې امکان ده ځان ساتنې د مصلي نسته خصوصًا دساه کښو په وخت» قَالَ المُصَنِّفُ

وَالمُنفَرِدُ مُخَيَّرٌ فِيمَا يُجهَرُ كَمُتَنَفِّلٍ بِاللَّيلِ يعنې منفرد په فرضي لمانځه کې اختيار لَري په هغو لمونځو کې چې امام په هغه کې جهر کوي. لکه نفل کوونکی دَ شپې يعنې چې يوازې کوي. فَلَا يَرِدُ بِالتَّرَاوِيحِ لِأَنَّهُ مَرَّ انَّ الجَهرَ فِيهِ وَاجِبٌ لِأَنَّهُ يُؤَدِّى بِالجَمَاعَةِ» حاصِل دا چې منفرد په فرضي جهري لمانځه کې اختيار لري که په جهر سره کوي. وهوالافضل تا چه اداء د لمانځه پر هیئت دجماعت سِي. نو ځکه دی اذان او اقامت به کوي کما مرتفصيله، او کې خوښه وي بېرته خوله دی کوي يعنې قرائت دی کرار وائي. ولې چې په حقيقت کې ظاهرًا په دَه پسې څوک اقتداء نه لري. تاچې دی پر هغه واوري.

مسئله: که خفيه لمونځ وو لکه مَاپښين مازدیګر هغه به تنها لمونځ کوونکی حتمًا به کرار قرائت سره کوي. ولې چې پر امام باندې لا په دَغو لمونځو کې مخافت لازم دَئ او تنها لمونځ کوونکی خو تر امام بالا نه دې.

درویش وَائي. چې امام طحطاویؒ اونورو فقها ووهم داسې وئیلی دي چې په ابتداء کې د اسلام ټوله لمونځونه په جَهر سره کوله. اومشرکانو دمکې به آزارو رساوه. اوقرآن شریف او، وَمَن اَنزَلَهٗ ته بې بنکنځل کوله، اَعَاذَنَا اللهُ منه» اوخپلوځوانا نو اواتباعو ته بې وَیل چې څه وخت چې دَی یعنی نبی عَلیه السّلام په لمانځه کې قرآن وائي تاسې نعري پروهی اوغزلی ورسره وایاست. اوپه لغوه چټی چټی خبروسره مقابله کوی حتیٰ چې دیٔ ساکتیږي فَاَنزَلَ اللهُ، قَوله وَلَا تَجْهَرْ بِصَلٰوتِكَ»مراد د صلوٰة څخه قرائت یعنی ته په زوره مه وَایه قرآن په ټولو لمونځوکی. وَلَا تُخَافِتْ بِهَا، یعنی مه ټوله لمونځونه په کرار کرار قرائت کوه. وَ ابْتَغِ بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًا، اوته په مابین دجهر اومخافت کې بله لار غوره کړه یعنی د ورځې لمونځونه په کرار کرار قرائت کوه اوده شپې لمونځونه په جَهر سره کوه. پس له هغه عَلیه السّلام د ماپښین لمونځ اودمازدیګر لمونځ بې په کرار قرائت کاوه ولې چې کفار به په دغودوو لمونځوکی وَه آزار ته چمتو وَه. اودجمې اواخترو لمونځ خوپه مَدینه منوره کښې شروع شو. نوسوال نه وارديږي چې داخوهم دورځې لمونځونه دي.

پُوهـَـه: چې نفل کوونکی دشـپې کرغه هم په جَهر اومخافت کښې مختار دیٔ لکن په اولیٰ دَجهر د اکتفاء کوی اوکه دَالته بیده سري ووهغه ته به ضرر نه رسوی. یعنی دخوب بې نه باسی. اوکه دَجهري لمونځ کولو سَبَبه پر یا بیریدی. نوبیا د کرار قرائت وَائي. په حَدیث مبارك کې رَاغلی دی چې رسول کریم صَلَّی اللهُ عَلَیه وَسَلَّم به د تهجد لمونځ په جهر سره کاوه. دپاره دالفت دهغه ویښ سَري چې دالته به وو مګر بیده سَري نه ویښاوه.

مسئلهٔ: که په هغه ځای کښې چې سَري دَتهجد لمونځ کاوَه یو مریض وُو چې هغه ده جهر څخه دقرائت اناري دیٔ. اوبا یوچا دالته مطالعه دکتاب کوله یا تِلاوت دقرآن کریم یا اوی نومصلی لره مخافت افضل کاردی. تاچه ناجُوري ازار نه رسی. اویاد مطالعه کوونکو مطالعې ته تاوان ونه رسیږي اویا پرستلاوت کوونکی تلاوت ګډوډ نه سی. قَالَ المُصَنِّفُؒ

وَلَوْتَرَكَ السُّوْرَةَ که په سهوه سره وي اوکه په قصد سره کذافي النهر،

فِيْ اُوْلَيَي الْعِشَاءِ قَرَأَهَا فِي الْاُخْرَيَيْنِ اودغه ئنګه په دوو اولو رکعتو کښې د ماښام. ودی وائی دغه سورة وجوبا علی الاصح. په دوو اخیرو رکعتوکی یعنی د ماخستن په لمانځه کی. اوپه یوه رکعت کی د ماښام د لمانځه. اودبل د پاره ځای نسته» قَالَ المُصَنِّفُؒ

مَعَ الْفَاتِحَةِ جَهْرًا وائی به دا سورة سره د سورة فاتحې په جهر سره. کی څه هم فاتحه په اولو دوو رکعتو کښې یوائحې وئیلی وی، فاتحه بر ددی سببه راګرځوی چې د سورة سره جوته سی. نوځکه دی اول فاتحه ووائی او بیا دی سورة وَوائی چې ترتیب پرځای سی. دا خومذهب د مصنف وُو، او بعض فقهاءؒ وائی چې سُورة دې دَ هغه ووائی اونور علماء بیا وائی چې فاتحه دی ګرسره نه وائی، قَالَ المُصَنِّفُؒ

وَلَوْتَرَكَ الْفَاتِحَةَ لَا يُكَرِّرُهَا فِي الْاُخْرَيَيْنِ که چا پر یښنو سورة په اوَلو دوو رکعتوکی د ماخستن د لمانځه. دغه سورة به وَائي په اخیرو دوو رکعتوکی سره د الحمدلله په جَهر سره. اوکی فاتحه پریښوَله په اولو دوو رکعتوکی نه دی مکرره وي په اخیرو دوو رکعتوکی **پُوهـَـه**: که سَري په دوو اَوَلو رکعتوکی د ماخستن هیڅ شی نه الحمدُ لِله اونه سورة. ووایه نوپه اتفاق سره به اخیرو رکعتوکی هم الحمدُ لله وَائي اوهم سورة اوپه جهر سره اوسجده سهوه به هم کوی. قاله فی الخانیة، اوکی یوازی سورة پرېښو نو هغه په اخیرو رکعتوکی راوګرځوي. لکه مصنفؒ چې په متن کی وَوَیل. اوداهم په تبیین اوشروحو کښې د هدایه ذکر سوی دي. اوپه مَبسُوط کی وَائي چې سورة راګرځول مستحب دی» فتح القدیر اوبرهان هم پر داغه قول اعتماد کړیٔ دیٔ. اوامام ابویوسفؒ وائې چې د سورة قضاء نسته ګرسره. ولې واجب چې د خپل ځای څخه فوت سی قضاء ئې نسته بی دلیله اودلیل د لته نسته.

اوپه صورت کی د واجب وَالی د، اګرځولو د سورة او الحمد لله لکه مصنفؒ چې په وجوب سره د دواړو تصریح کړیده. په مراقی کی وائي. آیا جهر به پر دواړو سره کوی. مصنفؒ بیا

Maktaba Tul Ishaat.com

په مَراقی کی دا اصح بُولی او دصاحِب هدایه هم دغه رایه ده. په دلیل ددی چې فاتحه په اخیرو دوور کعتو نفل ده او په پټه خوله ویل کیږی. نو چې په جهریه وائي تغییر د صفت د نفلو راغی. او جهر په صورت سره واجب دی نو کی کرار وَوائي تغییر د واجبو لازمیږی دا معلومه خبره ده چې تغییر د نفلو آسان دی تر تغییر د واجبو» ط.
او ابن سماعهؒ دامام ابوحنیفهؒ اوامام ابویوسفؒ څخه داسی روایت کړی دی چې یوازی دِ سورة وی په جهر سره وَوائي. او دا روایت مختار د فخرالاسلام دی وَهُوَ الصّوابُ. او شیخ الاسلامؒ دغه ته ظاهِر وائي. او هم په دغه روایت سره خانیه والایقین کړی دی. او تمرتاشی یه هم صحیح بُولی. وبه الفتوٰی، در.

مسئله: که دسړی الحَمْدُ لِلّٰه هیره سوله او پس دسورة دَویلو مخکښې تر رکوع ورپیاد سوه. الحَمْدُ لِلّٰه دی ووائي او سورة دی بیرته را وګرځوی» فِی ظَاهِرِ المذهب» در

مسئله: کی سورة هیره سُوا او په رکوع کښی ورپیاد سُو نو ولاړ دی سی سورة دی وَوَائي او بیا دی رکوع را وګرځوی. **پُوښتنه**: الحَمْدُ لِلّٰه چې په اَوَلو دوور کعتو کی نه وویل سی سهوًا نو وَلی په اخیرو کښی قضا نسته لکه د سورت چې قضاء راوړی.
جَوَاب: سبب دادی چې قرائت د الحمد للّٰه په اخیرو دوور کعتو کی خو مشروع دی لکن نفلًا نو په قرائت دهغی یووار داهغه نفلی الحَمْدُ لِلّٰه سَوله په سَبب دقوت چې بخپل ځای کی ده. نو کی بیا مکرره کړي. دپاره دقضاء خَالَفَ المَشرُوع. بخلاف السورة چې اخیر دوه رکعتونه محل دسورة نه دي. نو چې دی سورة وَوَائي هغه د اَوَلو رکعتو د سورة قضاء ده، لکن سجده سهوه به کوی. م، ط، در،

خاتمهٔ فصلِ الوَاجبَاتُ

پُوښتنه: چې واجب ده په مقتدی متابعت دامام په ارکانو فعلیه وو کښی. نو که مقتدی سر د رکوع یا د سجدی څخه دمخه تر امام را پورته کړی بیرته دی رکوع یا سجدی ته وَلاړ سی. تا چې مخالفت یه په مَوافقت بدل سی. اودې ته تکرار د رکوع یا د سجدی نه وَائي قاله الحلبيُّ فی اخیر کتابه اوکه چیری امام و دریم رکعت ته وَلاړ سُو او مقتدی التحیات نه وه پوره کړی. مقتدی

دی التحیات پوره کړی. ولې چې التحیات واجب ده. اوکی نه کړه پُوره بلکه په امام پسې ولاړ سو هم روا ده. **مسئله**: که امام په اخیره ناسته کی سَلام وګرځاوه او مقتدی لمونځ نه وو پوره کړی. نو که دامام متابعت کوی سلام دی ورسره وګرځوی. او که لمونځ پوره کوی پوره دی کی. یعنی التحیات یه نه وه وئیلی.
مسئله: که امام د رکوع یا سجدی څخه سر را پورته کړی او مقتدی تسبیح نه وی پوره کړي دری واره دامام متابعت به کوي. **مسئله**: که امام سَلام وګرځاوه او مقتدی خو التحیات وئیلی وه لکن درود یه نه وو وَئیلی دامام متابعت به کوی یعنی درود دې پرېږدي. لکن د فقیر مختار ره داده چې کم از کم اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلیٰ مُحَمَّدٍ وَعَلیٰ اٰلِ مُحَمَّد دی ووائي بیا دی په مُلا پسی سَلام وګرځوی. قَالَ الاِمَامُ الطحطاویؒ. چې متابعت د امام په فرائضو او واجبا تو کی بیله تاخیره واجب دی. اوکه د متابعت بلا تاخیره سره بَل واجب پاتی وی نو هغه بل خودی وکړی او بیا دی متابعت دامام وکړی. ولې په کولو سره دبل واجب خو متابعت د امام یَك لخته نه پاتیږی صرف ځنډیږي. اوکه متابعت بلا تاخیره وکړی نو هغه بل واجب خو بالکلیه پا تیږي
نو بناءً عَلیٰ هٰذا فقیر د ورانِدی وَوَیل لکن آه. ولې بعض فقهاءؒ نفس درود په اخیره ناسته کښی واجب بُولي. اوکی سُنت کار د متابعت بلا تاخیره معارض سُو. سنت دی پرېږدي واجب د متابعت دی پرځای کړی لکه چې مقتدی تسبیح د رکوع او سجدی نه وی وَئیلی. چې مُلا سر را پورته کړی» لِاَن ترکَ السنة اخف من تاخیر الواجبِ۔
مسئله: که په وترو کښی دروژی د میاشتی که مقتدي یو څه دعاءِ قنوت وئیلی وُو لکن پوره کړی یه نه وو، چې امام رکوع ته وَلاړ مقتدی به متابعت کوی. ولې چې دعاءِ قنوت لره معینه اندازه نسته. اوکه فرضًا مقتدی لږ دعاءِ قنوت هم نه وو وئیلی، امام رکوع ته وَلاړ سی. نو که د مقتدی داخیال وو چې که زه لږ دعا کومه. رکوع راڅخه تیریږی نو دعاءِ قنوت دی پرېږدي دی رکوع دی دامام سره وکړی» لان الواجب یُترك لفوت الفرض اوکی خیال وو چې لږ دعاءِ وکړم رکوع هم نیولای سَم. نو د واړه دی وکړي.

ولی متابعت بلا تاخیره کړښو پرځای نفس متابعت خو پرځای شو. او دبل واجب چې قنوط وو حق پرځای شو. **پوهه سه**: چې متابعت د امام په قرائت کې نه وونه په مذهب کې نه دی رَوَا که لمونځ سِری وی او که جهری وي. او امام شافعیؒ د الحمدلله ویل لازم بولی. په دَوَاړو کې. او امام مالکؒ او احمدؒ په جهری لمانځه کی د حنیفانو د مذهب سره موافق دی. او په سری لمانځه کی د امام شافعیؒ د مذهب سره موافق دی والتفصیل فی الکتب المبسوطة للفقه،

ـه د دی فصله سَر سَوم خلاص پر بنه صحت. خدایه نور د تا غخه غوارم عَافیت

فصل فی سُنَنِهَا وَهِیَ اِحْدیٰ وَ

خَمْسُوْنَ دافصل دی په بیَان کی د سُنتو د لمانځه. او هغه یو پنځوسؒ دی **پوهه سه** چې په ترک سره د سُنتو نسیًا خراب والی د لمانځه نه راځي او نه سجده سهوه لازموی بلکه که په قصدوی او د سَپکاوی د جهت نه وی اسائت یعنی گنه گاری لازموي. او اسائت ترمکروه تحریمی کم دی. او د کشف کبیر غخه منقول ده چې سنت کار دی یا قول دی چې وَکولوتې د خلکو ترغیب کیږي. او پر تارك یه مَلامتیا ویل کیږي سره د لږ گناه کاری، قال المصنفؒ

رَفْعُ الْیَدَیْنِ لِلتَّحْرِیْمَةِ حِذَاءَ الْاُذُنَیْنِ لِلرَّجُلِ

سنت دی پورته کول د لاسو داول اَللّٰهُ اَکبر د پاره تر برابری پوری د غوږو نر لره. په حدیث صحیح کی راغلی دي چې رَسُول الله صلی الله عَلیه وَسلم وو چې ده به شروع په لمانځه کوله اَللّٰهُ اَکبر بی وَوَایه بیا بی بتهی گوتی برابری کړی د غوږو سره. او بیا بی وَوَئیله سُبحانك اَللّٰهُمَّ آه او د تکبیر و د اخترو او دُعائی قنوط د پاره هم د غه اندازه ده. **فائده**، لفظ د حِذاء اشاره ده دې ته چې مس کول د غوږو لازم نه دی. او که څوك پر ترك د لاس پوړ ته

کولو عادت وی هغه گناه گاردی کذافی الخلاصة، **مسئله**: لاسونه په وخت کی د تحریمي ترسر پوړ ته کول بدعتِ سیئه دی. جمع الاحادیث فی هذا الباب **پوهه سه**: چې په لعض حدیثو کی داسی راغلی دی چې لاسونه دی په وخت کی د تحریمي تر شحمتی الاذنین پورته کوی یعنی تر نرمیو پوری د غوږو. او په لعض حدیثو کی راغلی دی چې لاسونه دی پورته کوی تر منکبینو پوری یعنی تر اوږو پوری لکه چې په حدیث دابن عمرؓ راغلی دي. رَاَیتُ النبیُّ اِذا اِفْتَتَحَ الصَّلوٰةَ رَفَعَ یَدَیْهِ حَتّٰی یُحَاذِیْ مَنْکَبَیْهِ رَوَاه الشافعیؒ. او په بل حدیث کی راغلی دی چې د تحریمي په وخت کی تر فُرُوْعُ الْاُذُنَیْن پوری لاس پورته کوی او کما قال» حاصل د جمع یه دادی چې وَرغوی د یے اوږ و پورته کوی او بتهی گوتی ترنرمیو پوری پوړ ته کوی. او سَرُونه د گوتو دی ترفروع د غوږو پوړ ته کوی. که څه امام طحطاویؒ حَدیث دابن عمرؓ پر حال د عذر د عَلیه السّلام حمل کړی دی لکن بیا هم دا جمع مذکوره ډیره زړه پوری ده **مسئله**، که چا رَفع د قدر مسنون په اندازه نه سوای کولای. او یا یو لاس پوړته کولای سَوای دوهم نه. نوهر د وَل چې د ده قدرت وي هغه سی دی پُورته کړي حتی کی یو لاس پورته کیدی یو لاس دې پورته کوی» مَجْمَع الانهر. قَالَ المُصنفؒ.

وَالْاَمَةِ او د غه رنگه دي تر غوږو لاسونه پورته کوی مینځه وَلی چې مینځه په پورته کولو کښی د لاس سو لکه نر ده. وَلی چې با زو گان د مینځی عورت نه دی او مینځه لکه حُره ده په رکوع او سجده کی: قال المصنفؒ.

وَحِذَاءَ الْمَنْکِبَیْنِ لِلْحُرَّةِ او تر برابره د اوږو لې پورته کوی حُره ښځه پر صحیح روایت ولی چې ذراعین د دی عورت دی، وَرَوَی الحسنؒ عَنْ ابی حَنیفةؒ چې حُره دی هم لاسونه تر غوږو پوری پورته کوی وجه د دي روایت دا ده چې په وخت کی د کورد خدمت لکه اوړه اخښل، یا سرای جارو کول، یا کالی پریولل وغیره حُره ښځه د لخ والی د ذراعینو چاره نه لری نو په سَبب د عذر عورت والی یه ساقط دی» وَالجواب انه لاضرورة لها فی کشف الذراعین عند

Maktaba Tul Ishaat.com

رفع الیدین لِلتحریمَۃ» دی قالَ المُصنفُ

وَنَشْرُ الْاَصَابِعِ

اوپه وخت دلاسو پورته کولو دتحریمي دپاره دګوتی دی ددوارو لاسوخلاصی نیول سُنت دی» دی ویلَش وائي چي مراد د نشر څخه دانه دی چي قصدًا دی سره فراخه وګرځوی بَلکه مراددادی چي قصدًا دی تهولی نه نیسی بلکه پرخپل حال دی پرېږدی»، م ط،

پوه سه: چي فقهاءُ وائي چي پورته کول دلاسو په څوځایه کښی سته وَلیس ا» یوخود تکبیرسره دافتتاح الصلوٰۃ ترغوږو پُوری ر۲)، اوبل دتکبیر قنوط سره ترغوږو پوری ۳ اوبل په تکبیرو زوائدو کښی داخترو ترغوږو پوري ر۴) اوبل په وَخت د استلام الحجر الاسود تر اوږو پُوری. اوباطن دلاسو دی وحجراسودته کی ر۵)، اوبل پر صفا اومروۃ باندی لکن مَخ دَلاسودی دکعبی شریفی وَخواته کی په صحیح روایت کی.

ر۶) اوبل په وخت کی ددا خلیدو په مسجدحَرام کی اول وَار» نودی دی بیت الله شریفی ته ګوری لکن بعض عُلماءُ وائي چي مخ دَلاسودی کعبه شریفې ته کی. اوبعض عُلماء وائي چي ددعاپررقم دی لاسونه پورته کړي یعنی ترځیګر پوری اوپه مابین کی دَلاسوبې جلاوالی وی که څه هم لږ وي. ر۷)، اوبل په وخت کی دجمع دلمونځو په عرفات کی ددعا پُروزمره ۸ اوبل په وخت کی دجمع دَلهو نځوپه مزدلفه شریفه کی ددعاپررَقم. **پوه سه**: کریو سَړي ددعاپه وخت کی دخدای جَل جَلَالهُ څخه یوشئ غوښتی لکه جنت یارزق دَدُنیااو نور نودی لاسونه ترځیګر پُوری پورته کړی فُرجه دې ورکړي اوَلاسونه اومخ دې داسمان وَخواته وي. اوکه چا نجات دخدایٔ څخه وَغوښتیٔ د اوره دَجهنم او یابل عذاب دنیاوی څخه، نولاس خودې ترځیګر پورته کړی سره د فرجی لکن مَخ دَلاسودِخپل دَمخ وَخواته کی. اوکی یوچاته چي مستحق د سزااوود هلاک وَغیره سَزایرکوله دَلاسومخ دی دمځکی وخواته کی.

پوه سه: چي هر وخت چي سَړی دعاوکړي ور وسته ترِدُعا دی لاسونه پرمخ تیروی دا سُنت دی **مسئَله**: چونکه اصل دَدُعاپه اجتماع سره په استسقاءکی ثابت دَی

دآنحضرت صلی اللهُ عَلیه وَسَلم څخه اود غه رنګه په وخت کی دمباهلی په اجتماع دخصمینو نودعا کول په اجتماع سره ودوسته ترله ونځوکم بدعت نه دَه لکه وهابیان چي وائي ولی بدعت هغه فعل ته وائي چي به دین کی اصل نه لری. سره ددي چي دُعا په اجتماع سره اقرب واجابت ته هم دَه. نوځکه تبلیغی جماعت وَالا په لویو اجتماعاتوکښی خپل په ساعتونوساعتو دعاپه اجتماع سره کوی. لکن عجب و بعض تبلیغی کسا نوته ده چي دُعا بالاجتماع په مساجدو کی بدعت بُولی. اود دُعاپه وخت کی داماماومقتدیانو سره لاسونه نه پورته کوي.

نوشاید دَغه کسان به وهابیان وی اوپه تبلیغی جماعت به ګډ سَوی وی دپاره ددې چي دوهابیت مَرام پرمَخ بوزی. اود فقیرداخیال دی چي په اوسنی زمانه کښی چي بعض مُلایان پرتبلیغی جماعت لګیږی اوبد څندی وَړی په سَبب دَدَغو وهابیانو چي په ګډ سوي دی. اوپه لږ کارسَړی مشرک بُولي. لهذا مقتدایان اصلی ددی جَماعت اصلاً پهسبب دیو کار مُسلمان ته مشرک نه وَائي. تاسو کولای سی چي ددی جَماعت دلویو علماو لکه جناب مَولانا زکریار وغیره مطالعه کړي. دشرک لفظ به یکښی وَه نه وینئ. بلکه دشرک لفظ شُعار دوَهابیانو دَی. یاپه بل نام موحدینو، یا په بَل نام اهل الحَدیث ددی زمانی، یا پَه بل نام سَلفیان دَوَخت حاضر.

مسئَله: غیردَدَغو ځایو په بَل ځای کی رفع دَلاسو نسته. زمونږ دامام اعظمؒ په مذهَب کی اونور مذهبو وَالا یه د تکبیر سره درکوع او پورته کیدو د رکوع څخه، اود بعض نُورو په نزد د لمانځه په وَخت کښی لاسونه غوږو ته پورته کوي. **پوښتنه**: که څوک حنیفی په دغو تکبیرو کی لاسونه غوږو ته یُوسي لمونځ به فاسدیږی اوکه څنګه ! !

جواب: بعض فقهاءُ وائي فاسدیږی لکن فتوٰی پردې دَه چي نه فاسدیږی کما فی النهرالفائق وَهُوَالصحیح کمافی السّراج» ط قالَ المُصنفُ

وَمُقَارَنَةُ اِحْرَامِ الْمُقْتَدِىْ لِاِحْرَامِ اِمَامِهٖ

اوسنت دی یوځای والی دتحریمي مقتدی دتحریمي سره

د امام. او دا هم دی مذهب د امام اعظمؒ. دَلیل یې دا دی چې علیه الصّلوٰة وَالسّلام وائي إِذَا كَبَّرَ ای الامام فَكَبِّرُوْا او کلمه د فاء دَوَخت دَپارَه ده نو معنیٰ دحدیث دا ده چې تاسی تکبیر وایاست په وخت کی دتکبیر وَئیلو دَ امام، او پَه بل ځای کښی دقرآنِ مبارک داسی راغلی دی، وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَانْصِتُوْا او بَل ځای داسی فرمائی. وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا او دا خو ظاهره خبره ده چې زمانه دقرائت دَقرآن او د انصات یاد استماع خو یوه ده لکن دمقارنت د پاره دا شرط دی چې د الله لفظ یا د اَکبَر لفظ به تر امام د مخه نه وائي.

امام طحطاویؒ وائی که چیری مقتدی لفظ د اَللّٰهُ د مخه تر امام وَوائی او اکبَرُ وروسته تر امام وَوائی. او یا اَللّٰهُ سره د امام ووائی یا وروسته تر امام مگر اَکبَر یې تر امام د مخه وَوایه لایصح شروعه فی اظهر الروایات وهو الاصح. ولی مقتدی چې شروع کوونکی په لمانځه گرځی په توله جمله د اَللّٰهُ اَکبَر، **حاصل دا چې** د امام اعظمؒ په نیز ثوابِ تحریمه بیله مقارنت مقتدی ته نه پیدا کیږي. **اروَیش** وَائي چې مراعات د امام اعظمؒ د مذهب په تحریمه کی ډیر غوَر او فکر غواړي. کما لایخفیٰ.

او یاران وَائي چې په هغه حَدیث کښی چې تیر شُو "فَا"، دپارَه د تعقیب ده نو تحریمه دمقتدی بلافصله تر امام تر تحریمې وروسته وي. قهستانیؒ وَائیُ چې الف دَلفظ د اَللّٰهُ دمقتدی دی په "را" سره د اکبَرُ د امام جوت وي. امام سرخسیؒ وَائیُ چې نور افعال دمقتدی او د امام هم پردا غه اختلاف دي. قَالَ المُصنفُ فی المَراقی: وَلَااختِلاف فی الجَوازِ عَلَی الصحیح بَل فی الاولویه. لکن شیخ الاسلام وَائیُ چې مقارنت په اجماع سره افضل دَیُ. وَقَالَ بَعضُ الفقهاءِ چې مختاره فتوی دَپاره په تحریمه کی افضلیت دَ تعقیب دی. او دَره ویش هم وَائی چې په سبب د آسانی دمذهب دیاراننو هم فتوی د دوی پر رأیه ورکوم.

نو موَافق دمذهب سره دیارانو فضیلت او ثواب د ادراک دَتحریمې تر هغه وخت پوري دوام لری په بعض کتا بو کښی وَائیُ چې تر وخت دَ تمام وَالی د سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ آه او بعض علماءِ وَائی چې تر توله فاتحی وَیلو پوري، او پَه مضمرات کی وَائیُ چې تر تمامه داول رکعت وَهوالصحیح اروَیش وَائی: چې دا فراخه دَ ټولو مذهبو دی. لکن سره د هغه مبادرت ومقارنت تر ښکاره دَیُ

بلاریب لکن د نیت ترلو سود ایان په دی باره کښی دتاسف وړ دي. او سلام گرځول دمقتدی او امام په نیز د امام اعظمؒ لکه تحریمه افضل په اقتران دی او امام طحطاویؒ خبره نوره هم لیری اوږده کړې دَه. قَالَ المُصنفُ.

وَوَضعُ الرَّجُلِ يَدَهُ اليُمنٰى عَلَى اليُسرٰى تَحتَ سُرَّتِهٖ

او سنت دی ایښوول د نر، ښی لاس پر چپه لاس لاندی تر نامه. یعنی څرنگه چې اَللّٰهُ اَکبَر دَه وَوایه دستی دی لاسونه کښته ایله کړی تر نامه لاندی دی وَنیسی. داسی دی نه کوي لکه بعض جاهلان دوخت چې څه وَخت چې اَللّٰهُ اَکبَر وَوَائی بیا لاسونه کښته ایله کړي چې ښه لاسونه سیده ایله سوه بیا نو بیرته لاسونه رابیرته کړي پر نامه یې وَنسی.

پوښتنه: چې په یوه حدیث کښی داسی رَاغلی دي وَوَضعُ یَدِهِ الیُمنیٰ آه چې ددی حدیث روایت حضرت علی رضی اللهُ عنه کړی دی. او پـه بَل حدیث مَرفوع کی لفظ د اَخَذَ رَاغلی دیُ. نو زمونږ مشائخو د جهت دَعمل بالحدیثین داسی کیفیت یې مختار کړی دی چې باطن د ښی لاس دی په شاه وَرغوی دی پرظاهِر د چپه وَرغوی کښیږدی چې د ابه وَضع سی. او بټه گوته او څچنۍ گوتی دی پر بند د لاس را وګرځوی دا به اخذ سي.

قَاعِدَهٔ کُلِیَه

هر ولاړه چې په هغه کښی ذکر مسنون وي که څه هم حکماً ولاړه وی لکه سَری چې په ناستی لمونځ کوی په هغه وَلاړه کی دی لاس پر نامه نسي. نو بناءً عَلیٰ هذه القاعدة په ولاړه کی د رکوع څخه اود سجدی څخه او پَه مَا بین کی د تکبیرو د اخترو وَضعُ الید نسته لعدم الذکر المسنون. او پـه سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ سره سَوَال نه وارد یږی وَلی چې مراد دَ قیام څخه قیام دَقرار ده. **پوښتنه**: چې په نیز د امام اعظمؒ او امام ابو یوسفؒ وضع الید د هغی قیامی سُنت دی چې په هغه کښی ذکر مسنون وي او په نیزد امام محمدؒ سُنت دی د هغی قیامی چې په هغی کښی قرائت وي نو په حال کی د سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ او یا دعاءِ قنوت لاس ایله نسی په نیزد امام محمدؒ یا د جنازی په لمانځه کی

Maktaba Tul Ishaat.com

قال المصنفؒ **ووضعُ المرْأةِ يَديْها عَلىٰ صَدرِهامِنْ غيرِتحليق**

اوسنت دی اینوول د ښځی د واړه لاسونه پرځیګر باندی بیله الغه کولو دیوه پربل باندی یعنی
پر دی کی د دی ستر ډیردی. او په دی سُنت دی مینځه او جُره سره برابری دی. قَالَ
الامام الطحطاویؒ چی ښځه د نره ځخه مخالفه ده په څو مسئلو کی. اودا ټوله مخالفت په سبب
د ستر د دې دئ. (۱) وضع المرْأة آه (۲) لاسونه د لستونړو ځخه نه راباسی په وخت کی د
تحریمی (۳) اوپورته کوی به لاسونه په تحریمه کی تر اوږو پوری (۴) اوګوتی به د رکوع په
وخت کی فراخه نسی (۵) اوپه رکوع کښی به ډیره نه کښته کیږی چی د اهیئت د دی د پاره
استردی (۶) او د سجدی په وخت کی به نس د ورنوسره جوته وی او با زوګان دی د بغلو
سره یو ځای کی (۷) او ښځه به تورك كوی په هره ناسته كی یعنی پرچپه کُناتی دی کښینی
او دواړی پښی دی پر اسـتر خواو باسی. او یو ورُون دی پربل کښیږدی.
اوراسته پښه ډی دی پرچپه پښه ډی کښیږدی مجمع الانهر (۸) ښځه که ځه هم نر محرم وی
امامت نسی ورکولای (۹) او د ښځو یوازی جماعت مکروه دی (۱۰) که سره د کراهته دوی جماعت
کاوی امام ښځه به په ما بین کی دریه وي. (۱۱) او په جهری لمانځه کی به جهر نه کوي. (۱۲)
او د ښځو په حق کی د سحار لمونځ په تا ریکه کی ښه دی. او که سړی تلاش په لمونځو کی وکړی
د دی ځخه علاوه نور فرقونه به هم پیدا کړی. چی یو دادی (۱۳) چی ځوانانی ښځی به د جماعت د پاره
مسجد ته نه ځی.

تبصره : امریکایان او غربیان وائی چی ښځی دی په نیکرانو کی میله کوی او تر ورنو
پوری دی لڅی ښو و ځیونه ځی. غرض د دوی دادی چی مُسلمانان په فواحِشو اخته سی
نو بیا پر کفارو هیبت کم سی. قَالَ المُصنفؒ.

وَالثَّناءُ وَالتَّعوُذُ لِلقِرَاءَةِ وَالتَّسْمِيَةُ اَوَّلَ كُلِّ رَكعةٍ

اوسنت دی سُبحَانَكَ اللّٰهُمّ ویل په اول رکعت کی هر لمونځ گذاره لره نو مقتدی دی سُبحَانَكَ

اللّٰهُمّ هغه وخت چی امام په قرائت شروع نه وی کړی. که په اول کی د لمانځه ورسره شریک وی
او که مسبوق وي اولمونځ جهری وی او که خفیه وي. ط، م،
پوښتنه : چی اَعُوذُ بِاللهِ تبع د نفس قرائت ده د الحمدُ لله تبع نه ده د دی وجهی که
سړی بیله الحمد لله بل سُورة وایه اعوذ بالله به وائی. م ط، **مسئله** مختاره په
ویلو کی د اَعُوذُ بالله د غه الفاظ دي. اَعُوذُ بِاللهِ مِنَ الشَّيطٰنِ الرَّجِيمِ وهواختیار ابی
عمرؒ او عاصم او ابن کثیر مکی دیٔ. په قراء سبعه وو کی. اودا مختاره د اکثرو حنیفیا نو ده
وَهوَ المنقول من استعاذة النبی صَلی الله علیه وسلم دیٔ. نو هغه الفاظ چی صاحب د
هدایهؒ او امام هندوانیؒ خوښ کړی دي یعنی اَستعیذُ بِاللهِ آه ضعیف دی، ع، ط،
او سبب د دوی د اختیار مذکوره الفاظو لره موافقت دی د لفظ قرآنی: فَاسْتَعِذْ بِاللهِ الخ
پوښتنه : چی د تعوذ مشروعیت د پاره د قرائة القرآن دی کی په خارج کی د لمانځه
قرآن مبارك وایه هم اول اَعُوذ بِاللهِ ویل سُنت دي. او کی په لمانځه کی قرائت وایه اَعُوذُ
بِاللهِ ویل د مخه تر شروع په قرائت وروسته تر سُبحَانَكَ اللّٰهُمّ سُنت دیٔ. وجه
د مشروعیت د تعوذ قبل القراءت دادی چی قاری ته شیطان په وخت کی د قرائت
وسوسی ور وا نه چوی. او دا مذهب دی د امام اعظمؒ او د امام محمدؒ.
او امام ابی یوسفؒ وائی چی تعوذ تبع د سُبحَانَكَ اللّٰهُمّ دهٔ. نو په نیز د طرفینوؒ مقتدی
به اَعُوذُ بِاللهِ نه وائی. ولی چی ده لره قرائت نسته. او په نیز د امام ابی یوسفؒ مقتدی
به تعوذ وائی ولی چی سُبحَانَكَ اللّٰهُمّ خو دی وائی. او د غه رنګه د اختر په لمانځه کی به
امام په اول رکعت کی پس له تکبیراتو زوائدو به اَعُوذُ بِاللهِ وائی ولی چی هغه
وخت قرائت شروع کیږی. او امام ابی یوسفؒ وائی چی تر سُبحَانَكَ اللّٰهُمّ وروسته
تر تکبیراتو زوائدو د مخه دی اَعُوذُ بِاللهِ وائی. او هم هغه مقتدی چی امام یو رکعت یا
بالا ځنډی تیر کړی په وخت د اقتداء په امام پسی دي اَعُوذُ بِاللهِ نه وائی. ولی چی په
د غه وخت کښی ده ته قرائت ویل نسته بلکه هغه وخت به اَعُوذُ بِاللهِ وائی چی خپل تیر
سوی لمانځه ته ولاړ سی یعنی قرائت شروع کوی.

اوامام ابی یوسفؒ وائی چې هم به اَعُوْذُ بِاللّٰهِ دافتداء په امام پسې وائی اوهم وروسته
پې دی دتیر سوی رکعتو وقضاء راوړی، بحر،عن، ط، در،

دبِسْمِ اللّٰه په باره کی لنډ تحقیق

پوښتنه: چې بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ یوایت دقرآن څخه زمونږ حنیفیانو په
نیز، اوامام مالکؒ اوامام اوزاعیؒ او بعض علماء د حنیفیانو چې بِسْمِ اللّٰه آه ایت د
قرآن نه ده صرف اوصرف دپاره د پیژندلو د جلا والی دسورتو نازل سوی ده.چې آنحضرت
صَلی الله علیه وَسَلم فصل دسورتو هم په دغه سره پیژندی **تنبیه**: دا اختلاف
په دغه بِسْمِ اللّٰهِ کی دی چې په اوائلو کښی دسورتو ده. نه هغه چای» اِنَّهٗ مِنْ سُلَیْمَانَ
وَاِنَّهٗ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ ط ولی هغه خو بالاتفاق جزء دقرآن ده. اوامام شافعیؒ
وائی چې په اول کی دهر سورة چې بِسْمِ اللّٰه موجوده وی هغه دهغه سورة جزء ده. نو
بناءً علیٰ هٰذا په عدد کی دآیاتو د قرآن مجید په مابین کی د حنیفیانو او شافعیانو په
فرق ستر» کمالا یخفیٰ»

او په نیز د امام اعظمؒ په یوازی بِسْمِ اللّٰه سره لمونځ نه دی روا. ولی چې قرائت په لمانځه کی فرض بالیقین
دی. اود بِسْمِ اللّٰه په قرانیت کی امام مالک اوزاعیؒ مخالف دی. نو په قرانیت کی شبهه پیدا سوه.

فائده: دقرانیت څخه دبِسْمِ اللّٰه په اوائلوکی د سورة منکر کافر نه دی. ولی که څه هم په
تواتر سره په قران کښی لیکل کیږی. اما قرانیت یې متواتر نه دی. اوسړی په هغه ایت سره کافر یږی
چې څندی منکر سی. چې قرآن والی یې تواتر وی. امام قهستانیؒ وائی چې بِسْمِ اللّٰه په حق کی د مسه کولو د
محدث حکم دقرآن لري. یعنی مسه یې محدث ته نه ده روا. نه په جواز کی د لمانځه. او بحر الرائق کی وائی
چې جنب ته یې ویل هم ناجائز دی. مګر په نیت د تبرک یا د ذکر د پاره.

مسئله: بِسْمِ اللّٰه ویل په اول کی دهر رکعت د مخه تر اَلْحَمْدُ لِلّٰه سُنت دی. مصنفؒ په مراقی
الفلاح کی وائی: وَالْقَوْلُ بِوُجُوْبِهَا ضَعِیْفٌ لِعَدَمِ ثبوت المواظبة عَلَیْهَا.لکن امام زیلعیؒ په باب کی د
سجود السهو وائی چې بِسْمِ اللّٰه واجب ده. حتیٰ که سهوًا پاته سی سجده سهوه به کوی۔

اود اغه رایه دوجوب صحیح ګڼلی ده علامه مقدسی شارح النظم او په معراج الدرایه کی د معلیٰ څخه
چې څخه روایت د امام اعظمؒ څخه کوي. چې بِسْمِ اللّٰه په هر رکعت کی واجب ده. او هم د لته قول
دیارانوؒ دیٰ. او په روایت کی دالحسنؒ د حضرت الامام څخه داسې راغلی دی چې صرف بِسْمِ اللّٰه
په اول رکعت کی واجب ده. لکن صحیح دا ده چې په هر رکعت کی واجب نه ده وَ اِلَیْهِ مَالَ ابن
وهبانؒ اود فــقیر هم دا رایه خوښه ده
امام طحطاویؒ وائی چې که سهوًا بِسْمِ اللّٰه په یوه رکعت کښی پاته سی سجده سهوه دې وکړي څو چې
عن هذا الخلاف،، **تنبیه**: که مصلی په رکعت کی پوره سورت وایه د مخه دی اَعُوْذُ
بِاللّٰه او بیا دی لبِسْمِ اللّٰه وهوائی لکن دا کار سُنت دی. او کی پوره سورت نه وایه بلکه یو څو
ایته یې وَیل نو اَعُوْذُ بِاللّٰهِ دی وَوائی بِسْمِ اللّٰه نه غواړي. تعوذ هم سنت دی.

مسئله: د بِسْمِ اللّٰه په وَیلو کښی د جهري لمانځه او د سرّی لمانځه فرق نسته کما ذکره
لکن زمونږ په نیز دی جهر په بِسْمِ اللّٰه سره نه کوي. او مصنفؒ په شرح کښی د در روائی چې بِسْمِ اللّٰه
وَیل په مابین کی د اَلْحَمْدُ لِلّٰه اود سورة مکروه نه ده بلکه ښه کار دی. لکن قهستانیؒ وائی چې
بِسْمِ اللّٰه دی په مابین کی د اَلْحَمْدُ لِلّٰه او سورة نه وائی. په نیز د امام اعظمؒ امام ابویوسفؒ. قَالَ
فی المضمرات والفتوی عَلیٰ قولهما. او د امام محمدؒ څخه روایت دی چې په سری لمانځه کی په
مابین د فاتحه او سورة بِسْمِ اللّٰه وَیل سُنت دی نه په جهري کښی»

درویش وائی: چې دا خلاف په سُنت والی کی د بِسْمِ اللّٰه دی ورنه په دی کی شک
نسته چې ویل بې ښه کار دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَالتَّاْمِیْنُ** او سُنت دی اٰمین
وَیل وروسته تر فاتحې امام له مقتدی له چې جهري لمونځ وی. او دغه سُنت دی قاري
له د فاتحې سره دباندی تر لمانځه»م» په حدیث مبارک کی آنحضرت صَلی اللّٰهُ عَلیه وَسَلمَ
فرمائیلی دي. لَقَّنَنِیْ: وما ته ښوولی دی جبرئیل عَلیه السّلام: عِنْدَ فِرَاغِیْ مِنَ الْفَاتِحَةِ، په
وخت کښی د فارغ والی زما د فاتحې څخه: اٰمِیْن. وَ اِنَّهٗ قَالَ: او جبرئیل وویله. اِنَّهٗ کَالْخَتْمِ
عَلَی الْکِتَابِ، چې دا لکه مهر دی پر کتاب باندی. او په صحیح حدیث کی چې روایت یې بخاري
وغیره کړی دی، قَالَ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ: اِذَا اَمَّنَ الْاِمَامُ فَاَمِّنُوْا: څه وخت چې امام اٰمین

Maktaba Tul Ishaat.com

روایة تا سی هم امین وایاست: فَإِنَّ مَنْ وَافَقَ تَأْمِينُهُ تَأْمِينَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ: ولې که د چا امین برابر سو د امین سره د ملکو ده نو د هغه ټول کیږی هغه ګناهونه چې ده د مخه کړی وي.

پوهـنـه: چې مراد په حدیث شریف کې برابر والی دی په وخت کې د ویلو. او بعض علماءؒ وائي چې مراد موافقت په اخلاص کې دی.

فـائـده: شیخ رحمه الله وائي چې امین سریانی لفظ دی لکه قابیل، ولې چې داونو څخه د کلام د عربو نه دی. او دا لفظ اسم فعل دی، په معنیٰ د امر دی یعنی اِفْعَلْ یَا اللّٰهُ کَمَا قَالَ، او قُلْتُ، یعنی کې د بل دعا امین کاوه نو به وائی کما قال، او کې پخپله دعا امین کاوه نو کما قُلْتُ. چې په معنا د اسکت دی.

او مصنفؒ په مراقی کښې وائی چې امین د قرآن څخه نه دی. او مجتبیٰ والا وائی چې په قرائت کې اختلاف سته، ط، مر.

مسـئـله: لفظ د امین په مد سره او قصر سره دواړه روایت په تخفیف د میم په دواړو کښې. او کې په مد سره ووائي سره د تشدید د میم خطاء دی. په ځلورو مذهبو کښې لکن په نیز د امام ابو یوسفؒ لمونځ نه په فاسدیږی لِوُجُوْدِهٖ فِی الْقُرْاٰنِ: وَلَآ آمِّیْنَ الْبَیْتَ الْحَرَامَ، الاٰیة.

دَ امین په معنیٰ کې اختلاف

یوه معنا خو هغه وه چې موږ ذکر کړه، او جمهور وائي چې معنا یې: اِسْتَجِبْ دُعَآئَنَا، ده. او امام ثعلبیؒ په خپل سند سره د ابن عباسؓ څخه روایت کړی دی چې ابن عباسؓ ووئیله چې ما د امین ده معنا پوښتنه وکړه د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه ده مبارک وویل چې معنا یې اِفْعَلْ ده، او بعض فقهاءؒ وائي چې معنا یې، لَا یُخَیِّبُ اللّٰهُ رَجَآئَنَا، او محدث عبد الرزاق د ابی هریرهؓ څخه په سند ضعیف روایت کوی. چې امین د خدای پاک نوم دی نو معنا یې داسی ده یا امین استجب فحذف منه حرف النداء واقیم المنادی مقام مثل یُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا، درویش وائی چې بعض فقهاءؒ چې په قصر سره د امین ویل روا نه بولی په دغه وجه چې د خدای پاک نوم دی. او بعض علماء وائي چې امین یوه خزانه ده د خزانو څخه د عرش چې په تاویل یې لې خدایه بل څوک نه پوهیږی.

قَالَ المصنفؒ **وَالتَّحْمِیْدُ** او سنت دی رَبَّنَا وَلَکَ الْحَمْدُ، منفرد له په اتفاق لکن ورو سته تر سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ.

اِخْتِلَاف: بعض فقهاء وائي چې منفرد دې سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ، چې د رکوع څخه پورته کیږی ودې ووائی. او رَبَّنَا وَلَکَ الْحَمْدُ چې سجدی ته کښته کیږی ودی وائی مګر فتویٰ پر دی ده چې رَبَّنَا وَلَکَ الْحَمْدُ دی په ولاړه کښې پوره کړی کذا فی مجمع الانهر وجزم به فی الدرر وهو ظاهر الجواب وهو الصحیح قاله القهستانیؒ وعلیه فتوی الفقیر

او مقتدی دې هم اتفاقاً وائی. او امام دی هم وائی په نیز د یارانو، ولې چې په حدیث شریف کې راغلی دی په روایت د ابی هریرةؓ: اَنَّهٗ عَلَیْهِ السَّلَامُ کَانَ یَجْمَعُ بَیْنَهُمَا، رواه البخاریؒ ومسلمؒ او په عقلی دلیل په دا دی چې امام نور خلګ پر حمد ویلو باعث کړه نو خپل ځان دی نه هیروی. او د حضرت الامامؒ هغه حدیث دلیل دی چې روایت انسؓ او ابو هریرةؓ کړی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویله: اِذَا قَالَ الْاِمَامُ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ فَقُوْلُوْا رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ، متفق علیه، نو آنحضرتﷺ سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ امام ته ورکړه او رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ یې و مقتدی ته مخصوصه کړه. وَقَالُوا التَّقْسِیْمُ قَاطِعٌ لِلشِّرْکَةِ، قَالَ المُصَنِّفُ

وَالْاِسْرَارُ بِهَا او کرار دی وائی دغه مذکوره شیان یعنی ثنا وغیره په دلیل د هغه حدیث چې علیه السلام وائی: خَیْرُ الذِّکْرِ الْخَفِیُّ، وخیر العبادة اخفاها وخیر الرزق ما یکفی، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالْاِعْتِدَالُ عِنْدَ التَّحْرِیْمَةِ مِنْ غَیْرِ طَاْطَاَةِ الرَّاْسِ

او سنت دی سم در بدل په وخت کښی د تحریمی بیله کښته کولو د سر د تحریمی د پاره لکه چې عادت د عوامو بلکه د بعض ملایانو خصوصًا په زړی کې چې ګرم پټو یې پر سر اچولی وي او د اسنت والی د تحریمی د سره څخه بیا تر پایه پوری، قَالَ المُصَنِّفُؒ

وَجَهْرُ الْاِمَامِ بِالتَّکْبِیْرِ وَالتَّسْمِیْعِ او سنت دی په زوره ویل د امام په تکبیر سره یعنی په ټولو

رکعتو کښې. ولې چې امام ضرورت لري چې خلک په شروع د لمانځه او په انتقالاتو خبر کړي. او منفرد او مقتدي خو ضرورت نه لري.

فائده مهمه: که چېرې د امام اواز د تکبیرو عیره قوم ته رسیدی بیاد بل تکبیر ویونکی تکبیر مکروه دی. امام طحطاوی په صفحه ۲۱۲ ده السیرة الحلبیة نه نقل کړی دی۔ "اتفق الائمة الاربعة۔ اتفاق کړی دی د څلورو مذهبو امامانو چې "ان التبلیغ فی هذه الحالة بدعة منکرة" یعنې رسول د تکبیرو د امام په دا غسې حالت یعنې چې د امام صوت ټولو ته رسیږي بدعت منکر دی. او که چېرې مکبر ته ضرورت وو یعنې چې د امام آواز اَللّٰهُ اَکْبَرُ او سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ټوله جماعت والا ته نه رسیدی یا خود امام آواز ضعیف وو او یا د جماعت خلک ډیر وه. بیا نو تکبیرو نه ویل د مقتدیانو مستحب کار دی. او که چېرې موظف مکبر نه وو نو په هر صف کی دی یو سړی اَللّٰهُ اَکْبَرُ وائي چې ټوله په خبر سي.

سوال: د تکبیر ویلو څه ضرورت دی ولې چې اول صف والا د امام انتقالات په سترګو ویني دو هم صف والا اول صف والا ویني ثم وثم. **جواب:** که په صفو کی ړندیان وه نو هغه خو انتقالات د امام یا صفو په سترګو نه ویني".

مسئله: که د امام په تکبیر افتتاح کی فقط و فقط خبرول د خلګو مطلب وو شروع په لمانځه یه نه صحیح کیږي. او کی صرف احرام د لمانځه غرض وو نو شروع په لمانځه یه صحیح سوه. او کی دواړه کاره مطلب وی خدای پاک به دوه ثوابه ورکړي.

ضروري خبره که د تکبیر ویونکی (یعنې اول تکبیر) فقط د خلګو خبرول غرض وه په احرام تړلو د امام د ده لمونځ خو نه دی صحیح. او د هغو خلګو لمونځ هم نه دی صحیح چې د مکبر څخه اخسته کوی. ولې چې د انورو خلک په هغه چا پسې اقتداء لري چې هغه په لمانځه کی نه دی یعنې مکبر. **پوهه سه**، چې دا ټوله بیان مخصوص په اول تکبیر پوری دی. او هر چه سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ، ده د امام دخوا. او رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ د مکبر دخوا یا تکبیرو نه د انتقالاتو دی لکه د رکوع یا سجدی وغیره د پاره په هغو کښې قصد د ذکر نه دی

لازم بلکه لمونځ یه صحیح دی. بهر صورت بلکه نیت د ذکر د پاره د ثواب دی. او که مقتدیان په قول د دغه بل که عمل وکړي د هغو لمونځونه نه دی فاسد بلکه صحیح دی. ولې د دغه مکبر اول تکبیر په سبب چې په نیت د ذکر یه وو او یه په لمانځه کښې داخل سو قَالَ الْمُصَنِّفُ۔ فَلَا يَلْزَمُ الْاِقْتِدَاءُ بِمَنْ لَيْسَ فِي الصَّلٰوةِ.

او سنت

وَتَفْرِيْجُ الْقَدَمَيْنِ فِي الْقِيَامِ قَدْرَ اَرْبَعِ اَصَابِعَ

دی لیری کول د دوی پښې د بلې پښې نه په ولاړه کی په اندازه د څلورو ګوتو. **پوهه سه** چه د دغه اندازه نږدی ده د لمانځه وخشوع ته. دا روایت دی د کتا اثر د امام اعظم نه لکن د دغه اندازه د هغه سړي د پاره ده چې عذر نه لري. او که یو سړي ډیر چاغ وي او یا چوره وي یعنې کلمی یه خایوُنته راشوه کیږی۔ چې پردا سی دو و خلګو با ندی لیری کول د پښو تکلیف وی یعنې دوی ته چې پښې ډیرې ازادی کړي راحت وی نو هغو نه اجازه سته چې پښې ډیرې سره آزادی کړي:

فائده: د فقهی شریفی په کتابو لفظ د تراوح راغلی دی چې معنا یه دا ده چې په ولاړه کښې یو کړي پر یوه پښه تکیه وکی او بل کړي پر بله پښه تکیه وکړي. د تراوح پر باره کښې مصنف په مراقی کی وائی. وَالتَّرَاوُحُ اَفْضَلُ مِنْ نَصْبِ الْقَدَمَيْنِ" یعنې د تراوح کول په ولاړه کی سنه دی تر پښو په یو رنګ نیولو. ولې چې په دی کی آسانی ده پر لمونځ کوونکی با ندي. او پر طول القیام باندی ډیر قدرت ورکوی. او په فتاوای ظهیریه کی وائي چې د امام اعظم نه روایت دی چې تراوح ښه معلومیږی ما ته تر نصب القدمین" بلکه ابن امیر الحاج وائي چې تراوح سنت دی. او په فتاوای هندیه کی هم داغسې وائي. لکن په منیة المصلی کی وائي چې تراوح مکروه ده. او صاحب د بنا یه د کشف نه نقل کړی دی چې تراوح مکروه ده **نو واوره:** چې امام طحطاوی د اختلاف د فقهاوو داسی دفع کړي دی" چې تراوح په دی دوَل چې په ولاړه کښې ګړي ګړي پر راسته او چپه پښه تما یل او کږیږی یعنې په ما بین کی فصل ندوي نو لکه بعض

Maktaba Tul Ishaat.com

عوام، یا د در واغو پیران چی کوی داخو یقینًا مکروه دَیٔ. او مراد دَ مُنیَة المصلی او فتاوی بنا یه هم داغه تراویح دَی. او یو داچې یو وار په یوه پښه تکیه وکی یو کړې وروسته بیا په بله پښه تکیه وکړی دغه معنا مراد ده د حضرت الامام الاعظمؒ او دمصنفؒ په مراقی کی او هم دغه معنا مراد ده د فتاوای ظهیریه، او فتاوای هندیه انتهی بزیادة من العبد العاصی،،

فَائِدَة په تاریخ کی د حضرت الامام الاعظمؒ داسی راغلی دی چی دیؒ ماله چی یوه شپه دحج په موقع کی د بیت الله شریفی په خونه کی هغه شپه تیره کړه د دوو رکعتو نفلی لمونځ نیت یه وکړی. او نیم قرآن کریم یه په یوه رکعت کښی وَوایه. او نیم یه په بل رکعت کی. بعض نا قصه مُلایان ددی تعبیر داسی کوي.

چې امام علیه الرحمة په یوه رکعت کی یوه پښه پرهغه بله پښه کښیښول او نیم قرآن یه ووایه او په بل رکعت کی هغه لاندی پښه پرهغه بله پښه کښیښول او نیم قرآن شریف یه ووایه... دا تعبیر شرعًا او عقلًا غلط دی، ولی چی اوس اوس تیره سوه چې حضرت الامام تراویح دَپاره دآسانی دولاړی افضل بولی. نو ده په خپله وَلی خلاف د هغه کاوه. او از روی عقل داسی وَلاړه او دومره اوږده د عَقل د پیره لیری ده. بلکه مراد په دَغه روایت کی هغه تراویح ده چې امام علیه الرحمه افضله وَبلله.

قَالَ المصنفؒ

اوسنت دی چې **وَاَنْ تَكُوْنَ السُّوْرَةُ الْمَضْمُوْمَةُ لِلْفَاتِحَةِ مِنْ طُوَالِ**

او وی به هغه سورة چې جوتول کیږی د الحمد لله سره د قسمه دَطوال المفصل سورتو

الْمُفَصَّلِ فِى الْفَجْرِ وَالظُّهْرِ وَمِنْ اَوْسَاطِهٖ فِى الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ

څخه د سحار په لمانځه کی او دماپښین په لمانځه کی. او میانه سورتونه دی ولئی په مازدیگر او ماخستن کی:

وَمِنْ قِصَارِهٖ فِى الْمَغْرِبِ لَوْكَانَ مُقِيْمًا وَيَقْرَءُ اَىَّ سُوْرَةٍ شَاءَ

او د کوچنی سورتو د قسمه څخه په ماښام کی. او دا سنت والی هلته دی چې سړی مقیم وی او که مسافر وی نو هر سورت چې دده خوښه وی ولئی دی په هر لمانځه کی چې وی

لَوْكَانَ مُسَافِرًا که چیرې مسافر وُو. **مسئله**: دَ دغو سورتو اوږدوالی میانه والی او لنډوالی. د پاره د امام او منفرد دواړو سُنت دی.

د عبارت حاصل دی: چې بیخی کم امامان به دماپښین په لمانځه کی دونه قرائت وائی لکه د سحار د لمانځه چې دوخت تیرولو څخه سړی په پوهیږی بلکه د ماپښین او ماز دیگر چندان فرق یه نه وي. او بله دا خبره ده چې مُلاچی د سحار لمونځ یو وخت یوائی کوی خدای خبر چې دی به طوال مفصل په کښی وائی **پوهسه**: چې په دی عبارت کی طِوال او قِصار په زیر دَ اول حرف وایه جمع دَطویلة او قصیرة دی او تانیث یه په اعتبار د ی دَیٔ چې موصوف یه سورة دَیٔ. او طُوال په پیښ دَطاء جګ سړی ته وائی. او په زَوَر سره جګی ښځی ته وائی. نو پیښ او زور دلته غلط دي.

پوهسه: چې مفصل کوم سورتونه دی په دې کی اختلاف دی دا احناف مذهب دادی چې د سورة حجرات څخه بیا تر وَالسَّمَاءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ، پوری طوال مفصل دي. او د سُوَرة وَ السَّمَآءِ آه څخه بیا تر لَـمْ يَكُنِ الَّذِيْنَ "آه پوری اوساط مفصل دی او بیا د هغه ځایه څخه بیا تر پای پوری د قرآن قصار مفصل دي وبهذا صرح فی النقایه،، او دی سورتو ته چې مفصل وائی د جهته څخه د ډیرو فصلو یعنی جلا والی په بِسْمِ الله سره، او بعض عُلماء وائی چې دا لفظ مشتق د تفصیل څخه دی په معنی د محکم والي. یعنی د دغو سُورتو احکام محکمه دی. ولی چې منسوخ لږ په کښی دی

فَائِدَه: دا سورتونه چې په نوموړو لمونځو کښی سنت دی په وخت کی

د عدم ضرورت او عدم عذر،، لکه وخت تنګ وي یا نروی. او یا لمونځ کوونکی ناجوړی وي. او یا بل عذر وی لکه د دښمن څخه بیریدل ی وغیره.

او په وخت کی د عذر او ضرورت دی مصلی خپل حال ته ګوری چی ده څومره قرائت ګنجائش وی هغومره دی ووائي.

حِکایَت یو وخت پر امام ابویوسفؒ د سحار لمونځ بیخی ناوخته سوی وو او امام اعظمؒ په ده پسی اقتداء وکړه ابویوسفؒ دوه ایت د الحَمدُ په هر رکعت کښی وَوَئیله ده لمانځه څخه چی فارغ سُو. امام اعظمؒ وَوَیل یَعقوبُ صَارَ فقیهًا، یعنی یعقوب زموږ چی د امام ابویوسفؒ نوم وو اوس فقیه وګرځیدئ. ولې چه په قدر د تنګ والي د وخت یې لنډ قرائت ووایه قرط.

اِختِلافُ الآثار پوه سه: چی اثار او اقوال په باره کی د قرائت د پنځو لمونځو مختلف دي. په جامع الصغیر کی وائي چی د سحار په لمانځه کی په مجموع دواړو رکعتوکی څلویښت یا پنځوس یا شپیته اٰیته وائي ما سوا د الحَمدُ لله څخه،

او حسنؒ د حضرت الامامؒ څخه داسی روایت کړي دی،، چی په ما بین د شپیتو[۶۰] یا تر سلو اٰیتو پوری بی وائي. په دواړو رکعتوکی. نو سل ایته هغه لوړ عدد دئ چی په دواړو رکعتوکی به وائي: او څلویښت یه هغه لږ عدد دی دواړو رکعتو، نو څلویښت ایته دی پر دوه رکعته وویشی یا ۲۵ په اول رکعت کی یا په اول رکعت کی،، ۳۰ - په دوهم کی باقیما نده. تر څلویښتو پوری یعنی یا ۱۵ په دوهم رکعت کی او یا لس په دوهم رکعت کی،،

تَنبِیه: نو امام یا منفرد ته لازم ده چی په ټولو څخو روایا تو دی عمل کوي په قدر د امکان، نو ۴۰ د ضعیفو خلګو د پاره دی او ما بین د ۵۰ تر ۶۰ پوری د میانه وو خلګو د پاره دي. او ما بین د ۶۰ تر ۱۰۰ پوری د عاشقانو د لمانځه د پاره دی. او بعض فقهاءؒ وائي که شپی اوږدې وی او ده سوړ تونه دي

وائي. او که شپی لنډی وی بیا دی کم عدده سورتونه وائي. او بعض علماءؒ وائي که امام حَسَن الصوت وو او پر اوریدونکو یه قرائت ښه تاثیر کاوه نو دی اوږده سورتونه وائي.

او که امام کریه الصوت وو او خلګو ته خوند ور نکاوه نو لنډ قرائت دی وائي چی ۴۰ دي. او د ما زدیګر په لمانځه او د ماخستن په لمانځه کی دی ۲۰ ایته پر دوو اولو رکعتوکی وائي. علیٰ رأی المحیط. او ۲۵ د خلاصی پر رایه، وهو ظاهر الروایة. او د ماښام په لمانځه کی اندازه د اوږدوالی ۵، ۵، په هر رکعت کی یا یو لنډ سورت

مسئله: تر ویلو د دری ایاتو پوره کچنی سُورت افضل دی. نو ځکه په بحر رائق کښی داسی وائي چی زمونږ مشائخوؒ داخوښه کړی ده. چی امام دی په لمونځو کی مفصل سُورتونه وائي. تا چه خلګ یه واوری او زده ئې کړي.

مَسَائِل قِرائَةِ الامَام

په روایت کی د عمر رضی اللهُ تعالیٰ عَنه داسی راغلی دی،، چی ده به د ما ښام په لمانځه کی قصار مفصل سورتونه وَیل. او په ماخستن کی بی اوساط المفصل وَیله. او د سحار په لمانځه کی بی طوال مفصل وَیله او د ما پسین لمونځ لکه د سحار لمونځ دی د سبَبه د فراخی د وخت هم دارایه د اکثرو کتابو د فقهي شریفی ده - او بعض علماءؒ چی ما پسین لکه مازدیګر دی په قرائت کښی وَلی چی خلګ په مهما تو کاروا اخته وي. **پوه سه:** چی د مذهب په مراعات باید مقلدین د تشدد او تعصب څخه کار وا نخلی. چنا نچه په روایت کی دا لب هریرهؓ داسی راغلی دی چی آنحضرت صَلی اللهُ عَلیه وَسَلم د جُمعی د ورځی د سحار په لمانځه کی بی په اول رکعت کی الٓـمٓ تَنزِیلُ الکِتاب، پوره سورة وایه او په دوهم رکعت کی بی،، هَل اَتیٰ عَلیَ الاِنسَانِ، پوره سورة وایه. نو حنیفیا نوؒ د اسُنت یک لحته

Maktaba Tul Ishaat.com

پری ایبنی دی . مګر نا د علماؤ دی مذهب چې ګاهی ګاهی عمل په کوي.
او شافعیانو پر دغه سُنت دوام کوی مګر نه نادر دووئ څخه چې هغه ګاهی ګاهی پرېږي دي. لپس ځاهلانو دواړو مذهبو پر بل باندی الزام د بطلا ن د لمانځه لګوی مثلاً. حنیفیا ن وائی که چا داده سوره د جمعی د سحار په لمانځه کی وویل لمونځ یې باطل دئ،،

او شافعیانو وائی کی دغه دوه سورتونه یې نه وویل لمونځ یې باطِل دئ،، لکن انصاف او حق دا دی چې نه یَك لخته ترک ددی دوو سورتو په کار دی او نه پرځان لازم ګڼل په کار دئ. **مسئله**: د ضرورت په وخت کی هر سُورت چې په هر لمانځه کښی د دوی څخه وویل سی روادی. په حدیث مبارک کښی راغلی دی چې یوه ورځ آنحضرت صلی الله علیه وَسَلم د سحار په لمانځه کښی" قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ،، او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ،، په یوه او بل رکعت کی وویل د لمانځه چې آنحضرت صَلی اللهُ علیه وَسَلم فارغه سو خلګو ورته وویل،، قَدْ اَوْجَزْتَ،، یعنی د سحار لمونځ دی کوتاه کړی. ده مبارك ورته وَوَیـله قَدْ سَمِعْتُ بُكَاءَ الصَّبِیِّ،، فَخَشِیْتُ اَنْ تُفْتَنَ اُمُّه،، ترجمه: ما واوریدله ژړا د کشنی چې مور یې په لمانځه کښی شامله وه نوزه و بیریدم که زه لمونځ اوږد کړم مور یې په فتنه کښی واقع سی یعنی یا به لمونځ فاسِد کړي او یا نو له فکر یې د کشنی په ژړا کی وي نو ځکه لمونځ کوتاه کړي.

مسئله: که دد ښمن څخه بیره تر اندازه تیره سوه او سړي په هر رکعت کی یو یو ایت وواییه ګناه ګار نه دئ. او لمونځ یې صحیح دی نقله الطحطاوی عن الشرنبلالیه. **پوهسه** چې داغه چې او س ذکر سوه. مریض او کاروالا او ضعیف سړي ټوله د ضرورت په حکم کی داخِل دی. **فائده**: که په امام پسی معلوم څوکسه وَلاړ وه او هغه ټوله ضعفاء وه یا مَریضان یا اربابُ الحاجة وَه. خود هغو د ضرورت سره موافِق دی قرائت وَوائي.

او که ټول اقویا وه او د تطویل القرائت شوقیان وه،، نو دی امام په هر لمانځه کښی هغه اعلی درجه قِرائت وَوائي. او که مقتدیا نو حال د ډیری له کبله نه معلومیږي نو په هر لمانځه کښی هغه کښته او لنې د هغه لمانځه قرائت وَوائی. خو امام دې ډیره سعیه کوي. چې خلك په سبب د تطویل القراءت د جماعت څخه متنفره نه سِی،، قـالوفی المحیط والخلاصة والکافی وغیرها کذا فی القهستانیؒ. ط
مسئله: د سفر په حالت کی تقلیل القراءة بیله کراهته روا دئ. که حال د قرار وی او که د عجلت وی. په حدیث شریف کی راغلی دي چې علیه الصلوة والسلام د سحار لمونځ په معوذ تینو سره ادا کړی دی یعنی په سفر کې.
او هغه چې صاحب الهدایه د حال دَ قرار او تَلوار د قرائت په باره کی فرق بیان کړیٔ دئ هغه فرق امام طحطاویؒ په دی الفاظو رد کړی دی،، لَیْسَ لَهٗ اصل یعتمد عَلیه من جهة الروایة وَلا مِنْ جهة الدرایة آه وَاللّٰهُ اَعْلَمُ: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِطَالَةُ الْاُوْلٰی فِی الْفَجْرِ فَقَطْ او سُنت دی اوږدَول د اول رکعت د سحار په لمانځه کښی فقط یعنی د سحار دَ لمانځه په اول رکعت کی دی اوږد سورت تر دوهم رکعت وائی او دا هم سنت دئ. او په نورو لمونځو کی نه دیٔ سُنت او امام محمدؒ وائي چې زما خوښه داده چې اول رکعت دې په ټولو لمونځو کی تر دوهم رکعت اوږد دوي. او د سحار په لمانځه کی اوږدَول د اول رکعت تر دوهم رکعت د زمانی څخه د آنحضرت صَلی اللّٰهُ عَلیه وَسَلم تر او سه پوری په میراث پاته دی او عقلی دلیل یې دا دی چې سحار چونکه وخت دَخوب دی او د غفلت دی نو د اول رکعت په اوږدیدو سره خلګو ته به ټوله جماعت نیولو موقع برابره سِی. کذا فی الغنایه والمراقی.
مسئله: د دوهم رکعت اوږدَول تر اول رکعت مکروه دی بالاتر دوه ایته اتفاقاً لکن مکروه تنزیهی دی. ط. **مسئله**: په نفلو او په سُنتو کښی

اطالة اوږدول د دوهم رکعت پر اول رکعت په قرائت کی پروا نه لري، كذا فی العناية والمراقی والفتاوی جميعها.

د دی سبب هغه لوڼځ د ځا بنت چې اولياء الله دپاره د فراخی د رزق په دے ترتيب بيان کړی دی. چې په اول رکعت کی دی وروسته تر اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ سورة وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا آه ووائی. او په دوهم رکعت کی دی، وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى آه ووائی. او په دريم رکعت کی دی وَالضُّحٰى آه ووائی او په څلورم رکعت کی دی اَلَمْ نَشْرَحْ آه ووائی که څه هم وَاللَّيْلِ اِذَا يَغْشٰى تر وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا، په تعداد کی د آيتونو ډيردي. لکن چونکه نفل دی هيڅ پروا نه لري.

خبرتيا د دی لما نځه بلکه په ټولو نفلی لمونځو چې څلور رکعت کوی د مياغ په ناسته کی. به اَللّٰهُمَّ صَلِّ، اَللّٰهُمَّ بَارِكْ وائي. او چې دريم رکعت ته ودريږی، سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به وائي. او دا لمونځ دی په ځا بنت کی کوی.

قَالَ المصنفُ **وَتَكْبِيْرُ الرُّكُوْعِ** او سنت دی اَللّٰهُ اَكْبَرُ ويل د رکوع دپاره ولی چې په حديث شريف کی راغلی دی چې رسول کريم صلی الله عليه وسلم تکبير وايه د هر تکبير کښته کيدو دپاره او د پورته کيدو دپاره يعنی ما سوا د رفع د رکوع څخه ولی چې په هغه کښی سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ به و يله. قَالَ المُصَنِّفُ.

وَتَسْبِيْحُهٗ ثَلَاثًا او سنت دی تسبيح ويل په رکوع کی. لِقَوْلِ النبی صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اِذَا رَكَعَ اَحَدُكُمْ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلَاثَ مَرَّاتٍ وذالک ادناه وَاِذَا سَجَدَ فَلْيَقُلْ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ثلاثًا وَذالک ادناهُ» **پوهه سه**: چې ضمير د اَدْنَاهُ په دواړو ځايونو کښی راجع دی و لفظ غير مذکور ته چې د مقام څخه فهميږی، قال فی المراقی ای ادنی کماله المعنوی وهو الجمع المحصل للسنة. وقيل ادنی کمال السنة. وقيل ادنی کمال التسبيح وقيل ادنی کمال القول المسنون » په هر تقدير کی جمع لغوی چې

پر دوو هم صادق ده مراد نه ده. نو کمال د سُنت د تسبيح د رکوع او سجدی د ری مرتبې لري ادنیٰ يې ۳ دی او ۵ يې اوسط دی او ۷ يې بالا. تر هغه اعلیٰ دی. په بحر رائق وائی چې زيادت د تسبيحا تو په رکوع او سجده کی افضل دی لکن تاک دی وي يعنی ۳ يا ۵ يا ۷ يا ۹ وغيره.

ولی چې په حديث د بخاری او مسلم دا سی راغلی دي. اِنَّ اللّٰهَ وِتْرٌ يُحِبُّ الْوِتْرَ» يعنی خدای پاک تاک دی او تاک يې خوښ دی. او د غو دری مرتبې په منية المصلی کی او په مضمرات کی هم راغلی دي **پوهه سه**: چې امر په حديث نبوی کی يعنی فَلْيَقُلْ دپاره د استحباب دی. نو کی تر دری واره کم ووائي ثواب د سُنت نه پيدا کيږی بلکه مکروه تنزيهی دی. حتیٰ که مقتدی ۳ واره تسبيح نه وی پوره کړي او امام سر راپورته کی د امام متابعت دی وکړي. م.

مسئله: که يو عامی سړی وو چې لفظ د ظاء د عظيم يې پخپل مخرج کی نه شوای ويلای بلکه دا سی ويله «عزيم» نو هغه ته لازمه ده چې سُبْحَانَ رَبِّيَ الْكَرِيْمِ دووائی ولی چې عزيم بی معنیٰ لفظ دی. په دی ځای کی. **پوهه سه**: چې چونکه په رکوع کی تذلل او خضوع ده. نو بايد خدای پاک ته مقابل د خضوع ثابت کړي چې عظمت دی. او سجده چونکه غاية التسفل او کښته والی دی. نو دی و خدای ته مقابل د هغه چې علو ده ثابت کړي. لکن مراد بی علو رتبی او قهر او غلبه وي. علو مکانی دی مراد نه وي. ولی خدای لَهٗ مکان نشته» كما ثبت فی عقائد اَهْلِ السنة والجماعة خلافًا للوهابية والسلفية چې دوی عرش د خدای جَلَّ جَلَالُهٗ مکان بولی و للتفصيل موضع اٰخر. **مسئله**: امام دی په رکوع او سجده کښی ډونه ډيری تسبيح نه وائي. چې قوم په ملال کښی واقع سی» م» او منفرد لره تر هغه څو پوری اختيار بلکه ثواب دی لکن ختم بی پر تاک باندی کوی كما مرّ» **مسئله**: که امام زيات والی وکړي په تسبيحاتو کی د رکوع چې يو سړی چې امام ته احساس وسو چې راځی نو د هغه سړي به دا رکعت ونسی. لعض علماء وائی دا سی کار مکروه دی. او بعض علماء وائی چې

Maktaba Tul Ishaat.com

لمونځ یې فاسِدسُو. اوبعض عُلماء وائي چې امام پر دغه کار سره کافِرشو. او بعض بیا وائي کې راتلونکي نه پیژندی بیا کراهَت نسته. اوبعض عُلماء وائي کی راتلونکی مسکین سړی وو نوپه زیات والی کی کراهت نسته.

لکن ددَرویش رَایَه دَادَهٗ

لکه چې قهستاني اوزاهدی کی چې راغلی کی مقصُود په زیاتَوَلو کی ثواب وو نوبیا کراهت نشته. اوورته قول په بحرالرائق اونهر کښې هم راغلی دی. هغه وائي. ان قصد غیرالقربة فَلَا شکَّ فی کراهته وان قَصَد به القربة فلاریبَ فی عَدَم کراهته » بلکه فقیه ابوالليث السمرقندیؒ لاتردی لوړه خبره کړیده. چې زیاتول دتسبیحاتو په رکوع کښې دپاره ددې چې راتلونکی دارکعت وَنِسی. ډیرمستحسن کاردیٔ. لِقَوله تعالٰی. وَتَعَاوَنُوا عَلَی الْبِرِّ وَالتَّقْوٰی » ترجَمَه: تاسِی یودبَله سره کومک کوئ پرښه کارواوتقوٰی باندې » لکن درویش وَائي چې قول دسمرقندیؒ بناء پردې دیٔ چې دغه کومک دامام دپاره دادراک درکعت مبنی پرغرض دنیاوی نهوی لکه د رئیس سره دَ محلی، یا دمسجد چاپلوسی کول اویا راتلونکی دپیژندنی وَالا اوامام ته ډیرنژدې کات ورکوي.

ولې چې په داسې صورت کی کراهت خوښه کوي پرامام بیره دکفر سته، اوبعض فقهاءٌ وائي چې تسبیحات درکوع اوسجدی او تکبیرونه دهغوتوله واجب دي. م» نوپه ترک سره دهَغوسهوًا سجده سهوه لازمیږی، اوپه قصد پرینبولو سره یې لمونځ ناقِص گرځی »ط« اوابومطیع البلخیؒ چې د امام اعظمؒ شاگردهم دی یوم نادره خارج دمذهب څخه دکتا بوڅخه کړیده چې دی وائي چې تسبیح درکوع اوسجدی رکن ده لا څکه دي په ترك سره که عمدًا وی اوکه سهوًاوی لمونځ یې باطلیږی **فَائِدَه**: شافعیانؒ دفرضی اوغیرفرضی لمونځو په رکوع کی وروسته ترتسبیح داتوریځ هم وائي. اَللّٰهُمَّ لَكَ رَكَعْتُ وَلَكَ خَشَعْتُ وَلَكَ اَسْلَمْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ: اوپه سجده کی دا راتلونکی الفاظ زیاتوي.

سَجَدَ وَجْهِیَ لِلَّذِیْ خَلَقَهٗ وَصَوَّرَهٗ وَشَقَّ سَمْعَهٗ وَبَصَرَهٗ فَتَبَارَكَ اللّٰهُ اَحْسَنُ الْخَالِقِیْنَ » کَمَارُوِیَ عَنْ عَلِیٍّؓ اومونږ حنیفیانؒ دازیا توالی په نفلی لمونځو کی مروی بولو »ط م« قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَخْذُهٗ رُكْبَتَيْهِ بِيَدَيْهِ وَتَفْرِيْجُ اَصَابِعِهٖ وَالْمَرْاَةُ لَا یُفَرِّجُهَا

او سنت دی یعنی په حال کی د رکوع نیول ددواړو زنگنونو په دواړو لاسونو اوخلاص والی دگوتو. اوښځه دی تفریج دگوتو نه کوی » په حدیث شریف کی داسی راغلی دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم دخپل خادم انس رضی الله تعالٰی عنه ته داسې ووئیل: اِذَا رَكَعْتَ هر کله چې ته رکوع کوی فَضَعْ كَفَّيْكَ عَلٰی رُكْبَتَيْكَ » پس کیږده ته ورغوی پرخپلو زنگنو وَفَرِّجْ بَيْنَ اَصَابِعِكَ: اوته خلاصی وَنیسه خپلی گوتی » وَارْفَعْ يَدَيْكَ عَنْ جَنْبَيْكَ: اولیرې ته وَنسه لاسونه دبغلوڅخه. په داسی کولو کښی غوړول دملا ښه راځي اوچونکه مبنی دحال دښځی پرسترده نو ددی کښله دی گوتې نه سره گوښه کوی.

مَسْئَلَه: په رکوع کښی تفریج الاصابع سُنت دی. اوپه سَجده کی جوړول دگوتو سُنت دی اوپه نوروځایونوکی دی گوتی پرحال خپل پرینږدي. قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَنَصْبُ سَاقَيْهِ وَبَسْطُ ظَهْرِهٖ وَتَسْوِيَةُ رَأْسِهٖ بِعَجُزِهٖ

اوسنت دی سَمَول اوسم دریدل د پنډیو اوسُنت دی غوړول دملا یعنی ملا دی بُکه نه نیسی اوسُنت دی برابروَل دسر دکُناتوسره. **پُوښتَنه**: چې نصبُ الساقین دعصرنبوي څخه په میراث پاتردی. نوساقین لکه قوس نیول مکروه دی » م« دادری سره سُنت دحال درکوع دي. اوپه حدیث شریف کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام به په رکوع کښی ملا مبارکه داسی نیوله که دده پر ملا

مبارک داوبو کتهودی ایسنو وَل سوی وای نه به وای سُوریدلای" لِاِسْتِوَاءِ ظَهْرِهٖ"
او پهٔ بل حدیث شریف کی راغلی دي چې، علیه الصَّلوٰةُ وَالسَّلام چې به رکوع کوله
نو بی سر پورته کاوه او نه بی کښته کاوه. وَلٰکِن بَیْنَ ذٰلِکَ"

یـوه سـهـ: چې په رکوع کی دی ځنګلی لیری کوی د بغلو نه **بنها نه فائده** په طحطاوی کی په ص۲۱۶ د رکوع په بحث کی وایي وَالْصَاقُ کَعْبَیْهِ فِیْهِ. او سنت دی جو تَوَل د بجلکو په رکوع کی: او ورته عبارت په بعض فتاواوو کی هم راغلی دی. لکن نور فقهاء وائي چې اِلْصَاقُ الْکَعْبَیْن په باره کی د تسویة الصف راغلی دی. او هغه هم محمول پر مبالغه دی په دی کی چې په صف کی دې فرجه نه پرین دي.

حقیقت یه مراد نه دی یعنی چې دیوه مصلی بجلکه به د همسایه مصلی د بجلکی سره منبلوی لکه بعض نافهم عوام چې کوی هغه خپلی دوی پښی دومره ازاد سره این دی چې یوه بجلکه دده دیوا ړخ د همسایه د بجلکی سره ومښلوی او بله بجلکه د بل همسایه د بجلکی سره. نو په ما بین کی دده دوو پښو تخمیناً نیم متر ځای وی او سره دی چې د هغه دَوَلاړی په بحث کی تیر سول چې په ما بین د دوو پښو د مصلی دی څلور ګوتی قدر ځای وي. جو تول د بجلکو په رکوع کښی په هیڅ معتمد کتاب کی د فقهی نسته. او نه د ائمه څخه د مذهب کم روایت پر دی باره کی موجود. په دی باره کی د مختار او شرح ته د رافعی رجوع وکړه قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالرَّفْعُ مِنَ الرُّکُوْعِ

او سنت دی سر اپورته کول د رکوع څخه. او بعض روایتونو کښی د امام اعظمؒ داسی نقل هم شا کړی دی چې رفع د رکوع څخه فرض دی. دار ولیش وائي که څه هم ظاهر دی متن او نورو متنو دا دی چې تعدیل دار کانو سُنت دی. لکن مصلی دی په دې سُنت کښی سُستی نه کوی لکه بعض جَهَلَۃُ العوام چې کوی. یعنی چې د قیام څخه صرف ملا کږه کړی رستی

د هغی رکوع څخه سجدی ته ځي. یعنی د رکوع څخه سر نه راپورته کوی. او چې سجدی ته صرف ور سیدی بلا څنډه سر بیرته محض راپورته کړي یعنی په ما بین کی د سجد تینو نه کښینی. ولی چې نهر فائق کی د مجتبیٰ څخه نقل دی چې هغه صدر القضات ته حواله کړیده. چې اتمام د رکوع او اکمال د هر رکن واجب دی په نیز د امام اعظمؒ او امام محمّدؒ. او په نیز د امام ابی یوسفؒ فرض دی او د غه رنګه پورته کول د سر رکوع څخه او سمه دریدل او آرام کول په ولاړه کښی او په ما بین کی د دوو سجدو سم کښینستل واجب دي. حتیٰ قالوا کی پریښوی د د غو کارو څخه سهواً سجده سهوه پر لازمه ده. او کی قصداً پرین دی لمونځ یې ناقص او مکروه تحریمی کار مشتمل سو. قال ابن امیر الحاج وَهُوَالصَّوَابُ ط"

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْقِیَامُ بَعْدَہٗ مُطْمَئِنًّا وَوَضْعُ رُکْبَتَیْهِ ثُمَّ یَدَیْهِ

او سنت ده ولاړه پس له سر پورته کیدو څخه د رکوع څخه په اطمنان سره. ولی دا غسی کول په تواتر سره د عصر نبوی ؐ څخه رانقل سوی ده. او سُنت دی چې اول به زنګنونه پر مځکه این دي. او ور وسته دی لاسونه این دي. قَالَ الْمُصَنِّفُ

ثُمَّ وَجْهَهٗ لِلسُّجُوْدِ وَعَکْسُهٗ لِلنُّهُوْضِ

او بیا دی مخ این دی د سجدی دپاره لکن ابتداء دی دیری په ایښوولو سره کوی تر تندی څخه. او عکس د ما قبل دی کوی دپاره د ولاړی. یعنی اول دی مخ پورته کوی بیا دی لاسونه او بیا دی زنګنونه لکن لاسونه دی پر زنګنو کښیږدي. او د پښو پر سینو دی ولاړ سی. یعنی کښینی به نه او شافعیانؒ وائي چې جلسه خفیفه دی دې ره د استراحت کوی. ولی چې په صحیح حدیث کښی راغلی چې آنحضرت صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم به یو وار کښینستی او بیا به ولاړیدی. مونږ حنیفیان وایو چې دغه ناستې په هغه وخت کی وه چې د علیه السلام مبارک جسم اطهر مبارک درروند سو او دی ضعیف سو:

Maktaba Tul Ishaat.com

په دليل دهغه حديث صحيح: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ يَنْهَضُ عَلىٰ صُدُورِ قَدَمَيْهِ» رواه اصحاب السنن»

پوښتنه: چې دغه كيفيت د سجدې كولو او يا د سجدې نه د راپورته كيدو هغه چا لره سنت دي چې دى عذر نه لري او كه عذر موجود وو بيا پرهر څوك چې سجدې ته ځي يا پورته كيږي روا دي" مثلاً يو سړى چې په بدن ډير چاغ وي هغه چې د مخه لاسونه نه كښيږي سجده نه سي كولاى. نو هغه سړي ته روا ده چې لاسونه د مخه او نګنونه وروسته كښيږدي. وعلىٰ هذا القياس نور معذورين. قَالَ المصنف

وَتَكْبِيرُ السُّجُودِ وَتَكْبِيرُ الرَّفْعِ مِنْهُ

او تكبير ويل سنت دي د تكبير د سجدې د پاره او تكبير د پاره د راپورته كيدو د سجدې نه" دليل په هغه د نحز حديث دي چې رسول الله صَلَّى اللهُ عليه وسلم په وخت كى د هر وضع او رفع وايه، قَالَ المُصنف

وَكَوْنُ السُّجُودِ بَيْنَ كَفَّيْهِ

او سنت دي چې سجده بى په ما بين كښى د ورغوى وي يعنى محل د سجدې چې مخ دى په ما بين كښى د دوو ارغوو اېږدي» په مسلم شريف كښى حديث دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم: كَانَ إِذَا سَجَدَ وَضَعَ وَجْهَهُ بَيْنَ كفيه» لكن په بخاري شريف كى بيا داسى روايت راغلى دى: چې عليه السلام چې به سجده كوله ورغوى بى په برابر د اوږو ايښودله» او دا د شافعيٌ مذهب دى. او د كمال الدين بن الهمامٌ رايه جمع ده هغه ير جمع داسى كړيده: چې كاهى به عليه السلام داسى كوله او كاهى بى هغسى كوله. لكن په افضليت كښى اختلاف سته» په يوه نسخه كى د مراقى داسى راغلى دى» وان كان بين الكفين افضل» كه څه هم چې سجده بين الكفين وي افضل ده. او په بله نسخه كى داسى راغلى دى: وان كان بين الكفين افضل» د ر ويش وائي چې چونكه دواړه طرزه سجده د آنحضرت صلى الله عليه وسلم څخه ثابته ده بيا نو مراعات

د كتابونو فقهى حنيفى افضل دى. قَالَ المُصنف

وَتَسْبِيحُهُ ثَلَاثًا

او سنت دي تسبيح ويل يعنى سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلىٰ دري واره. او طحطاوى دا هم په سنتو كى د سجدې زيات كړي ده چې ګوتې د لاسو او د پښو بى وطرفته د قبلى وي. قَالَ المُصنف

وَمُجَافَاتُ الرَّجُلِ بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ وَمِرْفَقَيْهِ

او سنت دي ليرې كول د نر نس خپل د خپلو ورنونه، او ګوښه كوي دي څنګلى د

عَنْ جَنْبَيْهِ وَذِرَاعَيْهِ عَنِ الْأَرْضِ

د تخو او څنګله او پورته كوي به با نوكان د څنګلى څخه» لكن دا هَلته سنت دي چې از دحام د خلګو نه وي» ولى چې ازار رسول وبل چا ته حرام دي. او د ازار په پورته نيولو كښى د ذراعينو د ځنګلى څخه نه راځي. البته په هغو نورو دوو كښى متصور دي» په صحيح حديث كى راغلى دي چې آنحضرت صَلى اللهُ عليه وسلم چې به سجده كوله» دونه تجافى بى كوله كه چيرې د ميږى كښنى ورى چې» بَهْمَةٌ" يه بُولې تيريده غونبتاى په ما بين كښى د لاسود ده تيرسوى به واى. او په بل صحيح حديث كښى داسى راغلى دي چې رسول كريم صلى اللهُ عليه وسلم د سجدى په وخت كى دونه لاسونه د تغلو څخه ليرې نيوله چې د شا و سړي ته دده مبارك د تغلو سپين والى معلوميدى،»

فائده: د رسول الله صلى اللهُ عليه وسلم تغلو ويښتان نه در لوده كذا فى كتب الشمائل، وَلهذا قَالَ بَيَاضُ ابطَيْهِ، او اكثر اوقات به پر آنحضرت صلى اللهُ عليه وسلم قميص نه وو: قَالَ المصنف فى نور الايضاح»

وَانْخِفَاضُ الْمَرْأَةِ وَلَزْقُهَا بَطْنَهَا بِفَخِذَيْهَا

او سنت دي كښته والى د ښځى په حال كى د سجدى او جوتول د نس د دى په ورنونو پورې، په حديث مبارك

کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام یو وخت تیریدئ. پر دوو بنځو باندې یو چې هغو سجدې کولو په وخت کې نرما ننه سجده کوله. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وو ئیله، چې تاسې چې سجده کوئ بعض غړو نبې خپل چې نښ دی و بعض نورو غړو سره یعنې ورنونه ورجوتې کړي. ولې چې بنځه په سجده کې نرغوندې نه ده. ولې چې بنځه عورت مستوره ده:

پوهه سه: چې سجده پرخالي ځمکه افضله ده. او بیا پر هغه شي چې د ځمکې څخه شنه کیږي لکه بخوا ختګو به پر مسجد و کښي لوڅي، یا اذخر یعنی سرګړي او بوریا بې اواره وله ولې چې د لمانځه بناء پر خشوع ده او خشوع پر دغو شیانو باندې پر سجده کولو کښي ډیره ده. مګر د پاره د دفع د یخ یا ګرمي که بل شئ اوار کړي لکه سترنجي توشک کراسنه وغیره جائزه ده. لکن ننن صبا پر مساجدو کښي د بنار وخصوصًا د پاکستان په بنارو کې هغسې مفروشات فاخره نقش په نقوش دقیقه ووسره اوار وي چې که صحرائي لمونځ کوونکي راسي تو له فکر به په لمانځه کښي په هغو مفروشاتو کښې وي او د هغو نقشونه به حیران پاتې وي لکن د عموم بلوی د سبب څخه ځنې خرنسي ویلائې.

قال المصنف:

وَالْقَوْمَةُ اوسنت دی پورته کیده د سجدې څخه **پوه سه** چې مصنف په مراقی کې وائې یعنی اتمامها لان الرفع من السجود فرض الٰی قرب القعود، واتمامه سنة» معنیٰ داده چې تام والی د قومې سنت دی یعنی پوره او کامل پورته کیده. ولې چې نفس پورته کیده د سجدې څخه تر داسې اندازې پورې چې و ناستي ته نزدې وي فرض دی، نو اتمام یې سُنت دئ. د رولیش وائي: چې په دې حکم سره د ډیر و امیانو لمونځ فاسِد دئ. ولې چې دوی صرف سر د ځمکې څخه جلا کوي او بیا بیرته یې این دی د بلې سجدې د پاره. لکن امام طحطاوی وائي چې په مجمع الانهر ده مطلب څخه نقل دی چې صحیح مذهب د امام اعظم داد ی چې نفس انتقال دیوې سجدې څخه بلې ته فرض دی او پورته کیده سُنت دی. نو پر دې روایت د هغو عوامو چې ذکر سوله لمونځ

به د خطر څخه د فساد خلاص دی که څه هم مکروه دئ او د صاحب الهدایه هم دغه رایه ده

قال المصنف:

وَالْجِلْسَةُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ اوسنت ده ناسته په مابین کښې د دوو سجدو مقصود د دې ناستې څخه طمانینت د قومې دی. او مقدار د دې ناستې یو تسبیح قدر دی. او په دې ناسته کې کم ذکر مسنون نسته کما فی السراج، او په نیزد امام ابویوسف دا جلسه فرض ده، د رولیش وائي:

چې د امیانو هغه فعل چې ذکر سو د خطر خلاص نه دی. نو واما مانو ته د مساجدو او واعظانو ته پکار ده چې په ځای کې د قصو که رشتیاوې او که دروغ امیانو ته دغه د لمانځه احکام و ښیې. او دوی د لمانځه د فساد څخه په ورته افعالو وبیره وي.

مسئله: لکه چې په ناسته کې د دوو سجدو تر ما بین چې ذکر مسنون نسته دغه رنګه په وخت کې د رفع د رکوع څخه هم ذکر مسنون نسته. **پوښتنه**: په صحیح حدیثو کښې راغلي دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم به په وخت کې د رفع د رکوع او دغه رنګه په ما بین کښې د دوو سجدو کې ډیرې دعاګانې کولې. **جواب** هو... لکن هغه د تهجد په لمانځه کې، کذا فی مجمع الانهر» د رولیش وائي چې د عمومي نفلي لمونځو د پاره د دعاګانو په هم موقع کښې فراخه ده، کذافی غیر کتاب من کتب الفقه من الشروح والفتاوی، قال المصنف:

وَوَضْعُ الْيَدَيْنِ عَلَى الْفَخِذَيْنِ فِيمَا بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ

اوسنت دی ایښوول د دواړو لاسو پر ورنو باندې په ما بین کې د دوو سجدو لکه **كَحَالَةِ التَّشَهُّدِ** د التحیات په حال کې. ولې په احادیثو مبارکه وو کښې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم هم داغسې ښوول سوي دي د لمانځه حال. لکن په فتح القدیر کې وائي چې اطراف د ګوتو د ځنګنو سره وصل کړي. یعنی داسې دې نه کوي چې لا سونه دې په ورنو باندې پر ما بین د ځنګنو څخه لیرې وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

اوداسی دی هم نه کوی چې ګوتې پرې نګنووې واړوي. قَالَ المُصَنِّفُ

وَافْتِرَاشُ رِجْلِهِ الْيُسْرٰی وَنَصْبُ الْيُمْنٰی وَتَوَرُّكُ الْمَرْأَةِ

او سنت دی پرې ایستل د ښپې چپې. او درول د ښی ښپې. یعنی دا خو سنت د نر دپاره دی او د ښځې دپاره سُنت دا دی چې پرکنا ټو دی کښینې او ښپې دی وباسي ښې اړخ طرف او یو ورون دی پر بل ورون کښیږدي چې په دې کې پوره ستر د ښځې راځي **مسئله**: نر دی په ناسته کې د ښې ښپې د ګوتو سرونه دی وقبله ته کوي سواد خچرې ګوتې ولې دهغې سرو قبلې ته کول ډیر مشکل دی، قَالَ المُصَنِّفُ

وَالْاِشَارَةُ فِي الصَّحِيْحِ بِالْمُسَبِّحَةِ عِنْدَ الشَّهَادَةِ يَرْفَعُهَا

او سنت ده اشاره کول په صحیح روایت کې په مسبحه ګوته سره چې سبابه یې هم بولي وپه نیزد اَشْهَدُ اَنْ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ»

عِنْدَ النَّفْيِ وَيَضَعُهَا عِنْدَ الْاِثْبَاتِ

ګوته دی پورته کوي په وخت کې د نفي. او بیرته دی ایږدي په وخت کې د اثبات» دروليش وائي چې د اشارت په باب

د اشارت په باره کښې تحقیق

دا دی.

پوهسه: چې پر اشاره کښې مختلف اقوال دي. په بعض کتابو کې وائي چې اشاره مکروه ده. دا قول نهایت تجاسر او دلاوری ده چې فعل ته د آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ علیه وَسَلم مکروه وائي. نعوذ بالله مِنْ ذالكَ، او ډیر مشائخ زمونږ د مذهب ودې ته تللی دی چې اشاره دی په سبابه سره په وخت کې د کلمه شهادت ویلو نه کوي یه. ولوالوجیه او په تجنیس کې وائي وعلیه الفتوٰی. دا کسان که دفعل د اشارت رأسًا منکروی یعنی چې علیه السلام اشاره نه ده کړې خو دا بیخي غلطه خبره ده.

ولې چې په صحیح مسلم کې اشاره د علیه السّلام څخه ثابته ده هم قولًا او هم فعلًا. او یا به دوی وائي چې اشاره خو وه لکن بیا منسوخه سوه. لکن په هیڅ کتاب کې د حدیثو مبارکه وو نه صحیح او نه ضعیف د نسخ چا لیدلی دی. بلکه امام محمد ابن الحسن الشیباني چې شاګرد دی د امام اعظمؒ، حدیث د اشارې یې په مؤطا کښې چې ده امام محمدؒ کتاب دی په حدیث کې راوړی دی. او په اخیر کې وائي: وَبِه نَأخُذُ وَبِه قَالَ ابوحنیفةؒ. او مولوی عبدالحیؒ په حاشیه کې د موطا وائي وبه قال ابو یوسفؒ فی الامالی. او کمال الدین ابن الهمامؒ په فتح القدیر کې وائي چې اشاره سُنت ده. او ابن عابدین الشاميؒ صاحب ده رد محتار علیحده رساله په اثبات کې د اشارې لیکلې ده. او در مختار والا وائي چې اشاره کول سنت ده روایةً ودرایةً. پس قول په عدم د اشارې لکه مخالف د احادیثو نبوتیه څخه دی دغه رنګه مخالف د مذهب حنفي څخه دی ولې ائمه ثلاثهؒ د مذهب قوله د اشارې په کولو سره قائل دی. او په مجتبٰی کې وائي: اِتَّفَقَتِ الرِّوَایَاتُ عَنْ اَصحابِنا جمیعًا فی کونها ای الاشارة سنة وکذا عن الکوفیین والمدنیین او بحر رائق وائي چې اخبار او اثار په باب کې د اشارې ډیر دی فالعمل بها اولٰی.

پوهسه: چې میاں فقیر الله هم د اشارې په سنت والي او اثبات کې بنه لویه په زره پورې رساله تصنیف کړیده:

مسئله: بعض جاهل کسان په وخت کې د اشارې ګوته بنو روی دا مکروه کار دی کذا فی شروح المشکوٰة لملا علي قاريؒ **مسئله**: کې د راسته لاس سبابه ګوته پرې وه یا مریضه وه چې اشاره یې نه سوای په کولای په بله ګوته دی اشاره نه کوي نه د راسته لاس او نه د چپ لاس. کما فی النووی شرح المسلم ط»

او بعض ددې زماني نا پوه ملایان وائي چې اشاره په دې سبب ممنوع ده که سړی یوه ګوته پورته کول دوی څنډی پورته سوي نو دا خو شرك دی. **جواب**: په حدیث کې د ابي هریرة رض راغلی دی چې یوی سړي په دوو ګوتو اشاره کوله نو علیه

السلام ورته وفرمایل اَحَدْ، اَحَدْ، یعنی پر یوه گوته اشاره وکه. او د اشاری څخه ئې منع نه کړې. **مسئله**: اشاره د گوتې باید وطرفته د قبلې وی نو بعض کسان چې گوته دو نه پورته کوی چې سر د گوتې په د اسمان وخواته گرځې مکروه دی. ابن السکنؒ په خپل صحیح کتاب کې د ابن عمرؓ څخه روایت کړی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وویله: چې الاشارةُ بالاصبع اشد علی الشیطٰن من الحدید،

کیفیت د اشارې

څروخت چې مصلی په ناسته کې وَ اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ ته ورسیږی نو په وخت کې د وَیلو د لَا اِلٰـهَ دی د راسته لاس مسبحه گوته پورته کړی. د دې پورته کولو معنیٰ نفی د خدائې دی د غیر څخه د خدای جَلّ جَلالهٗ او څه وخت چې اثبات ته یعنی اِلَّا اللّٰہُ ته ورسیږی گوته دې بیرته کښیږدي. د دې مطلب اثبات د الوهیت دی و خدای جَلّ سُلطانهٗ ته. **پوهسه**: چې مصنفؒ په مراقی کښې وائې: وَ اَشرنا اِلیٰ انه لا یعقد شیئًا من اصابعه. یعنی پر وخت کې د اشاره کولو دی هیڅ گوته نه کنته کوی. لکن صحیح داده چې گوتې دی کَتَوِي. قال طحطاویؒ قد صرح فی النهر بترجیحه. یعنی په ترجیح د گوتو د کتولو وانهٗ قول کثیر من مشائخنا، وعلیه الفتوی کما فی عامة الفتاویٰ.

درویش وائې: که څه هم د گوتو د کتولو په باره کې هم اختلاف ستنه. لکن پر عمومی توگه دا کیفیت اولیٰ دی او بنه دی. کشنی گوته او ورپسې گوته دی دواړې کت کړي. او د میانځ گوته او بته گوته دی سره اَلغه وار وکړي. او په مسبحه دی اشاره وکړي. **مسئله**: د څخه تشهد ی یعنی اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰہُ دی گوتې نه کَتَوي او لیس له کتید و څخه او اشاره څخه گوتې هغسې کت وی تر سلام گرځیدو پورې.

او بعض عُلماء وائې: چې څرنگه چې اشاره وکړه دستی دی گوتې ایله کړي مخ و قبلې ته

پوهسه: چې د اشارې گوتې ده چې سبابه وائې. په دې سبب چې د سبکنځلو په وخت کې اکثره خلک په دغه گوته اشاره کوی. او بعض عُلماءو چې و دې گوتې ته سبابه ویل مکروه دی ابن امیر الحاج د هغه رد کړیده. ولې چې په صحیح مسلم او نورو کتابونو کښې په حدیث کې د ابن عمرؓ دی گوتې ته سبابه ویل سوی ده. او دې گوتې ته مسبحه په دې سبب ویل کیږی چې د تسبیح معنیٰ تنزیه او پاکول دی نو چونکه په دې گوته سره توحید ته د خدای اشاره کیږی. نو په دې گوته سره نفی د شریکانو د خدائې څخه کره کیږی نو آله د تسبیح ده. نو په مُحَلّه مجه پر صیغه د اسم فاعل د باب د تفعیل مجازًا بولي.

سنهانه فائده

پوهسه: چې اشاره په لاغرکی مذهب دی د امام اعظمؒ او امام شافعیؒ، او امام مالکؒ او امام احمد بن حنبلؒ او د ټول مذهب حنیفی لویو مخ کښو فقها وو د اشاره پر سنت والی سره تصریح کړیده لکه امام ابو یوسفؒ، امام محمدؒ، فقیه ابو جعفر الهندوانیؒ ابی نصر بن سلامؒ مُلا علی قاریؒ، امام خواهر زاده، امام کرخیؒ او حضرت مولانا عبد الحیؒ، او میان فقیر الله الجلال آبادیؒ وغیرهم، او د غو کتابونو په هم سُنت بولي، کتاب المشیخة، محیط، مُلتقط، مختار النوازل لصاحب الهدایه، مواهب الرحمان، سراج الهدایه، فتح القدیر، عرف شذی، شرح ترمذی، شرح وقایه، در مختار، رد المحتار، طحطاوی، حجة الله البالغة، نور الایضاح، مراقی الفلاح، نوازل، زخیرة العقبیٰ، غنیه خلیه، بحر رائق، مجتبیٰ، شرح مجمع البحرین، درر البحار، غرر الافکار، تحفه، بنایه شرح هدایه، شمنی، کفایه شرح هدایه، فتاویٰ عزیزی، وغیرهما من کتب المذهب، پر درویش وو دا بیان. او س نو هر سړی دی په زړه کې د انصاف فکر واخلي. که اشاره کوي او کې نه کوي:

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه وقد کتبه احقر فضل الحق حقانی غفرله

Maktaba Tul Ishaat.com

تنبیه

پوښتنه: په افغانانوکی خصوصًا دافغانستان په خلګوکی سبب دنه رواج داشاره څه دئ. **جواب**: چونکه اغلب خلګ دافغانستان د طریقت او تصوف سره ډیره علاقه لری اودوی دخپلو مرشدانو څخه اشاره نه ده لیدلی نو ځکه دوی یې هم نه کوي. اوبل سبب یې دادی چې ناموړی مرشد حقانی عالم ربانی دطریقه نقشبندیه په خپل یوکتاب کی خپل وقول ته ولوالوجیز او تجنیس وغیره ته ترجیح ورکړي یعنی چی اشاره دی نه کوي» وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

قَالَ المُصَنِّفُ **وَقِرَائَةُ الْفَاتِحَةِ فِيمَا بَعْدَ الأُولَيَيْنِ** اوسنت دی ویل دالحمد لله شریفې. په وروستنه کښی ددوو اولو رکعتو. که یو رکعت وی لکه دمابنام لمونځ اوکه دوه رکعته وی لکه څلور رکعته فرضي لمونځونه **پوښتنه**: چی صحیح روایت دامام اعظم او ظاهر الروایة هم دغه سنت والی دئ. اوپه بل روایت کی راغلی دي چی واجب دی ویل دالحمد لله» کمال الدینؒ ودې روایت ته ترجیح ورکړېده. لکن امام طحطاویؒ وائي چی داخلاف دمذهب دی کما فی سکب الانهر»

سؤال: چی دامام اعظمؒ څخه دوجوب روایت ثابت دی نوځرنګه دکمالؒ دقول چی خلاف المذهب دی صحیح دئ **جواب**: جسارت دطحطاویؒ یعنی چی مذهب دکمالؒ یې نقل کړي دی په حذف دمضاف دئ. ای خلاف ظاهر المذهب» اوپه بل روایت کی راغلی دی چی مصلی اختیار لري که فاتحه وائي. اوکه تسبیح وائي. اوکه ساکت درېږي.

فائده: مقصود دروایت څخه دتخییر دادی چی قرائت الفاتحه متعینه نه دی دامقصود نه دی چی په ثواب کښی فرق نه سره لري. ولې چی هرسړی په دې پوهیږی چی قرائة القرآن تر تسبیح افضل دئ. اوتسبیح ویل ترسکوت افضل دئ.

قَالَ المُصَنِّفُ **وَالصَّلٰوةُ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي الْجُلُوسِ الْاٰخِيرِ** اوسنت دی ویل ددرود پرنبی علیه السلام په اخیره ناسته کی.

پوښتنه: چی درود (۲) شپږ قسمه دی ۱ فرض دی هغه په ټوله عمر کی یو وار لِقوله تعالیٰ: اِنَّ اللّٰهَ وَمَلٰٓئِكَتَهٗ يُصَلُّوْنَ الآیة ۲ واجب دی هروخت چی نوم د علیه السلام ذکرشي. لکن امام فقیه ابوجعفر الطحاویؒ وائي چی درود ویل پرهرسامع واجب عین دی. لکن ظاهره داده چی واجب کفائي دی قاله الطحطاویؒ ۳ سنت دی په اخیره ناسته کی. ۴ مستحب دی په ټولو اوقاتوکی دامکان ۵ مکروه دی په لمانځه کی ماسوا داخیري ناستی اودعائي قنوت ۶ حرام دی په نیزد حرام عمل کولو لکه دشرابو خوړلو په وخت کی یا دچرسو څکولو په وخت کی وغیرذالك.

مسئله: که دکاندار یوتهٔ ددوکان راپورته کړي اومشتری ته دپاره د اظهار د ښه والي دهغه شی درود وائي حرام دی بلکه ټوله اذکار په دغه نیت حرام دي. ط» **پوښتنه**: که دیوچا څخه بعض رکعتونه تیرسوی وه نوپه اخیره ناسته کی به دی په سلسله التحیات څه شی وائي **جواب** درود دِ وائي بلکه اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا دی هم وائي» واختاره صاحب المبسوط وهو اختیار الفقیه ایضًا للاعتیاد بذالك فی غیر تلك الحال» اوابن شجاعؒ وائي چی کلمه شهادت دی مکرره وي دامام ترسلام پورې. ابوبکر رازيؒ وائي چی ساکت دی کښېني اوقاضیخانؒ اوبحر رائق والا اوخلاصه والا صحیح اومفتیٰ به دا بولی چی په التحیات کښی دی ځنډ وکړي یعنی په کرار کرار دې وائي.

د درود الفاظ په لمانځه کی

دامام محمدؒ څخه چا پوښتنه وکړه چی دلمانځه درود څرنګه ویل کیږی هغه داسی ورته وویل: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ

وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا صَلَّيْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ وَبَارِكْ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَعَلٰی اٰلِ مُحَمَّدٍ كَمَا بَارَكْتَ عَلٰی اِبْرَاهِيْمَ وَعَلٰی اٰلِ اِبْرَاهِيْمَ فِی الْعَالَمِيْنَ اِنَّكَ حَمِيْدٌ مَّجِيْدٌ ط. مراقی وائي چې لفظ د فِي الْعَالَمِيْنَ په صحیح مسلم کی سته. نو څوک چې دا لفظ ممنوع بولي ضعیف دئ.

مسئله: بعض خلک په لمانځه کی داسی وائي: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰی سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ آه بعض علماء وائي چې دا لفظ مندوب دی. ولې چې په دی لفظ کی اظهار د ادب د جناب نبوی دی. لکن حافظ ابن حجرؒ وائي چې متابعت د اثار واردة وو په دی باب کی ترجیح لري. یعنی لفظ د سیدنا دی نه وائي په لمانځه کی ولې چې په هیڅ اثر نه د صحابهؓ وو او نه د تابعینو دا لفظ راغلی دئ. نو که مندوب وای پر دوی به پټ پاته وو. هاں، پر یوه حدیث ضعیف کښی د ابن مسعودؓ په روایت سره راغلی دي. او په اصول الفقه کی وائي چې مراعات د ادب ښه دی او که مراعات د اثارو ښه دی نو دوی ترجیح وثانی ته ورکړی ده:

پوښتنه: په نحوه کی قانون دی چې مشبه به اولی وافضل دی تر مشبه. نو دلته د تشبیه څخه د درود فهمیږی چې درود د خلیل الله علیه السّلام افضل دئ تر درود د حبیب الله صلی الله علیه وسلم نو بیا به حضرت الخلیلؑ افضل وی تر حضرت الحبیبؐ **والجواب** من وجوه: اول دا چې د تشبیه دلالت پر افضلیت د مشبه به کول ممنوع دئ. ولې چې په علم بیان کی وائي. چې کاهی شئ په سبب د شهرت مشبه به وګرځول سی. وَلَا شَكَّ ان ابراهیمؑ كَانَ اشهر عند العرب.

دوهم چې دا درود چې مشتمل پر تشبیه دی هغه وخت آنحضرت صلی الله علیه وسلم ویلی ده تر څو پر تفضیل پر حضرت الخلیل علیه السّلام نه وو معلوم. لکن پس له معلوم والي هم درود د آنحضرتؐ پر پخواني حال پریښود: دریم تشبیه دلته په مطلق درود کی ده. نه په قدر کی د هغه. او ط نور جوابونه هم شته او ډیر دی چې د ضعف خالي نه دي. او حمید فعیل په معنیٰ د مفعول دی یعنی ستایل سوی

په ښو صفاتو. او مجید فعیل په معنیٰ د فاعل دی. یعنی ماجد چې معنیٰ یې ذوالمجد والشرف ده. **فائده**: د وجوب څخه د درود په وخت کی د سماع د نامه د علیه السلام وجوب اصطلاحی دی. ولې چې پر دی باب کی ډیر احادیث راغلی دي. که څه هم احاد دی لکن مفید د وجوب کیدای سي: كذا فی البحر، قال المصنفؒ

وَالدُّعَاءُ بِمَا يُشْبِهُ اَلْفَاظَ الْقُرْاٰنِ وَالسُّنَّةِ لَا كَلَامِ النَّاسِ

او سنت دی دعا کول یعنی وروسته تر درود ویلو لکن په داسی الفاظو چې مشابه به د الفاظو سره د قرآن کریم وي. او یا مشابه به د الفاظو سره د حدیث نبویؐ وي. نه په هغو الفاظو سره چې د کلام الناس د قسمه وي. الفاظ د قرآن مشابه لکه. رَبَّنَا لَا تُزِغْ قُلُوْبَنَا آه. رَبَّنَا اٰتِنَا فِی الدُّنْيَا حَسَنَةً آه او نور. او د الفاظو سره د حدیث مشابه هغه دعا ده چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وابو بکرؓ ته وښوول چې کله ده پوښتنه څنګه وکړه. چې ما ته وښیه داسی یوه دعا چې زه یې په لمانځه کی دعا یې کوم هغه دعا دا ده.

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ ظَلَمْتُ نَفْسِیْ ظُلْمًا كَثِيْرًا وَاِنَّهُ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ فَاغْفِرْ لِیْ مَغْفِرَةً مِّنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ اِنَّكَ اَنْتَ الْغَفُوْرُ الرَّحِيْمُ» او نوری دعا ګانی چې په حدیث مبارکه وو کی راغلی دي. **مسئله**: روا ده دعا د مغفرت و ټولو مؤمنانو ته د ټولو ګناهو څخه شفقتً علٰی اخوانه. او د اسی مغفرت خو ممکن دی که څه هم واقع نه دی ط» الآيات والاحاديث الواردة فی ادعیة المؤمنین، او په هغه شیانو چې عادةً محال وي د عا کول حرام ده. لکه چې ووائي: اَللّٰهُمَّ اَنْزِلْ عَلَيْنَا مَائِدَةً مګر نه و نبی ته، په حدیث مبارک کی راغلی دي چې آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ علیه وسلم وفرمایله: اِنَّ صَلَاتَنَا هٰذِهٖ لَا يَصْلُحُ فِيْهَا شَیْءٌ مِّنْ كَلَامِ النَّاسِ» ترجمه: په تحقیق زموږ د ضرلمونځ نه دي په کښی روا یو شئ د خبرو څخه د خلکو لکه چې یو سړی وائي په لمانځه کي: اَللّٰهُمَّ زَوِّجْنِیْ فُلَانَةً؟: او یقول اعطنی كذا من الذهب والفضة،

Maktaba Tul Ishaat.com

اواجْعَل فـلان رحيمًا بي. وامثال ذالك. ولې چې د داسې خواستونو قبليده د بندګانو د خوا هم کيداى سي. بخلاف اَللّٰهُمّ ارزقني رزقًا حلالًا واسعًا. يا. اَللّٰهُمّ احفظني من جميع الآفات والفتن»

مسـئـله: كه سړي په لمانځه كې هغسې خواست وكړي چې د مخلوق څخه طلب كيداى سواى. نوكه د مخه ترناستې په قدر د تشهد يې وكړي لمونځ يې فاسِد سُو. او كه بيـله ناستې څخه وكړي واجب چې وَتَل د لمانځه څخه په لفظ د سلام دى فوت سُو. ولې په هغه دعا سره دى د لمانځه څخه خارج سُو: مر»

مسـئـله: خارج تر لمانځه هره دعا رَوَاده كه مشابه د كلام الناس سره وي او كه قرآني يا حديثي دعاوي وي. **فـائـدَه**: په هدايه كې وايې چې طلب د رزق په لمانځه كښې دى نه كوي. ولې چې د رزق طلب د مخلوق څخه هم كيږي. لكن صاحب د غاية البيان وايې: چې رازق حقيقةً خو خداى پاك دى او اسناد د رزق و بندګانو ته مجازى دئ. **فـائـدَه**: كه سړي داسې وَوَيل اَللّٰهُمّ ارزقني فـلانة: په خلاصه كښې وايې لمونځ يې فاسِد دئ او كه داسې وَوَيله: اَللّٰهُمّ ارزقني الحج صحيح داده چې لمونځ يې نه فاسديږي. په مضمرات كې وائي كه سړي وَوَيله اللهم اقضِ دَيني لمونځ يې فاسِد دئ. لكن فيه نظر لانه قد وَرَدَ في السنة: اَللّٰهُمّ اقضِ عنَّا الدَّين وَاغنِنَا مِنَ الفَقر» اَللّٰهُمّ الا ان يقال ان الماثور كان خارج الصلوٰة. قـَالَ المُصنفُ:

وَالِالتِفَاتُ يَمِيْنًا ثُمَّ يَسَارًا بِالتَّسلِيمَتَينِ

او سنت دى مخ اړول و راستې طرفته او چپې طرفته د دوو سلامُو سـره.
په حديث صحيح كې راغلي دي چې عليه الصلوٰة والسلام به سلام وايه ښي راستې طرف او داسې بى وَيَل: اَلسَّلامُ عَلَيكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ: حتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الايمَن: يعني تر داسې اندازې بې مخ كړاوه چې ليدل كيدى به سپين والى د راستې باړخو دده. يعنى د ښا صف به ليدى. او پر چپې طرف بې وَيَل: السَّلامُ عَليكم وَرَحْمَةُ اللّٰهِ حَتّٰى يُرٰى

بَيَاضُ خَدِّهِ الأَيسَر: **مسـئـله**: كې تر دغو الفاظو كه بود وكړي مثلاً ووَيله السَّلامُ عليكم، يا. سَلامٌ عَلَيكُمْ، ګناه كاردى په سبب د ترك د سنت او لمونځ يې صحيح دى،» مر» **فـائـدَه**: په مراقي كې وائي چې لفظ د» وَبَرَكاتُهُ» دى نه زياتوي ولې چې هغه بدعت دى او په دې كې كم حديث ثابت نشته. او امام نووي يې هم بدعت بولې. لكن امام طحطاوي وائې چې دا خبره چې بركاتهٔ بدعت دى مردوده ده. ولې چې په سنن ابي داؤد كې د علقمه بن وائل او هغه د خپله پلاره څخه داسې روايت كړي دى چې زما پلار وَوَيله چې ما لمونځ وكړي سره د عليه السلامه. فكان يسلم عن يمينه السَّلامُ عليكم ورحمة الله وبركاتهٔ.
وَعَن يساره السلام عليكم وَرَحمة الله فقط. بلكه امام حلبي د كتاب مختلف الروايات څخه داسې نقل كړي دي چې په دواړو سلامو كې دى وَبَرَكاتُهٗ» وائې.

مسـئـله: كه سړي په هيره يا په قصده اول په چپه طرف سلام ووايه نو حكم يې دادى چې پر راسته طرف دى وګرځوي. او د چپه طرف دا دې بيرته نه راګرځوي. سوې د ګناه كاردى بَل څه پرې نشته هغه د عمد په صورت كې. **مسـئـله**، كې اول سلام مخامخ وګرځاوه بَل سلام دى وچپه طرفته وګرځوي.

مسـئـله: كه يې د چپه طرف سلام هير سُو او ولاړ سُو بيرته به كښيني او پر چپه طرف به سلام اړه وي. مراقي وائي چې تر هغو پورې چې د مسجده نه وي وَتلى او يا به خبرې نه وي كړي. لكن صحيح هغه ده لكه په در مختار كې چې وائي چې تر هغه وخته چې قبلې ته شا سوې نه وي. ط» قـَالَ المُصنفُ:

وَنِيَّةُ الإِمَامِ الرِّجَالَ وَالحَفَظَةِ وَصَالِحِ الجِنِّ

او سنت دى چې نيت به كوي امام د نرو او د حفظوو چې ملكې دى او د صالح د جنياتو

بِالتَّسلِيمَتَينِ فِي الأَصَحِّ

په دواړو سلامو وكې پر اصح روايت. او بعض فقهاءُ وائي چې صرف په اول سلام كې دې نيت

کوی او بعض وائي چې حرف اشاره کافي دہ۔ **پوہ سه**: چې مصنف په مراقي
کښې نیت دَ ښځو او د کوچنیا نو او نر ښځیا نو هم زیات کړی دی که په جماعت
کښې وه د عز کسا ن، او هغه خبره چې نهر وَالا کړیده چې دَ ښځو نیت دی نه کوی
ولې چې حضور ددوی وجماعت ته مکروه دئ. امام طحطاوي رح ذکر چې دکراهت
الحضور ذمه وار خوښځی دي. او د دوئ نیت په سلام کښې خو پر امام وي
نوجهت دکراهیت او سنتیت مختلف دي.

پوہ سه: چې حفظ جمع دحافظ ده او دا ملکي حافظ په دې بولې چې دَ انسان
قول او عمل نوشته کوي. نو کاتب الحسنات ته رقیب وائي چې هغه پر استر
اوبه وي، مره. او کاتب السیئات ته یه عتید وائي چې هغه پرچیه اوبه وي.
په یو حدیث کی دا سی هم راغلی دي: چې مسلمان چې مرېږي دغه دوی ملکي خدای
جل جلاله امر کړي چې دوئ د دې مړي د قبره سره اوسي. او حمد د خدای جل جلاله
او تسبیح او لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، او اَللّٰهُ اَکْبَرُ وایا سُت. او ددې ټولو ثواب وصاحب
القبر ته نوشته کیږي. تر هغه وخته چې دی بیرته راژوندی کیږي.

لاروایش وائي: چې دا خولویه دخوشحالی خبره ده. او دا ملکي دسړي څخه نه
جلا کیږي مګر په وخت کی د بولو او غولو. او بل په وخت کی د جماع و د ماینې سره
او کیفیت دَ نوشتی او هغه شئ چې دا نوشته کیږي خاص دی په علم پوري دخدائ
پر صحیح مذهب طه. **مسئله**: صحیح دا ده چې دکافر اعمال هم نوشته کیږي
صحیح دا ده چې هغه قول یا عمل چې په هغه کی ثواب یا عذاب وي. نوشته کیږي.
مباحات قولونه یا عملونه نه نوشته کیږي. او بعض علماء وائي چې ټوله نوشته
کیږي. لکن حدیث نبوی تاکید دَاول مذهب کوي. هغه دا چې په صحیح حدیث
کښې راغلی دي چې کاتب الحسنات امیر دی پر کاتب السیئات باندې. نو که
مسلمان ښه کار وکړي کاتب الحسنات به سمدستي یو په لسه ثواب نوشته
کوي. او که مسلمان ګناه وکړي نو کاتب الحسنات وکاتب السیئات ته وائي چې

تی اوس مه نوشته کوه۔ تر ۷ ساعته پوری یا تر ۶ ساعته پوري. ګوندی دی
په توبه وکاږی که کبیره ګناه وي. او یا به تسبیح ووائي خدائ به عفوه ورته
وکړي: او بعض علماء وائي: چې حفظه یه په دی بولې چې سړي دهلاك د
ځای څخه او د پیریا نو څخه ساتي.

مسئله: تعیین د عدد د حفظه ملکو دی سړی نه کوی. ولې چې په بعض روایا تو
کښې راغي چې حفظه پنځه دي. او بعض وائي چې شپیته ۶۰ ملکي دی. او بعض روایات
داسی هم سته چې یو سل او شپیته ۱۶۰ دي. په قرآن مبارك کی لفظ د کِرَامًا کَاتِبِیْنَ»
راغلی دی. وَلَهٗ مُعَقِّبٰتٌ هم راغلی دی. او رَقِیْبٌ او عَتِیْدٌ هم راغلی دي. دا ټوله
په باره کی دَ دغو ملکو دی چې د انسانا نو سره ور سره دي. نو ددې اختلاف دکبله نفس
پر وجود دَ ملکو د انسانا نو سره ایما ن لازم دی. لِثبوتهٖ بالقرآن والاحادیث
النبویه واجماع الامة: او د عدد علم یه وخدای جل جلاله ته موکول دئ. اما
نفس ملائکه په اسمانو او په ځمکو کی او پر جنتو او دوزخو مقرري ملکي او
پر نورو کار و دهغو خو هیڅ حساب نه په قرآن مبارك کی او نه په احادیثو کی
مبارکه وو کښې راغلی دی۔ وَمَا یَعْلَمُ جُنُوْدَ رَبِّكَ اِلَّا هُوَ. ایته کریمه دئ.
د ډیر والی دَ ملکو اندازه ددی حدیث څخه معلومیږي چې رب جل وعلا د بیدا کولو
سره د آسمانو سره په څلورم آسمان یو خونه پر برابر دکعبې شریفې جوړه کړیده
چې هغه معبد د ملائکه وو دَه. او په هر شبانه روز کی اویا زره ملکي ورځي
او هغه ملکې چې اول وار ور غلي وي هغوته بیا تر او سه نوبت نه دی ور رسیدلي.
او کما قال رسول الله صلی الله علیه وسلم» قَالَ المصنفُ.

وَنِيَّةُ الْمَامُوْمِ اِمَامَهٗ فِيْ جِهَتِهٖ وَاِنْ حَاذَاهُ نَوَاهُ

او سنت دی نیت کول د مقتدی په سلام کی د امام په جهت کی د امام یعنی
کی امام په راسته اړخ وو په اول سلام کی دی نیت وکړي او کی امام پر چپه اړخ کی

Maktaba Tul Ishaat.com

کښې وو، پہ دوهم سلام کښې نیت وکړي. قَالَ المُصنفُ

فِی التَّسلِیمَتَینِ مَعَ القَومِ وَ الحَفَظَةِ وَصَالِحِ الجِنّ

پہ دواړو سلامو کښې دی نیت وکړي پہ هر صورت کی سره دقوم او دحفظه وو او دپیریانو نو صالحو چہ پہ خوله هیڅ وینا نہ غواړي بلکه د زړه قصد کافی دی لکن کاشکی

درویش وائی دا د زړه نیت هم چا کولای بلکه زما پہ عقیده ډیر عوام به په دې سنت هم خبر نه وي. عوام خو کوی دخوامو چې دا سُنت هم وي معلوم وی پہ وخت کی دسلام بی ودې نیت ته فکر لا نہ وي. ولی چې دا و سنی لو ځکونکو د لو ځو ځنې حضور د زړه نه وی بلکہ دحضوره ځنې خالی وی. اِلَّا مَنْ شَآءَ اللّٰهُ»

نو بنہ به داوی چې مُلایان دمساجدو دا مسئله پہ مکرر ډول وخلکو ته بیان کی، تا چې امام دَ تعلیم او مقتدیا نو ته دَ فعل ثواب خدائ ورکړي: چې پہ کتابو کښې دفقہ شریفی وائ چہ ژوندی کول دیوه سنت نبوی چې خلگو پرې ایښی وی تر بناء دمدرسی د علومو دینیہ وو افضل دئ. فقَالَ المُصنفُ:

وَنِيَّةُ المُنفَرِدِ المَلَائِكَةَ فَقَط

او سنت دی نیت کول دیواځې لونځ کوونکی د ملکو فقط.

پوه سه: چې مصنفؒ لفظ دحفظ نه وَوایه بلکه ملکی یہ ذکر کړي چې تر حفظ عامی دی. ولی چې امکان لری چې پرده پسی نورو ملکو اقتداء کړې وی. کی خو هم دی نه وینی. کما مرفی باب الاذان فی الفلات» عاصی وائ چې بناء پرد غرا احتمال دا احتمال هم ستہ چې بعض صالح الجن دی هم پسی ده پسی اقتداء کړې وي. نو که منفرد پہ ځای کی د ملکو مَن اِقتدٰی بی نیت وکړي هغه به ټولو ته شامل وی کذا فی ط.

فقَالَ المنصفُ

وَخَفضُ الثَّانِیَةِ عَنِ الاُولٰی

او سنت دی کښته یعنی کرار ویل ددوهم ددوهم سلام تر اول سَلام. لکن پوه سه چې دا خفض الصوت صرف دامام دپاره

سنت دی. ولی خو امام دی چې جهر پہ اذکارو دا انتقالاتو کوی. نہ منفرد او نہ مقتدی. وقد ذکره هذا فی مَتن منیة المصلیٰ خصه الحلبیؒ ایضًا بالامام وذکره السید ایضًا. قَالَ المُصنفُ:

وَمُقَارِنَتُهُ لِسَلَامِ الاِمَامِ

او سنت دی یو ځای والی دَ سَلام دمقتدی دسلامہ سره دامام. لکن دا مذهب دی دامام اعظمؒ او پہ نیز د یارانو دی پس له سلامہ دامام مقتدی سَلام گرځوي۔

قَالَ المُصنفُ

وَانتِظَارُ المَسبُوقِ فِرَاغَ الاِمَامِ

او سنت دی چې انتظار به کوی هغه مقتدی چې اول دَ لمانځه دامام ځنی تیر سوی وي. دامام د دواړو خواوو سَلام ته۔ ولی چې پر مقتدی خو متابعت دامام لازم دی پہ سجدہ کښې هم نو چې امام دواړو خواوو ته سلام وگرځاوه مقتدی ته به معلومه سی چې پر امام سجده سهوه نسته. نو که مقتدی د مخه تر فراغ دامام وَلاړ سُو دا کار یہ مکروه دی تحریمی۔ ط»

پُوه سَه: چې امام طحطاویؒ یو خو بیخی نادری مسئلی راوړی دی چې په هغو کی مقتدی ته دامام تر اول سَلام وروسته دَستی وَلاړ مباح دَه۔ هغه دا چې مقتدی بیرېږی کرزه دَامام دمکمل فِراغ انتظار وکړم دسحار د لمانځه وخت به راسر تیر سی. او یا د جُمعی د لمانځه یا د اختر د لمانځه وخت به تیر سی۔ او یا مقتدی معذوره وي بیرېږی چې وخت به ووزی او زما اودس به مات سی.

قَالَ المُصنفُ

فَصلٌ وَمِن آدَابِهَا

دا فصل دی دَ آدابو څخه د لمانځه داو روسته راتلونکی افعال.» درویش وائی سه

ازخدا خواهیم توفیق ادب... بی ادب محروم ماند از فضل رب۔ **فَائِدَه:** مصنف پر آداب

باندی مِنْ د تبعیض داخل کړی اشاره ودې نه ده چې مصنفؒ تول اداب د لمانځه نه دی بیان کړي اشاره هم دا غرده. مثلاً په مسجد کی به د لمانځه د جماعت انتظار کوي. او پس له لمانځه د اذکار هم مستحب دي. استغفار درې واره. خصوصاً سید الاستغفار أَسْتَغْفِرُ اللّٰهَ الَّذِیْ لَا اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الْقَیُّوْمُ وَاَتُوْبُ اِلَیْهِ. اٰیة الکرسی یو وار، قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ یو وار. سُبْحَانَ اللّٰهِ ۳۳ واره. الْحَمْدُ لِلّٰهِ واره. اَللّٰهُ اَکْبَر ۳۳ واره. لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِیْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰی کُلِّ شَیْءٍ قَدِیْرٌ. یو وار» در مختار»

او بل ادب لاسونه دی پرته نګنو نه نسی په وخت کی دولاړیدو. که ورته تکلیف نه وو لکه سپین ږیری. یا مریض. او بل ادب په ما بین کی دا الْحَمْدُ لِلّٰهِ او سورة بِسْمِ اللّٰه ویل. او بل الْحَمْدُ لِلّٰه ویل دی په اخیرو رکعتو کی چې هغه تر تسبیح وغیره افضل ده» ط»

پوښتنه: چې مصنفؒ په مراقی کښی وایي. چې ادب هغه کار دی چې آنحضرت صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم یو وار. یا دوه واره. یا درې واره کړی وی. حاصل دا چې تینګ والی یه نه وی پر کړی. لکه تسبیحات د رکوع او سجدی ۵ واره. یا اوه واره یا بالا. او یا په لمانځه کی تر قرائت مسنونه بالا ویل. او مندوب او مستحب هم هغه ته وایي. په نیز د اصولیینو. او ادب په لغت کی ښو اخلاقو ته وایي. لکه حلم، تواضع، قلة الغضب، قلة الکلام، عدم اشتغال په ما لا یعنی سره او نور، او په عرف حادث کی ادب تول علوم عربیه وو ته وایي لکه نحو، صرف، معانی، بیان، بدیع. او نور. د ادب حکم دا دی چې په نه کولو کی ګناه نسته او نه ملامتیا سته. او نه سرزنش بلکه کول یه افضل دی او ثواب لري. او ادب د پاره د تکمیل د سُنت دی لکه سنت چې د پاره د اکمال د واجب دی او واجب د پاره د ښه والي د فرض و دی» لکن دا خبره د اکمالا تو تول بناء پر غالب ده. فلا یرد ما یتوهم من عدم الاطراد فی جمیع الاداب والسنن والواجبات». فافهم»

قَالَ الْمُصَنِّفُ **اِخْرَاجُ الرَّجُلِ کَفَّیْهِ مِنْ کُمَّیْهِ عِنْدَ التَّکْبِیْرِ**

او بل دا دا بو ښځه د لمانځه دی او ستل د نر خپل ورغوی د لوستونړو څخه په وخت کی د اَللّٰهُ اَکْبَرُ ویلو **پوښتنه**: چې مراد د تکبیر څخه اول تکبیر دی د شروع د لمانځه. ولې چې دا ایستل د کبر څخه لیری والی او تواضع ته نږدې والی دی مګر که ضرورت وو چې ډیر یخ وو.

مسئله: مصنفؒ په مراقی کی خو لکه ما چې و ویله د تکبیر افتتاح مراد کړی دی لکن په مجمع الانهر کی وائي چې په ټولو حالاتو کی د لمانځه باید نر ورغوي تر لوستونړو دباندې وي. **او درولش وائي** چې مناسب د تواضع سره هم دغه کار دی. او ښځه دی ورغوی نه رابا سی که څه هم عورت نه دی د دی سببه چې بنا ید باز و ګان یه چې عورت دی ښکاره نه سي. لکن دا د حرة ښځې د پاره. او مینځه په دی باره کی لکه نر ده» ط». قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَنَظَرُ الْمُصَلِّیْ اِلٰی مَوْضِعِ سُجُوْدِهٖ قَائِمًا او بل ادب د لمانځه دا دی چې لمونځ کوونکی به و ځای ته د سجدی ګوری په ولاړه کی. تا چې خشوع یه پر ځای سی. او یوه خو بل خوا ته نه ګوری چې شغل ته د لمانځه ته او ورسیږي. او که سړی په ناستی لمونځ کاوه هم به ځای ته د سجدی ګوری چې دا ناسته په حکم کی د ولاړي ده

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَاِلٰی ظَاهِرِ الْقَدَمِ رَاکِعًا وَاِلٰی اَرْنَبَةِ اَنْفِهٖ سَاجِدًا**

او بل ادب دا دی چې و ظاهر ته د پښو دی ګوري په رکوع کی. لکن په ناستی لمونځ کوونکی دا حکم نسته. او و نرمی ته د پزی دی ګوري په سجده کی» قَالَ الْمُصَنِّفُ.

وَاِلٰی حِجْرِهٖ جَالِسًا او خپل غیږ ته دی ګوري په ناسته کی یعنی هغه ځای ته چې د غیږ پر برابر ده. ـ

Maktaba Tul Ishaat.com

سوال: کہ سړی په کعبه شریفه کښې یعنی حرم شریف کښې لمونځ کاوه. نو کعبې ته کتل به دې وکړي خپل ځیګر ته. امام طحطاوی وائی. ولو کان مشاهدا للکعبة علی المذهب.

جواب: چې دوی مذکوره ادابو نه لوی مقصد دا دی چې د سړی لمونځ پر داحسان سره چنانچه په یوه اوږده حدیث کښې چې بخاری او مسلم په روایت کړي دي د آنحضرت صلی الله علیه وسلم نه چې پوښتنه وسوه چې ما الاحسان. علیه السلام د اس جواب ورکړی. الاحسان ان تعبد الله کانک تراه فان لم تکن تراه فانه یراک. ترجمه: د احسان دا دی چې ته به عبادت کوې د خدای جل شانه لکه ته چې خدای وینې او که ته نه وینې دی خو دې وینې. مطلب دا چې په لمانځه کښې توجه وخدای ته وي: قال المصنف

وَاِلَى الْمَنْكِبَيْنِ مُسَلِّمًا او بل ادب دا دی چې و اوږو ته به ګوري چې سلام اړوي **پوښتنه**: دا تولي کتنې چې ذکر سوې داخو په هغه ځای کښې دي چې په سترګو وینی نو ړوند به څه کوي!

جواب: ړوند په اندازه د سترګو. وفوق الذکر ځایو ته متوجه وي. قال

وَدَفْعُ السُّعَالِ مَا اسْتَطَاعَ او دفع د ټوخي دې کوي تر هغه ځایه چې وس یې وي. او که ټوخي مجبوره کړي وو لکه په بعض حالاتو کښې د زکام بیا د دفع نه کوي ولې په دفع کښې د ټوخي د لمانځه فاسد وي. **مسئله** که سړی امام وو او قرائت یې په جهر وو نو په ستوني کښې بلغم پیدا سوه چې قرائت یې نه سوای ویلای او یا یې جهر ته توان رساوه. نو دی ... بلغم دی دفع کړي.

مسئله بله ضرورت ټوخي لکه بعض چرسیان چې عادت لري او یا غاړه تاو ... لمونځ فاسد وي. کما فی المراقی. **مسئله**: دا ارږمۍ په لمانځه کښې حکم دا دی چې ... دی دفع به دی وکړي چې شونډان په غاښو ټینګ کړي او که په هغه دفع نه کیده بیا به غاښونه وه. بیا دی لاس یا لوستوڼی پر خوله ونسي. او که په غاښونو یې دفع کیدای سوای بیا لاس یا لوستوڼی پر خوله نیول مکروه دي. کذا نقل عن الامام الاعظم خلاصه، وهذا معنی قول المصنف

وَكَظْمُ فَمِهِ عِنْدَ التَّثَاؤُبِ او خوله دې ټولوي په وخت کښې د ارږمۍ وَالْقِيَامُ حِيْنَ قِيْلَ حَيَّ عَلَى الْفَلَاحِ او ولاړیږي دې یعنی امام او قوم ټول په نیږدې هغه کلمه چې حی علی الفلاح ده. داخو که امام په محراب کښې وو. او که امام په حجره کښې وو نو قوم دې ولاړ سي ترڅو چې امام راځي. د دې سببه دا دی چې اقامت کوونکی امر وکړی په ځانو سمولو سره نو امام او قوم باید قبلونه وکړي. او حسن بن الزیاد او امام زفر وائي چې پر حی علی الصلوة دې ولاړیږي. سکب الانهر والاحواله وه ابن الکمال ته کړیده او هغه حواله و ذخیرې ته کړیده: قال المصنف:

وَشُرُوْعُ الْاِمَامِ مُذْ قِيْلَ قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ او شروع دې کوي امام یعنی په لمانځه کښې د هغه وخت څخه چې اقامت کوونکی ووائي» قد قامت آه دا مذهب دی د امام اعظم او امام محمد او امام ابویوسف وائي چې ټول اقامت خلاص سي بیا دې شروع په لمانځه کوي. او که شروع د لمانځه تر تمامیدو د اقامت وځنډول پر اتفاق سره پروا نه لري ط. **مسئله**: که امام د مسجد د پای د خوا څخه راغلی پر هر صف چې راځي هغه به ولاړیږي. **مسئله**، او که د مخ د خوا راغلی څرنګه چې مقتدیانو دی ولیدی ټول به ولاړیږي. **مسئله**: که مؤذن په اقامت شروع کړې وه او یو سړی مسجد ته داخل سو کښینیدې به پر ولاړ به نه دریږي. ده اقامت تر پوره کیدو پورې چې دا کار مکروه دی مض قه، ط. **پوښتنه**: چې مذهب د ائمه ثلاثه ته زمونږ دا دی چې د اختتام سره د اقامت دې سمدستي امام تکبیر تحریمه وائي او شروع دې په لمانځه کوي. لکن دا اتصال مستحب دی، نه ټینګ سنت دی. او نه واجب

دی لکه بعض فقهاء چې وائي. په شرح کی دمجمع وائي وهوالاصح او ط وائي وهواعدل المذاهب وهوالحق» ن»

پوښتنه: که یوسړی دوه رکعته سنت وکړي پس له اقامت حکم یې څه دئ! **جواب**، ګناه ورباندی نشته» **پوښتنه**: که اقامت خلاص سو او امام ښه ګړی وروسته راغلی اقامت به راګرځوی که څنګه ! **جواب** نه دی راګرځوي. منح بزازیه په دلیل دَ هغه حدیث چې بخاری یه دَ انس رضی الله عنه څخه روایت کړی دی چې یو وخت د لمانځه اقامت خلاص سو او نبی علیه الصلوٰة والسلام ته یوسړی په مخکښې ودرېدی لیعنی دَ یو کار دَپاره نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم د لمانځه دَ شروع څخه بند کړی. یوګړی نو آنحضرت صلی الله علیه وسلم محراب ته راغلی ژو شروع یه لمانځه وکړه یعنی اقامت یه نه راوګرځاوه. قَالَ المُصَنِّفُ

فَصْلٌ فِیْ کَیْفِیَّةِ تَرْکِیْبِ اَفْعَالِ الصَّلٰوةِ

[illegible] په بیان د دَ وَل دیوځای کولو دافعالو د لمانځه، **پُوهسَه**: چې په خودی نسخه کی» د نور الایضاح لفظ دافعال نشته، لکن په هغه نسخه د نورالایضاح کی چې په مَراقی الفلاح کښې موجوده ده په هغی کښې لفظ دافعال ستته» نو ځکه وائي چې مراد دافعالو څخه عامه معنیٰ ده چې اقوالو ته هم شامله سی. لهذا اصلی نسخه د نور الایضاح ډیره زیباده چې توجیه ته د ط ضرورت نه لري. **پُوهسَه**: چې داکیفیت دترکیب چې مصنف بیان کړی دی دسره ترپایه پوري دی. دروېش وائي چې دا ډېر په زړه پوري فصل دی ګویا د قوله ما قبل اجمال دی» او د متفرقو افعالو او اقوالو په یوه ځای ښووَل دي. قَالَ المُصَنِّفُ

اِذَا اَرَادَ الرَّجُلُ الدُّخُوْلَ فِی الصَّلٰوةِ اَخْرَجَ کَفَّیْهِ عَنْ کُمَّیْهِ او څه وخت چې اراده وکړي نر د داخلیدو

یعنی شروع کولو دَ لمانځه هر لمونځ چې وی که فرضی وی او که واجب یا سنت یا نفل وی، راو دی باسی څپړي دلوستونړو څخه د مخه تیره سوه چې ښځه بې نه راباسی او دغه رنګه په وخت کی د ضرورت چې نی راوباسی پرواه نه لري. قَالَ المُصَنِّفُ

ثُمَّ رَفَعَهُمَا اِلٰی حِذَاءِ اُذُنَیْهِ او بیا دی پورته کړي تر برابر پورې د غوږو، **پوهسَه**: چې په عمومی کتابو کښې د فقهی داسی وَائی چې بتی ګوتی په برابری سی د نرمیُو سره دَغوږو، او مصنف په مَراقی کی د متن چې مجمل وو موافق د عمومی کتابو سره تفسیر کړی. **تنبیه**: پوهسه چې باطن د اورغوو بې قبلې و خواته وی او ګوتی به جګی . نسی» او پرخپل حال دی پرېږدی. نه دی ډیری جوَتوی او نه بې ډیری خلاصه وی. او که سړي عذر درلودی لاسونه یه دومره نه سوای پورته کولای نو تر هغه ځایه چې طاقت وی پورته دی کړي. لکن سر راکښته کول مکروه دي. او د منیځی هم دغه حال دی. لکن حره ښځه بې تر برابره د اوږو پورته کوي.

فَائدَه: په هیڅ کتاب کی د فقهی شریفی داسی نه دی راغلی چې بتی ګوتی به د نرمی سره دَغوږو مسه کوي. مګر په قاضیخان او فتاوای ظهیریه کی په نقل د قهستانی د مسه کولو لفظ رَاغلی دی. او نقایه وَالا د هغه دلیل دَا وائي چې محاذات و ښه تحقیق ته وَرسیږی. لکن دا دلیل دومره تُو نه دی وَلی چې د محاذات په تحقیق بیله مسه کولو هر سړي پوهیږی. او مسه کول په هیڅ حدیث کی هم نه دی راغلی، لهذا د عمومی فقهی دکتابو عبارت ډیر زیبا دئ.

حِکْمَتْ دَرَفْعُ الْیَدَیْن څوک وائی اشاره ده و توحید الهی ته. او څوک وائي چې اشاره ده ودې ته چې ما امور د دنیا ترشا وَغورځول او یک لخته و لمانځه ته متوجه سوم، لکن فی دَلالة رفع الیدین علی الاشارتین خفاءٌ، او څوک وائی د دی دپاره

Maktaba Tul Ishaat.com

چې ټول اعضاء یې وقبلې ته مخامخ سي. او بدر الدین العینی الحنفیؒ په شرح کښې د بخاري د عبد الله بن عمرؓ څخه داسې روایت کړی دی چې پورته کول د لاسو نښانئست د لمانځه دئ. او دهرې ګوتې په پورته کېدو سره لښتېکي ور کول کېږي.

قَالَ **ثُمَّ كَبَّرَ بِلَا مَدٍّ** وروسته دې الله اکبر ووائي بېله مده

فائده: د عبارت څخه د مصنفؒ داسې واضح معلومېږي چې لاس پورته کول بې د مخه تر اَللّٰهُ اَکبر وي. ولې ده وويل ثُمَّ كَبَّرَ، او مختاره د صاحب الهدایه هم دا طریقه ده، او په قدوري کې وائي: يَرْفَعُ يَدَيْهِ مَعَ التَّكْبِيرِ، لاسونه دې د تکبیر سره یوځای پورته کوي. وهو المروي عن ابي يوسف والطحاوي، لکن اکثر مشائخ اوله رایه اصح بولي: ولې چې حکمت د رفع الیدین او الله اکبر ویلو دا دی چې په پورته کولو کې د لاسو اشاره ده و نفی ته د کبریا د ماسوا څخه د خدائ او په اَللّٰهُ اکبر اثبات د کبریا دی وخدائ ته او نفی خو تر اثبات د مخه وي لکه: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، او بعض فقهاؤ وائي چې تکبیر دې تر رفع الیدین د مخه وائي. لکن ملایان باید په دې درو کیفیتو ډېر جنجال و نه کړي. ولې چې بحر رائق وائي چې دغه دري سره کیفیتونه د علیه السلام څخه مروي دي.

البته اول چې کوم کیفیت دی هغه دی مصنفؒ بیان کړی دی. او تر هغه وروسته کیفیت د قدوري دی. او اخیر کیفیت تر ټولو مرجوع دی،،

د مد بیان **پوهسه**: چې مد په اول کې د اَللّٰهُ یعنې په اول همزه کې مانع دی د شروع په لمانځه کې او کې د لمانځه په مابین کښې ووائي لمونځ یې فاسدېږي. ولې چې په دې صورت کې د استفهام نقشه راځي او کې په قصد خوك ووائي کافر کېږي. په سبب د دې چې په کبریا کې د خدائ په شک راوستئ. او کې په مابین الف کې مد وکي نو که دوه حرکته قدر وو دلخو دالف مد طبعي دی پروا نه لري بلکه صواب هم دی. او که تر دوه حرکته بالا وو.

دا کتې والی نو مکروه دی لکن لمونځ نه په فاسدېږي. قاله ابن امیر الحاج او په سراج کې وائي چې خلاف الاولیٰ دی. فالحاصل ان الکراهة تنزيهية،

او کې اشباع او مد په حرکت کې د هاء د الله وکړي، نو دا خطاء من حیث اللغة ده او لمونځ نه په فاسدېږي. او یا لفظ د ها ساکن ووائي د لغت د لاري خو خطاء ده اما لمونځ نه فاسدېږي. او کې مد د اکبر په اول کښې وکړي شروع په لمانځه نه صحیح کېږي. او کې په مابین کې د لمانځه دغه مد وکړي لمونځ یې فاسد سُو. او کړئ مد د باء په زور کې وکړي یعنې اَکبار لبعض فقهاء وائي چې لمونځ یې فاسد سُو. ولې چې اکبار جمع د کبر ده چې هغه طبلې ته وائي. او د اولا د څخه د شیطان دیوه نوم دی، ط، او په قنیه کې وائي لمونځ نه په فاسدېږي ولې دا اشباع د حرکت ده. او لبعض اقوام د عربي ژبو د وي اشباع عادت ده. لکن زیلعیؒ وائي چې اشباع د حرکاتو صرف په اشعارو کې روا ده یعنې د سببه څخه د برابرولو د بیت په بحر باندې کما تقرر فی علم العروض وقت التقطيع للابيات،

مسئله: که مؤذن اکبار ووائي حتم یې خر دئ! **جواب**: اګر څول د اذان خونه غواړي ولې چې په اذان کې فراخي ده، قاله فی السراج، او کې په قصد ووائي او معنیٰ یې هم مراد وي چې ورانډې تېره سوه کافر کېږي. او کې معنیٰ نه وه قصد کافر کېږي خو نه و یستغفر و یتوب دالله څخه دې عفوه وغواړي او توبه دې وکاږي. مض ط، **مسئله**: کې مد وکړي په لخیر کې د اکبر د حرکت. فقیل تفسد صلوته لمونځ یې فاسد سو یعنې کړد لمانځه په مابین کې وو. او بل دی مذهب که د لمانځه په اول کې دا مد وکړي شروع په لمانځه یې نه ده صحیح، او عنایه والا وائي چې لمونځ دې سړي نه په فاسدېږي او شروع یې صحیح ده.

فَائِدَةٌ ضَرُورِيَّةٌ که یو لمونځ کوونکی او یا قسم اخستونکی او یا د حیوان ذبح کوونکی هغه مد چې ده مابین پر لام د ی د اَللّٰهُ پریښنو یعنې اَللّٰهُ اکبر

يه ووايه او يا دغو درو كسانو لفظ د هاء د الله حذف كړي يعنى اللّٰو اكبر يه
ووايه، امام طحطاوىؒ وائى چې په صحت دَشروع د لمانځه اوَد قسم په انعقاد کې
او دغړنګه د مذبوحې په حلال والې کې اختلاف سته، نو نه دي پرېښي دي د
جهته د احتياط، اوقاضى بيضاوىؒ په خپل تفسير کې پر خلاف ده هغه دي
يعنى نه ئې شروع په لمانځه صحيح کيږي. او نه ئې قسم غوټه کيږي، او نه
ذبيحه حلال ده، لکن د رو ليش والې دَ جهته ځنه د عموم ابتلاء حکم قطعي دي
مفتي نه کوي قاله السيدؒ ط، قَالَ الْمُصنفؒ

نَاوِيًا اِفْتِتَاحَ الصَّلٰوةِ

يعنى په تکبير ويلو سره بې نيت دَشروع د لمانځه وي، دا شرط د صحت د تکبير دئ
پوه سه: چې لمونځ کوونکی شارع ګرځي په لمانځه کې په نيت سره د الله اکبر
او نه يوازې په تکبير شارع ګرځي او نه يوازې په نيت سره بلکه په دواړو سره شارع
ګرځي. او روا دي تقديم د نيت پر تکبير په دې شرط چې فصل دې په اجنبي فعل
سره نه وي کوي. **مسئله**: پر ګونګی باندې بنوروَل د ژبې لازم نه دي نه
د الله اکبر په وخت کې او نه د قرائت په وخت کې وهو الصحيح. ولې چې داصل
واجب ځنه خودي عاجزه دي نو بل شي پر لازمول چې تحريك اللسان دي دليل
غواړي، در ط، قَالَ المصنفؒ:

وَيَصِحُّ الشُّرُوْعُ بِكُلِّ ذِكْرٍ خَالِصٍ لِلّٰهِ تَعَالٰى

او صحيح دَه شروع دَلمانځه
په هر ذکر سره چې خالِص حق د خداى پاك وي. يعنى د مقصد ځنه د بنده خالي وي
نو په اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ سره شروع نه ده رَوَا، لانه لِطَلَبِ المغفرة، او نه په وَلَاحَوْلَ
وَلَا قوة اِلا بِاللّٰهِ سره. ولې دا کلمه دَپاره د طلب د حول او قوت دي د خداىؒ ځنه،
او نه په لبِسْمِ الله سره ولې چې بِسْمِ الله خو دپاره د تبرك يعنى طلب دَبرکت
او يا دپاره د طلب د کومك ده د خداىؒ ځنه»

مسئله: شروع دَلمانځه په غير د الله اکبر وقادر سړي ته مکروه تحريمي دى
م، ط، **فائده**: دپاره د شروع په ماسوا د اَللّٰهُ اکبر دا شرط دي چې
هغه ماسوا يه هم تام جمله وي لکه اَللّٰهُ اَكْبَرُ، قَالَ المراقى وهو ظاهر الروايه
وهو المختار، در، وهو الاشبه» ابن امير حاجؒ.
مثال د ذکر خالص چې جمله تامه هم وي، لَااِلٰهَ اِلا اللّٰهُ، اَلْحَمْدُ لِلّٰه، سُبْحَانَ اللّٰهِ،
سره د فعل محذوف سُبْحَانَ اللّٰه هم جمله تامه ده. او په روايت کې د حسنؒ د ابي حنيفهؒ
ځنه په مفرد نامه سره د خداىؒ هم شروع صحيح ده خلافاً لمحمدؒ، در، قَالَ المُصنفؒ

وَبِالْفَارِسِيَّةِ

او صحيح ده شروع په فارسي ژبه، بلکه په ټولو ژبو سره
نو تخصيص د فارسي چې مصنفؒ کړي دي دپاره د احتراز د نورو ژبو ځنه نه دي بلکه
د دې سببه دي چې اقرب د ژبو وعربي ته په فصاحت او بلاغت کې فارسي ژبه
ده، او چا چې سبب د تخصيص دا ګڼلې دي چې حديث شريف راغلى دي، لسان اهل
الجنة العربية والفارسية الدريه، غلط دي ولې چې ملا علي قاريؒ دا حديث موضوعي
ګڼلې دي. نو ابو سعيد البرادعي په دې دليل وَيلو کښې سهوه دي. قَالَ المصنفؒ

اِنْ عَجَزَعَنِ الْعَرَبِيَّةِ وَاِنْ قَدَرَ لَايَصِحُّ شُرُوْعُهٗ

او هغه چا ته شروع په فارسي رَوَا ده چې دي عاجز وي د عربي تکبير وَيلو ځنه، او که سړى
قادر وي پر عربي عبارت

بِالْفَارِسِيَّةِ وَلَاقِرَائَتُهٗ بِهَا فِى الْاَصَحِّ

نو بيا شروع په فارسي
ژبه نه ده صحيح. او نې قرائت د قرآن په لمانځه کې په فارسي ژبه رَوَادي په اصح
مذهب کې چې مذهب د يارانوؒ دي. چې امام اعظمؒ هم وهغه ته رجوع کړې ده، کما في
کتب الفتاوى، والشروح في الفقه» د رو ليش وائي چې شروع په لمانځه په غير عربي
ژبه د امام اعظمؒ په نيز صحيح ده وقادر ته پر عربي ژبه لکن سره د کراهت تحريمي کامل»

Maktaba Tul Ishaat.com

اوبعض کتابونه وائی چی په مسئله کی دشروع په غیرعربی یارانو وقول ته دامام اعظمؒ رجوع کړی ده، ولی چی شروع دلمانځه په ذکرخالص پوری اړه لری اوذکرخالص په هره ژبه کیدای شی.

اوقرائت خو په قران مبارک پوری اړه لری اوقران مبارک خونوم دی دنظم اومعنی دواړو په اتفاق دامولیونو. نو په فارسی ژبه کښی مثلاً که څه هم معنا دقران مبارک اداء کیږی خو نظم یې پاتیږی. نو ددی کبله امام اعظمؒ چی اول یې قرائت په فارسی ژبه رواباله وقول ته دصاحبینو یعنی ابویوسفؒ او محمدؒ رجوع وکړه: درویش وائی چی پس له ثبوت درجوع دامام اعظمؒ وقول ته دیارانو هغه توجیهات توته چی صاحب دنورالانوار اوبعض نوروکتابونو دپاره دتوجیه دقرائت په فارسی په نیز دامام اعظمؒ ذکرکړی دی هیڅ ضرورت نسته، بلکه صحیح هم نه دی. ولی داتوجیهات خو پرامام اعظمؒ دالازموی چی دی قرائت په فارسی ژبه وقادرته پرعربی ژبه روا بولی. ولیس کذالک کمامرّ،

سبحانه خبره پوه سه چی تلبیه په حج کی اوسلام گرځول دلمانځه څخه او قسمونه، اوپر ذبیحه باندی ذکرو قادرته پرعربی په نورو ژبو روادی په اتفاق سره. قال المصنفؒ

ثُمَّ وَضَعَ يَمِيْنَهٗ عَلٰى يَسَارِهٖ تَحْتَ سُرَّتِهٖ عَقِيْبَ التَّحْرِيْمَةِ

بِلَامُهْلَةٍ بیادی نوکښیږدی راسته لاس پرخپل چپه لاس باندی لاندی ترنامه وروسته تر اَللّٰهُ اَکْبَر بیله ځنډه.

اختلاف الائمة: دحضرت الامام الاعظمؒ اودحضرت الامام ابویوسفؒ په نیز لاس ایښودل یوپربل سنت دولاړی دی بلکه دوی دوهٔ وائی چی ایښودل دلاسویو پربل سنت دی په هره هغی ولاړی کی چی په هغی کښی ذکرمسنون وی. لکه په حال کی دسُبْحَانَ اللّٰه آه اوپه

حال کی ددعاء قنوت اودجنازې په لمانځه کی. اوچونکه په مابین کی دتکبیرو داخترو ذکرمسنون نسته نوځکه دِ لاسونه ایله پریږدی. اوپه نیز دامام محمدؒ ایښودل دلاسو سنت دی دقرائت، نوپه حال کی دسُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ دی لاسونه کښته ایله نسی، چی الحمد لله شروع سره بیادی لاسونه یوپربل باندی کښیږدی: والفتوی علی الاول"

فـائـده: مصنفؒ کیفیت دایښودلو دلاسو یوپربل نه کړی ذکرلره دی کبله چی په ظاهرالروایة کښی نه دی راغلی، لکن دفقهی شریفی په کتابوکښی په بعضوکی لفظ د "وضع" راغلی دی لکه په عبارت کی د مصنفؒ اونوروکتابوهم چی دوضع معنا نفس ایښودل ده. اوپه بعض کتابوکی لفظ د اخذ راغلی دی چی دهغه معنا نیول ده" بحرالرائق وائی چی مختار داده چی راسته ورغوی دی دچپه لاس پرشاه داسی کښیږدی چی بټه گوته اوکشنی گوته دی دچپه لاس اَلغه کړی اودری نوری گوتی دی دراسته لاس پرچپه باندی کښیږدی. بحرائق دادلیل وائی چی نیول دلاس وضع لره مستلزم دی یعنی چی چپه لاس په راسته لاس ونیسی نوراسته لاس پرچپه هم شو: اوایښودل نیولولره نه دی مستلزم نوپه مختار کیفیت کی عمل په وضع او اخذ دواړو سره راځی، فافهم، قال المصنفؒ

مُسْتَفْتِحًا وَهُوَ اَنْ يَّقُوْلَ سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ

پرداسی حال کی چی شروع کوی داسی دی وائی: پاکی ده تالره دهرعیب اونقصانه څخه یاالله اوسره دحمده ستا یعنی پرصفات کمالیه وو ستا،

وَتَبَارَكَ اسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ اومبارك دی ستانوم یعنی تول اسماء الحسنی ستا، او لویه ده ستاغنی چی دهرمخلوق څخه بی پروائی. اویالوړدی ستا قدرت چی پرهرشئی ممکن قادرئی: **وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ** اونسته په حقه سره معبود بیله تا

مسئله: که یو سړی داسی هم ووائی ... وَجَلَّ ثَنَاؤُكَ ، خوك دی نه منع کوی. او کی خوك نه ووائی خوك دی په ویلو نه امر کوی. ط، **پوهه سه**: چی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ترکیب نحوی په لویو کتابونو کی مذکور دی چی په دی سبب چی د مبتدیانو دفهم سره لائق نه وو نو ما پرېښو، او لعض فقهاء وائی چی واو د، وَبِحَمْدِكَ ، دپاره د عطف دی او متعلق د باء محذوف دی، ای اَبْتَدِءُ بِحَمْدِكَ ، او دا جمله عطف ده په هغه عامل محذوف ده سُبْحَانَكَ ای اُسَبِّحُكَ سُبْحَانَكَ ، او د حضرت الامام الاعظمؒ نه روایت دی که خوك واو نه ووائی یعنی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ بِحَمْدِكَ ، هم روا دی لکن په دی تقدیر باء د وَبِحَمْدِكَ دپاره د ملابست ده ای اُسَبِّحُكَ مُتَلَبِّسًا بِحَمْدِكَ ، لکن ویل د واو اولیٰ دی. لان فیه زیادة المعنیٰ کما لایخفیٰ ، مراقی الفلاح د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ معنا په عربی ښائسته الفاظو داسی بیان کړی ده: چی محذوفو الفاظو ته یی هم اشاره کړیده:

نَزَّهْتُكَ عَنْ صِفَاتِ النَّقْصِ بِالتَّسْبِيحِ. وَاَثْبَتُّ لَكَ صِفَاتِ الْكَمَالِ بِالتَّحْمِيدِ وَتَبَارَكَ ای دَامَ وَثَبَتَ وَتَنَزَّهَ اِسْمُكَ وَتَعَالٰى جَدُّكَ ای اِرْتَفَعَ سُلْطَانُكَ وَعَظَمَتُكَ وَغِنَاكَ بِمَكَانَتِكَ وَلَا اِلٰهَ غَيْرُكَ فِي الْوُجُوْدِ مَعْبُوْدٌ بِحَقٍّ ، او د دی ښائسته الفاظو معنا په شرح کی د طحطاویؒ وګوره. قال المصنفؒ:

وَيَسْتَفْتِحُ كُلُّ مُصَلٍّ او سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به هر لمونځ کوونکی وائی که فرضی لمونځ کوی، او که نفلی، او که امام وی او که مقتدی وی که منفرد، که جهری لمونځ وی او که سری لمونځ وی. لکن تر هغو پوری چی امام په قرائت شروع نه وی کړی. او که امام قرائت شروع کړی وو بیا دی مقتدی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ نه وائی.

پوښتنه: په جهری لمانځه کی خو امام شروع په قرائت معلومیږی په سری لمانځه کی خو مقتدی ته شروع د امام په قرائت نه معلومیږی. **جواب**: په سری لمانځه کی اعتبار ظن غالب ته د مقتدی دی په قرائت نو سره:

مسئله: که سړی امام ته په رکوع کی ورسیدی نو که د سړی دا خیال وو چی زه سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په ولاړی وویلم د امام سره لږ رکوع هم نیولای شم نو سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په تلوار تلوار دې ووائی. او بیا دی د امام سره په رکوع کی ځان شریك کړی. او که خیال داوو چی د امام رکوع را نه تیریږی. بیا دی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ نه وائی. کذا فی النهر او لعض علماء وائی چی په سری لمانځه کی دی مقتدی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وائی والاول هو المعتمد

قال المصنفؒ **ثُمَّ يَتَعَوَّذُ سِرًّا لِلْقِرَاءَةِ** بیا دی اَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ووائی د پاره د شروع په قرائت کښی

ترجمه د اعوذ بالله: زه پناه او وساتنه غواړم په خدائ سره د هغه شیطان نه چی رانده او شړلی د خدائ د دربار نه شوی دی. ولی شیطان دا غواړی چی په دی ښائسته عبادت کی چی لمونځ دی ستا زړه د حضور نه د خدائ بلی خواته مصروف کړی. او ستا د هغه لمونځ د احسان د لاری نه راوویستی. کما ورد فی الحدیث الطویل الذی رواه البخاری و مسلم حین سئال رسول الله صلی الله علیه وسلم: عن الاحسان فقال اَنْ تَعْبُدَ اللّٰهَ كَاَنَّكَ تَرَاهُ فَاِنْ لَّمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَاِنَّهُ يَرَاكَ کما مر مع الترجمة: نو شیطان که څه هم ته نه وینی لکن خدائ پاك خو یی وینی. او دده په دغه فساد هم خبر دی نو ته هغه ذات پاك ته پناه ور وړه چی دهغه لعین د وسوسو نه دی وساتی.

مسئله: اَعُوْذُ بِاللّٰهِ به تر قرائت د مخه وائی. او لعض اصحاب الظواهر او امام نخعی او ابن سیرینؒ وائی چی اَعُوْذُ بِاللّٰهِ به تر قرائت وروسته وائی. دوی دا دلیل وائی چی خدای پاك داسی ویلی دی، وَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْاٰنَ فَاسْتَعِذْ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ، او کلمه د فا خو دپاره د تعقیب او وروسته والی ده په اتفاق د اهل اللغة والنحو لکن دا دلیل د دوی فاسد دی. ولی چی د دی ایت معنا ټولو مفسرینؒ داسی کړیده، اِذَا اَرَدْتَ قِرَاءَةَ الْقُرْاٰنِ فَاسْتَعِذْ آه او دلیل د دی مجاز دا دی چی ټولو صحابه رض وو اَعُوْذُ بِاللّٰهِ تر قرائت د مخه ویله او قولا چی بر چا پوښتنه څندی وکړه. جواب به یه په تقدیم د اعوذ بالله ورکاوه. او اول جواب دا دی چی کلمه د فاء په دی ایت مبارك کی دپاره د تعقیب نه ده بلکه

Maktaba Tul Ishaat.com

ږاره د حال ده لکه چې نحاة د فا په معنیٰ کې د حالیت معنا هم راوړې ده.. کَمَا يُقَالُ اِذَا تَوَضَّأْتَ فَقُلْ بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ نو معنا د ایت مبارکه داسې ده، "چې ترقرائت دقران پاک کوه په داسې حال کې وکړه چې تا دې پناه په خدایؒ حاصله کړې وي؎" یعنې اَعُوْذُ بِاللهِ دې وئیلی وي. نو بیرته اعوذ بالله ترقرائت دمخه سوه، قَالَ الْمُصَنِّفُ

فَيَأْتِيْ بِهِ الْمَسْبُوْقُ پس راتګ دی کوی یعنې وَائي به اَعُوذُ بِاللهِ هغه سړی چې اول د لمانځه د امام څنډې تیرسوی وي، یعنې هغه وخت چې دی قضاء راوړي د تیر لمانځه لپاره سُبْحَانَ آه وجه د تفریع داده چې چونکه مسبوق اول سُبْحَانَكَ آه او اَعُوذُ بِاللهِ نه وویله په سبب ددې چې ده لره هغه وقت قراءت نه وو په قضا ئې رکعتو کې ده ته قرائت پیدا سو نو ځکه اَعُوذُ بِاللهِ به وائي، لکن تر سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وروسته کې سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په اول کې د اقتداء نه وه وئیلي په سبب دشروع د امام په قرائت سره. بعض علماءؒ وائي چې مسبوق دې سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ په حال کې د سکتا تو د امام وائي. او اَعُوذُ بِاللهِ دې په قضائي کې وائي.

مَسْئَلَه: مقتدی به اَعُوذُ بِاللهِ په رکوع کې نه وائي او تکبیرونه د اختر د لمانځه که څنډې تیرسوی وه که په اول رکعت دی اوکه په دوهم رکعت کې وي هغه په رکوع کې وائي ولې چې هغه واجب دئ. مَسْئَلَه: مقتدی به اَعُوذُ بِاللهِ نه وائي ولې چې اَعُوذُ بِاللهِ تبع د قرائت ده او مقتدی لره قرائت نسته. او امام ابو یوسفؒ وائي چې اَعُوذُ بِاللهِ تبع د سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ ده نو مقتدی بې وائي لکه سُبْحَانَه چې وائي مَسْئَلَه: د اختر د لمانځه په اول رکعت کې به اَعُوذُ بِاللهِ ترزوائد تکبیرو وروسته وائي ولې چې دا تبع د قرائت ده، قرائت په اول رکعت کې خو ترزوائدو تکبیرو وروسته شروع کیږي

قَالَ الْمُصَنِّفُ وَالتَّسْمِيَةُ اَوَّلَ كُلِّ رَكْعَةٍ وَالتَّامِيْنُ وَالتَّحْمِيْدُ وَالْاِسْرَارُ بِهَا او بیا دې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ، وائي په اول کې د هر رکعت که نفل وي اوکه فرض وي

لکن تر الحَمْدُ لله دمخه. او هغه خوك خطا وتلی دی چې وائي بِسْمِ الله دې صرف په اول رکعت کې وائي ط، فَائِدَه: په لمانځه کې پوره بِسْمِ الله وائي اود او داسې په شروع کې اود ذبیحه په وخت کې پوره بِسْمِ الله ویل لازم نه ده بلکه هر ذکر کافي دی لکن فقهاء رح وائي چې د اود او داسې په شروع کې افضل داده چې پوره بِسْمِ الله وائي اود ذبیحې په وخت کې بِسْمِ اللهِ اَللّٰهُ اَکْبَر افضل دئ.

مصنفؒ په مراقی کې وائي چې بِسْمِ الله ویل په مابین کې د الحمد لله او سورة نه ده اوني ویل مکروه دی. لکن بعض فقهاءؒ چې افضل داده چې بِسْمِ الله دې په مابین کې د الحمد لله او سورة ووائي. فَائِدَه: کې چیرې لمونځ کوونکی پسله الحمد لله څخه پوره سورة نه وایه بلکه یو څو ایته یې وَیل نو بِسْمِ الله وَیل د هغو څو ایتو د پاره مکروه ده، اود بِسْمِ الله په ویلو کې جهري او خفیه لمونځ برابر دی. او بیا دې په نیږد ختم د الحمد لله امین وَوائي که منفرد وي اوکه امام اوکه مقتدي وي لکن د اهلته چې امام قرائت په جهر وَائي. او بیا دې رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ وائي کله چې دی مقتدی وي. او دا دری سره به کراره وائي، "چې پخپل ځان یه واوری"

فَائِدَه: که لمونځ کوونکی منفرد وو سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ به دواړه وائي. اوکه امام وو سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه فقط په ټولو لمونځو کښې په جهر وائي بنهان فَائِدَه: د حنیفیا نوؒ او د شافعیا نوؒ په دې کښې اختلاف دی چې بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ شریفه جزء د الحَمْدُ لله بلکه د هر سورت سوا د سوّة براءت څخه جزء ده اوکه نه ده، حنیفیان ولئ لَا، او شافعیان وائي نَعَمْ، لکن سره ددې اختلافه دواړه ډلې پر دې متفقه دی چې بِسْمِ الله دی تر الحَمْدُ لله شریفې د مخه کنم لمونځ جهري وی کراره وائي. ددی اتفاق څخه مذهب ته د حنیفیا نوؒ تقویت پیدا کیږی، ولی که بِسْمِ الله جزء د الحمد لله وَائي نو په جهري لمانځه کې څه سبب دی چې بعض اجزاء د الحَمْدُ لله چې بِسْمِ الله ده کراره وَیل کیږی او نور اجزاء یې په جهر سره. او بله خبره داده چې د عصر نبویؐ څخه اِلٰی یَوْمِنَا هٰذَا میخ ځا

جهر په بِسْمِ الله سره نه دی کړی، اَللّٰهُمَّ اِلّا مَا نُدِرَ عن رسول الله صَلی الله عَلیه و سلم احیانًا للتعلیم، قال المُصنف.

ثُمَّ قَرَأَ الْفَاتِحَةَ وَاَمَّنَ الْإِمَامُ وَالْمَامُوْمُ سِرًّا

اوبیادی الحمد لله شریفه ووائی او اٰمین دی ووائی امام او مقتدی پـه پټـه خوله سـره. قَالَ المصنفؒ

ثُمَّ قَرَءَ سُوْرَةً اَوْ ثَلَاثَ اٰیَاتٍ

اوبیادی ووائی یو سورت یا دری اٰیا تـه یعنی که لنډ اٰیتونه وَه، او که یو اٰیت طویلہ (اوږد) وی هـم کافي دی لکن دا سورة یا دری اٰیتـه ویل پس له الحمد لله څخه واجب دی کما مَرّ، قَالَ المصنفؒ

ثُمَّ کَبَّرَ رَاکِعًا

بیادی اَللهُ اَکبَرُ وَائی هـلمونځ کوونکی چې وی. **مسئله** دتکبیر شروع دې د کـږیدو سره د رکوع یوځای وې او تکبیر به ختموی په ختمیدو سـره د رکوع تا چې شروع پـه تسبیح وکړی. قَالَ المصنفؒ

مُطْمَئِنًّا مُسْتَوِيًا رَأسَهٗ بِعَجُزِهٖ اٰخِذًا رُکْبَتَیْهِ بِیَدَیْهِ

مُفَرِّجًا اَصَابِعَهٗ

په آرام سره دی رکوع وکړی پـه داسی حال کی چې برابر به وي سر ددہ د پا ی سره ددہ. او نیوونکی دی وي د واړو ځنګنو لره پـه دواړو لاسو او پرانګنودی ګوتی خلاصی وَ نسی **مسئله**: پنډی به سمی ولاړی وی او کـږول د ځنګنو او پنډی لکه کمان مکروہ دی، او ښځه دې ګوتی خـلاصی نه سی، م، قَالَ المُصنفؒ:

وَسَبَّحَ فِیْهِ ثَلَاثًا وَّذَالِکَ اَدْنَاهُ

او تسبیح دی ووائی پـه رکوع کی یعنی هـلمونځ کوونکی. چې هغه سُبحَانَ رَبِّیَ العظیم دی، او کی ظاء په خپل مخرج کی نه سَوای وَیلای لکه اکثر عوام، چې دوی یـه داسی وَائی. سُبحَانَ رَبِّیَ العَزِیم، نو هغه چونکه دا لفظ غلط دی نو دوی دی

سُبحَانَ رَبِّیَ الکَرِیم، دی وائی، دری وَاره. او دغه دری واره کله درجه ده د تسبیح وَیلو

فَائِدَه: پوهه سه: چې ممصنفؒ په مراقی کی وائی ای اَدْنٰی کمال الجمع المسنون» دی عبارته څخه دا معلومیږی چې په یو وار تسبیح وَیلو هم مطلق سنت پر ځای کیږی لکن د کمال د سُنت کمه درجه په ۳ دری واره دہ. او ورته عبارت صاحب هدایـه هم وَئیلی دی» قَالَ المُصنفؒ:

ثُمَّ رَفَعَ رَأسَهٗ قَائِلًا سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا لَکَ الْحَمْدُ

او بیا دی سر راپورته کړي په داسی حال کی چې وَائی به سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمِدَہ رَبَّنَا لَکَ الحَمدُ کـه چیری

لَوْکَانَ اِمَامًا اَوْ مُنْفَرِدًا وَ الْمُقْتَدِیْ یَکْتَفِیْ بِالتَّحْمِیْدِ

امام وی لمونځ کوونکی یا یـه وازی وی او مقتدی دې یو اځی رَبَّنَا لَکَ الحَمدُ وَائی.

پـوهـسـه: چې معنا د سَمِع اللهُ لِمَن حَمِدَہ. داسی د سَمِعَ الله، قبلونکی دی خدای جل جَلالہٗ حمد لرہ د هغه چا چې د ده حَمد ووائی. پـه عرف کی د" سَمِعَ» ترجمه قبول دی. لکه چې وائی» سَمِعَ الامِیْرُ کلام فـلان ای قَبلہٗ، وکما وَرَد فی الحدیث النبویؐ. اَعُوذُ بِکَ مِن دُعَاءٍ لَا یَسمَع» ای لا یقبل وَلَا یُستَجابُ لہٗ»

پـوهـسـه: چې هاء د ضمیر دَ پاره نه دَہ بلکه هاء السکت والاسْتراحة دَہ م، او پـه مُستعفلی کی وائی چې هاء دَ ضمیر دہ.

الاختلاف

، جمع کول دَ سَمِعَ اللهُ لِمَن حَمدہ. سره د رَبَّنَا لَکَ الحَمدُ، امام لره مذهَب د امام ابو یوسفؒ او امام محمّدؒ دی او یو روایت د امام اعظمؒ څخه هم دَی. او دا مذهب لکه مختار د مصنفؒ چې دی حاوی قدسی او الفضلیؒ او طحاویؒ او بعض نورو متأخرینو هم دا مذهب مختار کړی دی. او د مدینی والا و وهـو دغه رواج دَی. لکن پـه هدایه کی وائې چې امام بـه رَبَّنَا لَکَ الحَمدُ نه وائی. او دا مذهب دَی د امام اعظمؒ دَلیل دَ مذهب د امام اعظمؒ دا دی چې پـه حدیث مبارک کی راغلی دی» إذَا قَالَ الإمَامُ سَمِع اللهُ لِمَن حَمِدہ، فقولو رَبَّنَا

Maktaba Tul Ishaat.com

لَكَ الحَمْدُ نو داخو تقسیم دی او تقسیم قاطع دشرکت دی. لهذا مقتدی سَمِعَ اللهُ لمن حمده نسته زمونږ په نیز خلافًا للشافعیؒ، او فتح القدیر په اول جلد ص۲۶۱ کی وائی. وفی البحر المحیط فی التحمید اربع مرات، ۱ ربنا لَكَ الحَمْدُ، ۲ ربنا وَلَكَ الحَمْدُ ۳ اللهم ربنا لك الحمد، اللهم ربنا وَ لَكَ الحَمْدُ. وفی المراقی الافضل اللهم ربنا وَ لكَ الحَمْدُ. ويليه اللهم ربنا لكَ الحمد. ويليه ربنا ولكَ الحَمْدُ. او طحطاویؒ وائی چې داواو خولګ وائی زائد دی. او خولګ وائی داواو عاطفه دی تقدیر داسی دی ربنا حَمِدْنَاكَ وَلَكَ الحَمْد والاظهر هو الاول، درویش وائی چې د عطف پر تقدیر عطف د جملهٔ اسمیه پر فعلیه لازمیږی، چې بعض نحاة یې نه خوښوی. قَالَ

ثُمَّ كَبَّرَ خَارًّا لِلسُّجُودِ ثُمَّ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ ثُمَّ يَدَيْهِ ثُمَّ وَجْهَهُ بَيْنَ كَفَّيْهِ

بیا دی الله اکبر ووائی شروع دې د کښته کید و څخه وې او ختم یې چې تندی پر ځمکه کښیږدی دا تکبیر د سجدی دپاره بیا د زنګونونه کښیږدی او بیا دی لاسونه کښیږدی یعنی که دغه کیفیت څخه عذر نه وو لکه دچاچې بدن عیبی وی یا بل عذر وی. او بیا دی مخ کښیږدی په مابین کی د ارغوو، **پوه سه**: چې لفظ د خارًا اسم فاعل دی دخرور څخه مشتق دی چې معنا یې سقوط دی. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَسَجَدَ بِاَنْفِهِ وَجَبْهَتِهِ مُطْمَئِنًّا مُسَبِّحًا ثَلَاثًا وَذَالِكَ اَدْنَاهُ

او بیا دی سجده وکړی پر پزه، او تندی په آرام سره او تسبیح ویونکی به وې. یعنی سُبْحَانَ رَبِّيَ الاَعْلٰى دری واره او دا کمه حصه د تسبیح د سجدې ده. یعنی ادنیٰ د کمال مسنون یې ده کما مر فی الرکوع: قَالَ المُصَنِّفُ:

وَجَافٰى بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ وَعَضُدَيْهِ عَنْ اِبْطَيْهِ فِي غَيْرِ زَحْمَةٍ

او ګوښه دی کړی نس خپل

د ورنو څخه، او بازوګان دی ګوښه نسی د تخرګو څخه په وخت کی د دی چې ازدحام نوی د خلګو. او که ازدحام وو بیا دی لاسونه په بغلو پوری ونسی. تاچې همسایه ته ضرر ونه رسوې: **پوه سه**: چې دا حکم د نرانو دی او ښځې دې نس په ورنو پوری او لاسونه په بغلو پوری جوت نسی لان هذه الکیفیة استر لهَا، قَالَ

مُوَجِّهًا اَصَابِعَ يَدَيْهِ وَرِجْلَيْهِ نَحْوَ القِبْلَةِ

او مخامخ کوونکی دی وی ګوتی د دواړو لاسو او د دواړو پښو و طرفته د قبلی شریفی **پوه سه** چې ګوتی د لاسو دی ډیری جوت نسی په سجده کی او بیله سجدی بل ځای ضم د ګوتو نسته، مراقی وائې چې د سجدی په حال کی رحمت د خدائ نازلیږي. او په ضم سره ډیر رحمت پلاس وړځی.

پوه سه: چې ایښول د پښو په ایښولو د ګوتو کیږی. نو ګوتی دی لږ کت کړي تا چې سر و نه یې وقبلی ته سي. قال الطحطاویؒ ویکفی وضع اصبع ولحدة. قَالَ

وَالمَرْئَةُ تَخْفِضُ وَتَلْزِقُ بَطْنَهَا بِفَخِذَيْهَا

او ښځه دی پیته پریوزي په سجده کی او نس دی جوت وی د ورنو سره وقد مرنا التفصیل

قَالَ المصنف

وَجَلَسَ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ وَاضِعًا يَدَيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ مُطْمَئِنًّا

او بیا دی کښینی په مابین کی د دوو سجدو په داسی حال کی چې لاسونه به ایښی وی پر ورنو په ارامه سره **پوه سه**: چې په دې ناسته کی ذکر مسنون نسته. په بعض احادیثو کی چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم بعض دعا ګانی یې ذکر و نه راغلی دې هغه د تهجد په لمانځه کی وه.

— — — — — — — —

ـه چې دا شرحه ښه واضح کړ کندهارې بیا ئې خط هم ښه جلی کړی حقانی.

قَالَ المصنف ثُمَّ كَبَّرَ وَسَجَدَ مُطْمَئِنًّا وَسَبَّحَ فِيْهِ ثَلَاثًا وَجَافٰى

بیا دی الله اکبر ووائي يعنی د بلی سجدی دپاره او سجده دی وکړي په آرام سره او ډېر

بَطْنَهُ عَنْ فَخِذَيْهِ وَاَبْدٰى عَضُدَيْهِ وار تسبیح دی ووائي په سجده کی او لیری دی ساتي نس خپل دورنو څخه او ښکاره دی کړي بازوګان یعنی د بغلو څخه

قَالَ المصنف ثُمَّ كَبَّرَ لِلنُّهُوْضِ بِلَا اعْتِمَادٍ عَلَى الْاَرْضِ بِيَدَيْهِ

وَبِلَا قُعُوْدٍ او بیا دی تکبیر ووائي دپاره د ولاړی یعنی دوهم رکعت ته بیله تکیه کولو د لاسو پر مځکه باندې او بیله ناستې پوسه

چې دا هلته دی چې عذر نه وي لکه سړی چې سپین ږیری وي بیله تکیه کولو د لاسو پر مځکه نسی ولاړیدای او یا بدن د روند وي چې بیله تکیه ولاړه ور ته مشکل وي

پُوسه: چې بیله اول رکعته یو وار کښینستل او بیا ولاړیدل جلوس د استراحت بولي. او دا ناسته په نیزد امام شافعيؒ سُنت ده. دلیل په هغه حدیث مبارك دی چې آنحضرت صَلی اللهُ علیه وَسَلم به پس له اوله رکعته یو وار کښینستي بیا به ولاړ دی.

جواب: زموږ د خوا دا دی چې دا حدیث محمول پر حال د کِبَر سن او د بدن مبارك د د روندوالي په وخت کی وُو. په دلیل د دې چې په صحیح حدیث کی راغلی دی «کَانَ يَنْهَضُ رَسُوْلُ اللهِ صلى الله عليه وَسَلم عَلٰى صُدُوْرِ قَدَمَيْهِ: ترجمه: وو رسول الله ص ولاړیدی به ور رکعت ته پر سینه د پښو» قَالَ المُصَنّفُ

وَالرَّكْعَةُ الثَّانِيَةُ كَالْاُوْلٰى اِلَّا اَنَّهُ لَا يُثْنِىْ وَلَا يَتَعَوَّذُ

او دوهم رکعت لکه اول رکعت دی مګر دا فرق دی چې په دوهم رکعت کی دی سُبحانك اللّهم او اعوذ بالله نه ښته»

دلیل دا دی چې سُبحَانَكَ اللّٰهُمَّ دپاره د شروع د لمانځه فقط، او اعوذ بالله نه دی وائي لره دی جهته چې مجلس نه دی بدل سوی که څه هم اعوذ بالله دپاره د شروع د قرائت ده. او دلته لمونځ یو دی بدل سوی نه دی» او دا مسئله ده چې په یوه مجلس کی که هر څو ډیر قرائت سړی ووائي یو وار اعوذ بالله غواړي بل وار ویل ئی بدعت دی. قَالَ المُصنفُ

وَلَا يُسَنُّ رَفْعُ الْيَدَيْنِ او سنت نه ده پورته کول د لاسو یعنی په وخت کی د تکبیر د رکوع یا د قیام د رکوع څخه» لکه نور مذهبونه چې په نورو تکبیرو کی د لمانځه وائي. او کی پورته کړي صحیح دا ده چې لمونځ نه په فاسدیږی» قَالَ

اِلَّا عِنْدَ افْتِتَاحِ كُلِّ صَلٰوةٍ وَعِنْدَ تَكْبِيْرَاتِ الْقُنُوْتِ فِى الْوِتْرِ مګر په نیزد شروع د هر لمانځه که فرضی وي او که نفلی او یا صلوٰة جنازه وي او په نیزد تکبیر د دعائی قنوت په وترو کې. قَالَ المُصنفُ:

وَتَكْبِيْرَاتِ الزَّوَائِدِ فِى الْعِيْدَيْنِ وَحِيْنَ يَرَى الْكَعْبَةَ

او هغه وخت چې اسړي هغه شپږ زوائد تکبیرونه د اخترو په لمانځو کی یعنی تر غوږو پوري پورته کول په اتفاق د روایاتو» او هغه وخت چې اول وویني کعبه شریفه لکن پورته کول د لاسو به د دعا پر طریقه کوي یعنی و طرفته د اسمان. او د عا دی هم وکړي و هذا الدعا مستجاب»

وَحِيْنَ يَسْتَلِمُ الْحَجَرَ الْاَسْوَدَ وَحِيْنَ يَقُوْمُ عَلَى الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ

او هغه وخت د لاسو پورته کوي چې حجر اسود مسه کړي. لکن د لاسو مخان ئي و حجر اسود ته وي» او هغه وخت دی لاسونه پورته کوي چې د صفا او مروه پر غره ودریږي. لکن لاسونه به خلاص د اسمان و خواته نسی د دعاء پر ډول او دعا به هم کوي.

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه كتبه احقر الورى فضل حق حقاني غفرله

Maktaba Tul Ishaat.com

وَعِنْدَ الْوُقُوْفِ بِعَرَفَةَ وَمُزْدَلِفَةَ وَبَعْدَ رَمْيِ الْجَمْرَةِ الْأُوْلَىٰ وَالْوُسْطَىٰ

اودغه رنګه لاسونه پورته کوي د دعا پر طريقه او دعا دي هم کوي چې په نيزد دريد و پر عرفات او مزدلفه، او پسله و شتلو څخه د اول څلي او د مابين دځلي دشيطانانو لکن د لته هم لاسونه د دعا پر وقت دي او سبله اوبن ده دُعا به هم کوي، كما ثبت في الحديث النبوي. **فَائِدَهْ**: او لاسونه دي پورته کوي په نيز د دعا د استسقاء يا نوري دعا گانی ولې چې پورته کول د لاسو سُنت دی دپاره د دعا هره دعا چې وي، ط ص۲۳۰، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَعِنْدَ التَّسْبِيْحِ عَقَبَ الصَّلَوَاتِ

اودغه رنګه لاسونه دي پورته کوي په نيزد تسبيح ويلو وروسته تر لمونځو يعني د دعا دپاره، قَالَ الطحطاوي كما عليه المسلمون في سائر البلدان،

پوهسه: چې په بعض کتابو کی وائي چې لاسونه دي پورته کوي په فقعس کی نو په دی لفظ کی کلمه د فاء اشاره ده و تکبير ته د افتتاح، او قاف اشاره ده و تکبير ته د دعاء قنوت، او عين اشاره ده و عيدين، ته او د معاينة البيت و پورته کيدو ته، او سين اشاره ده و رفع د لاسو د مسرسره د حجر اسود،

دروښتو وائي: چې قاف که عام سي تر قنوت، او قيام ته د صفا او مروه، او وقوف تر عرفات او وقوف ته پر مزدلفه. او وقوف ته پس له ويشتلو د جمرهٔ اولیٰ او وسطیٰ هم شامل سي. او سين هم عام سي دعاء بعد التسبيح ته هم شامل سي. نو دا مجمل لفظ به د پوره بيان سره د مصنف مطابق سي.

فَائِدَهْ سَنِيَّهْ: وحكاية عليه: روی ان الاوزاعی لقي ابا حنيفة في المسجد الحرام: روايت کړه سوی دی چې امام اوزاعی يو ځای سو د امام ابو حنيفه سره په مسجد حرام کی: فقال ما بال اهل العراق لا يرفعون ايديهم عند الركوع و عند رفع الرأس منه: نو امام اوزاعی د حضرت الامام الاعظم ته وویل چې څه سبب دی اهل عراق

لره چې نه پورته کوي لاسونه په وخت کی د تکبير د رکوع او چې د رکوع څخه راپورته سي يعني د تکبير سره د سجدی: قال الاوزاعی وقد حدثني الزهري عن سالم عن ابن عمر انه عليه السلام كان يرفع يديه عندهما يعني په دغه مذکور سند ما ته ويل سوی دی چې عليه السلام لاسونه پورته کول په دغه دوه وختونو: فقال ابو حنيفة حدثني حماد عن ابراهيم عن علقمة عن عبد الله بن مسعود ان النبي عليه الصلوٰة والسلام كان يرفع يديه عند تكبيرة الافتتاح ثم لا يعود: ابو حنيفه ووه اوزاعی ته وويل چې په مذکور سند ما ته رسيدلی دی چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم لاسو پورته کول په نيزد تکبير د شروع د لمانځه او بيا يې لاسونه نه پورته کول.

فقال الاوزاعی واعجبا من ابي حنيفة احدثه بحديث الزهري عن سالم عن ابن عمر وهو يحدث بحديث حماد عن ابراهيم الخ: يعني تعجب وا ابو حنيفه ته زه حديث د زهري آه وروته بيا نو هغه ما ته حديث د حماد را ته راوړي. غرض د اوزاعی دا وو چې زما د حديث سند عالي دی ولې چې په دی کی دری واسطې دی او د ده حديث سند کښته دی ولې چې واسطې يې څلور دي.

فقال ابو حنيفة اما حماد فكان افقه من الزهري وابراهيم كان افقه من سالم ولولا سبق ابن عمر لقلت ان علقمة كان افقه منه واما عبد الله فعبد الله: د جواب د امام اعظم حاصل دا دی چې فقاهت د راويانو دی چې په فقاهت د راويانو حديث ترجيح موندي کی څه هم واسطې ډيری وي. **پوهسه**: چې د حضرت الامام الاعظم په دی باب کی دلائل ډيري دی چې ورقی د دی مجلی شرح يې بيان نسی کولای؛ مګر يو حديث د عبد الله بن عباس رضی الله عنهما به در ته ذکر کړم. هغه وائي چې هغه صحابه کرام چې په نامه د عشره مبشره وو يادي يږي او عليه السلام ودوی ته زيري د جنت کړی دی. دوی نه پورته کول لاسونه مګر په نيزد افتتاح د لمانځه، عنايه،

د دعا په باره کی تحقيق

پوهسه: چې په دی کی شك نسته چې دعاء بالاجماع اقرب او نژدی ده اجابت ته تر انفرادی

دُعاء ولې چې په ډېرې خلګو کې غالبًا حاضر القلب خاشعين خلګ موجود وي. او دا هم د مسلم الثبوت خبره ده چې د کوم عبادت چې اصل يې په شريعت کښې ثابت وي، هغه عبادت ته بدعت نه سي ويلای. نو د دعاء بالاجتماع اصل په صحيح حديثو کښې ثابت دی لکه په استسقاء کې. نو خصوصيات نو ته د دعا ګانو لکه عقيب الصلوٰة، يا نور د ستو ورو سته په معنا د ګناه ګارۍ نسي ويل کيدای، او دا هم معلومه خبره ده چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم هميشه تو به پر دعاءِ اجتماعی نه دی کړی. او لې په اکثرو اوقاتو کښې کړيده، لکن اصل د دعاء اجتماعی ثابت دی. نو که هر څوک هر وخت چې وي دا دعاء اجتماعی کوي وَلَوْ بَعد السنن په هغه کښې هيڅ حرج او ګناه نسته. او کۀ څوک نه کوي هغۀ هم پرواه نه لري. نو عقيده چې وهابيان او سلفيان وغيرهم يې لري چې دعاء بعد السنن بدعت ده يعنې بد کار او ګناه دَه. ډېره پوچه خبره دَه او ډېره بې ادبي دَه: ؎

از خدا خواهيم توفيق ادب :: بې ادب محروم ماند از فضل رب، او خدای جل سلطانه دعاء کول مقيد په هيئت انفرادي يا اجتماعی سره نه دَه کړځولې ولې چې وائي: اُدْعُوْنِيْٓ اَسْتَجِبْ لَكُمْ، نو زمونږ د عصر بعضي مُلايان چې دا يې عقيده ده چې دعاء بعد السنن سنت ده افراط دی په باره کې دا جتماعی دُعاء، او هغه چې وهابيان وغيرهم وائي چې دعاء بعد السنن مکروه او بدکار دی تفريط دی په حق کښې د دعاء، والحق بينهما كما بينتُ، که څوک تحقيق تحقيق د دې مبحث او پوره دلائل بحواله د فقه شريفې د کتابو غواړي نو البصائر چې د استاد المعارك العلميه مولانا حمد الله جان ډاګوی صاحب تصنيف دی مطالعه کړي.

فَائِدَه: د دې روليکلو غرض دا نه دی چې وهابيانو او سلفيانو وغيرهم ته هم قناعت ورکړي ولې چې وهابيت يوه داسې ناجوړې ده لکه دوينې سرطان چې په ټوله نړۍ کښې علاج ممکن نه دی. بلکه زما غرض او مطلب دا دی چې ساده لوح مسلمانان د دوی د دغو ګمراه کن دروا غو څخه وساتم، **وصيت**، وهابيت يوه داسې ساري ناجوړي دَه که جوړ سړی د دغه وهابيت د مريض سره ګذاره وکړي هغه هم په دغه ناوړه ناجوړې

دَه که جوړ سړی د دغه وهابيت د مريض سره ګذاره وکړي هغه هم په دغه ناوړه ناجوړې اخته کيږي. ولې چې دوی ساده لوح خلګو ته صرف او صرف قال الله وقال الرسول وائي نه تاويل مني او نه مذهب مني او نه طريقت او نه شريعت مني چې د دوی د فاسدو عقائدو څخه غير وي. او نه د هيڅ مفسر د قرآن تفسير مني. چې د دوی د اصولو څخه خلاف وي :: بر زبانت يا محمد پيدا و در دل يا صنم :: ای بباطن كافر و ظاهر مسلمانی چه سود :: قَالَ

وَاِذَا فَرَغَ الرَّجُلُ مِنْ سَجْدَتَي الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اِفْتَرَشَ

او هر وخت چې فارغ سي لمونځ کوونکی د دوو سجدو څخه د دوهم رکعت. و دې غوړوي

رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَجَلَسَ عَلَيْهَا وَنَصَبَ يُمْنَاهُ وَوَجَّهَ اَصَابِعَهَا

يعنې پړې دې باسي چپه پښه او پر هغې پښې دې کښيني. او جګه دې ودروي ښسته پښه او ګوتې د ښستې

نَحْوَ الْقِبْلَةِ وَوَضَعَ يَدَيْهِ عَلٰى فَخِذَيْهِ وَبَسَطَ

پښې دې و طرفته د قبلې کړي يعنې ګوتې دې کت کړي چې سرونه يې قبلې ته سي يعنې هغه ګوتې چې قبلې ته په مخامخ والی آسانه وي. ولې د بعض

اَصَابِعَهُمَا وَالْمَرْأَةُ تَتَوَرَّكُ

خلګو کښې ګوته ډېره لنډه وي چې سر يې و قبلې ته مخامخ کول ګران وي. او کښې دې ږدی لاسونه پر ورنو او ګوتې دې خلاصې و نسي. يعنې داسې دِې وَل چې سرونه د ګوتو يې نه نګنونه ورسيږي. او ښځه دې په ناسته کښې تورک کوي کما مر بيانه، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَقَرَءَ تَشَهُّدَ ابْنِ مَسْعُوْدٍ رَضِيَ اللهُ تَعَالٰى عَنْهُ

او و دې وائي التحيات د ابن مسعود خدای دې څنې راضي سي. **پوهسه:** چې حضرت عمر رض يو قسم تشهد وئيله، او حضرت علی رض بل قسم تشهد وئيله. او عبد الله بن عباس رض بل د ول

Maktaba Tul Ishaat.com

تشهده وَيلَه. اوحضرت عائشہ رض بل دَوَل تشهده وَيلَه اوجابر بن عبدالله رض بلا تشهده وَئيلَه اوعَبد الله بن مسعود رض بيا بَل قسم تشهده وَيلَه رَضِيَ الله عَنهُم اَجمَعِين اوموږ حنيفيانو د تشهده د عَبد الله بن مسعود رض تشهده مختار كړيدَه،

پوښتنه: دا تشهد خود عليه الصلوٰة والسلام څخه زده كيده نو دا اختلاف ولى پكښى دى **جواب:** هو لكن آنحضرت صلى الله عليه وسلم بعض اصحابٌ ته يو قسم او بعض ته بل قسم وهكذا ښوولَه د پاره د پراخى په دين كى، او عين ممكنه ده چې په حفظ كښى د اصحابو كرامو دى فرق وي په هر صورت اختلاف صرف په اولويت كى دى ورنه روا ټوله دي. قَالَ المُصنفُ:

وَاَشَارَ بِالمُسَبِّحَةِ يَرفَعُهَا عِندَ النَّفىِ وَيَضَعُهَا عِندَ الاِثبَاتِ

او بيا دى اشاره وكړي په مسبحه گوته سره پورته دى كړي په وخت كى د نفى يعنى لَا اِلٰهَ او بيرته دى ايږدى په نيز د اثبات يعنى اِلَّا اللهُ، لكه چې تفصيل ير د مخه تير شو او دا پورته كول دگوتې په نيز د امام شافعىؒ او امام مالكؒ او د امام احمد بن حنبلؒ او په نيز د ائمه ثلاثه زموږ د حنيفيانو سنت دَى. صرف په تا بعينو كښى د مذهب حنيفى او په كتابو كى فتاوا او د مذهب حنفى هم اختلاف سته او په دى باره كښى علماء كرامو د حنفيؒ مذهب مستقل رسالى جوړى كړي دى يعنى سنت والى يې ثابت كړى دَى: قَالَ المُصنفُ:

وَلَايَزِيدُ عَلَى التَّشَهُّدِ فِى القُعُودِ الاَوَّلِ

اوزيا توب دى نه كوي پر التحيات په اوله ناسته كى **مسئله:** كه په قدر د اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ او يا بالا تر هغه زيا توب وكړي سجده سهوه پر لازمه ده او كه صرف اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَوَيَل بيا ور پياد سوه سجده سهوه نشته.

پوښتنه: چې د عَبد الله بن مسعود رض څخه روايت دى چې ما ته وښوول رسول الله صَلَّى الله عليه وَسلم التحيات په داسى حال كى چې زما ارغوى په مابين

كى د دوو ارغوو د عليه السلام لكه چې ما چې به ئى ښوولى يو سورت د قرآن شريف څخه او وي ويل چې څه وخت چې كښينې يو ستاسى په لمانځه كى نو دى ووائي: قَالَ المُصنفُ

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ

يعنى ټوله ښه عبادات قوليه خداى پاك لره دى او صلوات جمع د صلوٰة ده مراد د لته څندى صرف لمونځ نندى بلكه ټوله عبادات بد نيه د يې او او د لته لام د استغراق دى، اوطيبات جمع د طيبة ده طيب پاك شَىٔ ته وائي لكن د لته مراد څندى ټوله عبادات ماليه دى لكه زكوٰة صدقه فطر وغيره يعنى ټوله عبادات ماليه خداى پاك لره دي.

پوښتنه: چې التحيات جمع د تحيه ده چې په پښتو يې پيښ كښ دى، او مراد د لته څندى هغه بهترين د الفاظو چې پر عظمت او كبريا او جلال او جمال د خداى پاك د لالت كوى او الف او لام د پاره د استغراق دي. **پوښتنه:** د غه كلمات په الهام سره د رب جل وعلى وه آنحضرت صَلَّى الله عَليه وسلم په شپه د معراج و حضور ته د رب العزت پيش كړي او خداى پاك په جواب كى ورته ووئيله، قَالَ،

اَلسَّلَامُ عَلَيكَ اَيُّهَا النَّبِيُّ وَرَحمَةُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ

سلام دى وي د جانبه څخه د رب جل وعلا پر تا باندې اى نبى او رحمت د خداى ج او بركتونه د جانب څخه د خدائج يعنى پر تا باندى **پوښتنه:** چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم چې مذكوره دري كلمې وجناب ته د خداى پاك عرض كړي خداى پاك په په جواب كى هم دري شيان وَويله يعنى السلام عَلَيكَ، دا كلام په مقابل كى د التحيات دى. ولى چې السلام عَليك تحية الاسلام ده الى يوم القيامة بلكه په جنت كى هم د خدائ دخول څخه كريمه: سَلَامٌ قَولًا مِّن رَّبٍّ رَّحِيمٍ، او د ملكو د خواهم. سَلَامٌ عَلَيكُم طِبتُم فَادخُلُوهَا خٰلِدِينَ، او رحمة الله يې په مقابل كى والصلوات، وواية.

سوال: صلوات ترجمه خو په عبادات بد نيه سره وكړه سو نو رحمت كله د صلوٰة مقا

جَوَابْ: دعبادات بدنيه ووسره رحمت الهی لازم دی، اوبرکات ئې په مقابل کی دده و نفسات وويلولی برکت نما و اکثرت نه وائی چی مناسب د مال سره دی چی د ضدت څخه مراد عبادت ماليه وه، پس آنحضرت صلی الله عليه وسلم چونکه رحمة للعالمين دی. اوده ترم خدای نوازش وركړی په دروخبرو په مقابل کی د دروخبرو د آنحضرت صلی الله عليه وسلم نوا جود خلق الله واکرمهم صلی الله عليه وسلم، نوده مبارك م دا فيض او احسان الهی عام کړی تولو ورونړو ته چې چی انبياء عليهم السلام دی او تولو صالحانو ته د مخلوق الهی چی ملائكه دي اوصالحين د مؤمنانو دانس اوجن دی. نويه ووئيل» فَقَالَ»

سلام دی وی **اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِيْنَ** پرمونږ اوپر

هغو بندگانو د خدای چی صالحان وي. دضمير متكلم مع الغير څخه په مراد ځان اوتوله انبياء عليهم السلام دی اود عِباد الله الصالحين هغه نور مذكور مخلوق مراد دي. نوځکه په صحيح حديث کښی راغلی دي چې تاسې چی دغه کلمی يعنی السلام علينا آه ووايا ست رسيږی دغه سلام وهرعبد صالح ته په آسمان اوکه ځمکه کښی وي **پــوه ســه**: چی دلته دوه لفظه سته. يو عبوديت چی معنا يه رضاده بما يفعل الربُّ تبارك وتعالىٰ» اوپه صفا توکښی د مخلوق اشرف تر دغه وصف نشته اوبل عبادت دی، چی معنا يه ما يرضى به الربُّ لكه لمونځ روژه، وغيره، په دي دوو وصفوکی وصف دعبوديت اقوي او اشرف دی تر عبادت ولی چی عبوديت په اخرة کښی هم باقی دي. اوعبادت ختم کيږی. لعنی علىٰ سبيل التكليف مطلب دا چی جنتيان په اخرت کی نه په لمانځه مکلف دی اونه په روژه، وغيره، لکن عبادت الهی په جنت کی پرته دتنفس په دنيا کی چی سړي هيڅ نه په ستړي کيږی هغسی عبادت الهی په جنت کی هم سته. ولی بنده چی هرڅو خدای پاك ته نژدی کيږی طاعت يه زياتيږي.

پُوه سَه: چی عبد صالح وهغه بنده ته وائي په شرعه شريفه کښی چی پرځای کوونکی د ټولو حقوقو د رب جل وعلا وی اوده ټولو حقوقو د مخلوق وي. چونکه دا مفهوم پيدا کيده په يو شخص معين کی ډير گران دی يعنی تحقق يه لهذا علماء حضرات وائی چی ده يو شخص په باره کی يقين کول په صالح والی دده بيله شهادته ده شرعی شريفی روانه دی. البته داسی سړي ويلای سی، چی فلان شخص زما په خيال صالح سړي دی. خوفًا من الشهادة، نوچونکه آنحضرت صلی الله عليه وسلم د احسان دلاری هغه کلمات ووئيلی السلام علينا آه نو اهل الملكوت الاعلىٰ چی تر اوو آسمانو لوړي ملکی دي. اوجبرئيل عليه السلام په وحی او يا په الهام د رب جل وعلا داسی ووئيله.

اَشْهَدُ اَنْ لَّآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ

يعنی مونږ دزړه دکومی وايو چی الله جل سلطانه يو دی. او مونږ په پوره يقين سره داوايو چې محمد بنده د خدای او رسول د خدای دی» **پُـوه سَـه**: چی حافظ ابن حجر العسقلانی په شرح کښی د بخاري وائي چی آنحضرت صلی الله عليه وسلم به په التحيات کښی دغه الفاظ او کلمات مذکوره ووئيلی: اوهغه چی بعض علماء وائي چی ده مبارك به داسی وئيله»، وَاِنِّی رَسُوْلُ اللّٰهِ» هيڅ اصل نه لري يعنی په لمانځه کی البته په غير کی دتشهدی د مبارك داسی وئيلی دي.

يــوښتـنـه : په تشهد کی ولي عبده تر رسوله د مخه راغلی دی **جَوَاب** قاضی بيضاوی بلکه ټوله مفسران او محدثين وائي چی ده نبی په اوصافو کی عبوديت تر رسالت افضل دی» ولې چې په عبوديت کی توجه د مخلوق څخه وخالق ته اوپه رسالت کی توجه د خالق څخه و مخلوق ته يعنی دپاره د تبليغ د احکامو الهيه وو» **تـنـبـيــه**: چونکه حاسدان زونابوه کسان ډير دی، نو دا خبره بنه وفهموی چی زه داسی نه وايم چی دعمومی خلگو عبوديت دنبی تر رسالت بهتر دی

Maktaba Tul Ishaat.com

بلکه داسې وایم چې دنبي په اوصافو کې د اوصف تر ټولو بهتر وصف دی، قَالَ

وَقَرَءَ فِيمَا بَعْدَ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُولَيَيْنِ الْفَاتِحَةَ او وائي دی په وروسته د هغو دوو رکعتو اولو یعنی دفرضي لمونځو صرف سورة فاتحه (الحمد لله) یعنی بیل ضم د سُورة، او همدا رنګه که یو رکعت وي لکه دمانبام لمونځ نو په هغه کې به هم صرف الحمد لله شریفه بیله سورته: **مسئله**: که سورت ورضم کړي هم سجده سهوه نسته ولې هغه هم دسورة جنس دالحمد لله یعنی قراءة القران دی، کذا فی کتب الفتاوی، قَالَ

ثُمَّ جَلَسَ وَقَرَءَ التَّشَهُّدَ ثُمَّ صَلَّى عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او بیا دی کښیني یعنی پر هغه دمخه طریقه چې چپه پښه دی پرې باسي او راسته پښه دی جګه ودروي. او بیا د التحیات ووائي پر هغه ډول چې دا وس تیره سوه. او بیا دی درود ووائي پر آنحضرت صلی الله علیه وسلم یعنی اللهم صل علی محمد تر پایه پورې. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

ثُمَّ دَعَا بِمَا يُشْبِهُ الْقُرْآنَ وَالسُّنَّةَ او بیا دی دعا وکړي په داسې الفاظو چې مشابه د قرآن او دسنت نبوي م د الفاظو سره وي یعنی عربي الفاظ به وي یا عین ماثوره دعا ګاني وي او یا هغو ورته: **فائده**: چونکه عوام د مشابه القرآن والسنة وغیر المشابه فرق نه سي کولای. نو ځکه په لمانځه کې دعاد اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا تر پایه تیا کل سوی ده، چې ماثوره دعاده. او هم مختصره ده او عین اختصار کې جامع دخیراتو د دنیا او الخرت ده، قَالَ

ثُمَّ سَلَّمَ يَمِينًا وَّيَسَارًا فَيَقُولُ السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللهِ

نَاوِيًا مَنْ مَّعَهُ كَمَا تَقَدَّمَ او بیا دی سلام وګرځوي پر راسته طرف یعنی اول وار او پر چپه طرف یعنی په پای کې او دا سې

دی ووائی السلام علیکم ورحمة الله او نیت بی وي د هغه چاچې د ده سره وروي یعنی امام، او قوم، او حفظه لکه چې د مخه تیره سوه:

افسوس ناکه واقعه د عقل ځخه لیري حکایت:

یوه سله: چې چونکه د شریعت پاك ټوله کتابونه عربي وه او صرف په هغو ټوله مُلایان هم نه پوهیده بلکه د ملایانو برجسته ملایان د قرآن ځخه او نبولي او یا احادیث نبویه م او د فقه حنفي متون او شروح او فتاوی، او کتابونه په ټوله پوهیدل، او عوام الناس خو بیخي ځندی بی برخی وه. د عوامو تکیه صرف او صرف د ملایانو پر قول او بنو وینو وه»

او هرچا ته دا معلومه ده چې چیری په خپله د کتاب وینا. او په پوهیدل، او چیری د بل د خولي او ریدل، نو بعض علما وو د عوامو د غه مشکل په نظر د لودلو سره د شریعت پاك د عقائدو بعض کتابونه، او د فقهي حنیفي بعض کتابونه د قوم و مورنی ژبې ته را اوړل او تفصیلي بیان د هغو یه وکړی او چهاف تی وسپارل. او لوی سبب د استفاده د عوامو چې صرف خط بی زده وو وګرځیدل، چنانچه په دې باره کې د پاکستان ډیرو جیدو علماوو لویه برخه اخیستی ده. او د شریعت پاك ډیر کتابونه یه د عربي ځخه اردو ته، چې د دوی مروجه ژبه ده را نقل کړه. حتی چې تفسیر د قرآن پاك یه هم پخپله مادري ژبه اردو سره ترجمه کړي.

او د پیښور نیک نیته، او قوم پرسته، او بنو برجسته علماء هم د شریعت پاک د عقائدو، کتابونه، او د فقه شریفي کتابونه په وپښتو ته را نقل کړه بلکه غټ غټ کتابونه د فقهي شریفي لکه ځلور هدایه ګاني، هم په پښتو مفصل ترجمه کړي. او په کابل کې د قرآن کریم تفسیر په دوو مروجو ژبو یعنی دري او پښتو تصنیف

سوه، او سبب د لوی استفاده د هغو عوامو وګرځېدی چې صرف خط او کتابت یې زده وی چنانچه د اتفسیر په عربستان کی د شاه فهد په وقفی کتابو کښی چاپ سو او حسبةً لِلّٰهِ پښتو او فارسی ژبا نو مسلمانانو ته هدیه وسُو. لکن چونکه د پېښور او د هغه د اطرافو د پښتو ژبې او زمونږ د قند هار د پښتو ژبې په بعض بلکه په ډیرو الفاظو کښی په تلفظ او کتابت کی فرق وو، چنانچه دا خبره واضح ده، نو د ړیش عامی ته هم د قند هار، هلمند، ترین کوټه، فراه وغیره ځایو چې پښتو ژبه سره یو ډول ده، د ضرورت علمی د پوره کولو سودا او فکر پیدا سُو، چنانچه د ړیش دا خو کتابونه پښتو ژبې ته را نقل کړه. په عقائدو کښی نورظلم او ابوالمنتهی، او په فقه حنیفی کی، شروط الصلوٰة، او قدوری، او نور الایضاح چې یو جلد اوس چهاپ سوی دی او دوهم جلد یې دا کتاب چې ستا سو په لاسو کی دی، او دریم جلد یې تر کتابت لاندی دی چې هغه به هم ان شاء الله العزیز ژر چاپ سی. او دا زما عاصی کتابونه په هر ملک کی چې د افغانستان پښتانه مهاجر موجود دی د کتاب فروشانو په ذریعه ورسیدله، حتی چې وما ته یو وخت د قدوری چهاپوونکی، او لیکونکی قاری مجوّد خطاط اعظم مولوی فضل الحق صاحب وویل چې ما تر اوسه پوری د قدوری یوولس ۱۱ زره نسخی خرڅی کړی دي. وهکذا الکتب الاخر المذکورة»

او عربستان سعودی ته هم ډیری نسخی د مرکتاب تللی دی، ولې چې هلته پښتانه پرډین مین مسلمانان ډیرد یې، او د دی کتابو د تصنیف په باره کی ما سره ... پښتانه راغلی دی چې د ټولو حاصل دا دی» لَقَدْ اَحْسَنْتَ «په تحقیق سره تا ډیر ښه کار وکړی. مګر افسوس چې د قند هار د بعض حاسدانو د خوا په دی او سو ورځو کی په غیاب کی قولی د اسی یو پیغام چا را او رسا وه.» چې دا نقل د عربي کتابو و پښتو ته ډیر بد کار ځکه چې د هغه نو مړځ نه اخلم د قند هار دی. او هغه په ډیره بې شرمی سره د عقل لیری د اخبره کړیده چې د غه کسان چې عربي کتابونه و پښتو ته را نقل کوي دا د امریکا ړونده سوی

ملایان دی چې په خلګو کی بې دینی پیدا کوی. او خلګ و امریکایانو ته دعوت کوی او ورته مزدی د شرحه ډکی خبری یې هم کړی دي:

زه و دغه جناب ته زه وایم چې لوی نقل کوونکی د عربي کتابو و پښتو ته د قند هار په علاقه کښی زه یم. نو تا زما کتابونه مطالعه کړی دي. او که هسی دی ستر ګی پټی او د حسد خوله دی وازه کړی ده. او د اخبری کوي. که دی مطالعه کړي وی نو ته د نور الایضاح د پای ورقی وګوره چې څو ځله د امریکا طرفداره دی او زما ګیلی او تنقید و نه پر امریکا او بین الملل او روسانو باندي. بیا مطالعه کړه. او بلاغ المبین هم مطالعه کړه. او د امارت اسلامی افغانستان تائید او توثیق چې ما کړی د دغه ژوره حصه تا کړي دی او که څرنګه!

بلکه حق خبره خو دا ده: چې زه غواړم چې د عوامو زاو ښځي ځوانان، او ښځي سپین ږیری، د اسلام په عقائدو خبر کړم، او په احکامو د فقهي حنیفي یې اګاه کړم او د زړو پر تختو باندی بیله عقائد اسلامیه وُو او بیله فقهي حنیفي. نو که ځای پریږدم چې په هغه کی نصرانیت او یا یهودیت یا وهابیت ځای پیدا کړي. او هر مسلمان په ذریعه د دغو پښتو دینی کتابونو ما - د تخریب کاری د امریکایانو انګلیسانو وهابیانو خلاص سي. او د خپل امارت اسلامی په افغانستان کی مادی او معنوی لسانی او قلبی ملاتړ وکړي. او د پاره د حفاظت، د امارت اسلامی هر نوعه فداکاري ته تیار اوسي. البته ته چې د دی کتابو څخه بدوړی ستا مرام به دا وی. چې د افغانستان عوام دی د دینه څخه ساده لوحه وی تا چه نقوش د امریکا یا نو انګلیسانو، وهابیانو، په هغو ساده د دینه ناخبره زړو کښی نقش سي. او پر ځای د محبت د امارت اسلامی افغانستان یې محبت د وطن او عمل د امریکایانو انګلیسانو، وهابیانو، په زړو کی پیدا سی»

او یا به ستا نیت په دې بې شرفانه خبرو کی دا وی چې د تحریک اسلامی طلباء افغانستان او د هغو د مخلصانو په مابین کی شقاق او شګاف پیدا کړي. نو په دی نیت کی به هم د خدای جل سلطانه په فضل سره نه سی کامیابه، ولی د تحریک اصلی غړی علماء

Maktaba Tul Ishaat.com

اوطالبان ډیر دي، اندیښې خلک دي. ستا په خوله نه خطاوزي. او نه زه دومره بیعقل یم چې تا غوندې ناپوه سړي دې ما تحریک بدخواه وګرځوي. که ځې داغه قدر بیان بس دي خود آینده د پاره داسې پرو پاګند مه کوه. او که بیا زه خبر سوم چې ته خپلو ناوړو خبرو ته دوام ورکوې. نو د نور الایضاح د پښتو ترجمې په دریم جلد کې به إن شاء الله تعالی ستا د نامه، د قومیت، د او سیدو د ځای پرده پورته کړم. او په ټوله خلګو به دي وپیژنم، او س داغه د ستر په وینا کې پاتې.

مکتوب، جناب مولوی عبید الله صاحب په او سني زمانه کې مختلفې ډلې وغیره ظهور ته راوتلي دي، مثلاً، وهابیان، سلفیان، پنج پیریان، اهل حدیث، تبلیغیان، موحدان، نو زما پوښتنه داده چې په دغو ډلو کې ستا په عقیده کومه ډله ښه ده چې سړی یې متابعت وکړي. ولې هغه پخواني ډلې چې په پخوا زمانه کې مشهوره وې لکه شیعه ګان، معتزله، کرامیه وغیره. هغه مونږ پیژندي چې د اهل السنة والجماعت رحمهم الله ډلې څخه نه دي. نو موږ هغو څخه پرهیز کاوه او س څه وکړو! په امید د جواب المنان بخش ستا دعاګوی آغا ګل د تنند کړ:

ګرانه وروره! زه به روستا ته یو قانون کلي بیان کړم، چې په هغه کښې ته غور وکړه تا ته به پخپله ښه ډله معلومه سي. نو **یوه سله**: چې درویش په عقیده هغه ډله ښه ده. چې پر یو مذهب د څلورو مذهبو. یعني حنفیانؒ. شافعیانؒ. مالکیانؒ حنبلیانؒ. ولاړ وي. چې دا څلور ډلې د خیر القرون څخه راشروع سوي دي. او و زمانې ته د رسول کریم صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین نژدې وې او د قران کریم د آیا تو او د احادیث نبویه وو په تفسیر او معنی ښه خبر دی او برجسته مجتهدان یې مقتدایان دي. **یوه سله**: چې زما مقصد دا نه دی چې ته په مذهب چې کیږې ستا خوښه ده. بلکه زما مقصد دا دی چې پر هر مذهب چې ته یې د هغه مذهب د قدماء او متاخرینو د کتابو څخه خپل معلومات حاصل وه. او د قرآن کریم او احادیث نبویه وو هغې معناوې کوه لکه چې ستا د مذهب مقتدایا نو ته ښودلي دي.

د نوي اجتهاد امید مه کوه. او دا هم زما مقصد نه دی چې ته به په یوه مسئله کې د حنفي مذهب متابعت کوې او په بله مسئله کې به د شافعيؒ مذهب متابعت کوې چې دې ته په اصطلاح کې تلفیق المذاهب وائي. او هغه جائز نه دی. او داسې به هم نه کوې چې مذهبونه د خیر القرون به پس پشت ګرځوې. او د مبارک قرآن د آیا تو ترجمه به په خپله رأیه او فکر سره کوې. او یا د احادیث نبویهؒ وو معنا د خپل فکر سره برابره بیانوې. که څه هم ته پخپله زمانه کې بیخي لوی عالِم یې. او خلک دې لوی عالِم بولي. لکن احتیاط ډیر لازم دی.

پر خپل علمیت اعتبار کول روا نه دی. بلکه تتبع په حقه سره د خپل مذهب د کتابو او تلاش د اقوالو د مجتهدینو ډیره ضروری ده. مثلاً چې درویش حنفي دی خپل د احنافوؒ د مذهب متون کتابونه، او شروحې، د هغو او د فتاواوو کتابونه به مطالعه کوم. البته که د د مذهب په بعض کلا بو کښې اختلاف وي بیا به نور و کتابو ته د مذهب جوع کوم. دا وو ستا سې د سوال جواب خدای دې وکړي چې و مقصد ته ورسیږې:

مکتوب (۲)، جناب محترم مولوی عبید الله صاحب ایوبي، مونږ بعض علماء وینو چې ستا سره خلک ډیر حسد کوي، او غیبت خوځه کوي بهتانونه هم درباندي وائي، د دې سبب څه دی! محمد عبد الحکیم قند هاري.

ګرانه وروره: اول خو بایدتا د اسوال د دوی څخه کړی وای. ولې چې امکان لري چې خپل عیب خود او زه وما بین دی. خولږ یه په خپله نه وینی. نو شاید دوی به زما هغه عیبونه چې زه یې نه وینم در ته بیان کړي وای. او بیا به دې ما ته د هغو عیبو د بیان ولو مکتوب را استولای وای چې ما د هغو عیبو ځان څخه ازاله کړې وای لکن چونکه تا د ما څخه سوال وکړی. نو زه در ته وایم چې اول خو حسد، غیبت، بهتان، کبیره ګنهونه دي لکه چې د دې بیان ما په تفصیل سره په بلاغ المبین کې کړی دی. بهر صورت د غه حاسدان به په تقسیم الٰهي نه وي راضي یعني عاصي ته خدای پاک توله نعمتونه که نه ما د شان سره ورکړي ما عاصي ته یې راکړي دي. نو امکان لري چې د دوی

د حسد وغیره سبب به هم دغه وي.

گرانه ورورہ! حسد نوي مرض نه دی بلکه دامراض قدیمه وڅخه دی په بعض علماوو کښې د پخوا څخه موجود وُو. تذکره په عربي پوهېږي نود د مختار خطبه مطالعه کړه چې څومره په ده حاسدانو څخه په نظم او نثر کی ترړلي دي، چې د هغه یو بیت به زه درته ترجمه کړم او یو هم نثر به درته ترجمه کړم. ے

هُمْ یَحْسُدُونَنِي وَشَرُّ النَّاسِ کُلُّهُمْ ; مَنْ عَاشَ فِي النَّاسِ یَوْمًا غَیْرَ مَحْسُودِ.

یعنی دوی حاسدان د ما سره حسد کوی. او به د خلگو تولو هغه خوګ دی چې یوه ورځ په خلگو کی داسی تیره کړي چې د چاو سره حسد نه وي. ولې چې حسد په کمال وغیره باندی کیږي خوګ چې حاسد نه لري هغه کمال وغیره نه لري نو ځکه بد دي.

اَلْحَسَدُ حَسَكٌ مَنْ تَعَلَّقَ بِهِ هَلَكَ»

حسد یو ځوز دی چې په چاپوري ومښتی یعنی د حسد لاره په خپله کړه هغه یعنی حاسد د هلاک سره مخامخ کیږي. او داهم واوره چې د چا حسد، غیبت، بُهتان، ماته تاوان هم نه لري. ولې د خدای ء نعمت زما څخه خدای پاک اخستای سي، د حاسد په حسد نه اخستل کیږي، او د غیبت او بهتان په باره کی حکایت د حسن البصریؒ به درته ذکر کړم.

وائی چې یو ملا د حسن البصریؒ غیبت، یا بهتان، د بل سړي په مخ کښې کړی وُو. هغه سړي هغه غیبت و حسن البصریؒ ته راورساوه. حسن البصریؒ په ډیر احترام هغه ملا ته خط نوشته کړي او یو مقدار نبي خرما وې په هم خط او دا خرما وی په دخپل شاگرد په لاس ورکړي. او پس له سلامه په دستی ورته نوشته کړه. چې ستا ډیر تشکر چې تا خپلې حسنات ما حسن ته را واستولې او حسن په عوض د هغو څه لږ مقدار تمیرات درواستولې. کی قبولی کړی. ستا به ډیره مهرباني وي.

گرانه ورورہ! زه پخپله د هیڅ چا او د هیڅ عالم سره بغض او حسد نه لرم یعنی په لعنتو د خدای چې وه هغه عالم تي ورکړي وی» بلکه سره تواضع می وتیولو علماو ته

کښته دی. البته اعتراضات علمیه ووته حسد نه وائی ولې چې مبنی په تحقیق علمي دی.

پوهه سه: چې درویش وخپلو شاگردانو، مخلصانو، دوستانو ته داوصیت کړی دی چې که زما یو چا غیبت کاوه که دی دفع هوری کولای سوای خوی کړه او که دی نه سوای کولای زما ترغوږ و بی نه رارسوې. ولې چې زما زړه نه حقه دګروه مه راڅکوه» داووستا جواب». وَلْنَرْجِعْ اِلَی شَرْحِ الْکِتَابِ:

بَابُ الْإِمَامَةِ

باب دی په بیان د امامت کښی:

پوهه سه: چې مراد دامامت څخه امامت صُغری دی چې امامت د لما څخه دی نه امامت کبری چې خلافت او امارت د مسلمانانو دی، ولی د هغه بیان ځای علم کلام دی

قال المصنف **وَهِيَ اَفْضَلُ مِنَ الْاَذَانِ** او امامت افضل دی تر اذان کولو، کر څه هم د څخه تیره سوه چې د مؤذنانو غاړي به جګی وي تر نورو خلګو په ورځ کی د قیامت دلیل دا افضلیت د امامت دا دی چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم او خلفاء راشدین رضی الله تعالیٰ عنهم همیشه توب کړی دئ په امامت نه په آذان **پوهه سه** چې په مراقی الفلاح کی وائی: چې افضل داده چې امام دی مؤذن هم وي. او نه یا ته کړي په ده چې دا زمونږ مذهب دی وَکَانَ عَلَيْهِ اَبُوْحَنِیْفَةَ رحمه الله. لکن پر دی افضل کار پر تیولو احنافو کی عمل نه دی سوی. مګر نا در وخت په بعض مسجدو کښی والله اعلم بالصواب

قال المصنف **وَالصَّلٰوةُ بِالْجَمَاعَةِ سُنَّةٌ** او لمونځ په جماعت سنت دی» مراقی په شرح کی وائی فی الاصح لکن سنت دی مؤکد مشابه دی د واجب سره په قوت کی آه لکن سنت والی په ما سوا کی د جمعې

Maktaba Tul Ishaat.com

د لمانځه اود اخترو دَ لمونځو. ولي چي په هغوکي شرط دَجواز دی **پوښتنه:** چي په بَدائع کي وواي چي عام مشائخ داحنافو برد ي دي چي جماعت واجب دئ. اوپه تحفه کي هم ورته قول ذکر دی. اوپه جامع الفقر کښي وايي چي قوي داقوالو وجوب دجماعت دی. اوامام کرخيؒ وايي چي جماعت فرض کفائي دی. اود فقيه ابوجعفر الطحاويؒ اود بعض نورو احنافوؒ هم دامذهب دَی. اوامام احمد بن حنبلؒ وايي چي جماعت فرض عين دَی. لَکن دده مذهب دادی چي لمونځ جَلا فرض عين دی اوجماعت جَلا. نولمونځ منفرداً خو صحيح بولي. لکن ترك دجماعت بي لم عذره گناه کبيره بولي.

پوښتنه: چي امام طحاويؒ وايي چي جماعت په شرع کي يوامام غواړي اويوبل څوك که نروی اوکه ښځه. ځروی که مرئيي اوکه ځچني هلك وي چي عاقِل وي اوکه ملك وي اوکه پيری وی. په مسجد کي وي اويايه په صحرا کي اويا په کورکي آه

پوښتنه: چي په حَديث مبارك کي داسي راغلي دي چي رسول الله صلى الله عليه وسلم وايي. چي دجماعَت لمونځ بالادی تريوائځي ديوه سَتاسي پنځه ويشت [25] درجي اوپه بل روايت کي په اووه ويشت [27] دَرَجي. نو ددی حديث دَوَجهي جماعَت دی څوك نه پرېږدي بيله عُذره: **مسَئله:** که يو ښار والا يايوي غټهي قريه په اتفاق سره جماعت نه کاوه بيله عذره اول دی حکومت اسلامي دوی امرکړي په کولو دجماعَت کي قبول کړي خوخبره خلاصه سَوه. اوکي نه قبلاوه جنگ دی ورسره وکړي. ولي چي جماعت دشعائرو څخه داسلام دَی. اودَخواصو څخه ددين دئ. م، وفي القنية» چي اصح خبره داده چي دجماعَت کول په کورکي اوپه مسجد کي دواړه روادي لکن په مسجد کي افضل دَی.

فائِدَه: دجماعت لمونځ په سُنت والي کي تر سنة الفجر چي اقوي دسُنتو لمونځو دی هم ټينگ سُنت دی. اوجماعَت سنت عين دی په فرضي لمونځو کي مگر په تراويحو کي سنت کفائي دَی. اوپه وترو کښي دروژي مستحب دَی. اوپه نفلي لمونځو کښي چي په بلنه خلك نه راغواړي جماعَت روادی. اوکه په بلنه وو مکروه دئ.

تفريع: نوهغه چي لبعض نا پوه پيران خپل مُريدان په بَلنه راغواړي چي نن فلانۍ شپه ده ټاسي راسي چي صلوٰة التسبيح يا نوري نفل په جماعَت سره وکړو دشريعت خِلاف او مکروه کار دئ. اوشمس الائمة الحلوانيؒ وائي که تردرو کسانو پوري په يوه متنفل پسی اقتداء خلگ وکړي تداعي نه ده اوکه څلور يا بالاوه تداعي دَه. او په کسوف کي د لمر جماعَت په نفلو کي مستحب دی» در مختار» اوپه خسوف کي دسپوږمۍ مکروه دی» بحر رائق.

مسَئله: په نهر اودر، کي وائي که څوك يو وار بيله عذره دجماعَت لمونځ پرېږدی نوپه نيزد عرَاق دفقهاوو چي جماعت واجب بُولي. داسړی گناه گار يعني کبيره گناه دَه. اوڅوك چي دجماعَت لمونځ سُنت بولي. وائي په يوه لمانځه بي جماعته گناه گار نه دی بلکه چي عادَت په ترك الجماعَت وی نومرتکب دکبيری گناه دَئ. ط» اويو قول ضعيف چي په شرح کي دوهبانيه دجوامع الخمَله څخه نقل کړي دی دادی چي جماعت مستحب دی

مسَئله: جمهور دفقهاوو وايي چي ثواب دجماعَت په اشتراك دامام سَره په جزء کي کرڅه هم اخيره نا سته وی حاصِليږی»

مسَئله: فقهاءؒ په دې مَسئله کي اختلاف لري چي دَخپل محل دجماعَت لمونځ افضل دی. اوکه جماعَت دمسجد جامِع. اوکه دواړه مسجده جامع گاني وي. نو هغه قديم مسجد افضل دی. اوکه په يوه مسجد کي دجماعَت خلگ بيخي کم وو نو يوعالِم ته دا مستحب ده چي جماعَت ته دیْ هغه مسجد ورځي تاچي خلگ په ډېرسي

فضيلة الجمَاعَة

ورد في الحديث الصحيح انّهٗ اذا توَضّأ الرجل آه ترجمه څه وخت چي اودس تازه کړي سَړی يعني په کور کښي يا په بَل ځای کښي خارج المسجد اوښه اودَس تازه کړی. يعني مَراعات دفرائضو اود اسَه اود سُنتو اود مُستحبا تو وکړي. اوبيا ووزي دمسجد پرخوا. اودی نه وی ايستلي مگر لمانځه يعني دجماعَت دپاره خاصّةً يعني بَل مطلب دده نه وي. نودی نه پورته کوي يو گام مگر په داسي دَوَل چي دده پورته کيږي په سَبب دگام اختلو يوه دَرَجه

اوزَرَوَل کیږی دده یوه گناه. یعنی دهرګامه سره. اوچې لمونځ اداءکړی یعنی په جماعت همیشه مَلَکی دعاوَر ته کوی ترهغوچي د لمانځه په ځای ناست وی هغه دعاء داسې ده. اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلَيهِ اَللّٰهُمَّ ارْحَمْهُ:

او همیشه داسړی په لمانځه کی دی یعنی ثواب دَ لمانځه ورکول کیږی ترهغوچي دی د لمانځه انتظار باسې. یعنی دجماعت تروخت د مخه راغلی وی مګر یواځې لمونځ نه کوی بلکه دجماعت انتظار کوی. په بل حَدیث کښی راغلی دي. کرچا دماخستن اود سحار لمونځ په جماعت سره وکړی دوه نه ثوابونه لری لکړده چې ټوله شپه نفل کړي وي او په بل صحیح حَدیث کښی راغلی دی چې دیوسړی لمونځ دیوه سړی سره یعنی په جماعت بنه دي تر یوازی لمانځه. اود دوو کسانو سره بیا بنه دی تر یوه سړي. او هرڅومره چې دجماعت خلک زیاتیږی هغه لمونځ خوښ دی خدای پاك ته او په مضمرات کی داسی راغلی دي چې په تورات شریف کی د امتیانو دآنحضرت صَلی الله علیه وَسلم اودوی د جماعت په باره کښی چې ددوی دجماعت په صف کی دیونفر په زیاتیدو سره دیوه لمانځه ثواب زیاتیږی مطلب دا که په جماعت کی زر کسه وَه. هریوه ته دزرو لمونځو ثواب ورکول کیږی ،،

پوښتنه : چې حکمت الهی دجماعت دمحلی په مسجد کی نظام دالفت دی په مابین کی دمحلی والاوو. اویو بَل په جوړاونا جوړه پرکوی والی اومسافروالي باندي علم او وستل دي. اوزده کړه دیو عالِم دین څخه چې په مسجد کی تبلیغ او تعلیم کوي. اودجمعی دَوَرَځی دجماعت حکمت الهی دادی چې دمختلفو ناحیه وو او محلو مسلمانان سَره ووینی. اویو بَل سره محبت او الفت په پیدا سې. دا ددی کبَله چې په مخنی وخت کی به په ښار کی یَو څو محدودی جامع ګانې وې او ټولود ناحیه وو خلک او مسلمانان هَلته په هغو جامع مسجدو کی سره جمع کیدَل. او س چونکه پر ښځه ګامه مثلاً جامع مسجد دی دا هم دملایانو د جاه پرستۍ د سَببه څخه پیښه ده. او دعیش طلبی دپاره چې دوی نه غواړي چې دجمعی لمانځه بل ځای ځان زهیر کړی او یا په بَل

ملا پسی اقتداء وکړي. نوفوق الذکر حکمت دمابین څخه ولاړ نی. اود عیدګاه دجماعت حکمت الهی دادی چې د ټوله ښار مسلمانان پر یوه ډګر او صحرا سره راجمع سی او یو بل سره ملاقات او محبت وکړی. دا حکمت اوس ختم دی دکوټې په ښار کی. ولې هر ملاصاحب خپل جامع مسجد عیدګاه هم ګرځولې ده بخلاف دافغانستان، ولې چې په افغانستان کی د پخوا څخه په هر ښار کی یوه عمومي عیدګاه به وَه. اودا هم اوس په افغانستان کی په برکت د امارت اسلامی طالبان دا عمومي عیدګاها نې ډیرې په ښه توګه، او ډیرې فراخي چې دګرده ښار دَ خلکو ګنجائش لری جوړی سوی دي. ته وَر سره دکندهار لویه عیدګاه وو ینه وهکذا په نورو ښارو کې. د تعجب خبره خو دادَه چې په کوټه کښی هم دری عیدګاهې عمومي عیدګاهې د پخوا څخه سَته او س هَم. لکن مُلایانو صاحبانو ته دا زوَر ورکوی چې هغه لیرې ځای ته ځي اوبَله خبره دَادَه چې طبعًا دملاصاحِب دَاخوښه ده چې زه دي پر منبر ولاړ یَم. یا رښتیا یا نور څه داوایَم او خلک دې راته ناست وي. غوږ دی نیولی وي. حتیٰ چې لعضی جاه طلب مُلایان دی دجمعي یا عیدګاه دپاره په داسې مواعظو پسی تلاش کوي چې خلک ورته ژاړي کړ څه هم صرف دَرواغ وي.

مسَئله : کرد اختر په وَرځ عذر وو لکه ډیر باران یا سخت یخ چې خلک وعیدګاه ته دپاره د لمانځه صحراته تسواي وتلاى بیاد عیدګاه لمونځ په بعض غتو جامع ګانو کښی وکړی. لکن دا اوس په کوټه کښی بیله هیڅ عذره په لویو او کوشنیو جامع مسجدانو کی دعیدګاه لمونځ کیږی. شاید عذر بې جاه طلبی وي. دا وو د جمعې دَ لمانځه اجتماع دپاره حکمت الِهی.

اوپه اجتماع الحج کی حکمت الهی پر ثوابو بر سیرَه دا دي. چې د ټولې نړی څخه دامُت مسلمه وفدُونه، او هیئتونه په مبارکه مکّه کی دعربستان خصُوصًا په حرمینو شریفینو کی سَره ووینی په مختلفو رنګو په مختلفو ژبو وغیره، اود خدای جَل سُلطانه شکر وَ وایئ چې امت مسلمه دومره ډیر دی سره ددی چې ټوله کافران ددی امُت

Maktaba Tul Ishaat.com

مرحومه په قلع لیې دي. چې په سرکې دَهغوکافرانو، امریکا، لندن، او روس دی اونور

دا عجبه هم واوره
: چې قبل بعثة النبي صلی الله علیه وسلم ابرهه په نام باچا په یمن کی دمقابلی دپاره کعبه یمانیه جوړه کړې وه چې دحاجیانو مَخ دبیت الله نه دی کعبې ته را واړوي. نو په هغه وخت کی که څه هم اهل مکه ټول مشرکان وه. لکن دبیت الله نه دی کعبه ته را واړوی. لکن دبیت الله شریف خوخپل عزت او عظمت په دربار کی دخدای جل شانه موجود وُو. نو ځکه هغه کعبه یمانیه خدای جل سُلطانه دمابین نه ورکه کړه چې دسورة اَلَمۡ تَرَ کَیۡفَ آه کی دا قِصه په تفاسیرو کی او په تواریخو اسلامیه کی په تفصیل سره مذکوره دَه،

اما اوس اوس دبلوچستان په بعض اطرافو کی هَم لعض بی دینو خلګو د کعبه الٰهی په مقابل کی کعبه جوړه کړېده. چې خلګ حج ته ورځي او بعض بی دینه خلګ دغی مَصنوعی کعبې ته هم وَرځی. اَللّٰهُمَّ انزِل عَلیٰ هٰؤلاء الذینَ یقابلونَ کعبتكَ بلاءًا شدیدًا وعذابًا الیمًا وفتنةً قبیحةً حتی تفضی الی خرابِ تلك الكعبة ایضًا كما خربتَ الكعبة الیمانیة، ولله الامرُ من قبل ومن بعد وبذالک یفرح المؤمنون، هذا من الجمل المعترضة ولنرجع الی شرح الكتاب بعون الملك الوهاب، قَالَ المُصنفُ:

لِلرِّجَالِ الْاَحْرَارِ بِلَا عُذْرٍ وَشُرُوْطُ صِحَّةِ الْاِمَامَةِ
او داجماعت سنت دی نرو لره چې ازادوي بیله عذر شرعی. او شرطونه دصحیح والی دجماعت

لِلرِّجَالِ الْاَصِحَّاءِ سِتَّةُ اَشْيَاءَ
ده نرو چې په بدن جوړ وی شپږ شیان دي. **پوه سه** چې للرجال تعلق تر سنته پوري لري. **پُوهسَه** : چې دعذر شرعی بیان به مصنف وروسته وکړي اِنۡ شَآءَ اللّٰهُ، دنروالی په قید سره ښځی ووتلی. ولی دخالصو ښځو دپاره دا ټول وروسته شروط شروط نه دي. بلکه ذکورت شرط نه دی. نو امامت دښځی

ښځې لره روا دی سره دکراهته، او د اصحاوو نه مراد دادی چې معذوره نه وي لکه سلسل البول انفلات الریح وغیره، نو دغه عذر والاوو امامت پوبل ته روا دی

قَالَ **اَلْاِسْلَامُ** یوشرط اسلام دی. لکن داسې اسلام کافی نه دی چې دی ځان مسلمان بولي بلکه چې دده اسلام دقرآن مبارك نه خلاف نه وي. او د احادیث مشهوره وو نه هم خِلاف نه وي. نو ځکه په مراقی الفلاح کی وائي چې په هغه چا پسې لمونځ نه دی روا چې منکر وی دبعث بعد الموت نه او یا منکروی دخلافت نه دابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه. او یا دصحبت نه دخلافت دهغه. او یا پوچ وائی وشیخینو ابوبکر الصدیق رضو حضرت عمرؓ لکه شیعه گان، او یا دشفاعت نبوی صلی الله علیه وسلم نه، او یا دمعراج نه دعلیه الصلوٰة والسلام تر مسجد اقصیٰ پوري.

ولی چې دا اسراء په ایت شریفه سره ثابت دَه. او وروسته تر هغه په احادیثو مشهوره وو سره ثابت ده چې منکر یه ضال او مبتدع دی او یا د رُؤیة نه دخدائی او یا دعذاب القبر نه منکروی لکه معتزله، او یا منکروي دکرام کاتبینو نه **ښوونه** : که یو سړی خلګو ته څو زمانه امامت ورکړي او بیا یه ووَ ئیله چې زه کافروم، او یا یه ووَئیله چې ما په قصد تاسې ته بې اودسه لمونځ درکاوه. بر هغو خلګو راګرځول د لمونځو فسته ولی چې دی فاسق دی او دفاسق خبره ددین په چارو کی نه قبلیږی او دده فسق دده په اقرار سره ثابت شو، بخلاف دهغه چا چې امامت یه ورکړي او بیا وروسته فساد دلمانځه ورته معلوم شو یایه کالې مردار وه او یا یه اودس نه درلودی. نو که دی خلګو ته دغه اقرار وکړي پر هغو د لمانځه راګرځول لازم دئ. ولی چې ده پاك والي نه دکالو یاد اودسه نه ګاهی سري غافلوي. قَالَ

وَالْبُلُوْغُ
او بلوغ شرط دی. ولی چې دکوچنی لمونځ نفل دی او پر ده په شروع هم نه لازمیږی. نو اقتداء دبالغانو په هغه پسې نه ده روا. او بعض مشائخ دبلخ وائې چې امامت دنابالغه په تراویحو او په نفلو کښی روا دی لکن مختاره او مفتی به دا ده چې نه دی رَوا بلکه علامه مسکین وائې چې دحنیفیانو

قال **وَالعَقلُ** اوبل شرط عقل
په نیز په اتفاق په کشنی پسی لمونځ نه دی روا. اوکه کاهی به پرسدکیدی او کاهی به
دی ولی چې همیشه لیونی پسی لمونځ نه دی روا. اوکه کاهی به پرسدکیدی او کاهی به
لیونی وو نو د پرسدوالی په وخت کې لمونځ پسې روا دی اوکې عقل په سبب د شربید
مسکر لکه شراب، دلاسرورکړي وو په هغه پسې هم لمونځ نه دی روا ولې چې در،
لمونځ صحیح نه دی،، **مسئله:** په معتوه چې دماغ یې خراب وي اوګډې وډې وائي
هم لمونځ نه دی روا ط قال المصنف **وَالذُّكُورَةُ** اوبل شرط د امامت نروالی
دی. نو په ښځه پسې د نرو لمونځ نه دی روا. ولې چې په حدیث شریف کې راغلي دي.
اَخِّرُوْهُنَّ،، یعنې شاته یې کړي. او خنثیٰ یعنې نر ښځې په حکم کې د ښځې دی. او په اشباه
کې وائي چې اقتدا په خنثیٰ پسې صحیح روا ده لکن خلاف راې العامة ط،، در،، قال

وَالقِرَائَةُ اوبل شرط د امامت قرائت د قرآن کریم دی. په نیز د امام اعظم رح که
څه هم بروایت وي. اوپه ران وائي چې درې ایته شرط دی **تفریع**
نو اقتداء د قاری په هغې معنیٰ به په عرفي معنیٰ په امي پسې نه ده روا. او نه په ګونګي پسې
اونه ده روا اقتداء د امي په ګونګي پسې. ولې امي خو تحریمه قدر وېلای سي او ګونګي
یې نسي وېلای. نو امي حال پرقوي دی. او اقتداء ده امي په امي پسې یا د ګونګي په ګونګي
صحیح ده. قال **وَالسَّلَامَةُ مِنَ الاَعذَارِ كَالرُّعَافِ** اوبل شرط د
صحت د امامت سلامتیا د امام ده د عذرونو څخه (لکه د پزې وینې) ولې چې د معذور لمونځ
خو صحت یې د ضرورت د وجهې څخه دی نو د بل سړي اقتداء نه ده پسې روا. لکه چې ترپزه
به وینې راځي یعنې همیشه چې وخت د لمانځه بیله د پزې د وینو نه پر تیرېږي. اوکې
یو وخت تر پزه وینې راوتلی هغه معذور نه دی:
مسئله: که څوک پسکی او یا د هم نسي ګیره ولای هغه هم معذور دی. اوکې بول
هر کړي تو شیږي هغه هم معذور دی. **فائده:** که معذور سړي اودس تازه کړي
او عذر یې جاري وو. او یا پسله اودا سه هغه عذر ور پیښ سو نو اقتداء د بې عذره سړي

نه ده پسې روا. اوکې اودس تازه کړي او لمونځ هم وکړي عذر نه سو ور پیښ. نو د غه معذور
په حکم کې د جوړ دی **مسئله:** اقتداء د هغه سړي چې باد و نه یې جاري وي په هغه
سړي پسې چې بولې یې هم تو یېږي نه ده روا. ولې چې امام دوه عذره لري. او عکس یې
روا دی، ط، قال المصنف **وَالفَاءُ فَاءَةٌ** دا مصدر جعلي دی، امام مطرزي
وائي چې فاء فاء هغه سړي دی چې یو کلمه چې تر خوله را باسي په دېر تکلیف سره. او به
اول کې د را ایستلو د کلمي مشابه د فاء یې د خولې څخه راووزي ور وسته خبره پوره کړي
قال **وَالتَّمتَمَةُ وَاللَّثغُ** اوبل عذر تمتمه هغه سړي دی چې په خبرو کې ناحقي
تاء او میم څندې ویل کیږي. اوبل عذر لثغ دی. مراقي والا وائي چې لثغه په پیښ د لام
او په سکون د ثاء بنور و ل د ژبې دی د سین څخه و ثاء ته او یا د راء څخه و غین ته او یا مثل د
هغه **مسئله:** که الثغ په قرآن شریف کې داسې ایات نه سوای پیدا کولای چې د لثغ څخه
دی خلاص وي او ده کوشش وکړي او کاوه یې د شپې او د ورځې لکن اصلاح د خپلې
ژبې یې نه سوای کولای چې د لثغ د خلاص کړي نو د ی سړي لمونځ یواځې صحیح دی ولې دی
عاجز دی او د بل سړي چې الثغ نه وي لمونځ یې نه دی پسې روا. مراقي.
درویش وائي چې پر دې بناء د ډیرو اماما نو خصوصًا د صحرا د اماما نو امامت نه دی صحیح
ولې چې د دوی د ډیرو ژبې د لثغ څخه خالي نه وي. لکن په فتاوی خانیه کې وائي چې شیخ
ابوبکر محمد بن الفضل رح وائي چې دا لثغ امامت د غیرو پاره صحیح دی چې د غه کلمي دی لې وائي
په لثغ سره دا د ده لغت عربي دی. او دا مذهب مختاره کړي ابن امیر الحاج رح لکن دا مقید په
دې دی چې ده به خپل زیات کوشش کړي وي په دفع کې د لثغ لکن دفع لې نه کړي،، والله اعلم بالصواب
مسئله: د الثغ لمونځ هلته یواځې صحیح دی که څوک نه وو چې دی اقتداء پسې
وکړي او که د امامت سړي وو بیا د الثغ لمونځ یواځې هم نه دی صحیح،، در، ط، درویش
وائي چې چونکه د ډیرو عوام د لثغ سره مخامخ دی نو باید کوشش وکړي چې لمونځونه په جماعت

Maktaba Tul Ishaat.com

وکړی تا چې لمونځونه یې د اختلاف وو زيږ. په خلاصه کې وائي چې التغ د شپې او ورځې به پیر وخت د اکوشش وکړي چې د الثغ د ځانه ځخه لیرې کړي نو کله قدرت نه کې پیدا نو لمونځ یې صحیح دَی. او خلاصه والا زیاته کړی ده. که الثغ کوشش وکړی خوفائده یې نه کوله. نو بیا ده کوشش پرېښو نو هم یې لمونځ فاسد دی بلکه تر اخره د عمر به د اکوشش جاري لري.

لکن صاحب الذخیره وائي چې د اخیره خبره د خلاصې ډېره مشکله ده. ولې هغه عذر چې خلقةً د سړي همراه وی بنده تغیر نه سی ور کولای. نو د خلاصه د غه خبره د فتوی د پاره موزون نه ده. یعنی خولک عالم دی په دی سره فتوا نه ور کوی. او هم د دی سببه په خزانة الاکمل کی د فتاوی ځخه د فقیه ابو اللیثؒ یه داسی نقل کړي دی. که ځا اَلْحَمْدُ لِلّٰه پر ځای د اَلْحَمْدُ لِلّٰه وو ایه. یا یې کُل هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ. په ځای کی د قُـل هُوَ اللّٰه اَحَدُ؛ وَوایه لمونځ روادی. چې پر اصلي حرف یعنی الحَمْدُ لِلّٰه یا قُـل هُوَ اللّٰه اَحَد به یې قدرت نه درلودی او یا پـه ژبه کښی عارضی علت وو، او فقیه مذکور زیا نه کړیده کی په ژبه کی علت هم نه وو لکن پر خوله یې الحمد لِلّٰهِ یا کُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد وَرَغلی لمونځ یې نه فاسدیږي. حاصل دا دی چې امام طحطاویؒ وائي چې په شرط د دې چې لَثَغ بهٔ نه وی اختلاف دیٔ. نو ځکه پر فقهاوؤ نه دی ذکر کړي چې په دی کی لوی حَرَج دی. لکن بیا هم احتیاط د مَتن پر قول کی دیَ. او خلک باید د فقیه ابو اللیثؒ پـه فتوی د قرآن مبارک د صحیح زده کړی ځخه غافِل نه کړی»، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ» دَرویش»، قَـالَ المصنفُ

نِیَّةُ الْمُقْتَدِیْ الْمُتَابَعَةُ مُقَارِنَـةً لِتَحْرِیْمَتِهٖ

یو نیت کول دی د مقتدی د متا بعت د امام پـه داسی حال کی چې جوت بهٔ وی نـیت د ده د اَللّٰهُ اَکْبَرُ ویلو سره د ده **پـُوهـَسـَـه**: چې اقتداء په شریعه کی تړل د يٍ د سړي لمونځ خپل په لمانځهٔ پوري د امام»، ط»، **مسـَئَلـه**: اولیٰ دا ده چې داسی ووائيٍ چې زما نیت د شروع دی په لمانځه کی د امام سره او یا داسی ووائئ چې زما نیت د اقتداء په امام پسی

یعنی لفظ د لمانځهٔ یې نه وو ایه. په داسی نـیت کی اختلاف دی. صحیح دا ده چې داسی نیت هم کافی دی. وَلې چې د حاله ځخه دا معلومیږی چې دا سړی مقصود او اراده د لمانځهٔ د اقتداء لري. ولې چې ده ځان تا بع د امام وګرځاوه. او بعض فقهاءٔ وائي چې مقتدی به د دری شیا نو نیت کوی. یو خو نیت دی د نفس لمانځه، او بل تعیین دَ لمانځه یعنی دَمَا پښین یا مـازدیګر وغیره. او بل نیت د اقتداء دَی په لمانځهٔ کی په امام پسی

فـائـده: په قهستانی کی وائئ چې نیت د متا بعت شرط دی په غیر کی دَجمعیَ لمانځهٔ او پـه غیر کی د اختروُ لمانځه. ولې چې هغه بې جماعته نه دی رَوَا. نو نیت د اقتداء نـه غواړی»

مسـَئَلـه: امام لره په حق کی د ښځو نیت د دوی د امامت شرط دی. بیله نیت د امام د ښځو نه دی صحیح. **فـائـده**: ښه دا ده چې مقتدی په نیت کی تعیین د امام نه کوی چې فـلانی مُلا صاحِب پسی. ولې که د ی تعیین وکړي او امام هغه د ده معین کړي سړي نه وی د مقتدی لمونځ فاسد سُوءٔ ط»، **پـوهـسـه** چې مصنفٌ مقارنت د نیت دَتحریمې سره شرط وَباله. لکن په مَرَاقی کی کښی وَائیٔ که مقارنت حقیقةً وی یعنی ظاهرًا چې خوښکار خبره ده او که حکمی وی چې پـه مَابین کی د نیت او تحریمې بیګانه کار وَنه کړي. وَقـد تقدم ذکره فتذکرۂ قَـالَ المُصنفُ

وَنِیَّةُ الرَّجُلِ الْاِمَامَةَ شَرْطٌ لِصِحَّةِ اِقْتِدَاءٍ بِهٖ

او نیت د نر امام د امامت شرط دی د پاره د صحت د اقتداء د ښځو پـه ده پسی. یعنی که امام نیت د اقتداء د ښځو نه وه کړي د ښځی لمونځ نه دی صحیح. درویش وَائی په د ي مسئلې سره هغه مُشکل چې د حج په وخت پیداسی خلاص سُو. مشکل دا دی چې محاذات د میځی په صف کی د نره سره مفسد د لمانځهٔ د نر دی لکه چې مشهوره دَه، نو په اوس وخت کی که ځه هم حکومت سعودی د ښځو د پاره جَلا ځای ټا کلی دی. خو بیا هم بعضی ښځې په بې شرمې سره په هغه وخت کی چې د جماعت وخت نږدی وی طواف کوی نو د طواف په وخت کی جماعت و دریږی

اود غه ښځې د نرو په مابین کې پاتې سي چې تر هغه معین ځای پوري نه سي تلای په سبب دازدحام. نو د التي د نرو په مابین کې په امام پسې اقتداء وکړي. او پر یوه او بل باندې او تر مخه او تر شا د دوی نرو ولاړ وي. نو د محاذي نرو لمونځونه خو په قرار د مسئلې د محاذات چې به راسي، اِنْ شَاءَ الله، فاسد سوه. او د اسې کسان نو په سوو دي د دې چاره به څه وي.

بعض ملایان وائي چې د غه محاذي نرو ښځې ته ووائي چې خپل ځای ته ولاړه سه که هغې عمل د ده په امر وه نه کړي نو ښځه په لمانځه کې امام نه سوه داخله. او بیله اشتراکه د لمانځه محاذات د ښځې مفسد د نرد لمانځه نه دی. نو د نرو لمونځ صحیح دی او د ښځو دا فاسد دی.

درویش وائي: دیوه حج په موسم کې دامام څخه د حرم شریف پوښتنه وکړه چې آیا محاذات د ښځې د نر لمونځ فاسده وي هغه وویل نَعَمْ: نو ما ورته وویل چې د غه ښځې چې د حج په وخت کې د صفو د نرو په مابین کې ولاړې دا خود ښځې ډیرو نرو لمونځ فاسده وي. تاسې ولې د دې مشکل په باره کښې غور نه کوئ او د حل لاره یې نه لټوئ.! ده راته وویل چې زه فقط د هغو ښځو نیت د امامت کوم چې د حکومت په معین ځای کې لمونځونه کوي د مابین الصفوف د ښځو د امامت نه کوم بلکه په استثناء ښځې خارجوم د نیت څخه نو د غو ښځو زه امام نه یم او د غو ښځو لمونځ په ما پسې فاسد دی.

نو د غو ښځو اشتراك په لمانځه کې د نرو سره نسته. نو د نرو لمونځونه صحیح دي. ولې شرط د فساد د نرو د لمونځو اشتراك دی د نرو او ښځو په لمانځه کې. پس مشکل حل سو. وَلِلّٰهِ الحَمد

مسئله: محاذات د ښځې مفسد د لمانځه د نر دی که څه هم د جمعې په لمانځه کې یا د اختر په لمانځه کې وي یعنی از دحام عذر نه دی. او دا هم د اکثرو فقهاوو مذهب دی مَرَاقی، او د نهر د خلاصې څخه نقل کړی دی چې په د غو درو لمونځو کې نیت د امام د امامت د ښځو شرط نه دی. یعنی محاذات په د غو لمونځو کې مفسد د نرد لمانځه نه دی، ط، لکن درویش وائي چې استثناء د د غو لمونځو ډیره مشکله ده. ولې چې عبارات د معتبرو کتابو د فقهې شریفې مطلق دي. وَاللهُ أَعْلَمُ

اوبل شرط د امامت د صحت

وَتَقَدُّمُ الاِمَامِ بِعَقِبِهِ عَنِ المَامُوْمِ والی دی د امام په پنده سره ترمقتدی. قَالَ فِی المَرَاقِی که چیری د مقتدی پنده خو تر امام وروسته وه لکن پښه یې اوږده وه چې گوتې یې د امام تر گوتو تیرې وې نو پروانه لري. لکن امام طحطاوي وائي چې داشرط یعنی تقدم د امام د پندی تر مقتدی چې مصنف شرط گنړلی دی خلاف د مذهب حنیفي دی، حتی که چیری امام او مقتدی بیخي برابر سره ودریږي هم په اقتداء صحیح ده. او که چیری لمونځ په اشاره د سر کاوه نو که سر د مقتدی د امام تر سر وروسته وو اقتداء یې صحیح ده. که څه هم پښې د مقتدی تر پښو د امام د مخه وي. او چیری بالعکس وي د مقتدی لمونځ نه دی صحیح، کذا فی الزاہدی:

او په درمختار کې وائي: که امام او یو مقتدی وو نو برابر دې سره ودریږي لکن پر راسته طرف دې امام وي. او که یوه ښځه په امام پسې ولاړه وي که څه هم زوجه وي یا محرمه وي هغه به څنګ تر شاه دریږي. **مسئله**: سر ته اعتبار نسته چې په سجده کې دامام سر وړاندې دی او که د مقتدي او که سره برابر دي. بلکه پښو ته اعتبار دی په تقدم کې لکه مصنف چې وائي یا په محاذات لکه طحطاوي چې وویله. قَالَ المُصَنِّفُ

وَلَا يَكُوْنُ اَدْنٰى حَالًا مِنَ المَامُوْمِ او بل شرط د اقتداء دا دی چې امام به کم نه وي تر مقتدي په لمانځه کې، مثلاً امام نفلی لمونځ کوي او مقتدی د فرضي لمانځه اقتداء پسې وکړي **پوهسه**: چې اعتقاد ته د مقتدي او امام اعتبار نسته بلکه لمانځه ته اعتبار دی. نو که مقتدی لمونځ د وترو په واجب بولي. او امام یې سنت بولي اقتداء یې پسې روا ده ولې چې لمونځ خو یو دی، اعتقاد ته اعتبار نسته کما مَرَّ آنِفًا. او د غه رنګه روا دی نیت دیوه سنت کوونکی په بل سنت کوونکی پسې، لکه یو سړی چې سنت د ماخستن کوي او امام یې سنت التراویح ګڼړي. او یا یو سړی سنت بعدی د ماپښین کوي په هغه چا پسې چې سنت قبلی کوي کذا فی البحر الرائق،

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: که یوه سړی دماز دیګر لمونځ کاوه او دوه رکعته یې وکړه لمرولویدو نو په اخیرو رکعتو کی یو سړی د ماز دیګر د لمانځه اقتداء پسی وکړه. اقتداء یې روا ده ولی لمونځ یو دی که څه هم د غه دوه رکعته قضا لږی د امام په باره کی. کذا نقله الشبلیؒ عن الزیلعیؒ وکذا نقله القهستانیؒ: قال

وَاَنْ لَايَكُوْنَ الْاِمَامُ مُصَلِّيًا فَرْضًا غَيْرَ فَرْضِهٖ

او نه به وی امام لمونځ کوونکی د یوه فرض غیر د فرضو څخه د مقتدی. لکه یو د ماپښین لمونځ کوی او بل د ماز دیګر لمونځ. او یا د وارو د ماپښین لمونځ کوی لکن د دوو ورځو علت یې دا دی چی مقتدی خو د امام سره ځان شریک بولی. نو باید چی لمونځ سره یو وی تا چه د مقتدی لمونځ په ضمن کی د امام د لمانځه راشی.

فائده د یوه نذر کوونکی لمونځ په بل نذر کوونکی پسی نه دی روا. ولی چی امام له ولایت د نذر په مقتدی نشته. نو دده لمونځ متضمن د مقتدی د لمانځه نه سی کیدای. او که یو سړی ۲ رکعت لمونځ مثلاً په ځان نذر کړی او بل سړی قسم واخستی چی زه به دوه رکعته لمونځ کوم. نو اقتداء د ناذر په د غه حالف پسی نه ده روا. ولی چی د ناذر حال قوی دی تر حالف، »م« او که یو چا داسی وویله چی ما هغه دوه رکعته لمونځ نذر دی چی فلانی یعنی امام په ځان نذر کړی دی. بیا اقتداء پسی صحیح ده ولی چی لمونځ د دوارو یو سو. قال المصنفؒ:

وَاَنْ لَايَكُوْنَ الْاِمَامُ مُقِيْمًا لِمُسَافِرٍ بَعْدَ الْوَقْتِ فِىْ رُبَاعِيَّةٍ وَلَا مَسْبُوْقًا

او بل شرط د صحت د اقتداء دا دی. چی نه وی امام مقیم چی لمونځ ورکوی و مسافر ته پسله وتلو د وخت او نه به مقتدی مسبوق وی. **پوه سه**: چی د اولی مسئلی صورت دا دی چی یو سړی مقیم څلور رکعته لمونځ یې کاوه. او په لمانځه کی وخت ووتی. په پاته رکعتو کښی مسافر په ده پسی اقتداء

وکړه اقتداء یې نه ده صحیح. ولی که د غه مسافر که په اوله شفعه کی په ده پسی اقتداء وکړی نو د میانځ ناسته په امام واجب ده. او په مقتدی باندی فرض ده. ولی چی دده لمونځ وکړی نو د میانځ ناسته په امام واجب ده. او د ده اخیره ناسته ده. او که د غه مسافر په شفع ثانی کی په ده پسی اقتداء وکړی. نو د غو دوو رکعتو قرائت په مسافر مقتدی فرض دی او امام ته نفل دی. نو اقتداء د مفترض په متنفل پسی لازمیږی. او که چیری مسافر مقتدی په امام پسی اقتداء وکړه په وخت کی د ننه او بیا وخت تیر سو نو اقتداء یې صحیح ده. او په مسافر باندی امام د لمانځه لازم دی. نو د دی وجهی مصنف وویل بعد الوقت، او د رباعی قید په د دی سببه وویله چی ثلاثی او ثنائی لمونځ خو په سفر او حضر کی یو ډول دی.

او دوهمی مسئلی یعنی وَلَا مَسْبُوْقًا، صورت دا دی چی امام به مسبوق نه وی مثلاً یو سړی په امام پسی نیت وکړی. او د امام یو رکعت یا دوه رکعته د ده څخه تیر سوی وه. امام چی سلام وګرځاوه نو مسبوق خپل قضا ئی رکعتو ته ولاړ سو. پاء د ی وخت کی بل سړی په مسبوق پسی اقتداء وکړه د اقتداء یې نه ده صحیح. قال.

وَاَنْ لَا يَفْصِلَ بَيْنَ الْاِمَامِ وَالْمَاْمُوْمِ صَفٌّ مِنَ النِّسَاءِ

او بل شرط د صحت د اقتداء دا دی چی فاصل به نه وی په مابین کی د امام او مقتدی صف د ښځو، دلیل د دی مسئلی دا قول د علیه الصلوٰة والسلام دی که څوك وو یعنی یو مقتدی چی په مابین کی د ده او د امام واله وه یا لاره وه. او یا صف د ښځو. نو مقتدی له لمونځ نشته یعنی اقتداء په داغسی امام پسی نه ده روا. تفصیل د دی مسئلی دا دی که چیری صف حائل د دری ښځی وی. د دوی تر شا د درو نرانو لمونځ فاسد دی تر اخیره پوری د صفو هر څو صف چی وی. او د اغه رنګه د یوه سړی چی د دوی پسی راسته وی او د ه یوه سړی چی د دوی په چپه طرف وی هم یې لمونځ فاسد دی» قال المراقی وعلیه الفتوی» او بعض فقهاءؒ وائی چی دری ښځی صف کامل دی. نو د تولو

صفوونو چې د دوی ترمنځ وی که د دوی سره برابروی او که نه وی اقتداء پر د غه امام
پسې نه ده روا. وهذا مذهب مرجوح: او که ښځې دوی وي نو فاسد دی لمونځ د دوو
نارینه د دوی وښاته ولاړ وي. فقط »
یعنی نه تراخیره پورې د صفونو حتی چې د وروسته صفونو اقتداء صحیح ده مګر یوه نارینه
پر استه بغل او دیو نر چه پر چپ اړخ د دغو دوو ښځو وی هم فاسد دی. او که ښځې
یوه وه نو د دروکسو لمونځ فاسد دی یو ترشا او دوه پر بغلو د دې. **پوښتنه**
د ښځو یوه بغل او بل بغل دیوه سړي لمونځ فاسدیږی او د بغلو د نورو خلکو لمونځ
ولی نه دی فاسد **جواب** هغه دوه خلک چې د دوی پر یوه بغل او بل بغل دی چې
لمونځ یې فاسد سو، هغه دوه خلک حائل وګرځیده د ښځو او نورو خلګو ترمابین. نو سره د
حائل خود نو لمونځ نه فاسدیږی لما تقرر فی الفقه: قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاَنْ لَّا يَفْصِلَ نَهْرٌ يَمُرُّ فِيْهِ الزَّوْرَقُ وَلَاطَرِيْقٌ يَمُرُّ فِيْهِ

الْعَجَلَةُ اوبل شرط د صحت د اقتداء دا دی چې فاصل به نه وی په مابین کی د امام او مقتدیانو
وَاله. داسی واله چې په هغې کښې کښتی چلیږی یعنی چلیدای سی که بالفعل
چلیږی او که نه! او داسی ولې نه نهر کبیر وائی بناء علیه که په مابین کی د امام او مقتدیانو
په اصطلاح یو لښتی وو او یا په اصطلاح واله وه چې د کښتی کښتی د چلید و په کښې امکان
نه وو نو هغه مانع د اقتدا نه دی» او د غه رنګه په مابین کی د امام او مقتدیا نو به لویه لار چې
ماله په کښې تیری دای سی نه به وي. بیا مراد صرف امکان د تیریدو دی بالفعل تیریدل شرط
نه دی»، مصنفؒ په مراقی کی وائی چې مذکور فرق د لوی ولې او د کچنی صحیح دی»، او بعض
فقهاءؒ وائي چې کچنی واله هغه ده چې شریکان د اوبو د دی شمیرل کید ای سی. او لویه واله
هغه ده چې د شریکا نو حساب یې نه وی معلوم» **مسئله**: که په مذکوره لار متصل
صفونه ولاړوه وه بیا اقتدار صحیح د ټولو. او دَه لاري څخه هغه لار مراد ده چې و تلی لیار
وی او که بنده وي. په ځای هغه مانع د اقتداء نه ده کذا قال السيدؒ فی الشرح وسیأتی تفصیل
ذالک»

یقول الفقیر سامحه القدیر قال الامام الطحطاویؒ فی شرح مراقی الفلاح ص۲۳۷ اعلم انه
اذا اتصل المصلون وقاموا فی الطریق فان قام واحد منهم فی عرض الطریق و اقتدی
بالامام جاز وکره. اما الجواز فلانه لم یبق بینه وبین الامام طریق تمر فیه العجلة.
واما الکراهة فلانه صلی فی ممر الناس، فلو قام الواحد خلف هذا المقتدی وراء الطریق
واقتدی بالامام لا یصح اقتدائه لان صلاة من قام علی الطریق مکروهة مع کونه
غیر صف. فصار فی حق من خلفه کالعدم و لا یعد هذا اتصالا ولو کان علی الطریق
ثلاث جازت صلوتهم وصلاة من خلفهم. لان الثلاث صف فی بعض الروایات وعند
اتصال الصفوف لا یکون الطریق حائلا ولو کان علی الطریق اثنان، فعلی قیاس قول
ابی یوسفؒ تجوز صلاة من خلفهما لانه جعل المثنی کالجمع. وعلی قیاس قول محمدؒ
لا تجوز انتهی»
اقول لما کان هذه العبارة تنفع العلماء و الطلباء خاصةً وهم یعلمون ترجمتها ترکنا
ترجمتها بالافغانیه، وهذا هو السر فی نقل هذه العبارة العربیه علی خلاف وضع قانون
هذا الشرح یعنی اللغة الافغانیة، ثم نشرع فی حل الکتاب وما ثله علی القانون المذکور
واقول آه: **پوښتنه**: چې لار او واله که څه هم په مسجد کښې وي هم مانع د اقتداء
دی. کذا فی الدرر قال المصنف فی المراقی چې مانع د صحت د اقتداء،» پر مذهب مفتی به
دومره فاصله ده چې دوه صفه پکښې ځائیږي. قَالَ الطحطاوی چې په فتاویٰ خانیه
کښې وائي چې فرجه د دوو صفونو ترمابین یو یا دوه زراع ده. لکن یوه سړي چې د تحدید
په مابین کی د ځای د سجدی د وروسته صف بیا تر ځایه پوری د ولاړي د بل صف په
ټولو صفونو کی. ولې چې یو ذراع شرعی د ځایه څخه د ولاړي د یوه صف بیا تر ځایه پوری د
ولاړي د بل صف کافی نه دی. او بعض فقهاءؒ وائي چې یو صف قدر فاصل بلل کیږی.
فائده دا ټوله بیان مربوط په لار پوری دی چې د مسجد څخه د باندې وي. اما په مسجد کی
دننه هر څو فراخه فضاء نې ده صفونو ترمابین وی مانع د اقتداء نه ده. که څه هم په
دی فضاء کی ډیر صفونه ځائیږی. ولې چې مسجد ټوله دیوی بقعی حکم لري. کذا فی الاشباه والنظائر

Maktaba Tul Ishaat.com

نو دی سَبَبه په فتاوی هندیه کی وَائی. امام په محراب کی پر لما نځه ولاړ وی او یو سړی دَ مسجد دپاسه څخه اقتداء پسی وکی لمونځ صحیح دی. وَفی الطحطاوی قال البزازیؒ چی مسجد که څه هم ډیر لوی وی فاصله یه مانع داقتداء نه دَه. لا فی الجامع القدیم لخوارزم ولی چی دَ دَغه مسجد شریف څلرمه حصه پر څلور زره تنبو وَلاړه دَه. چی د دغه مسجد شریف تهولی تنبی شپاړس زره ته رسیږی.

او داغر رنګ مسجد شریف دقدس شریف چی مشتمل دی پر دری مسجده، الاقصیٰ، والصحرا، والبیضآء، کذا فی الحلبیؒ. لکن د دی دوو مسجدو استثناء په دی سَبب ده چی په دی دوو مسجدوکی د ډیری مسافی له سَببه د امام حال پر سړی پوشیده کیږی چی صفوف متصل نه وی. ورنه دغه دوه مسجده که څه هم هر څو غټ دی یو مکان بلل کیږی. **مسئله:** عیدګاه هم پر مسجد قیاس ده او د جنازی د لمانځه ځای هم پر مسجد قیاس دَی. کذا فی النوازل والخلاصة والخانیة **فائدَه:** فناء مسجد حکم د مسجد لري نو اقتداء په امام پسی پر دغه فناء کښی روا ده که څه هم صفوف سره متصل نه وي. قَالَ المُصنفؒ

وَلَاحَائِطٍ يَشْتَبِهُ مَعَهُ الْعِلْمُ بِانْتِقَالَاتِ الْإِمَامِ

او نه به حائل او فاصِل په مَابین کی د امام او مقتدیانو یو لوی دیوال وی چی د هغه سره پوشیده کیږی پر مقتدی علم پر انتقالاتو دَه امام یعنی د رکوع څخه سجدی ته وَغیره. قَالَ

فَإِنْ لَمْ يَشْتَبِهْ لِسَمَاعٍ أَوْ رُؤْيَةٍ صَحَّ الْاِقْتِدَاءُ فِي الصَّحِيحِ

اوکه نه پوشیده کیدی پر مقتدی علم پر انتقالاتو د امام په سَبب د اوریدو دَ بانګ د امام او یا په سبب د لیدَلو د امام نو اقتداء پسی صحیح دَه. په صحیح مذهب کی.

فائدہ: او دا مذهب مختار دی د شمس الائمة الحلوانیؒ دلیل یه دا دی چی آنحضرت صلی الله علیه وَسَلم په حجره کښی دعائشه رض لمونځ کاوه او خلګ به پر مسجد کی وه دده مبارک د لمانځه سره بی سَم لمونځ کاوَه. **تفریع** بناء پر دغه اقتداء په

امام پسی دَ مسجد حَرام په هغو کی صحیح دَه. چی متصل په مسجد حرام پوری وی او په دروازو کی دَ مسجد حَرام د دباندی خوا څخه صحیح ده چی حَال دَ امام پوشیده نه وي په سبب د اوریدو او یا د لیدو او په مابین کی د امام او مقتدی نه وی منګر ډیوال. شمس الائمة الحلوانیؒ وائی چی د هغه سړی اقتداء په امام پسی ده مسجد الحرام صحیح دَه چی پر بام د کور وَلاړ وی. او کور یه متصل په مسجد الحرام پوری وي. او دغه رنګه رَوا ده اقتداء د هغه په کور کښی چی کور یَه متصل په مسجد الحرام پوری وی او یو دیوال یه په مابین کښی وی او یا تکبیر د امام اوری او یا د مکبرانو کذا ذکر فی التجنیس وَالمزید" البته د هغو خلګو اقتداء په امام پسی د مسجد الحَرام نه ده صحیح کی څه هم امام وینی او یا یه آواز اوری چی د هغه سړی د منزل او مسجد الحرام ترمَابین څړک وی چی موټران په کښی تیریږی او راتیریږی.

ښهانه فائدَه: په اوسنی زمانه کی چی په مسجد الحَرام کی بلکه په ټولو مساجدو کی د ښارونو د مسلمانانو بلکه په لعض لویو قریو کښی هم د لوی آله (لاوډ سپیکر) نصب شویدَه. نو د امام تکبیرونه ډیر لیری ځایه څخه هم اوریده کیږی بلکه مکرمة المکرمة کی د جبل ابی قبیس په لمن او پر سر کورونه هم تکبیرونه د امام او ټوله حالات یه ورمعلومیږی بلکه بعض کورونو والا امام المسجد الحَرام وینی هَم. وهکذا فی المساجد الاخر ببلاد المسلمین التی نصبت فیها هذه الآلة. نو اوس مانع د صحت د اقتدا دا دی چی په مابَین د مسجد الحرام او یا د بل مسجد د دنیا لوی لوی لاری او څړکان ستَه، او یا کورونه یه په مسجد الحرام او یا نورو مسجدو پوری متصل نه دي. یعنی چی غیر د دیواله دِبل فاصل نه لري.

فائدَه: بعض مسَاجد د ښارونو بلکه پخپَله په مسجد الحرام دوه دری چهته او منزله وی او امام په لاندی مسجد کی په محراب کی وَلاړ وی او خلګ به دوهم یا دریم منزل کی وَلاړ وی اقتداء یه په امام پسی صحیح دَه بالشرط المذکور،،

پوښتنه: چی مصنفؒ کی د درود وَئیلی دی، چی صحیح دَا دَه چی اعتبار په عدم صحت کی. د اقتدا صرف اشتباه لره د حال د امام پر مقتدیانو" او در مختار هَم

داخبره تائید کړې دی. او په معتبرو کتابو کی د فقهی شریفې هم وړته خبره راغلې ده
لکن سره د هغه په د، ر او بحر، رائق کی وائی چی اختلاف د مکان د مقتدی او د امام
هم مانع د اقتداء دی. نو په هغه کور کی چی په مسجد الحرام پورې متصل هم وی او
اشتباه د حال د امام هم نه وی په کښې اقتداء د کوره څخه په امام پسی د مسجد الحرام
روا نه ده لاختلاف المکان» لان المسجد الحرام کله بقعة واحدة والبیت بقعة أُخرٰی؛

مسئله: که یو لوی خلګو جماعت کاوه لکن په ما بین کی د امام او مقتدیانو دومره
فاصل موجود وو چی دوه صفه په کښې ځائیدلے اقتداء صحیح ده. ولې چی دا بیت
حکم د یوه مسجد لري. وَقد مر ان الاقتداء فی المسجد یجوز مع وجود الفصل المذکور
کذا قال السید فی شرحه» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَنْ لَّا يَكُوْنَ الْاِمَامُ رَاكِبًا وَّالْمُقْتَدِيْ رَاجِلًا (او بالعکس) اَوْرَاكِبًا

اوبل شرط دادی چی داسی به هم نه وی چی امام

غَيْرَ دَابَّةِ اِمَامِهٖ

(لاختلاف المکان) دی پر یوه ګوډه سپور وی او مقتدی پیاده
وی. او یا مقتدی سپور وی او امام پیاده وي. او یا امام پر یوه دابه سپور او مقتدی
پر بله دابه سپور وي. ولې چی مکان د امام او مقتدی سره مخالفت. او که پر یوه دابه سره
سپاره وو اقتداء یې صحیح ده. ولې چی مکان د امام او مقتدی یو دی. او امام محمد
وائی چی که دابه د امام او مقتدی ډیره سره نږدې وی اقتداء صحیح ده، استحسانًا»

وَاَنْ لَّا يَكُوْنَ المقتدی فِیْ سَفِيْنَةٍ وَّالْاِمَامُ فِیْ اُخْرٰى غَيْرَ مُقْتَرِنَةٍ بِهَا

اوبل د صحت د اقتداء شرط دادی چی نه به وی سپور مقتدی په یوه کښتۍ کی. او امام
په بله کښتۍ کی چی د مقتدی کښتۍ سره نه وی جُفته. **پوهسه**: چی جوت والی دوه
صورته لري. اول چی دا دوی کښتی په رسی یا کیبل سره تړلی وي. او دوهم دا چی په مُده کی د
لمانځه دواړې کښتی سره مښتی وی کی څه هم سره تړلی نه وي. او ظاهر دوهم احتمال دی.» ط

وَ بِهِ د، ر المصنفُ حیث اورد عبارةً محتملة للاحتمالین المذکورین «د، ر» لکن دلیل ددی مسئلی
فقهاء د او ائی چی که فاصل په ما بین کی د دغو دوو کښتی وي. نو دا ګله چی د امام او مقتدی
په ما بین کی یو والی وي. هغه خو مانع د صحت د اقتداء وو کما مَرَّ نو دا هم مانع د صحت د ده
اقتداء دی.
ولی غور کول پکار دی چی که چیری فاصل د دغو دوو کښتی و کم وی تر هغو ولې چی د مخه
تیر سوه یعنی چی زورق په کښې چلیدای سي. نو بیا ید اقتداء صحیح نسي. اما فقهاء مطلقًا د
دوو کښتیو په ما بین کی اقتداء منع کړیده. الا ان یقال چی په مذکوره صورت کی مقارنت
حکمی سته وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ» د، ر» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاَنْ لَّا يَعْلَمَ الْمُقْتَدِيْ مِنْ حَالِ اِمَامِهٖ مُفْسِدًا فِیْ زَعْمِ

اوبل شرط د صحت د اقتداء دادی چی علم به نه لري. مقتدی په حال کی د امام د داسی شئ

الْمَاْمُوْمِ كَخُرُوْجِ دَمٍ اَوْ قَیْئٍ لَمْ يُعِدْ بَعْدَهٗ وُضُوْءَهٗ

چی هغه مفسد
د لمانځه وی په عقیده کی د مقتدي. یعنی که څه هم امام د غه شئ مفسد نه ګڼي په خپل مذهب
که چی د امام یو ځای څخه وینی و بهیږی او یا امام مِلْأُ الفم قی وکړي. او بیا یې اوبه نه ګرځول
سی اودس یعنی مقتدی په خبر وي چی امام پس له د غه شیانو اودس نه دی کړي نوی.
امام طحطاویؒ وائی چی د غه رایه معتمده د فقهاوو ده چی اعتبار رأی لره د مقتدی ده
او پر قول مرجوح چی اعتبار رأی لره د امام دی نو اقتداء یې صحیح ده. که څه هم هغه شئ
مفسد د لمانځه وی په نیز د مقتدي. حاصل دا چی په مذهب کی د امام شافعیؒ خروج د دم
سائل او یا قئ مِلْأُ الفم اودس نه ماتوي. او د حنیفیانو په نیز اودس په ماتیږی نو چی
مقتدی حنیفی وی او امام شافعی المذهب وی او دغه کار پیښ سی امام ته او بیا وروسته
تر کار امام اودس هم نه کی تازه نو د حنیفی اقتداء نه ده پسی روا. او دې لره نور مثالونه
هم سته چی امام تر څلرمی د سر کمه مسح وکړي، د شافعیؒ په نیز کافی ده او د حنیفیانو په

Maktaba Tul Ishaat.com

نیز خلرمه قدر مسح د سر فرض عملی ده. نو بیا هم اقتداء نه ده پسې روا. او یا مقتدی ولیدی چې امام په مستعملو اوبو اودس تازه کړی چې حنفیان یې روا نه بولي بیا هم اقتداء د حنفي نه ده پسې روا. او یا د امام سره قدر ما نع د نجاست وو. بیا د حنفي اقتداء نه ده پسې روا وغیر ذالک: من المسائل المختلفة بیننا وبین المذاهب الأخر"

مسئله: که چیرې امام پس له غوښې یا نو دوه زمانه د مقتدی څخه غایب سو چې په هغونه زمانه کښې اودس تازه کیدای سي وای نو صحیح دا ده چې اقتداء پسې روا ده لکن سره د کراهت. وجه د جواز حسن الظن دی چې امام به د غه زمانه کې اودس تازه کړی وي. لکن کراهت هم تحریمي دی. او په وروسته ځای کې وجه د کراهت دا ده چې یقین په شک نه زائلیږی. م، ط، در"

مسائل شتّٰی لهذا البحث

مسئله: که مقتدی په امام خبر وو چې خلاف د مذهب حنفي خو دی لکن دا نه وو ورته معلوم چې دا امام یا یو ځای وینې سوې دی او یا یې اودس نه دی تازه کړی. او نور هغه شیان چې تیر سوه نو اقتداء پسې روا ده په لحاظ د حسن ظن بالمؤمنین خصوصًا العالِمُ" **مسئله** که مقتدی ته دا معلومه وه چې امام احتیاط نه کوي د اختلاف په ځای کې یعنې مراعات د نورو مذهبونه کوي. نو اقتداء نه ده پسې روا. د مراعات او احتیاط صورت دا دی چې مثلًا دی قئی ووهی نو اودس تازه کوي د حنفي مذهب په مراعات. او یا یې وینه وبهیږی که څه هم د ده په مذهب کې اودس یې نه ماتیږی لکن د پاره د مراعات د مذهب حنفي مثلًا دی اودس تازه کوي وغیرذالک" لکن پوه سه: چې د بل مذهب مراعات نه کول خاص دی په شرطو او فرضو کارو کښې نو اقتداء نه ده پسې روا. او که چیرې مراعات د شرطو او ارکانو یې کاوه د نورو مذهبو د کبله. لکن په واجباتو کې مراعات د نورو مذهبونه کاوه مثلًا په اولو دوو رکعتو کې ضم د سورت نه کاوه بلکه صرف په اَلْحَمْدُ

لله شریفه سره یې اکتفاء کوله او یا مثلًا په اوله ناسته کې تر التحیات زیاتی دعاوي په قصد کولې. او یا په سهوه سره لکن سجده سهوه یې بیا نه کوله. او نور د دی قسم واجباتو کې مراعات د بل مذهب نه کاوه. نو اقتداء خو پسې صحیح ده لکن سره د کراهة التحریم.

تُوضیح: په مذکوره صورت کې لمونځ دی مقتدی یوازې وکړي ښه دی. او کې په دغسې امام پسې وکړي ښه دی. امام طحطاوی وائي یوازې لمونځ دی سرې پر ښه دی. او که امام مراعات د نورو مذهبو په شرائطو، ارکانو، واجباتو کې کاوه مګر په سنتو کارو کښې مراعات نه کاوه. مثلًا پر دوهم رکعت یې ناسته د استراحت کوله او یا به تسبیحات د رکوع او سجدې تر دریو واره کمې وئیلې. اقتداء پسې صحیح ده سره د کراهة التنزیه مګر اقتداء افضله ده. او د دی مسئلې څخه دا په طریق اولی معلومه سوله چې په مستحبو کارو کښې که امام مراعات د چا د مذهب نه کوله یعنې اقتداء پسې صحیح ده بلکه افضله ده. وفی المراقی: وان علم انه یحتاط فی مواضع الخلاف یصح الاقتداء به فی الاصح" او په مجتبی کې وائي چې اقتداء پسې مکروه ده لکن دیری په شرح کښې د مجتبی وائي چې اقتداء نه د پسې مکروه کله د مقتدی پر دې علم وو چې امام د مقتدی د مذهب حنفي په باره کښې احتیاط کوي.

تَفْرِیع په حرمینو شریفینو کې چونکه حجاج ته حال د امام د مسجدینو شریفینو هیڅ نه دی معلوم نو د دی سببه اقتداء پسې روا ده بد ګماني به سړی نه کوي.

مسئله: په حرمینو شریفینو کې د ماز دیګر لمونځ تر یک چندی وروسته تر دوچندی د مخه چې د امام اعظم ابوحنیفه په نیز د ماز دیګر وخت نه دی داخل سوی. آیا حنفي حاجیان به جماعت پریږدی او پسله دوچندی څخه به یوازې لمونځ کوي او یا بي په اوطانو کښې په جماعت کوي دا سې ښه دی او که لمونځ په لوی جماعت کې وکی یعنې په امام الحرمین پسې وکړي دا ښه دئ.

جواب: چونکه د یارانو مذهب دا دی چې تر یک چندی وروسته د ستي وخت د ماز دیګر داخلیږی. او دا هم یو روایت دی د امام اعظم څخه نو چونکه خروج د مذهبه

ځغږ بالکلیة نه لازمیږی. نو دی کبله د اعظیم الشانه جماعت د حرمینو شریفینو باید سرچی نه پریږدی سه ومن مذهبی حب الدیار لاهلها :: وللناس فیما یعشقون مذاهب ::

مسئله: که مقتدی د امام په داسی کار خبر وو چی په مذهب کی د امام اودس په ماتیدی لکن د مقتدی په مذهب کی اودس نه په ماتیدی، لکه مسه کول د ښځی او یا د ذکر مسه کول او نور داعنسی کارونه. چی حضراتو اماماتو په نیز اودس په ماتیږی او د حنیفیانو په نیز اودس نه په ماتیږی. او مقتدی په دی هم خبر وو چی امام نه دی په دغه کار خبر. نو په نیز د اکثرو فقهاوو اقتداء پسی روا ده او امام هندوانی وائی چی اقتداء نه ده پسی روا. ولی چی که امام خبر سی نو خپل لمونځ خو به باطل بولی نو د مقتدی لمونځ تبعًا باطل شو. او د اول مذهب چی اصح هم دی دلیل دادی. چی مقتدی خو د امام لمونځ روا بولی او د مقتدی د لمانځه په باره کښی د ده خپله رایه معتبره ده. فوجب القول بجواز صلوة المقتدی خلف هذا الامام کذا فی التبیین وفتح القدیر والرازی.

پوښتنه: تا داخبره وکړه چی مقتدی په دی هم خبر وو چی امام په دغو کارو آه د دی خبری څه فائده ده. **جواب** د دی خبری فائده داده که مقتدی په دی خبر وو چی امام په دغو مفسدو کارو ده په مذهب کی خبر دی نو د ده لمونځ نه دی پسی صحیح بلکه مقتدی لکه سات چی تیروی. او نه د لمانځ نیت جازم کولای سی فلا وجه لصحة صلاته «م، در»

مسئله: که د مقتدی غالب گمان داوو چی امام اودس نه دی کړی او یا داگمان وو چی د امام پر کالو نجاست مانع د صحت د لمانځه دی یعنی تر قدر د درهم نو خو اقتداء په دی نه وی پسی روا. او که څه وروسته تر لمانځه مقتدی ته معلومه سی چی زما هغه گمان پر امام باندی غلط وو نو داغر لمونځ خو به نه دی روا. ولی چی اعتبار د ده ظن لره دی نه نفس الامر لره. بلکه بیره د کفر پر ستته «ط، س، در» **مسئله**: که په هغو کارو کی چی د مقتدی په مذهب کی مفسد وه او د امام په مذهب کی نه وه مفسد لکن په وخت کی د اقتداء مقتدی د امام مقلد سو.

او یا په هغو کارو کی چی د امام په مذهب کی مفسد وه. لکن د مقتدی په مذهب کی نه وه مفسد. لکن امام د مقتدی د مذهب مقلد سو بیا خو لمونځ او اقتداء صحیح ده «لاتحاد معتقدها، طحطاوی».

مسئله: که دوو کسانو عادلانو مقتدی ته وویل چی امام بولی وکړی او اودس په نه کی تازه پر لمانځ وړ یدی د مخه تر اقتداء او خو اقتداء یه نه ده پسی روا او پس له لمانځه څخه وو دغه لمونځ په مقتدی راگرځوی. **مسئله** که امام و مقتدیانو ته وویل چی یو یا دوه لمونځونه می بی اودسه درکړی دی. نو امام عدل او نبه سړی وو. نو د ده قول دی ومنی او هغه لمونځونه دی راگرځوی. او که امام فاسق وو لازم نه ده چی د ده په خوله عمل کوی او لمونځونه راگرځوی. لکن مستحبه ده چی راوی گرځوی **مسئله** او که مقتدی خبر سو د امام په لمانځ کی په یو مفسد د لمانځ، «لایجوز الاقتداء به اجماعا» ط»

قال ______ او صحیح ده اقتداء د اودس والا

وَصَحَّ اِقْتِدَاءُ مُتَوَضِّئٍ بِمُتَيَمِّمٍ یعنی مقتدی په تیمم والا پسی یعنی امام **پوهسه**: چی دا مذهب د امام اعظم او د امام ابویوسف دی. او امام محمد وائی چی اقتداء یه نه ده پسی صحیح **فائده**: اقتداء د اودس والا وو په امام متیمم پسی صحیح ده په اتفاق د جنازی په لمانځ کی، «م» او مبنی د دی خلاف پر دی ده چی خلیفه والی د تیمم دا او د اسر ځغږ په څه سبب دی شیخان وائی چی خلیفه والی په مابین کی د آله دا او د اسه چی اوبه او د آلی د تیمم دی چی خاوره دی. او دا دوی آلی سره برابری دی لقوله تعالی: فَاِنْ لَّمْ تَجِدُوْا مَآءً فَتَيَمَّمُوْا صَعِيْدًا طَيِّبًا، نو اقتداء مذکوره صحیح ده. او د امام محمد مذهب دادی چی خلیفه والی په مابین کی د طهارتینو دی او د اشك نسته چی طهارت د متیمم خو کمزوری دی تر طهارت د متوضی. ولی چی متوضی پښی پریولی دی او پر سر یه مسح کړی ده. او متیمم صرف پر مخ او لاسو مسح کړی. نو په دغه اقتداء کی بناء بناء د قوی پر ضعیف لازمیږی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما آمین

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ **وَغَاسِلٍ بِمَاسِحٍ** او صحیح ده اقتداء دغاسِل په مسح کوونکی پسی یعنی که ماسِح د موزی وی او که د سکٔذی وی او که ماسح د توکړه پر یوی دانی باندی چی نو وغیره نه څنډی بهیږی "لِاسْتِوَاءِ حَالِهِمَا" "ط".

پوهـه: چی ماسِح پر جبیره اولیٰ دی تر ماسِح د خُف (موزی) ولی چی مسح د جبیری پر منزله دغسل دما تحتها دی "بخلاف الخف" چی مسحه یه تکه پر یوله د پښی نه ده.

فائده که د دانی څخه وینی یا نوونه وغیره بهیدل بیا نو دی معذور دی نو په ده پسی اقتداء نه ده روا مگر د بل معذور چی د هغه غوندی وی یا تر ده ادنیٰ وی حالاً "ط" قَالَ المصنفؒ فی نور الایضاح:

وَقَائِمٍ بِقَاعِدٍ او صحیح ده اقتداء د ولاړ سړی په ناست پسی. ولی بیهقیؒ په کتاب المعرفة کی روایت کړی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم د مرض موت په وخت کی د ماپښین لمونځ ده شنبی په ورځ یاد یکشنبی په ورځ په ناستی خلکوته ورکړی او خلک ټول ولاړ وه. او د دوشنبی په ورځ د سحار لمونځ یې په ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه پسی یو رکعت وکړی. او ده چی سلام وګرځاوه علیه السلام د اول رکعت قضاء راوړه. وَمَاتَ فِی ذَالِکَ الْیَوْمِ صلی الله تعالیٰ علیه وسلم "مر، در".

فائده: دا مذهب د شیخینو دی او امام محمدؒ وائی چی اقتداء د قائم په قاعد پسی نه ده روا. ومذهب الشیخین اولیٰ واقویٰ دلیلًا کما مر فی الحدیث. لکن امام طحطاویؒ په حواله د برهان ته قول د امام محمدؒ احوط بولی. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ قَالَ

وَبِاَحْدَبٍ او د غه رنګه روا ده اقتداء د ولاړ په کوږه پښت سړی پسی. نو که چیری کږوالی د ده وحدته د رکوع نه وو رسیدلی خو اقتداء پسی روا ده په اجماع پر صحیح مذهب. او که کږوالی وحد ته د رکوع رسیدلی وو مگر ده چی به رکوع کوله. لن به یه نور هم ملاکږه کوله نو په نیز د شیخینو اقتداء پسی روا ده. او دا هو دی مذهب د عامو فقهاوو وَهُوَ الاصح. وَقال محمدٌ لا یجوز الاقتداء المذکور، امام زیلعیؒ شارح الکنز وائی چی په فتاوی ظهیریه کښی وائی وهو الاصح، واذا اختلف التصحیح یجوز العمل به

بکل من المذهبین قَالَ المُصنفؒ:

وَمُومٍ بِمِثْلِهِ او د غه رنګه صحیح ده اقتداء د اشاره کوونکی په مثل سړی د ده که د واړه امام او مقتدی لمونځ په اشاره کوی په ناسته. او که دواړه په پروت کی اشاره کوی او یا امام په ناستی اشاره کوی او مقتدی په پروتی او عکس یې نه دی روا قَالَ المُصنفؒ:

وَمُتَنَفِّلٍ بِمُفْتَرِضٍ

او دا غه رنګه روا ده اقتداء د نفلی لمونځ کوونکی په فرضی لمونځ کوونکی پسی. ولی چی دا بناء ده د ضعیف پر قوی باندی. **سوال:** متنفل خو په څلورو رکعتو کی قرائت وائی او هم ضم د سورت کوی. او پر امام باندی په اولو دوو رکعتو کی قرائت فرض دی او ضم د سورت واجب نه دی په اخیرو دوو رکعتو کی. واجاب عنه المُصنفؒ فی المراقی بقوله وَصَارَ تبعًا لِاِمَامِهِ فِی القِرَاءَةِ" یعنی دی د امام تابع وګرځیدی په قرائت کی: قَالَ المُصنفؒ:

وَاِنْ ظَهَرَ بُطْلَانُ صَلٰوةِ اِمَامِهِ اَعَادَ او که ظاهر سو باطل والی د لمانځه د امام یعنی په فوات د شرط یا د رکن. را ودی ګرځوی خپل لمونځ. یعنی پر مقتدی لازم دی راتګ په فرضو سره لقوله علیه الصلوٰة والسلام: اذا فسدت صلوٰة الامام فسدت صلوٰة مَن خلفه" قَالَ المُصنفؒ:

وَاِذَا طَرَءَ المُبْطِلُ لَا اِعَادَةَ عَلَی المَامُومِ او که عارضی پیښ سو باطلوونکی د لمانځه د امام نو اعاده نسته پر مقتدی، لکه چی امام نَعُوذُ بِاللّٰه پس د جماعت ورکولو مرتد سی" او یا امام د جمعی په ورځ وخلکوته د ماپښین لمونځ څلور رکعته په جماعت ورکړی. او بیا امام د جمعی د لمانځه و خواته روان سو مقتدیان نه وو ولاړ. نو د امام د ماپښین لمونځ خو باطِل سو په سبب د سعی د جمعی لمانځه ته او د مقتدیانو لمونځ پر ځای دی را ګرځول یې نسته،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه: الناشر مکتبة القراءة والتجوید. کانسی روډ کوټه

وَيَلزِمُ الإِمَامَ إِعلَامُ القَومِ بِإِعَادَةِ صَلَاتِهِم بِالقَدرِ المُمكِن

او لازمه ده پر امام هغه امام چې ده ته فساد دخپل لمانځه معلوم سو خبره وَل دقوم يعنې هغه کسان چې په ده پسې د هغه لمونځ کړی وی په هغه انداز چې امام ته ممکنه وي که سړی پسې استوي او يا کاغذ پسې ليږي. قَالَ المُصَنِّفُ:

فِي المُختَارِ په مختاره مذهب کې ولې چې حضرت علي رضي الله تعالیٰ عنه خلگو ته لمونځ وَرکړی. وروسته وده ته معلومه سوه چې ما اودس نه دړ لودی. نو حضرت علي هم خپل لمونځ راوګرځاوه او خلگ يې هم امر کړه په راګرځولو د لمونځو. او هغه حديث چې مصنف په مراقي کښې راوړی دی چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم خلگو ته لمونځ وَرکړی. او بيا راغلی "ترو يبنتانو يې" او به تو يېر ذلې يعنې غسل يې کړی وو بيرته يې لمونځ راوګرځاوه د صحيح کتابو سره برابر نه دئ.

چې په سنن ابي داؤد کې داسې راغلی دي. چې يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم په لمانځه کې داخل سو يعنې تحريمه يې وَويل او بيا خلگو ته اشاره وکړه چې پر خپلو ځايو اوسي او بيا ورو سته راغلی او ترسر يې او به تو يېر ذلې نو جماعت يې وَرکړی. او بيا ئې داسې وفرمايله: إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثلُكُم، يعنې يو شی می هير ېږی: وَإِنِّي كُنتُ جُنُبًا، يعنې زه جنب وم او جنابت مې هير وو، او د دې حديث څخه خو دا نه معلومېږي چې خلگو هم په لمانځه شروع وَرکړې وه. ولې چې ممکنه ده چې آنحضرت صلی الله عليه وسلم دې پس له تکبير تحريمه څخه بلا مهلته داخبره کړې وي. چې خلگو لا شروع په لمانځه نه وه کړې. او په مسلم شريف کې خو صريح دا موږ راغلي دي چې نه عليه السلام او نه قوم په لمانځه شروع کړې وه ولې چې د مسلم روايت داسې دئ. فأتى النبي صلى الله عليه وسلم حتى قام في مصلاه قبل ان يكبر قام فانصرف آه. وفي الدراية لا يلزم الامام الاعلام اذا كانوا قوما غير معينين. وفي الخزانة: لانه سكت عن خطاء معفو عنه وعن بحرام وان كانوا مختلفا فيه والفتوى على قول المصنف: مرد، ط

فَصلٌ يَسقُطُ حُضُورُ الجَمَاعَةِ بِوَاحِدٍ مِن ثَمَانِيَةَ عَشَرَ

شَيئًا، ساقطيږي حضور و جماعت ته په يوه د اتلسو[18] شيانو يوه سره: چې مصنف مطلق حضور د جماعت د لمانځه وَوايه. چې په راتلو نکو شيانو کې چې ۸ اشيان دي ساقطيږي. يعنې که سړی جماعت پرېږدي ګناه ګار نه دی. د دې سبب چې د جمعې د لمانځه جماعت ته او د اخترو د لمونځو و جماعت ته هم شامل سي. نو د جمعې د وړځې لمونځ خو خلور رکعته و کړي چې د ماپښين لمونځ دی. او د اخترو لمونځو نه عوض نه لري پاته سوه، ط، در، قال المصنف:

مَطَرٌ شَدِيدٌ وَبَردٌ وَخَوفٌ وَظُلمَةٌ وَحَبسٌ وَعَمًى

اول ساقطوونکی د جماعت سخت باران دی يعنې لږ څاڅکي ساقطوونکي نه دي ۲ او يخ دی لکن مطلق يخ نه دی. ۳ او بل بېره ده د دښمن څخه يا د غله څخه او يا پر کور باندې يا د سپو څخه ۴ او بل تاريکه ده، ۵

وَفَلجٌ وَقَطعُ يَدٍ وَرِجلٍ وَسَقَامٌ وَإِقعَادٌ وَوَحلٌ

او بل دا دی چې سړی بندی وي. ۶ او بل ړوند والی دی، ۷ او بل ابلج دی، ۸ او بل دا چې يو لاس

وَزَمَانَةٌ وَشَيخُوخَةٌ وَتَكرَارُ فِقهٍ بِجَمَاعَةٍ تَفُوتُهُ وَ

يا يوه پښه يې پرې وي. ۹ او بل مريضي ده، ۱۰ او بل دا دی چې شل وی او پر کښېنا ستو وی، ۱۱ - او بل دا چې په لار کې خټې او

حُضُورُ طَعَامٍ تَتُوقُهُ نَفسُهُ وَإِرَادَةُ سَفَرٍ وَقِيَامُهُ

بِمَرِيضٍ وَشِدَّةُ رِيحٍ لَيلًا لَا نَهَارًا

چکړ وی. ۱۲ - او بل دا چې تلای نه سي ړنې دی، ۱۳، او بل سپين ږيری توب دی، ۱۴، او بل دا چې د چا سره تکرار د فقه

Maktaba Tul Ishaat.com

کوی چی که د دی جماعت ته ولاړ سی هغه تکرار یا تیږی. ۱۵. او بل دا چی ډوډی حاضره سی چی د ده زړه ډیر شوق ورته کیږی. ۱۶. او بل دا چی اراده د سفر لری. ۱۷. او بل دا دی چی دیوه مریض په خدمت بخت وی. ۱۸. او بل دا دی چی سخت باد وی لکن د شپی نه د ورځی،،

تشریحات وتوضیحات

پوښتنه: چی دسقوط دجماعت معنا دا ده که سړی دیوه د دغو ۱۸ عذرونه، سړی جماعت پریږدی گناه کار نه دی. او که سړی د عذره جماعت ته ځان ورسوی بیا ثواب ډیر لری. اول عذر چی باران دی د هغه په باره کی په شرح کی د مشکوة شریف دا سی راغلی دی چی راوی وائی چی مونږ ورسره د رسول الله صلی الله علیه وسلم په زمانه کی د حدیبیه. نو پر مونږ باران شروع سو په دا سی توگه چی زمونږ د څوتهولاندی خوا یه نه کړه لنده. نو یوه نعره کوونکی ناره وکړه د علیه السلام لرخوا څخه،، صَلّوا فِي رِحَالِكُمْ،، تاسی لمونځونه په خپلو اوطاقو کښی وکړی،، نو د دی حدیث شریف په رنړا کی چی په بعض نسخو کی د نور الایضاح چی ما هم دا نسخه را نقل کړیده. قید د شدید ضائع دی. اَللّٰهم الا ان یفرق بین الحضر وَالسفر فتامل. او په دوهم عذر یوری چی برد شدید،، دی ملا علی قاری په شرح کی د موطا حرّ شدید هم جوت کړی دی،،

پوښتنه: چی دبرد شدید او حر شدید اندازه په ظن یوری د مبتلا به اړه لری، او دریم عذر چی خوف دی عام دی که د ظالم څخه پر ځان بیریږی او یا پر مال بیریږی او یا موټر او قافله ځندی نجی. که دی جماعت ته ولاړسی. او یا پر دی بیریږی چی کرزه جماعت ته ولاړسم کورته به می غله ورسی. او یا یه ماینه او کوچنیان بیریږی که دی د ما خستن و لمانځه ته ولاړسی. او پنځم عذر چی حبس دی چی مظلوم وی ناحقه یه بندی کړی وی. او یا پور قرض بندی کړی وی او

دی مسکین وی د پور دور کړی توان نه لری. او که غنی وو بیا په جماعت نه کولو یه غاړی بندی دی ولی خوپور دی ورکړی ځان دی خلاص کړی.
اوشپږم عذر چی ړوند والی دی د حضرت امام اعظمؒ عذر دی که څه هم فائده لری ولی قدرت بالغیر ته اعتبار نسته. او یا رانوائی کی قائد درلودی معذور نه دی په ترك د جماعت گناه کار دی،، او اوم چی فلج دی هغه هغه اندازه دی چی دی فلج سړ تنگ نه سی کولای. نو کی فلج صرف پر لاسو وو پښی یه تیاری وی بیا دغه فلج عذر نه دی، او وم عذر چی یو لاس یا یوه پښه به یئ پری وی هغه دا دی چی پری لاس او پښه په پر یوه طرف نه وی چی ده داسی پری والی سړ د بغل پر لکړی تگ ممکن دی. او که دواړه پر یوه طرف وه هغه په طریق اولیٰ عذر دی. ولی تگ وربسی مشکل دی. او ط قطع دیوی پښی هم عذر بولی. او بل عذر چی چکړ دی معنیٰ دا ده چی باران هم ورېږی. ولی چی د باراننوؒ عذر خو تیر سو. او ۱۳ عذر چی سپین بریری توب دی دا سن معین نه لری بلکه فقهاوؒ دومره قدر وائی د سپین بری توب د سببه د جماعت د تلو طاقت نه لری.
او هغه د انسانانو په بدنو پوری اړه لری. زه چی په خپله اوس تقریبا د ۸۳ کالو یم لکن الحمد لله جماعت ته تگ را باندی تکلیف نه دی. او ۱۴ عذر چی تکرار د فقهی شریفی دی. مروائی چی. لَا نحو واللغة وهکذا الصرف وغیرها،،
نو د دی څخه دا معلومیږی چی مراد فقه څخه دلته فقه مصطلح یوازی نه ده. بلکه علم عقائد او علم تفسیر او علم حدیث ته هم شامله معنیٰ مراد ده،، او امام باقلانیؒ چی دا عذر په فقه مصطلح پوری خاص کړی دی لکن الاول اولیٰ،، مر، ط،ح، در،، لکن دا خبره دی هم ستا په غوږ کی وی چی همیشه به په بهانه د تکرار د فقه شریفی جماعت نه پریږدی. او کی دا غسی کوله هغه معذور نه دی بلکه قاضی دی تعزیر ور کړی. او شهادت یه نه قبلیږی. مگر نه که د ده دا عذر وکړی چی امام د مسجد مبتدع دی یا وهابی دی او یا سلفی دی او یا په اصطلاح اهل حدیث دی چی دا ټوله مراعات د مذاهبو نه لری. او یا مراعات د شرائطو او د ه ارکانو د لمانځه نه کوی بیا معذور دی په ترک کی د جماعت،،

او تخلسم عذر چې حضور د طعام وُو. چې دونه اندازه وږی وی چې په لمانځه کی یې فکر
په ډوډی کی وو. او حضور د لمانځه د ځندی فوت کیدئ. **مسئله**: که سړی ډیر
وږی وو خو تر هغو دی ډوډی نه راوړی چې جماعت کیږی. او که چیری ډوډی راوړه
سوه لکن داسی خواړه وه چې که دی جماعت وکی هغه خرابیږی لکه شوروا. یا غوړمه چې ډیره
سړیدله. بیا هم دا عذر دی جماعت دی پریږدی.

مسئله: که په وخت کی دَ قیام د جماعت غولو، یا بولو یا باد ډیر په عذاب کی
چې په لمانځه کی به دَ هغو په دفعه کولو اخته وو. نو اول دی هغه کار وکړی که څه هم جماعت
ځندی فوتیږی. او ۱۶ عذر چې اراده د سفر ده مراد دادی چې په برابر ولو د اسبابو د
سفر اخته وو چې جماعت ته یې فرصت نه د ر لودی. او ۱۷ عذر چې قیامه د مریض دی
د هغه معنا دا ده چې هغه مریض بل څوك بنځه خادم نه لری. او ده په غیبوبت سره و هغه
مریض ته ضرر رسیږی نو جماعت دی پریږدی او د مریض خدمت دی وکړی. قال

وَاِذَا انْقَطَعَ عَنِ الْجَمَاعَةِ لِعُذْرٍ مِنْ اَعْذَارِهَا الْمُبِيْحِ لِلتَّخَلُّفِ

اوچې سړی قطع شی د جماعت څخه په سبب د عذر د هغو اعذارو چې ده ته یې تخلف د
جماعت روا کړی وو **فائده**: نو که د دغه سړی په زړه کی محبت د جماعت کولو
وو لکن عذرونه یې مانع سوه. قال المصنف رح **یَحْصُلُ لَهٗ ثَوَابُهَا** حاصلیږی یعنی د رب
جل جلاله د خوا څخه ثواب د جماعت دَ لمانځه ور کول کیږی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام
انما الاعمال بالنیات ولکل امرئ مانوی» یعنی چې نیت دَ سړی کار خیر وی لکن مانع
بلا اختیاره ور ته پیښ سو. نو که څه هم هغه عمل د خیر و نه کی خدای جل جلاله ثواب د هغه
عمل د خیر ورکوی رواه البخاری» د ر م، ط غ، او امام عسکری روایت کوی په امثال کی
او بیهقی هم په شعب الایمان کی روایت کوی. لکن وائی چې اسناد یې ضعیف دی دا نو
چې هغه دا خبره وعلیه السلام ته پوره ته کوله. نِيَّةُ الْمُؤْمِنِ اَبْلَغُ مِنْ [illegible]

کی، خَیْرٌ من عمله» د ر، ط، مقاصد حسنة، د ر و لیش وائی چې چونکه خدای جل سلطانه
ونبی اکرم صلی الله علیه وسلم ته جَوَامِعُ الْکَلِم ورکړی وی. نو د غه حدیث مبارك سره
د اختصاره د لفظ د څو معناوو محتمل دئ. ۱ چې د جماعت په لمانځه پوری مربوط معنا ده
هغه دا ده. یو سړی چې د جماعت سره یې محبت وو سره د ختو او چکړو چې عذر مبیح
وو ده جماعت لمانځه ته د مسجد په خوا روان سو په لار کی و ښوییدی خوږ سو کالی یې په
ختو سوه خو بیا هم جماعت وکړی د دغه سړی تر عمل د جماعت دکور نیت او محبت
خیر دئ. چې لمونځ یې کور کړی وای. ولی چې په هغه نیت او محبت سره خدای ثواب د ده
ور کاوه. د دی خوږیدو او ښوییدو څخه به هم خلاص سوی وای.
یا مثلاً سپین ږیری چې عذر مبیح یې هم در لودی لمانځه ته د جماعت روان او وَتی او په لار کی
ډیر زحمت پر تیر سو. خو جماعت یې وکړی د دغه تر عمل د جماعت دکور نیت او محبت
ابلغ دئ. ولی ثواب د جماعت بیله خطره خدای ور کاوه. او یا مثلاً یو سړی سره د دې
چې د بولو یا غولو څخه په تکلیف وو مګر بیا هم ځان ټینګ کړی جماعت یې وکړی د دغه
سړی تر عمل د جماعت هغه محبت او نیت یې خیر وو. چې عذر یې ایسته کړی وای او
بیا یې لمونځ تنها کړی وای. او یا مثلاً یو سړی د ډیره باران سره سره مسجد ته را روان سو.
په لاری یې کالی لانده سوه چې ور سره په تکلیف سو د دغه سړی د پاره د جماعت تر عمل
د کور محبت او نیت چې لمونځ یې یوازی کړی وای خیر وو. ولی چې ثواب د جماعت خو
حاصل وو ده کور په لمانځه کی. او د کالو د لندیدو څخه هم خلاص وائی» وهکذا الامثال الاخر
فتفکر فیها»
او دا هم احتمال لری چې دا حدیث مبارك دی عام وی په خاصه موضوع کی د جماعت دی
نه وی. او په مؤمن کی لام د پاره د جنس دی. نو معنی د حدیث مبارك داسی ده چې نیت
د یو جنس مؤمن تر عمل د بل جنس مؤمن خیر دی. لکن دا قضیه پر دی تقدیر مهمله
ده په قوت کی جزئیه ده کلیه نه ده. مثلاً یو مؤمن یو نفلی خیرات ونه کوی. او یا نفلی حج ونه
کوی او یا نور د دغه قسم څخه کار ونه کوی لکن د ریا او سمعی د پاره. بل مؤمن وی چې مسکین

Maktaba Tul Ishaat.com

وی د خیراتو توان نه لری لکن نیت یې داوی چې که ما دنیا درلودلای ما به هم داسې خیراتونه
او نفل حجونه کولای. نو دغه مؤمن دغه نیت خیر دی تر هغه ریائی کار و د هغه بل مؤمن
ولې چې په نیت کې خو ریا نسته. او د ریا کار د عمل خیر ثواب نسته، او هغه مسکین د دغه
نیت ثواب خدای ورکوی. او یا معنی د خیریت ده نیت د مؤمن تر عمل د مؤمن دا ده چې
نیت بې عمل صحیح دی په نفلی کارو کې او عمل بیله نیت ثواب نه لري، لکه یو سړی د ولې
غاړې په گرمۍ کې مخ او پښې او لاسونه پرې مینځي. او سر یې هم لوند لاس تېر کړي د گرمۍ
د سببه نیت د اوداسه یې نه وي. نو د دی سببه د اوداسه ثواب خو یې نسته که څه هم مفتاح
الصلوٰة خودی. بخلاف د دی که دغه سړي نیت د اوداسه د پاره د ثواب کړي وای لکن
د اوداسه کم ما نع ورته پیښ سي د نیت ثواب یې ووه، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا اَرَادَهٗ رسول الله صلی الله
علیه وَسلم:

په زړه پورې بیان

داهل السّنة والجماعت د زړه ارمان

پوښتنه: چې په دی او سو کلو کې یوه طالب علم یوه رساله ما ته راوړه چې نوم یې
"تحقیق العقائد"، حاشیه شرح العقائد پر نوشته وو، طالب علم خو مطالعه کړې وه
او هغه بعض ځایونه چې مصنف د رسالې پر علامه تفتازانیؒ او پر مفتي الثقلین عمر النسفیؒ
او بلکه پر ماتریدیه وو او اشاعره وو. او پر ما یې هم حکم د مشرك کړي وو د طالب نښانی
کړې وه. نو ما چې مطالعه کړه تو له رساله حیران ورته ولاړم چې دا څونه جسور او
بیوقوف انسان دی چې پر دی دوو لویو لو داهل السنة والجماعت یعنی ماتریدیه
او اشعریه وو څونه په بیباکی او بې شرمه توگه اعتراضونه کړي دی. او هیڅ د خدای
جل جلاله څخه نه دی شرمیدلی. نو ځانه سره می فکر وواهه چې د دی رسالې په باب کې
سړي څه باید وکړي اخیر الامر په مشوره د بعض شاگردانو د ا رایه راته پیدا سوه چې

د دی رسالی باید رد او جواب وسی. ولې چې د دی خائن مصنف پر دی رساله نوشته
کړې وه "تحقیق العقائد حاشیه شرح العقائد"، نو هم ملا او طالب دا گمان کیدی چې
په دی رساله کې به د عقائدو د اهل السنة والجماعت ښه تحقیق وي،، او د شرح العقائد
د مشکلاتو به ښه حل پکښې وي. ولې چې مضمون یې چا ته نه وو معلوم، نو بعض ملایانو
او طالبانو هغه رساله رانیول ورو سته چې مطالعه کړه سوه پوه سوه چې دا رساله خو یې
حقیقت کې "افساد العقائد ده"، او د شرح العقائد هیڅ حل نسته، پکښې بلکه د
شرح عقائد تخریب ده، او زما شاگردانو ما ته مشوره جدی راکړه چې که د دی رسالی جواب نه نوشته
نه سی. نو د دی جاهل حوصله نوره بلنده کیږي او خپلو تا بعانو ته به وائي چې وگوري زما
د رسالی عقائد او احکام حق وه ځکه هیڅ سني عالم ما ته جواب نه کړی را. که څه هم دا مثل دی
چې سپی به غاپي لکن قافله دی تیریږي، لکن چې سپی ډیر غاپي هغه سپی باید یو څو
ډبرې سړي پر سر ووهي. نو څو نکه ما یې د غوښتو او و څو کی پر عبد الحکیم د خیالی حاشیه
کوله هغه چې مقام درس ته ورسیدله، او د پاتو ورقو کافی بیاض پاته سو نو پر هغو ورقو
می په عربی ژبه یوه مختصره حاشیه شروع کړه او د دغې رسالې غابن ماتوونکی جوابونه
ور کړه.
او دا می اراده وکړه چې ان شاء الله العزیز چې د ترجمې څخه د نور الایضاح فارغ سوم نو یوه
غټه رساله بلکه لوی کتاب د دغې رسالې په جواب او رد کښې ولیکم تا چې د اهل السنة والجماعت
او د مقلدانو د څلورو مذهبو او د عقیدت مندانو د څلورو مذهبو، طریقو، د تصوفو،
د زړه په ځنك سي. **پوښتنه**: مصنف د دی رسالې څوك دی او څه یې مذهب دی؟
جواب: نوم خو یې امین الله دی او د پیښور د خوا دی ده او په مذهب یې خبر نه یم
البته د رسالې د عقائدو څخه دا معلومیږي چې یا به وهابي وي، او یا به پنج پیري وي
او یا به سلفی وی او یا به نام نهاد اهل حدیث وي. نو او س په طور د مشت نمونه خروار
د دی رسالی بعض ځایونه په گوته کوم. لکن په ډیر اجمال سره ولې چې تفصیلي جوابونه په
حاشیه کې چې پر خیالي ما نوشته کړیده موجود دي. او تر هغو مفصل غایة التفصیل په

لویه غټه رساله کی د دروېښ مطالعه کړی إن شاء الله، نو واوری چی شارح العقائد په ابتداء کی د خپل کتاب داسی حمد وئیلی دی، الحمد لله المتوحد بجلال ذاته" آه.
مصنف د رسالی وائی چی دا د مسلمان کار نه دی چی ماثور حمدیه پریښږ او دا مخترع حمد یه ووایه الخ. **جواب** چونکه ته د دغه عبارت په تحقیق نه پوهیدی لکه چی مولوی خیالی او عبد الحکیم لاهوری کړی دی نو ځکه پردی حمد داغه بیبا کانه سوال وکړی" اول جواب دادی چی دا خو یوائی پر شارح العقائد سوال نه دی بلکه ټولو کتابو که ده تفاسیرو وی او که د فقهی وی او که د حدیثو او که د نورو علوموو وی، سوال دی. ولی چی په ټولو کی د پنځو کتابو په اول کی ماثور حمد نشته، د ده د الفاظو څخه داسی فهمیږی چی شارح العقائد او نورو کتابو والا په دی حمد وکی د مسلمانی څخه ووتل. نعوذ بالله من ذالک، او د جاهل لکه چی په کتابو کی دا نه ده لیدلی. چی حمد په هر کتاب کی جزء د هغه کتاب دی او هر مصنف اختیار لری چی په څرنګه الفاظو چی حمد وائی ویلای ئی سی.
نو ده رساله والا د غه خبره د مسلمانو د اجماع څخه خلاف ده،" امین الله چی شارح تفتازانی چی حمد ماثور به پریښږ کی څه هم حمد خوبه وئیلی دی د اسلام څخه وایستی نو دی به بخاری او ترمذیؒ په باب کی به څه وائی چی هیڅ حمدیه هم نه دی وئیلی. او بیا امین الله د علامه تفتازانیؒ په باره کښی لیکلی دی چی د باطینو د فرقی څخه وو. معاذ الله" دی جاهل باطنیه د له پیژنی کی هسی پرخوله ورغله" په روح البیان کی وائی چی باطنیه یو ډله ده چی په اجماع د علماءو ده اسلام کافران دی د هغو مذهب دادی چی په قرآن شریف کی مثلا د صلوٰة او زکوٰة وغیره معانی مراد نه دی یعنی لمونځ او د مال زکوٰة وغیره لکه علماء د ظاهر چی وائی بلکه یا صفائی د زړه، وغیره چی په بعض وطنو کښی اوس هم دغه ډله سته چی نه لمونځ فرض بولی او نه کوی. وهکذا سائر الاحکام چی په اصطلاح دوئ ځانونه ذاکران بولی"
او بیا امین الله لیکلی دی چی په شرح عقائد تر سلو حاشیه او شرحو بالا سوی دی لکن هیڅ څوک په حقیقت نه دی پوه سوی. زه وایم امین ډیره غټه دعوه وکړه چی سل

علماء چی ډیر نامور ی علماء هم په کښی دی د شرح عقائد په زیغ او ضلال نه سوه پوه.
خو یو امین دی چی په دی زیغ پوه سو. زه حیران یم چی ده زړه کړه چیری وکړه، او امین بیا تاریخ د عمر نسفیؒ چی په مفتی الثقلین سره مشهور دی یعنی د انس و جن مفتی" چی تولة تاریخونه د ده لوی علم بیان کړی دی. نو امین وائی چی دی حنیفی المذهب وو لکن د سلفو برابر نه وو برابر" نو زه د امین څخه پوښتنه کوم. چی سلف څوک دی چی عمر النسفیؒ د هغو برابر برابر نه وو - ایا ابو حنیفة النعمانؒ الامام الاعظمؒ سراج الامة المرحومة د سلف صالحینو څخه نه وو. البته دی به وائی چی سلف صالحین خو ابن تیمیه الحرانی او ابن حزم الظاهری او محمد بن عبد الوهاب النجدی وغیرهم دی.
نو زه وایم چی عمر النسفیؒ بیشکه د دغو سلفو برابر برابر نه وو هغه د اهل السنة والجماعة ستر پیشواو وو په خپله زمانه کی. او بیا امین په بحث کی د کلام لفظی او نفسی لیکلی دی، لقد ضل الماتریدیة والاشعریة" آه زه وایم چی ماتریدیه او اشعریه د اهل سنتو او جماعت دوی لوی ډلی دی ته نه شرمیږی چی نسبت د ضلال ورته کوی. او اهل السنة والجماعة څرنګه پتیه خوله وتا ته ناست دی. او بیا ده په مسائلو کی د صفاتو لیکلی دی چی دغه آیتونه: یَدُ اللهِ فَوْقَ أَيْدِيهِمْ" اَلرَّحْمٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوٰى، كُلُّ شَىْءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجْهَهُ" وغیرها. د ظاهری معنی څخه اړول ډیر غلط کار دئ. د دی خبری څخه د ده دا معلومیږی چی دی د مجسمه وو د ډلی دی چی خدای پاک جسم بولی. او ده ته جهت او مکان وائی،" معاذ الله" لکه د ابن تیمیه حرانی او محمد بن عبد الوهاب النجدی چی هم دغه مذهب وو.
او بیا ماد شرح العقائد په ص۱۲۲ په یوه حاشیه کی د اهل سنتو والجماعت یو څو عقائد بیان کړی دی. نو امین هلته داسی عبارت لیکلی دی،" لقد شرع القند هاری فی تشریکاته" زه وایم سه امین بنیظام ار کافرم خواند چراغ کذب نبود فروغی .: مسلمان خوانمش زیرا که نبود لکافات دروغی جزد روغی"
هغه مسئلی دادی. چی په زیارت کی یعنی د اولیاء کرامو او د صالح د بندګانو چی مړه وی که د مسافت څخه سفر وی او که نږدی وی چی هم مړه ته او هم ژوندی ته فائده ده. امین لیکلی

Maktaba Tul Ishaat.com

دی چې سفرکول وزیارت ته حرام او شرك دی. کرغه هم زیارت د رسول الله صلی الله
علیه وسلم وی بلکه مدینې منورې ته چې څوك سفرکوی په نیت د لمانځه په مسجد نبوی
کې به سفرکوی. د دې مسئلې اثبات ما په تفصیل سره په هغه رساله کې کړی دی چې پر حاشیه
د خیالی ده بلکه د علماء د مذاهبو اربعه وو وائي چې زیارت د رسول الله صلی الله علیه
وسلم ته سفرکول مجمع علیه مسئله وه ترڅو چې ابن تیمیه پیدا شو. هغه حکم د حرمت
او شرك پر وکړه. او بله مسئله ما نوشته کړې ده چې سماع الموتی حق ده. او لې بی عائشه
چې اول یې انکار کاوه رجوع ثابته ده چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم
نو زه وایم چې په مدینه منوره کې چې مواجهه شریفې ته د آنحضرت صلی الله علیه وسلم
حاجیان یا نور زیارت کوونکی ودریږی او وائي السلام علیك یا رسول الله آه دد ے
نداء او خطاب چې سماع نه وي څه فائده ده ! او دا غرنګه السلام علیك یا سیدنا ابی بکر
صدیق رض آه یا سیدنا امیر المؤمنین عمر رض آه څه فائده او څه معنی یې ده. او بله دا چې
په صحیح حدیث کې راغلی دی چې نبی علیه الصلوٰة والسلام به جنة البقیع ته ورتلی
او دا سې به وئیله: السلام علیکم یا اهل القبور من المؤمنین انتم سلفنا ونحن بالاثر
نو چې سماع الموتی نه وي د اخطاب څه فائده لري. او نور تفصیل د دلا ئلو د علماء دیوبند
د مدرسې او د نورو صحیح حدیثو څخه ما هوری نقل کړي دي. او بل ما ليکلی دی چې
نداء په لفظ د یا رسول الله د غائب سړي څخه روا ده. او دا غرنګه و اولیاء الله الاموات
ته غائبانه نعره روا ده. امین جاهل وئیلی دی چې دا شرك دی. نو زه وایم که دا شرك وی
خو ته په لمانځه کې وائې، السلام علیك ایها النبی آه نو دا خو هم غائبانه نداء ده ور سول
الله صلی الله علیه وسلم ته د جاهل شاید کافیه نه ده وئیلی چې په کافیه کښې وائي: واذا
نودی المعرف باللام قیل یا ایها الرجل آه دلته هم نداء ده مګر حرف نداء یې محذوف
دی: لکه: یُوْسُفُ اَعْرِضْ عَنْ هٰذَا: نو چې په لمانځه کې غائبانه نداء روا ده نو خارج
الصلوٰة ولې یا رسول الله شرك دی: برین عقل و دانش بباید گریست: او بل ما ليکلی
چې محبت سره د احباء د خدائ او د صالحانو بنده ګانو د خدائ جائز دی بلکه مندوب دی.

امین جاهل لیکلی دی چې محبت کول د غیر الله سره کول شرك دی. زه وایم چې په حدیث
صحیح کې راغلی دی چې حضرت عمر رض یوه ورځ و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویلیه
والله انت لاحب الناس الیّ سوی نفسی التی بین جنبیّ: علیه السلام ورته وویل
لا یا عمر رض ورته وویل لا. ـ والله الآن انت احب الیّ من نفسی ایضا علیه السلام
ورته وویل الآن یا عمر: نو علیه السلام خو هم غیر الله دی. ده جاهل لیکلی دی
چې محبت د اخوت خوړوا دی. ما ته وائي چې ستا مراد خو محبت د معبودیت دی. زه
ورته وایم ای جاهله څوك علیه السلام، یا نور د خدائ دوستان (معبود) بولي. او ته
فرنګه د علم غیب دعوه کوی چې ستا په زړه کې محبت د معبودیت دی.
او په بل حدیث کې داسې راغلی دی چې علیه السلام امام حسن رض او امام حسین رض په غیږ کې نیولی
او بیا ئې وو ئیله: اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ احبهما فاحبّ مَنْ یحبّهما آه. نو آنحضرت صلی الله
علیه وسلم خو ښکاره کړه چې زه د حسن او حسین رضی الله تعالی عنهما سره محبت لرم نو دوی خو
هم غیر الله وه. نو امین جاهل په دې حدیث کې څه وائي. البته دی به وائي چې محبت د
اخوت وو د معبودیت نه وو. نو زه وامین ته وایم چې محبت په دا دوه قسمه کې غلط دی
بلکه دی نوعو تر ما بین عرض عریض سته، اهل ته وګوره چې محبت د پلار د زوی سره
وبالعکس او د میړه او د ماینې تر مابین وغیره صرف د اخوت اسلامی له سببه دی که
وایه هو خود روا غ وائی. ولی بیګانه خلك خو هم اخوت اسلامی د سړي سره لري او یا
پردی ښځه مسلمانه خو هم اخوت اسلامی لري نو دا تول له محبتونه سره یو شی دی: کلاو
حاشا ! او که وایه چې دا محبتونه د معبودیت دی نو ښځی ښکر ورد واغ دی.
او ته فکر وواهه چې ستا محبت د ابن تیمیه الحرانی سره ډیر دی او که د صاحب هدایه سره
مثلاً ډیر دی. نو خو ته مجبور یې چې وایه به چې د ابن تیمیه سره می محبت ډیر دی. نو زه
وایم چې صاحب هدایه خو هم په اخوت اسلامی کې داخل دی. نو د ابن تیمیه محبت چې
بالا دی ستا پر مذهب نو هغه ربوبیت دی او که څنګه ! **پوه سئ** خوانندګان
محترم چې د دې ډلو مذهب او مسلك دا دی چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم سره

فقط دومره محبت پکاردی لکه دوړو د بل وړوړ سره. استغفرالله العظیم ونعوذ بالله مین مذ هبکم: چې تا یې سید المرسلین شفیع المذنبین صلی الله علیه وسلم تر صرف او صرف دیو وړوړ درجه او حیثیت ورکړی. مونږ خو داسی وایو سره

لایمکن الثناء کما کان حقہ: بعد از خدا بزرگ توئی قصہ مختصر: او مونږ په حضرت شریفه کی او په عالم غیبوبت کی وایو! الصلوة والسلام علیک یا حبیب الله الی غیر ذالک. او دا مو ایمان دی چې دا زمونږ سلام وعلیه الصلوة والسلام ته رسیږی د ملکو په ذریعه» د نور الایضاح ص۱۸۷ کی وائي لما کانت زیارة النبی صلی الله علیه وسلم: من احسن القرب واحسن المستحبات بل تقرب الی درجة مالزم من الواجبات فانه صلی الله علیه وسلم حرض علیها وبالغ فی الندب الیها»

فقال من وجد سعةً یعنی طاقت ولرېدړ نی یعنی زما زیارت ونکی فقد جفانی» نو زما سره یه بیوفائي وکړه: وقال علیه السلام من زار قبری وجبت لرشفاعتی» امین وګوره چې علیه السلام قبر وایه او کی مسجد ذکر کړی. البته امین به وائي چې د مذهب ستاس قاضیخان، بحر رائق، شامی وغیره نه منم. ترما تر د نور الایضاح خبری کوی. او د حدیثو په باره کی خوامین ډیر دلاوړ دی. دا به ووائي چې دا حدیثونه ټوله موضوعی دی لکه د دوی مسلک هم دا غر دی چې د دوی د مسلک مخالف حدیثونه یا ضعیف بولی او یا موضوعی: او بله خبره چې ما په حاشیه کی د شرح عقائد لیکلی چې همیشه توبه پراس مستحسن سنه کار دئ. جاهل امین لیکلی دی چې د ادوام بدعت دی. عاصی وړدی جاهل ته وائي آیا تا تفسیر د آلوسی بغدادی پوره مطالعه کړی چې هغه صورت ملک باندی همیشه توب کاوه. او هر شپه بلا ناغه یه سورت ملک وایه. او پردی فعل خپل په د خدای پاک حمد وئیلی دی چې ما تې توفیق د دی همیشه توب ر اکړی دئ. او سره د دی چې تلاوت د سورة ملک خو د واجبا تو څخه نه دی بلکه د مستحسنا تو څخه دی لو آلوسی څرنګه پردی بدعت باندی ستا په عقیده حمد د خدای جل شانه وایه » او د غه او د غه حدیث څه وئیلی دی چې په بخاری شریف کی راغلی دی چې حضرت بلال همیشه توب

کاوه پر رود اسمر. [illegible] ماتشو نو لې سمدستی بل اودس تازه کاوه. او رسول الله صلی [illegible] اولیاء الله او صحابه وو او صلی الله د امت [illegible] همیشه توب کاوه په صلوة تهجد او سره د دی چې د تهجد لمونځ خو د واجبا تو څخه [illegible]

[illegible] مرتبو صرف دی چې فرض [illegible] په سری فرض بولی واجب به واجب بولی او مستحب مستحب [illegible]

نو د ی قسمه څخه دعاء بالاجتماع چې ثبوت د شارع د خوا یه سنده [illegible] واجابت [illegible] ده. او امر حسن هم وي. نو په دوام کی څه بدعت دئ. نعم کی خوک کاهی نه وکی ملامتیا و رباندی نسته ولی چې همیشه والي سنت نه دئ.

د استاذ کل، په زمانه کی، او محدث جلیل په وخت کی یعنی المولی قطب الدین خیل

فتوی

غوغشتوی رحمة الله علیه د وهابیانو، نیچیرانو، سلفیانو، او نام نهاد اهل حدیثو په باره کی، چې د دی ځلورو ډلو منبع دئ. یعنی متابعت د ابن تیمیه الحرانی، محمد بن عبد الوهاب النجدی، او ابن حزم الظاهری، او ابن قیم، د دغو لوی شیخ الحدیث الفاظ په اردو ژبه داده. اول شیخ الحدیث حمد د خدای جل وعلا په قرآنی آیاتو سره وئیلی دئ او بیا وائی » فقیر قطب الدین غورغشتوی بخدمت اہل اسلام عموماً وبخدمت اہل السنة والجماعت خصوصاً عرض پرواز ہے کہ اگرچہ سعی سلفؒ درین باب کافی ہے یعنی ان فرق کے رد میں » لکن تبذکر عزیزان اخوان اسلام کیلئے اتفاق ضرورت پڑی. تاکہ عوام جدال اور قتال سے محفوظ رہیں تو میں یوں کہتا ہوں کہ اتباع محمد بن عبد الوہاب النجدی، اور ابن تیمیہ حرانی، اور ابن حزم اور ابن قیم جن کے عقائد یہ ہے:

۱. قبر انور رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم کو صنم اکبر (یعنی بڑا بت) کہتے ہیں. ۲. اور اپنی آپ کو موحدین کہتے ہیں. ۳. اپنی مخالف کو مشرک تبلاتے ہیں. ۴. یا رسول اللہ کہنا شرک ہے ۵. زیارة قبور بعیدہ حتی اسفر کرنا زیارتِ قبر منور آن حضرت صلی اللہ علیہ وسلم کو حرام اور ناجائز کہتے ہیں. ۶. اولیاء اللہ الکرامؒ کے ارواح پر ایصال ثواب حرام ہے. ۷. اور کسی ولی کو کوئی کرامت بعد الموت نہیں ہے. ۸. اور توسل بخدا جل جلالہ نبی کے واسطہ ہو اور یا ولی کیا تھ ہو حرام ہے وغیرہ وغیرہ. اہل السنة اور جماعت سے خارج ہیں. اگر کسی کو مزید تحقیق درکار ہو تو فقیر کے ساتھ ملاقات کرسکتا ہے

Maktaba Tul Ishaat.com

اورہم، لَا اِکْرَاہَ فِی الدِّین، کیوجہ سے ان پر تعرض نہیں کرتے ہیں۔ لکن ترک موالات ان لوگوں کیساتھ ہم کو اختیار ہے۔ وَاللّٰہُ یدعوا الیٰ دار السلام ویھدی مَن یشاء اِلیٰ صراطٍ مستقیمٍ
مولوی قطب الدین غورشتوی بقلم خود، او پر فتوٰی د مولوی صاحب د ډېرو علماوو د پېښور مردان، امضاء گانی موجودی دي.

د اداریٔ معذرت

کہ چیری زه دا مین جاهل تولی خرافاتی را نقل کوم او بیا جوابونه ورکوم نو اصلی مطلب چې شرح د نور الایضاح ده ډېره به لیری سی. نو دا څو خبری په طور د مشت نمونه خروار، بیان سوي ولې چې تفصیل د دغه د خبرو او جوابو په هامش (حاشیه وو) کی د خیالی وگوری چې هغه دا اوس طبع کولو ته نه دیده، او غایة التفصیل بیا اِن شَاءَ اللّٰہُ العزیز زه په لویه رساله کښې چې په هغی کی لفظ په لفظ او مسئله په مسئله به د دغه امین ته جوابونه ورکوم اِن شَاءَ اللّٰہُ العزیز
وَاللّٰہُ وَلی الفضل وَالا نعام،

فَصْلٌ فِی الْاَحَقِّ بِالْاِمَامَةِ وَتَرْتِیْبُ الصُّفُوْفِ

دا فصل دی په بیان د هغه چا چې احق وی په امامت سره او په بیان کی د ترتیب د صفونو
یوه سـله: چې دا فصل په سبب د عدم اعتناء د مُلایانو او د خلکو په مراعات کی د صفونو د لمانځه ډېر د غور کولو او باید عملی کولو ډېر مهم فصل دی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

اِذَا لَمْ یَکُنْ بَیْنَ الْحَاضِرِیْنَ صَاحِبُ مَنْزِلٍ وَلَا وَظِیْفَةٍ وَلَا ذُوْ سُلْطَانٍ کہ چیری نه وو په مابین د حاضرو خلکو کی د کور څښتن، او یا وظیفه دار سړی لکه امام المسجد او د غه رنگه نه خاوند د حکومت

یوه سـله: چې مراد د المنزل څخه هغه سړی دی چې په دی کور کښې او سیږی که مالک د کور وی، او که په کرایه پکښې پروت وي. او یا مالک عاریتًہ ورکړی وي. او مراد د وظیفه والا څخه امام المسجد دی. که بانی د مسجد د ړولی وی، او که قوم په مشوره مقرر کړی وی،،
مسـئـله: صاحب المنزل او امام المسجد تر ټولو حاضرو علماوو اَحق په امامت دی که څه هم په دی نورو علماوو کی تر ده اَفقه، او اَقرء او اورع او افضل موجود وي. نو بیا هم صاحب البیت او امام المسجد اختیار لری که څوک ته امامت ورکوی. او که په نورو ملایانو کښې څوک د مخه کوی او دا هم لازمه نه ده، او دا هم لازمه نه ده چې دوی به په دی نورو ملایانو کی خامخا افضل د هغو یا اقرء یا اورع د مخه کوی. ولې چې امامت د دوی حق دی هر رنگه تصرف په کښې کوی ورته روا دی، لکن بیا هم صاحب البیت ته دا افضل کار دی چې بل افضل افقه، اورع، اَقرء عالِم د مخه کړي او یوه سر چې مراد د ذو سلطانه څخه پادشاه، یا نائب د هغه یا قاضی د محکمی دی.
مسـئـله: ذو سلطان که حاضر وو هغه تر ټولو احق بالامامت دی. حتی تر صاحب البیت او تر امام المسجد هم، ولې چې د هغه ولایت عام دی"
امام بخاریؒ روایت کړی دی چې ابن عمر رضی اللہ تعالی عنہما به په حجاج بن یوسف پسی لمونځ کاوه وکفیٰ به فاسقًا، (وهغه خبره چې امام طحطاوی د بنایه څخه نقل کړیده: چې وائی چې تفضیل د ذو سلطان پر نورو علماوو په تیرو زمانو کښې وو، ولې چې والیان ټول عالمان وه او غالب په صالحین هم وه. او زمونږ په زمانه کښې دا حکم نه دئ. ولې چې والیان د حکومت او امیران، ظالمان، او جاهلان دی آه.
دا خبره د فوق الذکر حدیث څخه د بخاری خلاف ده، ولې چې عبد اللہ بن عمرؓ تر حجاج بن یوسف هم اعلم په کتاب اللہ سره او په سنت د رسول اللہ صلی اللہ علیہ وسلم او هم اورع او افقه وو تر حجاج بن یوسف او صحابیؓ او ابن الصحابیؓ وو بیا به هم په حجاج بن یوسف پسی د ه جماعت کاوه. چې د حجاج بن یوسف په باره کښې په عربو کی مشهوره خبره ده چې دوی وائی که د دنیا د ظالمانو ټول ظلم سره یو ځای کړه سی. او په ورځ د قیامت په یوه پله کښې د ترازو کښېښول سی. او د حجاج بن یوسف ظلم په بله پله کښې کښېښودی د حجاج بن یوسف د ظلم

پلہ بہ پردَرنہ وی. او د غہ رنگہ امام بخاری روایت کړی دی چې څہ وخت چې امیرالمؤمنین عثمان بن عفان رضی اللہ تعالیٰ عنہ د باغیانو د خوا نہ پہ کور کښې محاصرہ سو، او پہ مسجد نبوی صلی اللہ علیہ وسلم کی د باغیانو امام لمونځ ورکاوہ. یو صحابیؓ پہ پټہ د حضرت عثمانؓ کور تہ ور غلی او دہ تہ یې ووییل چې امام عامہ خو تاسې یاست. او پر تا باندې دا بلا نازلہ سوہ چې پہ کور کی محاصرہ سوی چې د مسجد د امامت د پارہ هم نسی راوتلای دیموږ تہ د امام د باغیانو لمونځ راکوی نو موږ د لوځونہ پسی کوو کہ نہ؟ حضرت عثمانؓ ورتہ وویلہ چې لمونځ ډیر ښہ شی دیٔ. نو حلګ چې ښہ کار کوی ورسرہ کوی یاستی. او خولک چې بد کار کوی پہ هغہ کښې ګډون مہ ورسرہ کویٔ. او سرہ د دی چې د دغی فتنی پہ وخت کښې اصحاب کرامؓ بیخی ډیر موجود وہ. او پہ هغہ امام الفتنہ پسی لمونځ کاوہ نو پوښتنہ دادہ چې ایا اصحابؓ علیہ السلام اَعلم و اورع وغیرہ تر امام الفتنہ نہ وہ. لکن چونکہ باغیانو واګی د حکومت بخپل لاس کی واخستی او د حضرت عثمانؓ د خلافت او امارت هیڅ امید نہ سو پاتہ. نو ځکہ صحابہؓ وو کړامو پہ دغہ باغی ظالم امام پسې لمونځونہ کول»، وَاللہُ اَعلم: قَالَ المُصنّفؒ:

فَالْاَعْلَمُ اَحَقُّ بِالْاِمَامَةِ نو چې ډیر خبردارہ وی حق دارہ دی پہ امامت سرہ.

پوښتنہ: چې مراد د اعلم څخہ هغہ سړی دی چې پہ احکامو د لمانځہ از روی صحت و فساد وغیرہ ما خبر وي. او چا چې وئیلی دي چې اعلم پہ فقہ شریفہ او د احکامو شریعت وی دهغہ هم مراد احکام د لمانځہ دي. ولې خبر پہ احکامو د زکوٰۃ، روژی، حج وغیرہ پہ لمانځہ کی ورتہ حاجت نستہ، او پہ مراقی الفلاح کښې وائی چې دغہ سړی بہ چې امامت ورکوی مجتنب بہ وی د ظاهرہ کبیرہ ګناهو څخہ هم. او د غہ رنګہ بہ پیا دوی هغہ قدر د قرآن مبارک چې سنت قرائت پہ پورہ کیږی "کالمقارہ فی کل صلوٰۃ، او حفظ د قدر مفروض د قرائت خو شرط د صحت د لمانځہ دی کما او حفظ د قدر مسنون شرط د کمال د لمانځہ دیٔ»

اِخْتِلَافُ الْاَئِمَّةِ امام شافعیؒ، او امام ابو یوسفؒ وائی چې اول درجہ اَقرَأ لرہ دہ.

چې د قرآن اَقرَأ وی یعنی چې حروف د قرآن عظیم بخپلو ځایو کی ادا کولای سی او فتوی او اعتماد پر قول د امام اعظمؒ او امام محمدؒ دی پہ دلیل د دی چې قرائت تہ خو ضرورت پہ ادا کښې د رکن واحد ستہ، او فقہ شریفې تہ پہ ټولو ارکانو، واجباتو، سننو او مستحباتو کی ضرورت ستہ. نو د علم فقہ درجہ تر یو اندازی اَقرَأ لوړہ دہ. لکن

پوښتنہ چې تقدیم د اَعلم هلتہ دی چې دد بے عالم الفقہ پر قرائت د قرآن لمونځ نہ فاسدیږی او کہ ددہ پہ قرائت پہ اتفاق لمونځ فاسدیږی بیا دی اَقرَأ د مخکی یو ملا یو وخت د مخہ وُو. نو قرائت یې داسی وایہ: اِکْرَءُ بِاِسْمِكَ الَّذِیْ خَلَكَ خَلَكَ الْاِنْسَانَ مِنْ عَلَكَ »، وعلیٰ هذا القیاس، قَالَ المُصنّفُ:

ثُمَّ الْاَقْرَءُ، ثُمَّ الْاَوْرَعُ، ثُمَّ الْاَسَنُّ، ثُمَّ الْاَحْسَنُ خُلُقًا

پوښتنہ: چې مراد د اقرَأ څخہ هغہ سړی دی چې پہ احکامو د قرائت او پہ مخارجو د حروفو بہ خبر وي. دا نہ دی مراد چې ډیر سورتونہ یا ټولہ قرآن کریم یاد وي. کہ څہ هم بعض علماء و دوهم رونہ تللی دي. لکن د محقق ابن الهمام شاګرد پہ زاد الفقیر کی اول تہ ترجیح ورکړی دہ وعلیہ الفتوٰی»

پوښتنہ: چې د ورع درجہ تر تقوی پورتہ دہ. ولې چې تقوی یواځې د محرما تو څخہ پرهیز کول دي. او ورع دادہ چې شبہاتو څخہ هم پرهیز کوي. او اَسن هغہ چاتہ وائی چې پہ عمر کښې مشر وی. یعنی کہ دوہ کسہ پہ علم فقہ کی او قرائت کی سرہ برابر وہ بیا پہ دوی کی چې مشر وی هغہ دی لمونځ ورکړي. پہ حدیث کی د بخاری راغلی دی چې داسی دوہ کسانو چې یو مالك بن الحویرثؓ وُو، او بل ددہ ملګری وو، چې یو ځای یې د علیہ السلام څخہ احکام او قرائت زدہ کړی وہ. نو پہ وخت کی د رخصت ورکولو علیہ السلام داسی ورتہ وفرمائیلہ چې د لمانځہ وخت چې راسی فَلْیُؤَذِّنْ اَحَدُکُمَا وَلْیَؤُمَّکُمَا اَکْبَرُکُمَا»

پوښتنہ: چې د دې حدیث څخہ داسی معلوم سوہ چې مراد د اَسَن څخہ هغہ خولك دی چې پہ عمر کښې مشر وي. او بعض فقہاء وائی چې د اَسَن څخہ مراد هغہ دی چې اسلام

Maktaba Tul Ishaat.com

پہ ترد ابل مخکښې راوړی وی نو بناء عَلیٰ هذا یو سړی چې سپین بږیری وی ایمان راوړی او بَل ځوان وی د کشنې والی څخه مسلمان وی احق په امامَت سَرہ هغه ځوان دَی. لکن پردی فقهاوو د اسوال وارد یږی چې که دواړه کسان قدیم الاسلام وَه منکر یو مشړوو د دې حال خود دوی ېر مذهب نه سو معلوم، نو بنه داده چې عبارت دکتاب داسی وَائی ثُمَّ الاقدم اسلامًا ثم الاسن، نو به دوی مَرتبې گړځیدلی وای، کذا قال الامام الطحطاوی رح

او اَحَسَنُ خُلقًا هغه سړی دی چې په اجتما عی ژوند کښې د خلگو سَره ښه اخلاق ساتي او خلک دده د ښه اخلاقو په سَبب دی محبوب گڼي. قَالَ المُصنفُ رح

ثُمَّ الاَحسَنُ وَجهًا او بیادی هغه سړی د مخه کوی چې ښا ښُسته او نورانی مخ یه وي یعنی دَ مخ اجزاء یه متنا سب وی. **پوه سَه**: چې مصنفؒ په تقدیم کی د حسن الخلق پر احَسَن الوجه متا بعت کړی دی د مواهب الرحمٰن او فتح القدیر او صاحب الخلاصة او غیرو والا او ملا مسکین رح حسن الوجه تر حسن الخلق مقدم بولي. وجه او دلیل یه دا دی چې سید سندؒ وائي حسن ظاهر یه اغلب کښې پر حسن باطن دلالت کوی. او بل دلیل یه دا دی چې حسن ظاهر ښکاره شئ دئ. او ښه اخلاق د سړی تجربه غواړی او په گډون او گذاره سره معلومیږي. قَالَ المُصنفُ رح

ثُمَّ الاَشرَفُ نَسَبًا

او بیادی هغه سړی د مخه کوی چې شریف وی په نسب کی. لکه یو مُلا سَید وی او بل مُلا اُمتی، او یا یو مُلا د ښه عالِم زوی وی او بل دا می زوی وي. وعَلیٰ هذا فقس، ولے چې احترام او تعظیم دَ نسب په شرعه شریفه کی ښه کاردی، خلافًا للوهابیة، قَالَ المُصنفُ رح:

ثُمَّ الاَحسَنُ صَوتًا او بیادی هغه سَړی د مخه کوی چې ښه آواز یه وي. وَلی د هغه د قرائت په اوریدو سَره خلگو ته خشوع او خضوع پیدا کیږی

پوه سَه: چې مراد د حسن الصوت څخه هغه دی چې طبعًا یه آواز زیبا وي. نه هغه قاری چې قرآن مبارک د موسیقی پر وزن، یا مدات زائده، یا سکنات خارج عن قوانین القرائت په کښې وائي. او خول یو وخوا او بله خواته کشوي.

ته نه اوری چې د حرمینو شریفینو امامان څرنګه سلیس او روان او بې تکلفه قرائت وائی بخلاف زمونږ د زمانی بعض قاریان"

واقعه علماء او ښه ښه فقهاء هم پکښې شامل وَه. نو شروع د قرآن کریم یه د دکندهار په ښار کی یوه ورځ ختم د قرآن کریم کیدی چې. د ښار جید جید یوه قاری مَرائی په یوه لمنځ رکوع ویلو سره شروع کاوه. قاری صاحب ته چې ملا یا نو وو یل چې قاری صاحب ته یوه رکوع ووایه نو به بیا خلگ سپاری شروع کړي قاری صاحب ته چې موقع پلاس ورغله. نو یه قرآن مبارک د مخه سپړ و گرځاوه تا چې د ده د خولې او شونډانو او د سترگو حرکات او اوضاع څوک و نه وینې. نو رکوع یه تخمینًا په ۲۰ دقیقه کښې وویله. او چې ختم شروع سو هغه قاری په ۱۵ دقیقه کی تخمینًا سپاره ختم کړه. نو پس له دی چې ختم د قرآن مبارک خلاص سو او دعا گانې هم وسوې. نو یو جید عالم د هغه ریا کاره قاری څخه پوښتنه وکړه چې آیا د قرآن مبارک د حروفو اداء په جهر او مخافت کښې فرق سره لري. قاری ورته وویل یا - فرق نه سره لري. نو هغه عالِم ورته وو یل چې تا چې په جهر سره یوه رکوع وویل تخمینًا ۲۰ دقیقې دی پکښې ولگولې. او چې پوره سپاره دی وو یله په ۱۵ اد قیقی کی دی ختم کړه. نو قاری بې جوابه خجل پاته سو" قال

ثُمَّ الاَنظَفُ ثَوبًا او بیادی هغه سړی د مخه کړی چې کالی ئی ډیر صَفا وی ولې چې پاک صاف کالی یه وی په هغه پسی اقتدا ء د خلگو ښه زړه غواړی ته هغه چا چې کالی یه چټل وي.

پُوه سَه: چې د فقهاءؒ په ډیرو ځایو کښې مسَائل او احکام صرف پر فرض بناء دي. لکه په د دې مسَئله کی د امامَت چې فلانی د مخه کوی او که بیا سره برابر وه فلانی دی د مخه کوی وهکذا حتی د دوو مُلایا نو په دی ټولو شیا نو کښې برابر والی ډیر لیری خبره ده مگر فرضیده یه روادی. یعنی ته ئی فرض کړه چې سره برابر وی هم ددی سَببه مصنفؒ په مراقی الفلاح کښې وَائی: ثُمَّ الاَحسَن زَوجَةً" او که په ټولو تیر سوو شیانو کی دوه ملایان سره برابر وَه. بیا دی هغه ملا د مخه کړی چې ماینه

په ډېر ښائسته وي. مراد دا دی چې د ملا صاحب په سترګو کې که څه هم په واقع کې ډېر ښائسته نه وي. د دې دليل دا دی چې د ملا صاحب مائينه چې د ده په سترګو کې ډېره ښائسته وي. نو د هغې سره ئې محبت ډېر وي نو د زنا وخواته ميل نه کيږي نو عفت به ډېر وي. او بيا مراقي والئ که په دې ټولو شيانو کښې برابر وه بيا دې هغه ملا د مخه کړي چې سر به غټ وي. ولې د دے ملا قوة عاقله او قوت حافظه ډېره ده. لکن پوهه چې بيخي ډېر غټ به نه وي لکه ديا بوسر. ولې چې د داسې غټ سري ملا څخه د خلګو نفرت کيږي. او بېعقل هم وي کما عُلِم بالتجربه، او بيا مراقي والئ که په مذکوره شيانو کې. ته ئې فرض که دوه ملايان سره برابر وه. بيا دې هغه ملا د مخه کړي چې غړ به ډېر غټ نه وي. ولې چې په افراط سره د غړ غټ والی دليل د بې عقلۍ او بد اصلۍ دی. ته نه وينې چې خر په دغه بلا کښې تر ټولو حيوانانو د غټ بلا خاوند دئ. خو بيا هم خر وي:

پوهه سه: چې د مائينې ښائسته والی، او يا د غړ کشنی والی د خودی ملا صاحب په اخبار سره معلوميږي. داسې نه ده چې خلګ به ورځي د ملا صاحب مائينه به ګوري او يا به د ملا صاحب پر توګا بن خلاصوي او غړ به يه ګوري. او بيا مراقي والئ کې چيرې په ګردو مذکوره شيانو کې سره برابر وه بيا دې هغه ملا دی د مخه کړي چې ډېر مالدار وي ولې چې په داسې ملاکی د طمع بدخوی نه وي. او بيا دې هغه ملا د مخه کړي. چې جاه و جلال به ډېر وي. لکن واوره چې مراد ده ماله څخه حلال دی، نه د سود خوړ مال کثير او يا د خمار بازه مال کثير وغيره.

مسئله: که مسافر او مقيم ملا بعض فقهاءً برابر بولي او بعض فقهاء وه مقيم ته ترجيح ورکوي: وهو الحق قال المصنف:

وَاِنْ اِسْتَوَوْا يُقْرَعُ

که په ټولو مذکوره شيانو کښې سره برابر وه بيا دې نو اِسکه سره وکړي په مابين کښې د ملايانو د هر ملا اسکه چې وختله هغه دی د مخه کړي سي.

اَوِ الْخِيَارُ لِلْقَوْمِ وَاِنِ اخْتَلَفُوْا فَالْعِبْرَةُ لِمَا اخْتَارَهُ الْاَكْثَرُ

او يا د اختيار د مخه کيدو د کوم ملا دی وقوم ته وسپاري سي يعنې ايسکی ته ضرورت نشته او که د قوم په مابين کې اختلاف پيدا سو بعضو ويل فلانی ملا صاحب دی د مخ سي او بعضو ويلي چې فلانی ملا صاحب دی لمونځ راکړي. نو بيا اعتبار هغه ملا ته دی چې ډېر خلګو خوښ کړی وي. قال المصنف:

وَاِنْ قَدَّمُوْا غَيْرَ الْاَوْلٰى فَقَدْ اَسَاؤُوْا

که چيرې خلګو د مخه کړي هغه څوک چې اولی نه وو نو ټول قوم ګناهګار دي. لکن ګناه کبيره نه ده کذا فی التجنيس.

مسائل الامامة

(۱) که يوه ملا ديو قوم او مسجد امامت ورکاوه او خلګ څنډي مخالف وه او جواب يه ورکړي وو لکن ملا صاحب قدرت والا وو ده مسجده څخه نه وتی. او يا سپين سترګی وو. نو که د دوی کراهت د ملا صاحب څخه په سبب د فساد په ملا صاحب کی وو. او يا په قوم کی احق په امامت سره تر موجوده امام وو. نو د دغه ملا صاحب امامت مکروه دی. او امام صاحب ته چې امامت د ده مکروه تحريمي دی. لحديث رواه ابوداود ثلاثة لا يقبل منهم الصلوة وعد منهم من تقدم قومًا وهم له كارهون، مرط، ر،

او که چيرې احق بالامامت دغه موجود امام وو تر نورو خلګو او په ده کښې هيڅ فساد نه وو او سره د هغه د مقتديانو بد څنډی راتله. نو ملا صاحب ته امامت ورکول مکروه نه دی ولې د جاهل اکثر د عالم څخه بد کيږي او د فاسق د صالح سري څخه بد کيږي. او هم دا سبب دی چې اوس اوس چې د افغانستان پر ډېره برخه د طالبانو حکومت دی او خلګ د جماعت پر وخت جماعت ته ور بولي. او زيري څرګيلو، او يا کښې کولو ته نه پرېږدي او داسې نورو منکراتو ته د اسلام په نه پرېږي دی، سګوانه نسته، کرګ بازی نسته کوتر بازی نسته، ديوچا دواده پر شپه شوقيان نسته، تلويزون نسته. خمار بازی نشته

Maktaba Tul Ishaat.com

بچہ بازی نسته، د دیو خلگو چې د منکراتو سره علا قه لري د طالبانو او د ملایانو څخه ئې بد راځي،،

تاریخي واقعه

په پخوا زمانه کې شیعه ګانو په جماعت لمونځ نه کاوه. ولې دوی به وئیله چې د امامت د لاندې دپاره امام معصوم شرط دی. او امام معصوم د ګناهو څخه په اوس زمانه کې نشته که څه هم د اخبره د دوی د شریعت سره برابره نه وه: نو څه وخت چې نائب محمد عثمان خان د قندهار والی مقرر سو نو هغه په شیعه ګانو د احکم وکړې چې ټوله لمونځونه دی په جماعت کوي. او چیرې چې به د شیعه ګانو کورونه وه د هغه ځای د مسجد پر امام به دا حکم کړی وو، که یو شیعه د لمانځه څخه د جماعت وو تللی، راپورته ئې ولایت ته راوړي. نائب محمد عثمان خان ته چې د کوم شیعه راپور به ملا صاحب د مسجد ورکړی نائب محمد عثمان خان به هغه شیعه راوغوښتی. او یوه ورځ بې سرکاري د ختو کار به کاوه. یعنی د اجراء وړ بې جماعتی. نو شیعه ګان مجبوره سوله د جماعت د لمانځه کولو ته لکن بعضی سني خلګو چې د دوی سره په مسجد شریکان وه د دوی د نیت ترجمه داسې حکایت کاوه مثلاً، *نماز می خوانم چهار رکعت نماز بیگاری اگر نه خوانم نائب محمد عثمان خان مرامی پردازند به گل کاری* الله اکبر، په حدیث مبارک کې داسې راغلي دي. ان سرکم ان تقبل صلوتکم: که تاسي خوشحاله کوي داخبره چې ستاسي لمونځ دې قبول سي. فلیئومکم علمائکم: نو دی تاسې ته امامت درکوي هغه کسان چې علماء وي یعني په دین سره فانهم وفدکم بینکم وبین ربکم: چې دوی یو هیئت په ما بین کې ستاسو او ستاسي د خدائي. د وفد معنی ده مخ سړي. یعنی دوی خدائي ته د مخه ورځي او ل خپل مقاصد د خدائي څخه غواړي او بیا ستاسي شفاعت کوي، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَكُرِهَ إِمَامَةُ الْعَبْدِ او مکروه دی لمونځ ورکول د مریي. ولې چې غالباً مریي په سبب د شغل په خدمت د بادار د علم حاصلولو ته نه وي خلاص

او اکثره مریان فاسقان هم وي. نو که چیرې یو مریي وو چې هم په علم پوهیدلو د لمانځه د ه لودی او هم تقوا دار وو لمونځ ورکول په مکروه نه دی ولې چې علت د کراهت نشته، قَالَ **وَالْأَعْمٰى** او د غه رنګه مکروه دی امامت د ړانده. ولې چې بوخو دی ځان و قبلې شریفه ته نه سي برابر ولای. او بل دا چې جامې په د نجاست څخه نسي ساتلای. او که ړانده افضل په خلګو کښې نه وو، نو بیا کراهت نسته، م، ولې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د تبوک غزا ته تللی، د لمانځه دپاره به عبد الله ابن ام مکتومؓ او عتبان بن مالکؓ خلیفه ګان و ټاکل چې د واړه ړانده وه. **مسئله** که چیرې ړانده د پاره محافظ د نجاستو څخه او پر قبله برابرونکی د ه لودی بیا هم کراهت نسته، قَالَ المُصَنِّفُ

وَالْأَعْرَابِيُّ او د اغه رنګه مکروه دی امامت د صحرائي **یوه سړه** چې اعرابي منسوب و اعراب ته دی، وَهُمْ سُكَّانُ الْبَادِيَةِ، د صحرا و عربو ته وائي والعَرَبُ العَارِبَةُ، هغه خلا عربو ته وائي. چې هغوی په ژبه د یعرب بن قحطان خبرې کولې. چې هغه قدیمه ژبه د عربوده لانه اول من تکلم بالعربیة، او عرب مستعربه هغو عربو ته وائي چې په ژبه د اسمٰعیل علیه السّلام په خبرې کولې. چې دا د اهل حجاز ژبه او لغت دی، ط، لکن مراد د اعرابي څخه دلته، د صحرا او سیدونکی دی چې مونږ په مالدار بولو، که عرب وي او که عجم وي. لکه ترکمنان، او کردان، سبب د کراهت په دا دی چې پر دوئ باندې جهل غالب وي. ولې مجالس د علم په قریه او ښارونه کې وي دوی د هغو څخه لیرې دی. نو د دی څخه د اهم معلومه سوه. چې د عامي جاهل که څه هم وطني وي امامت په مکروه دئ. کذا فی البحر والنهر، وقد ورد فی بعض الحکایات،

واقعه: یوه اعرابي په یوه عالم پسې اقتداء وکړه هر کله چې امام دا ایت شریف په لمانځه کې ووایه: اَلْاَعْرَابُ اَشَدُّ كُفْرًا وَّنِفَاقًا، الایة: فضربه الاعرابي نو صحرائي ملا صاحب پر سر په یوه ښې ووهه او سر په ورمات کړی. او صحرائي و تښتید ی

ځ ورځې وروسته بیا هغه صحرائي ته اعلی او په هغه امام پسې اقتداء وکړه دامتحان دپاره. امام خو د صحرائي څخه نا خبره وو اتفاقاً یې دا آیت په لمانځه کښې وواېه «وَمِنَ الْاَعْرَابِ مَنْ يُّؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ» الآیة صحرائي په عین لمانځه کښې ورته وویل «اَلْاٰنَ نَفَعَكَ الْعَصَا» اوس زما دلکړي وهلو فائده درته وکړه: كذا في غاية البيان»

او د روایت په زمانه کې دا د یوه صحرائي واقعه ذکر وه ده هغه داده: چې په قندهار کې سپیروان یو غټه قریه ده. او هغه قریې ته نږدې یو کلي ورته وائي چې یو ګستان ځکه ده. او په یو کلي کې عموماً مالداران، او صحرایان او سیږي. نو د غو صحرایانو ملا صاحب سهو داسې وویله. چې د رکوع څخه راپورته شو: سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا لَكَ الْحَمْدُ د صحرایانو مشر فتح وکړه چې مونږ تر دې غم شي راپیسنو دل» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَوَلَدِ الزِّنَا الْجَاهِلِ

او دغه رنګه مکروه دی امامت د ولد الزنا چې جاهل وي

پوهسه: چې د ولد الزناء د امامت مکروه والی په نیز د بدر الدین العینيؒ دا دی چې د خلګو نفرت څنې کیږي. ولې چې پر ده باندې هم تهمت د زنا کیږي، «آثار الآباء تظهر في الابناء يعني غالبًا» او نهر فائق والا پر هم دغه وجه ګڼلې ده. نو بناءً على هذا که دغه ولد الزناء عالم وي هم په امامت مکروه دی.

او د نور الایضاح د عبارت څخه داسې معلومیږي چې جهل په سبب کراهت دی بلکه مراقي الفلاح په دې تصریح کړیده» اذ لو كان عالمًا تقيًا لا تكره امامته، او امام طحطاويؒ هم د دې خبرې تائید کړی دی چې وائي: لانه ليس له اب يعلمه فيغلب عليه الجهل» او د روایت په نیز اوله وجه ډیره پر زړه پورې ده: كما يدل عليه التجربة» ولې چې خلګو ته دا معلومه ښې چې داسې راموني دی که څه هم غټ عالم وي خو بیا هم د خلګو نفرت څنې کیږي. او اقتداء په زړه نه پسې غواړي: وَاللّٰهُ اَعْلَمُ؛

او مراقي الفلاح داسې هم وئیلي دي چې مکروه والی د امامت خو په سبب نقا نصود ی لکه بیعلمۍ بې تقوا والی، حتی که صحرانشین په علم او تقوا کې بالا وو تر ښاري سړي. او یا

مړي افضل وو تر حر او یا ولد الزنا په علم او تقوی کښې بالا وو تر حلالولي. او یا روند بهتر وو تر سترګو والا فالحكم بالضد: یعني د ښاري امامت او د حر امامت یا د حلالولي یا د سترګو ور امامت مکروه دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْفَاسِقِ

او دغه رنګه مکروه دی امامت د فاسق. که څه هم عالم وي. ولې چې فاسق غم خوري د امورو د دین نه کوي نو پر خلګو د ده سپکاوی لازم دی. نو امام ګرځول خو د ده تعظیم دی. **مسئله**: که دغه فاسق عالم د امامت څخه نه منع کیدی. نو خلک دې بل مسجد ته چې د پنځو لمونځو د پاره هم. او که بل ځای د جمعې لمونځ نه کیدی نو په دغه فاسق پسې دې د جمعې لمونځ کوي. م»

پوهسه: چې مراد د فاسق څخه فاسق د عملو د خوا دی نه فاسق د عقیدې ولې چې د مبتدع حکم وروسته راروان دی. **واوره**: چې معنی د فسق په لغت کې خروج دی د سمو والي څخه، او په شریعت کې خروج دی د طاعت د خدای عزوجل په سبب د ارتکاب د ده د ګناه کبیرې او هغه ته وائي چې په اصرار یې صغیره ګناه هم سرته فاسق ګرځي.

مشکل د زماني

غیبت په اتفاق ګناه کبیره ده. بهتان په اتفاق ګناه کبیره ده او دغه رنګه حسد، او شیطانت او کبر او لولئ. او دغه ګنهونه مروج الوقت دي نو په سړي چیري غیر فاسق امام پیدا کوي اللهم الا شاذ او نادرا و هكذا يذهب الزمان على العيب، داسې یو وخت به امت محمدي ته راځي چې فاسق به په کښې شاذ او نادر وي، اوس بې فسقه سړي شاذ او نادر ګرځي دی. فالى الله المشتكى من انقلاب الزمان. ـ چو بینم دین احمد در غریبي: دلم سوزان ز چشم خون جاري

قال

وَالْمُبْتَدِعِ

او دغه رنګه مکروه دی په مبتدع پسې

د مبتدع په باره کښې تحقیق

صاحب المغرب وائي چې غالب استعمال د مبتدع په هغه چا کې دی چې په دین سوځ کې زیادت یا نقصان وکړي. او شمنيؒ او مراقي مبتدع هغه سړي ته وائي چې یو کار یا عقیده نسکاره کړي چې په خلاف د هغه حق وي چې د رسول کریم صلی الله علیه وسلم څخه منقول وي په

Maktaba Tul Ishaat.com

سبب دیوی شبهی اواخیر نودی هغه دین قوی او صراط مستقیم بولی **پوه سه** که د مبتدع ابتداع وکفرته رسیدلی وه لکه خوارج په هغه پسی لمونځ بیخي روا نه دی کذا فی الخلاصة والمحیط والمجتبیٰ، اوکه کفرته نه وو رسیدلی په اتفاق سره نوامامت مکروه دی ولې چې دا سپك مبتدع دی.

مسئله: امام محمدؒ دامام اعظمؒ اود امام ابی یوسفؒ نه روایت کړی دی چې لمونځ په اهل اهواء یعنی مبتدعانو پسی نه دی روا. لکن صحیح داده چې عدم جواز د لمانځه په مبتدع پوسې. په نیزد شیخینوؒ مشروط په دې دی چې کفریه د بدعت سره لازم وی لکه خوارج. اوکه بدعت کفرته نه وو ومفضی که څه هم د اهل السنت والجماعت نه مخالف وی نو لمونځ پسی صحیح لکن سره د کراهت. لِقوله علیه الصلوٰة والسلام: صَلُّوا خَلْفَ کل بر و فاجر، وَصَلوا عَلیٰ کل بر و فاجر، یعنی صلوٰة الجنازة، وَجَاهِدُوا مَعَ کل بر وَ فَاجِر، یعنی جهاد کوی د کفارو سره که قائد او امیر بروي اوکه فاجر، رواه الدار قطنیؒ. امام طحطاویؒ په دی ځای کښی داسی لیکلی دی، فَلا یجوز الصَّلوٰةُ خلف مَن ینکر شفاعة النبی صَلی الله علیه وَسَلم: نه دی لمونځ رَوَا په هَغه چا پسی چې منکر وی د شفاعت نه د آنحضرت صَلی اللّٰهُ علیه وَسَلم: ولې چې دا انکار کفر دی. درویش وائي که د شفاعت نه د اخرت منکروي هغه خو مطلقًا کافر دی. اوکه د شفاعت د آنحضرت صَلی اللّٰهُ عَلیه وَسَلم پسله وفاته په عالم برزخ کی دیو چا دپاره منکروی لکه وهابیان چې وائي هغه مبتدع لمونځ پسی مکروه دی. ط زیاته کړیده چې د کرام الکاتبین د نوشته نه منکروی او یا د لیدلو نه د خدای جل سلطانه په جنت کی د سترګو منکروی هغه کافر دی لمونځ نه دی پسی روا. درویش وائي چې معتزله تول د دغو دوو مسئلو نه منکر دی کما فی شرح العقائد، قَالَ الطوسیؒ فی التجرید" وَرُؤیَة اللّٰهِ تعَالیٰ کما ینعمه اهل السنة والجماعت آه اودوی وائي چې نوشته د کرام کاتبین عبث کار دی. ولی خدای پاك خوده هر چا په ښه عمل او بد عمل خبردی نو نوشته نه څه ضرورت سته، کذا فی شرح العقائد والجواب عنا فی ذالک الکتاب.

اوط زیاته کړیده چې څوك چې خدای لره لاس او مخ او پښی وائي لکه بندګانو ته هغه کافر دی. چې دی ډلی ته مشبّه وائي او یا مجسمه وائي. **پوه سه**: چې وهابیان تول دغسی وائي. اوکی صرف دومره وَیل چې خدای پاك جسم دی لا کا لاجسام هغه مبتدع لمونځ پسی مکروه دی» اوط زیاته کړیده چې څوك چې د خلافت د ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه منکر سي. هغه هم کافر دی اقتداء نه ده پسی رَوَا. درویش وائي، چې شیعه ګان په یوه خوله د خلافت نه د ابوبکرؓ الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه منکر دی نو لمونځ نه دی پسی رَوَا. او ط وائي که څوك د علیه السلام د اسراء نه منکر سی هغه کافر دی. لِقوله تعَالیٰ: سُبْحَانَ الَّذِیْ اَسْرٰی بِعَبْدِهٖ لَیْلًا آه اوکه د اسما نو د تلو نه یا فوق ته هغو منکر سی هغه ضال او مُبتدع دی. وَلی چې د غه تګ په مشهوره حدیثو سره ثابت دی. او فتح القدیر وائي چې انکار د خلافت نه د عمر رضی الله تعالیٰ عنه هم کفر دی لکه د ابوبکرؓ الصدیق رضؓ د خلافت نه چې په دی انکار کښی هم تول شیعه ګان شریك دي.

مسئله: په مجمع الروایات کی وائي که چا په هغه مُبتدع پسی چې بدعت یه کفر نه وو لمونځ وکړي ثواب د مطلق جماعت خو خدای پاك ورکوی لکن دومره ثواب یه نسته لکه چې په غیر مبتدع پسی لمونځ کړی وای»، ط، حاصل دا چې اهل السنة والجماعت ته احتیاط پکار دی چې په داسی خلګو او مُلایا نو پسی لمونځ وَنه کړي چې نوی نوی نومان پرځیل جماعت ایښی وی او اصل یه نه وی معلوم» فتأمّل.

مسئله: نه دی رَوَا لمونځ په هغه چا پسی چې د مسح د موزو نه منکروي لکه شیعه ګان او معتزله **فائده**: نه دی روا لمونځ په هغه چا پسی چې د صحبت د ابوبکر الصدیق رضی اللّٰهُ تعَالیٰ عَنه منکروي. او د غه رنګه نه دی رَوَا لمونځ په هغه چا پسی چې ابوبکر الصدیق او عمر رضی الله تعالیٰ عَنهما ته بښکنځل کوي او ظالمان ورته وائي. او نه دی رَوَا لمونځ په هغه چا پسی چې سیدتنا عائشه رضی الله تعالیٰ عنها ته نسبت د زنا کوي. او نه دی روا لمونځ په هغه چا پسی چې دیوی قطعي

[illegible] منکر وی لکه رؤیت دخدای جل جلالهٗ په جنت کی. او دغو خلکو
[illegible] اجتهاد ونه فائده نه کوی. ولی چی مسح دموزو په قرآن سره ثابته ده
[illegible] سلمؑ و رحمهمؒ په قرائت دجر چی محمول پر حال د تخفف دی کذا
[illegible] متواتر المعنیٰ سره ثابت ده کما فی کتب الاحادیث
[illegible] ابوبکر الصدیق رض هم په قرآن سره ثابت دی. اذ قال لصاحبه لا تحزن
[illegible] الله معنا قال ذالک النبی لابی بکر الصدیق اذهما فی غار جبل الثور وقت الهجرة وتفصیل
تلک القصة فی کتابی [illegible] المبین او دتحقیق سبب په اجماع دامت کفر دی قبل ظهور
الفرق المبتدعة [illegible] تنا عائشة رض په برائت کښی ۱۳ آیته دقرآن نازل سوی دی
دکوم خبره چی یقینی وی په [illegible] کی دهغی منکر هم کافر دی، ط، در

پوښتنه: لمونځ په مبتدعانو پسی چی بدعت یه کفر ته نه وی رسیدلی نو کاردی! او که یوازی لمونځ پر بی دی. **جواب**: په سراج کی وائی چی په فاسق پسی لمونځ کول اولی دی تر یوازی لمانځه لکن داخبره هلته صحیح ده چی په فاسق پسی لمونځ کول مکروه تنزیهی وی. مګر دیر علماء هغه مکروه تحریمی بولی نو بیا یوازی لمونځ کول تر جماعت د فاسق بهتر دی. رود انو کسان لکه اعرابی. ولد الزنا. مړ یی وغیره. په دغو کسانو پسی لمونځ کول یوازی پر بهتر دی. ولی چی په شرائطو دلمانځه ندی خبر رائق والا په یقین سره وائی چی اقتداء په دغو کسانو پسی افضله ده تر یوازی لمانځه وعلیه الفتوی. در،

مسئله: په لیونی پسی لمونځ مکروه دی **مسئله**: په سفیه یعنی لیونی سړی پسی لمونځ مکروه دی. **مسئله**: چی ابلج وهلی وی لمونځ پسی مکروه دئ **مسئله**: چی فِس وی او فِس یه په بدن باندی شائع سوی وی لمونځ پسی مکروه دی. **مسئله**: په ریاکار پسی لمونځ مکروه دی او داغه رنګه چی آتشک مرض په کښی وی لمونځ پسی مکروه دی. **مسئله**: په هغه امام پسی چی لمونځ په مزدوری ورکوی لمونځ مکروه دی لکن په نیز د قدماء دفقهاؤ او د متأخرینو

فتوی پردی ده چی مزدوری اخستل پر لمانځه، پر آذان، پر تعلیم القرآن، وغیر ذالک روا ده، لظهور التوانی فی امور الدین کذا قال شارح الوقایه، وکذا فی شرح السید وحاشیة جلالین. او بدر الدین العینیؒ په شرح کښی دهدائی وائی چی اقتداء په مخالف المذهب او په بر او فاجر پسی چی حد دکفر ته نه وی رسیدلی. او بیا په امام کی داسی عمل نه وی چی د مقتدی په مذهب کی هغه فاسدونکی د لمانځه وی کما مر امثلته» والاقتداء اولیٰ من الانفراد ولی چی مکروه والی خو منافی د ثواب دجماعت نه دی تر هغو چی مکروه تحریمی نه وی» والله اعلم بالصواب»

فائده: په اوسنی زمانه کښی وهابیان او سلفیان، په متابعت د ابن تیمیه الحرانی، او په فتوی د محمد بن عبد الوهاب النجدی وغیرهما ټوله امت مسلمه ته غیر د خپلو ډلګیو مشرکان او عبدة الاصنام وائی او بتان یه ملایان او مشائخ کرام بولی، حنیفیانؒ وی او که شافعیانؒ وی. او که مالکیانؒ وی او که حنبلیانؒ وی. او بیوه بله ډله چی ځانته اهل حدیث وائی په متابعت د ابن الحزم او ابن القیم ټوله امت مرحومه ته خو په اتفاق مبتدعین وائی. لکن غلاة په دوی کی هم ټوله مشرکین بولی، کتابونه د دغو ډلو تاسو مطالعه کړی. عجبه داده چی د دوی نمایندګان او مشران په خیر القرون الثلاثة کښی نه وه. او وروسته پید اسوه او خپل ابتداع فی الدین یه ښکاره کړه د دوی متابعت خلک کوی او د خیر القرون د مجتهدینو متابعت پریږدی.

مګر دا او ره: هر شی تر دسیسه ده. هغه پیسه هغه پیسه ده. نو مطلب دا چی د دغو ډلو فتوی د هیڅ اعتبار ورنه ده. بلکه یوائی او یوائی فتوی د فقه شریفی دمعتبرو متونو، او شروحو، او فتاواوو، د اعتماد او اعتبار وړ دی. نو لا زمه ده پر مونږ هیانو چی خپل د مذهب فتاواوی دی مطالعه کړی او د هغو څخه دی بدعات مکفره وغیر مکفره معلوم کړی. او دا هم لږ فکر وکړی چی هر ډلی چی پر ځان د ښکوانی نوما نو لکه اهل السنة و الجماعة حنیفیانؒ وغیره نوی نوم ایښی وی. چی ښه پوښتنه پسی وسی په پای کی ئی ترپ وی، لیعنی ګندم نما جو فروشان دی. وبس. او که تاسی د در ولیش سره حسد علی،

Maktaba Tul Ishaat.com

قومیٔ اوهم عصرئ نه لری، نوبراه کړمر رساله د دروېش چې نومړیه» البیانات الصادقة» فی احوال الفرقة الوهابیة» مطالعه کړی. او یا رساله د فقیر» سیف القندهاری علی عنق الوهابی» چې د خیالی پرغتې بیاض پسله ۶۰» څخه تر یا یر نوشته ده وګوری.
او یا رساله د فقیر کشف الغطاء عن عصمة الانبیاء»» مطالعه کړی. او که حسد لری نوزه وایم
ـه ازخیر تو بیزار ہستم شر رسان» بیت. نقصان نی بل است وګر نه علی الدوام؛ فیض سعادتش بهمه کس برابراست؛
بیت: دا باران چې پر همه وو څڅکواوري. مشرف ئې کی دا ذات د کیمیا ولې!
دا وود مبتدع په باره کښې حسب الطاقة کشف الحال» اوس بیرته رجوع کوم ان شاء الله
وشرحی تر د نور الایضاح په توفیق د خدای جل سلطانه وعم رحمته» قال المصنفؒ

وَتَطْوِيلُ الْقِرَائَةِ وَجَمَاعَةُ الْعُرَاةِ اومکروه دی اوږدول د قرائت. او مکروه دی د جماعت لوڅ کول د لخو خلګو یعنی چې عورت یه ښکاره وی،» قال علیه الصلوٰة والسلام: مَنْ اَمَّ قَوْمًا فَلْيُخَفِّفْ» کرچا امامت ورکاوه یو قوم ته نو لمونځ دی سپک کوی یعنې قرائت د خوا څخه، حکمت یه دا دی چې په تطویل کی د قرائت د خلګو نفرت راځی د جماعت د لمانځه څخه. او جماعت د بربنډو خلګو چې مکروه دی سبب یه دا دی چې یو د بل عورت ته کتل راځي. او دا غه ننګه مکروه دی اوږدول د لمانځه پـه ډیرو یلوسرو د تسبیحاتو د رکوع او سجدی وغیره. ولې چې امر د تخفیف عام دی. او په یو بل حدیث کښې راغلی دی: قال علیه الصلوٰة والسلام: يَا اَيُّهَا النَّاسُ اِنَّ مِنْكُمْ مُنَفِّرِيْنَ مَنْ صَلّٰى بِالنَّاسِ فَلْيُخَفِّفْ فَاِنَّ مِنْهُمُ الْكَبِيْرَ وَالضَّعِيْفَ وَذَا الْحَاجَةِ رواه الشیخان» ترجمه: ای خلګو بعض ستا سی په نفرت کی اچوونکی دی یعنی د جماعت څخه پس هر څوک چې خلګو ته لمونځ ورکوی نو تخفیف دی کوی. ولې چې په خلګو کی کلان سالۍ او ضعیفه خلک او کار والا خلګ ستنه»
امام طحطاویؒ تر د غه حدیث لاندی لیکلی دی چې د دې حدیث څخه دا سی معلومیږی چې امام دی قدر مسنون قرائت هم پرېږدی په مراعات د حال د قوم، او د غه امام د خپلی خبری په تائید کښې هغه حدیث د بخاری او مسلم راوړی دی چې یو وړځ رسول کریم صلی الله

علیه وسلم د سحار په لمانځه کی قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ» آه. او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ آه وایه خلګو ورته وویل اَوْجَزْتَ» لمونځ دی کوتاه کړی. علیه الصلوٰة والسلام ورته وویله: سَمِعْتُ بُكَاءَ الصَّبِيِّ فَخَشِيْتُ اَنْ تُفْتَنَ اُمُّهُ» ترجمه: ما واورېده ژړا د کشنی یعنی چې مور یه په لمانځه کی داخله وه. نوزه وبیریدم یعنی که زه قرائت اوږد کړم چې مور بی په فتنه کښې واقع سی. لیعنی یا به جماعت پرېږدی او یا بی حضو د لمانځه نه سی یا ته ص۲۴۶:
او مولوی اعزاز علیؒ په حاشیه کی د نور الایضاح په حواله د بحر ص۶۶ ج۲. دا سی لیکلی دی چې مصنفؒ مطلق تطویل مکروه وبالـه تا چې هغه صورة شامل سی چې جماعت والا محصو کسان وی او په تطویل د قرائت هم راضی وی. لکه هغه صورت خو شامل دی چې د جماعت خلق غیر محدود وی او یا راضی په تطویل نه وی آه
درویش وائی: چې د دی دوو کتابو مضمون چې وسنجوی نو قدر مسنون د قرائت لره بی انفرادی لمانځه بل ځای نه پاتیږی. ولې چې هر جماعت چې لمونځ کوونکی محصونه وی خواه مخواه کبیر السن او یا ضعیف او یا ذا الحاجه په کښی کی وی نو په دا سی جماعت کی خو تخفیف لازم دی په مقتضی د حدیث. او بحر الرائق په صورت کی د دی چې خلق محصو او راضی په تطویل د قرائت وی هم تخفیف لازم وباله. او طحطاویؒ وویل چې تر قدر مسنون دی هم تخفیف کوی او دلیل یه دا وئیلی دی. لاطلاق الامر بالتخفیف»
درویش وائی: چې قول فیصل دا دی چې انفرادی لمانځه کی قدر مسنون مستحب دی. او تر هغه تطویل کول بیله کراهته روا دی. او په صورت کی د دی چې قوم محصو وی او په تطویل د قرائت هم راضی وی. نو امام خو دی قدر مسنون نه پرېږدی. او تر قدر مسنون بالا وییل که څه هم قوم راضی وی مکروه دی: لاطلاق الحدیث کما مر» او که قوم محصو یا غیر محصو وو مګر یو سپین ږیری یا ضعیف، یا ذا الحاجه یقیناً په کښی وو امام دی تر قدر مسنون لکه د سحار یا د ماپښین لمونځ چې قرائت مسنون یه اوږد دی. په مراعات د قوم یو څه کم قرائت ووائی. تر قدر مسنون په مقتضی د لمانځه د سحار چې علیه السلام په معوذتینو سره

وگذاره. اوکه قوم محصور یا غیر محصور وو لکن مانع د تطویل متیقن نه وو. نو امام دی قدر مسنون وائی بالاویل مکروه دی. وهذا هو التحقیق الحقیق بالقبول ان شاء الله العزیز: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالنِّسَاءِ فَاِنْ فَعَلْنَ يَقِفُ الْاِمَامُ وَسْطَهُنَّ كَالْعُرَاةِ

او دا غرنگه مکروه دی جماعت د یواځو ښځو. (چې یوه ښځه امام وګرځوی او نوری اقتداء پسی وکړي) او که دوی سره د کراهت جماعت کاوه نو واجب ده چې امامه ښځه دی د نورو ښځو په مابین کی دریږی. لکه لغړ خلګ چې جماعت کوی هم بر امام په مابین کی دریږی.

مسائل: د لغړو خلګو جماعت چې مکروه دی علت یه دادی چې که امام د مخه دریږی زیات کشف د عورت ده لازمیږی. او که په مابین کی دریږی تقدیم د امام چې واجب وو پاتیږی. **مسئله**: افضله داده چې عرات (لغړ) دی لمونځونه یوازی یوازی وکړي په ناستی. او لیری لیری دې سره کښینی او په اشاره دی وکړي. او کې په جماعت کاوه هم دې په ناستی په اشاره سره وکړي. او د ښځو لمونځ چې یوازی په جماعت مکروه دی سبب یه دادی که امام د مخه دروی چونکه په ښځو کی فسق ډیردی نو بې خاندی به. او کې په مابین کی ودریږی تقدیم د امام چې واجب دی هغه پاتیږی.

مسئله: که ښځو ته لمونځ په جماعت نرو کاوه. نو که په جماعت کی بل نر هم موجود وو. او یا د امام ماینه هم موجوده وه. او یا د امام محرمه ښځه لکه مور، خور، وغیره موجوده وه خو هیڅ کراهت نشته لکه په مسجد کی، او که داسی نه وو نو د نر جماعت ورکول هم مکروه دی.

مسئله: د ښځو امام چې د صف په مابین کی وی پنده بی تر نورو ښځو د مخه وي.

مسئله: که ښځو امامه ښځه د مخه ودرول لمونځ خو به صحیح دی لکن ګناه ګار شو دي. او امام حموی د خزانة الاکمل څخه نقل کړي دی چې د مخه کول د ښځو د امام جائز دی یعنی ګناه نشته پکښی. والفتوی علی الاول، "در". **مسئله**: افضل ښځو لره داده چې په کورو کی دی لمونځونه کوي که د جمعی لمونځ وی او که دا نور لمونځونه وي. که څه هم په عمر کی

د نبي علیه السلام په ابتداء کښی ښځې جماعت ته ورتلی، خو بیا په سبب د فتنې منع سوی کنز (فی کتب الاحادیث النبویة): قَالَ اللهُ تعالٰی: وَقَرْنَ فِي بُيُوْتِكُنَّ. وقال صلی الله علیه وسلم: بیوتهن خیر لهن لو کن یعلمن. نو و مسجد ته د جماعت د پاره د دی ایت کهیم او حدیث نبوی څخه مخالفت لازمیږی: قَالَ عَلَيْهِ الصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ: صلٰوة المرأة فی بیتها افضل من صلاتها فی حجرتها، یعنی په بنده کی و صلاتها فی مخدعها افضل من صلاتها فی بیتها. یعنی هغه خونه چې دروازه یه په بله خونه کښی وی. "یعنی هر ځای چې د ښځې ستر په کښی ډیر وی هغه افضل دی د لمانځه د پاره.

مسئله: که ښځې د خپل قریب جنازې ته راغلی وی هغه دی د نورو سره په جماعت لمونځ وکړي. ولی چې د جنازې لمونځ نه مکرریږی او که دوی جماعت ونه کړي نو خود جنازې لمونځ یک لخته د دوی څخه پاته سو.

نادره مسئله: که د جنازې په لمانځه کښی ښځه د مخه سوه نر و اقتداء پسی وکړه که څه هم د نرو اقتداء خو نه ده پسی روا. لکن د جنازې د لمانځه حق د ښځې په لمانځه سرادا سو "ط". قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَقِفُ الْوَاحِدُ عَنْ يَمِيْنِ الْاِمَامِ وَالْاَكْثَرُ

او و دی دریږی چې یو وی په راسته لاس د امام، او چې بالاتر یو وی یعنی که دوه او که دری وی نو

خَلْفَهُ وَيَصُفُّ الرِّجَالُ ثُمَّ الصِّبْيَانُ ثُمَّ الْخُنَاثٰى ثُمَّ النِّسَاءُ

د امام دی و دریږی. ترتیب د صفونو دادی. اول دی صف وی د لویو خلګو، او بیا دی صف وی د نرو ځینیانو، او بیا دی صف وي د نر ښځیانو، او بیا دی صف وی د ښځو، او ځینیانی انجونی دی هم په صف کی د ښځو و دریږي. او یا تر شا د هغو لکه په نرو، لویانو او ځینیانو کی.

یوه مسئله: چې مراد د واحد څخه نر دی که لوی وی او که تمییز والا کشنی وی او که ښځه وه تر شا دی و دریږي. **مسئله**: مصنف په مراقی کی داقیا. وَمَیلی دی متاخرًا بعقبه یعنی د مقتدی پنده به تر امام وروسته وي. لکن ط وائی چې په شرح الهدایة

Maktaba Tul Ishaat.com

والقدوري والکنز والبرهان، والقهستاني وائي چې یو مقتدی بیخي د امام سره سم دریږي بیله تقدیم او تاخیره. او په مابین کې د امام او مقتدي به کمه فرجه نه وي دا هم قوله ظاهر روایت دی، درویش وائي چې شاید مصنف ته به تصحیح د غیر ظاهر الروایت ثابت سوي وي. نو ځکه یې وویل چې متأخرًا بعقبه"

پوښتنه: چې دا یو ځای د زول د مقتدي واحد د امام سره هلته دی چې د مخه تر شروع د لمانځه سره یو ځای سي. او که امام شروع په لمانځه کړي وه بیا یو سړی راغلی اقتداء یې پسې وکړه او ترشا ودرېدی امام دی اشاره ورته وکړي د ځان سره دې برابر کړي. او مکروه دی درېدل د مقتدي واحد پر چپه لاس د امام. ولې چې په حدیث کې د بخاري وغیره راغلي دي چې عبد الله بن عباس یوه شپه د علیه الصلوٰة والسلام په کور کې چې هغه کور د ده د خاله وو بیده وو او خرنګه چې علیه الصلوٰة والسلام د تهجد لپاره راپورته سو او اودس یې تازه کړی پر لمانځه ودرېدی، ابن عباس هم راپورته سو اودس یې تازه کړي. او په علیه السلام پسې اقتداء وکړه. لکن پر چپه اړخ د علیه الصلوٰة والسلام. نو علیه الصلوٰة والسلام تر غوږ و نیوی او د شا د خوا سره ورته اړخ ته راوستي. دد پاسه حدیث فوائد:

۱- دا معلومه سوه چې نفل په جماعت بیله بلنې روا دی، ۲- لږ عمل لمونځ نه فاسده وي ولې چې علیه السلام ابن عباس و راسته اړخ ته راکش کړي،، ۳- دا معلومه سوه چې د مخ والې د مقتدي پر امام نه دی روا. ولې که روا وای نو علیه السلام به ابن عباس خپله د مخ د خوا راسته اړخ ته راوستلای وای. او سره د دی چې د مخ د خوا راوستل به آسان وو تر شا د راګرځولو، کما لا یخفی. ۴- اقتداء په امام پسې روا ده که څه هم امام په ابتداء کې د لمانځه یوازې وي. او ورو وسته بل سړي اقتداء پسې وکړي. ولې چې عبد الله بن عباس خو وروسته تر شروع د علیه السلام اقتداء پسې وکړه. ۵- معلومه سوه چې د کشنې ممیز لمونځ صحیح دی. ٦- معلومه سوه چې امام د مقتدیانو ته لار ښوونه وسنت ته د لمانځه کوي. که څه هم په اشاره او فعل قلیل وي، ط.

مسئله: که مقتدیان دوه وي، نو افضله داده چې وروسته دی تر امام ودریږي. ولې چې په حدیث شریف کې راغلي دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم یوه ورځ په کور کې د ام انس تبرکًا دوه رکعته نفل کوله نو انس او بل یتیم یې ترشا ودرول. او ام انس وشا ته د هغو دوو ودرېدله. او دا یتیم د انس ورور وو د مور د خوا. او نوم یې عمیر بن ابي طلحه په یتیم مشهور وو که نې لوی سړي وو کذا في حواشي البخاري،،

سؤال: دابن مسعود نه روایت دی چې هغه وعلقمه او اسود ته لمونځ ورکاوه. او ابن مسعود په مابین کې د دواړو ودرېدی او بیا ابن مسعود وویله هکذا صلی بنا رسول الله صلی الله علیه وسلم **جواب**: هغه فعل د پاره د بیان د جواز دی. **مسئله** که دریم سړي راغلی نو پر چپه طرف د هغه چا دی ودریږي چې هغه پر برابر د امام دئ. نو به امام په مابین کې سي. ولې اول وار چې دوه کسه وه خو یو پر برابر د امام درېدلی وو او بل د امام وراسته خوا ته درېدلی وو. نو دریم چې د محاذي الامام پر چپه طرف ودریږي امام په مابین کې راځي. وهکذا که بل سړي پیدا سو هغه دی د امام د محاذي چې پر چپه طرف ولاړ دی د هغه پر راسته طرف دی ودریږي. حاصل دا چې امام دی د صف په مابین با ندی وي.

پوښتنه خلګ وائي چې د امام راسته طرف افضل دی د مقتدي دپاره نو د دی کبله پر راسته طرف د امام خلګ ډیر وي تر چپه طرف **جواب** راسته طرف هلته افضل دی چې د دواړو طرفه مقتدیان سره برابر وي نو که نوي سړي راسي پر راسته طرف دی ودریږي. او که چیري راسته طرفته یو نفر بالا وو او نوی سړي راغلی هغه له پکار دی چې طرف درېدل افضل دی. حاصل دا چې د عوامو دغه عقیده او فعل چې پر راسته طرف ډیر درېږي او پر چپه طرف کم سره د دی چې په چپه طرف کې ډیر ځای خالي وي غلط کار دئ. په فتاوای عتابیه کې وائي که امام د صف په مابین کې ودریږي ګناه ګار دئ. او یا تو له خلګ د امام پر راسته طرف یا چپه طرف ودریږي ګناه کار دئ. او په فتح القدیر کې په نقل د درایه نه وائي که چیري یو سړي د امام پر څنګ ولاړ وي او نور تول صف وروسته وي دا سې فعل مکروه دی اتفاقًا.

پوښتنه: په بعض لویو جامع مسجدو کی د محراب ساحه ډیره فراخه وی. نو که امام یوازی د ننه په محراب کی ودریږی داخو مکروه دی. او که امام پښتی تر محراب راوباسی او لا صف خرابیږی. او مسجد هم تنګ وی یعنی خلګ پرې ډیر وی. **جواب** امام دی په طاق کی د محراب ودریږی او د ۲ری یا څلورو کسه دی په محراب کی ورسره ودریږی. او نور خلګ دی بیا ندی ودریږی. نو هغه دری څلور کسه ګویا صف اول سو"

مسئله: په ترتیب کی د صفو اول صف د لویا نو نرانو، خلګو دی لقوله علیه السلام لِيَلِنِي مِنكُمْ أُولُوا الأَحْلَامِ وَالنُّهَىٰ" او د اخو نو لویان نران دي. نو پر امام لازمه ده چي ګڼنیان دی په اول صف کی نه پریږدی"

دصفونه باره کی احادیث او مسائل

مسئله: امام به مقتدیان امر کوی چی جوت سره دریږی. او په مابین کی به خالی ځای نه پریږی دی. او اوږی به سره برابری کوی او څګرونه هم" در وفي الحديث قال النبي صلى الله عليه وسلم: اِسْتَوُوْا تَسْتَوِي قُلُوْبُكُمْ" برابر سره دریږی په لمانځه کی نو سره برابر به سی ستاسی زړونه " دا د صفود برابرولو یو راز دی چی خدای پاك نبی علیه السلام ته کشف کړی دی. یعنی برابرول یدل په صف کی سبب دی د برابری د زړو د مسلمانانو دی" لکه په بل حدیث کی چی راغلی دی چی اختلاف د صف سبب د اختلاف د زړو ګرځی. وَتَمَا سُوا تَرَاحَمُوْا. او تاسی یو د بل سره نږدی دریږی خدائ به پر تاسی رحم وکړي. او په حدیث پاك کی داسی راغلی دی" أَقِيْمُوا الصُّفُوْفَ: "تاسی صفونه برابر وی. وَحَاذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوا الْخَلَلَ" او تاسی سره برابروی اوږي یو د بل سره. او تاسی بندوی فرجه د دوو کسو ترمابین. یعنی فرجه مه پریږ دی لکه په بل حدیث حسن کی بزار یه روایت کړی داسی راغلی دي. مَنْ سَدَّ فُرْجَةً فِي الصَّفِّ

عه جمع حلم بضم الحاء ای البلوغ ۱۲ منه عه جمع نهیة بضم النون ای النوم العقل ۱۲ منه

ترجمه: که چا بنده کړه فرجه په صف کی خدائ بی ګناه ورو بخښی.
غفرله: ولینوا بایدیکم اخوانکم: او تاسی نرم کړي څپلو لاسو خپل ورونړه، یعنی که په صف کی فرجه وه او ته ور داخلیدی دو رو رچی په صف کی ولاړ دی لاس پر کښیږده چی نرم سی. او په دا فرجه کی تا پریږدی. پردی ترجمه لَيِّنُوا په شد دیاء دی. او په بل حدیث کی د ابوداؤد امام ابی عمر څخه داسی روایت دی" ولینوا بایدی اخوانکم پردی تقدیر یا په تخفیف ووایه " او ترجمه یی داسی ده چی هغه سړی چی په صف کی ولاړ وی ځان دی نرم کړي ورور ته په سبب د لاس ایښولو دده پر او نه چی صف ته داخلیده غواړي یعنی د دده دی ځانته نه ور ولی. چی ته ولی د صف په مابین کی را ننوزی. ولی هغه ورور دا فرجه ډکوي. لَا تَذَرُوْا فُرَجَاتٍ لِلشَّيْطٰنِ" او تاسی مه پریږدی خالي ځایونه چی فرجه ورته وائی د شیطان دپاره. چنانچه په بل حدیث شریف کی راغلی دی چی شیطان چی فرجه وویني په هغی کښی داخلیږی دپاره د وسوسی مَنْ وَصَلَ صَفًّا وَصَلَهُ اللهُ" اخبار دی یا دعا ده یعنی که چا صف سره متصل کړي یعنی فرجه یی نه پریښوله خدائ بی وصل کړي وخیر ته. او یا دی خدائ وصل وکړی وخیر ته علی تقدیر الاخبار و الدُّعَاءِ: وَمَنْ قَطَعَ صَفًّا قَطَعَهُ اللهُ" که چا قطع کړي صف خدائ بی د خیره څخه قطع کړي.
قطع د صف یا داده چی په صف کی ولاړ وی او بی ضرورته د صفه څخه ووزي. او یا داسی چی دیوه صفه ووزی او بل صف ته ولاړ سی. او د خپل اول صف ځای خالی پریږدي. قَالَ

وَأَفْضَلُ الصُّفُوْفِ أَوَّلُهَا ثُمَّ الْأَقْرَبُ فَالْأَقْرَبُ

او ښه د صفو اول صف دی وروسته بیا نږدی او نږدې. یعنی اول صف ته. لکن دا په غیر کی د جنازی د لمانځه چی په هغه کی اخیر صف خیر او افضل دئ. ولی د شبهی د عبادت د غیر الله لیری دئ. ط " په حدیث شریف کی راغلی دی: إِنَّ اللهَ وَمَلَائِكَتَهُ يُصَلُّوْنَ عَلَى الصَّفِّ الْأَوَّلِ **پوښتنه**: چی په صفو کی د نرو اخیر صف بیکاره دی ولی چی ښځو ته نږدې دئ.

Maktaba Tul Ishaat.com

اود بڅوپه صفوکی اول صف بیکاردی ولی چی وَنروته نزدې دئ اخیرصف دښځوافضل دئ. مصنفؒ په مَراقی کښی وَائی: چی دحَدیث په یَوه روایت کی داسی راغلی دی: چی خدائ پاك نزول درحمت خپل کوی اول پرامام، او وروسته پرهغه چاچی برابر پرامام وَلاړوی. او وروسته بیا پرهغوکسانو چی دامام پر استه اړخ وَلاړوی. او وروسته بیا پرهغوکسانو چی دامام پرچپه لاس وَلاړوی. او بیا نورحمت وصف ثانی ته راځی. یعنی ثم وثم الی اخیرالصفوف"

اوپه یوه روایت کی په قول د مَراقی کی داسی هم راغلی دی، "چی هغه چا ته چی پر برابر دامام لمونځ کوی د سلو لمونځو ثواب ورکول کیږی. اوچی پر ښی طرف دامام لمونځ کوی د ۷۵ لمونځو ثواب ورکول کیږی. اوچی پرچپه طرف کی دامام لمونځ کوی د ۵۰ لمونځو ثواب دی. اوچی په نورو صفوکی وی د ۲۵ لمونځو ثواب ورکول کیږی

اوپه حدیث کی دابی مالك الاشعری[۴] داسی راغلی دی چی نبی علیه الصلوٰة والسلام لمونځ کاوه. نوپه اول لوی نران وځانته څرمه یعنی نزدی ودرول. اوبیا یه کشنیان په هغوپسی ودرول. اودکشنیانو وشا ته ښځی ودرولې.

مَسئَلَه: که ده کشنیا نوصف نه برابریدی نوکوشنیان دی رجال په ما بینوکښی ودریږی. درویش وائی چی دا تفصیل دصفوپه هغه وخت کښی ووچی ښځی جماعتو ته راوتلای سَوای. لکن اوس خودوی ممنوع دحضورځخه دجماعتو. اللهم الا فی الحرمین الشریفین للحرج الکلی للنسوة اللاتی یأتین من خارجهما"

تبصره برابرول د صفونه دامام المسجد ده په داسی خبره دی صَفونه برابرکړی، نژدی نژدی سره ودریږی تیرو بیرمه دریږی. لکن زمونږ دپښتنو بعض امامانچی په محراب کښی ودریږی هیڅ چاته هیڅ ښوونه نه کوی. او نه دصفوو خواته ګوری. نودی سببه چی امام بی غږ نه کوی خلګ هر ډول چی په صَف کی ودریږی هغه ډول وَلاړوی څوك پرمخ او څوك ترشا. په مابین کی ډیری فرجی هم پیداوی. وَالی الله المشتکیٰ"

فَصْلٌ فِیْمَا یَفْعَلُهُ الْمُقْتَدِیْ بَعْدَ فَرَاغِ اِمَامِهِ مِنْ وَاجِبٍ وَغَیْرِهِ

فصل دی په بیان کی دهغوکارو، "چی مقتدی بی کوی پس له فارغ والی څخه دامام دهغه واجب وی اوکه غیرد واجبو څخه وی. **پوه سه** امام طحطاویؒ په شرح کښی دمراقی الفلاح داسی وائی. **اِعْلَم** آه **پوه سه** چی مقتدی دری قسمه دی ۱ مدرك ۲ مسبوق، ۳ لاحق. **مدرك** هغه مقتدی ته وائی چی ټوله رکعتونه دامام سره وکړی

لَاحِق هغه مقتدی دی چی دامام سره خوپه اول وار کښی داخل سی او بیا ټوله رکعتونه اویا بعضی رکعتونه څندی پاتې سی، یا بیده سی. اویا ویښ وی لکن د لمانځه څخه په سبب دیوفکرغافل سی. اویا دازدحام په سَبب پرټولو رکعتو یا بعضو قادر نه سی. اویا بی اودسه سی چی دی اودس تازه کوی امام د لمانځه څخه فارغ سوی وی. اویا مقتدی مقیم وی په مسافِر امام پسی اقتداء وکړی" نوچی امام سلام وګرځوی پرده خولمونځ پاته دی، نوحکم دلاحق حکم د مدرك دئ. یعنی لاحِق چی خپل لمونځ پوره کوی نه یه قرائت وائی. اوکه چیری وده ته پخپل لمانځه سهوه ور پیښه سی. سجده سهوه با ندی نسته. ولی چی دی حکمًا گویا که په امام پسی وَلاړ دی. اوکه دَغه لاحِق چی مسافِروی. دخپلو رکعتو د راګرځولو په وخت نیت د اقامت وکړي. فرض لمونځ یی نه څلور کیږی. اولاحق که چیری بیده وو یا بی اود سه سوی وُو.

لکن چی دی راویښ سواو یا یه اودَس تازه کړی امام هنوز د لمانځه څخه نه وو فارغ سوی نوکه ممکن وه چی دی خپل یو رکعت مثلًا وکړی. او بیاد امام سَره ګډون وکړی او سلام بوځای سره وګرځوی خود اغښی دی وکړی. اوکه داسی ممکن نه وَه نود امام متابعت دی وکړی او په خپلو تیرو سوو رکعتو دی ځان نه مشغول کوی ترهغو دی امام سَلام وګرځوی. اوور وسته تر سَلام دامام خپل تیر سوی لمونځ راوګرځوی. اوکه پر امام سجده سهوه لازمه سوی وَه. دی به سجده سهوه نه ور سره کوی. بلکه خپل قضائی لمانځه ته دی ولاړ سی. اما پس له سَلامه دلاحق دی هغه سجده وکړی. او هغه سَری

فائده: مصنفؒ تشهد ذکرکړو ولی که مقتدي درود نه وو وئیلی یا اللهم بنا اوریه یا تر وه او مُلا سلام وګرځاوه مقتدی به سلام ورسره ګرځوی. ولی دا خو ترك د سنت دی. **تفریع:** دروږی په میاشت کی تراویح لبعض مُلایان بیخی چا بکی کوی نو مُلا اخو به کم از کم اللهم صل علی محمد وعلی ال محمد وائی احتیاطاً ولی چی بعض فقهاءؒ په اخیره ناسته کی درود واجب بولي. او س نوکه مقتدی درود د غونه قدر هم نه وو وئیلی دامام سره دې سلام وګرځوی. لبعض صوفیان عوام درود پوره کوي او بیا سلام ګرځوی هغه د فقهی خلاف کار دی.

مسئله که امام ته بیله قصده اودس مات وړ پیښ سو او په قدر د تشهد کښیناستلی وو. نو ولاړ دی سی. اودس دی تازه کړی او بیا دی سلام وګرځوی او قوم ته دی یو څوك خلیفه کړی چه هغه وقوم ته سلام وروګرځوي **مسئله** که امام پس له تشهد و یلو څخه پر قصده ځان بې اودسه کړی نو د امام لمونځ تام سُو او مقتدی که مدرك وی که التحیات نه وه وئیلی نه بې وائې او سلام به هم نه ګرځوی ولی چی مقتدی د لمانځه څخه ووتی چه د غه جزء چی د امام د بې اودسیا سره جوت وُو هغه باطل سُو. نو پر فاسد بناء نه ده روا. لکن د مقتد ی لمونځ صحیح دی لکن ګرځول به پر واجب دی د پاره د جبیری د نقصان پر ترك د سلام، ط م.

مسئله: که امام تشهد په قدر نه وو کښیناستلی او عمداً یې اودس مات کړې او یا یې په زوره وخندل لمونځ د امام او مقتدی دواړه باطل سُو. **مسئله** که امام و دریم رکعت ته ولاړ سو او مقتدی التحیات نه وه پوره کړی نو پوره دی کړی او که پوره نه کړې دامام سره ولاړ سی هم روا ده. ولی دوه واجب د مقتدی په مخ کی دی متابعت د امام او پوره کول د تشهد ی نو د ده اختیار دی هر یو چی کوی. او په فتاوای فضلی کی او تجنیس کی وائی چی حمادی التحیات پوره کړی او بیا دی په امام پسی ولاړ سی. لکن اول مذهب مشهور او د فتوا وړ دئ.

کتبه ورتبه بیده احقر العباد فضل الحق حقانی غفرله.

چی هم مسبوق یعنی اول د لمانځه څخه تیر سوی وی او هم لاحق وي. چی اخیر د لمانځه څخه تیر سوی وي. نو امام سلام وګرځوی. او وروسته تر سلام د امام خپل تیر سوی لمونځ را وګرځوی. او دی د بے د قضاء د پاره و لاړ سی. او ل وا ن دی هغه رکعت او که پر امام سجده سهوه لازم سوی وه. دی به سجده سهوه نه ور سره کوي. بلکه خپل قضائی لمانځه ته دی ولاړ سی. [illegible] او وروسته دی بیا هغه رکعت را وګرځوی چی امام په اول کی د ده څخه تیر کړی وو سره د قرائت. او کی عکس د دی وکړی ګناه کار دئ. ولی چی ترتیب د قضاء او را لو پر یښود" کما فی فتح القدیر". لکن لمونځ ئې صحیح دی خلافا لزفرؒ. **مسبوق** هغه مقتدي ته وائی چی امام ته ولاړ رکعتونه څخه ورته تیر کړي یعنی دی پر اخیره ناسته راورسیدی او یا بعض رکعتونه یې څخه تیر کړي وي او د مسبوق حکم دا دئ چی دی قضاء راوړی په حق کی د قرائت د اول د لمانځه یعنی قرائت به وائی او قضاء دی راوړی د اخیر د لمانځه په باره کی: قال

لَوْسَلَّمَ الْإِمَامُ قَبْلَ فَرَاغِ الْمُقْتَدِى مِنَ التَّشَهُّدِ يُتِمُّهُ

که چیری سلام وګرځاوه امام د مخه تر فراغ د مقتدی د التحیات څخه نو مقتدی د ې التحیات پوره کړی. ولی چی د التحیات وَیل په اخیره ناسته کښی واجب دی. او بیا دی سلام وګرځوی. ولی چی تحریمه د لمانځه پاتنده. او جمع د التحیات او سلام ممکن دی کما قلنا. دا مذهب دی د شیخینوؒ. او امام محمدؒ وائی چی التحیات دی نه پوره کوی بلکه د مُلا سره دی سلام وګرځوی. ولی چی مقتدی په سلام ګرځولو د امام د لمانځه څخه خارج سو:

پوښتنه: چی که ملا خبری وکړي د مخه د مقتدی تر التحیات هم حکم یې د غه دی ولی چی خبری د امام په اخیره ناسته کښی لکه سلام دی چی امام د لمانځه څخه په وزی او د مقتدی تحریمه باقی ده. نو التحیات دی پوره کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ المصنفُ **وَلَوْرَفَعَ الْإِمَامُ رَأْسَهُ قَبْلَ تَسْبِيْحِ الْمُقْتَدِىْ ثَلَاثًا فِى الرُّكُوْعِ اَوِالسُّجُوْدِ يُتَابِعُهُ** کہ چیری امام سر پورته کړی د رکوع یا سجدې څخه او مقتدی دری واره تسبیح نه وه پوره کړې دامام متابعت دی وکړي. ولې چې متابعت د امام واجب دی او تسبیح ویل سنت دی نود پاره دواجب دی سنت پرینږ دي. قَالَ المُصنفُ:

وَلَوْزَادَ الْاِمَامُ سُجْدَةً اَوْقَامَ بَعْدَ الْقُعُوْدِ الْاَخِيْرِسَاهِيًا لَا يَتَّبِعُهُ الْمُؤْتَمُّ اوکه چیری زیاته کړه امام یوه سجده په رکعت کی چی وه اویا ولاړ سو امام پسله اخیری ناستی یعنی بل رکعت ته په سهوه سره. نو مقتدی دې د امام متابعت نه کوی نه په سجده کی او نه د بل رکعت په ولاړیدو کی. ولې د غه سجده زائده یا بل رکعت خود اصلی لمانځه څخه دامام نه دی. نو پر مقتدی یه متابعت هم لازم نه دی. نو مقتدی دی داغسې د رنګ وکړي که چیرې امام بیرته د ولاړې څخه راوګرځیدی یعنی خپله سهوه یه پیاد سوه یا یوچا فتح ورکړه. نو غږو خت چی ملا سلام ګرځوی مقتدی به هم سلام ورسره وګرځوی. قَالَ

وَاِنْ قَيَّدَهَا بِسَجْدَةٍ سَلَّمَ وَحْدَهٗ اوکه امام مقید کړی هغه زائد رکعت په سجده سره نو مقتد ی دی یواځی سلام وګرځوی. **مسئله**: که امام په تکبیرونو کی د اختر و بالاتکبیر ووایه مقتدی دی متابعت نه کوی. او دغه رنګه که امام د جنازې په لمانځه کی پنځم تکبیر ووایه مقتدی دې متابعت نه کوی. ط. کی رکعت په سجده مقید کړی او کی نه کی بیرته راګرځیدای سی سره د کراهت او لمونځ یه نه دی فاسد» قَالَ المصنف

وَاِنْ قَامَ الْاِمَامُ قَبْلَ الْقُعُوْدِ الْاَخِيْرِسَاهِيًا اِنْتَظَرَهُ الْمَامُوْمُ اوکه ولاړسو امام و بل رکعت ته د مخه تر اخیری ناستی په سهوه سره نو مقتدی دی و امام

ته انتظار وکړي. ساهیًا د دی د پاره ووایه. که چیری امام په قصد ولاړ سی لمونځ یه فاسد سو او د مقتدی لمونځ هم تبعًا فاسد سو. قَالَ المُصنفُ:

فَاِنْ سَلَّمَ الْمُقْتَدِىْ قَبْلَ اَنْ يُّقَيِّدَ اِمَامُهُ الزَّائِدَةَ بِسَجْدَةٍ فَسَدَ فَرْضُهٗ اوکه مقتدی سلام وګرځاوه د مخه تر دی چی امام زائد رکعت په سجده سره مقید کوی نو فاسد سو فرض لمونځ د مقتدی: قَالَ المُصنفُ:

وَكُرِهَ سَلَامُ الْمُقْتَدِىْ بَعْدَ تَشَهُّدِ الْاِمَامِ قَبْلَ سَلَامِهٖ او مکروه دی یعنی تحریمًا سلام ګرځول د مقتدی پسله التحیات ویلو څخه د امام مګر د مخه تر سلام د امام، وجه د کراهت یه دا ده چی د متابعت د امام پریښو. لکن لمونځ د مقتدی سره د ترکه د متابعت په سلام کی فاسد نه دی. حتی که پسله سلامه د مقتدی او د مخه تر سلام د امام د بحار په لمانځه کی نمر راوخیژی د مقتدی لمونځ نه دی فاسد. اوکه مقتدی په تیمم لمونځ کاوه، ده چی سلام وګرځاوه او بیه پیدا سوی هغه لمونځ صحیح دی «مرط، قَالَ:

فَصْلٌ فِى الْاَذْكَارِ الْوَارِدَةِ بَعْدَ الْفَرْضِ

فصل دی په بیان کی د هغو ذکرو چی وارد دی پس له فرضو یعنی پسله فرضی لمونځو څخه او فضیلت د هغو **اَلْقِيَامُ اِلَى السُّنَّةِ مُتَّصِلًا بِالْفَرْضِ مَسْنُوْنٌ** ولاړه و سنتو ته جوت په فرضی لمانځه پسی سنت دی **پوه سه**: چی مراد د اتصال دا دی چی تر هغه دعا بالا دی ځنډ چی په حدیث شریف کی راغلی. کَانَ عَلَيْهِ السَّلَامُ اِذَا سَلَّمَ يَمْكُثُ قَدْرَ مَا يَقُوْلُ» یعنی وو علیه الصلوة والسلام چی سلام بی وګرځاوه یعنی د فرض لمانځه څخه د رنګ بی کاوه په اندازه د هغه

چې ویل بې. اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَام وَ مِنْكَ السَّلَام وَ اِلَيْكَ يَعُوْدُ السَّلَام تَبَارَكْتَ يَا ذَالْجَلَالِ وَالْاِكْرَامِ. ثم يقوم الى السنة:

تحقيق المقام

په حديث مذکورکې لفظ د قَدْرَ مَا يَقُوْل آه ددے دپاره وَوَ يل سوچې بعينه اَللّٰهُمَّ انت السلام آه لازم نه دی اونه آنحضرت صلی الله عليه وسلم په دغو الفاظو هميشه توب کړی دی. بلکه په اندازه د مذکوره الفاظو به ئې د رنګ کاوه. نوکه څه تر دغو الفاظو لږ بالاوی او عليه الصلوٰة والسلام تر لا څه وروسته وئيلی وی هم روا دی. کما فی رواية عائشة رضی الله عنها: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يَقْعُدُ اِلَّا مِقْدَارَ مَا يَقُوْل. يعنی عليه الصلوٰة والسلام نه کښينستی يعنی پس له فرضو مګر په مقدار د دی چې وئيله بې. اَللّٰهُمَّ اَنْتَ آه چې په دے حديث کې هم لفظ د مقدار اغلی دی.

غرض دا دی چې نو دا سوال نه وارديږی چې په بخاری او مسلم کې دا سی راغلی دی عن المغيرة انه صلی الله عليه وسلم كان يقول دبر كل صلوٰة مكتوبة: لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ. اللهم لَا مَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ وَلَا مُعْطِيَ لِمَا مَنَعْتَ وَلَا يَنْفَعُ ذَا الْجَدِّ مِنْكَ الْجَدُّ» او بيا يوازی په مسلم کې په روايت د عبد الله بن زبير رض داسی راغلی دي. وكان رسول الله صلى الله عليه وسلم اذا فرغ من صلوته قال بصوته الاعلى لَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وحده لَا شَرِيْكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وهو على كل شئ قدير. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللهِ العلى العظيم وَلَا نَعْبُدُ اِلَّا اِيَّاهُ وَله الفضل وَلَهُ الثناء الحسن لا اله الا الله مخلصين له الدين. ولو كره الكافرون. نو د دغو الفاظو څخه حاصل د جواب دا سو چې په حديث کې د اَللّٰهُم انت السلام آه تعيين او تحديد مقصود نه دی. نو دَ دغو واردو ذکرو څخه هر ذکر چې سړی وکړی پروا نه لري **مسئله** داخير حديث څخه داسی هم معلومه سوه چې پوره ته کول د آواز و په ذکرسره وروسته تر لمونځو چې فرضی وی جائز دی. بلکه بعض سلف وائی

چې دغه رفع د صوت مستحب دَه، وَبه قال ابن حزم من المتأخرين كذا فى ط

فائده په بعض کتابو کښې وائی چې دغه الفاظ: كان يقول: كان يفعل، و مثل ذالک دلالت کوی په دوام او استمرار د هغه قول يا فعل نو ديوه ته حديثو څخه دا معلومه سول چې دا قاعده په غالب بناء ده کليه نه ده فافهم **مسئله:** امام طحطاوی چې هغه کلمی چې په اَللّٰهم اَنْتَ السَّلَام په اخير کی چا زياتی کړی. يعنی واليك يرجع السلام فحيينا ربنا بالسلام وادخلنا دار السلام» هيڅ اصل نه لري بلکه دا زائدی کلمی بعض قصه ګوو نکو زياتی کړی دي. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَعَنْ شَمْسِ الْاَئِمَّةِ الْحُلْوَانِيِّ لَا بَأْسَ بِقِرَائَةِ الْاَوْرَادِ بَيْنَ الْفَرِيْضَةِ وَالسُّنَّةِ

او د شمس الائمه حلوانی څخه روايت دی چې باک نسته په وَيلو کی د اورادو لکه اية الكرسی وغيره په مابين کی د فرضو او سُنتو يعنی اتصال د فرضو او سنتو ضروری نه دئ. او اولی خبره داده چې اوراد دې تر سنتو وروسته وَوائی چې کراهت بالکليه لرې ته سی. لکن صاحب الاختيار د شمس الائمه څخه مخالف دی او هغه وائی چې هر لمونځ چې وروسته سنت لری مکروه ده ناسته پس له فرضو تا چې فصل راتسی په مابين کی د فرضو او سُنتو مګر هغه قدر چې د سيد تنا عائشه رض څخه روايت دی يعنی اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَام الخ هغه مقدار د خه دُعا او يا بل ورته ذکر چې د مخه تير سوله کراهت نه لري. م،

د فهم وړ خبره پوه سه: چې دغه اتصال د سنتو د فرضو سره په استثناء د اللهم انت السلام آه هلته دی چې دی سنت په مسجد کښی ګذاري اوکه کور ته تلی او سنت په هوری کول نو بيا فصل جائز دی که څه هم د قدر مسنون څخه بالاوي. ص۲۵۳

التوفيق بين قولی الاختيار و شمس الائمة پوه سه چې مراد د کراهت څخه په قول کی د اختيار کراهت تنزيهی دی او د شمس الائمة؟ مراد هم دا غر دی ولې چې د لفظ لَا بَأْسَ آه وئيلی دی. او د الفظ د لَا بَأْسَ په اصطلاح کی د فقهاو

Maktaba Tul Ishaat.com

په هغه ځای کې مستعملېږي چې مخالف طرف يې اولٰی وي. اويا مراد د صاحب الاختيار ادعيه کثيره دي چې ډېر فصل لازموي.

او مراد د کراهته نه کراهتِ التحريم دی. او د شمس الائمهؒ مراد مطلق جواز دی. او مراد يې فصل په اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ آه دیٔ. **مسئله**: په فتح القدير کې وائي چې د عليه الصلوٰة والسلام نه ندي ثابته سوی فصل د سُنت او فرضو تر ما بين په هغو اذکارو سره چې پر هغو باندی مواظبت کيږي په مساجدو کښې زمونږ په زمانه کې لکه قرائت د اٰية الکرسي وغيره.

سوال: په صحيح حديث کښې راغلي دي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فقراوو ته د مهاجرينو وويل" تُسَبِّحُوْنَ وتُکَبِّرُوْنَ وتُحَمِّدُوْنَ الحديث فی دبر کل صلوٰةٍ. نو د دې حديث نه پر اوږدو اذکارو مواظبت فهميږي. **جواب**: آنحضرت صلی الله عليه وسلم خو ودوی ته داسې نه دی فرمائيلي چې دغه ۳۳ واره تسبيح، ۳۳ واره اَللّٰهُ اَکْبَرُ ۳۳ واره تحميد. تاسې په فرضي لمانځه پسې متصل وايا ست که څه هم وروسته سُنت هم وي. نو مراد وېل د دغو تسبيحاتو وغيره متصل په فرضو پسې دي چې وروسته سنت نه لري. لکه د سحار او ماز ديګر لمونځ او وروسته تر سنتو ويل دي په هغو لمونځو کې چې وروسته سنت لري لکه غير د دغو دوو لمونځو نه فافهم:

فائده: که چيرې مصلي پس له فرضي لمانځه ډېرې خبرې وکړي اويا خوراک څښاک وکړي تر سُنتو د مخه ورو سته سنت وکړه. صحيح دا ده چې سنت يې باطل نه دیٔ. البته ثواب يې لږ دی. او بعض فقهاء وائي چې هغه چې مُصَلي وروسته وکړه سُنت نه دي بلکه نفل دي **مسئله**: په سُنت قبلي او بعدي دواړو کښې وصل د فرضو سنت دی. مګر هغه کې سُنت قبلي يا بعدي کور کوله بيا فصل روادی که څه هم ډېر وي. مثلاً يو سړي د سپيد وسره د سحار په کور کښې سنت وکړي او بيا د جماعت تر وخته په اذکارو او وظائفو سره اخته وي پروا نه لري.

بيانُ الافضل پوهسه: چې په سنتو کې افضل دا ده چې داسې ځای دي ګذاري چې د رِيا نه لېرې وي او اخلاص پکښې وي او کامل وي که قبلي وي

او که بعدي وي. که کور وي او که بل ځای. ما سوا د تراويحو او تحية المسجد" ولې چې افضل په تراويحو کښې مسجد دی او تحية المسجد خو د مسجد د پاره دَه. قَالَ المُصنفؒ.

وَيُسْتَحَبُّ لِلْاِمَامِ بَعْدَ سَلَامِهِ اَنْ يَّتَحَوَّلَ اِلٰى يَسَارِهِ لِتَطَوُّعٍ

او مستحب دَه امام لره بعد السّلام دا چې څرد ګو ښه سي د فرضي لمانځه د **بَعْدَ الْفَرْضِ** ځای نه يعني په محراب کې که تر شا صَف مُتصل وو ځای نه وو او يا وه بغل ته محراب وو، لکن د امام وچپ لاس ته د دې د پاره چې تطوع يعني سُنت وګذاري پس له فرضو نه **پُوهسه**: چې چپ طرف د مُستقل راسته طرف د مقابل راسې لکه دوه کسان چې سره مخامخ ودرېږي نو د هغه چپه طرف د هغه بل راسته برابرېږي. نو د مصلي چپه اړخ د بيت الله شريفي راسته اړخ ګرځيدل کيږي. د دې انصراف وجه دا ده چې يمين لره د قبلي فضيلت سته. که څه هغه بل طرفته هم انصراف روا دیٔ.

او د اصل تحول وجه دا ده چې که امام پر عين ځای د فرضو سُنت کوي خلګوته چې راسې اشتباه پيدا کيږي چې د دوی به خيال دا سي چې امام هنوز په فرضي لمانځه کی دی. او دا هم مستحب دَه چې قوم دې څرڅه وچپه لاس ته سره وخوزيږي. قَالَ المُصنفؒ:

وَاَنْ يَّسْتَقْبِلَ النَّاسَ بَعْدَهٗ او مستحب دَه چې امام به مخ را اړه وي و خلګوته يعني وروسته تر سُنتو او تطوع او يا متصل په فرضي لمانځه پسې که وروسته تر لمانځه تطوع يعني سنت نه وه لکن که مخامخ وامام ته لمونځ کوونکی نه وُو. د دې مخ را ګرځولو نه مقصود اذکار وغيره ويل په اجتماعي توګه او دعا کول دي په اجتماع د وَل چې تفصيل بې ښه ډَول د رويش وکړی اِن شاءَ اللهُ: **واوره**: چې وهابيان، او سلفيان، او د زمانې اهل حديث، دعاء په اجتماعي ډَول پس له سنتو نه چې خلک او امام يې کوي بدعت بولي. او ملايان د دوی د بدعت معنا و عوامو ته نه بيانوی. حتی چې د عوامو دا خيال دی چې بدعت معنا کفر دی ديوه عامي نه د دوی عاصي پوښتنه وکړه چې ته چې وائې چې دا اجتماعي دعا بدعت دَه

د بدعت څه معنیٰ ده. هغه وو ئیله د بدعت معنیٰ شرك دی. اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ الْعَظِيْم"

پوښتنه: چې دعاء بعد السنن څو بدعت نه ده بلکه لعض فقهاؤ یې مستحب هم بولي. لکن په مجمع الروایات کې وائي چې امام چې د فرضو او سنتو څخه فارغ شي د ده خوښه ده که خپل اوراد وائي په ناستې او یا په ولاړې"

سوال: د جمعې د لمانځه په اړه څو کښې خدائ وائي. فَاِذَا قُضِيَتِ الصَّلٰوةُ فَانْتَشِرُوْا فِي الْاَرْضِ الْاٰيَة نو د دې آیت څخه خو دا معلومېږي چې اجتماعي دعا نسته **جواب** امام طحطاويؒ وائي چې دا امر د پاره د اباحت دی. او اباحت ده نه کولو د دعاء اجتماعي منافي د استحباب سره نه دی: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَسْتَغْفِرُوْنَ اللّٰهَ وَيَقْرَؤُوْنَ اٰيَةَ الْكُرْسِيْ وَالْمُعَوِّذَاتِ

او دوی د ې طلب د بخښنې وکړي د خدای څخه. او دوی د ې وائي آیة الکرسي او قُلْ هُوَاللّٰهُ اَحَدٌ قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ آه قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ آه چې درې سره وو ته معوذات تغلیبا وائي

وَيُسَبِّحُوْنَ اللّٰهَ ثَلَاثًا وَّثَلَاثِيْنَ وَيُحَمِّدُوْنَهٗ كَذٰلِكَ وَيُكَبِّرُوْنَهٗ كَذٰلِكَ

او دوی دې سُبْحَانَ اللّٰه ووائي ۳۳ واره او اَلْحَمْدُ لِلّٰه دې ووائي هم ۳۳ واره. او اَللّٰهُ اَكْبَرُ دې ووائي هم ۳۳ واره. قَالَ

ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ وَحْدَهٗ لَا شَرِيْكَ لَهٗ لَهُ الْمُلْكُ

او بیا دې دا کلمې ووائي. نشته معبود ما سوا د الله څخه چې یو دی شریك نه لري، او د هغه با چهي ده.

وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ثُمَّ يَدْعُوْنَ لِاَنْفُسِهِمْ وَلِلْمُسْلِمِيْنَ

او د اغه الله لره حمد دی. او دی پر هر شي باندې قادر دی. او وروسته دې دعا وکړي په اجتماعي ډول خپلو ځانو او ټولو مسلمانانو ته.

رَافِعِيْ اَيْدِيْهِمْ ثُمَّ يَمْسَحُوْنَ بِهَا وُجُوْهَهُمْ فِيْ اٰخِرِهٖ

لاسونه د دعا سره پورته نیولي وي. او بیا دې مسح کړي په لاسو سره خپل مخونه په آخر کښې.

د امام او منفرد تر لمانځه وروسته اوراد په حدیث کې د ثوبانؓ د اسې راغلي چې وو به رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د لمانځه څخه به خلاص سو، درې واره به ئې استغفر الله تعالیٰ ویله. او دا ئې هم ویله اَللّٰهُمَّ انت السلام ومنك السلام آه رواه مسلم وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم: که څوك استغفار ووائي وروسته تر لمانځه درې واره او دا سې ووائي: استغفر اللّٰهَ الذی لا اله الا هو الحی القیوم واتوب الیه نو خدای پاك ئې ګناهونه ورو بخښي که څه د جنګ څخه د کفارو تښتیدلی وي. او آیة الکرسي دې هم وائي: لقول النبي صلی الله علیه وسلم: که څوك ووائي په وروسته کې د هر لمانځه آیت الکرسي نو نه به کې منع د دخول څخه د جنت مګر موت، او که چا آیت الکرسي وویله په هغه وخت کې چې پر ځای د خوب د پاره پریوځي خدائ به امن کې ولري د ده سرای او سرای د همسایه د ده او نور کورونه شا وخوا د ده، ط ص۲۵ او بیا معوذات دې ووائي. لقول عقبة بن عامرؓ: اَمَرَنِيْ رسول الله صلی الله علیه وسلم اَنْ اَقْرَءَ المعوذات دبر کل صلوٰة. او تسبیح او حمد او تکبیر دې ووائي ۳۳، ۳۳، ۳۳، واره چې په حدیث شریف کې راغلي دي که چا دغه تسبیحات یعنی چې په نور الایضاح کې هم دا اوس تیر سوه وویل. وبه بخښل سي ګناهونه د ده که څه هم په مثل د ځګ د دریاب وي. رواه مسلم.

پوښتنه: چې د دغو تسبیحاتو په مابین کې څو ترتیب لازم نه دی یعنی هره یوه کلمه چې د مخه کوي روا ده. او په روایاتو کې د حدیثو مبارکو وهم ګاهې یوه مخه وي او ګاهې بله د مخه وي. لکن اولیٰ دا ده چې اول دې تسبیح ووائي چې معنا یې دا ده چې خدائ د هر عیبه څخه پاك دی. چې د ې ته په عربي تخلیه وائي. او بیا دې تحمید ووائي چې معنا یې دا ده چې خدائ په ښو اوصافو ستائیلی دی. چې دې ته په عربي تحلیه

Maktaba Tul Ishaat.com

وائی اوقانونًا تخلیه تر تخلیه د مخه ده. مثلاً سړی به سرپاك مینځی او بیا بی غوړوی. او مسگر به دد یگ خیره ایسته کوی بیا بی سپینه وی. ولهذا امثلة کثیرة »

او تر دواړو وروسته دی اَللّٰهُ اَکبر ووائی چی دال پر تعظیم اللّٰه دی. ولحی چی طبعًا تر تحلیه او تخلیه وروسته دی. **پوښتنه**: چی په بعض احادیثو کی ۱۱ یوولس واره ذهریوه راغلی دی. او په بعض روایتو کی لس لس راغلی دی. او په بعضو کی ۶ شپږ راغلی دی. او په بعضو روایتو کی ۷ اویا اووه راغلی دی. او په بعضو کی یو وار راغلی دی: حافظ زین العراقیؒ وائی چی پوله اعداد ښه دی. وَمَا زاد فهو احب الی الله » او بدر الدین العینیؒ په شرح کی د بخاری. او ملا علی قاریؒ په شرح کی د مشکوة وائی. چی د دغو عددو تفاوت په سبب د اختلاف د احوالو د مصلی دی مثلاً د چا تلوار وی یا څوك معذوره وی. او یا د چا سره بل سړی مجلس کوی. او بغوی وائی چی د اختلاف د پاره د خیار د لمونځ گذاره د پاره دی ». وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوابِ »

آدابُ الدُّعاء

دعاء کوونکی به دواړه لاسونه پورته کوی تر برابره پوری د څیگر او مخان د لاسونو طرف ته مخ د داعی وی. او په حصن حصین او شرح د هغه کی وائی. چی لاسونه به تر برابره پوری د اوږو پورته کوی. او ورغوی بی وطرفته د آسمان وی، لانها قبلة الدعاء » لکن د دې دوو رفعو تفاوت لږ دی. اصلی مقصود دا دی چی د لاسونو مخان د څنگی وخواته نه وی او په حدیث کښی دابوداؤد هم ودغه توجیه ته اشاره ده، عن ابن عباسؓ ان ترفع یدیك حذو منکبیك اودونهما. **پوښتنه**: په حدیث شریف کی راغلی دی چی رسول کریم صَلَّی اللّٰهُ علیه وسلم لاسونه دومره پورته کوله چی سپین والی د تغلو بی معلومی دی. **جواب**: هو دومره پورته کول یا په حال کی د استسقاء وه. او یا د پاره د بیان جواز دی. او یا په سخته بلاء کی. او یا د پاره د مبالغه په دعاء کښی »ط

په نهر کی وائی چی کیفیت د مستحبی دعاء دا دی چی په ما بین کی د لاسو دی لږ پیوست وی.

مسئله یو لاس پرځله او یو پورته کول په دعاء کی مکروه دی. نو کی دواړه لاسونه نسوای پورته کولای په سبب د کوم عذر او یا د یخ په سبب. نو یوه گوته مسبحه هم کافی ده چی پورته یه کړی. لکن په شرح کښی د حصن حصین وائی چی ادب د دعاء دا دی چی لاسونه دی سره جوت نسی او گوتی دی وقبلی ته مخامخ کوی. او په شرح کی د مشکوة وائی چی آنحضرت صلی اللّٰه علیه وسلم جمع کړه دواړه ورغوی په دعا کی.

درویش وائی. چی د دی کیفیتو په ما بین کښی منافات نسته. ولی د حصن حصین مراد دا دی چی لاسونه دې سره نژدی وی. نو لږ فرجه خود هغه سره منافی نه ده. او په حدیث شریف کی مراد دا دی وَاللّٰهُ اعلم چی عَلیه السَّلام په دواړو لاسو دعا کوله نه په یوه لاس. حاصل دا چی لاسونه به دواړه پورته کوی. او د دې بی لیری نه سره نیسی او ما بین کی دی لږ پیوست او فرجه وی. او بل ادب د دعاء دا دی چی پسله دعاء دې لاسونه پر مخ تیره وی. په حَدیث شریف کی راغلی دی چی ته درخواست وخدایٰ ته کوی نو دعاء کوه په باطن د ارغوو او په شا د هغوی مه کوه. او چی د دعا څخه فارغ سوی بیا دواړه لاسه پر مخ تیر کړه. او په بل حدیث کښی راغلی دی چی رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم چی به لاسونه پورته کړه په دعا کی نه ئی کښته کول تر هغو چی مخ مبارك بی په مسح کړی. او یو لاس پر مخ تیر ول عادت د متکبرانو دی نو مکروه دئ.

فائده: دا خیر حدیث څخه یعنی چی علیه السَّلام به لاسونه پورته کړه آه اشاره ودی ته ده چی د پاره د دعا لاسونه پورته کول شرط نه دی. او چی لاسونه نه کړی پورته بیا مسح د مخ هم نه غواړی. دلیل یه دا دی چی علیه الصلوٰة والسَّلام ډیری دعا گانی کولی په نفل لمانځه کی، په طواف کی، او په وروسته کی د لمونځو، او په وخت کی د بید یدو، او پس له خوړ که، او نور د غسی لمانځونه، او لاسونه یه نه پورته کوله، او نی مسح د لاسو د مخ مبارك کوله، کذا فی شرح المشکوة وشرح حصن الحصین

ښه دُعاگانی دابی امامهؓ څخه روایت دی چا وویلی یا رسولُ اللّٰه ای الدعَاء

او ښه وخُتونه اَسْمَع یعنی کومه دعا ښه قبلیږی. قالَ جوف اللیل الآخر. په اخیر

حصر کی دَ شپی، ودبر الصلوات المکتوبات، اوورو ستہ ترفرضی لونځو. چونکہ دا حدیث مطلق دی نو مراد دادی کہ ترفرضی لمانځہ وروستہ سنت نہ وِی خو پسلہ لمانځہ بہ دعا کوی او کہ سنت وِہ نو چې سُنت وکړی بیا بہ دُعا کوی. نو دغہ دعا ګانی کہ پہ انفرادی ډول وی او کہ پہ اجتماعی توګہ وی. او پہ اجتماعی توګہ اجابت تہ اقرب دی. نو هم داسبب دی چې د جماعت لمونځ پہ ۲۵ یا ۲۷ درجې پہ ثواب بالا دی تر یوازی لمانځہ.

او بل سبب هم دادی چې پہ انفرادی دعا کی دداعی خپل حال معتبر دی پہ اخلاص او حضور القلب کی او پہ اجتماعی دعاء کی کہ چیری یو سړی حاضر القلب او خاشع او اخلاص در لوونکی وو او د هغہ دعاء خدائ قبولہ کړہ د ټولو دعا کوونکو دعاء تبعًا ور سرہ قبلیږی ځکہ چې پر یو ځای و خدائ تہ پیش سوی او رب جل شانہ اکرم دی د دے نہ چې د بعضو خلګو دعاء دی منظورہ کړی او د بعضو دعاء دې رد کړې. او بل دلیل دادی چې د نور الایضاح عبارت هم پر اجتماعی دعاء دلالت کوی. ولې چې وائی امام د ې مخ وخلګوتہ راوا ړوي. ثم یستغفرون لانفسهم وللمسلمین آہ نو کہ انفرادی دعاء وائ نو د امام مخ را اړولو تہ ضرورت وُو. او د یستغفرون پہ صیغی د جمع څہ معنیٰ وہ. وهابیان، سلفیان او د دی ځانی پہ نامہ محدثان وائی چې دعا بالاجتماع خصوصًا بعد السنن بدعت دئ.

او **درویش** بہ د دے مسئلی بنہ پرہ پورہ تحقیق وروستہ وړاندی کړی اِنْ شاء اللہ کہ څہ هم درویش د دی مسئلی تحقیق پہ سیف القندهاری کی چې دخیالی پر بیاض سره د نور و مسئلو د وهابیانو وغیرهم کړی دی. لکن چونکہ هغہ رسالہ عربی دہ. نو زہ غواړم چې د دعی یوی مسئلی د دعاء اجتماعی تحقیق پہ مناسبت دمقام پہ پښتو عام الفهم ژبہ دلتہ هم وکړم تا چې دعوامو د زړو څخہ شکوک دوهابیانو ووزی. ومن اللہ التوفیق

پوښتنہ: چې بنی دعا ګانی هغہ دی چې یا پہ قرآن کریم کی پہ مختلفو ایتو کی راغلی دی او یا پہ صحیح حدیثو کی راغلی چې د هغو شمیر بیخی ډیر دی. او یا د صحابہ کرامو څخہ منقول وی او یا د تابعینو څخہ منقول وی، وهکذا، پہ حدیث شریف کی راغلی دی چې رسول کریم صلی اللہ علیہ وسلم وحضرت معاذ رض تہ وویلہ وَ اللہ انی لاحبک، قسم پہ خدائ

دی چې زہ تا دوست ګڼم، اُوصِیکَ یا معاذ، زہ وصیت کوم و تا تہ ای معاذہ، لَاتَدعَنَّ دبر کل صلوٰۃ اَن تَقُولَ، تہ هر ګز مہ پریږدہ پہ وروستہ ئی د هر لمانځہ وَینا. دا رنګہ اَللّٰهُمَّ اَعِنِّی علٰی ذکرک وشکرک وحسن عبادتک،،

مسئلہ: دَ تسبیحاتو او یا د ډیر عدد والا اوراد ویل پر ګوتو افضل دی او کہ پہ ډبرو او یا د خرما پر منډکو او یا مصطلح تسبیحګانو، پہ صحیح حدیث کی راغلی دی چې امہات المؤمنین یا پر کښتی د برو خپل ورد وایہ او آنحضرت صلی اللہ علیہ وسلم ولیدہ او منع یی ور تہ و نہ کړہ. او بعض فقهاءٌ وائی چې پر ګوتو حساب کول افضل دئ. لکن صحیح دادہ کہ خوا نندہ د غلطیدو څخہ پہ امن کی وُو. نو پر ګوتو ورد وَیل افضل دئ. او کہ پہ حساب کی خطا وتی نو سنګر یزی یا معتاد تسبیح ګانی افضلی دی،، کذا فی شرح المشکٰوۃ،،

مسئلہ: قال بعض الفقهاءٌ چې هغہ اذکار چې پہ احادیثو کی راغلی وی. او د هغو د پارہ یو عدد مخصوص ښوول سوی وی او ثواب مخصوص بیان سوی وی. نو کہ یو سړی پہ قصد سرہ تر هغہ عدد مخصوص بالا ووائ نو د غہ سړی تر هغہ ثواب چې پہ هغہ کم عدد کښی راغلی وی نہ ور کول کیږی. د وی وائ چې شاید پہ هغہ ښوول سوی عدد کی یو حکمت الهی وی چې تر هغہ بالا عدد کی بہ نہ ور کول کیږي. لکن بدر الدین العینیٌ پہ شرح کښی د بخاری شریف وائ چې دَ غہ اعداد چې ښوول سوی دي دا داسی حدود نہ دی چې تر هغو بہ مجاوزۃ ناروا دې، او خاصیت ئی خاص پر هغہ عدد مرتبیږی بلکہ اذکار الهیہ چې طاعت دی پہ هغو کښی حصر او بندیز نستہ بَل هیَ مما ینا فس فیها المتنافسون ویرغب فیها الراغبون،،

درویش وائ چې هغو اذکار الهیہ چې فقط و فقط د پارہ دَ تحصیل دَ ثواب وئیلہ کیږی، پہ هغو کی تعیین د عدد و ارد شرط نہ دئ. لکن بعض اوراد یا وظائف چې مشائخو کرامو د پارہ د حصول دیو مطلوب جائز پہ عدد مخصوص وضع کړی وی پہ هغو کی دی تجاوز تر عدد معین عمدًا نہ کوی. او نہ دی تر هغہ معین کم وائی. د دے پہ مثال کی د وی داسی وائی چې دقلف د کلی غاښونہ کہ تر حد معین د قلف د پارہ بالا وی او کہ تر هغہ قدر کم وی قلف نہ

Maktaba Tul Ishaat.com

نه په خلاصیږی. نوهم دغه رنګ مشائخو چې کوم عدد په یو ورد کې دیوه خاص مطلوب دپاره ټاکلی وی. ترهغه په کم یا زیاد سره قصدًا هغه مطلوب نه حاصلیږی.

پوښتنه: آیا داسې رواده چې سړی بعض آیاتونه قرآنیه اویا بعض اسماء الهیه یا بعض ادعیه ماثوره، یا بعض درودونه دبعض مقاصدو ومطالبو دپاره واسطه وګرځوی اوکه څنګه؟ **جواب:** هوبلکه ترا ستعانت په ادویه وو طیبه وو اویا په آلات ظاهره ووسره استعانت په مذکوره شیا نوسره ډیر اوبیخي ډیر اعلی او افضل دئ. چې دایاك نعبد وایاك نستعین: هم داغه معنا ده.

سوال: آیا دغه اذکار په عدد د معین سره په وخت معین کې پړله پسې ویل شرط دی اوکه تفرق هم روا دی: قال البدر العینی: کل ذالك لیس بشرط، لکن افضل په تتابع ده په هغه معین وخت کې. **پوښتنه:** چې په نورالایضاح کې داسې عبارت دی، ثم یدعون لانفسهم آه، په حدیث شریف کې راغلی دي. وابدء بنفسك، الحدیث، داحدیث که څه هم په انفاق ظاهري کې وارد دئ. لکن محققان دعلماؤ وائي چې په امورو کې د اٰخرت یعنی دبخښنې غوښتنې هم داغسې شان دئ حتیٰ چې علماء وائي په عالِم واجب ده چې شروع د تعلیم دی د ټولو ړومبی په خپل ځان سره کوي. بدلیل قوله تعالیٰ. قوا انفسکم و اهلیکم نارًا، کذا فی شرح الجامع الصغیر للابیاریؒ.

بل ادب د دعا دا دی

چې په طلب کې د حاجت دې وخدای جل شانه ته ډیر زنګیږي اومرةً بعد اخری او وقتًا فوقتًا خپله غوښتنه مکرره وی او د طلب څخه د حاجت دی نه ستړی کیدونکی هلی ځلی کوي.

د دعاء مکروهات

د دعاء په وخت کې د آسمان وخواته نه ګوری. ولې چې په دی کې ترك د ادب دی او توهم د جهت د خدائ کیږي. اوبل مکروه تجاوز ترحد دی په دعا کې. بقوله تعالیٰ: انه لایفلح المعتدین، مفسران وائي چې تجاوز ترحد دا دی چې د داسې شئ سوال کوی چې هغه محال وي یا شرعًا یا عقلًا. اوبعض اهل تفسیر وائي چې اعتداء په دعا کې دا ده چې سړی د داسې شئ طلب وکړي چې د ده دحال سره مناسب نه وي. لکه چې یو څوك چې خواست وکړي چې خدایه وماته په اٰخرت کې دومره

مرتبه راکړې لکه د انبیاء علیهم الصلوٰة والسّلام. اویو عادی سړی وائي چې ماته د ټولې دنیا پادشاهي راکړه، اونور. اوبعض وائي چې د دعا په وخت کې چغې وهل. اوبعض وائي چې د دعا په الفاظو کې تکلیف په سجع کې کول. اوبعض وائي چې طلب د داسې شي کول چې د هغه حقیقت معلوم نه وی. لکه یو سړی چې ووائي خدایه ته په ما عنقا را ووینې. یا عذاب القبر او وینې وغیر ذالك:

فائده: مصنف ووئیله و للمسلمین د دے عبارت څخه دا معلومه سوله چې عمومي دعاء ومسلمانانو ته رواده. ولې چې خدای پاك په قرآن کریم کې حکایت دقول دابراهیم علیه الصلوٰة والسلام په دی الفاظو سره کړی دی» رب اغفر ولوالدیّ وللمؤمنین یوم یقوم الحساب، وقال الله مخاطبًا للنبی صلی الله علیه وسلم: واستغفر لذنبك وللمؤمنین والمؤمنات» **سوال:** امام عراقیؒ وئیلی دی چې ټولو مسلمانانو مؤمنانو ته دعا د مغفرت د ټولو ګنهو حرامه دَه. ولې چې حکمت د وعید دخدائ مؤمنانوته په بعض کبائرو ګنهو لکه په قرآن مجید کښې چې په څو ځایو کې راغلی ده. د ما بین څخه ځي. اوپه ورته دعا کې دغوا ئیتو څخه مخالفت لازمیږی **جواب** دسوال څخه اود عا څخه د مغفرت مذکوره دا نه لازمیږی چې خدای پاك به ټول بخښي. ولې چې اجابت د دعا پر خدائ لازم نه دی صرف او صرف په ورته دعاء کښې د مغفرت اظهار د افتقار او احتیاج دی ورب جل شانه ته. وعلی تقدیر الاجابة لا یلزم ان یغفر لهم جمیع الذنوب» بلکه عین ممکنه ده چې په سوال مذکور کې د ټولو مؤمنانو بعض ګنهونه خدای جل شانه و ټولو مؤمنانو ته ورو بخښي» هذا ما ذکره ابن العمادؒ ونقله الامام السطحاویؒ مع زیادة من در»

فروع د علماوؤ په دی کښې اختلاف دی. بعض وائي چې په ذکر کښې اخفاء افضل کار دی لاحادیث کثیرة. چې یو د هغو څخه دا دی سه خیر الذکر الخفی. وخیر الرزق مایکفی. اوبل وجه دا ده چې خفیه ذکر کښې اخلاص وي او اجابت ته اقرب وي. اوبعض علماءٔ وائي چې ذکر بالجهر افضل دی. اوپه د ے باره کښې هم ډیر احادیث نبویه موجود دی. چې یو یې ماروا ابن الزبیرؓ چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم چې به د لمانځه سلام واړاوه په لوړ آواز بې داسې

وئیلہ لَآ اِلٰہَ اِلَّا اللّٰہُ وَحْدَہٗ لَا شَرِیْكَ لَہٗ: او بل دلیل دا دی چې علیہ الصلوٰة والسلام
به امر کاوه هغه سړي چې قرآن بې په مسجد کې وایه، چې داسې وایه چې بل څوك یې هم اوري
او عبد الله بن عمرؓ به امر کاوه. یو څوك چې قرآن مبارك په جهر پړمونږ ووایه او دوی
تولو به غوږ ورته نیولی وو. او بل دلیل دا دی چې په جهر سره ذکر کښې عمل د ذاکر تر
خفیه ډیر دی. او نفع یې متعدی ده. ولې چې زړونه د غافلانو را ویښوي. او اوریدونکي
هم تدبر په کښې کولای شي:

ذکر خفی او جلّی

الجمع بین الاحادیث المذکورة هذا: ذکر خفی او جلي په خلګو کې او په احوالو کښې مختلف کیږي
بالاولویة» مثلاً که سړي په ذکر جهري کې ریاء بیریدی. او یا بل څوك په آزاریدئ
نو اخفاء افضله ده، او که دا موانع نه وه نو ذکر جهري افضل دی. لکن پر وجه مشروع یعني
الفاظ د ذکر به صحیح وائي. او رقص به نه کوي. او خپل ځان به خلګو ته بلا جذبه مجذوب
نه ښکاره کوي. او په تمامي سکون او خشوع او حضور قلبي به ذکر جلي جهري کوي.

مسئله: په فتاوای بزازیه کې وائي چې څوك دے سړي نه منع کوي د ذکر جهري څخه
په مساجد وکې. یعني چې شرطونه د ذکر جهري موجود وي. تا چې تر آیت مبارکه لاندې
داخل نه شي. وَمَنْ اَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ مَسَاجِدَ اللّٰهِ اَنْ یُّذْکَرَ فِیْهَا اسْمُهٗ» او امام شعرانيؒ
په خپل کتاب کې چې نوم یې» ذکر الذاکر المذکور» و الشاکر المشکور» دئ. داسې تصریح
کړیده: اجمع العلماء سلفًا وخلفًا: پر دې خبره چې مستحب دي ذکر د خدائي په مساجد وکې
او په نورو ځایو کښې په جهر سره. مګر هغه وخت بیا مکروه دی که د د غو خلګو ذکر بالجهر
یا بیده سړي د خوبه وزي او یا په لمونځ کوونکي ته تشویش پر لمانځه کښې ور پیښوي
او یا تالي د قرآن د وظیفې څخه ایستل کیدی» وقال الشعرانيؒ کما هو المقرر فی کتب
الفقه»

مسئله: در منیفي د فتاوای قنیه څخه نقل کړي دي چې مکروه ده چې په ډلر ایزي توګه

قرآن شریف په زوره وائي. ولې چې دد یے ایت څخه مخالفت دی: وَاِذَا قُرِئَ الْقُرْاٰنُ فَاسْتَمِعُوْا
وَاَنْصِتُوْا: او بعض فقهاءؒ وائي چې پروا نه لري. **مسئله**: په حمام کې د قرآن پاك ویل
که څوك عورت لڅې نه وو. او غولی د حمام پاك وو جهرًا او خفیۃً روا دی. او که دا دوه شرطه
نه وه موجود نو جهرًا مکروه دی او خفیۃً روا دئ.

مسئله: په باب کراهت کې د در مختار وائي چې خوش آوازي په وخت کې د تلاوت
د قرآن کریم یا د اذان کولو ښه کار دی لکن په شرط د دې چې حروف به نه زیا توي. ورنه ده نه
هم اوریدونکي ته هم مکروه دی ده ته زیا تول د حروفو او اوریدونکي ته غوږ
نیول. **مسئله**: که یو قاري یا یو مؤذن په زیا تولو د حروفو تلاوت کاوه
یا به اذان کاوه. او دې چې ساکت سو بل یو ورته وویل احسنت، نو که د دې بل سړي
مراد دا وو چې ښه دی وکړه چې پته خوله سوي. نو دا خو ښه خبره ده. او کې مراد دا وو چې
اَحْسَنْتَ قِرَائَتَ الْقُرْاٰنِ، یا اَحْسَنْتَ الْاَذَان» بیره د کفر پر سته. ولې چې غیر مشروع کار تې
احسنت وویل» وفیه ایضًا» التغني بالقرآن یعني په ښه آواز او شوق ویل د قرآن
ښه کار دی لکن چې الفاظ د قرآن مبارك او حروف د هغو د ده په تغني سره تر حدود و عربي
ژبې نه وو زي. والا فمکروه بل حرام»

خبره تر خبرې پوه سه: چې سروز یعني غزل ویل که چیري په هغې کې

د معیني ښځې چې ژوندی وه او یا تعریف کول د شرابو
چې د خلګو رغبت ور ته پیدا سي، یا هجوم او ذم د یوه معین سړي که څه هم اهل ذمه وي
حرام دی. او بعض علماء وائي که سرود په واده کې روا دی لکه د ریه وهل په واده کې او
بعض صوفیان وائي چې تغني او سرود مطلقًا مباح دئ. او بعض فقهاءؒ وائي چې مکروه دي
مطلقًا» کل ذالك ذکره البدر العیني» لکن په بحر الرائق کې وائي چې د حنفیانو مذهب
دا دی چې تغني مطلقا حرام ده» بلکه د هدایۍ د ظاهر عبارت څخه داسې فهمیږي چې تغني ګناه
کبیره ده که څه یوازې د ځان د پاره وي. وهو قول شیخ الاسلامؒ وکذا السامعه الحاضر کذا فی سکب
الانهر»

- اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما آمین.

Maktaba Tul Ishaat.com

تنبیه: دغه کسان چې دزوی یا دورور په واده کې مثلاً د نورو میلمنو دپاره په اصطلاح شوقیان راولي اوګویاوې ورته بَسته کړي چې ټوله کورونه یه واوري، او دنجُو دپاره ښځې غزلیانِ په اصطلاح مَسلیانی راولي تر سحاره دوارې دلې په غزلو سره دسروز تیروي دافعل حرام او ګناهِ کبیرهَ ده: قال الامام الطحطاویؒ ناقلا عن سکب الانهر" اوهرچه رقص کول دي په وخت د ذکر اویا چک چکې کول دي دذکرسره. اویا رباب وهل دي یاسارنګي یاباجه وهل دي په وخت کې د ذکر کما یفعله لبعض من یدعی التصوف فهوحرام باجماع الفقهاءُ ولې چې داعادَت دکفارو دئ.

مسَئلہ: جذب اووجدچې سړي په کښې مسلوب الاختیاره وي. اوحرکات یه لکه حرکات دمرتعش وي پرهیڅ ملامتیا نشته اوني انکار روادی. اوهغه جذب اووجدچې سړي ئې قصدًا په حال کې دهوش کوي صرف ددی دپاره چې خلګوته وښیي چې زه دذکر په سبب جذب سوم هغه ناروا اوګناه دَه. کذافی مجمع الانهر والتاتارخانیه.

بې ځَایه فَائِدَه مصافحه یعنی روغبړ سنت دی. په ټولواوقاتوکې. لما اخرج ابوداوُد عن ابی ذرؓ: زه هیڅ کله نه یم یوځای سوی درسول الله صلی الله علیه وسلم مګرنه ماسره ئې روغبړکاوه آه. اوهم دابی ذرؓ څخه روایت دی چې یووخت زماسره علیه الصلوٰة والسلام دغیږ ی روغبړوکی. لیعنی لاس یه په غاړه کښی راواچاوه. **دروغبړمسنونه طریقه** داده چې وَرغوی پروَرغوی سره برابر کړي او مخامخ سره ولاړ وي. اوصرف ګوتوسره نیوَل روغبړ دخوارجو دی. او روغبړ به په دواړو لاسرو ي. په یوه لاس روغبړ مکروه دی. اود نرو دپاره پرلاسو بوټکی اچوَل اوبیا روغبړ کول مکروه دی.

اوپه هدایه کې وائي چې مکروه دی مچَول دیوه نربل نرلره پرخوله اویا پرلاسو، یا بربل ځای. اوچې یو لنګ ئې وهلی وي خیته یه لخروي دغیږ ی روغبړ مکروه دی. و قال ابویوسفؒ لا بأسَ بذالک کله: لکن په غایة البَیان کې وائي: مچَول د لاس دعالم او یا عادل بادشاه روا دَئ.

یوه سَله: چې بدرالدین العینی دیرحدیثونه ذکرکړي چې پردی دلالت کوي چې د آنحضرت صلی الله علیه وسلم لاسونه، او پښې بعض خلګو یعنی بعض صحابهؓ مچ کړي دي او په حَدیث شریف کې راغلي دي چې علي علیه الصلوٰة وَالسلام حسَنؓ او فاطمهؓ مچ کړي دي. او علیه السلام عثمان بن مظعونؓ پس له مړینې مچ کړي دی. او داهم په صحیح حَدیث کی داهم راغلی ده چې علیه السلام د خپل آکازوی جعفرؓ پرتندی مَچ کی. او په متدمرکی د بخاري داهم راغلی ده چې امام مسُلمؒ د امام بخاريؒ ملاقات ته یوه وَرځ وراغلی. او د امام بخاريؒ لاسونه یه وَر مچ کړه. او دایه ورته وویل دعنی اقبلُ رجلیكَ مابرین ده چې پښې دی هم در مچ کړم.

قَالَ البَدرالعینیُ بیل دیره تفصیله دمصَافحی په باب کې چې ددی ټوله تفصیل چې مونږ ذکرکړي دامعلومَه سوه چې مچول دَلاسُو، او پښُو، اودسر، اودتندی، او بین العینین چې پروجه داکرام اواحسان وي روادی، اوکه په وَجه دشهوت وَه ټوله نارَوادی مګرنه په مابین کی دمیړه اوما ینې، اویا دَ بادار اود منځی ترمابین یعنی په شهوت سره مچَول روادی، ونقل الامام الطحطاویُ عن رفع العوائق نقلًاعن بحرالرائق: چې پروانسته، په مچَولو کې دَلاسود عالِم اود سلطان عادِل، اوپه غیرکی ددی دَوو نفروکی غرض په مچولو کې دَلاس دنیائی غرض وُونو مکروه دی. اوکې ارادت تعظیمِ او اکرام د مسلمان ورور وو اوعزت ورکول وهغه ته وی فلا بأسَ به یعنی پرواه نلري.

فَائِدَه: دقرآن پاك مچَول روادی بلکه مستحب دی. ولې چې امیرالمؤمنین حضرت عمرؓ به هرسحار قرآن مبارك مچاوَه. اوامیرالمؤمنین حضرت عثمانؓ به هم قرآن شریف مچاوَه او هم بې مخ په مسحه کاوَه.

مسَئلہ: مچَول دډوډی مذهبیَان دحضرت الامام الشافعیؒ بدعت مَباحَه بولي. وقالوا چې مکروه دی په ډوډی ختَل نه مچَول ئې. قال البحروَقواعدنا لا بأس" وفی رسالة المصافحة للشرنبلالیؒ چې په ځای دسلام تحیته په رکوع سره اویا په کښته کولوسره دسر یا په پورته کولوسره دَلاس مکروه دئ. وهرچاته چې وي.

كما نصت عليه الحنيفية، لكن شرنبلالي زيات كړيده چې اشاره هلته مكروه ده چې فقط دغه اشاره وكړي. يعنى كه يوسړي ليرې وو ستا دخولې سلام نه ورسيدى نو تاپه خوله سلام ووايه لكن اشاره دلاس دد ے دپاره وكړه چې هغه پوه سى چې ما تـه يـه سلام واچاوه نو بيا كرا هت نشته، اوشرنبلالئ يوحديث ذكركړى دى چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم. جمع والى كړي دسلام ويلواود اشاره كولو ترمابين،،

مسـئـله: په مشكل الاثاركى وائي چې ديوه چا دتعظيم دپاره وهغه ته ولاړيدل مكروه لعينه نه دى. مكروه هغه وخت دى چې دهغه سړي داخوښه وي چې ماته دې ولاړ سى. اوكه دهغه تقاضا نه وه لكن بيا هم خلك ورته ولاړ سول نوكراهت نشته. او بعض فقهاء وائي چې صرف وعالم ته ولاړيده روا دَه. او بل چا ته ولاړيده سنه دَه روا.

په مشكوٰة كى دابوهريرهؓ څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم به زموږ سره په مسجد كى خبرې كولى نو څه وخت چې دى مبارك به ولاړ سو نوموږ به كښى نستلو وعن واثلة بن الاصقعؓ روايت دى چې يو وخت يو سړي پر عليه الصلوٰة و السلام داخل سو. رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وخوزيدى هغه سړي ورته وويـله چې ځاى ډيردى آنحضرت صلى الله عليه وسلم ورته وويله: إن للمسلم حقاه ب، ط، د،،

درويش وائي چې په دے مسئلو كښى وهابيه، سلفيه، وغيرهم مخالف دى بلكه اكثر ددغو كارو دغه ډلې شرك مطلق بولي. لكن مقلدين بر دخپل مذهب دكتابو مراعات كوى نه ددغو ډلو چې ابتداع فى الدين كوى.

بسم الله الرحمن الرحيم

محترمو لوستونكو! د اكتاب ان شآء الله العزيز تاسو ته ددى مكتبې مكتبة القرأة والتجويد له خوا مكمل تاسو ته وړاندى سى. احقر فضل الحق حقانى غفرله

بسم الله الرحمن الرحيم نحمده ونصلى على رسوله الكريم وعلى آله وصحبه اجمعين، امابعد خوانندګان محترم درويش، ستاسو سره وعده كړي وه. چې د دعاء مبحث به په تفصيل سره څيړم. ولې چې وهابيان، اوپنج پيران، اوسلفيان، اونام نهاد اهل حديث، دا مسئله يـه ډيرلوى تنقيد لاندى نيولې ده،، اوپر بعض افراد ده دعاء د بدعت حكم كړى دى. چې هغه دعا ګانى دېخوا څخه په افغانستان او پاكستان كى مروج وي او دے. بېچاره خلك وخپلو بدعتى مذهبوته رابولي. اوغلط غلط دلائل وعوام ته وائي. نو هم دا اوس هغه وعده پوره كوم، ان شآء الله تعالىٰ.

واورئ او پوه سئ: چې د دعاء لفظ چې عربي دى. معنا يـه طلب دادنى دى د اعلىٰ څخه ديو شئ يا ديو كار. لكن دعجز اوخشوع اوخضوع او نياز پر طريقه. او په فارسى ژبه يه ترجمه حاجت خواستن دئ. نو پوه سه چې دعاء مخ العبادة دَه. يعنى مغز دعبادت ده كما ورد فى الحديث: الدعاء مخ العبادة: وقال الله تعالىٰ: اُدْعُوْنِيْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ اِنَّ الَّذِيْنَ يَسْتَكْبِرُوْنَ عَنْ عِبَادَتِيْ سَيَدْخُلُوْنَ جَهَنَّمَ دَاخِرِيْنَ،، ددى ايت مباركه څخه دا معلوم سو چې دعاء عبادت دى. اودا ايت د هرقيده څخه مطلق دى. او اصولى قاعده ده چې مطلق يجرى على الاطلاق. يعنى كه دعا تر لمانځه وروسته وي. او يا تر سنتو وروسته وى او يا په بل وخت كى وي. اوكه په اجتماعى توګه وي او كه پـه انفرادى ډول وي: وقال الله تعالىٰ: قُلْ مَا يَعْبَؤُا بِكُمْ رَبِّيْ لَوْلَا دُعَآؤُكُمْ: وقال الله تعالىٰ. وَاِذَا سَاَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ اُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ اِذَا دَعَانِ فَلْيَسْتَجِيْبُوْا لِيْ وَلْيُؤْمِنُوْا بِيْ لَعَلَّهُمْ يَرْشُدُوْنَ اودا ايت مباركه هم مطلق دى. او پر اطلاق مذكور يـه اجراء لازمه ده. نو ددى ايتو څخه خو نفس مشروعيت دمطلق دعاء بلكه استحباب د دعاء معلوم سوء

فائدهٔ شرعيّه دعاء پسله عبادت څخه او دعمل صالح څخه ضرور يا تو او بد هيا تو څخه د دين ده ځكه فقهاءٌ وائي چې دعاء پسله عمل صالح څخه قاعدة شرعيه. والشاهد على ذالك: چې څه وخت چې ابراهيم او اسمٰعيل

Maktaba Tul Ishaat.com

علیها الصلوة والسلام دبناء څخه دکعبې شریفې فارغ سوه نو پر دغو الفاظو یې دعاء وکړه: رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ: كما هو المذكور فى القرآن الكريم
او په ډیرو روایتو کی داحادیثو مبارکو وداسې راغلی دی چې یو سړی چې یوه روژه فرضي یا نفلي پوره کړي. نو داسې دعاء دې وکړي. اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ لَكَ صُمْتُ وَبِكَ اٰمَنْتُ وَعَلٰى رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ فَاغْفِرْلِيْ: او دغه رنګه پسله فراغه دحج او دارکانو دحج بعد کل رکن ادعیه ما ثوره من النبی صلی الله علیه وسلم واصحابه رضی الله تعالیٰ عنهم مثلاً اللهم اجعله حجا مبرورًا وسعيًا مشكورًا وذنبًا مغفورًا. که څوك تفصیل دغو دعاگانو غواړي نو کتابونه د مناسکو دحج دې وګوري. د محدثینو په کتابونو کی او د فقهاؤ دغلو و مذهبو په کتابونو کی نو چونکه لمونځ یوه مهم او برجسته عبادات څخه دی نو وروسته تر لمانځه هم دعاء مستحب ده.
لما علم مما قبل ان الدُّعاء بعد العبادات قاعدة متقررة فی الشرع الانور» قال الله تعالیٰ شانه فَاِذَا فَرَغْتَ فَانْصَبْ: محقق الوسی بغدادیؒ خپل تفسیر رُوحُ المَعَانِي ص۱۷۲ ج۳۰ کی ددې ایت په تفسیر کی داسې وائي، چې ته فارغ سې د لمانځه څخه نو کوشش وکړه په دعاء کی. او دا تفسیر د قتادة او ضحاك وغیرهما څخه امام بخاریؒ د دعاء بعد الصلوٰة تر عنوان لاندې نقل کړی دی ص۹۳۶ ج۲.
نو دا ایت مبارکه څخه او قول څخه د امام بخاریؒ چې سند یې و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته رسیږي دا معلوم سول چې پسله لمانځه څخه دعاء سته. او دا هم ظاهره خبره ده چې دعاء په مابین کی د فرضو او سنتو خو نشته. ولې چې فصل په مابین د فرضي لمانځه او د سنتو بالاتر: اللهم انت السلام آه مکروه دی. کما قال العلامة الشامیؒ فی ص۴۷۴ ج۱ او دغه رنګه مکروه دی فصل په ویلو د اورادو حتی کی په مابین کی د فرضو او سنتو تر اللّٰهُمَّ اَنْتَ السلام آه بالا دعاء وکړه. او یا یې اوراد وویله سنت یې خپل مسنون ځای کی نه سوه.
وفی المراقی ص۱۷۱ چې هر لمونځ چې وروسته سنت لري مکروه ده ناسته پسله فرضو او دعا کول بلکه پسله اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السلام دې دستی شروع په سنتو کوي. کَيْلَا يَفْصِلَ بَيْنَ المكتوبة والسنة» نو نتیجه دا سوه چې په مابین کی چې دعاء نشته نو دعاء به پسله سنتو کوي. په دلیل د ایت مذکوره او حدیث د بخاري،،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

پوښتنه: آیا اللهم اَنْتَ السَّلَامُ آه د ایت قرآنی او حدیث نبویؐ څخه مراد نه دئ چې په اتفاق تر فرضو وروسته او تر سنتو د مخه ویل کیږي. **جواب** قرآن مبارك په قرار د تفسیر د آلوسی بغدادیؒ او نورو مفسرانو امر په دعا سره کړی دی. او د بخاري د باب عنوان هم داسې دی» باب الدعاء بعد الصلوٰة» نو اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ آه خو دعا نه ده بلکه ذکر دی» کما قال العلامة الطحاویؒ فی شرح المراقی په داسې عبارت: قوله والدُّعَاءُ؛ چې د دعاء کراهت په مابین کی د فرضي لمانځه او سنتو منافی نه دی د اللّٰهُمَّ اَنْتَ السَّلَامُ آه ویلو سره په دغه مابین کی لانه لیس بدعاء بل ثناء انتهی: فثبت الدعاء بعد السنن»
سوال: وهابیان وغیرهم خو دعاء پسله سنتو په هیئت اجتماعی سره بدعت بولي او په مذکوره دلیل سره خو دعاء په هیئت اجتماعي نه سوه ثابته. **جواب**: دعاء خو عبادت دی کما مر من قبل. والعبادة بالهیئة الاجتماعیة افضل تر عبادت انفرادي لکه چې په حدیث مبارك کښې راغلي چې لمونځ په جماعت سره افضل دی تر انفرادي لمانځه په ۲۵ درجې یا ۲۷ درجې
سوال نفل خو هم عبادت دي او سره ددې چې بیله تراویح په جماعت مکروه دي **جواب** نفل په جماعت هلته مکروه دي چې خلک په بلنه راغواړي نو اصل مکروه تداعی او بلنه ده نه جماعت په نفلو کی. فرضًا که یو څو کسه په یوه کور کی اتفاقا سره جمع سي او لمونځ نفلي په جماعت سره وکړي هیڅ کراهت نشته. او امام مسلمؒ خپل کتاب کی په دې عنوان سره باب راوړی دی- باب الاجتماع علیٰ تلاوة القرآن وعلى الذكر ص۳۴۵ ج۲ نو ددې کی شك نشته چې دعاء حتما مشتمله پر ذکر دخدای جل شانه ده. وایضا قاضي بیضاوي په تفسیر کی ددې ایت» اِيَّاكَ نَعْبُدُ وَاِيَّاكَ نَسْتَعِيْنُ چې په صیغه د جمع متکلم مع الغیر راغلی ده داسې وائي: چې مصلي درج کړي عبادت خپل په عباداتو کی د نورو خلګو د دې سببه چې شاید د ده لمونځ په برکت د اجتماع قبول سي. او دغه تیره سوه چې دعاء مخ العبادة. نو باید د دعاء عبادت دي هم په اجتماع افضل او اقرب و اجابت ته وي تر یوازې دعاء.
پوښتنه څه سِر دی چې دعاء یا بل عبادت لکه لمونځ او ذکر په هیئت اجتماعي سره افضل او اقرب و اجابت ته دی تر انفرادي **جواب** په دنیا کی دا عادت دی چې یو غني سړي

تہ چې یو سړی د فقر د پاره ودریږی۔ نو کاهی هغه منع وړته وکړي او کاهی شئ ورکړي او که
ډیر مسکینان په یوه پلا وغنی سړي ته ودریږی نو د اغنی سړي به یا ټولو ته منع کوی او یا
ټولو ته به شی ورکوی۔ او داسی نه کوی چې بعض مسکینانو ته منع وکړي او بعضو ته شئ ورکړي۔
نو د کریم باداار دربار ترډی ډیر لوړ دی چې سائلان دی په هیئت اجتماعی حاجت وغواړي او
چا غوښتنه دی قبوله کړي۔ او د نورو داد سے رد کړي۔
بلکه په د غه اجتماع کښې که دیوه سړي خواست قبول سو د نورو ټولو خواست تبعًا ورسره قبلیږی ان شاء الله
وهذا هو السر فی تفضیل صلوة الجماعة علی صلوة الفذ ای المنفرد۔ وایضا د نور الایضاح په ص۸ کښې
راغلی دی: ویستحب للامام ان یستقبل بعده، ای بعد التطوع یعنی السنة" الناس ویستغفرون
الله آه او مستحب ده امام له چې مخ دی راواړوی وخلکو ته پسله سُنتو۔ او امام او قوم دی ټول طلب
د بخښنی وکړي۔ الی ان قال ثم یدعون لانفسهم وللمسلمین رافعی ایدیهم۔ آه۔ او بیادی امام او قوم
دعاء وکړي د ځان د پاره او د ټولو مسلمانانو د پاره او ټول به لاسونه پورته کړي وی۔ نو دعاء په هیئت
اجتماعی نه ده! چې معموله ده په افغانستان او پاکستان کی۔ اللهم الا فی مساجد تحت سلطة الوهابیة
وغیرهم من الفرق المبتدعة:

ع۵ فادع

د دعاء ادب

ع۱ قال علیه الصلوة والسلام: اذا دعوت الله فادعوا بباطن کفیك ولا
تدع بظهورها فاذا فرغت فامسح بهما وجهك ص۱۴۳: چې ته خواست کوی د
د خدائی څخه نو د خواست کوه په باطن د لاسونو۔ او د عامه کوه په شا د لاسو چې د دُعا څخه فارغه سوي
نو لاسونه پر مخ تیر کړه۔ ع۲ تر دعاء مخه باید حمد وثناء د رب جل وعلا ووائی۔ او بیادی درود پر علیه
الصلوة والسلام ووائی۔ ع۳ تر دعاء دی د مخه یو کار او عمل صالح دی وکړي کما فی الحصن الحصین، لیکون
سببًا لقبوله، قال فضالة بن عبیدؓ او ریدل آنحضرت صلی الله علیه وسلم دیوه سړي څخه چې دعا یې
کوله په لمانځه کی یعنی تر لمانځه وروسته۔ او د بے سړي نه حمد د مخه تر دعاء ووایه او نه ئی درود پر
علیه الصلوة والسلام ووایه۔ قال علیه الصلوة والسلام للحاضرین عجل هذا۔ دی دعا کوونکی تلوار وکړي۔
او بیا یې هغه سړي راوغوښتی۔ فقال له اذا صلی احدکم فلیبدأ بتحمید ربه ثم یصلی علی النبی ﷺ ثم
یدعو بما شاء: یعنی چې لمونځ وکړي یو ستاسی څخه پسله شروع دی وکړي په حمد وثناء د رب خپل

اوبیادی درود پر علیه السلام ووائی۔ او بیادی درخواست وکړي په هغه شي چې د ده خوښه وي۔
ع۴ دعا باید مکرره سړي وکړي۔ ولې چې امام بخاریؒ د باب په عنوان کی داسی وائی: باب تکرار الدعاء ص۹۴۵ ج۲
او په حصن حصین کی وائی چې اقل درجه د تکرار دری واره دی۔ ع۵ فی کنز العباد دعا کوونکی دی پر
خدای پاك ډیر الحاح کوی یعنی ډیر دی وړته ټینګیږی لقوله علیه السلام ان الله یحب الملحین،
او اد نی د الحاح ۳ واره دی او میانه ۵ واره ده او اکمل یې ۷ واره ده۔ ص۶۴۔ ع۶ دعاء پر قبرو یعنی په
هدیره (قبرستان) کښې افضل کار دی۔ وذکر الامام مسلمؒ ص۳۱۳ ج۱ چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم
په بقیع الفرقد چې اوس په جنت باقیه بولي دری واره لاسونه پورته کړه او مړو ته د بقیع یې دعا وکړه۔
قال الامام النوویؒ یفهم منه د دی حدیث څخه معلومیږی چې لاسونه پورته کول مستحب دی او مکره
لاسونه پورته کول هم مُستحب دی دی" قال الامام حجة الاسلام الغزالیؒ په خپل کتاب احیاء العلوم
ص۲۱۱ ج۱ کی لیکی چې مجاهد وائی چې لمونځونه په ښو ساعتو کی ایښول دی، فعلیکم بالدعاء خلف
الصلوة۔ وذکر الغزالیؒ چې حبیب عجمیؒ چې ولی مشهور دی۔ داسی دعاء یې کوله اللهم اجعلنا جیدین
ولا تفضحنا یوم القیامة، اللهم وفقنا للخیر والناس یدعون فی کل ناحیة ورائه" وهذا دعاء
بالاجتماع"
قال ابوسفیان دارانیؒ څوك چې اراده لري چې د خدائی څخه یو حاجت وغواړي نو اول دی درود ووائی
او بیادی خپل حالت او د حاجت غوښتنه وکړي۔ او په اخیر کی دی بیا درود ووائی۔ ولې چې پاك خدائی
خو داوه درود ه قبلوی او خدای جل سلطانه کریم دی مابین د دی دوو درودو به هم رد نه کړي۔
چې دسړي حاجت دی۔ ص۲۱۲ ج۲ وقال اعرف الناس بمذهب الحنیفة صاحب البحر الرائقؒ چې
سنت بعدی زمونږ په نیز مقدم دی تر دعاء الذی هو عقب الفراغ ص۳۰۴ ج۱
وفی شرح شرعة الاسلام چې دعاء پسله فرضو او سُنتو څخه او اورادو څخه: هو المعمول المشهور فی
زماننا" دا عبارات صریح دی په دعاء اجتماعی بعد السنن سره۔ وفی ص۱۱۵ دعاء کوی امام وقوم ته
پسله لمانځه او پسله اذکار الماثورة وعلی ما هو المتعارف بین الائمة رحمهم الله تعالی۔ الی ان قال
چې په قنیة الفتاوی کی وائی چې امام دی مخ راواړوی۔ وقومته فی صلوة لیس بعدها سنة"
او د امخ راړول سنت دی که په برابر د امام مسبوق نه وو۔ او که مسبوق سړي وو نو مخ دی نه

Maktaba Tul Ishaat.com

اړوي ، دړولیش وَائی ددغه اړه وَلوځنه دامام بعد الصلوٰة که سنت بعدی نوَه اویا پس له سنتوځنه نوغرض شه دی بیله اجتماعی دعاء. نووَلی وهابیان دعاء بعد السنن بدعت بُولي.
وذکر الفقیه ابو اللیث السمرقندیؒ نقلاعن ابی حنیفةؒ چې امام چې دعاء کوی پسله لمانځه مخ دی د خلکو دجماعت ته اړاوړوي. نوکه دعاء اجتماعی بدعت وای نو امام ولی مُخ وجماعت ته اړووي انفرادی دعاء خو امام بیله مخ راړه ولو هم کولای سَوای. فعلم ان تحویل الوجه الی القوم للدعاء بالاجتماع ، وهذا هو الدعاء المتعارف الذی ینکره الوهابیه وغیرهم.
وفی الهدایه ص۱۲۴ وَالجمع ارجیٰ فی الاجابة ، یعنی په اجتماع دعاء کول اجابت ته نږدې دَه . وقال العلامه محمد انور شاه الکشمیریؒ فی فیض الباری شرح البخاری چې دعاء په هَیئت اجتماعی بدعت نه ده ، په دی معنیٰ چې اصل په دین کی نه لري. یعنی لکه وهابیان چې وَائی الیٰ ان قَالَ فَمَن کان محتاجًا فلیدع بالاجتماع ومَن لا فلا : یعنی که څوك محتاجه وی چې دَ ما دعاء دې قبوله سی نوهغه دی په اجتماع دعاء کوی. اوکه څوك محتاجه نه وی نه دی کوي. وفی المشکوٰة ص۲۱۲ کانَ علیه الصلوٰة وَالسلام یقول فی دبر صلوٰة الفجر دعاء : یعنی علیه الصلوٰة وَالسلام به وَئیله چې پهٔ روسته کی سحار د لمانځه دعاء سته. دړولیش وَائی داحدیث مطلق دی که په اجتماع کوي اوکی انفرادی کوي بَل الظاهر هو الاجتماع:
وایضًا روی عن امام المسلمین ابی حنیفه رحمه الله تعالیٰ . چې ده وویل که امام دعا کوله پسله فراغه د لمانځه نو مخ دی جماعت ته اړاوړوي. فتاوی ابو اللیث السمرقندی الفقیه ص۱۳ دړولیش وائی چې اوس خبره ددعاء بعد السنن په باره کی افراط او تفریط ته رسیدلی دَه ، او حق په مابین کښی پاته دَی ،، بعض امامان دعاء بعد السنن بیخی کلك سُنت بولي. او بر تاربك یه سخت انکار کوی. اودا افراط دی او حق داغسی نه دَیُ. او وهابیان یه بدعت بُولی او پر کوونکی باندې حکم د مبتدع کوي اودا تفریط دی او حق داغسی نه دی . بل الحق دَادی چې دعاء بالاجتماع اقرب واجابت ته دَه. لکن کی څوك گاهی نه وکړي خِلاف السنة کار نه دیُ. اوکی څوك کوي په امُید دَ اجابت ښه کار دیُ. او انکار کول پرهغه او مبتدع بلل دَهغه غلط خبره دَه.

پُوه سَه چې دوهابیانولوی دلیل پردی خبره چې دعاء په بعد السنن وخت کی بدعت دی ، دادی چې دحضرت النبی صلی الله علیه وسلم ځنه دعاء په هیئت اجتماعی دَقومړسړه پسله سُنتو هیڅ نه دهٔ ثابته نوځکه بدعت دَه ،

فالجوابُ عَنه : چې عادت نبویؐ غالبًا داووچې سُنت بی په حجره مبارکه کی دکور کوله کما ورد فی حدیث ، افضل صلوٰة المرء فی بیته الا المکتوبة ، یعنی بنه لمانځه د سړی هغه دی چې په کور کی وي. مگر فرضی لمونځ ، دړولیش وَائی چې عجب خبره داده چې وهابیان ودعاء بعد السنن بالاجتماع بدعَت قبیحه بولی. اوس ددی چې په دړ مختار اودړ مختار ص۳۳۷ او په شرح کښیٔ د نخبة الفکر ص۵ تعریف د بدعَت داسی کوی: هیَ اعتقاد خِلاف المعروف عن النبی صَلی الله علیه وَسَلم ، لا بمعَاندة بل بنوع شُبهة فاطلاق بدعت علی الدعاء بای کیفیة ممنوع ؛ یعنی بدعَت اعتقاد کول پرهغه شیٔ چې خلاف وی دهغه شیٔ چې معلوم وی دَنبی علیه السّلام ځنه لکن نه د ضد پر طریقه بلکه په سَبب دیوې شُبهی او شك نسته چې دعاء که انفرادی اوکه اجتماعی وی د علیه الصلوٰة وَالسلام ځنه ثابته دَه. که څه هم په بعض احوالو کی لکه استسقاء وغیره ولی چې ثبوت د جزئیه جزئیه د علیه السلام ځنه شرط نه دی. مثلاً څوك نسی وَیلای چې د سمیتو او گچو ځنه جوړ سَوی محراب کښی لمونځ کول بدعت قبیحه دی. ولی چې په وَړته محراب کښی اصلاً نبی علیه السلام لمونځ نه دی کړي.
او یا څوك نسی وَیلای چې پرهغه منبر چې په گچو او سَمیتو جوړ سوی وی د جمعی خطبه وَیل بدعت قبیحه دی. ولی چې علیه الصلوٰة والسلام منبر د لرگو او تختو ځنه جُوړ سوی وو پرهغه باندی یی خطبه وَیل. او یا مثلاً د ستړنجی پر مصلیٰ او یا غالی پر مصلیٰ لمونځ کول بدعَت قبیحه دی. ولی چې علیه الصلوٰة والسلام پر دَغو مصلاوو لمونځ نه دی کړي. وامثاله کثیرةٌ. بلکه دبدعَت ځنه د وَتلو دپاره ثبوت داصل کافی دی ،، وَلو فی بعض الاحوال والاوقات ، وهو موجود فی الدعاء بالهیئة الانفرادیه والاجتماعیه ، بلکه وهابیان باید فکر وکړي که ثبوت د جزئیاتو په دینی امُود کی شرط وَائي. نو دغه رسائل او کتابونه چې وهابیان یا نور امامان یه نوشته کوي داتول بدعت قبیحه وائی. فمَا هو جوابکُم بان اصل هذا ثابتٌ لکتابة آیات القرآن علی الاکتاف وغیرهَا.
فهو جوابنا بان اصل الدعاء ثابتٌ ؛ بلکه بدعَت هغه کار او فعل ته وَائي چې هیڅ دَلیل پرهغه نه وی نه قولي. او نه فعلی او نه تقریری نه د قرآن ځنه بانواعه من الخاص وَالعام والظاهر والخفی

وغيرها. اونه دحديث څخه دَعليه السلام باقسامه مِن المتواتر والمشهور والخبرالواحد والمتصل والمرفوع وغيرها. اونه بل دليل پروي لکه اجتماع او اجتهاد د مجتهد وغيره.

ومن الظاهر المبين على غير الغبي ان الدعاء بكل هيئة كانت من الانفراد والاجتماع ليست كذالك فافهم ايها الذكى والطالب للصواب المعرض عن طريق البدعة والعناد، وعزوجوده فى هذا الزمان.

وقال بعض الوهابية: چې دڅاښت لمونځ په اجتماع سره مکروه دی سره د دی چې اصل لري يعنې مطلق دڅاښت لمونځ **وَالجَواب** عنه: دا دی چې صلاة الضحىٰ خو نفل دی او نفل په تداعی سره بيله تراويح مکروه دی»، کما صرح به الفقهاءُ. خو نو څرنګه وهابي دعاء بالاجتماع پر قياسوي اوسره د دی چې په هدايه کښې وائي: چې اجتماع پر دعاء اقرب واجابت ته ده. او په عين العلم کې چې يومنل سوی کتاب دی قديما وحديثا په صـ۶۸ کی وائې ومنها الدعاء والدعاء مُخ العبادة. نو بايد د دعاء د پاره دښو وختو انتظار وکړي. الىٰ ان قال چې دعاء په داسې جماعت کې چې سل ته رسيږي ښه وخت دی. والوقوف با العرفات والملتزم، وزيارة قبر النبی عليه الصلوٰة والسلام.

وهابيان وائې چې دعاء په هيئت اجتماعي ځکه ناتوب دی پر هغه منصوصه دعاء چې انفرادي ده نو د دعاء د هيئت اجتماعي شان داسې دی لکه اذان، کوم چې د پاره د لمانځه د عيدينو وهو بدعة مکروهة

والجواب: چې دا سی قياس فاسد دی. ولې چې اذان د خصوصياتو څخه د فرائضو خمسو څخه دی په اجماع د امت مرحومه او اجماع د دلائل اربعو څخه ده. بخلاف الدعاء فانه لا يختص يعنې دعاء خاص نه ده نه په فرائضو او نه په نوافلو سره. او نه په انفراد او نه په اجتماع پوري. بلکه دلائل ماضيه دال دی پر دعاء په هيئت اجتماعي بلکه پر استحباب د دعاء مذکوره. ولې چې اجتماع پر دعاء اقرب واجابت ته ده لتظاهر النفوس»

وهـابيان وائي چې دعاء په هيئت اجتماعي داسې ده، لکه زيات توب پر ۳ واره په غسل کښې د اعضاء و د او داسه وهو مکروه **والجواب**: چې په منع کښې د زيات توب د پر يولو اندامو د او داسه صريح نص موجود دی. قال عليه الصلوٰة والسلام بعد بيان تثليث الغسل فمن زاد او نقص فقد تعدى وظلم» ولم يوجد نص فى المنع عن الدعاء بهيئة الاجتماع بعد السنن اوالفرائض **وهـابيان وائي** چې دعاء بعد السنن په هيئت اجتماعي سره حديث

فعلی د عليه الصلوٰة والسلام نه دی موجود نو دا دعاء اختراع فى الدين ده او بدعت قبيحه ده

جواب: دَلائل د احکامو د بنيه وو خو يوازې احاديث فعليه نه دي. ورنه ډير احکام به محطل پاته سي» او حديث قولي خو موجود دی: قَالَ عليه الصلوٰة والسلام: الدعاء مخ العبادة» او په دې حديث کې هيڅ قيد نشته نو دعاء د هيئت اجتماعي هم تر دی حديث لاندې راځي. او علامه شامي په رد محتار کې وائي چې اختراع فى الدين هغه فعل دی چې په شرع کې هيڅ دليل نه لري نه قولي او نه فعلي»

سؤال: وهابيان خو نه هدايه مني او نه رد محتار او بحر الرائق مني او نه عين العلم وغيره ته هيڅ اعتبار نه ورکوي» بلکه د دغو کتابو په باره کې دوی ډير بد الفاظ مستعملوي نو ته څرنګه د دوی په مقابل کې په دَغو کتابو سره استدلال کوې. بلکه دوی تصريح کوي بلکه بر ديوالو پر هم نوشته کړي دی چې د دليل زمونږ په نيز- قَالَ اللهُ وَقَالَ الرسول دی. و بس

جواب: زما د روليش دا مقصد نه دی چې وهابيان ومنيږي هم زه د دغو کتابو په حواله و دوی ته قناعت ورکوم بلکه زما مقصد دا دی چې خپل ورونړو حنيفيا نو ته پر دی آګاهي ورکوم چې دعاء په هيئت اجتماعي ولو بعد السنن زمونږ د مذهب سره برابره ده بلکه د قرآن کريم د مطلق عباراتو سره هم برابره ده او هم د احاديثو مبارکو و د بې قيد الفاظو سره برابره ده کما مَرّ سابقًا»

ورنه د روليش په دې نه پوهيږي چې د دوی په نيز هيڅ کتاب اعتبار نه لري بيله کتابه د ابن تيميه حراني، او يا د کتابه عبد الوهاب النجدی وامثا لهما. نو بيان د عاصي په مثل د دواء دی يعنې لکه بعض دوا ګانې د پاره د حفظ صحت وي او بعض دوا ګانې د پاره د دفع د علت او مرض وي د غه رنګه زما د غه بيانات د پاره د حفظ صحت د خپلو ورونړو حنيفيانو دی. تا چې په مرض د وهابيت مبتلا نه سي. نه د دی د پاره چې دَفع د مرض د وهابيت د وهابيانو وغيره هم د ما غو اوزړو سره په وکړم»، وهابيان وائي چې دعاء بالهيئة الاجتماعية مما لم يأذن به الله نو بدعت قبيحه ده. **جواب** چونکه دعاء په هيئت مذکوره ثابته با الادلة الشرعية ده کما مرانفًا و سابقًا نو مما لم يأذن به الله نه ده،

Maktaba Tul Ishaat.com

وهابیان وائي چې همیشه توب پر امر مستحسن بدعت دی. نو لعض ملایانو چې دعاء په هیئت اجتماعي همیشه دعاء کوي بدعت دی. **جواب**: داخبره ستاسي بېخي غلطه ده ولي علامه آلوسي بغدادي مصنف د روح المعاني. همیشه او هره شپه به د سورة الملك تلاوت کاوه او پر دې کار به حمد د خدای جل جلاله وئیلی دی او سره ددې چې تلاوت د سورة الملك خو واجبا تو نه دی. او دغه رنګه په هغه چې بخاري وغیره روایت کړي دي چې علیه الصلوٰة والسلام و بلال رضی الله تعالیٰ عنه چې ته کم بنه عبادت کوي. چې ما به ستا د چوتو تږپ په عالم رؤیا کښي تر ځان د مخه اوریدی یعني په جنت کی. حضرت بلال رض چې زه چې هر وخت بې اودسه شم، نو خوا مخواه اودس تازه کوم، او چې دوام پر اودا سر او دوام پر تحیة الوضوء خو د ولجاتو څخه نه دی بلکه یو مستحسن کار دی. او بله خبره داده چې اولیاء او صلحاء د تهجد پر لمانځه باندې دوام کوي.

او د تهجد لمونځ هم یو مستحسن کار دی واجب خو نه دی. او آنحضرت صلی الله علیه وسلم په دعا بنا ئېته کلماتو د دوام پر امر مستحسن مدحه کړې ده. چې وائي خیر العمل ما دیم علیه، هو بایده مرتب دعبادا تو مراعات وکړه سي. یعني فرضي عمل به فرض بولي. او واجب به واجب ګڼي او نفل به په نفلي نظر وړ ته ګوري. **وهابیان وائي**: چې عدم نقل د اجتماعي دعاء د آنحضرت صلی الله علیه وسلم څخه دلیل دی دې دی چې دغه کار مکروه دی. **جواب**: مکروه به هله وائي چې بیله فعل نبوي بل دلیل د جواز نه وای موجود ؛ او تاته قریبًا و بعیدًا ذکر سوه چې اشارات قرآنیه او رموزات نبویه پر جواز د دغې دعا دلالت کوي. ولې چې په کتابو کی د اصول الفقه په بحث کی دوجوه فاسده وائي چې عدم د دلیل خاص پر عدم د مدعی دلالت نکوي. ولا نه یجوز اثباته بدلیل اٰخر کما فی ما نحن فیه ». **وهابیان وائي**: چې دعاء بعد السنن په هیئت اجتماعي دا سې مثال لري لکه نفل کول پسله مازدیګر د لمانځه او یا د سهار د لمانځه څخه **جواب**: د نفلي لمانځه بعد العصر و الفجر خو صریح منع راغلې ده. په احادیثو نبویه وکي او د دعا څخه خو هیڅ منعه نه ده راغلی ». فکیف القیاس: درویش باګناه محمد عبید الله کندهاري حنفي نقشبندي ایوبي، سلیمانخیلي وائي که څه هم مقصد د درویش پښتو ته نقل

کول د نور الایضاح دی. لکن په مناسبت د ذکر د دعاء په نور الایضاح کی. تفصیل د مسئلې د دعا مناسب وګڼو تاچې طالبان، او بعض امامان، بلکه نراونځې د خپل ګران افغانستان په مورنی ژبه د دی مسئلې په تفصیل خبر کړم. او د وهابیت د دامه څخې خلاص کړم. په امید د دعاء د بعض مسلمانانو، پښتنو په باره کی د دې عاصي با نواع المعاصي په دربار کی د رب العزت جل سلطانه د مغفرت د ذنبه الجلي و الخفي، او ان شاء الله تعالیٰ دا به د فقیر د خواخیر باقي او صدقه جاریه وي الیٰ یوم القیامه وما ذالك علی الله بعزیز، ربنا تقبل منا انك انت العزیز الحکیم الحمد لله رب العٰلمین والصلوٰة علیٰ سید المرسلین وآله وصحبه اجمعین:

؎ غرض نقشیست کز ما یاد ماند؛ که هستی را نمی بینم بقائی ؛

مگر صاحبدلی روزی ز رحمت. کند در حق این مسکین دعائی.

بوه سه: چې اوس نه بیرته رجوع وخپل مقصد اصلي ته کوم. وما توفیقي الا بالله علیه توکلت والیه انیب،

خبردار:

د نور الایضاح د پښتو شرحه چې مصنف یې حضرت علامه محمد عُبید الله الایوبي القندهاري السُّلیمانخیلي ده، او به کتابت زما احقر محمد فضل الحق حقاني » لیکل سوی ده » او حضرت ایوبي د خپلو مشفقانه پیرزوینو له مخې ټول حقوق د طباعت او کتابت هم وموږ ته راکړي دي.

نو هم د دې اداري له خوا به ان شآء الله مکمل ستاسو په دړانه خدمت کی وړاندې سي.

احقر الانام فضل الحق حقاني تقبلیه
مدرس بقسم القراءات والتجوید والدروس العربیه
بجامعة تجوید القرآن بشارع سرکی کوټه

باب مَا يُفسِدُ الصَّلٰوةَ

باب دی په بیان کی دَهغو شیانو چې لمونځ فاسدَه وي. **پُوښتَنه:** چې فساد او بطلان په عبادا تو کښې یو شئ دی. او په معاملا تو کی فرق سره لري. نو یو فعل چې اصل یه مشروع وي لکن وصف یه شرعی نه وی هغه ته فاسِد وائي. لکه بَیعه په شرط د داسی شئ چې عَقد یه مقتضی نه وي لکه یو سَړی چې سرای خرڅ کړي په دې شرط چې یوه میاشت مثلاً بائع پکښې اوسیږي او نور په مثل د دغه شرط چې په اوسنی زمانه کی ډیری بیوعی د فساد څخه خالی نه وی.

دبیع فاسد حکم دادی: چې ملک خو د مشتري ثابت وي. لکن پریوه د بائع او مشتري واجب دَه. چې دا عقد دی فسخ کړي چې د گنا څخه خلاص سی. او که یو کار د اصل مشروع نه وُو لکه خرڅول د وینی یا د مُرداري یعنی هغه حیوان چې مردار سوی وی دې کار ته باطِل وَائي. او حکم یه دادی چې ملک نه فائده کوي. وَلَو بعد القبض، **فـرعـه:** په اوس وخت کی چې د جراحی عملیات وخپل اوج ته رسیدَلی دی او بعض عملیات د ډاکټري په مسلک کی مَریض ته د نورو وِینهِ ته ضرورت لري.

یعنی که وینه وه مریض ته تزریق نه سی د ډاکټری په حساب مریض ته سل په سل کی خطره د مرگ وي نو بعض اشخاص چې گروپ د وینی یه د مریض د وینی دگروپ سره برابر وی خپله وینه پر مریض خرڅوی دا بیع خو بیله شکه وه هغه سړي ته حرام او دا بیع باطله ده، لکن انتفاع په جزء د انسان و بل انسان ته په وخت کی د ضرورت رواده. لکه خوړلِ د میتی په وخت کښې د مخمصي کافی کتب الفقه«٥،١»

قَالَ المصنفؒ **وَهُوَ ثَمَانِيَةٌ وَسِتُّوْنَ شَيْئًا اَلْكَلِمَةُ وَلَوْ سَهْوًا اَوْ خَطَاءً**

او هغه مفسد د لمانځه اته شپیته ٦٨ شیَان دی. یو د هغو څخه یوه کلمه ویَل دی که څه هم په سهوه یا په خطاء سره. **پُوښتَنه:** چې دا عدد تقریبي دی تحقیقی نه دی «م» په سهوه ویَل دادی چې هیڅ خُندی وسی. د ده خیال داوی چې دی په لمانځه کی نه دئ. او خطاء داده چې لمونځ گذاره غواړي چې

داایت ووائی: یَا اَیُّهَا النَّاسُ» په خوله یه داورسی «یَا زَیْدُ» **پُوښتَنه:** چې مراد د کلمی څخه کلمه نحوی نه ده چې لفظ مَوضوع د پاره د معنی مفرد دی. ولې چې لمونځ په ویَلو د لفظ مهمل هم فاسدیږی لکه «جَسَق» او په مرکب لفظ هم فاسدیږی لکه غُلام زَیدِ وغیره. بلکه مراد معنیٰ لغوی ده چې مَایتَکَلَّمُ بِہٖ» ده چې دا معنیٰ ټولو الفاظو ته شامِل دَه «

مَسْئَله: په فاسدولو کی د لمانځه شرط دادی. چې د کلمی حروفو په صحیح تلفظ کوی. او دی یې هم اوری. نو که یو د دے دوو شرطونه وو لمونځ نه فاسدیږی لعدم اعتباره «حلبیؒ بنقلط.

مَسْئَله امام خواهرزاده وائی چې لمونځ په یوه سره چې مسموع سی که څه هم حروف نه وی هم فاسدیږي. **مَسْئَله:** که سړي په لمانځه کښې وویَل: اَشِئْ» یعنی دا کلمه چې سَړي خر په شړي» یا پشتَہٗ» هم لمونځ په فاسدیږی» س، ن، در» نو هغه خبره چې بعض کتابو کښې کړیده که سړي پر خره سپور وو لمونځ یه کاوه مثلاً نفل او وی ویَل» اَشِی» لمونځ یه نه دی فاسِد د فقهی څخه لیری خبره ده. کذا قَالَ الشرنبلالیؒ:

سَوال: په حدیث شریف کی چې بخاري یه هم روایَت کړي دی داسی رَاغلی چې یوه ورځ په رباعی لمانځه کی آنحضرت صَلی اللّٰهُ علیهِ وَسَلم سهوًا پر دوه رکعته سلام وگرځاوه نو یوه سړي چې آنحضرت به په ذوالیدین ورته وَیَله. هغه ورته ووئیله: اَقُصِرَتِ الصَّلٰوۃُ اَمْ نَسِیْتَ» ایا چه لمونځ کوتاه سو یعنی په لمانځه کی وحی رَاغلی چه د لمونځ به دوه رکعته گرځید لی وي. او که سـتا هیر سُو. علیه الصلوۃ والسلام ورته وفرمائیله: کُلُّ ذَالِکَ لَمْ یَکُنْ» یوه د دغو دوو خبرو څخه نه ده پیښه یعنی پر گمان دعَلیه السلام. ولې چې د دَه خیَال داوو چې لمونځ ما پوره ۴ څلور رکعته وکړه. خیر آنحضرت صلی الله علیه وَسَلم وخلگو ته وویَل» اَصَدَقَ ذُو الیدَیْنِ» آیا رشتیا وائی. ذو الیَدین» خلگو ورته وَوَیَل هُو. نو عَلیه الصلوۃ وَالسلام دوه رکعته نور و کړه. او سجدۃ السهوه وکړه. نو که خبری مفسِد د لمانځه وائی نو به علیه الصلوۃ وَالسلام لمونځ د سره راگرځولای وای نو هم په دغه وجه په دی حدیث سره دلیل وائی. حضرت امام شافعیؒ چې وَائی چې په هیره سره په لمانځه کښې خبرول لمونځ نه فاسِده وی مگر که بیخی ډیروي. **جَواب:** حدیث د ذوالیدین محمول دی پر ابتدائی حَالاتو د اسلام، چې په لمانځه کښې قصدًا هم خبری رواوي. یعنی نُو

Maktaba Tul Ishaat.com

اوس دا حدیث منسوخ دی. په دلیل د دی حدیث چې علیه الصلوٰة والسلام فرمائی: اِنَّ هٰذِهِ الصلوٰة لا یصلح فیها شئ من کلام النَّاسِ په تحقیق سره د غه لمونځ یعنی جنس لمونځ په هغه کښی صلاحیت نشته د شئ د خبرو د خلګو (وهیرو که عذر وای نو باید قلیل الکلام او کثیر سره برابر وای خبری او السلام علیکم خو باید په حکم سره برابر وای ولې چې دواړه قاطع د لمانځه دی

پوښتنه او ضمیر د مخاطب لکه په خارج الصلوٰة چې بیو د بل سره خلک په تحیه کی سره وائی موجود دی. او سره دد ی چې تاسی وایاست چې په سلام سره قصدًا لمونځ فاسدیږی. او په خبرو مطلقًا لمونځ فاسدیږی. **جواب**: چونکه سلام د اسماوو نه د خدائ دی او د جنسه د لمانځه هم دی السَّلام عَلیكَ ایها النبیّ. نو دی دا ذکار و د قسم دی. او په ذکر خو لمونځ نه فاسدیږی. نو چې سلام په هیره وی په سبب د مشابهت د اذکار و لمونځ نه په فاسدیږی او که د مخاطب د چا سره غرض وو یعنی عمدًا وو نو د کلام الناس حکم لری او لمونځ نه په فاسدیږی ط، د، م،

پوښتنه: چې مصنف د خبرو سره داقید هم وئیلی دی په مراقی کی "وَلَو نَائِمًا فی المختار" یعنی که څه هم په لمانځه کی خبری وکړی په داسی حال کی چې بیده وی وی هم لمونځ په فاسدیږی مطلب دا چې په ناسته کی یا په سجده کی بیده وی او خبری وکړی. لکن مختار رېه د دی کیله وایه چې فخر الاسلام وائی چې د خوب په خبرو لمونځ نه فاسدیږی، ض، ن، ط، **مسئله** فعل قلیل په لمانځه کی عفوه دی. ولې چې احتراز ځنی مشکل دی مثلًا سری پرېږی باندی غوماشه وچیچی ده هغه ځای وګوری. او یا په پټو، اشوه سوده بیرته په عمل قلیل پروبه و اچاوی وغیر ذالک، م، د، قَالَ المُصنِّفُ:

وَالدُّعَاءُ بِمَا يَشْبَهُ كَلَامَنَا او دعا کول یعنی د خدای پاک نه شئ غوښتل چې مشابه زمونږ د خبرو سره وی یعنی لمونځ فاسده وی نحو اَللّٰهُمَّ اَلبِسنِی ثَوبًا وَ اَطعَمنِی لَحمًا، او اقضِ دَینِی، او انکحنی فلانة، ولې چې غیر د عباد و د خوا نه هم د سره کیدای شی. بخلاف اَللّٰهم عافنِی وارزقنی واعف عنِّی "

پوښتنه: چې صاحب د بحر الرائق په نقل د مرغینانی نه د اسی تفصیل د دعاء بیان کړی

دی. نو وائی چې دعا ګانی چې په قرآن شریف کی او یا د علیه الصلوٰة والسلام نه منقول وی په لمانځه کی کول لمونځ نه فاسده وی. او که قرآنی ما ثبو کی یو دعا وی، نو کی طلب د بند ګانو نه محال وو هغه هم لمونځ نه فاسده وی لکه اللهم اغفر لی وارحمنی وارزقنی و غیر ذالک، او کی طلب د بندګانو نه محال نه وو لمونځ فاسده وی. نحو انکحنی فلانة، وَاَطعِمنی وَاقضِ دَینی

سوال: دعاء خو په عموم کی د کلام داخل وه نو حاجت په وذکر ته نه وو. **جواب** په دعاء کی امام شافعیؒ مخالف دی هغه وائی چې په هیڅ دعا لمونځ نه فاسدیږی. نو د دی سبب په دعاء علی حده یی ذکر کړه.

پوښتنه: دعاء خو خطاب د انسانانو سره نه دی نو ولی لمونځ په فاسدیږی!

جواب: په فساد کی د لمانځه خطاب شرط نه دی مثلًا که لمونځ کوونکی په لمانځه کی وویل قرائتُ الفاتحة لمونځ یی فاسد دی. که څه هم هیڅ څوک حاضر نه وی، ت، ط، د،

پوښتنه: چې په طلب د رزق مطلق لمونځ نه فاسدیږی او په طلب د رزق مقید لمونځ فاسدیږی لکه چې اَللّٰهُمَّ ارزقنِی لَحمًا وولی و غیر ذالک" قَالَ المُصنِّفُ:

وَالسَّلَامُ بِنِيَّةِ التَّحِيَّةِ وَلَوْ سَاهِيًا او د غه رنګه لمونځ فاسده وی وییل د سلام په نیت د تحیه د یو چا. که څه هم په سهو سره وی. **پوښتنه**: چې په مراقی کی ولې کړه هم عَلَیکُم ورسره ونه وائی. لکن و رسره ته دلیل د اسی وائی لانه خطاب، نو سوال دا پیدا کیږی چې بیله علیکم وَیلو نو خطاب چېری دی. د دې سوال په جواب کی ط داسی وائی چې مراد د خطاب نه، مامِن شانه ان یخاطب به، او درویش وائی چې د خطاب نه خطاب عرفی مراد دی. او که مراقی والا د اسی دلیل ویلای وای: چې سلام که څه هم عَلَیکُم نه وی ورسره په کلمه بالمعنی الاعم کی داخل دی نو د دی سوال به خلاص وائی.

درویش وائی چې دا قول د مصنف مخالف دی د هدایه نه چې په هدایه کښی داسی وائی: بخلاف السلام یعنی بیله عَلَیکُم لانه من الاذکار فیعتبر ذکرًا حالة النسیان و کلامًا فی حالة العمد آه بحر الرائق تطبیق د مصنف د خبری او د هدایه د خبری داسی کړیده که

چیری مخاطب حاضروو نومطلقًا یه لمونځ فاسِد دی که په قصد وی اوکه داهیره وی چې زه په لمانځه کې یم اوکه علیکم ورسره ووائی اوکه نه ' اوکه چیری مخاطب حاضر نه وو نوکه په قصد سلام سره د علیکم اویا بغیر د علیکم ووایه لمونځ فاسِد دی. اوکه د نسیان په حال کې ووایې لمونځ یې نه دی فاسِد قیاسًا علیٰ ما سلم علیٰ رأس الرکعتین فی الرباعیة سهوًا او نسیانًا فان صلوته لا تفسد فکذا ههنا، بحر، م، در، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَرَدُّ السَّلَامِ بِلِسَانِهٖ اَوْبِالْمُصَافَحَةِ

اودغه رنګه لمونځ فاسدیږی په جواب ورکولو دسلام چاو سلام ته په خوله اویا په روغبړه. ولې چې رد د سلام په خوله مفسد دی د لمانځه که عمدًا وی اوکه سهوًا ولې چې رد د سلام خود اذکارو څخه نه دی بلکه کلام اوخطاب دی. اوهغه مفسد دی مطلقًا، ش، م، ط، ب. قید د لسانی مصنفؒ ددی سببه ووایه، چې که رد د سلام په لاس وکړی مثلًا لاس یه ورته پورته کړی لمونځ یه فاسدیږی. ولې چې په صحیح حدیث کې داسې راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم مسجد قبا ته یو وخت تللی وو. او په لمانځه ولاړ وو. انصارؓ چې به راغله سلام بې ورته ووایه عمرؓ وبلالؓ ته چې د علیه السلام سره ملګری وو پوښتنه وکړه چې علیه الصلوٰة والسلام به څرنګه دوی ته جواب ورکاوه. نو بلالؓ ورته ووئیله چې په لاس به یې جواب ورکاوه. یعنی لاس به یې پورته کړی د ورغوی خوا به د مخکې وخواته وه

سوال: د فقهی شریفې په ډیرو کتابونو کې وائی چې جواب د سلام په لاس سره مکروه دی د دی حدیث شریف څخه داسې فهمیږی چې مکروه نه دی. **وَاَجَابَ** عنه ط چې فعل د علیه السلام د پاره د بیان د جواز دی او کراهت هم تنزیهی وو.

او رد د سلام بالمصافحة خو د جهته د عمل کثیر والی لمونځ فاسده وی. او چا چې وئیلی دی چې رد بالمصافحة خبری دی په معنیٰ کې هغه دلیل غلط دی. ولې رد بالید خو هم کلام دی په معنیٰ کې. او سره ددی چې لمونځ نه په فاسدیږی، کما مرّ آنفاً فافهم: قَالَ المُصَنِّفُ

وَالْعَمَلُ الْكَثِيْرُ

اودېر عمل هم لمونځ فاسده وی. یعنی قلیل عمل لمونځ نه فاسده وی لانه لا یمکن الاحتراز عنه.

پوښتنه: چې فرق د عمل کثیر او قلیل څرنګه داسې کوی چې دری حرکته متوالی سری وکړی په لمانځه کې هغه کثیر دی یعنی لمونځ فاسده وی. اوکه ترد رې کم وه او یا دری وه لکن متوالی نه وه بلکه په مابین کې فصل موجود وو هغه قلیل دی لمونځ نه فاسده وی.

او مشهوره فرق په دا دی چې د غه لمونځ کوونکی ته چې بل څوک وګوری کې د لمونځ کوونکی ګمان پر ده نه وو هغه عمل کثیر دی. اوکې ګمان د لمونځ کوونکی خو پرکیږی. او یا په ترد د او شک کې وو هغه عمل قلیل دی.

پوښتنه: یو سړی بل سړی ولیدی چې د لمانځه نیت یې وکړو او یو رکعت مثلًا یې هم وکړی وروسته هغه لمانځه کوونکی د جیبه څخه رومونځ راوکښه او سر او ږیره یې رومونځ کړه نو لمونځ خو یې په دغه فاسد شو او سره ددی چې د عمل کثیر ذکر شوی تعریف نه پر صادقیږی. ولې چې لیدونکی خو یقین دی چې دی په لمانځه کې دی. ولې چې لیدونکی په ابتداء کې دده حال ولیدی چې په لمانځه ودریدی. **جواب** پو ته فرق بناء پر هغه صورت چې خارجی سړی دده په حال د مخه نه وی خبر فتدبر: قَالَ المُصَنِّفُ

وَتَحْوِيْلُ الصَّدْرِ عَنِ الْقِبْلَةِ

او اړول د ځیګر دی د قبلی څخه چې لمونځ فاسده وی. ولې چې په تحویل سره استقبال د قبلې چې په لمانځه کښې فرض وو پاته شو

پوښتنه: چې کتل د لمونځ کوونکی دستر ګو په ګجنسیا نو مکروه دی او فاسدوونکی نه دی. او کې ځیګر د قبلی څخه واړاوه لمونځ یه فاسد دی. کذا قالوا. او کې ځیګر سرځای وو مخ یه واړاوه لمونځ یه مکروه دی فاسد نه دی.

پوښتنه: چې کتل د لمونځ کوونکی که یو جزء د ځیګر و قبلې ته وی لا یزم لمونځ نه دی فاسد. نو د تهوله ځیګر اړول هلته راځی چې مثلًا قبله وغرب ته وی دی ځیګر و شرق کې و بالعکس. کذا قَالَ الامام الطحطاویؒ فی شرح المراقی. ص ۲۶۲

التَّحْقِيْقُ فِی الْعَمَلِ الْقَلِيْلِ وَالْكَثِيْرِ وَتَحْوِيْلُ الصَّدْرِ عَنِ الْقِبْلَةِ

پوښتنه: چې صحیح مذهب په باره کې د عمل کثیر او قلیل خو هغه وو چې د مشهور په عنوان ذکر شو، م، کې وائی

Maktaba Tul Ishaat.com

وهوالاصح ۔ او په تبیین کی وائی: وهوقول العامة وهوالمختار او په مضمرات کی وائی
وهوالصواب: دد رومتوالی حرکتو مثالونه. که سړي په لمانځه کی د ګرمۍ په دوران کی په یوه رکن
کی دری واره برله پسی پیک وواهي لمونځ یې فاسد دی. او یا یې وګروی یوځای د جسد
نخه په یوه رکن برله پسی لمونځ یې فاسد شو. او په دی ټولو صورتو کی که په مابین کی
فصل موجود وو لمونځ یې نه دی فاسد که څه تردری واره بالا وی. او په خلاصه کی وائی کی دری
واره ئمان وګروی یې. په یوه رکن کی. او هر وار یې هغه ځای ته چې کایه کوله لاس پوی ته کوله لمونځ
یې فاسد دی اوکه رکن جلا وه. او یا یې دری واره لاس نه کی پوی تربلکه په یوه پلا پوی ته
کید وسوم مثلاً سر دری واره پی بالا وګوراوه لمونځ یې نه دی فاسد. ولې چې دا یو وار ګرووڼل
دی.

دهیرانولو پوښتنه

یوچا دری واره شئ وچښئ او لمونځ دبل چا په فاسد شو

جواب: بنځه په لمانځه په التحیات کی ناسته وه او ددی کشنی شیرخوره لمن ووړ پوی ته
کړه او دری واره ددی شیدی وروودی د دغی بنځی لمونځ فاسد سو علی الاصح کما فی المضمرات،
او بعض فقهاء وائی: چې هغه عمل چې په عادت کی په دواړو لاسو کیږی لکه د لنګوټی تړل یا
پرتګا بن تهیکوول عمل کثیر دی یعنی لمونځ په فاسدیږی کی څه هم دی په یوه لاس وکړی او هغه
عمل چې په یوه لاس کیږی لکه د نخچینه (خولی) پر سر کول، یا یوځای ګرووڼل عمل قلیل دی که څه هم
دی په دواړو لاسو وکړی. او په بعض کتابو کی وائی که دغه عمل مقصود وو د کوونکی لکه یوځای
چې کا. وګی وی ګرولئ هغه عمل کثیر دی. اوکه مقصود د عامل نه وو لکه په زړی کښی ناځی
ګوتی وهی هغه عمل قلیل دئ. او موافق د رای سره د امام اعظمؒ کما فی التبیین، دا دی چې
قلت او کثرت د عمل وراني ته دمبتلا به مفوض دی. که دده په فکر ډیر وو هغه ډیر دی لکه
فکر د تقوی دارو خلګو، اوکه دده په خیال کی لږ وو هغه لږ دی. لکه د عوام الناس فکر او خیال.

پوښتنه: چې مصنفؒ په مراقی کی وائی چې سورته کول د دواړو لاسو د تکبیر سره د
رکوع لکه نور اهل المذاهب چې کوی زموږ په نیز مکروه دی. لکن لمونځ نه په فاسدیږي علی الصحیح
او په شرح کی د جامع صغیر په روایت د مکحولؒ د امام اعظمؒ نخه داسی وائی چې لمونځ په رفع

دیدین فاسدیږی۔

پوښتنه: چې امام حلبیؒ وائی چې تګ په لمانځه کی که چیری برله پسی نه وو
یعنی مصلی تګ وکړی په قدر د یوه صف او بیا ودریدی په قدر د یوه رکن لکه رکوع او
او سجود، او بیا یې قدر د یوه صف روان سو بیا ودریدی یو رکن مقدار. او داغسی روان وو
او تر دیرو صفوتیر سو لمونځ یې نه فاسدیږی. مګر کی په سجده کی چې لمونځ ئی کاوه او تر مسجد
ووتی لمونځ یې فاسد سو. او کی په صحرا کی لمونځ کاوه چې تر ټولو صفوتیر سو لمونځ یې
فاسد دی۔

پوښتنه: چې امام طحطاویؒ د ابن امیر الحاج نخه داسی تفصیل نقل کړی دی. چې
تګ په لمانځه کی به بیله عذره وی. او یا په عذر سره وی. که بیله عذره وو. نو که ډیر
وو او برله پسی وو نو لمونځ یې فاسد دئ. که په دغه تګ کی قبلی ته شا سی او که نه! ولی چې دا
عمل کثیر دی۔ او د لمانځه د اعمالو نخه هم نه دئ. او که تګ ډیر وو او برله پسی نه وو لکه یو وار
په یوه رکعت کی او بل وار په بل رکعت کی. وهکذا. او یا خو په یوه رکعت کی وو. لکن تر ما
بین د دواړو په مهلت وو، نو کی قبلی ته شا سوه لمونځ یې فاسد دئ. ولی چې شا ګرځول
وقبلی ته په لمانځه کی بیله عذره منافی د لمانځه دی. او کی قبلی ته شا نه وه ګرځولی نو لمونځ
خو یې نه فاسدیږی. لکن داسی عمل مکروه دئ. ولی چې فقهاءؒ تول وائی چې هغه عمل چې
کثیر یې مفسد وی لږ یې مکروه دئ. چې ضرورت نه وی. او که تګ په لمانځه کی په عذر سره
وو لکه و سړي ته چې په لمانځه کی او دس مات سی نو په او داسه پسی روان سی. او یا په
صلاة خوف کی د دښمن مخ ته ورځی یا څنډی راځی. نو دغسی تګ نه لمونځ فاسده وی
او نه مکروه دی. که قلیل وی او که ډیر، کی شا وقبله ته سی او که نه، انتهی، وهوتحقیق انیق،

عذر: د عمل کثیر او قلیل په باره کی او په لمانځه کی د تګ په موضوع کی. دا رو لیس
دومره اطناب او اوږد بیان کړی. ولی چې بعض صوفیان په علم فقه ناخبر
کسان په یوه اندک او لږ عمل سره د سړي د لمانځه د فساد حکم صادروی. او د غه رنګه
که لمونځ کوونکی یو قدم واخلی دوی ورته وائی چې لمونځ دی فاسد سو.

ونعم ما قیل ؎ آن کس که نداند، وبداند که بداند۔ درجهل مرکب ابد الدهر بماند؛ وآنکس که نداند وبداند که نداند۔ اواسپ خرد ازگنبد فیروزه جهاند؛ نو د نورالایضاح د پښتو شرحې یوه فائده داده چې کم علمه صوفیان علم زده کړې او بیا به حکم نه کوي. او دغه رنګه دا فائده هم ده چې عوام مطلق د دوی د بې ځایه احکامو څخه خلاص شي. وهذا هو الباعث علی هذا الکدو العناء من هذا العبد الاواه۔

قال المصنف **وَاَكْلُ شَيْءٍ مِنْ خَارِجِ فَمِهِ وَلَوْ قَلَّ** او دغه رنګه لمونځ فاسده وي خوړل د یو شي د خولې د د باندې څخه که هم لږ وي. یعنې لکه د کنجتي دانه، ولې چې د دې څخه ځان ساتنه ممکن ده. ولې خارج وو نو ده ولې وخولې ته اچاوه او تیره وي یه. قال المصنف:

وَاَكْلُ مَا بَيْنَ اَسْنَانِهِ وَهُوَ قَدْرُ الْحِمَّصَةِ او دغه رنګه لمونځ فاسدیږي په خوړلو د ما بین د غاښونو چې هغه په قدر د نخود وي۔

پوهه: چې فاسدوونکې د ما بین الاسنان د خوړلو هغه شی دی چې کثیر وي. او د کثیر اندازه یو نخود یې ترهغه پا لاکه څوک یې لږ عمل سره تیر کړي. یعنې ډیر نه وي ژوي. سبب د فساد یې دا دی چې د کثیر څخه احتراز ممکن وو. چې د خولې څخه یې راکښلی وای او ایسته کړي یه وای. او لږ شی چې په لږ عمل یې تیر کي لمونځ نه فاسده وي. ولې چې تبعاً د نا ړه وي. او که لږ شی خوو لکن ده ډیر په خوله کې سره واړاوه او تیر یې کي. لمونځ به فاسد دی په سبب د عمل کثیر۔

او امام خواهر زاده‌ؒ وائی چې کې تر ډکې خولې کم شی وخوړي لمونځ یې نه فاسدیږي. دا مذهب د مصلی د پاره که څه هم آسان دی لکن د مصنف‌ؒ مذهب اولی دی. او احتیاط ته په امر کې د عبادت اقرب دی. خلاصه والا یوه متنا قض خبره کړیده. دی وائی که لمونځ کوونکی وخوړي یو شی چې خوږ وو او وي ژوول عین د هغه او خوږ والی یې په خوله کې پاتې وو او ساړي یه تیره ولی لمونځ یې نه دی فاسد. او کې مثلاً سپین مصري، یا چا کلیټ او یا پلمیټ په خوله کې وو لکن ژوولی یې نه. لمونځ یې کاوه او خوږې ناړې یې نسته رسیدلی

لمونځ یې فاسید دی. او که ژاوله ژوولې په لمانځه کې لمونځ یې فاسد دی که ډیرې وي آه تاتار فنیم

قال **وَشُرْبُهُ** او څښتل د اوبو یا بل شی هم لمونځ فاسده وي که عمداً او که په هیره وي ولې چې شرب منافي د لمانځه دی. **مسئله**: که سړي د باران او ریدو په وخت کې لمونځ کاوه نو ده چې د آسمان وخوا ته سر پورته کړي د باران یو څاڅکی یې وخولې ته ولویدی او ناسته یې وو رسیدی لمونځ یې باطل شو، ولې چې د خارج څخه دی او ده نستی ورسیدی، م، ط، ب، در.

قال المصنف **وَالتَّنَحْنُحُ بِلَا عُذْرٍ** او دغه رنګه لمونځ فاسده وي غاړه تازه کول بیله عذره. مصنف‌ؒ یه په مراقی کې علت د فساد داوئیلی دی. لما فیه من الحروف آه او ط وائی چې دا رشمي حکم دا غه دی که حروف پیدا سي لمونځ یې فاسید دی. او تیغ حکم هم داغه دی لکن چې وه ته مجبوري نه وي او که بې اختیاره وو لمونځ یې فاسدیږي۔ او تو څخه که حروف پیدا سوه او بې ضرورت وو لمونځ یې فاسد دی او نوری که څه هم کلمه جنډی پیدا سي لمونځ نه په فاسدیږي. ولې چې غیر اختیاري کار دی.

قال السید:

فائده: د عذر صورتونه دادي. چې د سړي په ستوني کې بلغم ډیر سوي وي او د قرائت څخه منع کړي وي. او یا د پاره د تحسین صوت وي په قرائت کې. او یا امام خطاوتی ده غاړې تازه کړي او امام یې په خطا پوه کاوه. او یا یو سړي خبری ور ته کولي ده غاړې تازه کړي مطلب یه داوو چې په لمانځه کې یم، کذا قال الامام الهمام فی فتح القدیر بنقل الامام الطحطاوی‌ؒ:۔ قال المصنف‌ؒ:

وَالتَّافِيفُ او دا غه رنګه لمونځ فاسده وي اُف ویل یا تُف ویل. د پاره د یو کولو د خاورو. او یا د پاره د اظهار د زړه د تنګیدو۔ او بعض اهل اللغة او الفقه وائی چې اُف نوم دی د خیرنو کا نو، او یا د غوږو د خیرو، او تُف نوم دی د خیرو د ګوتو د بندو، نو بیا دی تقدیر د تافیف معنا لیری کول دی د نوکانو د خیرو، او یا د غوږو، او یا د ګوتو د بندو، یعنی دا فعل هم لمونځ فاسده وي. او هغه اُف چې په قرآن کریم کې راغلی دی په

Maktaba Tul Ishaat.com

حق کی د مور او پلار، وَلَا تَقُلْ لَّهُمَا اُفٍّ» هغه په معنا د اظهار د تنګیدلی دی پر فعل د مور او د پلار چې حاصل یه زجر دی د دوئ. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْاَنِيْنُ او دغه رنګه لمونځ فاسدوی څګیروی. وفی المراقی آه وهو آه بسکون الهاء منصوٰ علی وزن دَعْ. وفی ط اُه لوجع النجم» وبابه اَنَّ یَاْنُّ اَنِیْنًا» یعنی څګیروی وکی

رُدْرَه یو نحوی سړي ته وو یل چې دا ترکیب صحیح دی. اَنَّ زَيْدٌ قَائِمًا، هغه سړي ورته وو یل چې دا ترکیب نه دی (صحیح) ده خیال دا وو چې اَنَّ خو حروف مشبه بالفعل څخه دی نو څرنګه زَيْدٌ چې اسم یې دی مرفوع دی او قَائِمًا چې خبر یې منصوب دی. او دا ترکیب په اصل کی صحیح دی ولې چې اَنَّ فعل مَاضِیْ ده یعنی څګیروی وکړي زید، زید یې فاعل دی او قائمًا یې حال دئ: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالتَّاَوُّهُ او دغه رنګه لمونځ فاسدوی اوه ویل: قَالَ فی المراقی وفیها لغات کثیرة ولی ط شمیرلی دي بحر الرائق په دې کلمه کی ۱۳ لغته **رفع الاشتباه**، په قرآن شریف کی په وصف کی د ابراهیم علیه السلام لفظ د اَوَّاهٌ» په تشدید د واو راغلی دی د هغه معنا جلاده. چې معنا یې یقین کوونکی او یا ډیر دعا کوونکی یا نرم دله. او یا فقیه ده، د تاوه اسم فاعل متأوه دئ قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَارْتِفَاعُ بُكَائِهِ مِنْ وَجَعٍ اَوْمُصِيْبَةٍ لَا مِنْ ذِكْرِ جَنَّةٍ اَوْ نَارٍ

او دغه رنګه لمونځ فاسدوي پوره ته کول د ژړا د درد څخه پر یو ځای د بدن. او یا د یو مصیبت د وجهی نه چې د چا زوی یا ورور مړ وی یا یې مال ورک سی. او نه فاسدوی لمونځ په ژړا د یا د ولو څخه د جنت یعنی شوق د جنت او یاد اور د بیری په اتفاق سره ولې چې دغه ژړا پر کمال خشوع دلالت کوی چې د لمانځه سره او اعلی مناسب حال دئ.

پوهه: چې مصنفؒ په مراقی کی ترجمه د ارتفاع په دی کړیده. وهوان یحصل به حروف مسموعة آه او د حروفو څخه ما فوق الواحد مراد دی. او د مسموع ترجمه ط په دی کړیده چې دی ئې بخپله واوري. او که دی دا حروف بخپله هم نه واوري لمونځ نه یې فاسدیږی»

او په قید کی د حروفو اشاره ودې ته ده چې نفس آواز بیله حرفه مفسد نه دی» خلا فا الظاهر کلام البحر او مصنفؒ زیاته کړي په دلیل کی د فساد چې دا خو کلام دی معنی. نو که ژړا د مرض او درد څخه وه. ګویا ده داسی وو یل اِنَّهٗ مَرِيْضٌ فَاعْذُرُوْهُ»، دی نا جوړ دی تاسی معذور وګنړی. او که بکاء د مصیبت د وجهی وه ګویا ده داسی وو یل چې دی مصیبت زده دی د لاسائی ورکړي. او که سړي صراحةً د غه عبارت وو ائی خو لمونځ یې فاسد دی. فکذا بما یُؤدی معنا الصریح لان الدلالة تعمل عمل الصریح والدلالة هو البكاء المسموع: او بل په دی ژړا کی اظهار د تاسف دی. وهو من جنس کلام الناس ط او که ژړا د شوق د جنت وی او یا د یاره د بیری د اور وی: ګویا ده داسی وو ئیله: اَللّٰهُمَّ اِنِّىْ اَسْئَلُكَ الْجَنَّةَ واعوذ بك من النار» او که لمونځ کوونکی په لمانځه کی صریح د غه دعاء وکړي لمونځ یې نه په فاسدیږی. او په دلیل د هغه چې ژړاده هم لمونځ نه فاسدیږي.

مسئله: محل د فساد په حروفو مسموعو وو سره هغه ځای دی. چې د مصلی په قدرت کی وی منع د څګیروی، یا تأوه. یا ژړا، او کی تر وس تیره وه. نو لمونځ نه په فاسدیږی. په نیزد تولو فقهاؤ: قال فی الظهیریة. نو په وخت د نا و سی دا دری کاره لکه نري، یا ټوخ، دی چې بی اختیاره د سړي څخه صادریږی. نو په ټوخ یا نري که څه هم حروف پیدا سی لمونځ نه په فاسدیږی لانه ورد: لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا»، فکذا الثلثة المذکورة»

فرع: که امام قراءت مصلی ته خوند ورکړي. او د ده لبعض استفهامو یه جواب کی نعم ووائی. او د بعض په جواب کی بلی ووئیله لمونځ نه یې فاسدیږي. **فرعه** که شیطان په لمانځه کښی سړي ته وسوسه ورواچول نو ده. لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ، وو ئیله که د اخرت د کار د پاره وه لمونځ نه په فاسدیږی. او که د دنیائی کار د پاره وه لمونځ په فاسدیږی. **فرعه**: که سړي په لمانځه کی لرم وخوړي ده وو یل بِسْمِ اللّٰهِ لمونځ نه په فاسدیږي. وعلیه الفتوی، ط، کذا فی المضمرات والنهر: قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَتَشْمِيْتُ عَاطِسٍ بِيَرْحَمُكَ اللّٰهُ

او دا غه رنګه لمونځ فاسده وی جواب ورکول او دعاء کول

ویوسرې ته چې ونږې په لفظ دَ يَرْحَمُكَ اللهُ" خدای دې پر تا باندې رحم وکړي.

۱ اولًا واوره که څوک ونږې خارج تر لمانځه باید ی ووائې یعنی مستحب ده چې وائې به الْحَمْدُ لِلّٰهِ"، وجه د حمد ویلو داده چې په نږی سره دماغ ته استراحت رسیږی. او چې د الحمد لله وویل بر سامع لازم ده چې دعا دَ يَرْحَمُكَ الله جواب به ورته کوی که خارج الصلوٰة وو.

۲ ثانيًا که سړي په لمانځه کی ونږل او خپل ځان ته دَ يَرْحَمُكَ اللهُ جواب ورکړی نو په فاسدیږی ولی داګویا ده داسی دعا وکړه ځان ته يَرْحَمُنِيَ اللهُ: او په دی دعاء اتفاقًا لمونځ نه فاسدیږی ظ، ط، ۳ ثالثًا که بل چا ونږل او لمونځ کوونکی دعاء دَ يَرْحَمُكَ اللهُ ورته وکړه. دغه مسئله دَمتن ده لمونځ په فاسیږي. ۴ ورابعًا که سړي په لمانځه کی ونږل، او وي ویل الْحَمْدُ لِلّٰهِ لمونځ نه په فاسدیږي ۵ خامسًا: که بل چا ونږل او لمونځ کوونکی ووَیل الحمد لله او مقصود یه صرف ثواب وُو لمونځ یه نه فاسدیږی اتفاقًا. او که مقصود تعلیم او ښوونه وه وعاطس ته یعنی چې ته الْحَمْدُ لِلّٰهِ ووایه لمونځ به اتفاقًا فاسدیږی او که مقصود جواب دعاطس وُو. لمونځ به نه فاسدیږی. ولی چې الْحَمْدُ لله په عرف کی جواب دعاطِس نه دی. بلکه کلمه د ثواب ده"

اوبعض فقهاءُ وائی چې لمونځ به فاسدیږی چې اعتبار د ده نیت لره دی د ده نیت خوجواب دعاطِس دی. ۶ سادسًا چې لفظ دتشمیت په شین او سین دواړو سره مستعمل دی لکن شین به افصح دی، ۷ سابعًا چې فساد دلمانځه په تشمیت سره مذهب دامام اعظم ابوحنیفهؒ او دامام محمدؒ دی. او امام ابویوسفؒ وائی چې لمونځ نه فاسدیږی ولی چې دا دعاء ده مغفرت او رحمت ده ورور مسلمان ته، او دلیل دقول دطرفینؒ هغه حدیث دی چې معاویهؓ بن الحکم په روایت کړی دی: چې یوسړي په لمانځه کی وبل عاطس ته يَرْحَمُكَ اللهُ ووئیله. نوآنحضرت صلی الله علیه وسلم: وهغه ته داسی وویله: اِنَّ صَلٰوتَنَا لا یَصلح فیها شئ من کَلام الناس"، په تحقیق زموږ یعنی دمسلمانانو لمونځ صالح دهیڅ شی دخلکو دخبرو نه دی:

اَللّٰهُمَّ اغفِر لمُؤلفه وَلکاتبهٖ اٰمین

قال المصنفؒ
وَجَوَابُ مُسْتَفْهِمٍ عَنْ نِدٍّ بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ

او دغه رنګ لمونځ فاسدوی جواب ورکول ویوه چاته چې هغه د مصلی څخه پوښتنه وکړي هَل لِلّٰهِ نِدًّا آیا خدای لره مثل یعنی شریک شته. په دغه کلمه دَ توحید چې جواب ورکړي نو لمونځ د ده فاسد سو خلافًا لابی یوسفؒ: ابویوسفؒ وائی چې لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ" کلمه توحید او ثناء ده نو سړي په قصد سره تغیر نه خوري. او طرفینؒ وائی چې داخو جواب دی نو متکلم په منافی بولل کیږي

قال المصنفؒ
وَخَبَرِ سُوْءٍ بِالْاِسْتِرْجَاعِ

او دغه رنګه لمونځ فاسدوي جواب د غم د خبر. لکه چې یوسړي و لمونځ کوونکی ته ووائی چې مثلًا زوی دی مړاو یا مو ترچیه سوو غیر ذالک. لمونځ کوونکی په لمانځه کی جواب ورکړي په دی کلما تو: اِنَّا لِلّٰهِ وَاِنَّا اِلَيْهِ رَاجِعُوْنَ: قَالَ الْمُصنفؒ:

وَسَارٍّ بِالْحَمْدُ لِلّٰهِ

او جواب ورکول وخبر ورکوونکی ته د ښه خبر لکه یوسړي چې په لمانځه ولاړوی بل سړي ورته ووائی چې زیری می در باندی زوی دی پید اسو. یا مسافر د سفره څخه په خیر راوړ سیدی وامثال ذالک. دی په جواب کی ورته ووائی الْحَمْدُ لله" نو لمونځ به فاسد سو: قَالَ الْمُصنفؒ:

وَعَجَبٍ بِلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ اَوْ سُبْحَانَ اللهِ

او دا غه رنګه لمونځ فاسده وی جواب ورکول ویوچا ته چې هغه یوه تعجب آوره خبره ورته وکړی مثلًا ورته ووائی چې فلسطینا نو وه اسرائیلو ته ماته ورکړه او بیت المقدس په څندی ونیوی دی په جواب کی ورته ووائی لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ یا سُبْحَانَ اللهِ **پوه سه**: چې دغه مثال دخبری سره کیدای سی اعتباری فرق به دی. قالَ الْمُصنفؒ

وَكُلِّ شَيْءٍ قُصِدَ بِهِ الْجَوَابُ كَيَا يَحْيٰى خُذِ الْكِتَابَ

او دغه رنګ لمونځ فاسدوی هر هغه شئ چې قصد کړه سی په هغه سره جواب دیوچا مثلًا یوسړي وو چې

Maktaba Tul Ishaat.com

نوم یې یحیٰ وو دلمونځ کوونکی څخه سوال وکړی چې دغه کتاب راکړه نولمونځ کوونکی ورته وویل یا یحیٰ خذ الکتاب. یعنی ای یحیٰ کتاب در واخله.

قالَ المصنفُ فی مَراقی. اولمونځ فاسده وي هرایت دقرآن څخه چې مقصود په هغه سره جواب ورکول دچاوي. مثلاً یوچا په لمانځه ولاړسړي ته وویله. چې دلره راوړم. ده ورته وویل اٰتِنَا غَدَائَنَا» اویاد لمونځ کوونکی څخه پوښتنه وکړه د بعض گنهو په باره کی. ده ورته وویل. وَتِلْكَ حُدُوْدُ اللهِ فَلَا تَقْرَبُوْهَا اوکه چیری مقصود د لمونځ کوونکی جواب نه وُو بلکه هغه بل سړي په دی خبراوه چې په لمانځه کی یم نوبیه لمونځ اتفاقًا نه دی فاسِد.

پُوښتنه: چې مصنفُ ایت دقرآن ذکرکړي تاچې حکم دَغیر دقرآن په طریقه اولا معلوم سي. مثلاً مُؤذن شهادتَین په آذان کی وَوَئیلی بَل سَړي چې په لمانځه ولاړ وو اجابةً هغه شهادتین وَوَئیلی لمونځ یې فاسِد سُو. اویا سَړي په لمانځه کی لفظ د اَللّٰه دچاڅخه واورېدی. ده وویل جَلَّ جَلَالُهٗ لمونځ یې فاسِدسُو. اویا یې نوم د علیه الصلوٰة وَالسلام واورېدی. ده په لمانځه کی درود ووایه لمونځ یې فاسدسُو. اویا یوسَړي خارج الصلوٰة قرآن شریف ووایه لمونځ کوونکی ورته وویل ،،صدق اللّٰہ العظیم، لمونځ یې فاسِدسُو. اویا لمونځ گذاره دشیطان نوم دچا څخه واورېدی. نوده ووئیله لعنة الله عَلیه لمونځ یې فاسِدسُو. اویاامام تکبیرونه کراره وَیل یو بل سَړي ورته غږ کړه چې داتکبیرونه په زوره وایه. اوامام هم داغسی وکړه. دامام لمونځ فاسِد سُوه

پُوښتنه: په حَدیث شریف کی راغلی دی یو وخت عَبدُ الله بن مسعودرضی د آنحضرت صلی الله علیه وَسَلم څخه اجازه د دخول وَغوښته او علیه الصلوٰة وَالسلام په لمانځه ولاړ وو نو علیه الصلوٰة وَالسلام دابن مسعودرضی په جواب کی داسی وَوَئیله اُدْخُلُوْهَا بِسَلَامٍ اٰمِنِیْنَ» اوسره ددی چې لمونځ فاسِد نه سُو. **وَاجَاب** عنه الامام السرخسیُّ وتبعَه شراح الهدَایة: چې دااتفاقًا داسی پیښه سوه چې اذن غوښتل دابن مسعودرضی په داسی وخت کی وَسَوه چې د آنحضرت صَلی الله عَلیه وَسَلم

۹۰

قراٰت د لمانځه هم دغه ایت ته رسیدلی وو یعنی اُدْخُلُوْهَا بِسَلَامٍ اٰمِنِیْنَ» او دَ علیه الصلوٰة والسلام قصد د اجابت دابن مسعودرضی نه وو» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَرُؤْيَةُ الْمُتَيَمِّمِ مَآءً او د غه رنگه لمونځ فاسده وي لیدَل دَ تیمم والا اوبه لره. **پُوښتنه**: چې مراد هغه اوبه دي چې دی پرقادر او پر استعمال هم وي. اوبل دومره قدر وي چې د طهارت دپاره کافی دی.

فَائِدَه: که امام متیمم وو او هغه اوبه و لیدَلی ددهٔ لمونځ فاسِدسُو. او د مقتدی که څه هم متوضی وی تبعًا فاسِدسُو. اوکه مقتدی متوضی اوبه ولیدَلی. اوامام نه وي لیدَلی اوامام متیمم وو د مقتدی لمونځ خو فاسِد سو وَلی خوده په عَقیده دامام لمونځ په تیمم سَره دوجود داوبو نه دی رَوا. **فَائِدَه**: که متیمم په قدر د تشهدی کښېنستلی وو بیا یې اوبه ولیدَلی لمونځ نه فاسدیږي. ولی چې اوبه یې بعد تمام الصلوٰة ولیدَلی. لکن دامذهب دیاراننو. او په نیزد امام اعظمُ یې لمونځ فاسدیږي. یاران وائی چې رویة د متیمم داوبو که څه هم مفسد د لمانځه دی لکه حدث اوخبری. لکن دامفسِد خو په سله تمامه لمانځه پیدا سُو. ولی چې په دغه مصلی شئی دارکانو او فرائضونه دی پاته لما جَاءَ فی حدیث ابن مسعودؓ اذاقُلت هذا اوفعلتَ هذا فقد تمّت صَلوٰتك،، نو دَغه مصلی نوقعده وکړه:

دحضرت الامام الاعظمُ دمذهب په بیان کی امام بَرد عیٌ وائي. چې خروج دمصلی دده په فعل سره د لمانځه څخه هغه هم فرض دی د امامُ په نیزاو پردی سړي هغه پاته دئی. اوعام احنا فوه دامام برد عیٌ دَقول په ملاتړکړی دی کما فی العنایه. اوابوالحسن الکرخیٌ وائی چې سَبب د فساد دلمانځه ددغه مُتیمم چې په قدرد تشهدی کښېنستلی هم دَی. په نیزدامام الاعظمُ داده چې دَغه رویت داوبو خومغیر دَ لمانځه دی لکه نیت داقامَت دمُسافر. نو په دی کی اَوَل د لمانځه او اخیرد لمانځه برابر دی یعنی که دغه مُتیمم په اول کی د لمانځه اوبه ووینی خو لمونځ یې فاسِد دی نو په اخیرد لمانځه چې ووینی هم یې لمونځ فاسد دَی. او امام کرخیٌ زیاته کړیده

چې خروج د لمانځه په صُنع دمصلي فرض نه دی په اتفاق دیارانو اود امام اعظمؒ، صرف امام بردعیؒ د دغه اختلاف مسائلو څخه دا فهمولې ده چې خروج په صنعه دمصلي دامام اعظمؒ په نیز فرض دئ. قال وهو غلط منه» امام طحطاویؒ وائې: چې مجتبیٰ والاوائي چې محققان داحنافو مذهب دکرخيؒ مختاره کړي دی او په معراج کې چې نسبت یې وامام حلوانيؒ ته کړیدی کې وائي وَالصحیح مَا قاله الکرخیؒ» وفی التاسیس مَا قاله ابوالحسن الکرخیؒ اَحْسَنُ»
د رد یش وائي چې ظاهر هم مذهب دکرخيؒ دی. ولې نفس خروج په صُنعه خو قربت نه دی نو چې دامام اعظمؒ فرض بو للای. نو سلام چې قربت اوذکر دی هغه بې فرض گنړلی وای. وَاللهُ اَعْلم بِالصَّواب: قَالَ المصنفؒ

وَتَمَامُ مُدَّةِ الْمَاسِحِ اَیْ لِلْخُفِّ

اودغه رنگه لمونځ فاسده وي پوره والی دمدت دمَسح دموزو یعنې د لمونځ کوونکې په مَابین کې دَ لمانځه مده دمسح دموزی ختم سوه. یعنې یوشبانه روز دپاره دمقیم او درې ورځې دپاره دمسافرونو دده لمونځ فاسد سُو. ولې چې پښو ته یه حدث ورسیدی او د پښو پر یوله پرده فرض سوه. قَالَ المصنفؒ **وَنَزْعِهٖ** او یا موزه وه دَ لمانځه په مابین کې دَ پښې څخه وَخیژی که دده په صنعه سَره اوکه بې صنعې دَده لمونځ فاسده وي. **مسئله**: هغه عذر چې سړي ته یه تیمم ورواکړي وو لکه ناجوړی او یا بیره دد ښمن چې دَ څخه تېر سوی دی. په قدر د تشهدی زائل سې هم لمونځ فاسد سوم

اختتام مده د مسح که پوره سوه او او به وي خو لمونځ فاسد دی بالاتفاق قاله الزیلعيؒ. او که او به نه وی لمونځ یې نه دَی. ولې چې پښو لره خو په تیمم کې برخه نسته، نه، ط، او بعض فقهاءؒ وائي چې لمونځ یې فاسدیږی ولې چې حدث سَابق و پښو ته اغلی، نو بَل تیمم دی وکړي. ن، س، ط» **پوښتنه** چې هلته لمونځ فاسدیږي چې په قدر د تشهدی نه وي کښیناستلی او که کښیناستلی وو نو دا مسئله یې اختلاف ده بین الامام الاعظمؒ وصاحبیه: کما مر من قبل قریبًا» قَالَ المُصنفؒ:

اَللّٰهُمَّ اغفر لمؤلفه و لکاتبه آمین

وَتَعَلُّمُ الْاُمِّیِّ اٰیَةً

اودا غه رنگه لمونځ فاسده وي چې زده سی دَامی یوآیت «تحقیق دلفظ دامی» دالفظ منسوب دی وامة العرب ته چې په پخوا زمانه کې دوی دعلم اوکتابت څخه بیخی خالی وه. دی سړي ته په دی وائي چې هغه حال چې اُم (مور) زیږولی وو پاته دی»
پوښتنه: چې دامی څخه عرفي امی نه دی مَراد. ولې چې په عرف عام کې امی هغه دی چې عالِم نه وی کې څه هم. الحمد لله وقُلْ هُوَ اللهُ آه اونور سورتونه هم یادوي. بلکه مراد امی فقهی دی چې هغه سړي دی چې یو آیت دقرآن شریف یې هم نه وي یاد» مصنفؒ په مَراقي کې وائي. ولم یکن مقتدیًا بقاءِ. او دی امی اقتداء په قاري پسې نه وی کړي. ط وائي چې امی چې مقتدی په قاري پسې وی او یو آیت ور یاد سی عام فقهاءؒ پر دی مذهب دي چې لمونځ یې باطِل سُو. او په فتاوای ظهیریه کې وَائي چې لمونځ یې نه فاسدیږي. وبه قال الفقیه ابو اللیث السمرقنديؒ او د مصنفؒ دا قید بناء پر قول د ظهیریه دی. ولې که دا امی که قرات فرض کړي خو هم دی ممنوع دی د قرائت څخه خلف الامام. نو تذکر او نه تذکر وه ته برابر دی» م، ط، د،ر»
پوښتنه: هغه څخه کې اختلاف دامام اعظمؒ او د صاحبینوؒ لپاره هم جاري دی **فائده** تعلم د امی یو آیت لره دوه قسمه دی. یو دا چې یو آیت مثلاً خو یې په یادوي. لکن یا څَندی هیر سوی وي. او په اوسنی لمانځه کې ور پیاد سي. دوهم دا چې په لمانځه کې بَل ور بښئي دی او یاد وی دا چونکه عمل کثیر دی په دغه عمل سَره دده لمونځ فاسد سُو. قَالَ المُصنفؒ

وَوِجْدَانُ الْعَارِیِّ سَاتِرًا

اودا غه رنگه لمونځ فاسده وي پید اکول د داسی جامی چې لمونځ کوونکی د سببه څخه د نه وُجود دساتر العورة لمونځ په لڅه کوی. او س یه په لمانځه کې جامه پیدا کړه. یعنی یوچا ورته ورکړه لمونځ یه فاسد سو. ولې چې عذر دَ لڅ لمانځه دجواز وو هغه یه قطعه سُو:
پوښتنه چې دا فساد هلته لازمیږی چې دی مالِک د دغسی جامی سی یعنې څوك یه ور وبخښی. او یا دلمانځه کولو په هغې جامی کې اجازه ور کړه. نو که دا جامه نجس الکل وه بیا یه لمونځ نه فاسدیږی. ولې په نجس الکل کې خو پړده لمونځ نه دی لازم بلکه سره د وجوده دَ

Maktaba Tul Ishaat.com

نجس الکل جامی په ابتداء کی هم دَه ته لمونځ په لخر روا وُو. اوکی ربعه دجامی پاکړو یا بالا ترهغه اونوړ سبب وه خواپه نیز دده اوبه وی چی نجاست په پریوی یا نه وي. خولمونځ به فاسِدسو. ولی که ابتداءً دعنی جامه چی خلرمه یا بالایه پاکړو موجوده وی دده لمونځ په لخه ناجائزدی، نواوس انتهاءًا یه هم لمونځ باطِل دی. اوکه طاهرالکل وی هغه خو په طریق الاولیٰ لمونځ فاسده وي. وَلاتنس الاختلاف بین الامام وصاحبیهٗ فی هذه الصورة ایضًا،، ط، مرد، قَالَ المُصنفُ

وَقُدرَةُ المُومِی عَلَی الرُّکُوعِ وَالسُّجُودِ

اودغه رنگه لمونځ فاسده وي چی لمونځ کوونکی چی په سبب دَیومرض اوعذر یه لمونځ په اشاره کاوه اوس یه قدرت پیداکړي پر رکوع اوسجده یعنی هغه مَرَض یه جوړسو. اوعذر یه زائِل سو. ولی چی بناء دقوی لمانځه چی سجده اورکوع په کښی وی پرضعیف لمانځه چی په اشاره دی نه دی رَوَا. م، قَالَ المُصنفُ:

وَتَذَکُّرُفَائِتَةٍ لِذِی تَرتِیبٍ

اودغه رنگه لمونځ فاسده وی یادیده په لمانځه کی دقضائی لمونځ هغه چاته چی خاوند دترتیب وي. یعنی چی قضائی لمونځونه به لزومًا تروختی لمانځه دمخه کوي.

پوښتنه که دسړي ځنی یویادوه لمونځونه ترپنځوپوري قضاسوي وی هغه سړي بخپلا قضائی لمونځونه تروختی لمانځه دمخه بی قضاء راوړي. اوکه قضائی لمونځونه شپږته وسیدله نوترتیب ساقِط دی کی دمخه اګرځوی اوکه وروسته،،

پوښتنه: چی دچاځنی شپږ لمونځونه قضاسوي وه اووقت دټولودر اګرځیدو نه وو. بلکه وخت تنگ وُو. نو یو لمونځ یه اوګرځاوه نوخو پنځه پاته سوه ایا په هغوکی ترتیب سته که څرنګه!

جَوابُ: ترتیب نسته لان الساقط.

مسئله که دسړي لمونځونه هیروه چی وختی لمونځ یه وکړي ور پیادسوه دَغه کړی لمونځ یه نه دی فاسِد. په سبب دعذر دهیری وروسته په بل لمانځه کی بی دَمخه راګرځوی. محکله مصنفؒ وویل وتذکرفائتة آه.

مسئله که دلمونځ کوونکی خوقضائی لمونځونه یادوه لکن دوقتی لمانځه وخت لږ پاته وُو. نووختی لمونځ یه نه دی فاسِد دعذر سببه

فائِدَه: که دسړي قضائی لمونځونه پیادوه اووخت هم فراخ وُو. لکن قضائی لمونځونه یه تروختی دمخه نه راوګرځول نوکه چیری دغه سړی قضائی لمونځونه ده پنځم لمانځه دوخت تروتلو دمخه راوګرځول حکم یه دادی چی هغه ټوله پنځه لمانځه چی کړیوه ټول نفل سوه. اوپرده بانندی دګردوقضاء لازم دَه. اوکه چیری دپنځم لمانځه وخت تیرسوده راوګرځول ټوله لمونځونه یه صحیح سوه. ولی چی قضائی شپږ سوه اوترتیب ساقط سُوم، ط،

فائِدَه زمونږ د زمانی عوام چی بعدالبلوغ دده ځنی په جاهلی کی ډیر لمونځونه قضاسوی وی دهغه دپاره چی اوس قضا یه راوړي ترتیب نسته.

پوښتنه:

که سړي دا قدر پوهیدی چی ماخو ډیر لمونځونه په ځوانی کی مثلًا قضاء کړي دي. لکن حساب یه نه وو ورته معلوم نودی به دَځولمونځوقضاء راوړي

جَوابـ ترهغوپوري دی قضائی لمونځونه راګرځوی چی دده ظن غالب داکیږی چی قضائی لمونځونه خلاص سوه، در، قَالَ المُصنفُ:

وَاِستِخلَافُ مَن لَا یَصلِحُ اِمَامًا

اوداغه رنگه لمونځ فاسده وی خلیفه ګرځول دهغه چاچی صالح دامامت نه وی لکه امی یامعذوره سړي. یعنی امام قَارِي وولکن ده ته په مابین کی د لمانځه اودسیاوَ، پلیښه سوه. نو یه خلیفه د لمانځه دپاره امی یا معذوره مقتدی ودراوه نوهم دامام اوهم دمقتدیا نولمونځ فاسِدسو. لکن داخبره پیادلره چی فساد د لمانځه هلته لازمیږی چی امام قاری په اخیره ناسته کی پرقدر دتشهدی نه وي کښیناستلی. اوکه اخیره ناسته کړي وه صرف سلام یا درود وغیره ورته پاتره اودس یه مات سُو نوده لمونځ پوره دی اواستخلاف ته ضرورت هم نسته. کذا قَالَ الفقیه ابوجعفرالطحاویؒ. فخرالاسلام علی البزدویؒ او ددوی دهوی داجماع هم کړي ده،، اوصاحب الکافی وائی چی دَغه مذهب صحیح دَی. اوبه

فتح القدیر کی وائی وهو المختار او نهر فایق والاوائی چی وجه د عدم الفساد دا ده چی خلیفه نه وال
فی نفسه ۶ نکتیر دی په ما بین کی د لمانځه چی مونږ اجازه د دی عمل ورکوله د جهت څخه
د ضرورت چی لمونځ ډیر پاتی وو. نو اوس چی اخیره ناسته امام کړي وی نو خلیفه گرځول
ده ته د نا اهله سړي څخه ضرورت سته. او کی اهل د امامت خلیفه کړي هغه یه صرف د سلام
گرځولو وظیفه ادا کړي «لانه حینئذ لا یبقی غیره» حاصل ط» قال المصنف رح:

وَطُلُوعُ الشَّمْسِ فِي الْفَجْرِ

او راختل د لمر د سحار په لمانځه کی د سحار لمونځ فاسده وي. په دلیل د دی چی د مخه تر
طلوع الشمس وخت کامل او ورو سته تر طلوع الشمس وخت ناقص دی. ولی چی اَدغه
وخت کی لمر پرستان ولمر ته سجدی کوی. نو د دغه سحار لمونځ خو کامل لازم سوی وو. نو
ناقصه اداء یه نه ده صحیح «ح، م»

پوه سه: چی مراد د طلوع الشمس څخه دا نه ده چی د لمر ټیکی به وینی بلکه چی رڼا د لمر
،ض یا بناء عالی، نو وای ټیکی د لمر بی هم معلومیدای. نو په داسی حال کی هم لمونځ فاسد
دی، د بعض عوامو گمان دادی چی څه وخت چی ټیکی د لمر پر غره راپورته سی نو د سحار لمونځ
نه دی روا. قال المصنف رح.

وَزَوَالِ الشَّمْسِ فِي الْعِيدَيْنِ

او د غه رنگه لمونځ فاسده وي چی لمر زوال وکړي د اخترو په لمونځو کی. یعنی خلک پر
لمانځه د یوه اختر یا بل اختر ولاړه وه چی لمر زوال وکړي لمونځونه یه فاسد سوه. ولی
چی وخت د لختر د لمانځه تیر سو، «لا قضاء له» قال المصنف رح:

وَدُخُولُ وَقْتِ الْعَصْرِ فِي الْجُمُعَةِ

او د غه رنگه لمونځ فاسده وي داخلیده د ماز دیگر وخت د جمعی
په لمانځه کی یعنی خلک د جمعی پر لمانځه ولاړه وه چی د ماز دیگر وخت داخل سو نو د جمعی لمونځ
یه فاسد سو ولی، چی شرط د جمعی د لمانځه د ماپښین د لمانځه وخت دی. نو د جمعی وخت تیر سوا
پوه سه: چی وخت د ماپښین چی سایه د شئی په مثل د هغه شئی وگرځی د ده وخت تیر

په نیز د یا رانو او د په نیز د امام اعظم رح چی سایه د شی دوه مثله د هغه وگرځی نو د ماپښین وخت
پای ته ورسیدی. نو د جمعی په لمانځه کی چی سایه ومثل ثانی ته داخله سوه د جمعی
لمونځ فاسد سو. په نیز د یا رانو. او چی مثل ثانی پای ته ورسیدی نو د جمعی لمونځ
فاسد سو په نیز د امام اعظم رح. «لکل عالم هفوة» په مجمع الانهر کی په نقل د فتاوای
سراجیه داسی وائی. چی قید د جمعی اتفاقی دی. ولی چی، د ماپښین د لمانځه حکم هم داغسی
دی انتهی، «ولا یخفی انه خلاف الفقه» ولی چی په فقه شریف کښی وائی چی په دخول
د وقت العصر د ماپښین نه فاسدیږی. ط»

تنبیه: د پښتون آباد په بعض جامع مسجدو کښی د جمعی لمونځ داسی وخت کوی چی وخت
د ماپښین پر مذهب د یا رانو خو یقینًا وتلی وی بلکه داسی جامعگانی هم سته
چی جمعی لمونځ داسی وخت کوی چی د حضرت الامام الاعظم رح په نیز هم د ماپښین وخت تیر
سوی وي. د د بې سببه څه دی! لعض ملایان د غرمی د خوب ډیر شوقیان وی نو بیده
سی او خوب چی یه سر سي نو د جمعی ولمانځه ته راووزي. او بعض ملایان بیا تر لمانځه
د مخه د رښتیا او دروا غو اوږدی اوږدی قصی کوی او خلک زړه وی چی د ده جاه په
بالاسی. نو په دی قصو کی د ماپښین وخت تیر سی بیا نو د جمعی لمونځ کوي. معصیت
د خالق په یاد پاره د خوب او یاد یاره د جاه وجلال پر غاړه واخستی.

چو بینم دین احمد در غریبی :: دلم سوزان ز چشمم خون جاری:
د عبید ویل به هلته پکار د رسی :: چی یوه دیوال ته مخ ویل ته شاسی.
غرض نقشیست کز ما یاد ماند :: که هستی را نمی بینم بقائی: مگر صاحبدلی روزی ز رحمت :: کند در حق این مسکین دعائی
مرفت العمر فی لهو ولعب :: فاها ثم آها ثم آها:
احب الصالحین ولست منهم :: لعل الله یرزقنی صلاحا:
آئے تھے ہم مثل بلبل سیر گلشن کر چلے :: دیکھ مالی باغ اپنا ہم تو اپنا گھر چلے:

د محمد فضل الحق حقانی اعزه الباری په قلم تکمیل شویدی.

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ المصنفؒ **وَسُقُوطُ الْجَبِيْرَةِ عَنْ بُرْءٍ** اودغه رنګه لمونځ فاسده وي لويدل د سکندي يا پټکي دجوړيدو وسره

يعني يو سړي پر يو ځاى په سبب د عذر د ټپ او يا ما توالى او يا د هډ ختلو د کبله پټى تړلي وه. او مسح يې پر کوله. بيا لمانځه کې هغه پټى جلا سوه لکن لاندي عذر يې جوړ وو لمونځ يې فاسد دى. ولى حدث سابق بيا په دغه ځاى ښکاره سُو. او که لاندي ټپ وغيره هنوز لا جوړ نه وو لمونځ يې نه دى فاسد، قَالَ المصنفؒ

وَزَوَالُ عُذْرِ الْمَعْذُوْرِ اودغه رنګه لمونځ فاسده وي چې زايل بي عذر د معذور سړي. چې په ناقض داودا سه معذور وي لکه سلس البول، انفلات الريح، رعاف ممتد وغيره يعني سړي په يو عذر معذور وو هغه عذر يې په لمانځه کې زايل سُو نو لمونځ يې فاسد دى **پُوهسَه**: چې زوال د عذر په دې معلوميږي چې يوه لمانځه کامل وقت بيله دغه عذره پر تير سي.

درى مَسْئَلَى صُورَت دا دى چې يو معذور شوک چې دمخه ذکر سو په عذر و مبتلا وو. او يا مستحاضه ښځه وه چې اودس يې دما پښين په تازه کاوه عذر يې جاري وو چې لمونځ يې شروع کړي عذر يې جاري وو بيا د مخه تر قعود په مقدار د التحيات عذر يې قطع سو، او تر ماښام لويدو پوري عذر قطع وو او د ماز ديګر وخت کامل بې عذره پر تير سُو. هغه د ماپښين لمونځ يې فاسد دى بيرته بې راګرځوي. وانما قلنا بياد مخه تر قعود آه ولى که په مقدار د التحيات کښينستلى او عذر يې وو او د مخه تر سلام قطع سو، د ماپښين لمونځ يې صحيح دى. ولى چې دى معذور دى،

فَائِدَه: که چيري يو معذور اودس تازه کاوه عذر يې قطع وو او بيا چې لمونځ کاوه عذر يې قطع وو تر اخيره د لمانځه. نو د غه لمانځه راګرځول پر ده نسته. کې څه هم پس له لمانځه څخه عذر بيرته راوګرځي. ط د ر، قَالَ المُصنفؒ:

وَالْحَدَثُ عَمَدًا اَوْ بِصُنْعِ غَيْرِهٖ اودغه رنګه لمونځ فاسده وي چې لمونځ کوونکى د په قصد اودس مات کړي مثلاً ګوز يا پسکى په قصد

واچوي. و انما قال عمدًا. ولى که بې قصده ګوز يا پسکى ځندى ولويږي لمونځ يې نه فاسديږي بلکه پر هغه لمانځه بناء کوي كما تقرر فى الفقه،

اودغه رنګه لمونځ فاسديږي که اودس ماتيده د بل خوا څخه پيښ سوه. مثلاً سړي پر لمانځه وو يو بل چا په ډبره وو ويشتى سر يې ورمات کړي. او يا سړي په لمانځه کې پر رکوع وو يو بل سړي پر سپور سوا و ده باد پرې سو. نو دى سړي لره هم بناء پر تير سوي لمانځه نده روا ولى چې د صحت د بناء شرط دا دى چې عذر به سماوي وي. قَالَ المُصنفؒ:

وَالْاِغْمَاءُ وَالْجُنُوْنُ وَالْجِنَابَةُ بِنَظَرٍ اَوْ اِحْتِلَامٍ اودغه رنګه لمونځ فاسده وي بيهوشي يعني پر سړي په لمانځه کې بيهوشي راغله. اودغه رنګه ليونتوب لمونځ فاسده وي يعني چې سړي په لمانځه کې ليونى سي. اودغه رنګه لمونځ فاسده وي جنابت چې د کتولو سبب ور پيښ سي. مثلاً دى پر لمانځه ولاړ وو يوه ښځه تيره سوه ده چې ورته وکتل اودس پر واوښت. او يا د خوب په حال شيطان بازي ور کړه، اودس پر واوښت لمونځ يې فاسد سُو وانما قال بنظر او احتلام، ولى که چيري ناحقى اودس پر واوښت لمونځ يې نه دى فاسد ولى چې دا عذر سماوي غسل دى وکړي او بيا پس تير سوي لمانځه دى بناء وکړي.

سَوَال: احتلام خو په وخت کې د خوب پيښيږي نو د دى سړي خو اودس په خوب مات سُو نو د احتلام وذکر ته څه ضرورت وو! **جَوَاب**: مصنفؒ په مراقى کښې وائى: نائم متمکن، حاصل د جواب دا دى چې د احتلام ذکر پر دى بناء دى. چې لمونځ کوونکى به لمانځه کې پر داسى حالت بيده سي چې په خوب يې اودس نه ماتيږي لکه په ناسته کې چې بيده سى او تکيه يې کړي وي. **پُوهسَه**: چې اغماء دا ده چې قوت عاقله يې پر ځاى وي لکن اعضاء محرکه يې کار پريښي دى. او جنون دا دى چې اعضاء محرکه يې فعاله وي. لکن قوة عاقله يې کما ينبغى کار نه کوي. په بعض کتابو کښې ما وليده چې يو سړي چې شراب يې چښلى وه کله چې نشه يې سر سوه بولو ونيوى. نو بولې کولى او د واړه لاسونه يې ورته نيولى وه او مخ ئې په بريولى او دا بې ويل. الحمد لله الذى جعل الماء طهورًا آه.

درویش وَائی چې فهم د مسئله د محاذات د نر او د ښځې په لانځه کې چې مفسد دَ نَر د لانځه ګرځي پاتې ډیر مشکل کار دی. نو د دی مسئلې د ښه فهم د پاره یو څو خبرو ته په طور د مقدمه ضرورت ستر. تفصیل د هغو خبرو دا دی.

۱ **سوال** څه سبب دی چې په محاذات سره یوائې د نر لمونځ فاسدیږی او د ښځې دانه فاسدیږی. **جواب** سبب دا دی چې نر ځیلو، سپارل سوی وظیفه پرېښوله قال علیه السلام مخاطبًا للرجال: «أَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللّٰهُ» ترجمه: تاسی نردوی یعنی ښځې وروسته کوی په لانځه کی په دی سبب چې دوی خدائ په خلقت کی وروسته کړي دي.

۲ په محاذات مفسد کی ماینه دَسرې، خور، مور، او نور محرما نسره برابر دی. او ځوان او ځړه هم برابر دی **۳** فساد د لانځه د نر معلول په عروض د شهوت نه دی. ولی که وای نو محرمی ښځې په محاذات به لمونځ نه وای فاسد سوی. بلکه اصل علت یه ترك د مقام مفروض دی د ښځو د پاره کما فی فتح القدیر کما مرانفا. نو چې شهوت یه علت نه دی نو هغه چې بعض علماء وائی چې په محاذات سره د بې ږیری ښائسته هلك هم لمونځ فاسدیږی نه روایتاً صحیح ده او نه درایتاً صحیح ده» لما مرانّ الفساد غیر معلول بعروض الشهوة »

۴ د مشتهات ښځې څخه مراد عام دی که مشتهات بالفعل وي او که په ځوانی وي. نو ډیره خړوبه سپین سری ښځه هم په کښی داخله سوه. **۵** او مشتهات بالفعل هغه ښځه یا جنلۍ ده چې د جماع قابله وي او سن ته اعتبار نسته. کذا قال الشارح: او په در مختار کی وائی چې مشتهات حالاً هغه جنلۍ ده چې د نو کالو وی مطلقًا که چاغه وی او که ډنګره. او د اوو کلو یاد اتو کلو وي. که چاغه شلنده وه. **۶** تبیین والا او مصنف هم په مراقی کی وائی چې محاذات کی محاذات د نر او ښځې محاذات د ښځلۍ او د پنډۍ شرط دی دا تحقیق او تخصیص اصلاً زیلعیّ شارح د کنز کړی دی. لکن په نهر کی وائی چې د دی تخصیص له کوم دلیل نسته بلکه صحیح تفسیر د محاذات هغه دی لکه چې مجتبی والا چې ذکر کړی دی حیث یقول وهو ان المرأة اذا قامت بجنب الرجل او قدامه من غیر حائل. او په در مختار

کی وائی چې معتبر محاذات په یوه اندام سره دی هر اندام چې وي. دلیل د دی تفسیر صحیح والی دا دی، چې د زیلعی یا مصنف په تفسیر که ښځه پرده کا نیچه ولاړه وی او نر کښته چې کانیچه د نر، قامت کښته وی. یعنی د نر او د ښځې په یو ځای برابری وي. باید لمونځ د نر فاسد نه سی. ولی چې محاذات د کعب او ساق خو نسته. او سره د دی چې ټول فقهاء وائی چې د نر لمونځ فاسدیږی. او مصنف وروسته په مراقی کی وائی چې په مذکوره صورت کی لمونځ فاسد دی. **۷** د امام محمدؒ مذهب دا دی چې په هر رکن کی سره محاذی سوه د هغه نر تمام لمونځ فاسد دی. او په فتاوای خانیه کښې وائی چې لږ محاذات او که محاذی پاته سی نو د نر لمونځ فاسد دی. او په محاذات لمونځ فاسده وي. او د دی مذهب نسبت یه و امام ابو یوسفؒ ته کړی دی لکن صحیح هغه ده چې مصنف په مراقی کی وائی چې د امام ابو یوسفؒ مذهب دا دی. چې په مقدار د یو رکن سره محاذی سی لمونځ د نر فاسد دی. **۸** چې اشتراك او محاذات د نر او ښځې په یو کامل لانځه کښې وی یعنی چې رکوع او سجده په کښې وي. نو که په لانځه کی د جنازی سره محاذی سوه د نر لمونځ نه فاسدیږی **۹** که د امام د ښځې د امامت نیت نه وو کړی نو د ښځې لمونځ فاسد دی د نر د اصحیح دی او که د امامت د نر او ښځو د واړو کړی وو، نو د نر دا فاسدیږی **۱۰** که ښځې جلا لمونځ کا وه یعنی نفل مثلاً او نر جلا لمونځ کا وه لکه فرض مثلاً او سره محاذی سول نو د نر لمونځ نه دی فاسد لعدم الاشتراك فی الصلوٰة. وهو شرط فی فساد الصلوٰة کما مر فی کتب الفقه».

او اشتراك دا دی چې مفترض په مفترض پسی اقتداء وکړي او یا متطوع په متطوع پسی یا متنفل په مفترض پسی. **۱۱** که سړي و ښځې ته اشاره وکړه چې تر شا سه او دې عمل په ونه کړی. نو د نر لمونځ صحیح دی او د ښځې دا فاسد دی. **۱۲** که د سړي او ښځې تر مابین دو مره فاصله وه چې یو نر لمونځ پکښی کولای سوای د نر لمونځ نه فاسدیږی. قاله الزیلعیؒ. وتبعه من جاء بعده من المتأخرین **۱۳** که د ښځې او نر تر مابین کی یو ګز اوږده او پنډه والی یه د ګوتی په اندازه ستره وه بیا د نر لمونځ نه دی فاسد او د استره په مابین کی د ښځو د نر به این دی. او یا په مابین د محل سجدی د دوی او یا هر ځای چې این دی په مابین کی د

Maktaba Tul Ishaat.com

ددوی دوو؛ پسله دی مقدمی اوس واوره عبارت د نورالایضاح او په قیدو کی فکر وکړه قَالَ

وَمُحَاذَاتُ الْمُشْتَهَاةِ هغی ښځی چې اشتهاء ورته کیدای سی یعنی یا اوس یا او دغه رنګه لمونځ فاسده وی برابروالی یعنی د نره سره د مخه لکه سپین سری زړه. په مراقی کی لفظ د رجل ویل سوی دئ. چې بالغ سړي ته وائی اشاره ودې ته ده چې د نابالغه هلک لمونځ په محاذات نه فاسدیږي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فِي صَلٰوةٍ مُطْلَقَةٍ په لمانځه کامل کښی چې رکوع او سجده لري. د صلٰوة په وئیلو سره دې ته اشاره ده چې د لیونی ښځی په محاذات سره د نر لمونځ نه فاسدیږي. ولی چې د لیونی کښته او پورته کیدلو ته په شرع کی صلٰوة نه وائی. **فَائِدَه**: که ښځی نیت د ما پښین د لمانځه وکړي په هغه نر پسی چې هغه د ماز دیګر لمونځ کاوه نو په مذهب د ښځی د غه لمونځ نفلًا صحیح دئ. نوکه په دغه لمانځه کی د نر سره محاذی سی لمونځ به فاسد دئ. **پوښتنه**: چې د مطلقه د قید سره د جنازی لمونځ ووت. فقهاء وائی علت یه دادی چې د جنازی لمونځ په اصل کی لمونځ نه دی بلکه مړي ته دعا ده"

سَوَالْ: چې لمونځ نه دی نو ولی اقتداء د نر په ښځه پسی د جنازی په لمانځه کی ناروا ده **جَوَابْ** د دی سببه چې د جنازی لمونځ د مطلق لمانځه سره مشابهت لري په تحریمه او سلام کی" کذا نقل عن العنایه" قَالَ الْمُصَنِّفُ:

مُشْتَرَكَةٍ تَحْرِيمَةً چې لمونځ د نر او ښځی به سره شریك وی نوکه ښځی یو لمونځ کاوه. او نر بل لمونځ کاوه او سره محاذی سوه د نر لمونځ نه فاسدیږی. بلکه مکروه دی. ط، د اشتراك هغه دری صورته وه چې ذکر سوه مصنف د اشتراك فی التحریمة په بیان کی وائی: با قتدائهما بامامٍ واحد او اقتدائها به"

تَنْبِيه: اشتراك ددوي په اداء کی د لمانځه په وخت کی د محاذات هم شرط دی په فساد کی د لمانځه د نر. حتی که نر او ښځه پر لمانځه په امام پسی بیله محاذات ولاړه وه لکن دواړه بی اودس سوه. نو چې اودس ته تله او یا د هغی خوا راتله سره محاذی سوه د نر

لمونځ نه فاسدیږی. ولی چې دا خوحال د اداء د لمانځه نه دی. او دغه رنګه که نر او ښځی څخه یو رکعت تیر سوی وو. نو چې امام سلام وګرځاوه دوی دواړه ولاړه سوه وقضاء ته د رکعت لکن په دغه وخت کی سره نږدې سوه. او محاذات شرطو برابر پیدا سو د نر لمونځ نه دی فاسد ولی چې مسبوق د قضاء په وخت کی منفرد دی نوکه څه هم دوی دواړه شریکان دی تحریمةً لکن اداءً نه دی سره شریکان"

مسئله د اِشتراك تحریمة

معنادا نده چې دوی به اول د لمانځه د امام نیولی وي. پر صحیح مذهب. بلکه که نر اول د لمانځه د امام نیولی وي او ښځه وروسته تر یوه رکعت کولو یا بالا تر هغه راغله او د نر سره محاذی سوه د نر لمونځ فاسد سو، نقله ط عن ب، عن س" قَالَ الْمُصَنِّفُ:

فِي مَكَانٍ مُتَّحِدٍ په یوه ځای کی، حتی که ښځه پر یو لوړ ځای ولاړه وه په داسی شان چې د دی هیڅ اندام د نره سره نه وو برابر د نر لمونځ نه فاسدیږی. او که مکان د لمانځه د دوی سره یو وو حکمًا لاحقیقتًا" هغه دا سی چې ښځه خو پر لوړ ځای ولاړه وه لکن تر قامت د نر کم یعنی چې لبعض اجزاء د نر د دی بعضو سره برابر وه. نو هم د نر لمونځ فاسد دئ"

پوښتنه: د. څه شي دا معلومیږی چې تاخیر د ښځی په لمانځه کی فرض دئ. **جَوَابْ** د هغه حدیث څخه چه ابن مسعودؓ یه موقوفًا روایت کړي" کما مرّ: أَخِّرُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَخَّرَهُنَّ اللّٰهُ: **سَوَال** دا خو خبر واحد دی نو فرضیت څنګه په ثابتیږي **جَوَابْ** دا حدیث بیان د مجمل الکتاب" وَلِلرِّجَالِ عَلَيْهِنَّ دَرَجَةٌ" نو په ده فرضیت ثابتیږي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

بِلَا حَائِلٍ وَنَوَى إِمَامَتَهَا د دی دوو قیدو معنا او فائده په مقدمه کښی ذکر سوله ځکه نو و تکرار ته یه ضرورت نسته"

دحج په موسم کی

پوهسه: چې حکم او مسئلی ته د محاذات په بلاد اسلامیه وو کی د تولی نړۍ چندان ضرورت نشته په استثناء د حکم د حرم مکی. ولی چې ښځې وهیڅ جماعت لما نځه ته نه راځي په سبب د منع شرعي. اَللّٰهُم الا العَجائِز یعنی سپین سری ښځې. او هغه هم په بعض لمونځو کی لکه د جمعې یا اخترو، او هغه هم په بېخي لږو جامعګانو کی. او په هغو جامع مسجدو کی چې سپین سری ورته راځي د ښځو دپاره علحده ځای ستشته. چې نر هغه ځای ته ورځي او نه ښځې که څه هم ډېرې وی د نرو ځای ته راځي. نو د محاذات مسئله نه پیدا کیږي البته که په بعض کورو کی نر او ښځې په یوه جماعت دریږي هلته امکان د محاذات شته لکن هغه هم سهل الدفع دی، ولی چې امام به و ښځو ته ووائي چې تر شا ودریږي. او په حرم کی د مدینې منورې هم مسئله د محاذات نه پیدا کیږي. ولی هلته د سعودی عسکر ښځې نه پریږي دی چې د نرو ځای ته ورسی. بلکه په مسجد نبوی کی د ښځو دپاره باقاعده ځای شته چې دوی ټولی په هغه ځای کی لمونځونه په جماعت د امام کوي.

مګر په حرم مکی کی دې مسئلی ته جدی ضرورت شته د دی سببه چې نر او ښځې په طواف اخته وی خونا ګهاه اقامت د لمانځه شروع سی. او په دغه وخت کی وتل د ښځو د مابین څخه د نرو ډېر مشکل کار دئ. نو اخر الامر نران او ښځې ګډوډ پر لمانځه په امام پسې اقتداء وکړي. کاهی تر نر د مخه ښځه ولاړه وی. او کاهې پر بغل بلا فاصله ښځه پر لمانځه ولاړه وی. نو بناءً علیٰ هذا د دی مسئلی و تفصیل ته ضرورت سته"

درویش والئ: چې تراوس سنی: ۲۲ ۱۴۲۲ھ دیرش، څلویښت کاله د مخه چې زائرین د بیت الله شریف ډېر لږ وه. خصوصًا ښځې چې هغه پر ډېر محصو عدد حج ته راتلې او هغو د پاره په حرم مکی کی لکه په حرم کی د مدینې منورې مخصوص ځای وو. نو هم محاذات شاذ او نادر پیښېدی دئ. او د هغه د دفع دپاره چې ملا یا نو نړ اثرانو، وه امام ته د حرم رجوع کړې وه چې د دی محاذات مفسد دفع وکړي هغه په جواب کی داسی ورته وویل

چې ز نیت د امامت د هغو ښځو کوم چې بخپل مخصوص کی ولاړې وی د مابین الصفوف د زانو نیت د امامت نه کوم، او د فساد د نرد لمانځه په محاذات د ښځې خو نیت د امامت د ښځو لازم دی کما مر. نو د دغو ښځو چې بین صفوف الرجال ولاړه وي لمونځونه به فاسد دي. او د نرانو لمونځ به روادی. لکن ډېر کلونه وروسته تردی سنی پوری د حجاجو شمېرو تکوته رسید لی. او د ښځو حاجیانو تعداد هم په لکوسو. او هغه مقام مخصوص هم مختل سو"

حتی چې په اوسنی زمانه کی به ډېر لږ خلګ او نران د محاذات څخه د ښځو خلاص وی، او د حرم مکی د امام هغه بخوانی خبره به هم اوس زما په عقیده نه وی پاته، ولی چې په زرو ښځې امام په وینی چې بین صفوف الرجال ولاړې دی. نو دی به څرنګه ددی دوره ښځو لمونځونه فاسده وي. سره ددی هغه مقام مخصوص ددوئ هم مختل النظام دی. نو په اوسنی حالت کی د پاره د خلاصون د نرو د لمونځو د فساد څخه بل چاره نشته چې د کم سړی سره چې ښځه محاذی سی. یعنی یا د مخه تر نرو ولاړه وی او یا بلا فاصل په و بغل تر ولاړه وی. نر دی و هغی ښځې ته اشاره وکړي چې تر شا سه. نو که هغی دده په اشاری عمل و نه کړي نو د دغی ښځې لمونځ فاسد دی. او د نر لمونځ صحیح دی کما مر قبل قریبًا

وَكَشْفُ عَوْرَةٍ مَنْ سَبَقَهُ الْحَدَثُ او د اغه رنګه لمونځ فاسده وي لڅوالی د عورت د هغه چا چې ور پیښه سی بی اودسیا که نروی او که ښځه. پوهسه: چې د نر او ښځې عوت ځایونه ورلاندی تیر سوه

وَلَوْ اُضْطُرَّ اِلَيْهِ كَكَشْفِ الْمَرْئَةِ ذِرَاعَهَا لِلْوُضُوْءِ که څه هم مجبور وی د غه محدث و لڅولو ته د عورت لکه چې لڅ کړي ښځه څپ او دسه سوی وی په لمانځه کی خپل بازو د پاره د اودا سه نو لمونځ ددی فاسد سو. پر تیر سوی لمانځه په بناء نه ده روا بلکه دسره بر لمونځ راګرځوي **پوهسه** چې دا حکم د ظاهر الروایت دی. او په فتاوی خانیه او تنویر او د هغه په شرح کی وائی که د غه بی اودسه و کشف العورت ته مجبور وو لکه په

Maktaba Tul Ishaat.com

مثال مذکور کی نو پس تیر لمانځه دی بناء وکړي. یعنې لمونځ به نه دی فاسد او که بې ضرورته
یې عورت لغړ کړی لمونځ یې فاسد شو. لکه دغه منځ چې بې اودسه سوی وه. نو په دی وخت کی
د اوداسه دپاره لاسونه تر اوږی پوری لغړ کړه. ولې چې ضرورت تر څنګلو پوری وو. قال

وَقِرَاءَتُهُ ذَاهِبًا أَوْ عَائِدًا لِلْوُضُوْءِ

او دا غه رنګه لمونځ فاسده وي قرائت دقرآن د هغه سړي چې په لمانځه کی بې اودسه سي. په داسی حال کی چې د اوداسه په خوا ځي. او یا د اوداسه څخه بیرته راستنیږي یعنې د پاره د پوره کولو د لمانځه «

پوښتنه: چې تسبیح یا تهلیل یا استغفار په دغو دوو حالو کی لمونځ نه فاسده وي. ولی چې دا شیان جزء د لمانځه نه دی بخلاف القرائة. ولې چې هغه جزء د لمانځه دی. نو دي سړي چې ذاهبًا یې قرائت وواییه یو جزء د لمانځه یې په بې اودسیا سره ادا کړی. او کې عائدًا قرائت وواییه نو د مخه تر شروع په لمانځه خارج یو جزء د لمانځه ادا کړي «ط، ب، در» قال

وَمَكْثُهُ قَدْرَ أَدَاءِ رُكْنٍ بَعْدَ سَبْقِ الْحَدَثِ مُسْتَيْقِظًا

او دا غه رنګه لمونځ فاسده وي چې درنګ وکړی د غه څومره چې بې اودسیا وپیښه سوه په قدر د یوه رکن د لمانځه پسله پیښېدو د بې اودسیا په داسی حال کی چې ویښ وي. لکن مصنف په مراقی کی وائي چې هلته به لمونځ فاسدیږي چې دا مکث دده بیله عذره وي او که په نږدې ازدحام دیر وو او ده ته وار نه ور رسیدی او په لیری اوبو ازدحام نه وو او نوبت نه ور رسیده دا عذر دی ورته روا ده چې هغه لیری اوبو ته ولاړ سي. «در» او که بر اوبو ازدحام وو، او یا ئی دپړی وینه نه دریده، او یا دی بیده وو، چې پړی وینی وکړی. او که نه په محکله تینګه وه ورووسته را بیدار شو. نو په دروسره صورتو کی لمونځ نه دی فاسد بلکه بناء دی پسله اوداسه پرتیر سوی لمانځه وکړي» قال المصنف:

وَمُجَاوَزَتُهُ مَاءً قَرِيْبًا لِغَيْرِهِ

او دغه رنګه لمونځ فاسده وي چې داغه بې اودسه سړی د نږدې اوبو څخه تیریږي

دپاره د اوداسه ولاړ چې دا تیریده دده بیله عذره دي. **مسئله:** که ولیږي اوبو ته لمونځ کوونکي په رکوع یا سجده کی پسکی واچول او یا بربنډه ویني سوه نو دی چې سر راپورته کوي نیت دی د اوداسه وکړي نه دی چې دا رکوع یا سجده پوره کړم. ولی که بیرته د اغسی نیت وکړي لمونځ به د غه سره فاسد شو. او که نه نیت د اوداسه وکی او نه نیت د اتمام د رکن وکړي لمونځ به فاسد دی لکن په یوه روایت «در»

مسئله: که دسړي په رکوع کی اودس مات شو چې راپورته کیدی سمع الله لمن حمده یې وو ییل لمونځ یې فاسد شو. ولی نفس سر راپورته کیده خو ضرور دی وه. د اوداسه دپاره لکن ده چې سمع الله لمن حمده وویله دا معلومه سوه چې دده قصد اتمام د رکن دی. «ط» فقد قال السید دغه سړي چې په رکوع یا سجده کی بې اودسه سوی وو چې اودس یې تازه کړي نو هغه رکوع یا سجده دی را وګرځوي. او که نه را وګرځول لمونځ یې فاسد شو په اتفاق. د امام محمدؒ په نیز په دی سبب چې پوره والی دیو رکن چې دلته رکوع یا سجده ده د هغه رکن څخه په انتقال سره کیږي. او دلته خوا انتقال د اوداسه د پاره دی د رکن د یوه کیدو د پاره نه دی. او په نیز د ابو یوسفؒ چې قومه او جلسه دده په نیز فرض ده نو د دي سړي څخه قومه د رکوع څخه. او یا جلسه پسله سجدی پاته سوه.

فائده: که څه هم سړي په لمانځه کی پسکی اچولی وي. لکن چه په اوداسه پسې ځي لاس دی بربنډه ونسي یعنې چې خلکو ته دا په خیال ور سی چې بربنډه یې وینی سوه. او پسکی چې عیب ګڼل کیدل پټه سی. د بعض حیلو د جواز دلیل هم دغه حیله ده، م، ط، در، قال المصنفؒ

وَخُرُوْجُهُ مِنَ الْمَسْجِدِ بِظَنِّ الْحَدَثِ وَمُجَاوَزَتِهِ الصُّفُوْفَ فِيْ غَيْرِهِ بِظَنِّهِ

او دا غه رنګه لمونځ فاسده وي وتل د لمونځ کوونکي د مسجد څخه په ګمان د بې اودسیا. او یا تیر صفونو تیریدل یعنې تردوه صفه بالا په غیر کی د مسجد یعنې چې جماعت په صحرا کښې وو بیا هم په ګمان د حدث، مثلًا په لمانځه کی د سړي تر پزي او بیه را غلی دده خیال داسو چې — دا وینې دي. نو په اوداسه پسې روان سو نو کی لمونځ په مسجد کی …

مسجد لانه ووتلی اوکی په صحرا کی جماعت کاوه، تر درو صفونو وو تیر سوی ورته
معلومه سوه چې هغه زما دیزی او به وی وینه نوه لمونځ یې نه دی فاسد. بلکه خپل لمونځ
دی پوره کړي اوکه تر مسجد ووتی یا تر درو صفو تیر سو لمونځ به فاسد سو: که څه هم هغه
گمان غلط ورته ثابت سی دسره دي لمونځ را اوگرځوی،،

مسائل شتّٰی

۱ بې اودسه سړي چې څاه ته ورغلی وده ته روا ده چې د څاه څخه په سولاغ او به را
وکاږی که څه هم ډیر وخت په کښی تیر سی. ۲ که د څاه سولاغ خیری وه او او به نه پکښی
راختلی او ده سره ستن او سپڼسی وو گنهل یې روادئ. ۳ اوکه څاه په خونه کی
وو دروازه یې خلاصولای سی. یعنی لمونځ یې نه فاسدیږی ۴ دا اودا سه سنن لکه
دخولی پریولو دري واره، د پزی دری واره دمخ دری واره د مخ، د لاسو، د پښو دری دری
واره ورته روادی على الاصح ۵ او دغه رنگه وسړي ته روا ده چې جامه خپله دغه
نجاست څخه پری مینځی لکه وینی ۶ او مرداری دځان لیری کول ورته روادی. ۷ په حکم
کی د مسجد دی د وتلو په صورت سرای او یا خونه او یا عیدگاه مسجد ۸ که دغه بی
اودسه د صفو پر خوا نه وتی. بلکه د مخ وخواته په اودا سه پسی روان سو. نو د امام تر برابر
تیریده معتبر دئ. ۹ اوکی یواځی لمونځ کاوه په صحرا کی نو کی ستره وه ستری ته اعتبار
دی اوکی ستره نه وه ځای ته د سجدی یه اعتبار دی د هر طرفه څخه
۱۰ که چا واقعی اودس مات سو. نو اودس یې تازه کړ او امام یه ده لا نه څخه نه وو فارغ
سوی دی هلته د اودا سه پر ځای پر لا نځه ودریدی لمونځ ئې فاسد دئ. ۱۱ کی امام د لا نځه
څخه فارغ سوی وو. نو دغه خوښه ده که هوری لمونځ کوی اوکه مسجد ته لام راځي واختلفوا
فی الافضل، ۱۲ که پر اقرب ځا سولاغ نه وه او پر ابعد وه نو دا عذر دی لیری ځای ته
روادی چې ولاړ سي. ۱۳ که دغه سړي چې بی اودسه سوی دی و بل سړي تی اشاره وکړه
چې ماته او به راکړه لمونځ یې فاسد سو. ۱۴ که د دغه سړي د جیب روپۍ را او کښی او او به خرڅ نکی

ته ئی ورکړی لمونځ فاسید سو. قال المصنف

اود غه رنگه لمونځ فا سد موی چې
وَانصِرَافُهُ ظَانًّا اَنَّهُ غَيْرُ مُتَوَضٍّ لمونځ کوونکی د ځای څخه د
لا نځه وګرځی په گمان د دې چې زه اودس نه لرم که څه هم وروسته ورته ښکاره
سی چې اودس لرم،،
اَوْاَنَّ مُدَّةَ مَسْحِهِ اِنْقَضَتْ اَوْاَنَّ عَلَيْهِ
او یا دی گمان وی چې مده د مسح د موزی زما تیره سوی ده. که څه وروسته ورښکاره سی چې نه ده
تیره سوې. او یا یې گمان د دې
فَائِتَةً اَوْاَنَّ عَلَيْهِ نَجَاسَةً وی چې پر ما باندی نجاست ته
که څه هم په دغو څلورو مسئلو کی د مسجد څخه
وَاِنْ لَمْ يَخْرُجْ مِنَ الْمَسْجِدِ نه وي وتلی. د دی څلورو مسئلو او د سبق
الحدث فرق دا دئ چې په دې مسئلو کی خو ده انصراف د پاره د ترک ده لا نځه دی نه
د پاره د اصلاح د لا نځه لکه په سبق الحدث کی. **پوهسه**: چې د سبق الحدث
څخه مراد دا دی چې په قصد سره ځان نه کی بی اودسه. نو کی په قصد ټوپکی واچول مثلًا
بیا بناء نه ده پر صحیح. بلکه سره څخه به لمونځ را اگرځوی. او په بعض عبارتو د کتابو چې دا سې
راغلی دی چې حدث سماوی وي. مراد دا دی چې په دغه حدث کی د بنده اختیار نه وی
کذافی البحر. نو د سبق او د سماوی ترجمه یوه ده،،
فائده: بناء پر د نځه لا نځه په صحابه ووکی مروی دئ. عن هٰؤلاء السادات رضي الله
تعالى عنهم ۱ عائشة رض و ۲ ابن عباس رض ۳ وابی بکر رض ۴ وعمر رض، ۵ وعلی رض، ۶ وابن مسعود رض
۷ وسلمان الفارسی رض ۸ وابن عمر رض، ومن التابعين: عن ۱ علقمة، و۲ طاؤس، و۳ سالم بن
عبد الله ۴ وسعيد بن جبير ۵ والشعبي، و۶ ابراهيم النخعي و۷ عطاء و۸ مكحول وسعيد بن
المسيب رضي الله تعالى عنهم اجمعين وكفى بهم قدوة، كذافى الفتح. ط **پوهسه**
چې امام شافعی د بناء قائل نه دی په هیڅ شی کښی د تیرو سوو مسئلو.

Maktaba Tul Ishaat.com

فائده مولوی محمد اعزاز علیؒ په ص۸۳ حاشیه ۲ کی داسی وائی چی په ټولو نسخو کی د نور الایضاح پسله دغه قوله: وَاِن لم یخرج آه داسی عبارت راغلی دی چی افضل استیناف دی یعنی چی لمونځ دی دسره څخه راوګرځوی. خروجًا من الخلاف تاچی دخلاف وو زې. دی وائی چی دا عبارت هیڅ حاصل او معنا نه لرې. ولی چی مصنفؒ خو یې ټولو مذکوره مسئلو کی حکم د فساد د لمانځه وکړې. نو چی لمونځ فاسد سي. راګرځول یې فرض دی نو د افضلیت څه معنا ده. دغه یا ته کرېده چی شاید دغه عبارت به د شارحؒ څخه واقع سوی وی نو ناسخینو سهوًا په نور الایضاح کی نوشته کړې دی انتهی.

در ولیش وائی چه دغه عبارت به د شارح لخوا څخه په مقتضی د کلام د مولانا المذکور صحیح نه دی. ولی چی د افضل معنا خو داده چی بناء پر تیرسوی لمانځه خو هم روا ده لکن ښه کار استیناف دی نو شارح خو هم حکم د فساد د لمانځه په دغو مسئلو کی منلی دی. نو استیناف خو فرض دی بناء روا نه ده، ولعل المولوی اعزاز علیؒ لم یرجع الی عبارة الطحطاویؒ، حیث قال تحت قوله والافضل الاستیناف آه. ای مطلقًا د مطلقًا معنا داده چی که لمونځ فاسد سوی وی او که نه وی. لکه په بعض مسائلو کی د سبق الحدث چی لمونځ نه په فاسیدی. نو معنا داده چی افضل دسره د لمانځه راګرځول دی که څه هم په لعض عوارضو کی فاسد نه وی. قال تحرزًا عن شبهة الخلاف ای د پاره د ساتنی د لمانځه د شبهة څخه د اختلاف د لعض امامانو ولی چی حضرت امام شافعیؒ بناء مطلقًا روا نه بولی.

لکن د افضلیت د استیناف په منفرد لمونځ کوونکی کی دی او که په جماعت کی دا عوارض بعض پیښ سوه چی لمونځ یې نه فاسده وه نو استیناف افضل نه دی بلکه بناء افضل ده تا چی د جماعت ثواب د لاسه ونه وزې. او که په صورت کی د استیناف یې بل جماعت پیدا کولای سوای نو هم استیناف افضل دی. قال فی السراج قال المصنفؒ فی المراقی وعملًا بالاجماع. یعنی چی عمل وکړه سی په امر مجمع علیه سره د ټولو ائمهؒ ولی چی لمونځ دسره راګرځوی هغه لمونځ خو په اتفاق روا دی. او که بناء پرې څخه لمانځه وکړی هغه خو عمل یوازې په قول د حنیفانو دی اذ قد عرفت ان الشافعیؒ لایجوز البناء، ولاریب ان العمل بالامر المجمع علیه اولی من العمل

بالامر المختلف فیه»

در ولیش وائی چی مذکوره عبارت چی پر دغه ډول لکه ط چی توضیح وکړه صحیح کیدای سوای نو ده ولی پر ټولو نسخو د نور الایضاح د غلط حکم کاوه. او دا دونه جرئت یې ولی کاوه او سره د دی چی د دغه عبارت خو بیله توضیح د ط خو په شرح کی هم نه وو صحیح: وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَاب» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَفَتْحُهُ عَلٰى غَيْرِ اِمَامِهٖ او د غه رنګه د لمونځ کوونکی لمونځ فاسده وي فتح د ده وغیر ته د امام د ده، زیلعیؒ وائی که دغه فتح وهغه چا ته ورکړی چی په لمانځه کی نه وي د غه سی قرآن شریف تلاوت کوی، او یا لمونځ یوازې کوی خطا وزی او لمونځ کوونکی فتح ورکوی. او فتحه د امام یا منفرد وهر چا ته چی وي د اهولو مفسد د لمانځه دي. مګر هغه وخت کی تلاوت د قرآن غرض وو. فتح یې نه وه غرض انتهی کذا قال مولنا مسکینؒ:

مسئله: فتح د مراهق لکه د بالغ ده کی غیر ته د امام ورکړه لمونځ یې فاسد دی.

مسئله: د امام لمونځ فاسده وی سره د مقتدی نو که امام اخسته فتح د هغه چا چی ده سره په لمانځه کی نه وُو. **مسئله**: که امام په قرائت کی بند سو او مقتدی د خارج الصلوة سړي څخه هغه ایت واوریدی او امام ته یې فتحه ورکړه (امام) هم اخسته یې وکړه ټولو لمونځ فاسید سُو: لانه تلقین من خارج وهو مفسد البتة» ط، ب، در.

فـائـده: فتحه وامام ته اګرچه د مقتدی د خوا تعلیم دی لکن دغه روا ده استحسانًا ولی په حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم په یوه لمانځه کی د سورة المؤمنین تلاوت کاوه. یوه کلمه څندی پاته سوه. چون نبی علیه الصلوة والسلام د لمانځه څخه فارغه سُو نو داسی وو ئیله اَلَمْ یَکُنْ فِیْکُمْ اُبَیٌّ[عه]» آیا په تاسو کی ابیؓ چی یو صحابی وو دانه وو!. قَالُوْا بَلٰی» خلکو وو ئیل چی ابیؓ خو حاضر وو» فَقَالَ لَهٗ هَلَّا فَتَحْتَ عَلَیَّ: نو علیه الصلوة والسلام وابیؓ ته وو ئیل چی ولی دی ماته فتحه نه کړه!. قَالَ ظَنَنْتُ اَنَّهَا نُسِخَتْ» ابیؓ ورته وو یل چی زما ګمان داوو چی هغه کلمه چی تا پریښوله دا به منسوخه

عه وهو سید القراء والحفاظ ۱۲ منه

سوی وي. فَقَال لَوْ نُسِخَت لَاَعْلَمْتُكُمْ» کہ دا کلمہ منسُوخہ سوی وای ما تاسی خبر ولاست

او د حضرت عَلِیؓ نہ روایت دی چې معنا یې دا ده چې ستا نه طلب د فتحې وکړي امام

نو فتح ورکړه. **پوهسه** چې مراد د طلب نه طلب قولي نه دیٔ بلکه طلب حالي دیٔ

یعني چې امام په یو ځای کې ودریږي، نو دا غه طلب د فتحې دی د مقتدیانو نه.

مسئله: مقتدي چې فتح ورکوي نیت د فتحې بې وي او نیت دَ تلاوة القرآن به

نه کوي. ولې چې مقتدي دَ تلاوت نه ممنوع دی او په فتح کې ور ته رخصت دیٔ

مسئله مقتدي دې تلوار په فتح کې نه کوي. ولې شاید امام ته به خپله ور یاد سي

نو فتح دده لپاره فائده ده. او دا تلوار کول مکروه دی ط» **مسئله** امام دې هم

مقتدیان و فتح ته نه مجبوروي. چې بېتهر خوله ودریږي. او یاد مخنی ایت مکرروي

دا د مکروهاتو نه دا امام ده. بلکه کې فرضي قدر قرئت وئیلی وُو نو دې یادِ رکوع ته

ولاړسي. او یادِ بل ایت ته نقل سي. **پوهسه**: پوښتنه! کہ امام قدر مفروض

قرئت وئیلی وو خو تر قرائت مستحب کم وُو. نو رکوع ته تګ یې ښه دی او کہ بل ایت ته

ته نقل ښه دی چې قدر مستحب پوره سي. **جواب** بعض فقهاء وائي چې رکوع

ته تګ یې ښه دی لکن ظاهر الروایت دا دی چې قدر مُستحب دې پوره کړي په انتقال سره

و بل ایت ته» قَالَ المُصنفؒ فی المَرَاقی لاصلاح صَلاتهما» یعنی کہ امام ساکت سی او یا

هغه د مخه ایت مکرر وي او خولک فتحه ورنه کړي نبایَد چې د ملا پر خوله داسی کلمه

ورنسي چې لمونځ یې په فاسد سي. نو د مقتدي لمونځ به هم فاسد سي. نو یا رکوع

کول او یا بل ایت ته نقل د دواړو فائده ده: قَالَ المصنفؒ

وَالتَّكْبِيْرُ بِنِيَّةٍ لِصَلٰوةٍ غَيْرِ صَلٰوتِهٖ

او د غه رنګه لمونځ فاسده وي چې لمونځ کوونکی.

اَللهُ اَكْبَرُ ووائي په دې نیت چې د موجوده لمانځه نه بل مغایر لمانځه کې داخلیږم»

د دې وجه د افساد دا ده چې دده نیت خو دا غه چې دا موجوده لمونځ دې پاتې وي بل

لمونځ کوم، نو دده د نیت پر موافق هغه موجوده لمونځ فاسد سُو، هغه ما نوی یې حاصل سُو

د مثال په ډول یو سړی یوازې لمونځ کاوه بیا یې اَللهُ اَكْبَرُ ووایه اقتداء په امام پسې

نیت وکړي. نو هغه انفرادي لمونځ یې فاسد سُو. او یا په امام پسې اقتداء کړی وه. نو بیا

یې الله اکبر ووایه د انفرادي لمونځ نیت یې وکړي نو هغه د امام سره لمونځ یې فاسد سُو.

او یا د ماپښین لمونځ یې کاوه چې وخت یې په خیال تېر وَ غلی نو د مازدیګر د لمانځه نیت

یې وکړي او اَللهُ اَكْبَرُ یې ووایه، او یا پر فرض لمانځه ولاړ وو الله اکبر یې ووایه دَ نفلی

لمانځه نیت یې وکړي او یا عکس دَ دَغه»

پوهسه: چې قید د تکبیر یې ددی د پاره ووایه کې په زړه کښې نیت وکړي. او تلفظ

یې په نیت نه وکړي لمونځ یې نه دی فاسد کذا فی المنح و غایة البیان ط» او د صلوٰة په

قید سره هغه یې خارج کړي چې په لمانځه کې تکبیر ووائي او نیت د روژې وکړي.

نو لمونځ یې نه دی فاسد. او د غیر صلوٰة فائده دا ده. چې سړی په لمانځه کې اَللهُ اَكْبَر

او نیت د عین اول لمانځه وکړي. او د غه رنګه لمونځ د امام فاسد یږی کې الله اکبر ووایه

او نیت د امامت د ښځو یې وکړي. و باقی التفصیل فی الطحطاوی»

مسئله کہ یو سړي د قضائي روژې نیت کړی وو، او بیا پس له شروع نه یې نیت بدل

کړي د نفلی روژې نیت یې وکړي. ضرر نه لري. قَالَ المُصنف فی متن نور الایضاح

اِذَا حَصَلَتْ هٰذِهِ الْمَذْكُوْرَاتُ قَبْلَ الْجُلُوْسِ الْاَخِيْرِ مِقْدَارَ التَّشَهُّدِ

لوځونه په مذکوره صورتو کښې هلته فاسدیږي چې دَ غه مذکوره مفسدات د مخه تر اخیري ناستی په

په قدر التحیات اه پیښ سی نو په داسی صُورت کې لمونځ باطل بالاتفاق دیٔ. دا قید او شرط

د هغه ځای نه شروع کیږي و رُؤیة المتیمم ماءًا آه او د مذکوراتو نه تول دَ هغه

ځای تر اخیر پوري مراد دی» مصنفؒ په مراقی کې وائي کہ چیري د غه مفسدات پسله قعود

په قدر د تشهد د مخه تر سلام پیښ سوله نو مختار دا ده چې لمونځ یې صحیح سُو. ولې خروج

د لمانځه نه په صنع د مُصلي پر صحیح مذهب واجب دی. او په ترک د واجب لمونځ نه

فاسدیږي. او بعض فقهاء وائي چې لمونځ یې فاسد دیٔ. ولې چې خروج په صنع د مصلي فرض ده په

Maktaba Tul Ishaat.com

نیز د امام اعظمؒ او هغه په مذکوره صورتو کی نسته. ځکه امام اعظمؒ په دی باره کی تصریح نه ده کړی. بلکه دا تخریج د امام برد عیؒ دی» **پوهسه**: چی د اخیری ناستی معنا دا ده چی په اخیر د لمانځه وی که څه هم د ځنه بله ناسته نه لري. لکه په دوه رکعت لمانځ کی **پوهسه**: چی خروج په صنع د لمونځ کوونکی په نیز د یارانو فرض نه دی. ولی که فرض وای نو بایدچی په ثواب کارد افرض پرځای کیدای او سره د دی چی فقهاءؒ وائی چی په حدث عمد سره هم د او ظیفه پرځای کیږی: قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَيُفْسِدُهَا اَيْضًا مَدُّ الْهَمْزَةِ فِي التَّكْبِيرِ او د غه رنګه لمونځ فاسده وی مد ور کول همزه ته د الله یا و همزه ته د اکبر» ط د ن ځکه نقل کړی دی که چیری مصلی همزه د الله په مد سره و وائی او یا د اکبر همزه په مد سره و وائی نو که په مابین کی د لمانځه وه لمونځ یې فاسد شو. او که په وخت کی د تحریمی په لمانځ کی نه داخلیږی، او بیره د کفر سته کی استفهام یعنی پوښتنه وه. په معراج کی وائی چی خوف د کفر من حیث الظاهر ده. ولی چی اصلی وضع د همزه د پاره د انکار ده. او کی استفهام تقریری غرض وُو لمونځ یې نه فاسدیږی» وتبعه صاحب العنایه، ط» او کی باء د اکبر ته مد ورکړی لمونځ یې نه فاسدیږی. وقیل تفسد وقال الحلبیؒ والظاهر ترجیح عدم الفساد»

مسئله: مد د هاء د لفظ د» اللهُ خطاء د عربیت ده او لمونځ نه په فاسدیږی»
مسئله مد اللام من لفظ الله سه کار دی چی تر اندازه بالا نه وی. وحدّه» دا دی چی دونه مبالغه دی په مد کی نه کوی چی په مابین کی د لام او هاء الف پیدا شی. او کی دغسی وکړه مکروه خو دی لکن لمونځ نه په فاسدیږی» س، ط، د، **مسئله**: که ژبه د لمونځ کوونکی په وخت کی د اداء و ربږدیدل. نو د را تکرار څندی پیدا شو نو کی دوه واره مکرره کړه لیعنی د رې را یه ووئیلی لمونځ یې فاسد شو. ولی چی ر یا تول د دوو حرفو په قرآن کی مفسد د لمانځه دی.

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه ولوالدیهما آمین   الناشر مکتبة القراءة والتجوید کرته

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَقِرَاءَتُهُ مَا لَا يَحْفَظُهُ مِنْ مُصْحَفٍ** او د غه رنګه لمونځ فاسد وی قرائت د هغه آیتو چی دده بیاد نه وی د قرآن شریف ځنې، یعنی د قرآن شریف ته روته ګوری او یې خوله یې وائی **پوهسه**: چی ظاهر الروایت خو دا دی که لږ شی وو ائی او که ډیر. او بعض فقهاء وائی کی مقدار د الحمد لله ووایه نو یې لمونځ فاسد دی او که تر مقدار د فاتحی کم وُو لمونځ یې نه دی فاسد»

او بعض علماء وائی چی په قدر د آیت وو ائی لمونځ یې فاسد دی. وهو الاظهر ح، ط، س، او په نیز د یارانو لمونځ یې صحیح دی. ولی چی ویل د قرآن هم عبادت او کتل د قرآن شریف و ته روته هم عبادت دی نو دوه عبادته سره جوت سوه. نو د فساد څه سبب دی. دلیل د عبادت والی د نظر القرآن دا دی چی په فقه شریفه کتبی مسئله ده که د چا یو سورت د قرآن مثلاً بیاد وی. نو چی قرآن شریف ته ګوری وی وائی افضل دی تر بیا د وئیلو. قیل چی د قرآن شریف څخه تلاوت کول په لمانځه کی مکروه دی. ولی چی په دی کی تشبیه د اهل کتابو سره ده چی هغه هم د اغسی کوی. لکن قاضی خانؒ په شرح کی د جامع کبیر او بحرؒ ائق وائی چی مطلق تشبه د اهل کتابو سره خو مکروه نه ده» ولی چی موږ او دوی په نفس خوراک او چښنګ او کالی اغوستلو وغیره مشابهت سره لرو بلکه حرام تشبه د دوی سره ده په هغه فعل کی چی زموږ په دین کی بد کار وي. لکه د بیری خریل وغیره او یا قصد د ده صرف تشبه وی د دوی سره.»

د ظاهر الروایت چی مذهب دی د امام اعظمؒ دوه دلیله دی. یو دا چی په لمانځه کی قرآن پلاس کی نیولی او ورقی اړول، عمل کثیر دی. مفسد دی، نو دلیل پر بناء که قرآن شریف پر ځمکه خلاص پروت وی او ورقی یې نه اړه وی. مفسد د لمانځه نه دی» او دوهم دلیل پر دا دی چی داسی کول د قرآن شریف ځنې تلقین دی. نو مثال یې داسی دی لکه بل سړی چی لمونځ کوونکی ته تلقین کوی وهذا مناف الصلوٰة ومفسد لها، نو بناء پر دغه دلیل کی قرآن شریف پلاس کی وی او که پروت وی دی تلاوت څنډی کوی په دواړو حالو

لونځ فاسد دی. وهو الصحیح من مذهبه وعلیه الفتوی، ط، در

مسئله: که یو سړي بیله قرآن شریف نه کتلو قرائت نه سوای ویلای. ایا دی دې سړي لونځ هم په قرائت تخه دقرآن فاسدیږی؟ **جواب** هو لونځ یې فاسدیږي نو دی دې لونځ بې قرائت کوي. ولې خودی امی دی ط» وفیه نظرٌ، در» او په فساد کی د امام لمانځ او د مقتدی منفرد او امام سره برابر دي. په هدایه کی د امام قید اتفاقی دی ط.

مسئله: که د سړي قرآن شریف یاد وو خو بیا هم ئی قرآن شریف و مخته غوړولی ایښی وو او په لمانځه کی قرائت ځندی وایه لونځ یې نه فاسدیږی. ولې چې نه حمل دقرآن سته، او نه تلقی او تعلم دقرآن تخه بیل قرائة القرآن په دې صورت منسوب دده وحفظ ته دی،، نه و تلقی من القرآن ته وهذا ظاهر و به یفتیٰ» در. قال المصنف:

وَاَدَاءُ رُکْنٍ اَوْ اِمْکَانُهُ مَعَ کَشْفِ الْعَوْرَةِ اَوْمَعَ نَجَاسَةٍ مَانِعَةٍ

او دغه رنګ لونځ فاسده وي اداء د رکن د لمانځه لکه رکوع په مراعات د سنتو چې دری تسبیحا تی دیٔ. او دغه رنګه یې فاسده وي امکان د اداء د رکن یعنی که خه هم په ضمن کی د رکن طویل وی لکه ولاړه چې په ولاړه کی د درو تسبیحاتو د رکوع په قدر وی سره د کشف او لخوالی د عورت او یا سره د نجاست چې مانع د لمانځه وي. لکه قدر د درهم په نجاست غلیظه کی او یا رُبع د ثوب په نجاست خفیفه کی که خه هم سهواً وي.

پوهه سه: چې مصنف اداء د رکن شرط کړو ولې که مصلی په مجرد وقوع د نجاست هغه دفع کړي لکه چې د مصلی پر لنګوټه مثلاً نجاست ولویدی دده دستی هغه ایسته کړي لونځ یې نه دی فاسد» او یا باد دده عورت ور لخ کړي دده دستی پټ کړي لونځ یې نه دی فاسد» قال الامام الطحطاوی چې ډیر کشف د عورة چې د ربع د عضو عورت یا بالا په اندازه وي په ډیره زمانه کی چې په قدر د اداء د رکن دی یا بالا مفسد دیٔ. د لمانځه. او که لږ کشف عورت چې تر ربع کم وي. په لږ زمانه کی چې په اندازه د رکن نه وي. مفسد د لمانځه نه دیٔ. او دغه رنګ ډیر کشف عورت لکن په لږ زمانه لکه چې

باد را والوزي سړي لنګ وهلی وی باد یې کونه ور لخ کړي منګر مصلی په سمدستی پټه کړي. لونځ یې نه دی فاسید» او دغه رنګه لونځ نه فاسده وي کشف قلیل که خه هم په ډیره زمانه کښی فال والمراد بکشف العورة ما یعم کشف ربع العضو منها. **پوهه سه** په چې په نجاست کی هم هغه فوق الذکر خلور صورته متصور دي فتفکر فیها. قال المصنف

وَمُسَابَقَةُ الْمُقْتَدِی بِرُکْنٍ لَمْ یُشَارِکْهُ فِیْهِ اِمَامُهُ

او دغه رنګ لونځ فاسده وي چې ورلندی والی وکی مقتدی تر امام په یوه رکن کی چې دده سره شریک نه سی امام په هغه رکن کی مثلاً مقتدی تر امام د مخه رکوع ته ولاړی او د امام تر وروتلو د مخه یې سر اپورته کړي لونځ یې فاسد سو. او که مقتدي خو ورلندی والی وکړي لکن چې دی په رکوع وو امام هم رکوع ته ورو سیدی نو دغسی مسابقت خو مکروه دی لکن لونځ یې نه دی فاسید. وعلی هذا فقس حال السجود،

مسئله مقتدی خو مسابقت وکړي او سر یې هم را اپورته کړي. لکن چې امام رکوع ته ولاړی دی هم رکوع ته بیی ولاړی. او بیا تر امام وروسته یې بیا رکوع وکړه لونځ خو یې نه دی فاسید لکن دا کار کول مکروه دی کما لا یخفیٰ» **مسئله** که دغه سړي چې مسابقت تر امام یې کړي وُو په رکوع یا په سجده کی لکن هغه رکوع یا سجده یې په لمانځه کی د ننه را وه ګرځوله بلکه د امام سره سلام وګرځاوه لونځ یې فاسد سو. ولې چې ده قصداً سلام وګرځاوه په ګمان د دې چې زما لونځ پوره سو. سره د دې چې پر ده یو رکن د لمانځه یعنی رکوع یا سجده پاتر ده.

نادره مسئله یو مقتدی چې په اول کی د لمانځه د امام سره شریک وو په ټولو رکعتو کی تر امام مسابقت وکړي یعنی د مخه تر امام په رکوع یا سجدی ته تلی او بیرته بی تر وروتلو د امام سر را اپورته کاوه. نو دی به د امام سره سلام نه ګرځوی او دده په ذمه کی اول رکعت پاتر دیٔ. ولې چې ده متابعت د امام ونه کړی او دوهم رکعت رکوع او سجده قضاء د اول رکعت د رکوع او سجدی ده او ده د ریم رکعت رکوع او سجده قضاء ددوهم

Maktaba Tul Ishaat.com

رکعت د رکوع او سجدې ده. او د څلورم رکعت رکوع او سجده قضاء د دریم رکعت. نو دی لاحق دی. او دی به یو رکعت قضاء به بیله قرائت راوړي پسله سلام نه د امام كذا نقل المحشي في المراقي عن المبسوط وقال وتمام تفريعه في الاصل وقد بينه الطحطاوي ص٢٤٧ فانظر هنالك،

قال المصنف: **ومتابعة الامام في سجود السهو للمسبوق** او دغه رنګه لمونځ فاسده وي چې متابعت وکړي د امام په سجده سهوه کې هغه مقتدي چې د هغه نه اول د لمانځه تیر شوي چې دی سره ته مسبوق وائي.

پوښتنه: که امام سجده سهوه متصل په سلام پسې کول خوښ مسبوق به متابعت لازم دی. د متن د مسئلې صورت دا دی چې پر امام خو سجده سهوه لازم نه وه لکن دامام هیره وه نو په اخیره ناسته کې چې امام په قدر د تشهد کښېنستې مسبوق د مخه تر سلام دامام او یا وروسته تر سلام دامام خپل قضائي لمانځه ته ولاړ شو، او بیا د امام سجده سهوه ور پیاد شوه او سجده به کوله نو که مسبوق د خپل رکعت د قضائي د پاره به سجده نه وکړي خو متابعت دامام به سجده سهوه کښې پر لازم دی. او پسله سلامه دامام بیرته خپل قضائي لمانځه ته ولاړ شي.

او که مسبوق د خپل قضائي رکعت د پاره سجده وکړه وروسته امام ته سجده ور پیاد شوه او سجده سهوه به کوله نو مسبوق دی متابعت نه کوي کې متابعت دامام په سجده سهوه کښې وکړي لمونځ د مسبوق فاسد شو. ولې چې ده متابعت په داسې حال کې وکړي چې د ده یوازې والی په سبب د سجده سهوه یعنی چې رکعت یې پوره کړي. او پر ده باندې د خپل انفراد تعقیب واجب شو. نو په داسې حال متابعت کول مفسد د لمانځه دی. **مسئله**: که مسبوق په هغه صورت کې چې متابعت دامام پر ده واجب وو په سجده سهوه کې مګر ده متابعت ونه کړي بلکه خپل قضائي لمونځ ته ادامه ورکړه لمونځ یې نه دی فاسد، ولې سجده سهوه خو واجب وه. او ده په واجب متابعت دامام پرېښو او په ترک د واجب خو لمونځ نه فاسدېږي. لکن استحسانًا پر ده لازمه ده چې پس له فراغه نه د خپل لمانځه نه دی سجده سهوه وکړي.

مسئله: په سوق کې د صورت د مسئلې مونږ داسې ووئیله چې امام په قدر د تشهد کښېنستلی وو، ولې که مسبوق د مخه تر هغه څندې ولاړ شي قضائي ته داسې کول ومسبوق ته روانه دی. ولې چې پر امام د ده فرض عمل پاتې دی. چې قعود په قدر د تشهد ده، نو دی په داسې حال کې ځان نسې منفرد کولای. او که مسبوق وداسې عمل ته ادامه ورکړه لمونځ یې فاسد شو. **مسئله**: که مسبوق متابعت دامام وکړي په سجده سهوه کې او ده خپل لمونځ پوره کې وروسته دا معلوم شوه چې پر امام سجده سهوه نه وه نا حقه یې سجده سهوه وکړه. نو د مسبوق لمونځ روا دی په نیزد متاخرینو وعليه الفتوى. ط،

سوال: دا څرنګه صورت به وي چې امام په ځان سجده سهوه لازمه بولي او هغه هم وروسته بیا ور معلومېږي چې سجده سهوه نه وه **جواب**: د بعض امامانو دا خیال دی چې که امام ته چا صرف فتح ورکړه که څه هم د قرار نه وي نیولی پر ده سجده کول واجب دی نو یو امام که داعنسي وکړه وروسته یو عالم ورته ووئیل چې په دغه قدر سهوه خو پر تا سجده سهوه نه وه، قال المصنف:

وعدم اعادة الجلوس الاخير بعد اداء سجدة صلبية تذكرها بعد الجلوس او دغه رنګه لمونځ فاسده وي نه راګرځول د اخیرې ناستې پسله کولو نه د سجدې اصلي د لمانځه چې ده پرې اېښې وه. او ور پیاد شوه پسله اخیرې ناستې. **صورت د مسئلې** دا دی چې د یوه لمونځ کوونکي نه یوه سجده دیوه رکعتو نه سهوًا پاتې شوې وه. نو دی چې په اخیره ناسته کې په قدر د تشهد کښېنستی هغه سجده اصلي ور پیاد شوه نو هغه سجده یې وکړه. او بیا یې اخیره ناسته نه راګرځوله لمونځ یې فاسد شو. ولې هغه د مخه ناسته چې ده وکړه هغه اخیره ناسته نه ده. ولې چې اخیره ناسته خو هغه بولي چې تر تمام د ټولو ارکانو د لمانځه وروسته یې وکړي دلته خو د دې سره ارکان د لمانځه نه دي خلاص شوي، ولې چې پر ده سجده اصلیه پاتې ده نو لمونځ د ده هغه وخت صحیح کېږي چې پسله سجده اصلي نه اخیره ناسته بیرته راوګرځوي لکن سجده به کوي.

قال المصنفؒ **وَعَدَمُ اِعَادَةِ رُكْنٍ اَدَّاهُ نَائِمًا** اود غړنګه لمونځ فاسده وی نه اګر څوک د هغه رکن چې لمونځ کوونکی په حال کی دخوب اداء کړی وی. دلیل یې دادی چې د صحت د اداء دارکانو د پاره ویښوالی شرط دی

وَقَهْقَهَةُ اِمَامِ الْمَسْبُوْقِ وَحَدَثُهُ الْعَمَدَ بَعْدَ الْجُلُوْسِ الْاَخِيْرِ

اود غړنګه لمونځ فاسده وي په زوره خندل دامام دمسبوق سړي یعنې چې اول دَ لمانځه څُنډی تیرسوی وي. اویادغه امام پُسکی، یا ګوز، واچوی په قصد سره پسله اخیری ناستی نوبیا دی صورت کی دامام لمونځ خو صحیح دی. ولې چې دَدَه خوارکان د لمانځه پوره سوه او منافی دَلمانځه چې قهقهه ده یا حدث عمد دی په اخیر کی پیدا سُو. او پر امام بیله سَلام چې هغه سنت یا واجب دی پاته دي او هغه په ترک خو لمونځ نه فاسدیږي لکن د مسبوق لمونځ فاسد سُو چې مُفسد دَدَه د لمانځه په مابین کی پیدا سُو.

فَائِدَه: مصنفؒ وویل بعد الجلوس الاخیر. ولې که حدث عمد ده مخه تر اخیری ناستی پیښ سی دَامام او ټولو مقتدیانو لمونځ فاسد سُو. قَالَ المُصنفؒ:

وَالسَّلَامُ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ ظَانًّا اِنَّهُ مُسَافِرٌ اَوْ اِنَّهَا الْجُمُعَةُ

او سلام ګرځول پر سر د وو رکعتو (یعني دما نام لمونځ یا څلور رکعتیز لمونځ دمقیم) لمونځ فاسده وي. دده دا خیال وو چې زه مسافر یم او سره ددی چې دی مقیم وو، او یا ګمان ددی وي چې دا دجمعې لمونځ دی او هغه دما پښین لمونځ وو، قَالَ المُصنفؒ:

اَوْ اَنَّهَا التَّرَاوِيْحُ وَهِىَ الْعِشَاءُ اَوْ كَانَ قَرِيْبُ الْعَهْدِ بِالْاِسْلَامِ

او یا یې ګمان ددې وي چې امام تراویح کوي او یا زه چې لمونځ کوم دا تراویح دي. او هغه دَماختن لمونځ کاوه

فَظَنَّ الْفَرْضَ رَكْعَتَيْنِ او یادې سړي تازه ایمان راوړی وُو نو ده ده ګمان داوو چې ټوله لمونځونه دوه دوه رکعته دي.

پردی ټولو صورتو کی دمُصلی لمونځ فاسد سُو. ولې چې ده عمدًا دپاره دقطع د لمانځه سلام وګرځاوه تر وخت همدَ مخه،

مسئله که سړي پردوه رکعت سلام وګرځاوه دده خیال داوو چې څلور رکعته ما پوره کړه لمونځ یې نه دی فاسید» س، ط، امام طحطاویؒ زیاته کړیده چې دمفسد اتو مخه د لمانځه دی چې مصلي په لمانځه کی په زړه کی مُرتد سي. وَالعیاذ بالله من ذالك» او دغه نګه لمونځ فاسده وي هغه عمل په لمانځه کی چې یا اودس یا غسل واجبوي په قصد سره او دغه نګه لمونځ فاسده وي. پر یښودل دیوه رکن د لمانځه بیله قضاء راوړو مخه نقلاً عن النهرؒ

الحمد لله والصلوٰة علٰى عباده الذين اصطفٰى: **پوهسه**: چې حضرت امام طحطاویؒ دی فصل په لحن کی مسئله د زلة القاري هم راوړی ده چې هغه یو ډیر مهمه مسئله خصوصًا دملا لامامانو دپاره. ولې چې دوی ذمه وار د صحت د لمانځه دمقتدیانو دي. نو که دی لمونځ فاسد کړي نو دَ ټولو مقتدیانو د لمانځه ګناه دده پر غاړه ده. او په جامعه کی د پښتنو داسي امامان ډیر دي، چې لوی جامع مسجد یې په غاړه کی وي. او قرآن مبارك په پښتو حروفو وائي. یعني مثلًا ده ف عربي عربي او د، پ، فارسي په تلفظ کی فرق نه کوي. او یا د سین او صاد او ث په تلفظ کی فرق نه کوي. او یا د شین عربي او د ښین پښتو په فرق نه پوهیږي. او یا د عین او همزه فرق نه سی کولای. او د ظ، او ز، او ض، په تلفظ کی فرق نه سی کولای، او د، ذ، او ز، خو بیخي فرق نه کوي. او یوه کلمه په بله کلمه بدله وي او په تغییر د معنا یې هم نه پوهیږي حاصل دا چې مفسد د لمانځه په قرائت کی نه وي معلومیږي. ولې چې دوي په ترجمه د قرآن نه پوهیږي نو دی کبله د دی مسئلي راوړه په دی فصل کی د مفسد دا تو د لمانځه ډیر زیبا او فائده مند دی

نوځکه به د خدای جل جلالهٗ په توفیق دد بې مسئلي بنه تحقیق په پښتو وکړم
اوان شاء الله العزیز زه فضل الحق حقاني
به درته په ښکلی خط دراته ولیکم
خوښ اسود دعا محتاج یم

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله دزلة القاری

قال الطحطاوی چې بعض خلګو دا ګمان کړې دی چې مسئله د زلة القاري یوا سی قانون نلري چې پر هغه قانون دی دا مسئله بناء سی. لکن دا توهم او ګمان غلط دی بلکه کې دا مسئله په حقیقت کې بناء پر دا سی قواعدو دی چې هغه ناشي او پیدا سوی دی دا ختلاف داما مانو مذهب. نو غوږ و نیسه (وفکر کوه)، چې اصل په دی مسئله کې په نیز ده امام اعظم او امام محمد رحمهما الله تعالیٰ، تغیر د معنا د قرآن دا سی تغیر چې ډیر وي. او هغه خبره چې صاحب المضمرات کړیده. که یو سړی په لمانځه کې یوه کلمه یا ایة په خطاء فاحش سره ووایه. لکن بیرته یې صحیح را وګرځوله. لمونځ یه روادی آه. د اخبره ابوالسعود رد کړیده. او په زلت سره د قاري تغیر فاحش د معنیٰ نه راځي. نو لمونځ یې صحیح دی عندهما خواه دغه لفظ چې قاری په کښي خطاوتي په قرآن شریف کې بل ځای موجود وي او که نه! او په نیزد امام ابویوسف اصل د دی مسئلی دادی.

که دغه لفظ چې قاري خطا ونلی ووایه مثل یې په قرآن شریف کې بل ځای موجود وو. نو لمونځ په دغه خطا سره نه فاسدیږی، خواه تغیر د معنا په تغیر فاحش سره راځي او که نه راځي او که دغه لفظ په قرآن شریف کې موجود نه وو لمونځ یې فاسد دی مطلقاً. او امام ابویوسف و تغیر ته د اعراب اعتبار نه ور کوی اصلاً. لکن پوهسه چې دا اختلاف زمونږ د اما مانو په هغه خطاء کې دی چې په سهوه او نسیان خطاوزی. او کې په قصد سره غلط ووایه نو لمونځ یې فاسد دی مطلقا په اتفاق دائمه ثلاثه وو.

پوهسه: چې مسئله د زلة القاري پر څلور وجهی ده. ولی دغه کلمه چې قاري په خطا کې بیله قصده ووئیله. یا به موجوده په قرآن کې وي او یا به نه وی او پر هر تقدیر یا به معنا ته تغیر فاحش رسوی یا نه. ۲ چې په ۲ کې ضرب کې څلور حاصل راځي. فالاول: دا سی یو مثال دی چې قاري ووائي و ابلیس وذا الکفل. مکان قوله تعالیٰ: وادریس وذا الکفل» والثانی. د دوهم مثال دادی چې قاري ووائي: قل هو الله واحد، په ځای کې د قل هو الله احد

والثالث او دریم مثال یې دادی چې قاري ووائي: هذا الغبار، پر ځای د، هذا الفرار. اویا ووائي: یوم تبلی السرائل» په لام سره په ځای کې د دی لفظ قرآني، یوم تبلی السرائر. والرابع»، او څلورم مثال دادی چې قاری ووائي»، قیامین»، په ځای کې د قوامین، چې لفظ قرآني دی. نو په اول مثال تغیر فاحش خو سته. لکن لفظ د ابلیس، په قرآن شریف کې سته. او په دوهم مثال تغیر فاحش خو نسته، لفظ د واحد په قرآن کې هم سته، او په دریم مثال کې هم تغیر فاحش سته. او لفظ د غبار په قرآن کې هم نسته، او په څلورم مثال کې لفظ د قیامین، خو په قرآن کې نسته. لکن تغیر فاحش د معنا نه لازمیږی.

پس په مثال اول کې په نیز د امام اعظم او امام محمد لمونځ فاسید دی. ولی که څه هم لفظ د ابلیس په قرآن کې موجود دی. لکن په مثال مذکور کې خطاء فاحش لازمیږي کما لا یخفیٰ. او په نیز د امام ابویوسف لمونځ نه دی فاسد. او په مثال دوهم کې لمونځ په نیز د طرفینو نه فاسدیږي. ولی چې خطاء فاحش نه لازمیږی. او په نیز د امام ابویوسف لمونځ فاسد نه دی. ولی چې لفظ د واحد په قرآن کې راغلی دی. او په دریم مثال کې هم تغیر فاحش لازمیږی او هم لفظ د سرائل په قرآن کې نسته نو لمونځ په اتفاق فاسد دی. او په څلورم مثال کې که څه هم لفظ قیامین په قرآن کې دی راغلی. لکن تغیر فاحش نسته. نو په نیز د طرفینو لمونځ فا سد نه دی او په نیز د امام ابویوسف لمونځ فاسید دی. ولی چې په قرآن دا لفظ نه دی راغلی»

والحاصل: ان المثال الاول و امثاله مختلف فیها فسادًا عند الطرفین لفحش الخطاء وجوازًا عند ابی یوسف لورود ابلیس فی القرآن. والمثال الثانی و امثاله متفق علیها جوازًا لعدم فحش الخطاء عند ابی حنیفة ومحمد. ولورود لفظ واحد فی القرآن، والمثال الثالث و امثاله متفق علیها فسادًا. اما عند الطرفین فلفحش الخطاء. واما عند ابی یوسف فلعدم ورود البناء فی القرآن» او دغه رنګه په لفظ کې د سرائل په ځای کې د سرائر هم فحش خطاء سته او لفظ د سرائل په قرآن کې هم نسته. والمثال الرابع وامثاله مختلف فیها عند

الطرفینؒ جوازًا لعدم فحش الخطاء وفسادًا عند ابی یوسفؒ لعدم ورود لفظ قیامین فی القرآن
درویش وائی. چې د مذکوره شیانو د مثالونو نور مثالونه د اتفاق او اختلاف بین الطرفینؒ وابی یوسفؒ په قرآن عظیم الشان کې ولټوی، مشت نمونهٔ خروار،
فائده: د مخمونو وئیله چې امام ابویوسفؒ و تغیرته اعراب اعتبار نه ورکوی. امام طحطاویؒ وائی چې د غه رنګه امام ابویوسفؒ و تخفیف ته د مشدد لفظ او یا و تشدید د مخفف توری هم اعتبار نه ورکوی. درویش وائی چې علامه شامیؒ د فتاوای بزازیه نه داسې نقل کړی چې که په تخفیف کې د مشدد که و معنا ته تغیر نه رسیدی. نحو قُتِّلُوا تَقْتِيلًا، په تخفیف د تاء په اتفاق لمونځ نه په فاسدیږی اوکې معنا ته تغیر سیدی. نحو بِرَبِّ النَّاسِ په تخفیف د باء. او یا ان النفس لامارة بالسوء په تخفیف د میم اختلفوا فیه فالعامة علی انه یُفسد،»
او په فتح القدیر کې وائی چې پرینښول د مد یاد تشدید لکه خطاء فی الاعراب ده. کرخر هم عام فقهاء پردې د بے چه که معناته تغیر سیدی لمونځ په فاسدیږی لکه اِیَّاكَ نَعْبُدُ، په تخفیف دیاء "اِیَاكَ"، چې اِیَا لمرته وائی. لکن اصح داده چې چې نه په فاسدیږی. ولې چې اِیَا مخفف په لغت قلیله دی په اِیَّا مشدد کې. او د غه رنګه کې لفظ مخفف په تشدید ووایه لمونځ نه په فاسدیږی نحو اَعْیُنَنَا په تشدید د سره. او دا غه رنګه امام ابویوسفؒ اعتبار نه ورکوی په قصر و وییل د مد والا توری. او یا په مد وییل د مقصو لفظ وییل. طحطاوی زیا توی دا غه رنګه اعتبار نه ورکوی و فک ته د مدغم لفظ نحو اِهْدِ نَا الصراط یا ظهار اللام. او یا ادغام د مفکوك لفظ زیاتوی چې که تغیر د معنا په د غو مذکوره امورو کې نه راتی خو لمونځ نه فاسده وی بالاجماع کما فی المضمرات»، او کې تغیر د معنیٰ پیدا کاوه. لکه چې سړی داسې ووائی: وَاِذِ ابْتَلٰی اِبْرٰهِیْمَ رَبُّهٗ په رفع د ابراهیم او په نصب د ربّه» او یا دا ایت داسې ووائی: اِنَّمَا یَخْشَی اللّٰهُ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓاءَ» یعنی په رفع د الله د لفظ او په نصب د العلماء» نو په نیز د طرفینو لمونځ فاسده وی. او په مقتضیٰ د قول د امام ابویوسفؒ لمونځ په فاسدیږی» لانه لا یعتبر الاعراب. وبه یفتیٰ»، ط، ص۲۷۶. او هم په د غه صفحه کې وائی چې اتفاق کړی دی متاخرینو

لکه محمد بن مقاتلؒ. او محمد بن سلامؒ. او اسمعیل الزاهد او ابوبکر سعید البلخی، او امام هندوانیؒ او ابن الفضلؒ. او امام حلوانیؒ چې خطا په اعراب کې لمونځ نه فاسده وی مطلقًا کې څه هم اعتقاد کفروی لکه په پوره ذکر سوو د دوو ائیتو کې. ولې چې اکثره خلګو چې عوام دي. داعراب د بدلید و ده معنیٰ په فرق نه پوهیږی. او بل دا چې که ټوله خلګ امر کړه شي په تصحیح د اعراب په دی کې حرج کلی دی. او حرج په دین کې مرفوع شرعًا دی. او هم د غه و مذهب ته صاحب خلاصه تللی دی، وفی النوازل لا تفسد فی الکل وبه یفتیٰ.
پوهسه: چې قاضیخانؒ وائی چې مذهب د متأخرینو چې دا ذکر سو فراخه دی او مذهب د متقدمینو احوط دی، امام طحطاوی وائی چې دا اختلاف د متقدمینو او متأخرینو په هغه ځای کې دی چې دا غلط اعراب په خطا کې څندی وویل سی او یا دی په غلطیا نه پوهیږی او یا یې په قصد ووائی لکن معنیٰ د یې تغیر نه په خوری نحو الرَّحْمٰنُ عَلَی الْعَرْشِ اسْتَوٰی په نصب د رحمٰن د لفظ. اوکې په قصد ووایه چې په پوهیدی هم او تغیر د معنیٰ هم دی وو، او یا په اعتقاد کفروو نو فساد د لمانځه په کمه درجه ده. قال والمفتیٰ به قول ابی یوسفؒ
مسئله: هغه لفظ چې شد لري هغه لفظ بې شده وییل. چې تخفیف یې بولې لکه چې یوسړی په لمانځه کې اِیاكَ نَعْبُدُ او یا "رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ" په تخفیف ووائی. نو حضرات متأخرین فقهاوو د احنافوؒ وائی چې لمونځ نه په فاسدیږی مطلقًا یعنی په هیڅ ځای کې علی المختار» لان ترك التشدید لکه خطاء فی الاعراب ده» کما فی قاضیخان وهو الاصح»، وکذا فی المضمرات، ونص به فی الذخیرة علی انه الاصح، وکذا قال ابن امیر حاجؒ. او حکم د شد ورکولو و مخفف لفظ ته هم حکم یې هغه ورانډی حکم دی»، قال الطحطاویؒ وکذا اظهار المدغم وعکسه دا ټوله یو حکم ئی دی یعنی چې لمونځ نه په فاسدیږی» قاله الحلبیؒ»
دوهمه مسئله: د زلة القاری، وقف کول دی بې ځایه» یا ابتداء کول دی بې ځایه نو که په دغه تغیر و معنا ته نه رسیدی لمونځ نه په فاسدیږی. په اتفاق د قدماؤ د مذهب او د متأخرینو. او که معناته تغیر سیدی نو په دې صورت کې متقدمین یې لمونځ فاسد بولی. لکن فتوی پر قول د متاخرینو ده. چې لمونځ یې په هیڅ حال کې نه فاسدیږی. په دلیل د دې

Maktaba Tul Ishaat.com

چې مراعات د وقف او وصل او ابتداء خلک یعنی مُسلمانان په حرج کی اچول دی بالخصوص عوام طبقه «الحرجُ مرفوع» کما فی الذخیرة «والسراجیه والنصاب» فتاوی شامی د فتاوی بزازیه څخه داسی نقل کړی دی» که وقف او ابتداء ومعنا ته د قرآن تغیر فاحش نه راوړی نو لمونځ نه په فاسدیږی. لکه په جمله د شرط چې وقف وکړی: لَوْ كَانَ فِيهِمَا آلِهَةٌ إِلَّا اللّٰهُ» بیا ابتداء په جزاء وکړی یعنی لَفَسَدَتَا» وکذا الوقف علی الموصوف والابتداء بالوصف» نحو اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ بالوقف ثم یبتدئ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ» که څه هم معنا تغیر خوری. لکه چې وقف وکړی شَهِدَ اللّٰهُ اَنَّهٗ لَا اِلٰهَ. ثم یبتدئ اِلَّا هُوَ» لا یفسد الصلوٰة عند عامة المشائخ ولی چې عوام د وقف او ابتداء او وصل ځایونه نه پیژنی ففی الفساد حرجٌ عظیمٌ» او کی وقف وکړی پر» وَقَالَتِ الْيَهُوْدُ» او وروسته یه شروع وکړه» لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَیْءٍ آه. لمونځ یه په اتفاق فاسد نه دی. ش، ع، در» او په نصاب کی خو دا هم راغلی ده که یو سړی وقف په ټوله قرآن کی وته کی لا تفسد صلوته عندنا»

مسئله: که یو سړی د یوی کلمی په ما بین کی وقف وکړی یا ئی ساه ورسیدله. او یا سام پری یوتی. او بیا یه باقی کلمه یه هیره سوه مثلاً یوه سړی داغوښته چې اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَوائی نو یه پر اَلْ وقف وکړی وروسته یه حَمْدُ لِلّٰهِ ووایه. او یا یوه سړی داغوښته چې وَالْعَادِيَاتِ ووائی باره ئی وویل» وَالْعَا» او وقف یه وکړی. او وروسته یه کلمه پوره کړه په سبب د اعذارو سابقه وُو. قَالَ الطحطاوی هغه مذهب چې پر هغه عام مشائخ دی لمونځ یه نه دی فاسد که څه هم معنا تغیر وخوری د جهته د ضرورت وعموم البلوی» کما فی الذخیرة وهو الاصح کما ذکره الفقیه ابو اللیث السمرقندی.

دریمه مسئله دزلة القاری: چې مصلی یو حرف په ځای کی د بل حرف ووائی نو په دی مسئلی کی حکم دادی که کلمه د لفظ څخه د قرآن نه وتله. او معنای مرادی ئی تغیر هم نه سیدی لمونځ نه فاسده وی. لکه چې ووائی: اِنَّ الظَّالِمُوْنَ» په ځای کی د» اِنَّ الظَّالِمِيْنَ» چې لفظ قرآنی دی یعنی واو په ځای کی د یاء ووائی. نو لفظ د ظالمون په واو سره په قرآن شریف کی بل ځای سته. او مرادی معنا ته هم تغیر نه رسیږی. نو ځکه لمونځ نه دی فاسد»

او یا ووائی: وَالْاَرْضِ وَمَا دَحَاهَا» په ځای کی د» وَمَا طَحَاهَا» چې لفظ د دَحَاهَا په قرآن شریف سته او معنا یه هم تغیر نه خوری نو ځکه لمونځ نه دی په فاسد، او که کلمه د لفظ د قرآن وتله او معنی مرادی ته هم تغیر نه راتی نو لمونځ په نیزد طرفینو نه فاسدیږی او امام ابو یوسف یه لمونځ فاسد بولی. بناءً علی ما تقدم فی صدر الکلام» لکه قِیَامِیْنَ بِالْقِسْطِ» چې په ځای کی د» قَوَّامِيْنَ بِالْقِسْطِ» او یا دَوَّارَاه په ځای کی د دَيَّارًا» ووائی او کلمه خو د لفظ د قرآن نه وتله لکن معنا ئی تغیر سیدی. نو په نیزد طرفینو یه لمونځ فاسد دی لتغیر المعنی» کما عرفت من مذهبهما» او په نیزد امام ابو یوسف یه لمونځ نه دی فاسد» ولی چې لفظ قرآن خو موجود دی کما هو مذهبه وقد مرّ من قبل. لکه چې یو سړی... خَامِدُوْنَ» ووائی په ځای کی د» سَامِدُوْنَ»

پوهسه: امام طحطاوی وائی چې دغه قواعدی چې مونږ ذکر کړی د پاره د مذهب د متاخرینو دا په ټولو فروعو کی جاری دی. ورنه متاخرین نوری قاعدی هم لری چې هغه مطول نه دی امام مذکور زیاته کړیده چې مسائلی د زلة القاری یوه پر بله نه قیا سولای. مگر هغه څوک چې هغه کامل علم په لغت عربی لری. او معانی د قرآن هم ښه خبر وی او نور ما یحتاج الیه به هم ښه زده وی. او د ابو سعید خدری څخه روایت دی. چې په قرائت کی د بعضو اهل القری او ترکانو او د سوداګرانو به ځای کی د» اِيَّاكَ نَعْبُدُ» وِيَّاكَ نَعْبُدُ» یعنی واو به ځای کی د همزه. او بعض په ځای کی د صِرَاطَ الَّذِيْنَ وائی اَلصِّرَاطَ الَّذِيْنَ» بزیادة الالف واللام متاخرینو تصحیح کړیده چې په دواړو صورتو کی لمونځ نه فاسدیږی وان غیّر المعنی»

درویش وائی: چې د متأخرینو په مذهب کی ډیره فراخی سته. او د پښتنو د اکثرو عوامو بلکه د بعض ملایانو لمونځونه بیله مذهب د متأخرینو څخه دای خبر چې صحیح کیږی به. چې دوی د قرائة القرآن په وخت کی عجیبه ناولده الفاظ وائی. مدرس مولوی صاحب وی لکن قرآن شریف به غلط وائی. په او سنی وخت کی یو څه بهتری راغلی ده. ولی د خلکو توجه وعلم قراءت ته راوښتی ده. او خلک د خپلو زامنو د پاره په مدارس و دینیه وو کی ډیر پاملرنه د قرآن مبارک د صحیح زده کړی کوی. او علامه شامی په رد محتار کی وائی چې چونکه قاعدی د متاخرینو به ضبط کی

نه دی نو اولیٰ بناء ده پر قواعدو د متقدمینو ولی چی د هغو قواعدی په انضباط کی دی او قول د متقدمینو احتیاط په امر د قران شریف وټیلو ډیری په زړه پوری دی. او ډیری مسئلی چی د فتاواوو په کتابو کی ذکر سوی دی د متقدمینو پر مذهب بناء دی **پوه سه** چی قواعدی د ائمه ثلاثه وو یعنی ابوحنیفه، ابویوسف، او محمد رحمهم الله تعالیٰ قاعدی د متقدمینو د مذهب دئ.

او د دوی په قواعدو کی هم په بعض ځایو کی په یوه مذهب کی تنګی او په بل کی فراخی. او په بعض ځایونبی بالعکس وی. نو د دی ټولو مشکلاتو د حل د پاره یوازی یوه لار داده چی سړی په زړه کولو کی د قران کریم د الفاظو او حروفو ډیر نه یار و باسی. او په دی که څوک کلان سالم وی شرم دی نه کوی وَالله اعلم بالصّواب والیه المرجع وَالمآب، ولنرجع الی ما کنا بصدده من شرح نور الایضاح و الله جل سلطانه هو الموفق وَالمعین وبه نستعینُ، قَالَ المُصنفُ

لَوْ نَظَرَ المُصَلِّی اِلیٰ مَکْتُوْبٍ وَفَهِمَهٗ

که و کتل لمونځ کوونکی و لیکل سوی شئ یعنی که د قران ایت وی یا بل شئ وی او په وپوهیدی. یعنی په معنا یی. لمونځ خو نه په فاسدیږی. ولی خو تکلم یه دی به کړی. لکن خلاف د ادب څخه د لمانځه دئ. امام طحطاویؒ وائی چی د دی فصل مسائل که مصنفؒ په فصل آتی کی مکروهاتو راوړی وای ډیر به ښه وای او عبارت به هم کوتاه وائی.

وَالْجَوَابُ چی هغه اعمال چی په دی فصل کی ذکر سوی دئ د قسم د سوء الادب د ی او سوء الادب تر کراهت کمه ده درجه یه، په فتاوای خانیه او په فتاوای خلاصه کی وائی که یو سړی په لمانځه کی فکر واهه. نو یو شعر یا خطبه یه ور یاد سوه. او په زړه یه تکلم په وکړی لمونځ یه نه فاسدیږی. کما فی البحر لکن ترک د خشوع دی. او کمال ته د لمانځه تاوان کوی. لکن پوه سه چی دا سوء الادب هم هله دی چی په قصد ور ته وګوری او که نا ببره سترګی پرو لګیدی او وی فهم وه بیا سوء الادب هم سته. قَالَ المصنفؒ

اَوْ اَکَلَ مَا بَیْنَ اَسْنَانِهٖ وَکَانَ دُوْنَ الْحِمَّصَةِ بِلَا عَمَلٍ کَثِیْرٍ

او یا مُصلی و خوړی هغه شئ چی په مـابین کی د غاښو یـروو- او د غـوړ تړانی کم وو بیله ډیر عمله

لمونځ یه په فاسدیږی. اګر چه سؤ الادب خو دی مصنفؒ ما بین اسنانه و ویل ځکه یو شی لکه کنجد و دانه او یا یو ځاځکی د باران چی د ده په خوله کی ولویدی او حلق ته یه ورسیدی لمونځ فاسد دی او کی روژه وه روژه یه هم ماته سوه. ط، که څه هم کفاره پری نسته، در، او که داشی په قدر د حمصه وو یا بالاتر هغه لمونځ فاسد دی او روژه یه هم ماته ده وکه دغه تر حمصی کم شئ مصلی ډیر وژو وی او بیا یه تیر کړی لمونځ اتفاقاً فاسد دی. او لیکن شی په لن عمل خوړل پروا نه لری ولی چی هغه تابع د ښا ړه دی او د ناړو د تیرولو څخه چاره نشته"

قَالَ المصنفؒ

اَوْ مَرَّ مَارٌّ فِیْ مَوْضِعِ سُجُوْدِهٖ لَا تَفْسُدُ وَاِنْ اَثِمَ الْمَارُّ

او یا تیر سو یو تیروونکی که نروی او که ښځه او که سپی وی او که خروی په ځای کی د سجدی د ده لمونځ نه په فاسدیږی یعنی په درو سره مسئلو کی که څه هم په مسئله د مار تیریدونکی ګناه کار دی. وجه د عدم فساد په مسئله کی د مار: قوله علیه الصّلوٰة وَالسّلام: لا یقطع الصلوٰة شئ. **پوه سه**: که تیریدونکی د مُصلی د سجده ګاه څخه لیری تیر سو بیا ګناه کار هم نه دئ" دا خو د مصنفؒ مذهب وو لکن صحیح او مفتی به داده چی په کښتنی مسجد کی د مُصلی د مخه تیریده مطلقاً مکروه دی. او په مسجد کبیر کی موضع ته د سجود اعتبار دی. او خو لرا تر د مرور هم تحریمی دی. او بحرُ الرائق په دی مسئله کی ډیر بحث او تحقیق کړی دئ قَالَ

وَلَا تَفْسُدُ بِنَظَرِهٖ اِلیٰ فَرْجِ الْمُطَلَّقَةِ بِشَهْوَةٍ فِی الْمُخْتَارِ

او لمونځ نه فاسدیږی په کتو سره د لمونځ کوونکی و کس ته د خپلی مینی چی ده په طلاق رجعی طلاقه کړی وه او کتل هم په شهوت سره پر مختار

وَاِنْ ثَبَتَ بِهِ الرَّجْعَةُ مذهب، که څه هم په دغو کتو سره رجوع د میره ثابتیږی

پُوه سَه: چی د مطلقی قید اتفاقی دی که د بیګانه ښځی و کس ته وګوری په شهوت سره هم یه لمونځ نه فاسدیږی. او پوه سه: چی مراد د فرج څخه فرج داخل دی چی ښځی تکیه کړی وی او پښی ازادی سره نیول وی. نو د دی فرج داخل لیدل کیږی. او کی و ټول

Maktaba Tul Ishaat.com

فرج تہ وکتل پہ هغہ کی پہ اتفاق لمونځ نہ فاسدیږی. لکن خلاف الادب کار دئ. مراقی عدم فساد وجہ داوائی چی داکتل عمل قلیل دی. لهذا کی بچہ ځندی واخستہ اویائی مسہ کړہ لمونځ یہ فاسد دی. ولی چی دا کار پہ معنی کی دجماع دی. او جماع عمل کثیر دی. لکن دا قبلہ یا لمس چی پہ معنا کی دجماع دی هلتہ دی چی پہ شهوت سرہ وی او حد د شهوت پہ ځوان سری کی دا دی چی بلاگی یہ ورتہ پورتہ سی. او کہ دمخہ پوڅ تہ وی چی ډیر کلک ودریږی. او پہ ښځہ کی او یا پہ سپین ږیری کی حد د شهوت دا دی چی د زړہ میل او شوق یہ ورتہ وسی. مصنف مختارہ وویل ولی چی بعض فقهاءؒ وائی چی لمونځ یہ فاسد دئ.

مسئله کہ مصلی د ښځی څخہ بچہ واخستہ او یائی مسہ کړہ بیلہ شهوتہ لمونځ یہ پہ اتفاق نہ فاسدیږی. ولی چی دا پہ معنی کی دجماع نہ دی. **مسئله**: کہ ښځی لمونځ کاوہ او بل سړی چی پہ لمانځہ کی نہ وو بلاگی یہ ددی د ورنو پہ مابین کی ورکړی کہ څہ هم انزال نہ سی. او یا پہ بچہ ځندی واخستل کہ څہ هم بیلہ شهوت څخہ وی او یا یہ مس کړہ پہ شهوت سرہ د ښځی لمونځ فاسدسو. کہ څہ هم د سړی خپلہ ماینہ وی **مسئله**: کہ ښځی د مصلی څخہ بچہ واخستہ او یا یہ مس کړہ. او د مصلی پہ زړہ کی اشتهاء نہ سوہ پیدا دہ لمونځ نہ دی فاسد

پوښتنه څہ فرق دئ. چی ښځہ لمونځ کونکی بچہ کړی او یا یہ مسہ کړی بیلہ شهوتہ د نر پہ زړہ کی چی لمونځ د نر لمونځ لمونځ کونکی نہ فاسدیږی. او یا ښځہ لمونځ کوونکی مچ کړی او یا یہ مسہ کړی بیلہ شهوتہ د نر د خوا او د ښځی لمونځ فاسدیږی **جواب** فرق یہ دا دی چی شهوت پہ ښځہ کی شرعًا او عقلاً ډیر دئ. نو چی نر دا مچ کړی خواہ مخواہ ددی اشتهاء کیږی او بلہ خبرہ دا دہ چی مچول د نر پہ مطلق توگہ او مس دہ پہ شهوت سرہ مونږ مفسد پہ دی بولو چی پہ معنا کی دجماع دی. او جماع خو فعل او کار د زوج دئ.

نو دہ پہ حق کی دواعی دجماع و چی مچ دہ یا لمس بالشهوت پہ ځای کی دریږی. بخلاف د ښځی چی جماع ددی کار نہ دی. نو دواعی دجماع ددی د خوا چی بچہ اخستل دی د نر څخہ او یا لمس بالشهوت دی د خوا پہ معنا کی دجماع نہ گڼل کیږی. تر هغو چی د نر پہ زړہ کی شهوت نہ سی پیدا. ط، ح واللہ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ.

فصل
فی مکروهات الصلٰوة

يُكْرَهُ لِلْمُصَلِّى سَبْعَةٌ وَسَبْعُونَ شَيْئًا مکروہ دی لمونځ کوونکی تہ اوہ اویا شیان، لکن پوہ سہ چی مقصود حصر پہ دغو شیانو کی نہ دی بلکہ دغہ شیان مشهور دی. م، در"

فَائِدَةٌ سَنِيَّةٌ تَعَلُّمًا ضَرُورِيَّةٌ نو پوہ سہ چی مکروهات ضد د محبوب دی پہ لغت عربی کی. لکن دلتہ د ډی لفظ ستہ چی فرق کول د هغو د مهمًا تو څخہ د فقہ دی ۱ حرام، ۲ مکروہ تحریمی، ۳ مکروہ تنزیهی، ددی درو پہ فرق کی یو مذهب دی، د حضرت الامام محمدؒ، او بل مذهب د حضرت الامام الاعظمؒ او امام ابو یوسفؒ چی شیخین یہ بولی پہ اصطلاح د فقہ شریفی کی. او کہ امام اعظمؒ او امام محمدؒ پہ یوہ رائیہ کښی شریک وی طرفین یہ بولی. او کہ امام ابو یوسفؒ او امام محمدؒ سرہ شریکان وہ صاحبین یہ بولی. او کہ دری سرہ متفق وہ ائمہ ثلاثہ ور تہ وائی:

علامہ تفتازانیؒ پہ شرح کی چی پہ نامہ د تلویح یادیږی. د امام محمدؒ مذهب یہ داسی بیان کړی دی چی یو کار او فعل چی پریښول یہ اولیٰ تر فعل وی. نو کہ د کولو څخہ ئی سړی منع وو پہ یوہ دلیل یقینی سرہ لکہ قرآن عظیم الشان او یا حدیث مشهور او متواتر هغہ فعل تہ حرام وائی. لکہ: وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنٰى، وامثالہ. او کی د کولو څخہ منع وو پہ دلیل ظنی لکہ عام مخصوص البعض، پہ قرآن کی. او یا خبر واحد پہ حدیثو کی. او یا قیاس د مجتهد هغہ فعل تہ مکروہ پہ کراهة التحریم وائی. او کی ترک اولیٰ وو لکن د کولو څخہ یہ منع نہ وہ راغلی هغہ مکروہ پہ کراهة التنزیہ دی" او دا مذهب د حضرت الامام محمد بن حسن الشیبانیؒ تلمید امام الاعظمؒ و ابی یوسفؒ"

او پر رائیہ د شیخینؒ تقسیم داسی دئ"، چی سنہ عمل چی ترک یہ اولیٰ وی تر کولو کی د کولو څخہ صریح نهی راغلی وی هغہ عمل حرام دی. او کی د فعل څخہ صریح منع نہ وہ راغلی نو مکروہ تنزیهی دی. کہ روا والی تہ نږدی وو، پہ معنیٰ ددی چی کوونکی تہ د هغہ عمل خو عقاب نہ وو،

او په نه کولو کی به لږ ثواب وو. او که حرام ته نږدې وو. په دې معنا چې کوونکی ته د هغه عمل عتاب او سرزنش په ورځ کی د قیامت خو وو مګر عقوبت بالنار نه وو. ده عتاب مثال په حرمان د شفاعت ویل سوی دی نو داغسی عمل ته مکروه تحریمي وائی.»

پوښتنه: په صحیح حدیث کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وئیلی دی «شفاعتي لأهل الکبائر من امتي» نو مرتکب د مکروه تحریمي خو مرتکب د ګناه کبیره نه دی نو څرنګه د شفاعت نبوي څخه محروم دی. **جواب:** شفاعت نبوي دوه قسمه دی یو د پاره د بخښنی د ګناه دی چې هغه شفاعت عام دی. مرتکب د کبیره ګناه او مرتکب د مکروه تحریمي ټول ته شامل دی. او بل شفاعت د پاره د پورته والی د درجی دی په جنت کی مرتکب د مکروه تحریمي د دغه قسمه شفاعت څخه محروم دی. دا جواب مشهور دی او فاضل عماد الدین په حاشیه کی د تلویح ورکړی دی. او فاضل شمس الدین خیالي نور جوابونه هم ورکړی دی چې تر فهم د متعلمینو د کتاب لوړ دی ولذالک ترکنا»

فائده: اصل په اطلاق د تحریم مکروه تحریمي دی او پر مکروه تنزیهي په قرینه د اطلاق حکم کیږي. **پوښتنه:** چې صاحب النهر او صاحب البحر فرق د مکروه تحریمي او تنزیهي داسی بیان کړی دی که د یوه عمل ترک لره د واجب مستلزم وه هغه مکروه تحریمي دی. او که متضمن ترک لره د سنت وه هغه مکروه تنزیهي دی.

او د مکروه تنزیهي درجې او فرق سره لري په دې سبب چې هغه سنت چې په دې عمل پاتیږي سنت مؤکد دی او که د سنن زوائدو څخه دی. او که نه واجب په پاتیدې او نه سنت نو که ده لمانځه څخه بیګانه کار وو هغه هم مکروه دی لکه په بدن یا جامه سره په لمانځه کی ځان اخته کول یا بل داسی کار چې زړه پر مشغول کیدی. حتی په خلاصه کی وائی که د مصلی لنګوټه پر تندی وه چې سره د هغی پر تندی سجده نه سوای کولای نو ده په یوه لاس لنګوټه د تندی څخه پورته کړه مکروه نه دی. ولی دا کار د متمماتو څخه د لمانځه دی. او یا یه په لمانځه کی د پاره د دفع د ضرر یو عمل وکی کقتل الحیة والعقرب دا مکروه نه دی. که څه هم په کثیر سره وي.

مسئله: په لمانځه کی که د سري څخه واجب پاتې سو نو کی څه هم لمونځ خو یې صحیح دی.

تلل راګرځول یې واجب دی. او که سنت وغیره پاتې سول راګرځول یې مستحب دی.» مر او صاحب الهدایه په تجنیس کی وائی چې هر لمونځ چې اداء سي سره د کراهت نو هغه لمونځ دی راوګرځوی بیله هغه مکروه عمله»

سوال: په حدیث شریف کی راغلی دی «لا یصلی بعد صلوة مثلها» نو څرنګه بیرته راګرځول د کړی لمانځه غواړي **جواب:** صدر الاسلام علی البزدوي په شرح کی د جامع صغیر وائی چې مراد په حدیث مذکور کی دا دی چې صرف د وسوسی د سببه لمونځ بیرته راګرځوی. نو دا حدیث و دغو ته د کراهت شامل نه دی.

امیان خلک باید په لمانځه کی فکر وکړي په رکوع او په ولاړه کنبی د رکوع څخه او

نصیحت په سجده کی او په کښیناستو کی د سجدی څخه چې د غه افعال په سه وجه ادا کړي ولی د مه کارونه چې رکوع او سجده او د رکوع سم ولاړیده او په مابین کی د دوو سجدو کښیناستل کم از کم سنت خو دی نو کی دی پرې چه کامل یې ونه کړي نو راګرځول د لمانځه بیرته غواړي په حدیث شریف کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په ترک د دغو کارو په یوه اعرابي لمونځ درې واره راوګرځاوه. **پوښتنه:** چې مراد د مکروه څخه په دې فصل کی عام دی که مکروه تحریمي وي او که تنزیهي وي لکه چې د هغو بیان په شرح کښی وکړم ان شاء الله تعالی» قال المصنف:

ترك واجب او سنة عمدا پرېښول دی د واجب یا د سنت په لمانځه کی په قصد سره. قید د عمد یه د دی د پاره وو ایه ولی که چیرې واجب سهوا او نسیا ناپاتې سي. لمونځ مکروه نه دی بلکه سجده سهوه به کوي. او که سنت په سهوه پاتې سي نه لمونځ مکروه دی او نه سجده سهوه سته» قال مر و ط چې شروع و مکروهاتو مصنف په د غو دوو سره وکړه. ولی دا دوه دوره وسته د پاره لکه قانون کلي دی. او دیر جزئیات تر لاندی مثلا آرام په ارکانو کی د لمانځه لکه رکوع او سجده او قومه او جلسه چې ترک د هغه یا ترک د واجب دی پر تحقیق بناء. او یا ترک د سنت مؤکد دی. او یا تر امام د مخه رکوع او یا سجدې ته تلل. او یا په رفع کی تر امام وړاندی والی کوی چې مکروه تحریمي دی

Maktaba Tul Ishaat.com

ولې په هغه کې سخت وعید راغلی دی کما روی البخاری ومسلم: قَالَ علیه الصلوٰة والسلام اَمَا یخشیٰ اَحَدُکُمُ اِذَا رَفَعَ رَأسَه قَبلَ الاِمام اَنْ یَجْعَلَ اللّٰهُ رَأسَه رَأسَ حِمَارٍ» وفی روایة او یجعل الله صُورَة حمار» ترجمه: ایا نه بیریږی یو ستاسی چې سر اپورته کوی یعنی یا د رکوع نه او یا د سجدې نه د مخه تر امام چې وده گرځوی خدائ سر د ده سر د خره او یا صورت د ده صورت د خره.

دَرویش والیٔ چې شیخ عبد الحقؒ د دې حدیث په صدق کې دیو عالِم قصه ذکر کړېده فلیرجع» او دې ته هم شامل دی چې لاسونه په وخت کې د شروع د لمانځه تر غوږو لوړ پورې نه کړي چې دا مکروه تنزیهی دی لانه لم یثبت ذالک منه صلی الله علیه وسلم ولا من احد من الصحابة رض. او یا لاسونه بیله عذره تر اوږو لاندې کښته پورته کړي. او یا پښې په قصد سره په سجده کې په پا یخو پورې کړي: قَالَ المُصنفُ:

كَعَبَثِهِ بِثَوْبِهِ وَبَدَنِهِ وَقَلْبُ الْحِصَىٰ اِلَّا لِلسُّجُوْدِ مَرَّةً

لکه سات تیرول په جامه سره یا په بدن سره او یا ږړې وهل د شګو مګر د یاره د سجدې یو وار. بعض علماء وائي چې عَبث هغه فعل ته وائي چې غرض شرعی نه وي پکښې او سفه هغه کار ته وائي چې هیڅ غرض نه وي په کښې. او په جوهرَه کې وائي چې عبث هغه فعل دی چې خوند نه وي پکښې. او لعب هغه کار دی چې څه ناڅه خوند په کښې وي. او جوهرې په صحاح اللغة کې وائي چې سفه او عبث سره مرادِف دی" ط.

دلیل د کراهت دا دی چې عبث کار منافي د خشوع سره دی چې هغه د لمانځه لکه روح داسې دی قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ: قَدْ اَفْلَحَ الْمُؤْمِنُوْنَ الَّذِیْنَ هُمْ فِیْ صَلَاتِهِمْ خَاشِعُوْنَ، والخشوع حضور د زړه دی او آرام ول د اندامو دی. او ساتنه د ارکانو د لمانځه ده. نو عبث په لمانځه کې مکروه تحریمی دی» ق، س، ط، وفی المراقی والمراد بالعبث ههنا فعل ما لیس من افعال الصلوٰة. **مسئلهٔ**: که عبث بالبدن ته ضرورت پیدا سو بیا کراهت نشته مثلاً که د مصلی مخ یا تندی خوله کړي وه نو ده هغه پاک کړه:

او بایه سجده پر خاورو وکړو خاوری یه په مخ منبتی وي. او دی ځندی په تکلیف وونو یه یا کی کړي کراهت نشته، کذا فی فتح القدیر والعنایه والنهایه»

پیوسته: چې حِصیٰ جمع د حصاة ده کشنی شګوته وائي. قوله للسجود ای للسجود الکامل. او لې اصلی سجده نه سوای کولای بیا ږړی وهل د شګو واجب دی» ن، ط، وجاء فی حدیث جابر رض وکذا فی حدیث ابی ذر رض التقیید بمرة واحدة. قال جابر رض سألتُ النبی صلی الله علیه وسلم عن مسح الحصا فقال واحدة ولان تمسک عنها خیر لک عن مائة ناقة سود الحدق. ما پوښتنه وکړه د نبی علیه السلام نه د ږړي وهلو سنګریزو یعنی د سجده په وخت کې نو علیه السلام ووئیله یو وار یعنی یو وار په فعل روا دی. او که ته ځان وساتی د دغه کار نه یعنی قلب الحصیٰ» خیر دی تالره تر سلو ښځینه او ښو چې توری سترګی وي یعنی ګران قیمت وي.

درویش والیٔ: چې تر ټولو ښه کار دا دی چې لمونځ کونکی د ده مخه تر لمانځه د لمانځه د ځایه نه شګی اواری کی. حتیٰ د ز نګنود ایښو لود ځایه نه او د ناستی د ځایه نه تا چې په لمانځه کی زړه مشغول په هیڅ شی نه وي. **درویش والیٔ**: چې حدیث د ابوذرؓ په دې باره کې پر داسی سجع مشتمل دی چې تر ټولو مثالو د سجع فوقیت لري وهو هذا: اَسْأَلَ اَبُوْذَر؛ خَیْرَ البَشَر؛ عن تَسْوِیَةِ الحَجَر. فَقَالَ یَا اَبَا ذر: مَرَّةً والاَفَذَر.

مَسَائِلِ ضَرُوْرِیَّة یا کول د تندی د خولو نه یا د خاشو نه او یا د خولي نه په مابین کې د لمانځه مکروه دی. مګر که ضرورت وو چې دغه شګی په په تندی جګیدلی. یا په خوله پر ستر ګو راتوئیدله او یا خاوری راتوئیدلي. او یا دغه شیا نو د لمونځ کوونکی خشوع ورخرابوله. نو بیا هیڅ کراهت نشته. لکه چې غماشه سري پر مخ وخوري او هغه کاکوي او زړه د لمونځ کوونکی په مشغول وي نو ګروول یه کراهت نه لري. یا د سري په لمانځه کې ګرنګ د زړي نه راوئیږي د خولي نه خوا نو پاکول یه مکروه نه دي. وامثال ذالک. او وروسته تر سلام خو بیا که ضرورت اوکه نه وي کراهت نشته، ولې ابن السنیؒ په خپل کتاب کې د انسؓ نه روایت کړی دی» چې رسول کریم صلی الله علیه و

سلام څخه وروسته چې دَ لمانځه څخه فارغ شو مسح به کړي تندې مبارک په راسته لاس او ویابه ووئیل
اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الرَّحْمٰنُ الرَّحِیْمُ: اَللّٰهُمَّ اَذْهِبْ عَنِّی الْهَمَّ وَ الْحُزْنَ، مراط، در
ابن امیر الحاجؒ وائی چې دا مسئله په څلور قسمه ده ۱ مسح کول دَ خولې یا خاورو وغیره کولو دی
پس له سلامه هغه خو مستحب دی: لانه ازالة الاذی عن وجهه ودفع المثلة، ۲ چې دَ لمانځه
دا فعالو څخه فارغ سی تر سلام د مخه. په بدائع او صنائع کی وائی. لَا بَأْسَ بِهٖ بالاجماع. ولی کړی
فعل الصلوٰة په دغه حال کی بیخی قطع کړي هم باک نه لري. نو دیو فعل قلیل چې مسح ده څه
باک به ولري. ۳ چې داخیری سجدې څخه سر اپورته کړي د مخه تر ناستې په قدر د تشهد
امام سرخسیؒ وائی لَا بَأْسَ بِهٖ، او امام حلوانیؒ چې په دې کی په کتابونو کی د فقهاؤ اختلاف دئ.
بعض وائی مکروه. بعض وائی وائی نه دی مکروه ۴ چې مسح په مابین کی د لمانځه واقع سی.
په دې صورت کی ظاهر الروایة دا دی چې بیله ضرورته مکروه دی وَهُوَ الصحیح، قَالَ

وَفَرْقَعَةُ الْاَصَابِعِ او مکروه دی په لمانځه کی تکان په گوتو کول یا په
کشیدو او یا په کښیکښو. لقوله علیه الصلوٰة والسلام
لَا تُفَرْقِعْ اَصَابِعَكَ وَاَنْتَ فِی الصَّلوٰةِ، پکوتو تکان مکروه په داسی حال کی چې ته په لمانځه کی
یې، چونکه دا صریح نهی دی نو کراهت تحریمي دَی. ط، او په مجتبیٰ کی وائی که څوك ولمانځه
ته انتظار کوي یا لمانځه ته راروان وی هغه هم په حکم کی دلمونځ کوونکی یعنی دگوتو تکان
ورته مکروه دي. **درویش وائی** چې چونکه نهی صریح په لمانځه مقید دي نو د دې
سری دگوتو تکان مکروه تنزیهی دی. او بیله د غو صورتو یعنی خارج الصلوٰة نو د گوتو تکان
مکروه دی په نیز د اکثرو فقهاؤ و بحر الرائق او مجتبیٰ و الایه دا علت وائی چې دا فعل د شیطان
دخوا څخه دی، لکن کراهت یه تنزیهی دئ. لما مرّ. او په برهان کی علت دکراهت دا وئیلی دی
چې دا یو عبث کار دئ. لکن پوه سه چې د بعض کسانو د گوتو بند ونه درد کوي چې تکان پر وه نه کی
نو د غه سړي ته خارج الصلوٰة تکان دگوتو مکروه نه دئ. او بعض وائی چې وجه دکراهت یه
دا ده چې دا عمل دَ قوم لوط وو، وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ، وَالیه المرجع والمآب،

کتبه بیده اَحقر الخلق محمد فضل الحق حقانی غفرلہ.

ذلك لمنفا **وَتَشْبِیْكُ الْاَصَابِعِ** او مکروه دی په لمانځه کی منځ داخلول دگوتو. قال م لقول ابن عمرؓ فیه تلك صلوٰة المغضوب
علیهم قال ط، چې دغه رنگه مکروه دی تشبیک په وخت کی تګ ولمانځه ته، ولی چې احمد
وابوداؤد او نورو په روایت کړي دی مرفوعًا چې علیه الصلوٰة والسلام وئیلی دی: چې یو
ستاسی چې اودس تازه کړي او ښه اودس وي. او بیا مسجد ته روان سي. نو تشبیك د
گوتو دې اسودی نه کوي. ولی چې دی په لمانځه کی دی یعنی حکمًا. د دې حدیث څخه دا معلومه سول
چې په وخت کی دا انتظار د لمانځه په طریق اولیٰ تشبیك مکروه دئ. بحر الرائق وائی چې د نهی څخه
دا معلومیږی چې دا کراهت هم تحریمي دئ. او چې د لمانځه څخه فارغ سي نو تشبیك روادئ.

حِکمت الٰهی عن التشبیك چې دا فعل د شیطان دَ خوا دی کما فی الحدیث. او بل دا دی چې
تشبیك سړي ته خوب ورولی او خوب گمان د حدث دئ. او بل تشبیك
اشاره و اختلاف او شقاق ته ده لکه چې دحدیث د ابن عمرؓ څخه اشارةً دا معلومیږي. قَالَ

وَالتَّخَصُّرُ او مکروه دی په لمانځه کی لاسونه پر د وړی نیول. دلیل یه دا دی چې
اول خود اخوی د جبابره او متکبرینو دئ. بل دلیل دا دی چې په لمانځه کی
اخذ الید بالید سُنت دئ. په تخصر کی هغه پاتیږي. مر، او بل دلیل دا دی چې تخصر په
معنا لکه تکیه پر لکړي کول دی ځکه نو لکړي ته مخصرة وائی.
او شك نسته چې په فرض لمانځه کی بیله ضرورته تکیه پر لکړه مکروه ده کما صرح به الفقهاء
طرًا نعم په نفل لمانځه کی که ضرورت وی او که نه وي تکیه پر لکړه روا دی علی الاصح، مج، ط
او بعض علماؤ د تخصر تفسیر داسی کوي: هو ان لا یتم حدود الصلوٰة، نو که واجب پاتیدی
نو مکروه تحریمي او سُنت پاتیږي نو مکروه تنزیهی دئ. او بعض علماؤ د تخصر ترجمه په
اختصار فی القرأت سره کوی نو که قدر واجب پاتیدی مکروه تحریمي دی. او که قدر مسنون
پاتیدی مکروه تنزیهی دئ. **درویش وائی** که څه هم په لفظ کی تخصر مانع د دَغو
تفسیرو نسته. لکن اول تفسیر ډیر صحیح دی او د جمهورو څخه د اهل اللغة والفقه والحدیث
منقول دی نو ځکه مراقی په هغه تفسیر اکتفاء کړي ده. وقال هو اشهر واصح تاویلاتها،

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَالْاِلْتِفَاتُ بِعُنُقِهِ** اود غړ نګه مکروه ده کتل په لمانځه کښې غاړې په کږه ولو سره. **پوهه**: چې التفات په لمانځه کښې درې قسمه دی، یو قسم مبطل د لمانځه دی چې ځګر د قبلې نه واوړي او شاه وقبله ته کړي مګر بیله عذره. د عذر صورت په دا دی چې دسړي په لمانځه کښې خیال داسې وي چې بره دی ویني سوه نو داو داسې د یاره شا و قبله ته کړی لکن وروسته چې وګوري بره یه نه وي ویني نو لمونځ یې نه دی باطل، او دوهم قسم مکروه تحریمي دی چې بره استرخوا په برچې خوا فاره کږه کړي. دد غړ التفات په باره کښې هغه حدیث دی چې بخاري یې روایت کړي دی د سیدتنا عائشه رض قَالَتْ سَأَلْتُ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم عَنِ الالتفات الرجل فى الصلوٰة وكذا المرئة، فَقَالَ هُوَ اختلاسٌ يختلسه الشيطن من صلوٰة العَبد، دا التفات یوه حمله د شیطان په لمانځه د عبده او په بل حدیث کښې راغلي دي. لايزال الله مقبلاً على العبد وهو فى صلوٰته ما لم يلتفت فان التفت انصرف عنه: دا دواړه حدیثه په کراهت تحریمي دلالت کوي، مر، ط، در،

او دریم قسم التفات دی په کنجیانو د سترګو. په صحیح حدیث مبارک کښې راغلي دی: كان رسول الله صلى الله عليه وسلم يلحظ اصحابه بموق عينيه، یعنې علیه الصلوٰة والسلام وحالاته د اصحابو په کتل په کنجیانو د سترګو. نو د دی حدیث نه علماء حضرات دا نتیجه ګیري کوي چې دا قسم التفات مکروه نه دی. لکن ملا علی قاري وائي چې دا قسم التفات دادب نه د لمانځه خلاف دی. بیله ضرورته د علیه السّلام دغه التفات خود احوال معلومولو د من خلفه وو نو اوس هم که امام د لمانځه د دغرض د پاره التفات په کنجانو د سترګو وکړي پروا نه لري، قَالَ

وَالْاِقْعَاءُ اود غړ نګه مکروه ده اقعاء. د اقعاء معنیٰ دا ده چې سړی کونه په مځکه کښېږدي او زنګنونه جګ ودروي. او نس تې جوت کړي او لاسونه هم په مځکه ولګوي. لکه سپي چې کښیني، مر، ط عز - در، چې ابوهریره رض روایت کړي چې نهي کړې ده علیه الصلوٰة والسلام د اقعاء نه لکه اقعاء د سپي، انتهى باختصاره نو په سبب د نهي کراهت یې تحریمي دی.

کتبه احقر العباد حقاني عفرله

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَافْتِرَاشُ ذِرَاعَيْهِ** اود غړ نګه مکروه دی په مځکه پرې ایستل د بازوګانو، په یوه حدیث چې روایت یې بخاري، د عائشه رضي الله تعالی عنه کوی د ریې همه کښې د هغه حدیث کښې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسّلام نهي کولی د افتراش نه د نر د ذراعینو لکه افتراش د درنده ګانو. **پوهه** چې قید د رجل احترازي دی د ښځې نه ځکه ښځه دا غسې کوي ولې مبني د حال دد ی په ستره او د نر د پاره حرمت هم تحریمي دی لوجود صريح النهى عنه. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَشْمِيرُ كُمَّيْهِ عَنْهُمَا اود غړ نګه مکروه دی پورته کول د لوستونړو د ذراعینو نه. یعنې که تر څنګلو پورې وي او که یا پورته وي تر هغه، بحر، **مسئله**: که سړي د مخه تر لمانځه لستوڼي را پورته کړي وه. او بیا دا غسې په لمانځه کښې داخل شو. اختلف العلماء فى الكراهة نهر، والصحيح الكراهة التنزيهية، در، په لمانځه کښې د کراهت دد غه فعل سبب دا دی چې دا د تکبر علامه ده چې د خشوع سره د لمانځه سره منافي ده، ط، قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَصَلٰوتُهُ فِى السَّرَاوِيْلِ مَعَ قُدْرَتِهِ عَلَى الْقَمِيْصِ

اود غړ نګه مکروه دی لمونځ په یوائې پرتاګه کښې یا په لنګ کښې سره د قدرته په قمیص باندې. مراقي وائي چې په دی کښې تهاون او سپکاوی د لمانځه دی، او قلة الادب دی او خپل ست والی نښکاره کول دی، وقَالَ ط هذا يفيد كراهة التحريم **مسئله**: مستحب ده نر له درې جامې په لمانځه کښې، پرتوګ یا لنګ، بل قمیص، او بله لنګوټه نو بناءً على هذا د پاکستانی او سیدونکو لمونځونه خلاف المستحب دی. ولې چې دوی یوازې د جیب نه دسمال راو کاږي او سر په لمانځه کښې پرېتوي. او یا رنځینه یې پر سر وي. مګر نادر خلک چې لنګوټه تړي. او د ښځې د پاره مستحب پرتوګ، قمیص، کښتنی پوړنی، او بل غټ پړونی **مسئله**: د ښځې لمونځ په هغه پوړنی کښې چې دوی په اصطلاح جفون ورته وائي

يعنې چې ويښتان يې تر لاندې معلوميږي مکروه دي اشد کراهة « در » قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَرَدُّ السَّلَامِ بِالْإِشَارَةِ

اود غه رنګه مکروه دي رد ول دسلام دچا يعنې جواب ورکول په اشاره سره. لانه سلام معنیً « م » وفي الذخيرة لابأس للمصلي ان يجيب المتكلم برأسه قال. ورد الاثر بذالك عن عائشة رض » مثلاً سړي په لمانځه ولاړوو بل سړي پوښتنه څندي وکړه چې زوي دي دسفره راغلی. دهٔ ورته سر وښوراوه. چې هُو. ثم قال ولا بأس بان يكلم الرجل المصلي پرواه نه لري چې خارج الصلوٰة سړي ولمونځ کوونکي ته خبرې کوي. اوهغه په اوري لقوله تعالى. وَنَادَتْهُ الْمَلَائِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُّصَلِّي فِي الْمِحْرَابِ »

درویش هیچ مدان: وائي چې د ذخيره داغه دواړه حکمه دغور وړ دي. اَمَّا الْاَوَّلُ: وهو قوله لابأس للمصلي آه په دې خبره کې بايد مونږ غور وکړو چې په دې کې شک نشته چې سلام خُود عاده او جواب يې هم د عاده او په دې کې هم شک نشته چې نفس دعا په هر لمانځه کې سته » اِهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ الاية اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا آه نو چې دسلام جواب صرف په اشاره دلاس يا دسر مکروه دي. نو د نورو پوښتنو جواب به څه رنګه په اشاره مکروه نه وي او ذخيره والا دا اثر مروي دعائشة رض بيان هم نه دې کړي چې هغه کوم تاريخ وو. په لمانځه کې خو ډير شيان روا وه او بيا منسوخ سوي دي كما سيأتي » او امام حلواني چې د ذخيره سره په مذكوره مسئله کې خيال دي ورو سته وائي. که چيرې يو چا سلام واچاوه. ولمونځ کوونکي ته في الحال خُودې په زړه کښې جواب ورکړي. او پسله لمانځه دې بيا جواب په خوله ورکړي. په نيزد محمدؒ. او امام ابويوسفؒ وائي چې مطلقًا دې جواب نه ورکوي او خطابيؒ او امام طحاويؒ يعنې فقيه ابوجعفرؒ روايت کړي دي چې يو وخت آنحضرت صلى الله عليه وسلم په لمانځه کې وو چې عبد الله بن مسعود رض سلام ورته وواير، آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پسله فراغه د لمانځه جواب ورکړي، وهذا يؤيد قول محمدٌ » وَاَمَّا الثَّانِيْ: ولا بأس ان يكلم آه چې پر دغه خبره چې په ايت شريف سره استدلال نه دی روا. ولې چې په لمانځه کې خبرې په شريعت کښې د زکريا عليه السلام خو روا وې.

په اوائلو کې داسلام زمونږ په دين کې هم خبرې په لمانځه کې روا وې حتىٰ تر نزول د « وَقُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ » فامروا بالسكوت عن التكلم في الصلوٰة على ما روى في البخاري نو چې خبرې روا وې نو بنداء خو په طريق اولیٰ روا ده. حاصل د مسئلې دا دی چې چا لره نه بنائي چې د لمونځ کوونکي سره چې په دې هم پوهيږي چې په لمانځه ولاړ دی خبرې وکړي او مصلي لره نه بنائي چې قصدًا غوږ ورته ونيسي او ځان په پوه کړي. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالتَّرَبُّعُ بِلَا عُذْرٍ

او داغه رنګه مکروه ده چارزانو ناسته په لمانځه کې که بيله عذره وه. لِتَرْكِ سُنَّةِ الْقُعُوْدِ م او که عذر وو چې بل ډول ناسته ورته تکليف وه بيا خو کراهت نسته. ولې چې په عذر سره د واجب پريښول لا روادي. نو د سنت دا خو په طريق اولیٰ روا دی. نو چونکه په تربع کې ترك د سنت راځي نو ځکه مکروه تنزيهي ده »

مسئله: چارزانو ناسته د باندې تر لمانځه هيڅ کراهت نه لري. لما روي في الاحاديث المباركه چې اکثره ناسته د عليه السلام تربّع وه وكذا عمر رض م، ط » او د ډوډې خوړلو په وخت کې تربع مکروه تنزيهي ده لانه من زي المتكبرين » در قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَعَقْصُ شَعْرِهٖ

او دغه رنګه مکروه دی عقص د ويښتانو په لمانځه کې، مراق وائي چې عقص د ويښتانو د سر دا دی چې يا يې په څټ کې وتړي او يا پر سر باندې

فَائِدَه: کوڅې د ويښتانو د سر وډنرو ته بيله عقص روادي »، قاله ابن العزؒ، ط.

مسئله: محل او ځای د کراهت دعقص دا دی چې خارج الصلوٰة يې عقص کړي وي خواه د پاره د لمانځه وي او که داغسې غوټه کړي وي: او کې فعل دعقص په لمانځه کې وکړي لمونځ يې بالاجماع فاسد دی لانه عمل کثير » حلبي ط » په حديث شريف کې راغلي چې آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ديوه سړي سره چې تيريدئ هغه معقوص الشعر لمونځ کاوه. نو يه ورته وو يل: دَعْ شَعْرَكَ يَسْجُدُ مَعَكَ » پريږده ويښتان دې چې سجده وکړي ستا سره »

مسئله: هغه بعض پيشني ځوانان چې د مخه تر لمانځه دمخ د خوا ويښتان تر زخچينه لاندې کوي. چې په خاوره نه سي د کراهت به

Maktaba Tul Ishaat.com

خالی نه وی»، در. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالْاِعْتِجَارُ وَهُوَ شَدُّ الرَّأْسِ بِالْمِنْدِيْلِ اوالعمامة وَتَرْكُ وَسَطِهَا مَكْشُوْفًا

او دغه رنګه مکروه دی اعتجار. او اعتجار دا دی چې سر په دسمال کې تړی یا په لنګوټه کې لکن مابین د سر یې لغړ وي. لنهی النبی صلی الله علیه وسلم عن الاعتجار فی الصلوٰة. وهذا یفید کراهة التحریم» ط» او بعض علماء وائی چې اعتجار دا دی چې لنګوټه وتړی مګر بیزه پټه کړی. په دی کې سنت د سجدی پاتېږی» در او هغه خبره چې امام طحطاوی کړیده. تر مکشوف لاندی. ای مکشوف عن العمامة لا مکشوفًا اصلا لانه فعل مالا یفعل»

درویش وائی: چې شاید په زمانه کې د امام مذکور به دا کار خلګو نه کاوه. لکن په اوسنی زمانه کې خو دا کار په لوچه ګانو ځوانانو کې د وخت بیخی ډیر دی. چې لنګوټه خو تړلی وی مګر مابین د سر یې د هره شئ نه لغ وي. کما هو الظاهر. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَكَفُّ ثَوْبِهِ

او دغه رنګه مکروه دی راپورته کول او جمع کول د کالو نه د خوا یا د شا د خوا نه هغه وخت چې سجدی ته ځی او بعض علماء وائی چې کف جمع کول دی د ثوب کالو. او پرملا یې تړل. مراقی وائی چې په کف کې په دواړو معنا وو اظهار د تکبر او تجبر دی چې منافی د خشوع سره د لمانځه دی.

وورد فی الحدیث النبوی امرت ان اسجد علی سبعة اعظم ولا ان اکف شعرا ولا ثوبا متفق علیه» مر»، وفی الخلاصة: چې کف الثوب په دوهم تفسیر مکروه نه دی. قَالَ الحلبی وهو المختار، وقال فی منیة المصلی: ویکره فی الصلوٰة کل ما کان من اخلاق الجبابرة، وقیل لا بأس برفعه عن التراب» ورده الطحطاوی حیث قال والاصح الاطلاق» یعنی کف الثوب مکروه دی مطلقًا که څه هم جامی د خاورو څخه ساتی. ولی چې پر خاورو اینول دغ په سجده کې چې مندوب دی نو د جامی څخه شرف دی تر مخ» ط، در. قَالَ المُصَنِّفُ:

وَسَدْلُهُ

او مکروه دی سدل د جامې. سدل دا دی چې لوی پټو چې طیلسان یې بولی

کذا فی شرح الوقایة په سر واچوی او جوانب یې ایله وی یعنی پر اوږو یې نه واړه وي او یا یې پر اوږو واچوی او لاسونه یې تر لستوڼو ونه کاږی. لکن کراهت هلته دی چې د تکبر دلاری وی. او که د عذر د لاری وو نو بیا مکروه نه دی.

پوښتنه: چې پر اوږو اچول په پوستین، چپنه، کوسی. جلکه، کوټ، بالاپوښ کې راځی. د دغو مذکوره ملبوساتو په باب کې خلاصه والا وائی: المختار عدم الکراهة»، لکن برهان الحلبی دا خبره نه مني. او وائی چې د خلاصی خبری سره نوازی برازیه موافقه کړیده او صحیح خبره هغه ده چې قاضیخان او جمهور یې کوی چې سدل مطلقًا مکروه دی. لانه اذا لم یدخل یدیه فی کمیه صدق علیه اسم السدل لانه ارخاء الثوب بدون لبس معتاد وقد تصدی بعض الفقهاء الی المحاکمة بینهما. او وائی که چیری معنا د اغوستل د هغی جامی د لاسو پر لستوڼو داخله ولو کی وه نو دي لاسونه داخلول په لوستوڼو کې سدل دی. لکه کوټ، بالاپوښ جلك، عربی چپنه چې عبا یې بولی. هراتی چپنه. او کی عادة لاسونه نه ترکینل. هغه نه سدل نه وائی لکه کوسی. د غزنی پوستین، هراتی پوستین، دګیډرو پوستین، چې په شمال کې د افغانستان جوړیږی. یا د پراڼګانو پوستین»

درویش وائی. چې احتیاط په دی کې دی تر ټولو د لاسونه کاږي. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ

بعض خلګ دسمال پر اوږو واچوی. او کېښته ځوړېږی. لکه بعض عرب او بعض قاریان چې دغه فعل کوی. په دی باره کې بحر الرائق د فتح القدیر څخه نقل کړی دی چې دا سی دسمال باید په وخت کې د لمانځه ایسته کې که څه هم دا دسمال نه لوېږی» ط

پوښتنه: چې د مکروهاتو څخه د لمانځه دی تلثم چې هغه پوټکول دی د خولې او پزې په لمانځه. ولی چې دا عادت د آتش پرستانو دی چې مجوس یې بولی په وخت کې د عبادت داور»

پوښتنه: په ژمی چې یخ ډیر وي خلګ د یخ د سببه خپل ګرم پټوان په خوله او پزه هم اچوی نو دا هم مکروه او که څرنګه؟ **جواب**: دا خو د جهت د یخ د عذر کوی. وَالضَّرُوْرَاتُ تُبِيْحُ الْمَحْظُوْرَاتِ»، مقوله شرعیه مسلمه ده **مسئله** سدل خارج الصلوٰة مکروه نه دی علی الصحیح» مر»

قال المصنفؒ

وَالْاِنْدِرَاجُ فِيْهِ بِحَيْثُ لَا يُخْرِجُ يَدَيْهِ

اودغه رنګه مکروه دی په لمانځه کې پیچل د بدن خپل په یوه جامه کې په داسې ډول چې لاسونه هم منځ یعنی ځای دا یستلو نه پرېږدي. چې دې کار ته اشتمال الصماء په یوه نه بلکه په احادیث شریفه او په فقه کې وائي. ځکه نبوي ډېره تروالئ یعنی دګمان ځخه نبوي دېره جوړول په لمانځه کې مکروه دی: قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اذا كَانَ لاحدكم ثوبان فليصلي فيهما فان لم يكن له الّا ثوب فليتّزر به وَلَا يشتمل اشتمال اليهود، یعنی کړوي یوه لره ستاسي دوې جامې نودی په دواړو کې لمونځ وکړي. که قمیص اوپرتوګ، یا قمیص، او پټو دی لنګ کړي. او یا دوه پټوان نو یو دی لنګ کړي او بل دې پرځان واچوی. اوکه نه وه سړي لره مګر یوه جامه یعنی پټو نو هغه دی لنګ کې. او په تول بدن دې نه راپیچي کوم څه هم ډېر غټ پټو وي لکه راپیچل دیهودو، یعنی دا اشتمال دیهودو سره مشابهت دی چونکه په دې باب کې صحیح نهي راغلی نو کراهت یه تحریمي دی کما مرذکره مراراً. قَالَ المصنفؒ:

وَجَعْلُ الثَّوْبِ تَحْتَ اِبْطِهِ الْاَيْمَنِ وَطَرْحُ جَانِبَيْهِ عَلٰى عَاتِقِهِ الْاَيْسَرِ

اودغه رنګه مکروه دی ګرځول یعنی اچول د ثوب لکه پټو لاندې تر راسته بغل او دواړه طرفه یه پرچپه اوږه اچول یعنی په لمانځه کې

مسئله: بیله لمانځه دا فعل مکروه نه دیٔ. وجه د کراهت په لمانځه کې مراقي دا وائیٔ چې پټول د دواړو اوږو په لمانځه کې مستحب دی. نو ترک یه مکروه تنزیهي ده آه لانه ترك امر مستحب لاواجب او صحيح، نهي هم نشته په کښې.

درویش وائیٔ، چې د عبارت ځخه د مراقي داسې معلومیږي که سړي قمیص اغوستی وو او اوږې دواړه یه په قمیص کې پټې وي لکن دده پټو وو هغه یه په طرز مذکور پر اوږو واچاوه. بیا کراهت نشته:

کتبه احقر العباد حقاني غفرله الباري

قال المصنفؒ

وَالْقِرَاءَةُ فِيْ غَيْرِ حَالَةِ الْقِيَامِ

اودغه رنګه مکروه دی قرائت د قرآن په غیر کې د حال د ولاړې لکه سړي چې رکوع ته ورسیږی او قرائت یه پوره به وي. او دغه رنګه مکروه دی اذکار مشروعه په انتقالاتو کې لکه سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ، پسله تمامه ځخه د انتقال. لکه بعض امامان چې سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ. په سجده کې به خولې کې وي. مراقي وائیٔ چې په دې کې دوه ستا واني دی. یو ذکر مشروع یه په خپل ځای کې پرېښو و بل یه بې ځایه ووایه. او امام طحطاوئ وائیٔ چې سنت طریقه دا ده چې ابتداء د ذکر مشروع دی د ابتداء سره د انتقال بوځای وي. او پای د ذکر مشروع دی د پای سره د انتقال یو ځای وي کې مخالفت د دغه ځخه وکړي نو د سنت ځخه مخالفت یه وکړی آه.

درویش وائیٔ: چې بعض امامان په دې مسئله کې ډېره غفلت ځخه کار اخلي. اول زده کړه خپل لمونځونه؛ بیا کوه امامتونه. د زکوة احکام دی نه زده؛ په لمانځه کې یه غافله؛ د لمانځه د مقتدیانو ته ضامن یه: دا جواب به ستا ځخه غواړي په قیامت؛ په منطقو کې کړار کړار روان وي؛ چې نوبت د فقهي راغلی سوې چابک؛ قَالَ المصنفؒ

وَاِطَالَةُ الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى فِي التَّطَوُّعِ وَتَطْوِيْلُ الثَّانِيَةِ فِيْ جَمِيْعِ الصَّلَوَاتِ

اودغه رنګه مکروه دی اوږدول د رکعت یعنی ترد دوهم رکعت په نفلو کې اودغه رنګه مکروه دی اوږدول د دوهم رکعت یعنی پر اول رکعت په ټولو لمونځو کې که فرض وي او که نفل **پوه سه**: چې د دریم رکعت د نفلو هم لکه اول رکعت دی لان كل شفع من النوافل كصلوة علىحدة، **فائده** مکروه والی دا طاعت د رکعت اولی په نفلو کې مذهب دی د شیخینو او امام محمدؒ وائیٔ چې اوږده وي دې. وعليه الفتوی. او مشائخ د طریقت په بیان کې د ثابت د لمانځه وائیٔ چې دا لمونځ سبب دی د ډېروالي د رزق او د برکت د مال، لکن پر دی طریقه، چې په اول رکعت کې به پسله الحمد لله سورة وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا، وائیٔ او دوهم رکعت کې به سورة ...

Maktaba Tul Ishaat.com

وَ اللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى آه ووائ اوسره ددی چی وَ اللَّيْلِ إِذَا يَغْشٰى آه تر وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا آه اوږد ده. اوداد حکم د مصنف منافي ده هُوَ په فرض لمانځه کی کراهت د تطويل الثانية مسلم دی. او په دريم رکعت کی به سورة وَالضُّحٰی وائی. او په څلورم رکعت کی به سُورَةُ أَلَمْ نَشْرَحْ وائی اوډ لخبره منافی ده. داول حکم سره د مصنف چی تطويل د رکعت اول په نفلو کی مکروه بولی نَعَم، تطويل د رکعت اولی په فرض لمونځو کی لکه د سحار لمونځ مسنون اجماعاً دی. او په غير کی د فجر هم مسنون دی په نيز د امام محمد قاله الملا مسکين. وفی النهر عن المعراج وعليه الفتوىٰ.

د رويش وائی چی حکم اول د مصنف په باره کی امام محبوبی او امام ابواليسر او ملا علی القاری او در مختار وائی چی نه دی مکروه لان النوافل امرها اسهل من الفرض، وهذا عند محمد.
او باته حکم ثانی سو په فرضی لمونځو کی متفق عليه دی، او بعض علماء وائی چی په نفلو کی داهم نه دی مکروه، کما نقلنا عن مشائخ الطريقة **دَزِيَات والى اندازه** مصنف خو په مَرَاقی کی دری ايت تطويل مکروه بولی. او کم تر درو ايتو تطويل د ثانی رکعت مکروه نه دی، په حديث شريف کی راغلی دی چی په يوه سفر کی آنحضرت صلى الله عليه وسلم د سحار په لمانځه کی معوذتين وويله او سره ددی چی قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ آه تر قُلْ أَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ آه يو ايت اوږد دی. او امام زاهدی وائی چی امام حلبی په هم تحسين کړی او وائی چی اندازه د تطويل د مکروه په اعتبار د سورتو مختلف کيږی. په قصار مفصل سورتو کی دری ايت تطويل کثير او مکروه دی. او په طوال مفصل کی پس او ايته لا زيادة يسيرة دی او مکروه نه دی. نو بناءً علی ما قال الزاهدی دا سوال نه وارديږی چی په صحيح حديث کی راغلی دی چی رسول الله صلى الله عليه وسلم د اختر و په لمونځو کی او د جمعی په لمانځه کی په اول رکعت کی سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْأَعْلٰى آه او په دوهم رکعت کی هَلْ أَتٰكَ حَدِيْثُ الْغَاشِيَةِ آه وايه او سره ددی چی دوهم سورت تر اول ۷ ايته اوږد دی.

پُوښتَنه: چی مصنف په مراقی کی په بيان کی د حکم ثانی چی تطويل د دوهم رکعت په نفلو کی صحيح دی او داسی وائی: الفرض بالاتفاق والتطويل فی النفل على الاصح آه

دا صح مقابل صحيح دی نو دی ته اشاره ده چی تطويل د دوهم رکعت په نفلو کی صحيح دی. نو دی ته اشاره ده چی تطويل د دوهم په نفلو کی صحيح دی. وهذا معمول الاکثر العلماء فی النوافل وعلى هذا اعتقاد الفقير وان لم يكن اهلاً للفتوى ولكن سهولة امر النفل حملنی على هذا»
که ځينی د نفلی لمونځو په نورو احکامو نظر وکړو. نو به په نفلو ډير سهولتونه او آسانی تر فرض ووينو. فليکن **تطويل** الرکعة الثانية على الاولىٰ فی النوافل ايضاً من قبيل تلک السهولات، وقد اشار محمد الى بعض تلک السهولات فی عدم کثرة تطويل الرکعة الاولىٰ على الثانية فی النوافل کما مر و الله تعالىٰ اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب.

قال المصنف **وَتَكْرَارُ سُوْرَةٍ وَّاحِدَةٍ فِيْ رَكْعَةٍ وَّاحِدَةٍ مِّنَ الْفَرْضِ**

او د غه نګ مکروه دی مکرر ويل د يوه سورة په يوه رکعت کی د فرضی لمانځه **مسئله**: تکرار د سورة په دوو رکعتو کی هم مکروه دی لکن کی بل سورة په ياد وو، او کی بل سورة په ياد نه وو لکه بعض عوام چی بيله، قُلْ هُوَ اللّٰهُ أَحَدٌ، په بل سورة نه وی پياد واجب ده چی هغه سورة به مکرر وی ولی چی ضم د سورة د فاتحی سره واجب دی کما مر، وجه د کراهت په په دوه رکعتو کی داده چی داسی د عصر نبوی څخه نه ده راغلی. **سَوَال**: په حديث نبوی کی داسی راغلی دی چی آنحضرت صلى الله عليه وسلم په اول رکعت کی د ماښام د لمانځه سورة الزلزال ووايه. او په دوهم رکعت کی هم هغه سورة ووايه **جَوَاب** عليه الصلوٰة والسلام قصداً د بيان د جواز دپاره هغه سورة ووايه په دوهم رکعت کی مکرر کړی.

مسئله: که سړی په اول رکعت کی يو سورة ووايه او بيا په هير سو چی ما کوم سورة وو اَ نو په دوهم رکعت چی سورة شروع کړی وه پياد سو چی دا سورت خو ما په د مخه رکعت کی ووايه. نو پس پوره دی کړی او دا سورت دی نه پريږدی: لقوله عليه الصلوٰة وَالسلام اِنْ اِفْتَتَحْتَ سُوْرَةً فَاقْرَأْهَا عَلٰى نَحْوِهَا **پُوښتَنه**: چی مصنف قيد د فرضی لمانځه ووايه ولی چی تکرار د سورة په يوه رکعت يا په دوارو رکعتو کی په نفلو کی مکروه نه دی لان شانه اوسع:

ولې چې حال د نفلو فراخ دی. او په صحیح حدیث کې راغلي دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم یوه شپه د تهجد په لمانځه کې تر سحاره یو ائیت وواید، "اِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَاِنَّهُمْ عِبَادُكَ" الاٰیة او ډیرو سلفو صالحینو څخه نقل سوي دي چې دوی به ټوله شپه په یوه ائیت د خوف یا ائیة الرجاء، یا ائیة العذاب، یا ائیة الرحمة، سره رونړه وله" قال المصنف

وَقِرَاءَةُ سُوْرَةٍ فَوْقَ الَّتِیْ قَرَأَهَا

او دغه رنګه مکروه دي ویل د یوه سورة یعني په دوهم رکعت کې چې فوق یعني د مخه وي تر هغه سورة چې ده ویلی وي یعني په اول رکعت کې. مثلاً یو سړي په اول رکعت کې قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ آه ووایه نو په دوهم رکعت کې قرائت د تَبَّتْ یَدَاۤ آه مکروه دي. چې وړي ته منکوس قرائته وائي." چې ابن مسعود رضي الله تعالی عنه په دې باره کې وائي: مَنْ قَرَأَ الْقُرْاٰنَ مَنْکُوْسًا فَهُوَ مَنْکُوْسٌ، که چا وایه قرآن شریف چپه یعني د اخیر د خوا نو هغه سړي سر چپه سړی دی

پوښتنه: په پارهٔ عَمَّ یَتَسَاۤءَلُوْنَ کې ټوله سورتونه منکوس ویلی کیږي **جواب** هغه د پاره د آساني پرکوشنیانو دي چې ده قصارو سورتو حفظ او وبنا آسانده تر لویو سورتو. او په لمانځه کې هغه ترتیب ویل مکروه دي. حتیٰ چې د قرآن ویل منکوس په کراهت کې بالا دي تر تکرار د سورة په دوه رکعتو کې. علماء او فقهاء وائي که د چا فهم نه وو په اول رکعت کې قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ووایه په دوهم رکعت کې دی هم دغه سورة ووائي. قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ دی نه وائي. او که چا قصداً په اول رکعت کې قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ووایه په دوهم رکعت کې به هم دغه سورة وائي که څه هم تکرار مکروه لازمیږي. ولې چې کراهت د منکوس ویلو بالا دی تر کراهت د تکرار السُّوْرَة فی الرکعتین"

فَائِدَه: په اشباه والنظائر کې وائي چې په نفلو کې قرآن مبارك منکوس ویل مکروه نه دي. ولې چې دائره د نفلو فراخه ده. او امام غزیؒ او حمویؒ هم دا خبره تائید کړېده او د امام ابو الیسرؒ څخه هم منقول ده" او هم پر دغه خبره یقین کړی دئ. بحر، ائق او در، والا وغیرها. لکن نقل الامام الطحطاویؒ عن بعض الفضلاء ولم یسمیه" هغه فاضل وائي.

چې د هغه خبرې څخه د مراقي چې نکس د پاره د تعلیم الاطفال دی دا معلومیږي چې د قرآن مبارك منکوس ویل خارج الصلوٰة هم مکروه دی. لکون الترتیب من واجبات القراءة نو په نفلو کې چې لمونځ خودی په طریق اولیٰ باید نکس مکروه وي، او دائره د نفلو که فراخه ده خو مطلقا نه ده بلکه په بعض احکامو کې آه:

قال المصنف

وَفَصْلُهُ بِسُوْرَةٍ بَیْنَ سُوْرَتَیْنِ قَرَأَهُمَا فِیْ رَکْعَتَیْنِ

او دغه رنګه مکروه دي جلا کول د مصلي په یوه سورة سره په مابین کې د دوو سورتو چې ده ویلي وي هغه دوه سورته په دوو رکعتو کې. حاصل یې دا دی چې لمونځ کوونکی په اول رکعت کې یو سورة ووایه. او په دوهم رکعت کې هغه متصل سورة پریښوو، پسې سورت یې ووایه داسې فعل مکروه دی. او بعض فقهاءُ وائي چې دا د مابین سورة چې ده پریښو که اوږد وو یعني لس ائیت تر هغه وو بیا مکروه نه دئ. ولې چې په فتح شریف کې وائي چې دوه سورته لنډ که په مابین کې پریښي دي مکروه نه دی نو دا یو سورة طویله چې ده پریښوه ځای کې د دوو لنډو سورتو دریږي قاله البحر الرائق وینبغي ان یفتیٰ به" ط، بحر، در، قال المصنف

وَشَمُّ طِیْبٍ قَصْدًا اَیْ وَتَرْوِیْحُهُ بِثَوْبِهٖ اَوْمِرْوَحَةٍ مَرَّةً اَوْمَرَّتَیْنِ

او دغه رنګه مکروه دي بویول د خوشبوئي په قصد سره او باد کول په لمن یا لنګوټه وغیره سره پرځان باندې. او یا پیک وهل پرځان یو وار یا دوه واره **پوښتنه:** د شم طیب مطلب دا دی چې د خوشبوئي عطر و بنیښه وپزه ته ور نسي او بوي ئې کړي. او که عطر د مخه تر لمانځه په ځان پوري مښلی وه او هغه خوشبوئي په لمانځه کې د ده تر پزې پوري رسیده له هغه کراهت نه لري **مسئله:** که سړي د سجدې ځای په عطرو وهلی وو او یا د عطرو د بنیښې سر خلاصي د سجدې ځای ته نږدې ایښي وه چې په سجده کې خوشبوئي پرځي دا کار هم مکروه دی. او که د عطرو بنیښه پلاس کې نیولې وه او په لمانځه کې بې ګړي ګړي بو یول لمونځ یې فاسد دی. ولې هر څوك چې دی په دغه فعل کې وویني یقین یې راځي چې

Maktaba Tul Ishaat.com

داسې پر لمانځه نه دی. اوبعض شراح د منية المصلى وائي که دا کار په عمل کثير نه وو لمونځ يې نه دی فاسد ط ، اويا د کول پرځان باندی په لمن وغيره سره يو وار يا دوه واره که غرم عمل قليل دی مکروه دی. اوکه درې واره لمن ووهل چې اندازه د عمل کثير ده لمونځ يې فاسد دی. اوپه ذخيره کې وائي که پښک يې يو وار پرځان ووهی لمونځ يې فاسد دی، بخلاف الثوب چې هغه مکروه دی چې درې واره نه وي، سيري. ونقله رضى الدينؒ فى المحيط عن المنتقى، **مسئله**: په لمانځه کې سپخان يا غوماشي د ځانه ځنې شړل مکروه دی مگر کې مصلی په عذاب کې نو په عمل قليل دی وشړي. **پوښته**: چې په کور يا مسجد کې باد پکه، وه يا هوائي يا زميني چې باديه پر مصلی مبنتی کراهت نه لري که څه هم د ده کالی ورښوروي.

قال المصنفؒ:

وتحويل اصابع يديه اورجليه عن القبلة فى السجود وغيره او د غه رنګه مکروه دی اړول يعنی چپول د ګوتو د لاسو اويا د پښو جهته ځنې د قبلی په سجده کې يا په غير کې د سجدی. ولې چې په دې ترک د موضع مسنون دی. لقوله عليه الصلوة والسلام: فليوجه من اعضائه الى القبلة ما استطاع. د ما استطاع قيد په ددی د پاره دی چې د بعضی اندامو مخامخ والی وقبلې ته ممکن نه دی لکه شاه، اولوړه خوادسرې اوکښته خوادسرې. قال المصنفؒ:

وترك وضع اليدين على الركبتين فى الركوع او د غه رنګه مکروه دی نه ايښوول د لاسو پر زنګنو په رکوع کې. وزاد عليه فى المراقى. او د غه رنګه مکروه دی نه ايښوول د لاسو پر ورنو په مابين کې د دوو سجدو، اوپه وخت کې د التحيات، او د غه رنګه مکروه دی پرېښوول د ايښوولو د استه لاس پرچپه لاس په وخت کې د ولاړې: د دې ټولو دليل دا دی چې په دې کې ترک د سنت لازميږي نوکراهت د ټولو تنزيهي دی، مرط،

درويش وائي چې د دی مکروها تو زيا تولو ځنې د مراقي دا معلوم سوه چې مصنفؒ چې په سرکې د فصل وويله چې مکروهات د لمانځه ۷۷ هغه تقريب وو حصر نه وو، کما نبّه عليه

فى المراقى هناك بقوله تقريبًا لا تحديدًا، قال المصنفؒ:

والتثاؤب او د غه رنګه مکروه دی ارږمي په لمانځه کې. ولې چې دا علامه د تکاسل او د پرخورلو ده غالبًا، **مسئله**: که پر سړي ارږمي غالبه سوه نو دی د ې خوله ټينګه کړي که څه شونډان په غاښونو ټينګوي. اوکه ارږمي په غاښونو دفع کېدله نو دی د استه لاس شادی پرخوله ونسي. اويا دی لستوڼي پرونسی که په حال کې د ولاړې وو. اوپه ناستی وغيره کې دی چپه لاس پرخوله ونسي. په حديث شريف کې راغلی دی: چې خدای مکروه ګڼلی ارږمي، پس څنګه چې ارږمي ورسی هغه دی رد کړي اولاس دی پرخوله ونسي **مسئله** که دفعه د ارږمي د شونډو په ټنګيدو سره کېدله پرخوله لاس ايښوول مکروه دی، ط، ن، ولې چې خوله پټول په لمانځه کې مکروه ده مگر د ضرورت له سببه" س، قال المصنفؒ:

وتغميض عينيه او مکروه دی پټول د سترګو په لمانځه کې. لقوله عليه الصلوة والسلام اذا قام احدکم فى الصلوة فلا يغمض عينيه، ولې چې په پټولو کې کتنل و محل مندوب ته چې ځای د سجدې دی يا ځيګر دی په ولاړې اونا سته کې فوتيږي نوچونکه صريح نهی راغلی دی نو کراهت تحريمي دی. لکن په بحر رائق کې وائي چې بنائی دا کراهت به تنزيهي وي چې بيله ضرورت او مصلحته وي.

درويش وائي چې دا خبره منافی ده د هغه قانون سره چې صريح نهی دلالت پر کراهت تحريمي کوی کما مرّ مرارًا عن ط وغيره بل عن البحر ايضًا: والجواب چې د دغه حديث په سند کې ضعف دی کما فى البحر، **فائده د سترګو پټولو**: ۱ دا چې سترګې د دې د پاره پټی کړي له دی سببه چې نظر يې پر يو داسی شی واقع کېدی چې مانع د خشوع وو" نهر، ۲ چې کمال خشوع يې بيله پټو سترګو نه سوای کولای" در، ط، ۳ غرض د پټولو د سترګو دده دا وو چې نظر يې د اغيارو ځنې قطع سی او توجه يې يوازی و ملك غفار ته سی مجمع الانهر ط، قال:

ورفعهما للسماء او د غه رنګه مکروه دی پورته کول د سترګو و طرفته د اسمان په لمانځه کې لقوله عليه الصلوة والسلام: ما بال اقوام يرفعون

ابصارهُم الى السماءِ: غه حال دی د بعض اقوامو چې پورته کوی سترګې وطرفته داسمان لَيَنْتَهِيَنَّ. یا به دوی نهی کیږی دَدَغه عمل څخه اَوْ لَتُخْتَفَنَّ او یا به حمله کیږی ی اَبْصَارُهُمْ ددوی سترګې. در ولیشو وَائیٔ چې د دغه وعید شدید څخه تحریم معلومیږی. او اجماع دامت پردی ده چې دا فعل په لمانځه کی مکروه دَیٔ.

مَسْـئَـلَه: دبانده ی تر لمانځه د دعاء په وخت کی سترګې واسمان ته پورته کول په نیز د جمهورو رَوَادی. ولې چې اسمان قبله د دعاء ده لکه چې کعبه شریفه قبلة الصلوٰة ده. افاد العلامة نوح ؒ کذا قال الامام الطحطاویؒ. قَالَ **وَ اَلتَّمَطِّیْ** اود غه رنګه مکروه دی کشش کول په لمانځه کی. مراقی په علت داوائی چې تمطی د تکاسل او سستی په عبادت کی علامه دَه نو مکروه تنزیهی ده» ط، قَالَ **وَ الْعَمَلُ الْقَلِیْلُ** اود غه رنګه مکروه دی عمل قلیل په لمانځه کی. لکن هغه عمل قلیل چې منافی د لمانځه سره وي لکه کښل دولېنده دبږیری یا سر وغیره. او یا و یشتل د غشی په صلوٰة الخوف کی. یا د مصلی بی ضروره ته تګ» علامه طحطاویؒ وَاَمَّا المطلوب فیها فهو منها کتحریك الاصابع لِعَدّ التسبیح فی الصلوٰة یعنی که چیری د عمل قلیل مَطلوب وي په لمانځه کی نو هغه دَ لمانځه د قسمه څخه دی لکه ګوتې بنوروَل دپاره د شمیرلو دَتسبیحا تو لکه په صلوٰة التسبیح کی.

پوښتنه چې په ډیرو کتابو کی د فقه حنیفه داسی وائی چې شمیرل دَ تسبیحا تو په ګوتو سره په صلوٰة التسبیح کی مکروه دی فَمَا وجه الجمع بین مَا قَالُوا وَقَالَ **جواب** چې عبارت د فقهاوو محمول پردے دی چې ګوتې خلاصوی او مټوی یه دپاره د حساب دَ تسبیحا تو د صلوٰة التسبیح. او دابی له شکه مکروه دی. او مراد د طحطاویؒ چې ګوتې صرف بنوروي یعنی ګوته خپل پر ځای ټینګه او سسته وي په نیز دَ تسبیح ویلو دا مکروه نه دی. وهو وجه التطبیق هدیت الیه بالتوفیق فلیکن منك علی ذکرٍ. قَالَ المُصنفؒ

وَاَخْذُ قُمْلَةٍ وَقَتْلُهَا اود غه رنګه مکروه دی راخستل د سپږې او بیا په وژله. لکن دا هلته مکروه دی چې مصلي ته ازار نه رسوی. او کې ازار ورسوی یعنی مصلی لی خوړی او د لمانځه د خشوع خخه ئې ایستلی وي او هغه ځای

درد هم کاوه نو په نیول او وژل روادی. لکن دوېنو څخه دی ځان ساتی ولې چې امام شافعیؒ په وینه مردار بولي. **پـوښـتـنـه**: دامام ابویوسفؒ څخه روایت دی چې اخستل د سپږی او وژل د هغی په لمانځه کی مکروه دی **جواب** چې هغه روایت محمول پردی دی چې قصدًا دی بیله عذره » قاله الحلبیؒ:

پُوهـسَـلَه: چې د کیکی، غماشی، میږی، مچ، هم دا غسی حکم دی په عذر او ایذاء کی او بیله عذره فافهم. **مَسْـئَـلَه**: چې سپږې که سري زهیر کړي او ده وښولو نو یا د قتل کی او یادی بنخه کړی والدفن اولیٰ. لکن دا په غیر کی د مسجد او په مسجد کی په لمانځه کی که په عمل قلیل وژل کیدَ له مړه دی کړي او ور ونه دی د بے نه ایله کوی لان الموذیات لاتطرح فی المسجد» او کی مړه کړه پوستکوي په مسجد کی نه غورځوی» ط

وَتَغْطِیَـةُ اَنْفِهٖ وَفَمِهٖ وَوَضْعُ شَئٍ فِیْ فَمِهٖ یَمْنَعُ الْقِرَئَةَ الْمَسْنُوْنَـةَ او د غه رنګه مکروه دی په لمانځه کی پټول د پزی او د خولې یعنی په ټکره وغیره سره چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم د دغه پټولو څخه منع کړیده کمامَرَّ. او د غه رنګه مکروه ده ایښوول د شئ په خوله کی چې لمونځ کوونکی منع کوی د قرائت څخه په وجه مسنونه باندې. **پـوهـسَـلَه**: چې د دی مسئلی تفصیل داسی دئ چې په خوله کی نیولئ شئ یا به داشئ وي چې نه و بلیږی لکه سره زر، وغیره نو دغه شئ منع کاوه لمونځ کوونکی د اصل قرائت څخه، او یا په قرائت کی داسی تغییر راتی چې لمونځ په فاسد یدی نو لمونځ د ده فاسِد دی. او که دغه شئ منع کاوه قِراءت واجبه نو د دغه شی څخه لمونځ مکروه تحریمی دئ. او کی قرائت مسنونه منع کاوه نو د دغه شي وضع مکروه تنزیهی ده. او که دغه شی داسی وو چې په خوله کی وِلیدئ لکه ګوړه، بوره، پلمیټ، وغیره نو کی د هغه شی او به تیری کړې لمونځ یه فاسِد دی که څه هم بیله ژوولو تیری کړي، س، ط، قَالَ المُصنفؒ

وَالسُّجُوْدُ عَلٰی کَوْرِ عِمَامَتِهٖ او د غه رنګه مکروه دی سجده پر وَله دَ لنګوټی باندی. او د اکراهت تنزیهی دی. ولې چې په

Maktaba Tul Ishaat.com

حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صَلی الله علیه وسَلم د پاره دبیَان دجواز په لمانځه کی پروَله دلنګ ئی تر سجده وکړه. **پوښتنه**: چی که ضرورت وو لکه ډیره ګرمی اویا ډیره یخنی وه اویا ځمکه ډیره زیږه وه نوبیا کراهت نشته، اوتکبرًا مکروه ده، مر، ط عز.

قَالَ المصنفؒ **وَعَلیٰ صُوْرَةٍ** اوداغسې نګه سجده مکروه ده پربت باندی، لکن چی ذی روح شئ وی کما فی المراقی. ولې چی په دی کار کی مشابهت دعبادت دبت دی. نود درختی وغیره پرصورت باندی سجده نه ده مکروه

پوښتنه چی دصورت چی د ذی روح وی په مسئله کی تحقیق اوتفصیل ته ضرورت شته. نوغوږ ونیسه زده یې کړه اوعمل هم په کوه. **افسوس** په اوسنی زمانه کی بعض کوڅې والا خلګ اویا پیشینی کسَان څپلوکورو کی په الماری کی. اویا پرسرتاخو دقیمتی ډېرو څخه مجسمی بتان، د ښځیانو، دنو، وحیوانانو یې ایښی وي. اوپه عموی کوروکی د مسَالی مجسمی دپیلانو، زمریَانو، اود نورو اقسامو دحیواناتو پرسرتاخو اوالماریوکی معلومیږی. اودکورد کچنیانو د پاره دغه مجسمی دبازار څخه، انیسی. نو اشد دَدغو بتانو هغه دی چی دلوبنځ کوونکی ومختوي. اوبیا هغه بت چی پرسریَه برابروي. اوبیَا هغه بت چی ترشاوي. فقهاء حضراتؒ بت دوه قسمه بولي.

بت دوه قسمه دئ: یو مجسمی، اوبَل ظل شمسِی، چی عکس اویا فوتو یې بولي ددوارو حکم یودی په حرمت کی چی پوره وی. اوکه سریَه پرې وو بیا یولا حُرمَت نه لري اوهغه خبره چی طحطاوی مصري په خپل مجسم تفسیرالقرآن کی کړېده چی د ظل شمسی بت اوعکس حرمت نه لری. نوځکه دده تفسیر په دغو بتانو ډک دی پرهغه مذهبی کسانو اوعلماوو دتولې نرې، دکړی دی خصوصًا علماوو د قندهار افغانستان چی هغو دی خبری په ردکی مکمله رساله جوړه کړېدَه. او دُه دغه تصویرونه اوعکسُونه یې دقرآن شریف اهانت ګڼلی دئ.

پوښتنه: چی په مجسموکی خواعتبار سرلره دی. چی سَریَه باقی وی نوکی پښی او لاسونه پری وی هم حرام دی. اوظل شمسی په عکسوکی بعض فقهاؤ دا فتوی ورکوی

که داعکس تر داسی ځایه پوری وو چی انسان چی پرهغه ځای پری کړي بقا نسی کولای کی څه هم سر باقی وي. لکه پرمروجولوتیو، اویا پر پاسپوتیو، او نورمثالونه. نود داسی عکسودرلودل دځانه سره حرام نه دی ،، لان الضرورات تبیح المحظورات،

اوهغه عکسونه دَښځو یانرو چی په مکمله توګه دبته فروشیوپه دوکانوکی دفاحشاتو ښوځیږی دهغوپه حرمَت کی هیڅ شک نشته ،، اویا په اوسنۍ زمانه کی په وی سی آروکی چی ښځی دَلخوسرتر پایَه ښځواونرو عکسونه ښکاره کوی ستی چی دجماع عکس یادښځی دلنګیدو عکس هم په کښی وی. ددی په حرمت کی هیڅ شک نشته او ورته کتلوکی یې ګناه کاردئ. وعلی هذا فتس الآلة المسمات بتلویزون فی بعض الامور فتدبر.

فائِدَه فقهاوو تصریح کړیده که چیری تمثال یعنی بت تر پښولاندی وو اویا په ځای کی دناستی وُو. پرهغه کی کراهت نشَته. ولې چی دا اهانت دتمثال دی تعظیم نه دئ. **سَوال** چی په حدیث کی دجبرئیل علیه السلام راغلی دی ،، اِنّا لاندخل بیتًا فیه کلب ولاصورةٌ،، نود دغه حَدیث په عموم کی خوما تحت الرجلین بیاکل الجلوس،، بت هم داخِل دی نوبا ید هغه مکروه سِی. **جَوابْ** د دغه حدیث مخصص موجوددی چی یو وخت حضرت جبرئیل علیه السلام اجازه وغوښتل دعلیه السلام څخه دحجری دورتلو. علیه الصَّلوٰة والسلام ورته وویَل اُدْخُل،، جبرئیل علیه السلام منع وکړه او وی ویَله: کیف ادخل وفی بیتك ستر فیه تصاویر، فان کنتَ لا بدفاعلًا فاقطع رؤسها او اقطعها وسائد اواجعلها بسَاطًا،

سَوال ددی جَواب څخه خودا معلومیږی چی که بَت په بساط کی وی که څه هم په ځای کی دسجدی وی باید کراهت ونه لري. **والجواب** ان فی هذه الصورة فیه تشبیه بعباد تها حالة الرکوع والقیام وغایة تعظیم لها ان سجد علیها،، ط در

فَائِدَة، امام طحطاویؒ وائی چی په دی موضوع کی چی صَوت دحیَوان پردراهم اودنانیروی یعنی کافی نقش وي. آیا دامانع د دخول څخه دملکو ګرځی اوکه څنګه! قاضی عیاضؒ په شفاء کی وائی چی مانع نه ګرځي. اوامام نوویؒ په شرح کی دمسلم وائی

چې مانع ګرځي. ذکر ولشي وائي چې فتوی پر قول د قاضي عياض ده لضرورة الناس في حفظ الدراهم والدنانير في الدور والبيوت: او مُلا علي قاريؒ په شرح کې د مشکوٰة د امام خطابيؒ څخه نقل کړي او د ابن الملک څخه هم چې ملائکه چې نه داخليږي ورکورته چې په هغه کې سپي يا صورتونه دي چې په کور کې ساتنه حرامه وي لکه د ښکار سپي يا ځنډر کې په اوس زمانه کې. يا مجسمه د زمريانو وغيره کما مرذکره يا د ظل شمسو مکمل د ليدو دانو يا پلار، وغيره. او کې ساتنه په کور کې روا وه لکه د ښکار ساتنه او يا د کښت او پاليز او باغ د ساتنې سپي او يا د کور د ساتنې د پاره د غلو څخه، او يا هغه صورتونه چې تر پښو لاندې کيږي او يا د تکيه په بالښتا نو کې وي هغه د دخول د ملکو نه منع کوي. وهغه کورته

د پاره خبره

مراد د غو ملکو څخه چې کورته نه ورځي په سبب د وجود د سپي يا په سبب د صورت ملکې د رحمت دي. ولې کراماً کاتبين، چې حفظ ريه بولې د سړي څخه نه جلا کيږي مګر نه هغه وخت که سړي چکروځي. او يا د ماينې سره جماع کوي. بايد د مذهب څخه د قاضي عياضؒ سړي دا نه فهموي چې عکسونه اخستل نو روا دي بلکه بيله ضرورته لکه د پاسپورټ د پاره يا جواز تجارت د پاره وغيره عکسونه اخستل نا روا دي. «لکونه نوعاً من التعظيم»

غلطيا: بعض عوام مريدان د خپل پير عکس مکمل واخلي او په بينداره کې ونسي او په کور کې ښنه په احترام وځروي دا سخته ګناه ده. او تشبه ده د قوم نوح عليه الصلوٰة والسلام سره چې هغوا ولاد صالحانو خلګو عکسونه بې د پاره د عبرت په کور کې ايښود ل رفته رفته اخر په عبادت د هغو شروع کړي. قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالْاِقْتِصَارُ عَلَى الْجُبْهَةِ بِلَا عُذْرٍ بِالْاَنْفِ

او د غه نګه مکروه دي يوازې پر تندي سجده کول چې په پزه کې عذر هم نه وي. او کې پزه

زخمي يا خوږ يدل بيا نو اقتصار پر تندي روا دي بلا کراهته، مراقي وائي لترك واجب ضم الانف الى الجبهة في السجود فيكون الاقتصار المذكور مكروه تحريمًا، او د غه نګه مکروه دي يوازې پر پزه سجده بيله تندي پر نيز د امام اعظمؒ که څه هم عذر نه وي يعني سجده يه روا ده سره د کراهته» او ياران وائي چې بيله عذره په تندي کې سجده يه روا نه ده

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَالصَّلٰوةُ فِي الطَّرِيْقِ وَالْحَمَّامِ

او د غه نګه مکروه دي په لاره کې او په حمام کې لمونځ کول.

په لاره کې خود دې سببه چې لار د عامو خلګو حق ده او د ورڅخه مشغوله کړه. او بل خلګ په د تيريدو څخه منع کوي، او بل د مصلي زړه په خلګو سره مشغوله کيږي نو خشوع ترې لا ځي تاوان دی، قال شارح المشكوٰة چې دا كراهت چې دي په كلوا وقريو كې دي چې د خلګو عبور او مرور په لاره کې ډير وي. او په صحرا او د ښتو کې ئ نه لري لعدم العلة للكراهة هنا كـ.

پوښتنه: چې د حمام د لمانځه د کراهت وجه بعض فقهاؒ دا وائي چې دا محل دی د ازالة د نجاساتو. او ځای دی د اوبوتويولو د غسلونو. که دا علت وي نو که يو سړی په حمام کې يو ځای په پاکو اوبو پريمنځي نو لمونځ بيا مکروه نه دی. وهذا مذهب قاضيخانؒ و بهذا جزم الكمال في زاد الفقير. او بعض فقهاؒ په علت دا بولي چې حمام متراو ماوی د شيطانانو دی، كما روى ان ابليس لما نبط الى الارض يعني شيطان چې راند ه سو او د اسمان څخه و مځکې ته راشوه سُو. نو خدای ته ئې خواست وکی چې ماته يوه خونه راکړي خدای ورته وويل چې ستا خونه په حمام. شيطان ورته وويل چې ماته د ناستې ځای راکړي خدای ورته وويل ستا د ناستې ځايونه بازارونه دي. ابليس ورته وويل ماته ملګري راکړي. خدای ورته وويل چې ستا ملګري شاعران دي يعني هغه شاعران چې د فسق او فجور غزلې جوړوي يا په ښځو پورې يا په هلکانو پورې. لکه شاعران د زمانې د جاهليت. نو پر دې تقدير که څوك په حمام کې يو ځای پاك پر يولي هم لمونځ په کښې مکروه دي

پوښتنه چې سړی بايد په حمام کې لمونځ ونه کړي مګر د جهته د ضرورته د فوت د وخت د لمانځه:

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: په هغه ځای کې چې حمامې کښېنې او خلګ کالې کېږي لمونځ مکروه نه دئ. ولې چې نه داځای محل د نجاست وي او نه مقرد شیطانانو دئ: قال المصنف

وَفِي الْمَخْرَجِ او دا غشې نګه مکروه دی لمونځ په مکان کې یا په اصطلاح تشتې کړځه هم محلّ په سمیټ وي او یا په کاشي خښتو فرش وي. او پوښ
درونکي لګو د هم هم په کښې پروت وي. ولې چې اصل وضع د دې ځای دغولو بولو
کولو د پاره دی. نو عبادت خصوصاً لمونځ په کښې مکروه دی» قال المصنف

وَفِي الْمَقْبَرَةِ او دغه رنګه لمونځ مکروه دی په ادیره کې. ولې چې په دې کې تشبه د يهودو او نصارا او وره ده قال صلى الله عليه وسلم لعنة الله
على اليهود والنصارا اتخذو قبور انبيائهم مساجد،
طحطاوی وائي چې که قبرونه لوړوي او یا ترشاوي او یا د سړي تر پښو لاندې په بربخا نو کښې
وي. قال ويستثنى قبور الانبياء عليهم السلام. نو د دوی په مقبره کې لمونځ مکروه نه
دی تر هغو چې د قبلی وخوا ته نه وي» لانهم احياء في قبورهم؛ قال شارح المشكوة چې قبر د
اسمٰعيل عليه الصلوٰة والسلام په حطيم شريف کې تر ميزاب الرحمة لاندې دئ. او په ماېين
کې د حجراسود او د زمزم د څا قبرونه د او یا انبیا نو دئ. او سره د دې چې دغه دوه ځایه
بنه ځایونه د لمونځ دي. او قهستاني د کتاب الجنائز څخه د مضمرات نقل کوي چې وجهت
ته د قبر لمونځ مکروه نه دئ مګر هغه وخت چې ډیر نژدې ورته ولاړ دی حتی چې که مصلی
هر څو د خشوع لمونځ کوي خو بیا هم په سترګې په قبر واقع کېږي. دَرُولِش وائي چې د
قهستاني د روايت څخه دا معلومه سوله که قبر تر شا د مصلی وي نو لمونځ مکروه نه دی، وهذا
خلاف ما قال الطحطاوي كما مَرّ. وعلى هذا» و مختار د قبر د میت صالح خلګ د لمونځ
کوونکي ځای پرېښ دی چې میت په تر شا راځي. نو په ځای کې نفل مکروه نه دئ. کما في مقابر
اولياء هرات ومقابر صالحي غزنين» والله اعلم بالصواب:

پوښتنه: چې په یوه حدیث صحیح کې راغلي دي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم
نهی کړې دی د لمانځه څخه په اوه ځایه کې علی المزبلة یعنی خاک انداز د کوړ

۲ المجزرة او د اوښانو او یا غوبیو د قصابی ځایونو کې. د دې دوو ځایو علت د کراهت خو
معلوم دی چې دا دوه ځایه محل د نجاساتو او د وینو او خوشیو دی ۳ و المقبرة او په
ادیره کې د دې د کراهت وجه ذکر کړه سوه ۴ وقارعة الطريق او په ما بين کې د لاري
د دې تفصیل هم د مخه تیر سُو. ۵ ومعاطن الابل یعنی ځای د څوکید و د اوښانو
وقال یحیٰ بن آدمؒ چې د لمانځه د اوښانو ځای دا ده چې اوښان په اکثر کې یو پر بل
حملی کوي. نو د دوی د جنګ څخه بېره ده دی سته چې لمونځ کوونکي به تر پښو لاندې کړي.
دَرُولِش وائي وَلَا اقل تر دې چې لمونځ کوونکي به په تشویش کې واچوي. او حضور د لمانځه
به د لاسه ورکړي. ومعنى كونها من الشياطين كما في الحديث النبويؐ انها على خصلة
الشياطين في النفار وتشويش خاطر المصلى»

پوښتنه: چې نهی د لمانځه څخه د اوښانو د ځای تنزیهي دی ط» دَرُولِش وائي
چې نجاست د ځای د لمانځه په بولو د دوی سبب د کراهت نه دئ. ولې که دا علت وائي
نو په مرابض الغنم یعنی د پسود سکونت ځای (ګاشونه) کې باید هم لمونځ مکروه وای
ولې چې بېره د نجاست د ځای په بولو بره هلته هم موجود دی. او سره د دې چې په حدیث شریف
کښې راغلي دي چې د آنحضرت صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه سوه د لمانځه په ګاشو
کې د پسونو. ده مبارک ورته وویل" صلّوا فيها فانها خلقت بركة» او دا امر صرف د
پاره د اباحت دی. او د معاطن الابل د لمانځه څخه ئې نهی وکړي. یعنی په سبب خوف د فتنی کما مر

سؤال: ځای د غویو او غواوو د کیمه قسمه څخه دی ط **جواب** وائي چې
هغه په مرابض الغنم پوري ملحق دی نو لمونځ په هغه ځای کې مکروه نه دئ» شارح المشكوة
وائي چې په مرابض الغنم کې دې په مصلی لمونځ کوي» یا په هغه ځای کې یوه دو کانچه
وه چې آراسته د لمانځه د پاره وه او یا ده شپانه د پسود اعادت دی چې د پسو ځای بې
پاک ساتي نو بیا لمونځ مباح دی په هغه کې. دَرُولِش وائي که مرابض الغنم څخه بد بوئي
ولاړېږه. نو په سبب د بد بوئي لمونځ په کښې مکروه دی که څه پر پاک ځای وي. قال
مثل ذالك ابن الملكؒ في محل الابل»

فَـائـدَه: قال العینیؒ فی شرح البخاری فی بحث المساجد من کتاب الصلوٰة ، چې مکروه دی لمونځ په ... ت ځایونو کښې دَیهودو او نصارٰی وُو. ولې چې په هغوی کښې دوی عکسُونه ایښي دی نو ځای د شیطانانو دَیْ.

نو د هندوانو په مندرونو کې په طریق اولیٰ لمونځ مکروه دی. ولې چې هلته خو مجسمې د بُتانو پراتې وی کوم ته هم سړی وجسمه ته لمونځ نه کوی بلکه پرې بل ځای یې کوی، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَاَرْضُ الْغَیْرِ بِـلَا رِضَاهُ او د غیر زمکه لمونځ مکروه دی په ځمکه کې د بل چا بې له رضا د هغه یعنی یا حقیقةً یې رضا وی لکه د کښت په ځمکه کې حقیقةً رضا غواړي یا حکماً رضا وی لکه په شاړه ځمکه کې دیو چا»

مَسـئَلَه: که سړي ته د لمانځه په وخت یوه ارض الغیر وه چې کښت هم نه وو پکښې او بله لاره وه. نو دی به چیری لمونځ کوی په لاره کې به لمونځ کوی او که په هغه ځمکه کې!

جَوابُ: که ځمکه د مسلمان وه په هغه کې دی لمونځ وکړي لوجود الاجازة حکماً او که ځمکه د کافروه نو په لاره کې دی لمونځ اداء کړي» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَقَرِیْبًا مِّنْ نَّجَاسَةٍ او د غیر نګه مکروه دی لمونځ نږدې ځای ته د نجاست لان قریب الشئ له حکمه» قاله المراقی »درویش وائی چې اندازه دَقرب داده چې یاد هغه نجاست بَدبُوئی پرده ولاړېږی. او یا داچې که چیری دی په سبب خشوع سره لمونځ کوی هغه مرداری وینې، در» قَالَ المُصَنِّفُ

وَمُدَافِعًا لِّاَحَدِ الْاَخْبَثَیْنِ اَوِ الرِّیْحِ او په داسی حال کې لمونځ مکروه دی چې لمونځ کوونکی دَځان د فع کوی یو د اخبثینو یعنی غُل یا بَولې او یا دفع کوی گوز یا پسکی یعنی چې لمونځ کوونکی ډیر غولونیولی وي. او یا بولو. چې کُنه تینګه کړی. او چونکی د بولود سَبب په ورنو کې تینګ نیولی وی. او یاد نَس بادیه کښته راشوه سی. دی کُنه ورته تینګه کړي. وجه د کراهت یه داده چې د مُصَلی تهوله فِکر په دَغوشیانو کې وی. د لمانځ خشوع چیری ده:

مَسـئَلَه: که جماعت تیریږی هم دی جماعت پریږدی خپل ځان دی تش کی باد دے و باسې بیا دی او د س تازه کړي په فارغه زړه دی لمونځ وکړي. او ظواهر الحدیث والاٰوائی چې لمونځ یې په دغه حال کې صحیح هم نه دی. او دوی په ظاهر د حدیث عمل کوي. وهو قوله علیه الصلوٰة والسّلام لا یحل لاحد یؤمن بـ الله والیوم الاخر ان یصلی وهو حاقن حتیٰ یتخفف» حاقِن» هغه سړی ته وائی چې غولو یا بولو نیولی وي. او دا د حکم هم دا غه دَیْ. مونږ وایو چې دا وعید تغلیظًا دی» ولې چې علت د کراهت یه شغل القلب دی نو که د سړي فکر په لمانځه کې په دنیائي امورو کې وی لمانځه ته یې هیڅ فکر نه وي نو د هغه لمونځ دی هم باید صحیح نه وي. در»

فَوَائِدُ شَتّٰی ۱ ځمکه که د کافروه مطلقًا لمونځ په کښې مکروه دی. او که د مسلمان وه او کرلی یې وه او یا ئې یوې کړې وه لمونځ په کښې مکروه دی. که په مابین کې د لمونځ کوونکی او د صاحب الارض محبت او دوستی نه وَه. او که د مسلمان وَه نه کرلی او نه یوې سوې وه بیا لمونځ په کښې مکروه نه دی. ولې چې د مسلمان د حال څخه دا ښکاره کیږي چې دی په دې لمانځه کې راضي دی» ولې چې ده ته ثواب خدای پاک ورکوی بیله دَده دَعمله مګر که صاحب الارض بد اخلاق وو نو بیله اجازې لمونځ مکروه دی» په مختار الفتاوی او فتاوی هندیه کې وائي چې په مغصوبه ځمکه کې خو لمونځ مکروه دی» ولکن دحق العبد عقاب ور کول کیږي»

مَسـئَلَه: په مغصوبه جامه کې لمونځ مکروه دی که څه هم بله جامه نه وی» لعدم جواز الانتفاع بملك الغیر قبل الاذن او اداء الضمان ط» **مَسـئَلَه** په وریښمینه جامه کې هم لمونځ مکروه دی. او که بله جامه نه وه نو په دغه وریښمینه جامه کې دی لمونځ وکړي ولې چې دا د واړه حق الله دي. لکن لمونځ په ثوب الحریر کې کول سپك دی تر لمانځه په لڅه بدن سره لمونځ کولو سره. **مَسـئَلَه:** په وریښمینه جامه لمونځ کول مکروه نه دیٔ ط

قَالَ المُصَنِّفُ **وَمَعَ نَجَاسَةٍ غَیْرِ مَانِعَةٍ اِلَّا اِذَا خَافَ الْوَقْتَ اَوْ** او د غیر نګه لمونځ مکروه دی سره د نجاست خواه په جامه کې وی. او یا په بَدن کې.

Maktaba Tul Ishaat.com

الْجَمَاعَةِ وَالْاَنْدُبَ قَطْعُهَا او یا په مکان د لانځه داسې نجاست چې مانع د لانځه هم نه وي یعني په
قدر د ربع الثوب په خفیف نجاست کې. او په قدر د درهم په مغلظ نجاست کې
کما مر تفصیله» مګر هغه وخت بلکې مکروه نه دی لمونځ سره د نجاست. که سړی بیریږي
چې نه که نجاست پرې منځ وخت د لانځه وزي. او یا جماعت راځي تیریږي نو کې
داغسې بیره وه نو د هغه نجاست سره دی لمونځ وکړي. ولې لمونځ د وخته ځنې ایستلو
حرام دی. او جماعت خو سنت مؤکده یا واجب دی علی اختلاف الروایتین» او که نه
بیره د وخت د وتو وه او نه د جماعت د تیریدو وه. بیا مندوب ده چې نجاست دی قطع
کړي بیا دی لمونځ وکړي:

پوښسه: چې د مصنف د عبارت ځنې داسې فهمیږي چې په وخت کې د بیرې د
فوت الوقت یا فوت الجماعة نو هیڅ کراهت نشته، او امام طحطاوي وائي چې کراهت خو
باقي دی. لکن د نجاست سره لمونځ کول اخف الضررین یعني سپك ضرر دی مختاره
کړي. مطلب دا چې لمونځ د نجاست غیر مانع سره سپک دی. د لانځه تر قضاء کولو
او یا د جماعت تر پریښودلو. **فائده**: که لمونځ قضاء کیدی په هغه صورت
کې چې مصلی مدافع د احد الاخبثین وو» یعني چې دی ځان خالي کوي او بیا او دس تازه
کوي وخت د لانځه تیریدی. او یا په اوسنې صورت کې چې نجاست لیري کوي وخت
وتي» په دواړو صورتو کې دی لمونځ نه قضاء کوي. ولې چې اداء د لانځه سره د کراهته
اولی دی تر قضا کولو د لانځه»

او په صورت کې د مدافعة الاخبثین که په جماعت بیریدی چې تیریږي جماعت دی پریږدي
ځان دی خالي کړي او بیا دی او دس تازه کړي او لمونځ دی انفراداً اداکړي. او په صورت کې
د نجاست د قطع کولو که په جماعت بیریدی لمونځ دی د نجاست سره وکړي او جماعت دې
نه پریږدي. فتامل في الفرق بین العذرین. وجه د فرق په داده چې لمونځ کول سره د مدافعة
الاخبثین بالا دی په ګناه کې تر ترك د جماعت بخلاف ترك الجماعة لاجل قطع النجاسة

القلیلة ولې ترك د جماعت اعظم وزراً دی. **مسئله**: که د غسړي امید د رلودې چې
د جماعت که تیرسي بل ځای جماعت ته رسیږي نو لمونځ دی قطعه کړي او نجاست دې لیرې
کړي. او بل جماعت ته دې ولاړ سي. کذا في الخلاصة» قال المصنف

وَالصَّلٰوةُ فِيْ ثِيَابِ الْبِذْلَةِ او د غه رنګه لمونځ مکروه دی په کالو کې د خوارۍ **پوښسه** چې بذلة په زیر د با دی
او په سکون د ذال دی. او پښتانه امامان یې په زور د باء وائي هغه غلط دی، چې د خوارۍ
مزدورۍ په وخت کې، د ګل کارۍ وغیره په وخت یې خلګ اغوندي. او یا په رنګمالان
په وخت کې د رنګ مالي اغوندي. او یا اشپزان په وخت کې د اشپزۍ اغوندي، او یا په
ستریان په وخت کې د کار اغوندي وغیره ذالك»
د دې د کراهت وجه داده چې لمونځ په حضور د رب جل شانه د ربید ل دی نو په د غسې خیر نو
چټلو په ختو ککړو کالو کې باید نه وي. لکن کراهت یې تنزیهي دی صرح به في المراقی

حکایت امیر المؤمنین حضرت عمر رض یو وخت یو سړی ولیدی چې مذکوره د ولې کالو
کې لمونځ کاوه، نو امیر المؤمنین ورته وویل چې زه تا یو چا ته استوم
آیا ته په دغو کالو کې هغه سړي ته ورځې. سړي ورته وویل یا. نو حضرت عمر رضی الله
عنه ورته وویل اَللّٰهُ اَحَقُّ اَنْ تَتَزَيَّنَ لَهٗ» وقد فسر بعض المفسرین قوله تعالی
خُذُوْا زِيْنَتَكُمْ عِنْدَ كُلِّ مَسْجِدٍ» بهذا المذكور. قال المصنف

وَمَكْشُوْفُ الرَّأْسِ لَا لِلتَّذَلُّلِ وَالتَّضَرُّعِ او د غه رنګه لمونځ مکروه دی په لغړ سر لکن نه
د عاجزۍ او خوارۍ د پاره» بلکه د سستۍ او یا د تکبر د لارې په تجنیس کې وائي چې د
اظهار التذلل والتضرع د پاره لمونځ لغړ سر مستحب دی» مر. **فائده**: جلال
الدین سیوطي وائي چې په دې کې اختلاف دی چې خشوع د زړه عمل دی لکه خوف او که د اندامو
شئ دی لکه سکون او که د دواړو فعل دی» قال الرازي والثالث هو الاولی، وعن علي
رضی الله تعالی عنه: الخشوع في القلب»

نظم

که سړلګی لمونځ کوی د کهالی یـه ؛ دغـه لمونځ بـه دی مکروه تنزیهي وي ؛
او که په لګ سر لمونځ کوی د تکبره ؛ دغه لمونځ به دی مکروه تحریمي وي ؛
او که په لګ سر لمونځ کوی د عاجزیه ؛ دغه لمونځ بـه دی ثواب اخروي وي ؛
او که په لګ سر لمونځ کوی د استخفافـه ؛ فقهاء وائی کافر سو بې اشتباه ؛ ط درس » درویش باګناه ایوبي «

قال المصنف

وَبِحَضْرَةِ طَعَامٍ يَمِيلُ إِلَيْهِ

اود غه رنګه لمونځ مکروه دی په وخت کی د حاضر والی د خوراکی شی چې د سړی په زړه کی میل ورته کیږی. یعنی سودا یـه پـه بنـده وی. ولی چې وږی وي. او یا طعام داسی طعام وی چې د لمانځه کولو تر وخت سړیږی او بې خونده کیږی. لقوله علیه الصلوٰة والسلام : لَاصَلٰوةَ بِحَضْرَةِ الطعام ولا هو یُدافعه الاخبثانِ، ای الصلوٰة کاملة ، کذا فی الشرح رواه مسلم:

سوال: په ابي داؤد کی داسی حدیث راغلی دی : لَا تؤخّر الصلوٰة لِطَعام وَلَا لغیره

جواب داحدیث محمول دی پر تاخیر د لمانځه دوخت څخه . ولی چې علیه السلام پـه یوه حدیث کی چې روایت یـه بخاری او مسلم کړی داسی فرمائی. اذا وضع عَشَاءَ احدکم یعنی چې حاضر سی د ماښام ډوډی. و اُقیمت الصّلوٰة ، او اقامت د لمانځه هم شروع سی : فَابْدُؤا بالعَشَاءِ ، نو شروع پـه ډوډی وکړی . وَلَا یعجل حتّیٰ یفرغ منه او تلوار دی پـه خوراك کی هم نه کوی تر څو چې فـارغ کیږی د ډوډی څخه . وجه د کراهت یـه شغل د زړه دی پـه ډوډۍ. او عدم خشوع ده پَـه لمانځه. و لهذا که د سړي ډوډی تـه ډیر نه وو وږی او نه طعام موضوع خرابیدی. نو بیا دی لمونځ د مخه وکړی ، درط قـالَ

وَمَا يُشْغِلُ الْقَلْبَ وَالْبَالَ وَيُخِلُّ بِالْخُشُوعِ

اود غه رنګه لمونځ مکروه دی په حضور کی د هغه شی چې زړه پـه مشغوله کیږی لکه زومره چې ناوی سرخی سفیده کړي وي ناسته وي. او یا خلل و خشوع تـه وي. لکه لهو و لعب ساز و صحبت د شوقیانو غزلې او د تلویزون څپې وغیرذالك ، بعض خلك بی بی سی BBC راډیو یـه چالانه کړي وي

هم ذهنی پر خبرو یـه غوږ نیولی وی او هم لمونځ کوي. **شعر:** بر زبانت یا صمد پیدا و در دل یا صنم ؛ ای باطن کافر ظاهر مسلمانی چه سود ؛

پوښتنه: چې سړی چې جماعت تـه روان وي حمادی پـه لمانځه کی دی. نو د دی سببه آنحضرت صلی الله علیه وسلم نهی کړې دې د ورتګ څخه د لمانځه پـه ځغاستـه او ډو بلك ، ولی چې ځغاستـه مخل پـه خشوع سره ده.

پوښتنه: پـه ایت شریف کی د جمعی د لمانځه پـه باره کی داسی راغلی دی: فَاسْعَوا اِلیٰ ذِکْرِ اللّٰہِ ،

جواب: مراد د سعی څخه پـه هغه ایت کی تګ دی پـه سکینه او آرام او وقار سره کذا قـالَ المفسرون ، او بعض مفسران وائی چې مراد پـه دغه ایت کی سعی د زړه ده یعنی پـه شوق او محبت د جمعی لمانځه تـه ځه . لا السعی بالقدم ، قـالَ

وَعَدُّ الْآيِ وَالتَّسْبِيحِ بِالْيَدِ

اود غه رنګه مکروه ده شمیرل د ایتو د قرآن او یاد تسبیحاتو پـه لاس سره یعنی پـه ګوتو د لاسو. که لمونځ فرضی وی او که نفلی وي.

پوښتنه: چې شمیرل د ایتو یـاد تسبیحاتو پـه ګوتو سره د ګوتو د لاسو مکروه دی پـه نـزد امام اعظم او پـه نـزد د یارانو مکروه نه دی. او د ګوتو د سرو پـه کښیکښیلو پر خپل ځای پـه اتفاق سره مکروه نه دی. او پـه زړه کی حساب ور تـه کول هم مکروه نـه دي. او پـه خولـه یې وجود وغیره ویـل منـد دي لمانځه لره:

پوښتنه: چې ضرورت وشمیرلو تـه د تسبیحاتو پـه صلوٰة التسبیح کی سته چې هغه یو فاضل نفلی لمونځ دی. اصحاب السنن الاربعة ، د عکرمه څخه او هغه د ابن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت کوی: اَنَّ النبیَّ صلی اللّٰهُ علیه وسلم قال للعباس ابن عبد المطلب یا عماه ای کاکا الف د پاره د مد صوت دی. اَلَا اَمْنَحُكَ عَشْرَ خِصَالٍ ، زه تا تـه نه درو ښیمه لس خویـه ، اذا انت فَعَلْتَ ذَالِكَ غفر لَكَ ذ نبك ، که تـه دغه لس فعله وکړی تا تـه بـه و بخښل سی ګناه ستا. اَوَّلُه واٰخِره حدیثه وَقَدیمه ، که اوله ګناه وی او که آخره . نـوی ګناه وی او که پخوانی ، خَطَائه وَعَمَده ، که پـه قصد ګناه وی او که پـه خطاء سره ، صَغیره و کبیره ، که صغیره ګناه وی او که کبیره ګناه وي .

Maktaba Tul Ishaat.com

سِرَّہٗ وَعَلَانِیَتَہٗ کہ پټ گناه وی او که لګند، اَنْ تُصَلِّیَ اَرْبَعَ رَکْعَاتٍ چې ته لمونځ وکړې څلور رکعته یعنی نفل. تَقْرَءُ فِیْ کُلِّ رَکْعَةٍ فَاتِحَةَ الْکِتَابِ وَسُوْرَةً " په هر رکعت کې وایه الحمدلله او یو سورة، فَاِذَا فَرَغْتَ مِنَ الْقِرَائَةِ فِیْ اَوَّلِ رَکْعَةٍ" چې ته فارغ سوې د قرائت څخه په اول رکعت کې: وَاَنْتَ قَائِمٌ قُلْتَ" او ته ولاړ یې ووایه" سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَکْبَرُ ۱۵ واره ثم ترکع فتقولها، ۱۰ واره. او بیا رکوع وکړه په رکوع کې لس واره ووایه یعنی د مخه تر تسبیح د رکوع یا وروسته". ثم ترفع رأسك من الرکوع فتقولها عشرًا. بیا سر راپورته کړه د رکوع څخه او دغه کلمې ووایه لس واره. یعنی د مخه تر سمع الله لمن حمده. ثم تهوی ساجدًا فتقولها عشرًا. او بیا پریوزه پر سجده لس واره دغه کلمې ووایه یعنی د مخه تر تسبیح السجود یا وروسته. ثم ترفع رأسك من السجود فتقولها عشرًا. او بیا د سجدې څخه راپورته کړې او لس واره دې ووایه یعنی بین السجدتین ثم تسجد فتقولها عشرًا. او بیا دوهمه سجده وکړه په هغه کې هم لس واره ووایه. ثم ترفع رأسك من السجود فتقولها عشرًا. او بیا د دوهمې سجدې څخه سر راپورته کړه او لس واره یې ووایه. یعنی د مخه تر ولاړې د دوهم رکعت ته فذالك خمس وسبعون فی کل رکعة" دا نوه اویا تسبیح سوې په هر رکعت کې. فضل ذالك فی اربع رکعات" دغه کار وکړه په څلور سره رکعتو کې چې مجموع یې ۳۰۰ تسبیح جوړیږي. قَالَ علیه الصلوٰة والسلام: کہ دې په وس پوره وي چې هره ورځ یې وکړې خو هره ورځ یې کوه. او که دې هغه د طاقت ونلې وي نو په میاشت کې یو وار کوه. که دې سې هغه هم د طاقت نه وي. نو په هر کال کې یو وار کوه. فَاِنْ لَمْ تَفْعَلْ، نو په ټول عمر کې یو وار وکړه.

فَائِدَه: سبط ابن الجوزی حدیث د صلوٰة التسبیح په موضوعي حدیثو کې راوړی دی. او د ایرې یې بد کار کړی دی. ولې ابن حجرؒ وائي چې د دې حدیث تصحیح ابن خزیمهؒ او حاکم کړې ده. او نورو محدثو ویلي دي هذا حدیث حسنٌ، او ترمذی یې هم روایت کړی دی من حدیث ابی رافع وان قال هذا حدیث غریبٌ: او عبد الله ابن المبارکؒ وائي چې صلوٰة التسبیح مرغب فیها دی باید مسلمانان عادت ورسره ولري او ځندي غافل نه سي.

د روایت وائي دا آفت او س عام دی چې پر صحیح حدیثو د موضوعي حکم کوي: والی الله المشتکیٰ.

مسئله: که سړي په صلوٰة التسبیح کې سهوه سي نو دی سجدهٔ وکړي په سجدو کې به هم دغه تسبیحات وائي. عبد الله بن المبارکؒ وائي چې نه دی وائي ولې چې صلوٰة التسبیح ۳۰۰ تسبیح دی وبس"

فَائِدَه: د صلوٰة التسبیح دوهم کیفیت چې په عموم حنیفیانو کې رواج دی هغه دا دی: په اول رکعت کې تر سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ وروسته ۱۵ واره. او بیا چې د الحمد لله او سورت څخه خلاص سو تر رکوع د مخه دی ۱۰ واره او په رکوع ۱۰ واره او چې د رکوع څخه راپورته سي تر سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ د مخه ۱۰ واره او بیا په مابین کې د دوو سجدو ۱۰ واره. او په دوهمه سجده کې ۱۰ واره. د دوهمې سجدې څخه چې راپورته سي نا سته دا ستراحت دی نه کوي. سیده دی ولاړ سي او تر شروع د الحمد لله د مخه ۱۵ واره وعلیٰ هذا فقس.

ضروري خبره: چونکه صلوٰة التسبیح نفل دی نو د نفلو د قانون سره سم د دې د میانځ په ناسته کې خو اللّٰهُمَّ صَلِّ آه وائي او د ریم رکعت چې ولاړ سي سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به وائي: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

اودغه رنګه مکروه ده ولاړه د ملا په محراب

وَقِیَامُ الْاِمَامِ فِی الْمِحْرَابِ کې یعنی چې ټول بدن یې په محراب کې وي او کې پښې د باندې وي او سجده په محراب کې کوله بیا خو کراهت نسته، او که ځای تنګ ووي مقتد یا نو بیا که امام یو لخته په محراب کې ودریږي هم کراهت نسته، د دې کراهت وجه دا ده چې پر قوم د امام حال مشتبه نه وي.

فَائِدَه: محراب د حرب څخه اخستل سوی دی چې په معنی د جنګ دی نو دغه ځای د شیطان سره د جنګ ځای دی.

سوال: جنګ د شیطان سره په لمانځه کې خو مقتدیان هم کوي نو ولې د امام ځای یوازې محراب بولي!

جواب هو لکن چونکه امام لکه قوماندان اعلیٰ د جنګ دی نو د ده سره د ده د ریدو ځای ته محراب وائي.

پوښتنه: چې ډیرو کتابو د فقه تصریح کړې ده دلیل د کراهت مذکوره دا وائي چې په دې کې تشبه د اهل کتابو سره ده او دا تشبه مکروه ده.

لکن علامہ کمال الدین ابن الھمامؒ وائی چې تشبه داهل کتا بو سره په لعض اوضاعو کی خو مکروه نه ده ولې چې دا تشبه اتفاقی پیښه کړه، او بل دی وائي چې د اهل کتا بو عادت خو دادی چې امام په مکان مرتفع باندی درېږی» قَالَ الْمُصَنِّفُ :

اَوْعَلَى مَكَانٍ اَوِالْاَرْضِ وَحْدَهٗ اوداهم مکروه ده چې امام په یو لوړځای ولاړ وي او مقتدیان کښته» اندازه د لوړوالی یو گز دی علی المفتیٰ به» او د امام ابویوسفؒ نه روایت دی چې اندازه دلوړوالی یو قامت دمیانه سړي دی، او دا مذهب مختار کړی دی شمس الائمة الحلوانیؒ. لکن په دواړو مسئلو کی چې امام یوازی وی او که یو یا دوه کسه نور ور سره ولاړ وي بیا کراهت نشته» مرط در»

پوښتنه: چې په مسئله کی د لوړوالی وجه څه ده؟ نو دا تشبه داهل کتاب کی، چې علامه سید طحطاوی ابن مسعودؓ نه روایت راغلی دی چې عَلَيْهِ الصَّلوٰةُ وَالسَّلَامُ نهی کړې دی چې امام لوړ په یوشی ولاړ وي وَالنَّاسُ خَلْفَهٗ : او بل په دی کار کی تشبه داهل کتا بو سره هم ده»، وفیه نظر کمامرّ» او په دوهم مسئله کی چې امام په ځمکه باندی یوازی ولاړ وی او خلگ ورو سته پسی ولاړ وي خو کوم اثر نه دی موندل شوی کی ځکه هم مصنفؒ په مراقی کی دعوه په کړې ده. لکن په شرح کی راغلی دی چې په کار کی تحقیر د امام دی چې یوازې ولاړ وي. فَكُرِهَ عَلىٰ ظَاهِرِ الرِّوَايَةِ» لکن اعلم الناس په مذهب حنیفی الفقیه ابوجعفر طحاویؒ وائی. چې په دوهمه مسئله کی کراهت نشته، او په فتاوی خانیه کی وائیؒ وعلیه عامة المشائخ ر. د ر وئیش وائی چې قدیمًا او حدیثًا په دیارو کی زمونږ عادت پروت دی چې په ځمکه چې جماعت کوی امام یوازی د مخه ولاړ وي او د تحقیر سوال هم په دی کی نشته» کما هو الظاهر فينبغي ان يفتيٰ به» امام طحطاویؒ او نور فقهاء هم وائی چې مکروه ده سړي ته چې په مسجد کی د ځان د پاره یو ځای د لمانځه وټاکی چې همیشه په هغه ځای کی لمونځ کوی. ولې چې د دغه ځای د پاره یاره دده طبع گرځي او عبادت چې طبعی شی ترک یې اولیٰ دی. نو ځکه صوم الابد (همیشه روژه» مکروه ده» طس م، قال

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ وَلِوَالِدَيْهِمَا اَجْمَعِيْنَ

وَالْقِيَامُ خَلْفَ الصَّفِّ فِيْهِ فُرْجَةٌ او دغه رنگه مکروه ده ولاړه یعنی په لمانځه ترشا د صف چې په صف کی ځای هم وي. او که په صف کی ځای نه وو نو بیا کراهت نشته، لکن دا کراهت هلته دی چې دغه سړي قصد داقتداء وه په امام پسی» او که قصد دیوائې لمانځه وو بیا په صف کی دریدل مکروه دی بلکه ترشا به درېږي. او په خلاصه کی وائی که سړي د صف ترشا یوازی ودریدی بیله ضرورت یعنی په صف کی ځای کی وو، او بخپل اختیار د اسی نه وو چې چا په صف کی نه پرېښو نو لمونځ یې روا ده سره دکراهت. او کی د ډېره تلواره چې رکعت ځنې تیر یدی تر شا ودریدی او بیا ځای ته ور تیر سو لمونځ یې مکروه دی.

مسئله که په ځمکه یو سړي د امام سره ودرېږی او نور صف ترشا وي مکروه دی بلکه دا سړي به هم په صف کی درېږی. فتح ط در **مسئله** که د سړي دخولې بوی تلی په یو سبب، یا چرسی وو، او یا یې وږه خوړلې وه. او په دی بیرېدی که په صف کی ودرېږم خلگو ته به ازار ورسیږی. نو دا عذر دی. یوازی دی ترشا ودرېږی که څه هم په صف کی ځای وی» در ، قَالَ الْمُصَنِّفُ :

وَلُبْسُ ثَوْبٍ فِيْهِ تَصَاوِيْرُ

او مکروه دی یعنی په لمانځه کی اغوستل دد اسی جامی چې په هغې کی بتان وي لکن د ذی الروح شی او که دیوی مناری یا غره یا درختی صورت پکښې وو نو بیا کراهت نشته، دغه صورت د ذی روح که په جامه کی د نقش په توگه وی او یا په کښې وَدَل سوي وي په هر صورت کی لمونځ په کښې مکروه دی او کراهت هم تحریمي دی»، مراقی وائي چې علت یې دا دی چې دغه مصلی لکه حَامِلُ الصَّنَمِ دی. **فَائِدَه**: د دی علت څخه ط در دا نتیجه گیری کوي چې داغسې جامه خارج الصلوٰة هم باید داغسې نه واغوندي»، او نهر داخبره دخلاصه څخه نقل کړیده ط» **فَائِدَه**: هغه شي چې په قلم نقش شي او یا په ظل شمو سره هغه ته صورت وائي. او هغه مجسمه چې په صورت د انسان جوړه سوي وي یا د رگی څخه او یا سپینو زرو څخه او یا د سرو زرو څخه هغه ته صنم وائی. او هغه مجسمه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

د ډېرې څخه جوړه وي هغه ته وَثَن وائي، وقد يطلق الصورة على الجميع» قَالَ المُصَنِّفُ

وَاَنْ يَّكُوْنَ فَوْقَ رَأْسِهٖ اَوْخَلْفَهٗ اَوْبَيْنَ يَدَيْهِ اَوْبِحِذَائِهٖ

اودغه رنګه لمونځ مکروه دی چې د مصلي پر سر برابر او یا ترشا، او یا مخامخ صورت وي مګر نه هغه

صُوْرَةً اِلَّا اَنْ تَكُوْنَ صَغِيْرَةً اَوْمَقْطُوْعَةَ الرَّأْسِ

وخت کړ دا صورت کشنی وُو چې دی پرمځکه پروت وي او سړي

اَوْلِغَيْرِ ذِيْ رُوْحٍ

ولاړ وي تميز د اعضاوو د صورت به نه سي کولای لکه د ميږي

مچ وغیره صورة»

پـوه سـه: چې پر راسته بغل یه وي او که پرچپه بغل یه وي هم لمونځ مکروه دئ.

مسـئـلـه: کر سړي لمونځ کاوه او ده سره روپۍ وې چې پرهغو عکس د بادشاه وو پروا نه لري. ولې دا د کشنی عکسو پرجم کی دی. اودغه رنګه که په ګټمی کی عکس وُو چې واضح نه معلوميدی پروا نه لري» محيط» په يوه روايت کی راغلی دی چې دا بوهريرهؓ پر ګټمی دوو موچانو عکس وو، **مسـئـلـه**: قطع د سر يوازې نه دی شرط بلکه چې صورت پرداسې ډول وي چې پرغه ډول ژوندنه سی کولای مطلقًا هم پروا نه لري. نو مځکه کی لاسونه او يا ښپې پرې وي لمونځ ورسره مکروه دئ. ولې چې انسان سره د قطع اليد والرجل ژوند کولای سي.

مسـئـلـه: کی مخ د صورت ورخراب کی يا په پرې ولوسره قلمی وُو او يا په تراشلو سره او يا يه پرمخ ژاولی ور کښيښولي. او يا يه پلاستيک پروا چاوه نو لکه سړي پرې لمونځ نه دی ورسره مکروه **مسـئـلـه** کی سر او بدن د بت په سپن سي. بيچلوسرځلا کړي لمونځ ورسره مکروه دئ. ولې دا خولکه طوق دار مرغه وګرځيدی يعنی کرك يا کوتره او دي ته قطع د سر نه وائی بلکه غالبًا به لا خوند ورسي. **پـوه سـه**: تر ټولو ډير مکروه هغه صورت دی چې د مصلي وَ مخ ته وي. او دوهمه درجه هغه دي چې تر مصلي

لوړ وي او دريمه درجه د يمين پرخوا چې وي. او څلرمه درجه چې پر ليسار يه وي او اخيره درجه هغه دی چې ترشا د مصلي وي. په حديث کی چې روايت يه بخاري هم کړي دی داسی راغلی دی چې يوسړي وابن عباسؓ ته راغلی او ورته وي ويله چې دا صُوَر بتان جوړوم او بايه خرڅوم او نفقه د عيال په برابره وم. ابن عباسؓ ورته وويل چې ته را نژدې سه هغه سړي ورته را نژدې سو، بيا يه ورته وويله چې نور را نژدې سه. هغه بيا را نژدې سو حتٰی چې ابن عباسؓ لاس پر کښيښنو. او ورته وې ويل چې هغه شئ ونا ته وايم چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اور يدلی دي. چې ده صلی الله عليه وسلم چې هر صورت اوبت جوړوو نکی به په اورکی وي. او ده ته به ورکول کيږي په مقابل کی د هر صورت چې ده جوړ کړي وي يو روح چې په ټولو هغو روحانو به دی په عذاب وي په جهنم کی. وفي رواية» فَرَبَا الرجل ربوة شد يدةً» هغه سړي د غمه سور ساه وکښل ابن عباسؓ ورته وو يل وَيحَكَ» افسوس تالره او ورته وي ويل که چاره نه لرې د صورت جوړولو څخه يعنی نفقه د عيال د دغه کسبه څخه حاصلوې. نو د رختو صُورتونه جوړوه او يا د هغه شی چې په هغو کی روح نه وي لکه مناره يا مسجد وغيره» په مراقی کی وائی چې که سړي د بل چا په کور کی مجسمه يا صورت د ظل شمسي مکمل وليدی ده ته روا دی محوکول د هغه او تغيير په هغه کی يعنی که صاحب البيت د ده سره خوا به ولې چې د ده دوست وو» او هغه خبره چې سيدؒ کړيده چې پرده واجب ده چې محوه کوي بی. هغه په دا سې صورت کی چې صاحب البيت د ده محکوم وي يا زوی يا ورور وغيره.

مسـئـلـه: که سړی مصور مزدور کړي چې ماته صورت را جوړ کړه هغه ورجوړ کړي د مزدوري حق نه لري. ولې دا فعل د ده معصيت دی او پر معصيت بانديې مزدوري نشته»

اَوْيَكُوْنَ بَيْنَ يَدَيْهِ تَنُّوْرٌ اَوْكَانُوْنٌ فِيْهِ جَمْرٌ

اودغه رنګه لمونځ مکروه دی چې د مصلي د مخ وخوا ته تنور وي يا کانون چې په هغه کی سکروټې وي. مراقی وائی چې په دې کی مشابهت دی د مجوسو سره دی په حال کی د عبادت»

پُوه‌سه: چې کا نون او تنور یوشئ دی: فا الاولی و کا نون لیکون عطف تفسیر للتنور الا ان یکون کلمة او للتخییر فی العبارة. **فـائـدَه:** مجوسیان چې عبادت کوي د سکروټو عبادت کوي نه ده لمبې داور، پس که د مصلي د مخ څراغ وي او یا قندیل وي او یا د برق ګروپ وي، یا شمع لګیږي، نو د لا تحرُّ کراهت نشته

ښکاره فائده: په بعض مساجدو کې په ژمي چې یخ وي د برق انګیټي د مخ وخوا لګوي او یا د ګازو، انګیټي لګوي. لعض بی ځایه صوفیان ملایان وائي چې دا مکروه دی چې سرې لمونځ ورته کوي باوجود یکه چې هغه صرف ګرمه هوا ده په ذریعه د ګاز یا برق، حتی چې د بوټوه او بروزه لمبه لا نه لري سکروټې خو چیري دي چې مشابهت د مجوسو لازم سي.

په فتح القدیر کې وائي چې مجوسیان د هغه سکروټو چې لمبه نه لري عبادت کوي نو د مذکوره شیانو مخ وخواته بلیده پروا نه لري، یو صوفي بیچاره ملا وو، ما تې وو ئیل چې ګازو انګیټي چې د مخ وخواته وي لمونځ مکروه دی. ما ورته وو ئیل چې د ګاسلیټو څراغ یا د زړو تیلو څراغ آه او د برق ګروپ چې د مخ وخواته وي نو لمونځ څنګه دی! د هوئیله هغو نه لمونځ مکروه نه دی. ما ورته وو ئیل نو فرق په څه دی د هغه مذکوره شیان چې ټول شئ سوځي او لمبه هم لري بلکه د برق او د خو تر ګازو بدتر دی. ولي چې برق په یوه دقیقه کې دو ژني او ګازو ی هغه دی سوځي او وژني دي نه. والحاصل چې زمونږ د جامعي ورته ملایان چې ناولده شئ په مسجد کې وویني وائي دا مکروه دی. او ده ته نجیله په مسجد کې د نسوارو بد بويه توک دا ني پرته وي. چې په هغه کښې نسوار توکې

واقعه: زما یو وخت په ژمي کلوښې په پښو وي نو یو ملا راته وو ئیل مولوي صاحب دا ور کې که. ما ورته وو ئیل ولي ده وو ئیل چې ددې په پښو کیده مکروه دي او د ده نجیله په پښو "چار راشن رېنی مچنهی" وي "مَتَل" غلبیل وکوزې ته وو ئیل څونه د پر سوري لري:

اوقومُ نیامُ، او د غه رنګه لمونځ مکروه دی چې د مصلي د مخ وخواته خلک وي بیده

پُـوه‌سه: چې نیام جمع د نائم ده، او که څه هم مصنف قوم وئیلی دی لکن د یوه بیده سړي هم دا غه حکم دی **فـائـدَه:** که علت د دی کراهت داوي چې مصلي مواجه وهغه بیده ته نسي. خو د سبین یدیه قید فائده منده دی، ولی که تر شا وي یا خو مواجهت نشته، او هغه وجه د کراهت وي چې مراقي وئیلي ده "یخشی خروج شئ یضحك منه او یخجل" یعنی بیره د دی سَنه چې یو داسي شی ده نه خو ونه وزي چې مُصلي پرو خا ندي. یعني ګوز وانه چوي او که مصلي پر ونه خاندي غالبا د ګوز اچولو سړی راو بیښېږي نو هغه بیده به په خپله خجل سي. او ئیُوزي، او یا به مصلي ته ازار ورسوي که بیده چې سړه بوي ناکه پسکي واچوي" زاوپش وائي چې داوجهي په هغه بیده پوري خاصي نه دي چې مخ ته د مصلي بیده وي بلکه تر شا د مصلي بیده وي هم دا غه وجهي د کراهت سته"

واقعه: یوه شپه د فقیر په کور کې میلمانه ډیر راغلي وه چې په هغو کې یو مولوي صاحب هم وو. نو چونکه ډوډۍ وخنډیده او د مسجد د جماعت وخت تیر سو. نو ما او هغه مولوي صاحب ته وو ئیل چې د مخ سرې لمونځ په جماعت وکړو۔ خو هغه مولوي صاحب د مخه سو. مونږ بر لا محه ودریدلو په کنج کې د کوټې یو نفر بیده سوی وو. خیر خو یو رکعت چې ادا سو هغه بیده سړي سنه غټ ګوز واچاوه. خو د جماعت خلکو ټولو په قهقهه و خندل (خندا) او تر کوټې د باندي ووتل زه وو هغه مولوي صاحب سره پاته سوو چې په ډیر تکلیف مو هغه لمونځ وکړی. ولي مونږ ته هم خندا راتله خیر لسپله لا محه هغه میلمانه بیرته کوټي ته راغله. نو یو دوه پسخندیان په کښي وه یو وهغه بل ته وو ئیل چې دي سړي یعنې بیده دا ګوز د بیده یدو د حاله واچاوه نـو معذور دی. هغه بل وي ته وو ئیل چې وبینس وو. په قصد یه واچاوه چې زمونږ لمونځ راف اسد کړي. نو دې دوه ورته وو ئیل که بیده وي نو خو به بل ګوز یا پسکي هم واچوي ولې چې په بیده یه څه فرق دي. هغه چې ځان یه بیده اچولی وو دا خبره واوریده. ولي چې دي

Maktaba Tul Ishaat.com

په اول ګون اچولو یا دخلګو په خندا ر اوېښ سوی وُو. نو ددی دپاره چې نه بیدهم زوړ یه کړ بل ګـــوز یه واچاوه. هغه یوه وهغه بَل ته وو یَل مانه درته ووېـل چې بیده دی. نو هغې شپې دخندا اخیر دی راکښینستی خلګ خوځاندی ده ورته وو یل. چې پر څه شپې خانـدی زما څه خوبه شئ نه وی پلېنښ سوئ. هغه یوه پسخندې ورته وویَل چې پر اول دی لادونه خندانه راغله لکه پرده هم. نو داسی واقعاتی دبیده څخه پلېنیدونکی دې. اوکه دا تهوله احتمالات نه وې بلکه بیده په حقیقت کی ویښ وې اومصلی ترمخ پروت وی چې مَواجهت دمصلی سره یه هم نه وی بیا خوکراهت نشته»

په حدیث شریف کی چې بخاری یه روایت کړی دی ام المؤمنین سید تنا عائشه رضی الله عنها وائی چې وخت چې آنحضرت صلی الله علیه وَسلم به زما په حجره کی تېږ وه اود تهجد لمونځ بې کاوه زما پښی به د ده دسجدی په ځای کی وی. اوزه به دده وَمخته پرته وَم. نو چونکه دعلیه الصلوٰة وَالسلام دَتهجد دوه رکعتو قرائت به ډېر اوږد وو. نو څه وخت چې به آنحضرت صلی الله علیه وسلم سجده کوله غمزنی» نو ما به پښی تولی کړی چې ده به سجدی وکړی ولاړ به سوما به بیرته پښی وغځولې دده سَوال ددفعی دپاره چې نه خوو ې و نیسه نو غمزته دعلیه الصلوٰة والسلام څه ضرورت وو. تا به خپله پښی تهولولې. داوائی: وَالبُیُوتُ یَوْمَئِذٍ لَیْسَ فِیْهَا مَصَابِیْحَ : په هغه وخت کی په خونو کی څراغونه نه وَه چې ماته دعلیه الصلوٰة وَالسّلام دسجدی معلومات کیدلائی. قَـالَ المصنفؒ

وَمَسْحُ الْجَبْهَةِ عَنْ تُرَابٍ لَا یَضُرُّهُ فِیْ خِلَالِ الصَّلٰوةِ

اودغه رنګه مکروه دی تَندی پاکوِل دهغو خاورو څخه چې مصلی ته ضرر نه وې په مابین کی د لمانځه. په مراقی کی چې وائی دا یو عَبث کار دئ. اوکه د دغو خاورو څخه په عذاب وو بیا پاکول پروا نه لي. او دخولې هم دغه حکم دئ. اوورو سته تر لمانځه پاکول خو هیڅ کراهت نه لری.

بل عسیٰ ان یکون مستحبا لدفع المثلة فی اشرف الاعضاء : قَـالَ المُصنفؒ

وَتَعْیِیْنُ سُوْرَةٍ لَا یَقْرَءُ غَیْرَهَا اِلَّا لِیُسْرٍ عَلَیْهِ اَوْتَبَرُّکًا

اودغه رنګه مکروه ده معینه کول دیوه سورت په لمانځه کی په داسی ډول چې بَل هیڅ سورة نه وائی مګر هلته بیا

بِقِرَاءَةِ النَّبِیِّ صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ

مکروه نه دی که دغه سورة ورته وَئیلی یه اسانه وَه. او یا یه تبرک کاوه په قرائت دَنبی علیه الصلوٰة والسلام ددغه سورت په یوه لمانځه کی»

یـوه مسـئـله چې داکراهت په هغو سورة کی دی چې تعیین دهغه سورة واجب نه وې لکه الحَمْدُ لِلّٰهِ شریف چې واجب دَه. او بَله په هغه سورتو کی چې دهغو تعیین سنت وی لکه دوترو په اول رکعت کی» سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلٰی» تر پایه پوری. او دوهم رکعت کی قُلْ یَاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ» او په دریم رکعت کی قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ» مراقی وجه دکراهت داوائی چې په دی تعیین کی هجر دباقی قرآن دی دقرائت څخه» او فقیه ابو جعفر الطحاویؒ وائی چې داکراهت هَلته دی چې دمُصلی عقیده داوی چې بیله دغه سُورته په بَل سورَت لمونځ نه دی رَوا. اوکی دغسی عَقیده نه وَه نو بیا کراهت نشته،

درویش وَائی چې داسی عقیده درلوونکی په مسلمانانو نړی کی که څه هم عوام وې سخی ډېر لږ نادر دی. نو دَمراقی وجه ډېره په زړه پوری ده **فَـائِـدَهُ**: داکراهت هلته دی چې دمُصلی نور سورتونه هم یاد وې. او کی بَل هیڅ سُورت نه وو یاد لکه بعض عوام صحرا نشینه چې بیله قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ» بل هیڅ سورت یاد نه لرې بیا خو کراهت هیڅ سَوال نه پیدا کیږی» در»

دَتَبَرُّکْ دپارَه دآنحضرت صلی الله علیه وَسلم هغه سُورتونه چې ده مُبارک په مختلفو لمونځو کی تلاوت کړې بیا نیږی» ذکرها المراقی نقلاً عن الجلال السیوطیؒ» وترک اسانیدها وان کانت مسندة رومًا للاختصار» اکثر اوقات به

د مبارک د سحار په لمانځه کی سورة یٰسین وایه. یعنی په دواړو رکعتونو کی او دغه
رنګه د سحار په بعض لمونځو کی سورة روم وئیلی دی.
او علیه الصلوٰة والسلام د سحار په لمانځه کی سورة واقعه او مثل د هغه سورتونه وئیلی دي.
او په یو سفر کی آنحضرت صلی الله علیه وسلم د سحار په لمانځه کی قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ
او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ وَوَئیله چی سلام یې وارووه حضرت معاذ رض ورته ووئیل چی داسی
مونځ دی مونږ ته راکړي چی تر اوسه دی مونږ ته نه وو راکړی یعنی د سحار لمونځ په دومره
لنډ قرائت سره. علیه الصلوٰة والسلام ور ته ووئیل چی تا نه واوریده ژړا د کشتی تر
ما وروسته په صفونو کی د ښځو. نو ځکه ما د النډ قرائت ووایه چی مور د کشتی وخپل کشتی
ته فارغه سی. او علیه الصلوٰة والسلام د سحار په لمانځه کی اِذَا زُلْزِلَتْ سورة یوازی ووایه
یعنی په دوهم رکعت کی مکرر کی د پاره د بیان د جواز. او علیه الصلوٰة والسلام په مکه مکرمه
کی د سحار په لمانځه کی سورة المؤمنین شروع کړه. چی ذکر د موسیٰ او د هارون علیه السلام
ته ور سیدی علیه الصلوٰة والسلام ته ټوخی ورریدی نو رکوع ته ولاړی یعنی سورة یې
پوره نه کړي. او ګاهی ګاهی به علیه الصلوٰة والسلام د سحار په لمانځه کی قٓ وَالْقُرْاٰنِ الْمَجِیْدِ
سورة وایه. مطلب دا چی علیه الصلوٰة والسلام بیله عذره د سحار په لمانځه کی تر ۴۰ آیته
کم قرائت نه دی وئیلی. او په ماخستن کی تر ۱۰ ایته کم»

او علیه الصلوٰة والسلام د ماپښین په لمانځه کی» وَاللَّیْلِ اِذَا یَغْشٰی آه وامثاله د هغه وئیلی
دی او په مازدیګر کی هم په مثل د ماپښین. او په بعض اوقاتو کی د سحار په لمانځه کی سَبِّحِ
اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلٰی آه وئیلی دی. او ګاهی ګاهی به علیه الصلوٰة والسلام د ماپښین په
لمانځه کی او د مازدیګر په لمانځه کی وَالسَّمَآءِ ذَاتِ الْبُرُوْجِ آه وَ السَّمَآءِ وَالطَّارِقِ آه
وئیلی دی وَنَحْوَهُمَا مِنَ السُّوَرِ» او علیه الصلوٰة والسلام بعض دوخت د ماپښین لمونځ
ورکاوه. او صحابه رض وائی چی په مونږ بی اوریدی ایت ایت د سورة لقمان وَالذّٰرِیٰتِ ه
یوه ورځ علیه الصلوٰة والسلام د ماپښین لمونځ وخلګو ته ور کاوه چی په ماپښین کی د رکعت
په سجده تلاوت وکی. نو مونږ خیال دا سو چی تنزیل السجدة سورة یې ووایه ه

درویش وائی چی په لمانځه کی یا جهری یا خفیه سجدهٔ تلاوت کول په مونږ پښتنو کی لکه
شریعت منسوخه دا سی ګرځیدلی دی. عوام خو بیخی د لمانځه سجدهٔ تلاوت نه پیژنی. حتی
چی یو حاجی د حج ځنه راغلی وو. نو ماته ئی ووئیل چی عجب می دا پلا ولیده. په جده کی امام
د سحار لمونځ دری رکعته وکړه او د ماپښین په رکعت کی یوه سجده وکړه نو ده وو ئیل ما بیرته
خپل لمونځ راوګرځاوه. ما ورته ووئیل چی هغه سجدهٔ تلاوت کړي دی. او علیه الصلوٰة والسلام
د ماپښین په لمانځه کی او د مازدیګر په لمانځه کی سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلٰی او هَلْ اَتٰکَ
حَدِیْثُ الْغَاشِیَةِ» هم وئیلی دی ه

او په حدیث کی راغلی دی چی یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم د ماپښین په اول رکعت
کی وَالشَّمْسِ وَضُحٰهَا ه او په دوهم رکعت کی» وَاللَّیْلِ اِذَا یَغْشٰی آه ووایه. او په جهر سری
ووایه. وروسته تر لمانځه اُبَیِّ بن کعب رض ورته ووئیل: اُمِرْتَ فِی الصَّلٰوةِ بِشَیْءٍ، یعنی
په جهر سره د قرائت د ماپښین د لمانځه » ده ورته ووئیل لَا بلکه زما به
جهر کی د قرائت دا غرض وو چی تاسی ته اندازه د قرائت د ماپښین د لمانځه در وښیم»
او په صحیح حدیث کی راغلی دی چی نبی علیه الصلوٰة والسلام د ماښام په لمانځه کی ګاهی
سورة اعراف وئیلی دی. او ګاهی سورة الانفال» یعنی هر یو په دواړو رکعتونو کی.
ویحتمل ان یقسموا بایات من کل منهما» او یا د بیان د جواز د پاره دا دوه سورتونه
که څه هم چی اوږده دی وئیلی بی وي. در» او په اخیری لمانځه کی د علیه الصلوٰة و
السلام د ماښام په اول رکعت کی سَبِّحِ اسْمَ رَبِّکَ الْاَعْلٰی. او په دوهم کی قُلْ یٰاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ
ووایه. او د ماښام په لمانځه کی په وَالتِّیْنِ وَالزَّیْتُوْنِ» هم وئیلی دی. یا دا سورت سر نیمی
کړي او یا یې په دواړو رکعتونو کی مکرر کی د پاره د بیان د جواز»

او د ماښام په لمانځه کی حٰمٓ الدخان هم وئیلی دی یعنی په دواړو رکعتونو کی. او د ماښام په
لمانځه کی سورة القارعة هم وئیلی دی. او د جمعی د ماښام په لمانځه کی قُلْ یٰاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ
او قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ غالبًا وئیله. او د ماخستن په لمانځه کی د جمعی د شپی به سورة الجمعة
او سورة المنافقین وایه» جبیر بن مطعم رض وائی چی ما د علیه الصلوٰة والسلام ځنی واوریده

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دماخستن په لمانځه کې وَالتِّينِ وَالزَّيْتُونِ، ووايه. ابی رافع وائی چې ما په ابوهريره پسې دماختن لمونځ وکړې نو سورة اِذَا السَّمَآءُ انْشَقَّتْ شروع کړې او د سجدې په ايت يې سجده تلاوت وکړې. نو د سجدې په باره کې ما ده سره پوښتنه وکړه ده وويله سَجَدْتُ بِهَا خَلْفَ اَبِي الْقَاسِمِ صلى الله عليه وسلم: د عبد الله بن عمر رضي الله تعالى عنهما څخه روايت دی. چې نشته يو د مفصلو سورتو څخه که لنډ وی او که اوږد، مګر په داسې شان دی چې ما اوريدلی دی د رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه چې په هغوی امامت ورکاوه وخلکو ته په فرضي لمانځه کې. نو دا وو هغه تفصيل د سورتو چې عليه الصلوة والسلام به فرضي لمانځه کې ويله: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَتَرْكُ اِتِّخَاذِ السُّتْرَةِ فِي مَحَلِّ الْمُرُوْرِ فِيْهِ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ

او د غه رنګه مکروه دی نه دَرول د سُترې په داسې ځای کې چې ګمان کول کيږی د تيريدو په هغه ځای کې په مابين د حضور د لمونځ کوونکی. يعنی لاره ده د مرور او عبور، لکن ط وائی دا مکروه تنزيهی دی، په تنوير کې وائی که د مرور ګمان وو لکه چې سړی په خلاصه صحرا کې لمونځ کوی، لکن بيا هم دَرول يې اولی دی.

کتاب ———— نورالايضاح پښتو

مصنف ———— مولانا عبيد الله القندهاری

کاتب ———— فضل الحق حقانی

ناشر ———— مکتبة القراءة والتجويد

جلد ———— دوهم ۲ جلد

فَصْلٌ فِيْ اِتِّخَاذِ السُّتْرَةِ وَدَفْعِ الْمَارِّ بَيْنَ يَدَيِ الْمُصَلِّيْ

فصل دی په بيان کې د اختلو يعنې د دَرولو د سُترې. او د فع کول د هغه چا چې په حضور د لمونځ کوونکی تيريږی. د رولو وائی چې پښتانه بلکه بعض ملايان د الفظ په زور د سين وائی لکن د لغت عربی د لاری د الفظ په پيښ د سين دی. او اګر چې د دی لفظ په لغت کې مَا يُسْتَرُ بِهِ الشَّيْءُ ده لکن په عرف کې د فقهاء هغه شی ته ويل کيږی چې مصلی د هغه دَرول کيږی په طور د علامې حتی خلک پوه شی چې د سترې په لمانځه ولاړ دی نو د ده او د سُترې تر مابين به نه تيريږی.

تَحْقِيْقُ الْمَقَامِ په عنايه کتاب کې وائی چې په دی مسئله کې پنځه خبرې دی: اوله خبره دا ده چې لمونځ په تيريدو د هيڅ شی د مصلی د مخه نه قطعه کوی يعنی نه فاسدوی. لقوله عليه السلام لَا يَقْطَعُ الصَّلٰوةَ مُرُوْرُ شَيْءٍ،

سَوَالٌ په صحيح حديث کې راغلی دی چې قطع کوی لمونځ تيريدل د ښځې او خر او تور سپي.

جَوَابٌ: شراح د حديثو مبارکه وو وائی چې مراد په دی حديث کې قطع نه ده بلکه قطع د حضور قلبی د مصلی ده او په معنی حديث کې من قطع حقيقی نه ده. فلا تدافع بينهما، او دوهمه خبره داده چې تيريدو نکی سخت ګناه کار دی ولی چې په صحيح حديث کې راغلی دی: که تيريدونکی خبر شی يعنی په مابين کې د حضور د لمونځ کوونکی، چې په ما باندی څومره ګناه ده. نو دی به دريدلی وای، اربعين. يعنی څلويښت کاله اوی د حديثو وائی چې زه نه يم چې څلويښت کاله عليه السلام ياد کړه او يا څلويښت مياشتې او يا څلويښت ورځی. او دريمه خبره داده چې دير مهمه ده چې مقدار د هغه ځای چې هلته مرور مکروه دی څومره اندازه دی. بعض فقهاء وائی چې ځای د سجدې د لمونځ کوونکی دی، چې دا اسهل د مذاهبو دی. وهو اختيار شمس الائمة السرخسیؒ او شيخ الاسلام علی البزدویؒ او قاضيخانؒ ده، او فخر الاسلامؒ وائی چې مصلی چې ځای ته د سجدې ګوری او سترګې يې پر ما نه واقع کيږی. نو په داسې ځای کې مرور کراهت نه لري. او بعض

علماءٌ وائي چې اندازه کي د دوصفو يا د رو منو چې سرې د لمونځ کوونکي مخ نه تېرېږي گناه گار دي او تردي که مسافه بالاوه بيا گنا، او کراهت نشته، او بعضو فاصله د درو گزو او بعض د پنځو گزو فاصله شرط بولې. او بعض داسي هم وائي چې ترڅلويښت گزه په کم فاصله کي تيريدل مکروه او گناه ده. دا ټول مذاهب هلته دي چې په صحرا کي سړي لمونځ کوي او په مسجد وکي بعض فقهاءٌ وائي چې د لمونځ کوونکي او د قبلې په خوا کي مطلقًا مرور گناه ده که هرڅو مسافت وي. او بعض فقهاء يـه پنځوس گزه فاصله شرط بولي. قَالَ المُصَنِّفُ

اِذَا ظَنَّ مُرُوْرَهُ يُسْتَحَبُّ لَهُ اَنْ يَّغْرِزَ سُتْرَةً تَكُوْنُ طُوْلُ ذِرَاعٍ فِيْ غِلَظِ الْاَصْبِعِ

که د مصلي گمان وو چې څوك به دي د مخه تيريږي نو مستحب ده ده لره چې ښخه دي کړي ستره. يعني په ځمکه کي چې جگ والي يـه يو گز وي او پنډ والي يـه ديوي گوتې وي يعني کمه درجه يه دا ده. او کي طول بالاوي يا يه پنډ والي تر گوته ډير وي خو په طريق اولیٰ ستره کيدای سي.

پوښتنه: چې امام طحطاويؒ وائي چې ادنیٰ اتخاذ دسترې دا دی مطلقًا يعني کي گمان د مرور د چا وي او که نه وي. ولي په ستره سره د ده سترگي د ماوراء الستره څخه راگرځي او فکر يه جمع کيږي. **سوال**: ستره خو په مقدار ديوه گزه ده او غلظ يه يوه گوته دی نو څرنگه د مصلي د ماوراء الستره څخه سترگي راگرځي. او خاطر يه جمعه کيږي. **جواب**: امور شرعيه ډيل حِکَم او مصالح لري چونکه سُتره امر شرعي دَه خدای جَل سُلطانه د لمونځ گذاره سترگي او ذړه د بلي خوا څخه راگرځوي **پوښتنه**: چې استحباب زمونږ د حنيفيانو مذهب دی او امام احمدؒ يـه واجب بولي په مراعات د ظاهر امر د رسول الله صَلَّى اللهُ عليه وَسَلَّم. او بل په هغه حديث دليل وائي. چې عمر رضي الله تعالیٰ عنه وائي، چې که لمونځ گذاره خبر وای چې څه ماده لمانځه څخه څونه ثواب کيږي نو بې لمونځ نه کولای مگر يوه شي ته چې د خلکو څخه بي پټولای. او د عبد الله بن مسعودؓ څخه روايت دی چې نيمي ثواب د لمانځه د مصلي په مرور سره د سړي کميږي. چې ستره يـه نوی دَرَه وَلې، او زمونږ په مذهب کي په

ستره مغصوبه سوهم کا کيږي که په ثوب مغصوب کي لمونځ صحيح دی ... ري، په حديث مبارك کي راغلي دي چې آنحضرت صلى الله عليه وسلم وفرمايه: ليستتر احدکم ولو بسهم، په بل حديث کي راغلي دي چې د نبي السلام څخه چې پوښتنه وکړه د اندازي دسترې د مصلي ده مبارك و. ته ورته يې ووئيله مثل مؤخرة الرحل. ته هغه لرگي چې د اوښ سپور شا ورته لگوي، د هغه اندازه يو نيم گز دی يـه څه بالا.

پوښتنه: چې اقله اندازه کي دسترې خلاف ستـه ويـه کښي اختلاف ستـ ويـه دي هم پوښتنه چې اقله اندازه کي يعني دسترې چې په وړاندې سړي او په ... سترگي هم کيږي لکن مخامخ و مصلي ته به نه وي. او په ... د مخ چپ ... کذا في القهستاني والحلبي.

مسئله: په ښخه سره چې ممکن نه وي ستره نه ده نو ... په ممکن نو ښخو کي اختلاف دی د درويش په عقيده چې ښخي به مطلقًا دسترې ځای نه سي نيولای. ... په ليوني کافر او بيده سړي سره ستره نه مرول درويش وائي چې امام طحطاويؒ پر دي قول د مصنف في غلظ الاصبع او بيا په مراقي کي وائي. وَذَالِكَ اَدْنَاهُ يعني غلظ الاصبع يـه کمه درجه د سترې ده.. دا اسي ليکلي دي: خلاف المذهب فلا احد له، اقول اورد هذا القول في القدوري بلفظ قيل وعلله صاحب الهداية بما علله المراقي، يعني دا قول د مصنف او بيا د مراقي قول خلاف المذهب دی، او بيا د حاکم په روايت د ابي هريرة څخه داسي روايت مرفوعًا نقل کړي دی. يجزئ من السترة قدر مؤخرة الرحل ولو بدقة الشعر يعني کفايت کوي د سترې څخه مقدار د مؤخرة الرحل که څه هم لکه ويښته داسي نري وي، ثم قال كذا في البحر عن القهستاني،، درويش وائي چې د مصنفؒ دليل په مراقي کي: لان ما دونه ربما لا يظهر للناظر فلا يحصل المقصود منها ، يعني کمتر که هغه به ډير ځله نه ښکاره کيږي وکتونکي نو مقصود د سترې څخه نه حاصليږي،، معقول خو دی لکن په مقابل کي د حديث بيا اعتبار نه لري. وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ: قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالسُّنَّةُ اَنْ يَّقْرُبَ مِنْهَا

او سنت دا ده چې سُترې ته نږدې ودريږي بعض فقهاء لکه ابن اميرحاج وائي چې سُترې او د

Maktaba Tul Ishaat.com

ده دپښود مصلی ترو ری شرعی گرځه به بالا نه وي. ودلیل القرب، دا قول دعلیه الصلوٰة و السلام دی. وَاِذَا صَلّٰی احدکم الی سترة فلیدن منها لایقطع الشیطان عَلیه صَلوته، یعنی که یو وستاسی لمونځ کاوه وستری ته نودی نږ دی وستره ته ودرېږی نو که دَ ئ داعنی وکړي نو شیطان نه سی قطع کولای لمونځ دَ دَه، ولی که مصلی دستری نخه لیری ولاړوی نو شیطان و تیریدونکی ته دا په خیال کی وراچوی چی دا مُصلی ستره نه لری. ولی چی هغه لرگی خولیری وَلاړدی نو به دسُتری او د مُصلی تر مابین تیرسی او مصلی ته به تشویش دد غه فعله نخه دما رپیدا سی. قَالَ المُصنفُ:

وَيَجْعَلُهَا عَلٰى اَحَدِ حَاجِبَيْهِ وَلَايَصْمُدُ اِلَيْهَا صَمْدًا یعنی سترہ

او بل سنت دستری دادی چی سُتره دی گرځوی دیوی ورځی خپل پر برابر، او نه دی درېږی وستری ته برابر یعنی سیدها، لِمَا روی عن المقداد رَضِیَ اللّٰهُ تَعَالٰی عَنہ» دی وائی چی ما ندی لیدلی رسول الله صلی الله علیه وسلم چی دَی دپاره لمونځ کوي و تنبیر ته او یا درختی ته، مگر هغه بی گرځوله پر استه وَ ئ ځراو یا چپه ورځه وَلَا یَصمد الیه صَمدًا ای مُستویًا» قَالَ المُصنفُ:

وَاِنْ لَمْ يَجِدْ مَا يَنْصِبُهُ فَلْيَخُطَّ خَطًّا طُوْلًا وَقَالُوْا بِالْعَرْضِ مِثْلَ الْهِلَالِ

او که مصلی نه کی پیدا هغه شئ چی دی یه جگ ودروی نو بیا دی خط وکاږی په اوږدو یعنی پر طرف د قبلی او بعض عُلماء وائی چی په پساره دی وکاږی لکه دا ولوشپو میاشت، **پوښتنه**: چی یوی ډلی دمتقد مینو نخه چی بود هغو نخه صاحبُ دهدایه دی دخط ستره منع کړي دَ ئ. په عنایه کی وَائی چی که څمکه سخته وه چی جگول دستری نه سوای پر کښنی کیدَ لای نو هغه نیزه وغیره و مخته په اوږده کښېږدی تا چی پر هیئت دغرز سی» او که چیری نیزه وغیره نه وَه ورسره زمونږ د حنیفیا نو بعضی متأخرینُ وَائی: یخط خطًا طویلًا وهوقول الشافعیؒ

او یا مثل الهلال کما فی نور الایضاح: قَالَ ولم یعتبره المصنفُ یعنی صاحِب هدایه وخط ته اعتبار نه دی کوی لِان المقصود منه وهو الحیلولة بین المُصلی والمار لایحصل به فیکون وجوده کعدمہ» ولی چی مقصود دخط نخه خومانع والی دی په مابین کی د لمونځ کوونکی او د تیریدونکی. او هغه مقصود په خط کی نه حاصلیږی. نو وجود دخط لکه عدم دی» وهوالمروی عن ابی حنیفةؒ ومحمدؒ» او فتح القدیر دمَبسوط نخه وشیخ الاسلام نقل کړی دئ. چی خط لیس لشئی» او د صاحب الهدایه په نیز پر ځکله اینول دلرگی او خط دواړه اعتبار نه لري. لکن هشامؒ دا امام ابویوسفؒ نخه روایت کړي دی چی ده به دلمانځه په وخت کی دره و مخته واچول او لمونځ بی ورسته کاوه. متأخرینؒ وَائی چی دخط په باره کی اثر موجود دی. چی روایت یه ابوداؤد کړي د مقدادؓ نخه» انه اذا صلی احدکم فلیجعل تلقاء وجهه شیًٔا فان لم یجد فلینصب عصافان لم یکن معه عصًا فلیخط خطًا وَلا یضرما مَرَّاَمَامَه» قال صاحب الفتحؒ والسنة اولیٰ بالاتباع مع انه یَظهر فی الجملة وین بَط به خیال المصلی کیلا ینتشر آه »

سوال: دغه حدیث خو په بَدائع الصَنائِع کی وائی چی شاذ دئ. او امام نووی هَم ضعیف گنړلی دَی **جواب** ددی حدیث تصحیح امام احمدؒ او ابن حبانؒ کړي دَه. او نور وهَم امام طحطاویؒ وائی که وَمنل سی چی خَط فائده نه لری نو تا وان خوهم نسته په کښی. او بیاهَم په خط کی خو عمل دَی په حَدیث مذکور که څه هم ضعف یه وَمنل سی او عمل او عمل په ور ته حدیث په اعمالو کښی روا دئ. درویش هم دا امام مذکور سره همخیاله دئ: وَ لِلناسِ فِیمَا یَعشقُون مذاهبُ:

مسئله: که لمونځ په جماعت سره وُو نو ستره دامام ستره دقوم دپاره هم دَه. وَلی چی په حدیث شریف کی راغلی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وَسلم په ابطح کی لمونځ یوی لکړی ته کاوه چی په سرکی و سپینه وه چی عنزه ورته وَائی او قوم لره ستره نه وه. قَال:

وَالْمُسْتَحَبُّ تَرْكُ دَفْعِ الْمَارِّ وَرُخِّصَ دَفْعُهُ بِالْاِشَارَةِ

او مستحب دا ده چی مصلی دی دفع د تیریدونکی (مار) نه کوی) ولی چی بناء دلمانځه پر سکون

اووقـارده۔ اوهغه امرچې پـه درء يعنې دفع سَرَه پـه حديث نبويؐ کې راغلی دی دپاره دبَيان درخصت دی» اورخصت کړه سوی دی پـه دَفع کښې په اشاره يعنی دَلاس وَغيره اويا په تسبيح وئيلوسره اوده دواړو جمعه کول مکروه دی» لان بـا حدهما کفاية» په حديث مبارك کی راغلی دی چې: يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم په خونه کی د ام المؤمنين ام سلمة رضی الله تعالیٰ عنها لمونځ کاوه يعنی نفلی لمونځ د ام سلمة رضی الله عنها ميره ځنه دوه عيال وه يو نرچې عميرة نوميدی اوبل ښځه چې زينب نوميدله. نو عميره غوښته چې د عليه الصلوٰة و السلام د لمانځه د مخه تيرسي. آنحضرت صلی الله عليه وسلم په اشاره يه دفع وکړه اوهغه ودريدی. وروسته زينب اراده وکړه چې تيره سي. عليه الصلوٰة والسلام وهغی ته هـم د دريدو اشاره وکړه. لکن هغې عملی نکړه اود لمانځه دمخه تيره سوه. ځروخت چې عليه الصلوٰة والسلام دَ لمانځه ځنه فارغه سونو زينب تی وکتله اوداسی وو ئيله: نـاقِصَاتُ عَقْلٍ» نَاقِصَاتُ دِيْنٍ» يعنی نفسی ښځی ناقص العقل دی اودين يه هم نـاقص دَی صَوَاحِبُ يُوسُفَ (وښځی هغه دی چې يوسف عليه السلام يه په اضطراب اوپـه حبس اخته کی. چې هغه ښځی امرأة العزيز اود هغې ملګری په تقـاضاء کی د زنـا د يوسف عليه السّلام ځنه» صَوَاحِبِ کرسف» صحابه کرام رض د عليه السلام ځنه پوښتنه وکړه چې مَن کرسف» عليه الصلوٰة وَالسّلام ورته وو ئيله چې دا يـو سړی وو يعنی په تـيرو سووامتو کی چې ۳۰۰ ديرش، کاله پرساحل البحر يـه د خدائ عبادت کړی وو» اخير يې يوه کافره ښځه يا ندی عاشِق سُو۔

چې هغې وده ته دعوت دکفر ورکړی اودی هم ورسره کافِر سُو. لکن هغه د مخه نبوعملو دده سره کومك وکړی۔ اوتوبـه يه وکښه. اوبيـرته مسلمان سو. عليه الصلوٰة وَالسَّلام زياته کړه» يَغْلِبْنَ الْكِرَامَ وَيغلبهن اللئـام» او ښځی غالبی وی په پـاك نفسو خلکوچې دشريعت مراعات کوی اود ماينو پرادنی کارنو دوکوب نکوی» اوپر ښځو غالبه دی بې دينه اولی پـرَوا کسَان» يعنی دهغو ځنه ښځی بيـرې ی چې پرا ند لـدشی يه تنـ ډبه ولو لا ندی نسِی» فافهم»

وَاقِعَه

دوه وروڼه وه پـه قند هـار کې چې مشر يـه ماينه درلوده۔ اودپـر ورسره په عذاب وو۔ اوماينه يه ډيره پرغښتلی وه. وروسته کشر ورور ته يـه کور ....

چې دواده ورځ يه سوه او ناوی يه کورته راوستله پرتخت يه کښينوله پـه کورکی نرځـه هغه نـاره وکړه۔ کشر ورورتـو فلك وروا خستی اوداي وو يـل چې زما ګمان داوو درلود چې پـه دی کور کی تـه يوازی زه يم۔ خره ته هم دنـ والي دعوه دی وکړه۔ تـهك يه پـر وَکی ځنې مړه کړی، ناوې پرتخت بانـدی وه بيريدَل چې پـه څه بَلا ميره اخته سوی. حاصل دَا چې دکشر ورور مـاينی پـه کور کی د ميره اوليوره سَره اود کور د لويه او کشنی سره ډيره ښه وښتيت کاوه. نومشر ورور کشر ورورته ووَيل چې داستـا ماينـه ډيره ښه ښځه ده. دَازما ښځه خو هيڅ اخـلاق نـه لری اوتَرما پوری تـوله کورخا ندی په عَذاب دی د دې څه سَبب دی کَشر ورور ورته ووَيل مادخپل ماينی په اوله ورځ زره ځندی وکښی اوخپله سَره سـترګه می ورمعلومه کړه چې خرمی پـه ګولی وو بيـشتی. مشر ورور دَځانه سره فکروواهَه چې داخو آسانه چم دی بـله وَرځ چې دَمشر ورور خره ناري کړه. مشر ورور تو پك پر راوخستی چې تـهك ئی پر وَکی اومَاينه يه وبيروي. ماينی زغ پـرَوَکی چې ښا حقه خر مه وژنه ماته ستا دسري سترګی دَرَك وختني ر امعلوم سوی دَی. دادبو پـه کتابو کی وائی. چې دَعرب و قـد يمه اصطلاح دښځو چې د ميره دَرك وځانته معلوم کړي. داسی وَه چې يوه ښځه چې د پَلار دکور و د يـدَل نو يوی سَپين سَری ښځی بـه دميره د امتحان دپاره داسِی نصيحت ورته کاوَه چې ترواده وروسته چې ته دکور پـه کارو بـار شروع وکړی يوه وَرځ چې ميره دې پر کور وی دَده سپر راخله غوښی پرميده کوه. ميره خو درته وايـ چې داځه کوی سپر خو زما د جنګ شئی دی او ته غوښی پرميـده کوی. ته ورته وواي چې ځرنګه کوردی چې د غوښو د ميدو تخته هم نسته پکښی نوزه خو غوښی پر وَرَانه نسَم ميده ولائ. نوکه ميره پـه ښه ژبه درته وويَل چې ته سپر کښيږده زه به هم اوس تخته درله راوړم. دا يو امتحان وو۔ سپـين سري داهم وَ ته ووَيل. چې څـو ورځی وروسته بيا يوه ورځ چې ميره دی پرکور وي۔ دده توره راواخله

Maktaba Tul Ishaat.com

اوپر هغه تخته اړوکی په ماتوه۔ دی به درته ووائی چی دا څه کوی پراړوکوخو تورئ څ
اوړی۔ او دا زما عزیزه سلاح ده۔ ته ورته ووایه چی دا ځرنګه کوی دی چی نه یوساتل په
کښې اونه یوه غته چاړه چی زه اړوکی په مات کړم پلاس خوږه اړوکی نه سم ماتولای
نو که ده په دې دلا سائی ورته وویل چه ته توره کښېږده زه به د بازاره څخه غټه
چاړه در لره راوړم» دا دوهم امتحان دی۔ خوورځی ورو سته بیا یوه ورځ دَ دَ غشی
را واخله په دروازه کی سره پیچه دی خواه مخواه درته وائی چی دا دے بیا څه کار په
مخ را اخستی دی۔ په دی کار خو دا غشی بری خرابیږی۔ ته ورته ووایه او یوڅه دی را چم
هم وکړه چی زه دې دی کور کی ځرنګه ګذاره وکړم. چی ته پر هر شی ماته منت کوی ما په
دروازه کی سوری کاوه چې یوه زلفی یا ځنځیر ور واچوم. نو په کور کی می وکتل نه یو
تیره پیچ کش وه او نه برمه وه نو زه په ګوته دروازې ته سوری نه سم ور کولای
که ده په دې دلا سائی درته وویل چی ته غشی کښېږده» زه د بازاره برمه در لره را
وړم» دا دریم امتحان دی. نو ورو سته به سپین سرې وناوی ته وویل چی په دی درې
امتحان کی چه ته کامیابه سوې. فَقُعْ عَلَیْهِ الاِکافُ فاِنَّہٗ حِمارٌ» نو پر میړه دے
پالان کښېږده چی دی دے د عمر د پاره ستا خر سُو» درولیښ وائی چی زه نه یم خبر چی
زمونږ د پښتو سپین سرې به ناوې یا نو ته څه څه امتحا نونه ور ښیي» قـال

وَیُدْفِعُہٗ بِرَفْعِ الصَّوْتِ بِالْقِرَاءَۃِ وَتَدْفِعُہٗ بِالْاِشَارَۃِ

او دفعه کوی دی نیریدونکی مُصلی که نروو په پوته کولوسره د آواز او په قرائت سره۔ او که لوئ کوونکی

وَالتَّصْفِیْقُ بِظَهْرِ اَصَابِعِ الْیُمْنٰی عَلٰی صَفْحَۃِ کَفِّهَا

ښځه وه نو دا به دفعه کوی تیریدونکی په اشاره سره۔ او یا په ټکولو سره د ښا د ګوتو د ښی لاس د دے

الْیُسْرٰی وَلَا تَرْفِعُ صَوْتَهَا لِاَنَّہٗ فِتْنَۃٌ

پر ښا بانډی د ظاهر دا رغووی د چپه

د دی او د دفعی د پاره به دا نه پورته کوی آواز یعنی نه په تسبیح ویلو او نه په قرائت
ویلو سره ولی پورته کول د آواز د ښځی فتنه ده»

تنبیه: چی رفع د صوت د دی په صرف تسبیح ویلو سره هغه هم په لمانځه کی د پاره
امر شرعی چی دفع د مار ده فتنه» نو ځرنګه به فتنه نه وی پوره ته کول
د آواز د ښځو په غزلو ویلو سره په داسی ډول سره چی په کوڅو او نورو کورو کی هم
اوریدل کیږی په ودو او نورو خوشحالیو کی. او ځرنګه به فتنه نه وی خبری د ښځو
په راډیو ګانو کی او یا په ټلویزنونو کی چی پوره صورت د دی هم په کښې معلومیږی او د
بعض ملایانو په کورو کی هم د غه ټلویزونونه موجود دی. او ځرنګه به فتنه نه وی
دو کانداری د ښځی په عامو بازارو کی۔ او په پایان ودی ته د ښځو ازادی ترپیټولا ندې
کول وائی» او ما نعا تو ته په شدت پسنده مُلایان وائی. افسوس چه بعض دُوَلِ
اسلامیه د دې خبری د غربیا نو حمایت کوی» چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی»
چو بنیم دین احمد در غریبی ٭ دلم سوزان ز چشمم خون جاری ٭ وورد فی الحدیث الصحیح قال رسول
الله صلی الله علیه وسلم: ماترکت فتنۃً اَضَرُّ علی الرجال من النسآءِ» ما نه ده پرې ایښی
یوه فتنه چی ډیره ضرر رسوونکی دې وې ونرو ته تر ښځو. صدق رسول الله صلی الله علیه وسلم

پوښتنه: چی ولې د ښځو د پاره د دفع د مار دا اجازه نسته چی د لاسو رغوی
سره وټکوي؟ **جواب**، دا ټکول خو هغه فتنه انګیزه چک چکی دی چی دوی به
په ودو وغیره کی کوی. او وه اوریدونکو ته تر آواز ددی پر د غه چک چکو خوند اخلی

مسئله: رفع الصوت په قرائت سره صرف او صرف په جهری لمانځه کی روا ده نه په
سری لمانځه کی۔ ولی چی جهر په سری لمانځه کی مکروه تحریمی دی او دفعه د مار رخصت دی
نو مکروه تحریمی د رخصت د پاره ځرنګه سرې ځرنګه مصلی کولای سی» بحر، ط»

مسئله: که ښځی د دفع کولو د پاره تسبیح ووئیله چی دې ته خو اجازه نه وه۔ او یا نر په
لمانځه د دفع مار د پاره تصفیق وکړی چی د ده کار نه وو. لمونځ خو د دواړو نه دی فاسد
لکن خلاف السنة کار یې وکړی»

ولا یقاتل المار وما ورد به مؤول بانه کان و العمل

حتى ... نو مصلی د مار سړه یعنې په سوکانو وهلو سره اویا په لغتو سره اویا په نورو حملو سره. او هغه چې په حدیث شریف کې امر د قتال راغلی دی. دهغ

... ح **وقد نسخ** تاویل دا دی چې په ابتداء کې د اسلام مصلی ته د ذکر سوي قتال اجازه وه په دا سې حال کې چې په هغه وخت کې نور عملونه هم مصلی ته رواوه لکن هغه عملونه منسوخ سوه نو قتال هم ورسره ولاړې،، حاصل د کلام دا دی»

د بدرالدین العینیؒ په شرح کښې د بخاري ذکر کړي دی: کې څه هم عینيؒ نسبت وما لکیا نو ته کړي لکن قواعد د احنافو هم ورسره منافي نه دی. هغه وائي کله چې تیریدونکی وده ته نژدی وو چې د مصلی کام پورته کوي ... نه غوښته ، اول دی اشاره ورته کړي یا دی تسبیح ووائي ... هغه ... سي. سپکه چپلاخه دی پر ځیګر ووهي. او که په هغه دفعه نه سو، نو هغه ... چې ذکر سو نه دی ورسره کوي. ولی چې هغه عمل کثیر دی که څه هم عمل کثیر په ابتدا د اسلام په لمانځه کې روا و خو بیا هم منسوخ دی لکه مصنفؒ چې وویله.

او که مار تیري وو نو د مصلی خوښه ده که اشاره ورکوي اویا تسبیح ورته وائي. او کی پرینږدی مطلب دا چې بیسي روانیږي به نه. او که د مخه د مصلی پیښي تیریدله چې په اشاره نه پوهیدله په لغت دی ووهي. درویش وائي چې هغه حدیث چې مصنفؒ اشاره ورته وکړه دا دی: چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم وائي چې هغه وخت چې سړی لمونځ کوي نه دی پرېږدي هیڅ څوک چې د ده د مخه سره تیر سي. او دفعه دی کړي په هغه قول چې ده ته ممکن وي یعنې په اشاره سره اویا په تسبیح سره. او که هغه مار اباء وکړه یعنې تیریدی. نو دی جنګ ورسره وکړي. ولی هغه نه دی مګر شیطان یعنې د غه سرکښي د ده فعل د شیطان دی

مسئله که مصلی په ظاهر روایت د حدیث عمل وکړي او مار یه په لغته وواهه او یا یه په سوکه وواهه هغه مړ سو. پر مصلی څو ګناه نسته په اتفاق د علماوو. او دیت د مړي پر ستنه اویا مرګ یه لغوه دی، د علماوو په دی کې دوه مذهبه دي. او هغه علماءؒ چې دیت

پر لازم بولي. بعض وائي چې ټول دیت د مصلی د مال څخه ورکړه سي. او بعض وائي چې دیت به پر عاقله یعنې پر قوم د مصلی دی،، وفی الدر عن الباقانیؒ وائي چې د دغه مار مرګ لغوه دی هیڅ دیت نه لري په نیز د شافعیانو. او د حنفیانو په نیز ضمان نسته» ط»

پوهسه: چې امام محمدؒ د هغه حدیث مذکور تاویل په دی سره کړی دی چې په سختۍ دی دفع وکړي خو حاصل دا دی چې په نیز د عامو علماوو ظاهر د حدیث مراد نه دی،، و الله سبحانه وتعالی اعلم وعلمه اتقن واحکم »

ـبیت»

نقصان نه قابل است وگرنه ؛ علی الدوام فیض سعادتش بهمه کس برابر است ؛

همت بلند دار که نزد خدا و خلق ؛ باشد بقدر همت تو اعتبار تو ؛

دا یو بل څخه یو جهان لشکر

ای نسیمه زیری وکړه د صباح
په روناچې موخوشحاله سی ارواح

د احنا فو فقه ټوله په پښتو سوه
چې تفصیل سوا جالی نور الایضاح

ایوبی ته مې ترخوله دعاوی وزي
چې بیان سوه ټول حرام او هم مباح

ربه ته لې عمر نور هم په صحت کړې
لې خبره مؤمن اوس کړي خپل اصلاح

که تا نیخ د عادلانو په لاس لیک سو
ایوبی به وي اول پر دی الواح

حقانی ته هم امید لره له خدایه
د نجات او د رګذر هم د فلاح

Maktaba Tul Ishaat.com

فَصْلٌ فِيْمَا لَا يَكْرَهُ لِلْمُصَلِّيْ

دافصل دی په بیان کی د هغو شیانو چې مکروه نه وی مُصلی ته: **پوښتنه**: چې مَراقی بیان د لفظ د "مَا" په فیما کی په افعالو سره کړی دی لکن ط وائی او یا اقوال لکه مکرره وَل دیوه سورت په دوو رکعتو کی د نفلو، شاید مصنف په مراقی کی دد ی وَجهی تخصیص د افعالو کړی دی چې افعال غیر مکروهه رېردې تراقوالو، قَالَ

لَا يَكْرَهُ لَهُ شَدُّ الوَسَطِ وَلَا تَقَلُّدُ بِسَيْفٍ وَنَحْوِهِ إِذَا لَمْ يَشْتَغِلْ بِحَرَكَتِهِ

نه دی مکروه لمونځ کوونکی ته ملا تړل په دسمال یا کمربند وغیره سره کرخه هم بیله عذره وي. ولی چې په دی کی ځان بند چسپکول دی د عبادت دپاره اودغه رنگه نه دی مکروه په غاړه یا په اوږه کی اچول د تورې او یا مثل د تورې لکه توپک وغیره لکن دا هلته چې د مصلی زړه نه مشغوله کیږی په حرکت د هغه سلاح تورې وغیره.

مسئله: کرسي قبا اغوستی وه او مشد ود الوسط نه وه دی گناه کاره دی. او کی لاندې تر قبا قمیص نه وو بیا خو شد الوسط او یا په لاسو تینګول یه لازم دی. ولی بیله دَ هغه خو کشف العورت لازمیږی **فائده**: قباء چې په اصطلاح کی د پښتنو یه چپنه بولی او په عربی یه قفطان هم بولی. هغه اوږده جامه ده چې د مخ د خوا تر پایه پورې چاك لري او تر شا چاك نه لري.. اهل تواريخ وائی چې اول لابس د قبا سُليمان نبی عَليه السلام وو" وفى المَراقى وفى غيره قيل بكراهته لانه صنيع اهل الكتاب" يعنى په غير كى د قبا لكه پوستين، كوسئ، سمور" بعض علماء وائې چې بيله تړلو دی گناه كاره دی. ولی چې دا اهل كتابو فِعل دی. لكن دا مذهب ضعيف دی لكه مصنف چې په قيل اشاره ورته وكړه ولی دد ی شيانو په تړلو كی حَرج عظيم دئ. ط ، قَالَ المصنفُ

وَلَا فِيْ إِدْخَالِ يَدَيْهِ فِيْ فَرْجِيِّهِ وَشَقِّهِ عَلَى الْمُخْتَارِ

او داغه رنګه مکروه نه دی داخلول د لاسو د مصلی په فرجی کی. فَرجی هغه قبا ده چې ده شاخوا

باندې چاك لري. چې په پښتو یه بالاپوښ بُولي، او نه په مشق کی. **پوښتنه** چې شق چې په عربی یه عَبَا هم بولی د غسی چپنی دي چې ډیری اوږدی وی چې لستوني نه لري. صرف د لستونړو په ځای کی یو فراخه غاروی چې. تر هغو لاسونه کښېکیږی لکن مبا چې حاجیان د تحفی په ډول بعض ملایا نو ته راوړي. په دی قسم کی یو فراخه غاروی چې تر هغو لاسونه کابړی. په دی قسم کی بعض صرف یو ټکروی استر نه لري. او بعض گرم استر لري.

پوښتنه: چې مصنف علی المختار وواَیه" دد ی سَببه چې بعض فقهاء وائی چې لاسونه کښنل لازم دی. او بیله ده لاسو کښنلو لمونځ مکروه دی. درویش وَائی چې په د غو لباسو کی قدیمًا او حدیثًا اختلاف سَنه، لکن لکه چې درویش د مخرم ووَیل چې مبنی دده لغو لباسو یه لاسو کښنلو کی په عرف دلا بسینو د غو لباسو ده. بیله لا نځه که بیله لا ئځ لاسونه کښنل عادت نه وو نو لمونځ هم بیله لاس کښنلو مکروه نه دی. وعلى العكس لمونځ مکروه دئ. فتدبر و الله اعلم بالصواب" قَالَ المُصنفُ:

وَلَا التَّوَجُّهُ لِمُصْحَفٍ أَوْ سَيْفٍ مُعَلَّقٍ أَوْ ظَهْرِ قَاعِدٍ يَتَحَدَّثُ

او دغه رنگه مکروه نه دی لمونځ کول چې د مَخ وخواتی قرانِ مبارك پروت وي او یا توره وي چې ځړیږی. او دغه رنگه نه دی مکروه لمونځ کول وشا ته د ناست سَړي چې هغه خبری کوي وجه د عدمِ کراهت دَادَه چې د دغو شیانو عبادت چا نه دی کړی او خدای جل سلطانه هم وائی: وَلْيَأْخُذُوا حِذْرَهُمْ وَأَسْلِحَتَهُمْ: او توره چې و مخته ته د سړي پرته وي نو دی نه قدرت لري پر اخستو یه په وخت کی د حاجت. او شا ته د قاعد تشبیه د عبادة الاصنام سره نه ده. وورد انه صلی ابن عمرؓ الی ظهر نافع"

پوښتنه: چې د قاعِد قید اتفاقی دی. د قائم هم د غه حکم دی. او قید د ظهر احترازی دی. ولی چې و مخته د قاعد یا قائم لمونځ مکروه دئ. ولې عَبدة الاَصنام و مخته د خپلو بتانو سجدی کولې نو د وی سَره تشبه مکروه دَه، او قید د یتحدث" دد ی دپاره دی که چیری

هغه قاعده خبری نه کولې بیا خوپه طریق اولیٰ لمونځ مکروه نه دی. **فائده** ق عید په کرار کړ خبری کولې چې ومصلی ته تشویش نه پید اکوی ورنه بیا مکروه دی. ط

بنهنانه وزناده

پوښتنه: مصنفؒ د څه ضرورت دَوجې مسئله دَتوجه دمصحف شریف اود توری معلق مسئله راوړه. **جواب** په کفایه کی شرح د هدایه کی وائی چې وجه د راوړلو دغو دومسئلو داده چې بعض علماءؒ دا دواړې مکروه بولې. دتوری دکراهت سبب دابیانوي چې توره خو آله دحرب وه نومناسب نه دَه. چې په ځای کی دعجز او ابتهال چې لمونځ دی دمخه کښېښول سی. وقیل هوقول عمر رضی الله تعالیٰ عنه. اود مصحف ومخته ایښوولو کراهت وجه دا بیانوي چې پدې کی تشبه داهل کتابو سره ده چې هغوبه هم خپل کتابونه ومخته ایښول په لمانځه کی. وقیل هوقول ابراهیم النخعیؒ دی. والجواب عن الثانی» دادی چې اهل کتابوبه خپل کتابونه ددی دپاره مخته ایښوول چې په لمانځه کی بې دهغو څخه قرائت کاوه. اودقرآن شریف څخه تلاوت خوزمونږ په نیز مکروه دی مسئله خودلته داده چې صرف قرآن دمخ وخواته پروت وی. اوسړی لمونځ کوی بیله دی چې تلاوت دمصحف شریف څخه کوی» وشتان بینهما، نوپه دی کی هیڅ تشبه داهل کتابو سره نشته. نوقرآن شریف که دمخه ده مصلی پروت اوکه ځړېږی دواړه کراهت نلري. اوده اول چې سیف معلق دی. جواب دادی، چې مونږ نوچې توره آله دحرب دَه لکن لمونځ دوه جهته لري جهت دعجز دخدای جل سلطانه ته. اوجهت دحرب دشیطان سره نوځکه محراب بولی یعنی ځای جنګ. نودجنګ اوعجزت ترمابین منافات نسته لتغایر الجهتین» اوبل جواب دادی چې مونږ په صلوٰة کی امرسوي پوسپه اخذ دسلاح» قال الله تعالیٰ: وَلْيَأْخُذُوا أَسْلِحَتَهُمْ نوتوره چې معلق وی ومخته دمصلی نواخستل یې اسانه دي وده ته کی حاجت ورته پیداسو نو ... اهت هیڅ وجه نسته، اودی خبری بخلی هغه حدیث صحیح کوی چې صحابه رضی الله تعالیٰ

عنهم وائی چې عنزه چې هغه لکړه ده چې په سرکی تیره وسپنه ده د آنحضرت صلی الله علیه وسلم دمخه به چا اخستی وه نووخت کی د لمانځه بې دَدَه مبارک دمخه دره وله کیدله. او په دی کی شک نشته چې عنزه خوهم آله دحرب دَه انتهٰی قول الکفایه بما حاصله مع الزیادة منه.

قال المصنفؒ

اَوْشَمْعٍ اَوْسِرَاجٍ عَلَى الصَّحِيْحِ

اوداغه رنګه مکروه نه دی لمونځ چې ومخته مصلی شمع لګیږی اویا څراغ لګیږی پر صحیح روایت. ولی چې په دی کی مشابهت دعبادت سره د مجوسیانو نشته» ولی چې مجوسیانو عبادت دسکرو تهو ته کوی نه وه بل اورته کذا فی فتح القدیر وکذا السید فی الشرح وقدم بعض التفصیل» اوصحیح په لفظ کی اشاره ورته ده چې په بعض روایا تو ضعیفه ووکی راغلی دی چې دا مکروه دی. شاید هغو صرف دااوریدلې وی چې مجوسیان داور عبادت کوی نوشمع اوڅراغ خوهم اوردی لکن دوی ته دا درک نه دی معلوم چې مجوسیان خود سکرو تهو عبادت کوی نه دبل اور» قال المصنفؒ:

وَالسُّجُوْدُ عَلٰى بِسَاطٍ فِيْهِ تَصَاوِيْرُ لَمْ يَسْجُدْ عَلَيْهَا

اود غه رنګه مکروه نه دی لمونځ کول پر هوار سوي شی چې په کی بتانو داسی تصویرونه اوبتان وی چې مصلی سجده نه پر کوی **پوښتنه**: چې مراد دبتانو څخه بتان د ذی روح شی دي. ولی دغیری ذی روح لکه درخت پرتصویرباندی سجده هم روا ده. چنانچه هغه مصلّی وی چې دعربستان په حاجیانو راوړی دعین سجدی په ځای کی دمحراب صورت. اویا دمسجد مکی یا د مسجد مدنی نقشه وی. ولی چې دغه بتان سپک استعمالیږی چې تر پښولاندی کیږی نوتعظیم دبت نه دی»م» داسی عبارت په جامع صغیر کی راغلی دی. اوبدائع هم صحیح ګڼلی دی اوتاج الشریعة یې هم تخلی کړی دی. اوپه مبسوط کی عبارت دکراهت مطلق ویلی دی. یعنی که سجده پر کوی اوکه نه. اوصاحب النهر وائی چې مطلق عبارت دمبسوط محمول پر مقید دی» ط» یعنی چې سجده پر کوی فارتفع الاختلاف»

خدایه وبخښی مؤلف اوهم کاتب؛ دعاء تل رب قبلوي دوړ غائب؛ حقانی غفرله

Maktaba Tul Ishaat.com

قال المصنف وَقَتْلُ حَيَّةٍ وَعَقْرَبٍ خَافَ أَذَاهُمَا وَلَوْ بِضَرَبَاتٍ

او د غه رنگه مکروه نه دی وژل د مار او لړم، د مصلی د خوا چې مصلی بیریږی د آزاره څخه د دوی که څه هم په څو واره وهلو سره وي چې عمل کثیر دی. او که دا رانه بیریدی نو عمل کثیر په لمانځه کی خو مکروه تحریمی دی. **فـائـده:** په صحیح حدیث کی راغلی دی: اُقْتُلُوا ذا الطفتین وَالابتر وایـاکم والحیـة البیـضاء فانها من الجن» یعنی تاسی وژنی مطلقًا یعنی که په لمانځه کی یاست که بیله لمانځه هغه مار چې پر شا باندی دوې لیکی لری چې دا مار یو خبیث مار دی. او ابتر مار یعنی چې لکی یې لکه پری وی چې مونږ په لنډی بولو او ځان ساتی د سپین مار ده وژلو څخه ولې چې د پیریانو د قسم څخه دی»

مسَئَلَه: که لمونځ کوونکی د آزاره د مار لړم وغیره په امان کی وو. نو کی په عمل قلیل وژلای سواې لکه یو په پلا په چوټه یې وه وهی نو خو کراهت نشته. او کی عمل کثیر لکه څو واره ضربات یا په انحراف د قبلې څخه نو په دی کی اختلاف دی «حسنؒ د امام اعظمؒ څخه روایت کړی دی چې د دغه قتل په عمل کثیر یا انحراف د قبلې څخه سره د امن مکروه خو دی لکن لمونځ نه په فاسدیږی. کذا قال الامام السرخسیؒ. وقال الحلبیؒ صحیح دا ده چې لمونځ په فاسدیږی که څه هم په نفس وژلو د دغو موذیاتو په لمانځه کی قاتل گناه کار نه دی. وهذه روایة مبسوط شیخ الاسلام وعلیه عامة شروح الجامع الصغیر وقال الکمالؒ الاصح فی المسئلة المذکورة فساد الصلوٰة ط بتغییر و تقدیم و تاخیر» وفی المراقی نقلًا عن سبعیات الفقیه ابی اللیثؒ»

او شیان دی چې مصلی یې ووینی. لَابَأْسَ بِقَتْلِهَا» پروا نشته په وژلو کی په لمانځه کی ۱ ماردی ۲ لړم ۳ کربوړی ۴ غالبوزه که زړه وی که تنده، او که مچ وی که مچچی، ۵ او منگر ۶ او کیکه ۷ اوشپږه او بعض علماء ووغوما شیه هم پرې یاته کړیده، او موږ میږی چې تنا نگور میږی په بولي یا حبشی میږی په بولي. هم پرې یات کړی دی. لکن د شپږی وژنو څخې د ځان ساتی. ولې هغه په نیز د امام شافعیؒ نجس دی. وقال بعضهم چې نیول د شپږی

او یا وژل د امام اعظمؒ په نیز مکروه دی. لکن دا حلته مکروه دی چې دا شپږی مصلی نه آزاروی په باره کی د مار د وژلو صدر الاسلامؒ داسی وائی چې صحیح دا ده چې په وژلو کی د مارانو د سپی د پیاحتیا ط کوی چې جنی پیری څنډی قتل نه ږی

تا چې بیا سبب د لوی آزار د جنی د خوا څخه ونه گرځی. او چې سړی مار ووینی چې شک د جنی پیری څندی وسی. یعنی سپین وی او سمدم روان وی. اول دی ورته ووائی چې خالی کړه لاره د مسلمانانو تیر سه. نو که تیر سو نو دی کار نه په لري. او که نه ایسته کیدی او یا ئی خبک کاوه مړ دی کړي» صدر الاسلامؒ وائی چې زه ما شروو یو لوی غټ مار چې زمونږ په کور کی پیدا سوی وو په توره یې وواهه او مړئی کړئ. د پیریانو د خوا دی پر ښو ووهل سو. چې په دوارو پښو شل سو او پښی یې تر یوی میاشتی پوری هیڅ حرکت نه درلودی. حتی چې بیا مو دواوی هم په وکړی او هغه پیریانو موهم راضی کړه بیا هغو پری سوا او جوړ سو دی وائی. چې دا خو زما چشم دیده واقعه ده.

د روایتن وائی. چې هغه خبره چې قهستانی د شرح التاویلات څخه نقل کړی ده. چې وائی چې پیرانان دیر ضعیف دی تر انسانانو، او دوی قدرت نه لري پر وژلو د سړی او یا د هغه د مال پر روا او یا پر فاسد ولو د هغه مالو، خلاف د بداهت څخه او خلاف د تجربو څخه او خلاف د احادیثو نبویه ده څخه فتامل» در قال المصنفؒ:

وَانْحِرَافٍ عَنِ الْقِبْلَةِ فِي الْأَظْهَرِ وَلَا بَأْسَ بِنَفْضِ ثَوْبِهِ

یعنی که څه هم په وژلو کی د مار او لړم چې د ازاره څخه بیریږی کړوالی راسی د قبلې څخه، او پروا نشته چې مصلی

كَيْلَا يَلْتَصِقُ بِجَسَدِهِ فِي الرُّكُوعِ

لیری کوی جامه خپله د بدن نه څخه یعنی په عمل قلیل. تا چې دغه جامه په بدن سره جوړت نسی په رکوع کی یعنی یا په سجده. دا دی د باره لیری کوی چې د بعض خلکو قمیص لنډ وي او پر توگ یې تنگ وی نو چې په رکوع سی پر توگ یې په کونه ننوزی. او د کونی نقشه یې کښی ښکاره سی. او چې پر سجده سی په پرتاگ کی د خوتیو ځراندی نقشه معلومیږی

تہ دھندوستان دخلگو کالی۔ او د بعض خلگو کالی تر خیزی نہ لری پہ یوہ تاوی دھغو پہ کونہ هم داقمیص نښوزی۔ او دکونی نقشہ پکښی معلومیږی۔ چې پہ نقشہ معلومیدو سره تر شا لمونځ کوونکوتہ هر ښاره بیا معلومیږی. نو د دی سببہ نقص دجامی ومصلی تہ مکروه نہ دی.

مسئلہ: جامہ سائل د خاورو څخه مکروه نہ ده پہ لمانځہ کی. یعنی چې پر قمیص پہ وخت د رکوع لاس ونسی چې پہ خاورو نہ سی. مګر کہ اپوره تہ کره دځیګرو خواتہ بیا مکروه دی

قال المصنف: **وَلَا بَأْسَ بِمَسْحِ جُبْهَتِهِ مِنَ التُّرَابِ اَوِ الْحَشِيْشِ**

او پروا نستہ پہ پاکولو سره د تندی د خاورو څخه (او یا خاشو څخه) نسیله فراغہ د لمانځہ مراقی پہ وجہ داوائی تنظیفاً عن صفۃ المثلۃ ، یعنی د پیاره

بَعْدَ الْفَرَاغِ مِنَ الصَّلٰوةِ د ساتلو او پاکولو مخ د هغه څخه د مثلت. یعنی بد شکلی د تندی. درویش وائی چې د دی دلیل څخه د مراقی دا فهمیږی چې نہ پاکول یہ مکروه دی، ولی چې مثلت خو مکروه دی. او د لفظ "لَا بَأْسَ" پہ متن کی دا معلومیږی چې پاکول یہ مکروه تنزیہی دی" کما هُوَ مصطلح الفقهاء فی لفظ لَا بَأْسَ" نو پاتہ یہ ښہ کار دی.

او د غہ رنگہ پہ یوه اثر کی چې روایت یہ سید کړی دی دا سې راغلی دی: إِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَسْتَغْفِرُ بِهِ مَا دَامَ عَلَيْهَا ، چې ملکی طلب د بخښنی ورتہ کوی تر هغو پوری چې د غہ خاوری د ده پر جبہ وی. د دی اثر خو هم بالتصریح دا معلومیږی چې پرېښول یہ اولی دی" او یا کہ یہ مکروه تنزیہی دی. فما التوفیق بین ما یفهم من تعلیل المراقی وبین ما یفهم من لفظ لا بأس ومن هذا الاثر» **والجواب** دا دی چې کہ تندی معمولی پہ خاورو سپیره وی نو ترک یہ اولی دی. او پاکول یہ مکروه تنزیہی دی کما هو مفاد لفظ" لَا بَأْسَ وَالْاَثَرِ الْمَذْكُورِ" او کہ تندی یہ پہ خاورو ډیر چتل وو چې حد تہ د مثلت رسیدلی وو نو بیا پاکول ښہ کار دی پرېښول یہ مکروه دی کما مفاد تعلیل المراقی" وهذا هو وجه التوفیق کما هدیت الیه بنور التوفیق. دا خو حال وو د تندی د پاکولو وروستہ تر لمانځہ"

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهِ وَلِكَاتِبِهِ اٰمِين

قال المصنف: **وَلَا قَبْلَ الْفَرَاغِ اِذَا ضَرَّهُ اَوْ شَغَلَهُ عَنِ الصَّلٰوةِ**

او د غہ رنگہ پروا نہ لری پاکول د تندی د خاورو او خاشو څخه د مخہ تر فارغ والی د لمانځہ کی ومصلی نہ د غہ خاورو او خاشو ضرر رساوه یعنی تندی یہ ورخوږاوه. او یا یہ مصلی د خشوع څخه د لمانځہ مشغولہ کړی وو" قال المصنف:

وَلَا بِالنَّظَرِ بِمُوْقِ عَيْنَيْهِ مِنْ تَحْوِيْلِ الْوَجْهِ

او د غہ رنگہ پروا نستہ چې مصلی پہ کنجا نو د سترګو وبوشی تہ ګوری لکن نہ پہ مخ اړولو سره لکن بیا هم بیلہ ضروره تہ یہ اولی ترک دی چې د ادب څخه د لمانځہ خلاف دی.

مسئلہ: کہ چا پہ کتلو کی مخ د سمت د قبلی څخه واړاوه نو عمومی فقهاء وائی چې لمونځ مکروه دی او کی ځیګر هم د سمت القبلہ څخه واړاوه لمونځ یہ فاسد دی لکن قاضیخان پہ د مخہ صورت کی هم لمونځ فاسد بولی وهو اختیار دره" قال المصنف:

وَلَا بَأْسَ بِالصَّلٰوةِ عَلَى الْفُرُشِ وَالْبِسَاطِ وَاللُّبُوْدِ

او پروا نستہ پہ لمونځ کولو کی پر فرش باندی لکہ د سنګ مرمر وغیره فرش. او نہ پروا ستہ پہ لمانځہ کولو کی پر آوارسوی شیانو باندی لکہ سترنجی، غالی، او پر کرا سنو باندی چې تو شہ کان یہ بولی" پہ شرط د دی چې حجم د محکی لری یعنی د سجدی پہ حال کی کښتہ نہ ځی. لکہ پنبہ یا وړی، **مسئلہ**: پہ مراقی کی وائی چې صرف تر تندی لاندی کم توکر آواره وی د جهت څخه د صرف ګرمی او یا ډیر یخ او یا د محکی د زینت والی پہ سبب مکروه دی"

حکایت یوه ورځ امام اعظمؒ تر تندی لاندی یو توکر اوار کړی وو، یو نا ولده سړی ورتہ وویل یا شیخ لا تفعل مثل ذالک فانہ مکروه فقال له الامامؒ یعنی بعد الفراغ عن الصلوٰة من این انت، تہ د کوم وطن یہ، فقال من خوارزم،

Maktaba Tul Ishaat.com

فقال الامام الله اکبر داکلمه یه دَتعجب دپاره وَوَیل: جَآءَ التکبیرمن الصَّفِّ الاخیرِ داخیره کنایه ده د ې ځنه چې امام په لمانځه کی سهوه سی. دَاول صف دخوافتح نه ورکړه سی بلکه دَاخیر صَف دخوافتح ورکړه سی. غرض دحضرت الامام داوو چې دین داسلام د دی ځنه خوار نږم ته تللی دی اود خوارزمه دلته نه دی رَاغلی. وروسته امامٌ وَرته وویَل اَفی مسجدکم حَشیش، ایا ستاسی په مسجد کی واښه نه دی آوار» قال نَعَم یعنی هو آوار دی نو حضرت الامامٌ وَرته وویله یجوزعلی الحشیش وَلا یجوزعلی الخرقة» نو ځکه سجده کول پر واښو روا ده او پر خرَقه مکروه دَی: قاله صاحِب الهدایه فی التجنیس» ط,در

مسئله: هغه ټوکر چې مُصلی پَسله اوداسه مخ اولاسُونه په وچ کړی وی پر هغو سجده مکروه ده په سَبب ددی چې پَه لعبض روایا توکی که څه هم معتمد نه دی ر امًلی چې ماًُ مستعمل نجَسه دي. قَالَ المُصنفُ:

وَالْاَفْضَلُ الصَّلٰوةُ عَلَی الْاَرْضِ اَوْعَلٰی مَا تُنْبِتُهُ

اوښه کار لونځ کول دي پر خالصه ځمکه چې هیڅ شی نه وی پر آوار یعنی بیله حائِله دَشیُ. او یا پر هغو شیا نو چې ځمکه یه ر اشنه کوی. لکه بوریا، که د لوخووې اوکه دمزرو وې، او یا واښه لکه عوم بک. ولی چې خو داسبب دی چې داسی لمونځ کول نهایت تواضع دَه. او بل پر دَغوشیانو لمونځ کول مصلی باسی دخلاف ځنه د امام مالکٌ. ولی چې امام لمونځ مکروه بولی پر هغه شی چې دَوَرپیو ځنه جوړ وی او یاد پنبَو ځنه او یا دکتان ځنه: قَالَ المُصنفُ:

وَلَابَأْسَ بِتَكْرَارِالسُّوْرَةِ فِی الرَّکْعَتَيْنِ مِنَ النَّفْلِ

او هیڅ بروا نشته په مکرر وَلو کی د یوه سورة پـه دوو رکعتونو کی دَ نفلو یعنی بیله عذره چې نور سورتونه یه هم یاد وی بخلاف الفرض فانه یکره التکرار فیه بدون العذر» قَالَ المُصنفُ:

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِکَاتِبِهٖ وَلِمَنْ سَعٰی فِیْهِ اٰمِین»

فصل

فِيْمَا يُوْجِبُ قَطْعَ الصَّلٰوةِ وَمَا يُجِيْزُهٗ وَغَيْرُ ذٰلِكَ

فصل دی په بیان کی دَ هغو شیانو چې پر مصلی قطع یعنی پری سوول دلمانځه واجبوی او یا روا کول د قطع کوی او نوری مسئلی: قَالَ المُصنفُ:

يَجِبُ قَطْعُ الصَّلٰوةِ بِاسْتِغَاثَةِ مَلْهُوْفٍ بِالْمُصَلِّیْ

واجبه ده قطعه کول دَلمانځه په فریاد کولو سره د یوه مظلوم سړی مصلی با ندې مثلاً یو ظالم پر سړي ظلم کاوه او زد وکوب ده هغه یه کاوَه هغه سړی پرمصلی باندی استغاثه وکړه او یا یو سړي په اوبو کی ولویدی، او یا دَرنده حمله پر وکړه. او هغه پرمصلی باندی استغاثه وکړه نو پرمصلی واجبه دَه چې لمونځ دی قطع کړي او فریاد رسی دَهغه سړي دی وکړی.

مسئله: قطعه د لمانځه علت واجبه ده چې قادر وی پر دفع دا ستغاثه کوونکی یعنی پر خلاصولو د ده. او که قادر نه وو بیا قطع د لمانځه حرامه دَه لعدم الفائدة..

مسئله: امام طحطاویٌ د بعض فضلاؤ ځنه نقل کړي دی. که مصلی قادر وو پر خلاصون د مَلهوف بیا قطع د لمانځه واجب ده پر ده. که څه هم وخت دَ لمانځه تیریږي. در روایت وَائی چې سبب یه دادی چې د ملهوف وخت تیریږی او قضاء یه هم نه راوړه کیږی. او د لمانځه وخت که تیر سی قضاء خو یه سته او بادارجل سلطانه غفور رحیم دَیٌ

قَالَ المصنفُ **لَابِنِدَاءِ اَحَدِ اَبَوَيْهِ** او نه ده واجب قطع د لمانځه په نارې سره د یوه د مور او پلار، لکن چې دَه استغاثه پر ده وله نه وی. والا فالقطع واجب بالطریق الاولیٰ» ولی چې قطع د لمانځه د پاره د بیگانه مستغیث واجبه دَه نو مور او پلار تر بیگانه اولیٰ دی چې د زوی ځنه استغاثه وغواړي. دلیل د مسئلی د متن دادی چې قطع د لمانځه هلته روا ده چې ضرورت وی د نفس نداء ځنه د ابَوَینُو خو ضرورت نه فهمیږی نو قطع د لمانځه حرام دَه» مُر.

قال الامام الفقيه ابوجعفر الطحاوی فی شرح معانی الآثار، چی دا حکم د فرض لمانځه دی.
او که سړی په نفلو لمانځه ولاړ وو. او مور یا پلار ور ناری کړی. نو که مور او پلار ته دی خبر وه چی زوی په لمانځه ولاړ دی نو بیا د ے لمونځ نه قطع کوی. او که نه وو خبر نو بیا لمونځ قطع کړی او د دوی اجابت دی وکړی. لکن په صورت کی د خبرتیا هم اولی دا ده چی لمونځ دی قطع کړی. د دی دریش وا پ چی هم په نفلی لمانځه باندی محمول دی. هغه اوږد حدیث د جریج او د دہ مور چی بخاری او نورو کتابو د حدیثو نقل کړی دی فراجع الی تلک الکتب

قال المصنف وَيَجُوْزُ قَطْعُهَا بِسَرِقَةِ مَا يُسَاوِيْ دِرْهَمًا وَلَوْ لِغَيْرِهٖ

او روا ده قطع کول د لمانځه یعنی واجب نه ده. په سبب د غلا د یو څو داسی شئ چی قیمت یی وی د درهم سره برابر وی. که څه هم هغه شئ د مُصَلی نه وی. بلکه د بل چا وی. دلیل یی دا دی چی اندازه د درهم مال دی. وقال علیه الصلوٰة والسلام قاتل دون مالک او دلیل د دوهم خبری دا دی چی په دی قطع کی د لمانځه د پاره د مال د غیر دفع د ظلم ده هغه نو ترنهی عن المنکر ترکیب لاندی راځی. مصنف په مراقی کی وائی چی تر درهم کم مال د پاره هم قطع د لمانځه روا ده. ولی چی په یوه دانق چی شپږمه حصه د درهم ده حبس دیوه وړه روا دی وَهُوَ الاصح:

مسئله: که بنځه په لمانځه ولاړه وه او کټوو یشیدل چی توییول قطع د لمانځه ورته روا ده.. مسئله: که بنځه په خپل کشنی زوی بیریدل چی مثلاً د بیشی څخه بیریږی او یا د باندی ولاړ نسی. قطع د لمانځه روا ده» در» مسئله که یو سړی په لمانځه ولاړ وو یو کافر ورته ووایل چی ماته کلمه راوښیه زه مسلمان کیږم. قطع د لمانځه ورته روا ده. او واجب په دی سبب نه ده چی لمونځ هم عبادت دی او تعلیم د کلمی وکافر ته هم عبادت دی. نو هر یو چی د مخه کوی د ده اختیار دی. او په غیر کی د حالت د لمانځه ځنډول د تعلیم د کلمی وکافر ته گناه ده. په دی سبب چی دی نو گویا راضی دی په بقاء د کافر په کفر» وَهُوَ معصیة»

قال المصنف اَوْخَوْفِ ذِئْبٍ عَلٰى غَنَمٍ اَوْخَوْفِ تَرَدِّيْ اَعْمٰى فِيْ بِئْرٍ وَّنَحْوِهٖ

او د غه رنگه قطع د لمانځه روا ده د جهته د بیری د لیوه څخه مثلاً یا د ړمبی یا د فرانک وغیره په پسو باندی که څه د بل چا وی. او د غه رنگه قطع د لمانځه روا ده چی مُصَلی بیریږی چی راوند وخاه ته وَنه لویږی او یوی کندی ته او یا د بام نه او نه لویږی. مسئله: که غالب الظن د مصلی دا وو چی ړوند به وخاه ته ولویږی او یا به د بام نه ایله سی. بیا قطع د لمانځه په واجب ده که څه هم فرض لمونځ وی. قال المصنف

وَاِذَا خَافَتِ الْقَابِلَةُ مَوْتَ الْوَلَدِ او د غه رنگه قطع د لمانځه روا ده که قابله چی په اصطلاح یی دائی بولی بیریدل چی کشنی به مړ سی یعنی زه لمونځ پوره کوم. قال

وَاِلَّا فَلَا بَأْسَ بِتَاْخِيْرِ الصَّلٰوةِ وَتُقْبِلُ عَلَى الْوَلَدِ او که مرف بیره نه وه بلکه غالب الظن د لمونځ کوونکی ښځی دا وو که زه چیری لمونځ پوره کوم کشنی به مړ سی مثلاً یعنی یا بی مور مړه سی نو باک نسته بلکه په واجبه ده چی لمونځ به ځنډوی یعنی تر وخت او دا به مخ را اړوی په کشنی چی دا او س زیږی تا چه د کشنی ژوندوساتل سی. لمونځ خو بیا قضائی وکړی. او ده ورته عذر د سببه چی د لمانځه قضاء کول روا دی.

لکه په صحیح بخاری کی او په مسلم کی چی راغلی دی چی په غزا کی د خندق آنحضرت صلی الله علیه وسلم څلور لمونځونه قضاء کړه د ما پښین لمونځ او بیا د ماز دیگر لمونځ او بیا د ما ښام لمونځ او بل د ماخستن لمونځ بیا یی په ترتیب سره قضاء راوړه په جماعت سره» ط» عذر دا وو چی مشرکین او د دوی سره همکارانو لوی هجوم راوړی وو. فائده: که څوک غواړی چی تفصیل د غزا د خندق چی بل نام یی غزوة الاحزاب هم بولی. په یوه ځای زده کړی نو د ړو لیتن کتاب» البلاغ المبین دی مطالعه کړی چی ډیره افسوس ناکه غزاده چی په قرآن مبارک کی هم د هغی غزا ذکر راغلی. او د شدت د رلک یه د د غو الفاظو قرآنیه

Maktaba Tul Ishaat.com

ځنې معلوميږي: «اذ زاغت الابصار وبلغت القلوب الحناجر» الآية: لکن پاك خدای جل سلطانه بيا هم فتح وظفر او کاميابي مسلمانانو ته په برخه کړه و لله الحمد: قَالَ المُصَنِّفُ

وَكَذَا لِمُسَافِرٍ إِذَا خَافَ مِنَ اللُّصُوصِ أَوْقُطَّاعِ الطَّرِيقِ

او دغه رنګه مسافر ته بيا دی که چرې لمونځ په مستحب وقت کې وکړي د غلو ځنې او يا د قطع کوونکو ځنې د لارې يرې ولري نو ده ته تاخير او ځنډول

جَازَ لَهُ تَأْخِيرُ الْوَقْتِيَّةِ دوخت لمانځه تر اخيره پورې د وخت

پوهنه: چې مراد د مسافر ځنې مسافر لغوي دی. يعنې چې په بيابان کې روان وي که څه هم د شرعي سفر نيت نه وي کړي. ولې چې دا عذر د لصوصو په مسافر شرعي پورې خاص نه دی. پوهنه: چې د لصوص لفظ عام دی نفس غله ته وائی که څه هم لارې بنې نه وي بندی کړي. او قطاع الطريق هغه خاصه ډله د غلو ده چې او طاقونه يې له يو لارې کې وي او خلګ تيريدو نکي وژني هم او مالونه يې هم ځنډی وړي، چې دا ډله غلو ده چې په قرآن عظيم الشان کې د دوی د پاره سزاګانې قسم قسم تفاصيل سوي دي.

مسئله: که مجاهدينو په صفونو کې د جنګ د کافرانو پر آسانو سپاره وه او يا په اوسني زمانه کې په موټرانو کې سپاره وه. او يا په ټانګانو کې سپاره وه. چې هغوی د جهت د شدت د جنګ په اشاره هم لمونځ نه سواي کولای. نو دی لمونځونه قضاء کړي بيا بې وروسته دی قضاء راوړي لما مر من حديث غزوة الخندق، مسئله: د قضائی لمونځو قضاء که څه بالفوره واجب ده لکن هغه سړی ته چې په نفقه برابره ولو د عيال اخته وي. او د قضائی لمونځو د اګر ځولو وخت نه لري. نو ده ته رواده چې قضائی لمونځونه وځنډوی تر وخت پورې د قدرت، او قضاء د روژې خو واجبه على التراخي ده » م» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَتَارِكُ الصَّلٰوةِ عَمَدًا كَسَلًا يُضْرَبُ ضَرْبًا شَدِيدًا حَتّٰى

او پرېښوونکی د لمانځه په قصد سره يعنې بيله عذره وي وهی حکام په سخت وهلو حتى چې

يَسِيلَ مِنْهُ الدَّمُ وَيُحْبَسُ حَتّٰى يُصَلِّيَهَا چې وينې ځنډی وبهيږي او کلی په وهلو توبه ونه کښه بيا دی بندی کړي

مسئله: حکام دی د ده معلومات د لمانځه کولو همیشه کوی په نصيحت او په پيش رو. او بيا کې توبه ونه کښي هم دی وو هي يعنې تر هغه وخته چې دی پر لمانځه د ربړي. او يا په هغه بندی خانه کې مري. دا خو د تارك الصلوٰة د نياوی جزاء ده. او په آخرت کې چې پر اسلام هم مړ سي او د ترك الصلوٰة ګناه پر بنا ندی ده جزاء په هغه ده چې په حديث شريف کې راغلی ده. لَهُ عذاب طويل بوادٍ في جهنم اشدها حرًا وابعدها قعرًا» الى اخر الحديث» او په حديث شريف کې چې روايت يې جابر کړي دی عليه الصلوٰة والسلام وائی: بين الرجل وبين الكفر ترك الصلوٰة » رواه احمد ومسلم م

قَالَ المُصَنِّفُ وَكَذَا تَارِكُ صَوْمِ رَمَضَانَ او دغه رنګه حکم دی د روژه خوړونکي يعنې د کسل او سستی د جهته روژه نه نيسي، يعنې هغه دی وهل کيږي او بيا دی بندی کيږي ځو توبه کاږی او روژې نسی

قَالَ المُصَنِّفُ وَلَا يُقْتَلُ إِلَّا إِذَا جَحَدَ أَوِ اسْتَخَفَّ بِأَحَدِهِمَا او تارك الصلوٰة يا روژه خوړه دی حکومت نه وژني مګر هغه وخت چې صريح منکر کيږي د دوو ځنې د لمانځه او د روژې او يا سپکاوی کوی په يوه د دوی. يعنې داسی الفاظ استعمال کړي چې پر سپکاوی دلالت کوی لکه چې ووائی العياذ بالله لمونځ ورزش دی او روژه دی سنه په هضم کيږي. او يا نور ورته قبيح الفاظ چې زه ئې پر خوله نه سوم راوړلای. او حضرت الامام شافعي وائی چې دغه دواړه دی حدًا وژني يعنې د دوی حد وژل دي. او امام احمد وائی چې دواړه دی وژني د جهته د کفر يعنې دوی مرتد دي. په لمانځه نه کولو سره او يا په روژه خوړلو سره که څه هم انکار صريح يا استخفاف هم نه وي. د روايش وائي چې د دی مسئلې او د دی فصل شرحه خلاصه سوه په توفيق د خدای جل سلطانه او س باب الوتر شروع کيږي.

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين

بَابُ الْوِتْرِ

باب دی په بیان کی د هغه لمانځه چې د وترو په نامه مشهور او شهرت لری او هرچاته معلوم دی

قَالَ الْمُصَنِّفُ **اَلْوِتْرُ وَاجِبٌ وَهُوَ ثَلٰثُ رَكَعَاتٍ بِتَسْلِيْمَةٍ**

وتر واجب دی یعنی چې منکر یې کافر نه دی لکن تارك یې مستحق د عذاب النار دی، او فرض هغه عمل ته وائی چې منکر یې کافر دی بالاتفاق. او په عمل کی واجب او فرض سره یو شان دی او وتر دری رکعاته دی په یوه سلام سره لکه د ماښام لمونځ، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَقْرَءُ فِيْ كُلِّ رَكْعَةٍ مِّنْهُ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُوْرَةٍ

او وبه یې لولی په هر رکعت کی د وترو الحمد لله او یو سورة. او کښینی

وَيَجْلِسُ عَلٰى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ مِنْهُ وَيَقْتَصِرُ عَلَى التَّشَهُّدِ

به پر سر د دوو رکعتو یعنی دوه اول او دا ناسته اوله واجبه ده. او په ناسته کی به یوازی التحیات

وَلَا يَسْتَفْتِحُ عِنْدَ قِيَامِهِ اِلَى الثَّالِثَةِ وَائی یعنی لکه فرضی لمونځ دا چې وتر د فرضو سره مشابه دی"

او سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به نه وائی په وخت د ولاړی د دریم رکعت ته لکه په نفلو چې وائی.

پوښته: چې په وترو کی ډیر اختلافات ستته په احادیثو مبارکه وو کی هم او په فقهاوو او مجتهدینو کی هم خودگرد و تفصیل کول په دی ځای کی مناسب نه دی. زمونږ د حنفیانو مذهب دا دی چې وتر دری رکعت دی په یوه سلام. د دی دلیل هغه حدیث دی چې حاکم یې روایت کړی دی او صحیح یې هم بولی دی. كَانَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ لَا يُسَلِّمُ اِلَّا فِيْ اٰخِرِهِنَّ"، پوښته: چې وتر په لغت کی تاك شی ته وائی

چې مقابل د جوت دی. او په شرعه شریفه کی د فوق الذکر لمانځه نوم دی.

فائده: اول روایت د امام اعظم ځکه دا دی چې وتر فرض دی. والیه مال الشیخ علم الدین السخاوی المقرئ. او په دی باب کی ده یوه رساله هم جوړه کړیده. او هغه حدیث یې سره جمعه کړی دی چې ظاهراً پر فرضیت د وترو دلالت کوی. او دوهم روایت یې دا دی چې وتر سنت دی. او دا قول دیارلنو هم دی او اخیری روایت د ده مبارك ځکه دا دی چې وتر واجب دی وهو الاصح، او اکثر اهل المذهب الحنیفیه هم ورغه روایت ته تللی دی کما قال المصنف او بعض مشائخو مذهب د دی دری روایتو تطبیق داسی سره کړی دی.

چې مراد د امام اعظم د فرض ځکه فرض عملی دی یعنی چې ترك یې نه دی روا او د واجب ځکه مراد دا دی چې وتر واجب دی از روی عقیده یعنی منکر یې کافر نه دی، او د سنتیت ځکه مراد دا دی چې اثبات د وترو په سنت نبوی سره سوی دی. چې هغه دا قول د علیه الصلوٰة والسلام دی، الوتر حق فمن لم یوتر فلیس منی، او دا خبره یې دری واره مکرر کړه. رواه ابوداؤد والحاکم وصححه الحاکم، په دی حدیث کی امر نبوی او لفظ د حق دلالت پر وجوب کوی.

هرڅه مه وایه

هغه قصه چې بعض قصه خوانه، بیعلمه خطیبان یې کوی چې یوه شپه جبرئیل امین علیه السلام و آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته راغلی او ورته وویل چې خدای پاك وائی چې یو رکعت لمونځ وکړه نو علیه السلام چې یو رکعت لمونځ وکړی د ځان سره یې فکر وواهه چې یو رکعت خو به لمونځ نه وی. نو یو رکعت لمونځ یې بل ورضم کړی چې جوت سوه پر التحیات چې کښیناستی تر سلام د مخه جبرئیل علیه السلام ورته وویل چې یو رکعت بل وکه یعنی چې تاك شی نو علیه الصلوٰة والسلام یو بل رکعت هم اداء کړه. نو دغه په دین کی بی پروا ملایان وائی چې اول د رکعت د وترو چونکه په امر د خدای جل جلاله دی نو هغه رکعت فرض دی. او دوهم رکعت چونکه علیه الصلوٰة والسلام د خپلی رائی ځکه وکړی نو هغه سنت دی. او دریم رکعت چونکه په امر د جبرئیل علیه السلام وو هغه واجب دی دا قصه بالکل غلط

Maktaba Tul Ishaat.com

اولې بنیاده ده. پر خدای جل جلاله او پر رسول د خدای دروغ ویل ډېره غټه ګناه ده،
فالحذر الحذر»

تحقیق

پوهه چې درې رکعته والې د وترو، مذهب دی د فقهاء سبعه وو د مدینې منورې. او ابن ابي شیبه د حسن البصري روایت داسې راغلی دی، چې اتفاق کړی دی مسلمانو چې وتر درې رکعته دي او سلام دې ورکړي مګر په اخیر د هغو کې. وهو مذهب ابي بکر الصدیق وعمر والعبادلة الثلاثة یعني عبد الله بن عباس وعبد الله بن عمر وعبد الله بن مسعود. وذهب الیه ابوهریرة رضي الله عنه په یوه روایت کې داسې راغلي دي چې سعد ابن ابي وقاص وتر یو رکعت وکړی نو عبد الله بن مسعود ورته وویل ما هذه البتیراء، دا څه یوازې رکعت دی نږدې کافي یو رکعت فقط، او عبد الله بن مسعود پر دغه خبره قسم هم یاد کړ. وروی ان عمر رأی سعیدا یوتر برکعة فقال، نو عمر ورته وویل، ماهذه البتیراء، یا به بل رکعت ورجوت وې او یا زه تا ته ادب درکومه»

پوهه: چې که څه هم مصنف مطلق سورت ویلی دی لکن په حدیث شریف کې داسې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم: په اول رکعت کې د وترو سورة سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی، وایه، او په دوهم رکعت کې قُلْ يَا اَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ، وایه او په دریم رکعت کې قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ، وایه او په روایت کې د عائشه رضي الله تعالی عنها چې روایت د هغه اصحاب السنن یعني سنن ابي داؤد، سنن ترمذي، سنن نسائي، سنن ابن ماجه کړی دی، او دغه رنګه ابن حبان او حاکم په مستدرک کې کړی دی. داسې راغلي دي چې رسول کریم صلی الله علیه وسلم به دریم رکعت کې قُلْ هُوَ اللّٰهُ، قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ او قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ یو ځای سره ویل، نو موږ باید ګاهې هغسې هم وکو. او ګاهې داسې وکو، لکن اسحق بن راهویه وائي چې اصح روایت په باره کې د قرائت د علیه السلام په وترو کې سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الْاَعْلٰی، او قُلْ يَا اَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ، او قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ، ده، او د معوذتینو پر بالا کولو په دریم رکعت کې امام احمد بن حنبل او یحیی بن معین انکار کړی دی، درولش

وائي چې عمومي فقهاء د مذهب حنفي په خپلو کتابونو کې پر درې اولو سورتو اقتصار کړی دی

قال المصنف: **وَاِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ السُّوْرَةِ فِيْهَا رَفَعَ يَدَيْهِ حِذَاءَ**
او چې مصلی فارغ سي د قرائت څخه د سورت په دریم رکعت کې پورته دې کړي دواړه لاسونه

اُذُنَيْهِ ثُمَّ كَبَّرَ وَقَنَتَ قَائِمًا قَبْلَ الرُّكُوْعِ ترغوږو پورې او بیا دې الله اکبر ووائي

ولې چې د اوس مصلي ودعا ته نقل کیږي. او بیا دې دعاء قنوت ووائي په ولاړه. په حدیث مبارک کې راغلي دي چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم دعائی قنوت د مخه تر رکوع وایه»

پوهه: چې اختلاف په دعاء قنوت کې د مخه تر رکوع د مجتهدینو په افضلیت کې دی ورنه قنوت بعد الرکوع هم په حدیث مبارک کې راغلی دی.

فائده: په وخت د قنوت ویلو د حضرت الامام مذهب دا دی چې راسته لاس دې پر چپه لاس کښېږدي لکه د نحوا په شان، او د ابو یوسف څخه روایت دی چې لاسونه دې د دعا پر ډول پورته کړي تر ځیګر پورې لکه عبد الله بن مسعود چې د غسې کوله او امام محمد وائي چې لاسونه دې د ځانه سره ایله کړي. واختار الطحاوي والکرخي، مرط قال

فِيْ جَمِيْعِ السَّنَةِ وَلَا يَقْنُتُ فِيْ غَيْرِ الْوِتْرِ وَمَعْنَى الْقُنُوْتِ الدُّعَاءُ

دعائی قنوت په وترو کې دې په ټول کال کې وائي. او شافعیان وائي په اولو شپو کې د روژې صرف وائي. او دعاء قنوت دې نه وائي په غیر کې د وترو لکه حضرات شافعیه چې د سحار لمانځه په دوهم رکعت کې همیشه وائي. او د دعاء پر شکل لاسونه هم پورته کوي.

پوهه، چې په حدیث شریف کې چې روایت په انس کړی دی داسې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په دعوت د بعض قبیلو د عرب یعني رعل وذکوان و عصیه چې هغه دعوت د دوی هم مکر او خدعه وه او یا کسه او یا اتیا کسان د قاریانو څخه د صحابه وو د هغو قومو سره د پاره د تعلیم د قران او اسلام واستول خو هغوی ماکرانو په لارکې

نو کسان هم کښېنول، او هغه قاریان یې ټول په شهادت ورسول نو څه وخت چې علیه الصلوٰة والسلام په ذریعه د وحې د دوی د شهادت خبر واورېدی نهایت غمجن سو او د سحار په لمانځه کې دعاء قنوت شروع کړی. یوه میاشت او هغه قنوت پسله رکوع څخه د دوم رکعت بوایه. چې ور د غواقوامو ته ښېرا کوله او د خدای جل سلطانه څخه ئې نصرت او غلبه غوښته پر دوی، انس وائي چې څه وخت چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم ته غلبه پر هغو کفارو پیرېښه سوه. بیائې قنوت د سحار د لمانځه پرېښو. نو د دې حدیث څخه دا معلوم سول چې د سحار د لمانځه قنوت د نازلې بلا د کبله وو.

او قنوت د نازلې د بلا پر مسلمانانو د پاره د خلاصون او س هم مشروع دئ. او زمونږ حنیفیان د همیشه و پیلو څخه د قنوت د سحار په لمانځه کې که نازله وي او که نه وي مخالف یو او حدیث د انس هم زمونږ د مذهب تائید کوي. لکن اختلاف په دې کې دي چې څه وخت چې پر مسلمانانو یوه عامه بلاء نازله سي. لکه په موجوده وخت کې د افغانستان پر مسلمانانو او د کشمیر پر مسلمانانو او د فلسطین پر مسلمانانو او د چیچنیا پر مسلمانانو، نو په لمونځو کې به دعائی قنوت یعنی طلب د نصرت د خدای جل شانه پر کفارو کوي. نو مذهب د امام شافعیؒ دا دی چې په ټولو لمونځو کې به دعاء قنوت نازله وائي. دا زمونږ مذهب دی کما صرح به العلامه نوحؒ.. او بعض فقهاء وائي چې په ټولو جهري لمونځو کې دعائي قنوت ویل سنته او مذهب د احنافو او د امام مالکؒ او د ثوريؒ او د جمهور و محدثینو مذهب دا دی چې د سحار په لمانځه کې بې یوازې وائي. ولې چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په بلاء کې د شهادت د قراوو صرف د سحار په لمونځو کې دعائي قنوت ویلی دی"

لکن حموي وائي چې د احنافو په نیز قنوت د نازلې دی قبل الرکوع لکه قنوت راتب وائي د وتر و. او مصنفؒ په مراقی کې وائي چې د بلاء د نازلېدو پر وخت کې بعد الرکوع قنوت روا دی.

پوښتنه: چې فقیه ابوجعفر الطحاويؒ چې علماء وائي چې اَعلم د خلګو په مذهب د امام اعظمؒ هم دی. دا سې وائي چې مذهب د ائمه ثلثه وو د مذهب دا دی چې دعائي قنوت

دی د سحار په لمانځه کې نه وائي د همیشه د پاره. او نه هم رسول کریم صلی الله علیه وسلم د همیشه د پاره دعائی قنوت د سحار په لمانځه کې ویلی دی بلکه صرف د یوې میاشتې د پاره په وخت د نزول د بلاء د شهادت د اویا قاریانو او یا اتیا له طرفه څخه د قبیلې د رعل او ذکوان په ویلی دی او بیا یې پرې ایښی دئ.

نو ابوجعفر الطحاويؒ په شرح کې د معاني الآثار چې دده یو ډېر محکم او صحیح کتاب دئ. په حدیثو کې وائي چې زمونږ د حنیفیانو او س هم دغه مذهب دی چې دا نازلې بلا په دوران کې دی اماما ن د مساجدو دی د سحار په لمانځه کې د دوهم رکعت ترکوع د مخه وائي. او د هغې نازلې بلا د دفعه دی د خدای جل جلاله څخه په ډېر عجز او نیاز سره غواړي. لکن افسوس دا دی چې دغه قنوت د نازلې په پېښتنو کې لکه شریعت منسوخه دا سې ګرځېدلی دی. سبب یې هم دا دی چې اماما ن د مساجدو دونه قدرت نه لري چې په عربي ژبه د دفعه د بلا د خدا ئې څخه وغواړي. او په کتاب الاشباه والنظائر په نقل د امام طحطاويؒ دا سې راغلی دی چې د طاعون چې معنی یې مرض عام دی چې خلګ ډېر ژر مري. دعائی قنوت نازله ویل اشد ضروري دی. ولې چې طاعون د ډېرو بدو ناوړو لو څخه دی. او دده زیاته کړېده چې علاوه تر قنوت د سحار د لمانځه مسلمانانو لره دوه دوه نفل کول ښکار دي، په نیت د دفع د طاعون:

پوښتنه: طاعون خو سبب د شهادت کما جاء فی الحدیث النبویؐ. نو ولې مسلمانان د دې دفعه غواړي **جواب** سلمنا ذالک لکن په دې کې شک نسته چې طاعون یو مصیبت عامه دی. او د پاره د دفعې د مصیبت عامه ویل د دعائی قنوت نازله مندوب دی لکه چې جنګ د کفارو سره هم سبب د شهادت دی، نو ولې خواست د عافیت کول مندوب دی حتی چې په حدیث نبویؐ کې راغلی دی: لاتتمنوا لقآء العدو واسئلوا الله العافیه"

او حتی چې په کتابو کې د فقهي شریفې راغلی دی چې هیڅ مسلمان ته دا د عا نه کوي چې خدای دې په طاعون سره ستا مرګ وګرځوي کې څه هم په ضمن کې شهادت سته. او سره د دې چې صرف دعاء د شهادت روا ده۔

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: دعاء د طول عمر د هغه چا د پاره رواده چې د هغه په بقاء کې منفعت د مسلمانانو وي لکه یو ښه عالِم متقي مدرس، او یا یو ښه عادل امیر د مسلمانانو، ولې چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم و انس ؓ ته چې دده ۳ خادم وو دعاء د طول عمر کړې. چې د هغې دعاء اجابت هم سوی دی. کما فی کتب السیر النبوی۔

سوال: تول کارونه خیر و شر خدائ په ازل کې مقدر کړي دي. او په لوح محفوظ کې هم لیکلي دي. نو بیا له دغه زمونږ د دعا گانې څه فائده لري. **جواب:** که فائده نه وای نو ولې خدای پاک په قرآن مبارك کې وائي ﴿اُدْعُوْنِيْ اَسْتَجِبْ لَكُمْ﴾ او په حدیث مبارك کې هم داسې راغلي دي: "اَلدُّعَاءُ يَنْفَعُ مِمَّا نَزَلَ" دعا فائده کوي و هغې بلائو او مصیبت ته چې پر مسلمان باندې نازل سوي وي یعنی باعطاء الصبر الجمیل علیها بسبب الدعاء من جانب الرب الجلیل او باعطاء العوض الکثیر عن الفائت القلیل الی غیر ذالك. وقال هو و مما لم ینزل" او دعاء نفع کوي و هغه مصیبت ته چې تر اوسه لا نه وي نازل سوي. یعنی په دفعه دهغه. ولې چې د قضاء معلق تبدیل اتفاقًا روا دی، که څه هم د قضاء جزم تبدیل په نیز داکثرو علماؤ روا نه دی. بلکه د عبارت څخه د امام طحطاوي په صـ٣٠٦ ظاهرًا داسې معلومیږي چې د مکتوب د لوح محفوظ هم تبدیل روا دی، ﴿وَلِلّٰهِ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ يَفْعَلُ مَا يَشَاءُ وَيَحْكُمُ مَا يُرِيْدُ﴾ ﴿وَمَا ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ بِعَزِيْزٍ﴾ ﴿وَاِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ﴾ وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ۔

ضروري ښوونه

پوښتنه: چې په مبسوط کې د محمد بن الحنیفیة ؒ څخه داسې نقل کړی دی چې دعاء څلور قسمه ده ١ دعاء رغبت چې دیوه شي ته د رغبت کیږي. او د خدای پاك څخه غواړي مثلًا خدایه ماته جنت راکړې او حورې او نعمتونه د جنت راکړې او یا ماته ولد صالح راکړې. او یا ماته رزق حلال واسع عطا کړې وغیره الک په داسې دعا کې به ورغوي د لاسو وطرفة د اسمان نیسي، ٢ دعاء رهبت یعنی چې دیوشي بیریږي او د هغه څخه امان

او ساتنه د خدای جل جلاله څخه غواړي. لکه چې دعا کوي چې ما د عذاب د جهنم څخه وساتې او یا عذابه، او یا داسې ووائي چې یا خدایه ما د دې موجوده ناجوړي څخه خلاص او یا د دنیما نورد ضرر څخه وساتې وغیره الک، په داسې دعاء کې به شاد لاسو او ارغوو وطرفة د مخ گرځوي. ٣ دعاء د تضرع ده یعنی په دعاء کې خپل عجز و خدای جل جلاله ته ښکاره کوي: کما نقل عن بعض التابعین۔

الٰهی عبدك العاصي اتاكا :: مقرًا بالذنوب وقد دعاكا :: فان تغفر فانت لذاك اهل :: وان تطرد فمن یرحم سواكا:

او یا ووائي خدایه زه ستا عاجزه ذلیل حقیر بنده یم الی غیره الک. په داسې دعاکې د ځینی گوته او ورپسې گوته کت کې. او د میانځ گوته او بته گوته دې حلقه کړي او سبابه گوته دې ښور وي. ٤ دعا خفیه ده. چې هغه داده چې په زړه کې د خدای جل جلاله څخه د خواست کوي او په خوله څه نه وائي.

پوښتنه: چې دعائې خفیه صرف د نورو دوعا گانو څخه په تکلم او نه تکلم کې فرق لري ورنه دعاء خفیه د درو اولو قسمو څخه خارجه نه ده. **فائده:** دلاسو پورته کول په دعا کې په خارج د لمانځه کې سنت، البته بعض فقهاؤ یې په نفلو کې هم روا بولي.

دعاء قنوت سره د ترجمې داده په روایت د عبد الله بن مسعود ؓ اَللّٰهُمَّ ای یا الله۔ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ په تحقیق مونږ د تا څخه کمك یعنی توفیق غواړو یعنی پر افعالو د عبادت ستاء وَنَسْتَهْدِيْكَ او مونږ طلب د هدایت کوو د تا څخه د هغو کارو چې ته په هغو سره راضي کیږې. وَنَسْتَغْفِرُكَ او مونږ د تا څخه بخښنه د ټولو گنهونو غواړو. وَنَتُوْبُ اِلَيْكَ او مونږ رجوع کوو د ټولو گنهو څخه و تا ته، رجوع معنای لغوي د توبه ده. او په شرعه کښې توبه پښیماني ده پر تیرو گنهو د زړه کوي نه صرف په خوله. او فی الحال د هغې گناه پریښول دي. او په اینده کې ټینگ قصد کول دي چې زه به دا گناه بیا نه کوم، او که چیرې حق د یو آدمي په کښې وو نو ده هغه راضي کول غواړي. حتی چې په غیبت کې او بهتان کې هم حق د آدمي ستة، نو د هغه څخه بخښنه غوښتل ضروري دي. فاذا تم هذه الشرائط للتوبة یکون الشخص العاصي مصداقًا للحدیث النبوي: اَلتَّائِبُ

مِنَ الذَّنبِ کَمَن لَاذَنبَ لَهٗ» وَنُؤْمِنُ بِکَ اوزمونږ تصدیق دی په زړه او اقرار دی
په ژبه ستا په وجود او وحدانیت سره الیٰ اٰخِرِ اٰمَنتُ بِاللّٰهِ» وَنَتَوَکَّلُ عَلَیْکَ او زمونږ
تکیه او اعتماد دی پر تا باندی او سپارنه د ټولو کارونو خپل و تا ته کوو. ولی مونږ عاجزه
یو وَنُثْنِیْ عَلَیْکَ الْخَیْرَ کُلَّهٗ، او مونږ ثنا و صفت کوو ستا په ټولو ښو صفاتو او
افعالو سره چی ستا سره لائق وی. وَنَشْکُرُکَ او مونږ ستا شکر وایو د ټولو نعمتونو ظاهری
وی او که باطنی وی. او ټولو ندامونه د هغو کارونه گمارو چی تا هغه اندامونه د هغو کارو
د پاره مونږ ته راکړی دی. وَلَا نَکْفُرُکَ او مونږ انکار ستا د نعمتونو څخه نه کوو. او نی
منسوبه وو وغیرته معناع ے من ازحق بدانم نه عمرو زید ؛ شکر نقیض دی د کفر کفر ټولو ته وائی
وَنَخْلَعُ او مونږ ورغندی د کفر او ده ناشکری د خپلو غاړو څخه کابو، یعنی کفر او ناشکری
نه کوو. وَنَتْرُکُ او مونږ پرېږدو لیعنی محبت نه ورسره کوو مَنْ یَّفْجُرُکَ هغه څوک چی ستا
عبادت څخه انکار کوی او عبادت د بل شی کوی. اَللّٰهُمَّ اِیَّاکَ نَعْبُدُ یا الله مونږ ستا عبادت
کوو، **پوهنه**: چی تقدیم د مفعول چی "اِیَّاکَ" دی پر فعل عامل چی نَعْبُدُ»
دی د پاره د حصر د عبادت دی په خدای جل سلطانه سره په استحقاق ذاتی سره.
وَلَکَ نُصَلِّیْ او خاص د پاره د رضا ستا لمونځ کوو لمونځ که څه هم په عبادت کی خو داخل دی
لکن تخصیص په ذکر سره د جهته ده شرافت دی، ولی چی لمونځ په ضمن کی خپل ټوله عبادات لري.
وَنَسْجُدُ او مونږ خاص و تا ته سجده کوو تخصیص پسله تخصیص دی. ولی اقرب د حالاتو
د بنده او رب جل شانه ته سجده ده. ولی چی په سجده اینبولو کی دی د اشرف د اعضاوو
پر اخس د ځایو چی خاوری دی. وقد ورد فی الحدیث النبوی اشارة الیٰ ذالک»
وَاِلَیْکَ نَسْعٰی او مونږ ستا د قرب و خواته د منډه وهو. په دی لفظ کی اشاره وه حدیث
نبوی ته ده: مَنْ تَقَرَّبَ اِلَیَّ شِبْرًا تَقَرَّبْتُ اِلَیْهِ ذِرَاعًا وَمَنْ تَقَرَّبَ اِلَیَّ ذِرَاعًا تَقَرَّبْتُ
اِلَیْهِ بَاعًا وَمَنْ اَتَانِیْ سَعْیًا اَتَیْتُهٗ هَرْوَلَةً» وَنَحْفِدُ او مونږ کوشش کوو ستا
په عبادت کی **مسئله**: که چا نَحْفِدُ په ذال سره ووایه لمونځ یې فاسد دی، لانّه
لفظ مهمل دی، لکن امام طحطاوی پر دی حکم باندی سخت اعتراض کړی دی. او وائی

چی په صفت د براق د معراج نبوی دا سی راغلی دی، لَهٗ جَنَاحَانِ یَحْفِدُ بِهِمَا اَیْ یُسْرِعُ بِهِمَا،
نو په ذال سره معنی ته تغییر نه راسی نو لمونځ یې فاسد نه شی. ط د ر، وَنَرْجُوْا رَحْمَتَکَ
او مونږ امید ستا د رحمت لرو، لیعنی ود وام ته د رحمت او یرانجی نه د هغه ولی چی ته کریم
په امید او هرونکی نه نا امیده کوی» الٰهی یا الٰهی یا الٰهی ؛ ندارم جز امیدت تکیه گاهی ؛
وَنَخْشٰی عَذَابَکَ او مونږ سره د عبادت ستا، ستا د عذاب څخه بیریږو لان الایمان بین
الخوف والرجاء لَا یُسْئَلُ عَمَّا یَفْعَلُ وَهُمْ یُسْئَلُوْنَ» ؎
اگر بر گناه صغیره عذاب دوزخ دهد عدل است ؛ داگر از گناهان کبیره درگذرد و بنده را داخل جنت نماید فضل آن؛
اِنَّ عَذَابَکَ الْجِدَّ په تحقیق سره ستا عذاب حق په کفارو سره بِالْکُفَّارِ مُلْحِقٌ» په کفارو
سره ملحق دی، **پوهنه**: چی کسره د حاء افصح ده نو ملحق په معنا د مجرد دی ای
لاحق بهم، او فتح د حاء هم روا ده نو ملحق صیغه د اسم مفعول د خپل باب پر معنیٰ لیعنی
خدای جل شانه دا عذاب ملحق کوی د دوی سره» وصلی الله علی النبی واله وسلم

د دعاء قنوت په باره کی څه خبری

پوهنه: چی دعا قنوت چی مصنف راوړی دا اَتَمّ قنوت دی چی په روایت دابن
مسعود رض ثابت دی. لکن د قنوت نور اقسام هم سته. **نو مسئله** دا ده چی هر قسم
قنوت چی مروی وی کافی دی» **فائده**، جلال الدین السیوطی وائی چی قنوت ابتداءً
من جملة القرآن وو او دوه سورتونه وه او د هر یوه په سر کی بِسْمِ اللّٰهِ وه یو یې سورة الخلع بالله
چی ابتداء څخه تر" مَنْ یَّکْفُرُکَ» پوری او بل یې سورة الحفد باله چی د «اللّٰهُمَّ اِیَّاکَ نَعْبُدُ
څخه شروع بیا تر پایه پوری جمهور د صحابه وو رض پر دی دي چی قنوت یې منسوخ دی او ابن
کعب رض مصحف کی پر دوو سورتونو لیکلی دی نو سورتونه د قرآن په نیز ده ۱۱۶ دي.
پوهنه: چی اعظم دار کا نود تو بی بینیما فی ده پر کړی گناه باندی. او هر چی پر سینول
دی فی الحاله د هغه معنیٰ دا ده چی که آلات د هغی گناه ده ته حاضر وه هغه ځان لری کړی
او یا سړی شراب خوړله او شراب د ده په کور کی موجود وه هغه دی توی کړی و علیٰ هذا فقس

Maktaba Tul Ishaat.com

واوره: چې عارف ابن العربیؒ پرعزم علی ترك العود، داسی سوال کړی دی چې دا شرط نه دیٔ لازم. چې داخو عیب دی نواولی ددی پرځای تسلیم دی وخدای جل جلالته، لکن امام طحطاویؒ پردی خبره دابن العربی دیرمعقول سوال کړی دی. اووائی چې غیب خوعود دی وگناه ته اوعزم دترك العود خوحاضر دی فی الحاله فتدبر»

فائده: که گناه دقسمه ځنې دحقوق العباد وه نوکیدی شی ممکن وی لکه چې دچا مال یې خوړلی وی په غلا نوهغه قدر اندازه مال دی ورکړی. اوهغه ته دا حال بیانول نه غواړی. اوکیدی شی ممکن نه وی لکه غیبت دچا یا بهتان پرچا نو ده هغه ځنې عفوه غوښتل ضروری ده»

بشارت: زموږ په مذهب کی عفو مجمل هم کافی ده په اداءکی دحقوق النّاس مثلاً یوسړی دبل سړی دیر مال خوړلی وو په غلا اویا خیانت وغیره نوکه دی تفصیل دهغه مال ورته وکړی دی یوهیږی چې هغه نه تربیږی یعنی بخښنه نه کوی نوکه دی وهغه ته ووائی چې نماوستا ترمابین اندیوالی وه نوحق به سره بخښو اوهغه ورته ووائی چې ما ټول خپل حق وتاته بخښلی دی ده دهغه خلاص سو، قَالَ المصنفؒ

وَالْمُؤتَمُّ يَقْرَءُ الْقُنُوتَ كَالْإِمَامِ اومقتدی دی وائی دعاءِ قنوت لکه امام اودا روایت دی دامام اعظمؒ ځنې اودا غه هم صحیح دی. اوامام محمّدؒ وائی چې قوم دی قنوت نه وائی بلکه امین دی وائی پرقنوت دامام کاسیاتی

مسئله: امام اوقوم دی دواړه دعائی قنوت کرار وائی. قال المصنفؒ وهُوَالصحیح لکن مستحب ده امام لره جهرپه دعائی قنوت سره یعنی دروړی په میاشت کی وترچې په جماعت سره اداکیږی چې په زوره دی وائی دعائی قنوت په بلادوکی دعجموتا چې دوی یه واوری اوزده ئی کی. وقال بعض الفقهاءؒ که چیری امام په دی خبروو چې دقوم دعاءِ قنوت زده دیٔ. نو اخفاء افضل کار دی، اوکه پوهیدی چې دقوم دعاءِ قنوت نه دی زده نوافضل جهر دیٔ. قَالَ المصنفؒ

وَاِذَا شَرَعَ الْاِمَامُ فِي الدُّعَاءِ بَعْدَمَا تَقَدَّمَ قَالَ اَبُوْيُوْسُفَ

اوهغه وخت چې شروع وکړی امام په دعاء سره پسله دعاءِ قنوت ځنې. نوابویوسفؒ وائی چې قوم

يُتَابِعُوْنَهُ وَيَقْرَؤُنَهُ مَعَهُ وَقَالَ مُحَمَّدٌ لَايُتَابِعُوْنَهُ وَلٰكِنْ

دی هم دامام متابعت وکړی اوهغه دعاءِ دی ورسره وائی. اوامام محمّدؒ وائی چې دوی دی دامام متابعت نه کوی بلکه امین دی ووائی په دی دعاکی او

يُؤَمِّنُوْنَ وَلَا فِي الْقُنُوْتِ په دعاءِ قنوت کی دی هم متابعت نه کوی»

درویش وائی چې ددی عبارت ځنې دامعلومیږی چې امام به دعاء په جهر سره کوی. ولی چې متابعت دامام په دعاء ویلوکی اویا په امین ویلوکی پردی موقوف دی چې دوی به داما دعاء اوری

قَالَ المصنفؒ **وَالدُّعَاءُ هُوَهٰذَا** اودعاهم داده. مصنفؒ پرمراقی کی وئیلی دی چې بعض مشائخ وائی چې په دعاءکی تعیین نسته انتهی، لکن په غایة البیان کی وائی چې دادعاء دلمانځه باید معینه وی، ولی چې ممکنه ده دعا کوونکی به جاهل وی نوپه دعاءکی بی داسی الفاظ ترخوله ووزی چې لمونځ به په فاسدیږی. او بله خبره داده چې ماثوره دعاء برکت لری.

سوال: دامام محمّدؒ ځنې روایت دی چې وائی: لیسَ فی القنوت دعاء موقت، **جواب** مراد دامام محمّدؒ دادی چې غیر د اَللّٰهُمَّ اِنَّا نَسْتَعِيْنُكَ آه کمامَر اوغیر د اللهم اهدنا چې اوس به راسی بنایه دابن امیرحاج» درویش وائی چې ددغی دعاء چې به راسی. په وترو کی نن صبا لکه شریعت منسوخه داسی گرځیدلی ده. ولی چې دپښتنو په علاقه کی دهیڅ مُلا ځنې دوترو په لمانځه کی دادعا چا نه ده اوریدلی والی الله المشتکی»

مُقَدَّمَةً لِلدُّعَاءِ الْاٰتِی پوهه سه: چې په حدیث شریف کی راغلی دی: وَلَا يَؤُمُّ عَبدٌ فيخص نفسه بدعوة دونهم، یعنی امامت دی نه کوی یو بنده قوم ته چې خپل ځان خاص کړی په دعاء سره نه قوم، یعنی صیغه دواحد متکلم وائی او صیغه دمتکلم مع الغیر نه وائی لکه چې امام داسی ووائی: اَللّٰهُمَّ اغفرلی ذنوبی ولوالدی، مثلاً بلکه داسی به وائی اللهم اغفرلنا ذنوبنا ولوالدینا مثلاً: قال م» فان فعل فقد خانهم، اوکه امام دغسی وکړه نوده قوم سره یه خیانت وکړی، اودا حدیث ابوداوُد روایت کړی دی اوترمذی حدیث حسن ورته

وئیلی دی، ان الدعاء الآتی یعنی دَغه چی راځی په روایت سره د حسن بن علی رضی الله تعالیٰ عنهما راغلی ده چی دیٌ وائیٔ: علمنی رسول الله صلی الله علیه وسلم کلمات اقولهن فی الوتر» یعنی ماته را ښوولی دی آنحضرت صلی الله علیه وسلم یوڅو کلمی چی زه لئ په وِتر کی وایم، دهغی ټوله کلمی په صیغه د واحد متکلم راغلی دی مثلاً اللهم اهدنی فیمن هَدَیْتَ آه نو فقهاء د مذهب بناءً پر مقتضیٰ د حدیث فوق الذکر ټوله کلمات د دعاء په متکلم مع الغیر سره بدلی کړی دی مثلاً اللّٰهُمَّ اهدِنَا تر د روائی که یو سړی یوازی وتر کوی نو هغه ته روا ده چی صیغی د متکلم واحد ووائیٔ چی ما ثور دی د حسن بن علیؓ څخه» او د غه رنگه روا دی چی شفقةً پر نورو د ورونړو مسلمانانو صیغی د متکلم مع الغیر وَوائیٔ. او امام خو به متکلم مع الغیر خواه مخواه وائیٔ. هغه دعاء دا ده:

اَللّٰهُمَّ اهْدِنَا بِفَضْلِكَ فِيْمَنْ هَدَيْتَ ترجمه: یا الله ته مونږ ته هدایت وکړی ستا په فضل سره ستا په هغو د کی د هغو کسانو چی تا وهغو ته هدایت کړیدی: درولیش وائیٔ چی هر څو که په هدایت کی اختلاف ډیر دیٔ. لکن مراد څُندی دَلته توفیق د خیر د کار دی. یعنی دلالت موصله»

سَوَال: مسلمانانو ته خو هدایت حاصل دی نو طلب یه د څه دپاره کوی. **جواب**: مقصود په طلب کی همیشه والی دی پر هغه هدایت» او یا طلب د زیات والی دی کما قال المفسرون فی تفسیر قوله تعالیٰ: اِهْدِنَا الصراط المستقیم» او د لفظ د ه بفضلك مراد دا دی چی واجب پر خدائ خوشی نه دیٔ. بلکه ټول شیان د خدائ فضل دی. او د الفظ په قنوت کی د حسن نه قال المنذ

وَعَافِنَا فِيْمَنْ عَافَيْتَ دعافیت معنا دا ده چی مونږ د بلاوو او د مرضو او د تکلیفو څخه وساتې. او د معافا معنا دا ده چی مونږ د شر څخه د بل په امان یُو او بل زمونږ د شر څخه په امان وي. قَالَ

وَتَوَلَّنَا فِيْمَنْ تَوَلَّيْتَ او مونږ ته په نظر د رحمت او د دوستیٔ او مصلحت وگوری سره د هغو کسانو چی تا په دَغه نظر وَته کتلی دی یعنی هغه ستا صالح او مقرب بندگان»

وَبَارِكْ لَنَا فِيْمَا اَعْطَيْتَ او مونږ ته برکت راکړی یعنی زیا توب راکړی په هغو نعمتو کی چی تا مونږ ته راکړی دی»

وَقِنَا شَرَّ مَا قَضَيْتَ او مونږ وساتی دَ شره څخه د هغه شیٔ چی قضا ستا پر هغه تللی وی یعنی زمونږ او د شر تر مابین وقایه پید اکړې. **پوهه سه** چی قضا معلقه په دعا سره رد ید ای سی» **فَائِدَه**: قضا د خدای جل شانه خو ټوله خیر ده. او شر په مقتضیٰ به کی دی. نو ځکه مونږ د شر څخه د مَا قضیت پناه وغوښتله»

اِنَّكَ تَقْضِيْ وَلَا يُقْضٰى عَلَيْكَ او ستا قضاء نافذه ده په هر شی او پر تا باندی څوك خپله قضاء نه سی تحمیلولای» ولی چی خدائ مالك الملك والملكوت دی لا شریك له فی الملك فلذا لا اب مولا تك»

اِنَّهٗ لَا يَذِلُّ مَنْ وَّالَيْتَ وَلَا يَعِزُّ مَنْ عَادَيْتَ ولی چی په تحقیق نه سی ذلیله کیدلای یعنی دَخلگو دَخواهغه څوك چی ته دَهغه سره دوستی ولری او عزت او غلبه نه سی پید اکولای هغه څوك چی ته د هغه سره دښمنی او عداوت ولری. قَال الله تبارك وتعالیٰ: وَمَنْ يُّهِنِ اللّٰهُ فَمَا لَهٗ مِنْ مُّكْرِمٍ» **تَبَارَكْتَ** ستا ذات لوړ دی د صفاتو څخه د مخلوقاتو **رَبَّنَا وَتَعَالَيْتَ**: ای زمونږ رب او ستا ذات د مشابهت څخه دَ ذواتو د مخلوقاتو تو بالا دیٔ. درولیش وائیٔ چی تَبَارَكْتَ وَتَعَالَيْتَ تقریبًا سره یو شیٔ دی. قَالَ المُصنفؒ:

وَصَلَّى اللّٰهُ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلَّمَ وَمَنْ لَّمْ يُحْسِنِ الْقُنُوْتَ يَقُوْلُ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِيْ ثَلٰثَ مَرَّاتٍ او کَوم څوك چی نه وی زده دعائ قنوت نو دی وَوائی دری واره اللهم اغفرلی خدایه ماته بخښنه وکړې. دا سی ویل مختار د فقیه ابو اللیث السمرقندیؒ دَه» قَالَ المُصنفؒ:

اَوْ يَقُوْلُ رَبَّنَا اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ او یا د ا سی ووائیٔ ای خدایه زمونږ را کړی مونږ ته ښه شیٔ په دنیا کی او په

Maktaba Tul Ishaat.com

احزت کی راکړی بنه شی او موږ قنتانی دعذ ابرد اور صاحب هدایهٔ په تجنیس کی وائی چه دا دعا مختاره زموږ د مشا ئخو ده اویا دی دری واره **اَوْ يَارَبِّ يَارَبِّ يَارَبِّ** ووائی

فَائِدَه: صاحب البحرؒ وائی چه «مَن لَمْ يُحسن» وهذا مختار الصدر الشهيد» قید نه دی بلکه هغه خوک چه قنوت مشهور یه زده هم وی دغه مذکوره کلمات به ځای کی قنوت ورته روادی» ط» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَاِذَا اقْتَدٰى بِمَنْ يَقْنُتُ فِي الْفَجْرِ

اوکه چا اقتداء وکړه په امام پسی چه هغه

قَامَ مَعَهُ فِي قُنُوتِهِ سَاكِتًا فِي الْاَظْهَرِ

دعایی قنوت وایی د سحار په لمانځه کی لکه شافعی مذهبه امام مقتدی دی پسی ولاړوی د امام د قنوت په وخت کی پټه خوله یعنی دعایی قنوت دی نه ورسره وائی په اظهر روایت کی، چه مذهب دی د امام اعظمؒ. او د امام محمدؒ دوی یه په نفس قیام کی متابعت لازم بولی. نه په دعایی قنوت کی، د دوی دلیل دا دی چه قنوت الفجر خو منسوخ دی لکه چه موږ وړاندی د دی مسئلی ذکر وکړی. نو مثال یې دا دی لکه چه د جنازی په لمانځه کی امام تکبیر وواائی نو مقتدی بی په پنځم تکبیر کی متابعت نه کوی. او حضرت الامام ابو یوسفؒ وائی چه مقتدی دی دعایی قنوت ورسره وائی. ولی چه قنوت الفجر مختلف فیه دی

مَسْئَلَه: شافعیانؒ دعائی قنوت پس له رکوع څخه وائی او دوی لاسونه پورته نیسی، نو مقتدی چه حنیفی مذهبه دی لاسونه به دځا نه سره ایله نیسی، ولی زموږ په مذهب کی قنوت الفجر ذکر مسنون نه دی.

ډیره ضروری بنوونه

په هدایه کی وائی چه د دی مسئلی څخه دا معلومیږی چه اقتداء د حنیفی په مخالف المذهب امام پسی روا ده، ولی چه حضرات ائمه ثلاثه زموږ چه په کیفیت کی د صلوة الفجر په شافعی المذهب پسی اختلاف کوی نو معلومه ده چه نفس اقتداء خو یه بالاتفاق روا بولی. **د صحت د اقتداء د پاره شرائط،** پوهه سه چه زموږ د مذهب فقهاءؒ وائی چه اقتداء په مخالف پسی که شافعی

المذهب وی اوکه بل مذهب والا وی هلته صحیح ده. چه دغه مخالف المذهب امام په ځای کی د اختلاف احتیاط کوی یعنی د حنیفی مذهب مراعات کوی. مثلاً کی یو ځای وینی سی او دس نوی کوی په مراعات د مذهب حنیفی که څه دده په مذهب کی په خروج الدم سره او دس نه ماتیږی. او مثلاً څلرمه د سر خواه مخواه مسح کوی په مراعات د مذهب حنیفی که څه هم دده په مذهب کی ادنی ما یطلق علیه المسح کافی ده. او مثلاً د وترو د دوو رکعتو په مابین کی سلام نه ګرځوی مراعاتًا للمذهب الحنیفی که څه هم دده په مذهب کی په مابین کی سلام ګرځول روا دی. او مثلاً چه د دغه امام څخه شپږ لمانځه کم قضاء سوی وی په ترتیب سره د وختی لمانځه یه قضا راوړی مراعاتًا للمذهب الحنیفی که څه هم دده په مذهب کی ترتیب لازم نه دی.

او مثلاً د امام نطفه او منی چه لنده وی د کالو څخه ئی په پریولو لیری کوله. او که وچه وای یا یه ګروول او یا یه په پریولو لیری کول» کل ذالک بمتابعة مذهب الاحنافؒ من ان النطفة نجس که څه هم په نیزد شافعیانوؒ نطفه پاکه ده، حاصل د کلام دا دی» چه د صحت د اقتداء د پاره شرط دی چه د امام لمونځ به صحیح وی په عقیده کښی د مقتدی مثل ما ذکرنا من المسائل» او که چیری د امام لمونځ په عقیده د مقتدی فاسد ووبیا اقتداء یه نه ده پسی روا، مثلاً مقتدی ولیدی چه د امام پزه وینی سوه. او مقتدی تر هغو ده سره یو ځای وو څو چه امام بیله نوی او دس کولو پر لمانځه ودریدی. نو د دغه مقتدی لمونځ په دغه امام پسی نه دی روا. ولی چه د مقتدی په عقیده امام بی او دسه دی. وبالجملة معتبره په صحت او فساد کی د لمانځه د امام رای ته اعتبار نشته بلکه رایه د مقتدی ده، وهو الصحیح الذی علیه الاکثر

او امام هندوانیؒ وائی چه معتبره رأیه د امام ده. وقال فی النهایه وهو الاقیس او پر دی مذهب اقتداء په مخالف المذهب پسی صحیح ده که څه هم امام احتیاط نه کوی. ط، **فَائِدَه** که سړی ولیدی چه امام شافعی المذهب وو په پرتاګه یه لاس چخ کی او ذکر یه مسحه کړی چه په نیزد شافعیانوؒ او دس مات سو، او د حنیفیانو په نیز او دس یه نه دی مات» او دغه امام تجدید الوضوء ونه کړی په لمانځه کی د مخه سو. نو پر قول د اکثرو فقهاوؒ چه اعتقاد ته د مقتدی اعتبار ورکوی د دغه حنیفی لمونځ پسی روا دی. ولی چه دده په عقیده امام بی او دسه نه دی،

اوپر مذهب دامام هندوانی چې اعتبار عقیدی ته دامام ورکوی دحنیفی لمونځ نه دی

لیبی روا. ولې چې دامام پرمذهب دی بی اود سه دی. وَعَلیٰ هٰذا فقس المسائل الاخر» قال

وَلَوْ نَسِیَ الْقُنُوْتَ فِی الْوِتْرِ وَتَذَکَّرَهٗ فِی الرُّکُوْعِ اَوْ فِی الرَّفْعِ مِنْهُ لَا یَقْنُتُ

اوکه دَسرې هیرشو دعائی قنوت په دریم رکعت کی دوترو او ور پیادشو. په رکوع کی او یا پسله سرراپورته کیدو څخه د رکوع څخه نو دعائی قنوت دی نه وائی نه په رکوع کی. او نه په وخت کی د رکوع څخه بلکه سجده سهوه دی وکړی پر صحیح روایت، په اول مسئله کی اوبعض فقهاء وائی چې په رکوع دعائی قنوت دی وائی صرف رکوع به اوبه د هسی هغه پروا نلری. اوپه صورت ثانیه یعنی چې بعد الرفع یه قنوت ور پیادسی اتفاقا دی قنوت نه وائی. م، ط، در، قال المصنف:

وَلَوْ قَنَتَ بَعْدَ رَفْعِ رَأْسِهٖ مِنَ الرُّکُوْعِ لَا یُعِیْدُ الرُّکُوْعَ

که مصلی ووایه پسله دی څخه چې سر یه راپورته کړې د رکوع څخه نو رکوع دی بیرته را اگرځوی او

وَیَسْجُدُ لِلسَّهْوِ لِزَوَالِ الْقُنُوْتِ عَنْ مَحَلِّهِ الْاَصْلِیِّ

سجده د سهوی دی وکړي. ولې چې قنوت دخپل اصلی ځایه څخه چې قبل الرکوع وو زائیل سوه. او تاخیر د واجب راغلی. امام طحطاویؒ وائی چې د ظاهره څخه د عبارت د مصنفؒ دا معلومیږی چې رکوع را اگرځول ورته حرامه ده. ولې چې دا را اگرځول داسی کار دی چې د لما نځه څخه نه دی. فما قال السیدؒ چې د مصنفؒ مراد دادی چې د لما نځه صحت یه پر را اگرځولو د رکوع موقوف نه دی دا نه دی مراد چې دی د رکوع د را اگرځولو څخه ممنوع دی. لیس وجه موجه والظاهر ما قال الطحطاوی» قال المصنفؒ:

وَلَوْ رَکَعَ الْاِمَامُ قَبْلَ فَرَاغِ الْمُقْتَدِیْ مِنْ قِرَاءَةِ الْقُنُوْتِ

اوکه چیری رکوع وکړه امام د مخه تر فارغ والی د مقتدی د دعاء قنوت څخه یعنی څه یه ویلی وو

او څه یا ته وو- قال

اَوْ قَبْلَ شُرُوْعِهٖ فِیْهِ وَخَافَ فَوْتَ الرُّکُوْعِ تَابَعَ اِمَامَهٗ

او یا امام رکوع ته ولاړی چې مقتدی بیخی شروع په دعاء قنوت نه وه کړې. او مقتدی په دواړو صورتونو کی بیریدی چې رکوع به سره دامامه را څخه فوت سی. نو د امام متابعت دی وکړی په رکوع کی یعنی قنوت دی پریږدي. اما فی الصورة الاول» یعنی چې یو څه قنوت یه ویلی په دی سبب متابعت د امام کوی چې دعائی قنوت لره یوه معینه اندازه نسته نو هغه چې ده ویل پوره سو. واما فی الصورة الثانیه چې مقتدی بیخی شروع په قنوت نه وی کړی، د دی متابعت دامام مراقی دا بیان کړی دی چې دی که په دعائی قنوت مشغول سی متابعت د امام چې واجب دی پاته کیږی. لکن پردی دلیل باندی ط دا سوال کړی دی چې قنوت خو هم واجب دی لکه متابعت دامام. نو باید مقتدی ته اختیار وی که دعاء قنوت وائی که رکوع دامام سره پریږدی، او که رکوع دامام سره کوی او دعائی قنوت پریږدي. بلکه باید دعائی قنوت ویل اولی وی. ولې دعائی قنوت خو یک لخته پاتیږی، او ادرک د رکوع خو بیوازی هم کولای سی **جواب** دقنوت واجب والی مجتهد فیه دی. او د متابعت الامام وجوب متفق علیه دی» در»

مسئله: که چیری د دعائی قنوت په ویلو سره یه امید د مشارکة فی الرکوع وو، نو دعائی قنوت دی ووائی جمعًا بین الواجبین» م» در ولیش وائی چې چونکه په دعائی قنوت کی حد محدود نسته، بلکه په دری واره ویلو د یارب» هم اجراء د قنوت کیږی، لکه مذهب د صدر شهیدؒ چې وو کی څه هم اوبه د دعائی قنوت هم پیاد وی کما مر سابقًا من الطحطاویؒ» نو په دغه صورت کی د خوف دپاته والی دمتابعت دامام په رکوع کی یعنی په صورت ثانی کی دی فقط مقتدی یارب یارب یارب» وو ایه چې د دغه په ویلو کی رکوع هم تیریږي. ولې چې امام کم از کم په رکوع کی دری واره سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمِ وائی» در، قال

وَلَوْ تَرَکَ الْاِمَامُ الْقُنُوْتَ یَاْتِیْ بِهِ الْمُؤْتَمُّ اِنْ اَمْکَنَهٗ

او که امام پریښود دعائی قنوت مقتدی بی وائی که چیری ممکن وو ده لره.

Maktaba Tul Ishaat.com

مُشَارَكَةٌ فِي الرُّكُوْعِ وَالْاِتَابَعَه مشارکت دامام په رکوع کی اوکه وو ممکن بیا دی متابعت دامام وکړي.

د روښ وائی په هغه مسئله کی اوپه دی مسئله کی که سړی داسی وَوائی چې مقتدی دا مذهب او عقیده وه چې پوره اوبه د دعائی قنوت ویل غواړي. او ومذهب ته ځکه شهیدؒ په عقیده نه وه. نو دواړه صورت پرظاهر د کلام د مصنفؒ جوړیږی فافهم، قال

وَلَوْاَدْرَكَ الْاِمَامُ فِيْ رُكُوْعِ الثَّالِثَةِ مِنَ الْوِتْرِ كَانَ مُدْرِكًا

اوکه امام ته سړی ورسیدی په رکوع کی د دریم رکعت د وترو نو دعائی قنوت یه هم پرځای سو

لِلْقُنُوْتِ فَلَا يَاْتِيْ بِهِ فِيْمَا سُبِقَ بِهِ نو دغه مقتدی به دعائی قنوت نه وائی په هغو رکعتو کی چې دده ځخه تیر سوی وی. ولی چې رکعتونه دقنوت ځای نه دی. قَالَ الْمُصَنِّفُؒ :

وَيُوْتِرُ بِجَمَاعَةٍ فِيْ رَمَضَانَ فَقَطْ او وتر دی کوی په جماعت سره په میاشت کی دروژی نه په نورو میاشتو کی او دا جماعت هم مستحب دی. **پوهـسه** : چې مصنفؒ په مراقی کی وائی وعلیه اجماع المسلمین" وفی الهداية عليه اجماع المسلمين، وفي المراقی وکذا فی فتح القدير داسی وائی چې وتر نفل دی من وجه او جماعت په نفلو کی مکروه دی په غیر کی د میاشتی د روژی، پس احتیاط په دی کی دی" چې وتر دی په جماعت سره نه کوی په غیر کی د روژی. او د شمس الائمه څخه روایت دی چې داکراهت په هغه صورت کی دی چې جماعت دوترو پر طریقه د یود بل ده را بللو سره وي چې دي ته تداعی وائی. اوکه اتفاقاً یو سړی یا دوه کسه په بل چا پسی په وترو کی اقتداء وکړي بیله رابللو په هغه کښی کراهت نسته، او چې دری کسه اقتداء په بل پسی وکړي په دی کی اختلاف دی. اوکه مقتدیان څلور کسه وه هغه جماعت مکروه دی اتفاقاً. **سَوَال** : په نوازل کی وائی په نقل د مغنی څخه چې اقتداء په وترو کی خارج رمضان جائز ده. **جـواب** جواز خو د کراهت سره منافی نه دی، لان معنی

الجواز انه صحيح ولا شك فى الصحة، ورب صلاة تكون صحيحة مع الكراهة" په صحیح حدیث کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم تهجد لمونځ وابن عباسؓ ته په جماعت ورکړی. او دا حدیث هم صحیح دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم بر عائشه رضی الله تعالیٰ عنها د وترو په وخت کی ویښوله. او دی به وتر علیه السلام سره په جماعت کوله. او دا هم صحیح حدیث دی چې علیه الصلوٰة والسلام تبرکاً دوه رکعته نفل دا م انسؓ په کور کی په جماعت کړي دی" قَالَ الْمُصَنِّفُؒ :

وَصَلٰوتُهُ مَعَ الْجَمَاعَةِ فِيْ رَمَضَانَ اَفْضَلُ مِنْ اَدَائِهِ مُنْفَرِدًا

او کول د وترو سره د جماعت په میاشت کی د روژی افضل او ښه کار دی. تر یوازی کولو په آخر د

اٰخِرَ اللَّيْلِ فِيْ اِخْتِيَارِ قَاضِيْخَانْؒ قَالَ وَهُوَ الصَّحِيْحُ وَصَحَّحَ غَيْرُهُ خِلَافَهُ شپی یعنی ور وسته تر تهجد د لمانځه په خوښه د قاضیخانؒ، او ده ویلی چې دغه خبره هم صحیح ده. ولی چې جماعت په کم لمانځه کی چې روا وی نو جماعت په افضل دی تر یوازی. او دا خبره هم په ثبوت رسیدلی ده چې عمر رضی الله تعالیٰ عنه و خلګو ته په وترو کی د جماعت لمونځ ورکاوه. او د غیر څخه مراد صاحب نهایه دی هغه وائی چې زمونږ د مذهب علماوو د اخوښه کړیده چې خلک دی وتر په کور کی بیله جماعت پسله تهجده وکوی، ومثل ما فى النهاية قال فى الفتاوى الظهيرة والذخيرة. لکن په فتح القدیر او برهان کی داسی عبارت راغلی دی چې قول د قاضیخان ارجح دی کذا فی المراقی، ولی چې علیه الصلوٰة والسلام وترو صحابهؓ ته پسله جماعته څخه د تهجد په جماعت سره ګذارلی دي. او بیا علیه الصلوٰة والسلام عذر د ترک د جماعت په تهجد او وترو کی داسی بیان کړي دی چې زه بیریږم چې تهجد لمونځ پر مونږ فرض نسی" او د غه رنګه خلفاء راشدینو رضی الله تعالیٰ عنهم وتر په جماعت سره کول" دروېش وائی. چې مذهب د قاضیخانؒ د یر ښتیا خرنو مختاره کړی ده"، والله اعلم بالصواب

بیت سه باب د وترو په توفیق د خدائی تمام سو :: او س به فصل د نفلی لمونځو شروع کړو :: اِنْ شَآءَ اللّٰهُ

فَصْلٌ فِي النَّوَافِلِ

فصل دی په بیان کی د نفلی لمونځو، **پوه سه** چی نفل په لغت کی نفس زیادت ته وائی نو ددی کبله غنیمت ته نفل وائی. ولی چی غنیمت زائد دی تر اصل موضوع دَ جهاد چی اعلاء د کلمة الله ده زیاتی دی. قال الله تعالیٰ: وَيَسْئَلُوْنَكَ عَنِ الْاَنْفَالِ» یعنی انها لمن هو و کیف تقسیمها، او لمسی ته هم نافلة وائی. ولی چی تر اصل مقصود د ازدواج دمیرهٔ او ماینی زیاتی شئ دی. قَالَ اللّٰهُ تَعَالیٰ، وَوَهَبْنَا لَهٗ ای لابراهیم، اسحاق، وهو ولده الذی طلبه ابراهیمؑ ويعقوبؑ نَافِلَةً» چی یعقوب د ابراهیمؑ لمسی دیٔ. قَالَ المصنفؒ فی المراقی چی مصنفؒ عنوان د فصل لفظ د نوافل وګرځاوه او سنن په عنوان نه کړی. ولی چی نفل تر سنت عام دی. ولی هر سُنت نَفلی دی یعنی تر فرضوا و واجبو زیاتی لمونځ دی، او هر نفل سنت نه دی کما هو ظاهرٌ:

ثم فسر النفل بحسب اصطلاح الشرع انه ما ليس بفرض ولا واجب ولا مسنون من العبادة نو پر مصنف دا سوال واردیږی چی تا خو عنقریب وویل چی هر سنت نفل دی. او دَ لته بیا وائی وَلَا مَسنون»، نو دی عبارت څخه صراحتًا دا معلومیږی چی سُنت نفل نه دی وَالصواب چی د نفلو دوی معناوی دی یوه معنا داده چی مصنفؒ په بیان وکړی چی نه به فرض وی او نه سنت او نه واجب، دا معنا خو مقابل د سنتو ده لکه د فرضوا و واجبو چی مقابل ده. او بله معنا د نفلو داده چی زائد پر فرضو او واجبو فقط وی. نو نفل په دی معنا تر سنتو عام دی. فقد خلط المصؒ بين المعنيين. او نفلی ته عبارت تطوع هم وائی چی سړی په خپله خوښه کوی یعنی د خدائ د خوا څخه فرضیت او ایجاب نسته»

فائده: نفل یوازی په لمانځه پوری خاص نه دی بلکه په نورو عباداتو کی هم نفل سته لکه نفلی روژه، نفلی حج، نفلی صدقه، **فَائِدَهْ**: نفلی لمونځ د پاره د جبیری دی د نقصان په فرضو کی. ولی بنده که هرڅو کوشش وکړی په اداء کی د فرض

لمانځه خو بیا هم د تقصیر څخه نه سی خلاصیدای نو نفل به جبیره د هغه تقصیر ده.

پوښتنه: چی دا فائده چی بیان سوه دا خو صرف د دوو سته تر لمانځه نفلو ده، نما الفائدة في النوافل القبلية» **جَوَاب**: قاضیخانؒ وائی چی فائده د سنن قبلیه و و قطع د طمع د شیطان ده د فرضی لمانځه څخه» ولی شیطان ته دا یقین کیږی چی دا سړی په نفلی لمانځه کی یعنی سنت قبلیه زما متابعت نه کوی. او سره ددی چی پر واجب هم وی نو څرنګه به ده فرضی لمانځه په پرېښولو کی زما په خوله وکړی. **فَائِدَهْ**: سُنت دوه قسمه دی یو سنت مندوب دی چی سُنت زائده یه هم بولی او بل سنت مؤکد دی نو مصنفؒ د سنت مؤکد په بیان شروع کوی او وائی.. قَالَ المُصنفؒ،

سَنَّ سُنَّةً مُؤَكَّدَةً رَكْعَتَانِ قَبْلَ الْفَجْرِ (او سنت دی کلک سنت دوه رکعته د مخه تر لمانځه د سحار

دوه رکعته مخکی تر لمانځه د سحار، درو لیش وائی چی سنة الفجر تر ټولو سنتو اقوی دی په سنتیت کی، چی ددی سُنتو په باره کی ډیر احادیث نبویه راغلی دی. حتیٰ چی حسنؒ د امام اعظمؒ څخه روایت کړی دی چی د سحار سنت بیله عذره په ناسته نه دی روا یعنی لکه فرض او واجب» او مرغینانیؒ بیا روایت د امام اعظمؒ څخه داسی کړی چی دا دوه رکعته قبل الفجر واجب دی. وقَالَ عليه الصلوٰة والسَّلام: ركعتا الفجر خير من الدنيا وَمَا فيها»

وفي حديث صحيح اخر لا تدعوها وان طردتكم الخيل» یعنی تاسی مه پرېږدی دوه رکعته د سحار سنت که څه هم آسان موتر پښو لاندی کوی. او په خلاصه کی چی په اجماع سره دَ سحار سنت بیله عذره په ناستی نه دی رَوا» او په مضمرات کی وائی چی بیره د کفر ده پر هغه سړی چی د سحار د سنتو منکر وی.

او بل دلیل د قوت دَ دغو سنتو دا دی چی هر فرضی لمونځ چی د سنتو سره قضا سی د سُنتو قضا یی نسته. اما د سحار لمونځ که د سُنتو سره قضا سو د سُنتو قضاء او ره یه سته او په مسلم شریف کی د ابوهریرهؓ څخه روایت دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به سُنتو کی د سحار قُلْ يَا اَيُّهَا الْكٰفِرُوْنَ» او قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَد» ویلی. او امام احمدؒ د ابن عباسؓ

Maktaba Tul Ishaat.com

څخه روایت کړی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم په اول رکعت کی د سنة الفجر اخری ایتونه د سورة بقرې ویله او په دوهم رکعت کی یې دا ایت وایه قُل یا اَهلَ الکِتٰبِ تَعَالَوا الیٰ کَلِمَةٍ الآیة د رویش وائی چې علماء مستحب دا بولی چې سړی کاهی په سنت الفجر کی هغه دوه سورتونه وائی. او کاهی دا نور ایتونه وائی. واما ما استحسن الامام الغزالیؒ فی الاحیاء چې په اول رکعت کی اَلَم نَشرَح وائی. او په دوهم رکعت کی دی اَلَم تَرَ کَیفَ وائی. وقال انه یرد شر الیوم "هغه په حدیثو شریفو وکی نه دی راغلی والله اعلم:

مسئله: پسله سنت الفجر څخه افضل سنت کوم سنت دی. بعض علماء وائی چې قبل الظهر سنت اکد دی. قال الحسنؒ وهو الاصح او مبسوط والاهم تر سنة الفجر وروسته سنت قبل د ظهر ذکر کړی دی؛ او امام حلوانیؒ وائی چې وروسته تر سنة الفجر افضل دوه رکعته د ماښام دی. او وروسته تر هغه سنت بعدی د ماپښین دی. او وروسته تر هغه دوه رکعته د ماختن دی او وروسته تر هغه څلور رکعته قبل الظهر دی. وقیل چې هغه دوه رکعته پسله عشاء هغه څلور چې قبل الظهر دی او هغه دوه رکعته چې بعد الظهر دی او هغه دوه رکعته چې بعد الظهر دی او هغه دوه رکعته چې بعد المغرب دی ټوله په درجه کی سره برابر دی. د رویش وائی چې مراقی چې دوه رکعته قبل العصر او دوه رکعته قبل العشاء هم دلته په ترتیب داخل کړی دی.

دا سؤال پروارید دی چې کلام د مصنفؒ دلته په سنن مؤکده کی دی. او دغه دوه دوه رکعت خو مستحب دی چې سنن زوائد ورته وائی والجواب چې مصنفؒ وروسته مندوبات په سنن کی هم راوړی دی. نو د دی سببه یې هغه دوه دوه رکعته په ترتیب کی راوړه،

مسئله: افضل په سنة الفجر کی دا ده چې په اول وخت کی دی اداء کړی لکن سره د تخفیف وقیل چې اسفار افضل دی. او په بنایه د مبسوط څخه نقل کوی چې وروسته تر سفیدو چاودلو د سړی خبری نه کوی. ولی چې ملائکة اللیل والنهار په دغه وخت کی سره جمع کیږی. نو باید د ده دخولی بیله ذکر الهی بل څه نه واوری. قال الله تعالیٰ اِنَّ قُراٰنَ الفَجرِ کَانَ مَشهُودًا، مر، ط در ہ

مسئله: څوک چې دعوی د اجماع کوی چې سنة الفجر دی بیله عذره په ناستی نه کوی. امام طحطاویؒ وائی چې په هغه کی نظر دی بلکه معتمده خبره جواز دی. نو افضله دا دی چې په ولاړی دی کوی. قال المصنفؒ:

وَرَكعَتَانِ بَعدَ الظُّهرِ وَمِنهَا رَكعَتَانِ بَعدَ المَغرِبِ

او یا سنت مؤکده دوه رکعت دی پسله ماپښینه، او بل د سنت مؤکده څخه دوه رکعت دی پسله ماښام د لمانځه څخه. وفی شرح الوقایه لاحی زادهٗ. وفی الحدیث افضل الصلوات عند الله المغرب، لم یحطها عن مسافر ولا مقیم، یعنی په دغه لمانځه کی کم والی نه دی راغلی نه مقیم څخه او نه مسافر څخه، قال م چې د ماښام په لمانځه سره د شپی لمونځ شروع کیږی او د ورځی دا ختم کیږی. قال صلعم که چا وروسته تر ماښام دوه رکعته سنت وده ته به د وی کوټی جوړی سی. په جنت کی او که چا څلور رکعته وکړه خدائی به د ده ته ګناهونه د شلو کلو ورو بخښی. قال فی المراقی ویستحب ان یطیل القرائة فی سنة المغرب.

ولی چې په حدیث نبوی کی راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم به په اول رکعت کی د سنة المغرب به ئی الٓمٓ تنزیل وایه. او په دوهم رکعت بی تَبَارَکَ الَّذی بیده الملک وایه، لکن کاهی کاهی قاله شارح المشکٰوة، کذا فی الجوهرة،

وعن انسؓ د ده څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: مَن صَلّی بعد المغرب که چا اداء کړه وروسته د ماښام تر لمانځه دوه رکعته چې په اول کی الحَمدُ لِلّٰه او قُل یا ایها الکٰفرون وایه او په دوهم رکعت کی الحَمدُ لِلّٰه او قُل هُوَ اللّٰهُ اَحَد ووایه د مخه تر دی چې د چا سره خبری وکړی نو د ګناهونو څخه به داسی ووزی لکه مار چې د خپله پوسته وزی: قال المصنفؒ

وَبَعدَ العِشَاءِ وَاَربَعٌ قَبلَ الظُّهرِ وَقَبلَ الجُمُعَةِ وَبَعدَهَا بِتَسلِيمَةٍ

او دغه رنګه سنت مؤکده دی دوه رکعته پسله ماختن څخه او څلور رکعته د مخه تر ماپښین او د مخه د جمعی تر لمانځه او څلور رکعته وروسته تر جمعی په یوه سلام سره. لقوله علیه السلام مَن

تَرَكَ الاربع قبل الظهر لم تنله شفاعتی، نقله المراقی عن الاختیار. وفی البحر وایه به په هر رکعت کی په قدر د لسو آیتو وکذا فی الاربع بعد العشاء، د روئیش وائی چی باره کی دغلو رکعتو قبل الظهر یو اوږد حدیث د ابی ایوب انصاری هم موجود دی، لکن سنت قبلی د مابینین او جمعی د لمانځه په یوه سلام سره اداکړی. او د مخه د جمعی تر لمانځه هم علیه الصلوٰة والسلام څلور رکعته لمونځ کاوه چی په مابین کی به ئی سلام نه گرځاوه. زیلعی شارح الکنز وائی کی دغه څلور رکعته په دوه سلامه سره وکړه د سنت اجراء نه په کیږی. لکن داهلته چی دسري تلوار نه وی. او کی تلوار وو دوه رکعته دی په مسجد کی وکړی او دوه رکعته چی بیا د کاره خلاص شو وبهذا اللفظ جاء الحدیث النبوی الذی رواه الجماعة الاجلای

مسئله: قال ابو یوسفؒ، چی تر جمعی وروسته دی شپږ رکعته کوی په دوه سلامه قال الکرخیؒ ومحمدؒ مع ابی یوسفؒ، د روئیش وائی چی دغه مذهب معمول دی زمونږ په وطنوکښی، یعنی وروسته تر جمعی ۴ رکعته د مخه او دوه رکعته وروسته کوی وهو مذهب ابی یوسفؒ؛

مسئله: کی سنت بعدی وځنډول پر صحیح روایت د سنتو ځای نه نسی م،،

مسئله: په مابین کی د فرضو او سنتو خبری کول او یا داسی عمل کول چی د تحریمی سره منافی وی سنت خو یه د ذمی څخه نه ساقطیږی لکن ثواب یه کمیږی. علی الاصح ط، **مسئله** په حلبی کی وائی که څوك نفل کوی نو اول دی پر ځان نذر کړی. او بیا دی اداء کړی. ولی نذر خو واجب دی او د واجبو ثواب تر نفلو ډیر دی. **مسئله**: په سنن قبلیه او بعدیه ووکی افضل به کور کی کول دی وهذا کان غالب حال النبی صلی الله علیه وسلم: واخرج ابوداؤد د صلوٰة المرء فی بیته افضل من صلاته فی مسجدی هذا الا المکتوبة، او منیة المصلی والا وائی چی سنت کول په مسجد کی حسن دی وفی البیت احسن، وبه افتی الامام الفقیه ابو جعفر الطحاوی **مسئله**: که ده سړی کور لیری وو او پرډی بیریدی چی که نه کور ته ځم نو به د چا سره په خبرو اخته سم. او یا په بل عمل نو هغه دی سنت په مسجد کی گذاري: الحکمة فی صلوٰة السنة فی البیوت، په هغه حدیث کی بیان سوی دی، نوّروا

بیوتکم بالصلوٰة، تاسی نورانی کوی خپل کورونه په لمونځ سره: وَلَا تَجْعَلُوْهَا قُبُوْرًا، او تاسی مه گرځوی کورونه خپل قبرونه. یعنی مړی خو په قبر کی لمونځ نسی کولای. نو ستاسی کورونه دی لکه د مړو قبرونه داسی نه وی رواه الحلبیؒ وغیره: فقال المصنفؒ؛

وَنُدِبَ اَرْبَعٌ قَبْلَ الْعَصْرِ وَالْعِشَاءِ وَبَعْدَهُ وَسِتٌّ بَعْدَ الْمَغْرِبِ

او مستحب دی څلور رکعته د مخه د مازدیگر د لمانځه او څلور رکعته د مخه تر ماخستن او وروسته تر ماخستن، او شپږ رکعته وروسته د ماښام تر لمانځه **پوه سه**: چی مندوب او مستحب او مرغب فیه او حسن الفاظ مترادفه دی. معنا یه داده چی شارع یه و فعل ته ترجیح تر ترك ور کړی وی. ط،

الدلائل علی المندوبات المذکورة

اما الاول، یعنی ۴ رکعته قبل العصر په حدیث شریف کی راغلی دی که چا څلور رکعته وکړه د مخه تر لمانځه د مازدیگر او ربه یه نه کړه یعنی اور د دوزخ. او په بل حدیث شریف کی راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام دوه رکعته وکړه د مازدیگر تر لمانځه د مخه، نو د دی حدیثو په سبب قدوری سړی نه اختیار ور کړی دی یعنی که څلور رکعت کوی او که دوه. او امام محمد بن الحسنؒ هم اختیار ور کړی دی. ده ۲: او د ۴ تر ما بین کما فی فتح القدیر: د روئیش وائی چی معنیٰ د تخییر داده. چی مستحب پر دواړو تقدیر اداء کیږی. لکن زیادة الخیر خیرٌ بالاتفاق، فاما الثانی، یعنی ۴ رکعته قبل العشاء ده سیدتنا عائشه رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دی، چی علیه الصلوٰة والسلام د مخه د ماخستن تر لمانځه څلور رکعته نفل کوله او بیا یه فرضی لمونځ کاوه. او وروسته یه څلور رکعته نفل کول. او بیا یه آرام کوه، واما الثالث، ای بعد العشاء، لما روینا من قبل ولقوله علیه الصلوٰة والسلام که چا څخه تر ماپښین څلور رکعته نفل وکړه دومره ثواب لري لکه د شپی د تهجد د لمانځه او که چا څلور رکعته نفل وکړه د ماخستن تر لمانځه وروسته. نو دونه ثواب یه دی لکه چی په شب قدر کی څوك وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com

تَنبیه: اما طحطاویؒ وائی چې دَفوائد قرشیه څخه نقل را اغلی دی. چې مراد په دَغو احادیثو شریفه وو کی چې په مقابل کی دَدَغو اعمالو چې ډیر آسان دی ددومره لوی ثواب وعده وهغه چا ته ده چې پردَغوا عمالو همیشه توب وکړي او یا په سبب دعذر په بعض اوقاتو ځندی پاتې سي.

او که چیری یو سری گاه گاه دا عملونه کوي او بیله عذره یه گاه گاه پریږدی. هغه ددونه لویو ثوابو مستحق نه دی. البته نفس ثواب حوړي. وَاَمَا الرابع ای بعد المغرب» په حَدیث شریف کی راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وَسَلم وَوَئیله که چا پسله مابنام د لمانځه شپږ رکعته نفل وکړه کتِبَ من الاوابینَ» دا سړی به نوشته سی داوابینو په ډله کی. بیا رسول الله صلی الله علیه وَسَلم دا اٰیت وَوَایه» اِنَّهٗ کَانَ لِلْاَوَّابِیْنَ غَفُوْرًا»، په تحقیق خدای جل شانه داوابینو بخښونکی دی»

فَائِدَه: اَوَّاب هغه چا ته وائی چې گناه ځندی صادره سی ژر تر ژره وخدای پاك ته په توبه کولو رجوع کوي. او دابن عباسؓ څخه روایت دی چې علیه الصلوٰة والسلام وَوَئیل که چا د مابنام تر لمانځه وروسته شپږ رکعته وکړه او په مابین کی خبري و نه کړي برابر دی دَغه شپږ رکعته دعبادت سَره ددوو لسو[۱۲] کلو یعنی په نورو وختو کي. او دابی هریرة رضی الله عنه په روایت کی داسی راغلی دی چې عَلیه الصلوٰة وَالسلام ووئیله که چا پسله مابنامه ۲۰ رکعته نفل وکړه. خدای پاك به جوړکړي دده دپاره یو کور په جنت کی. او د ابن عباسؓ په روایت کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة وَالسلام وفرمائیله که چا څلور رکعته نفل وکړه پسله مابنام د لمانځه د مخه تردی چې دیو چا سَره خبري وکړي. رُفِعَتْ لَهٗ فِیْ عِلِّیِّیْنَ»، دا عمل دده په علیین کی ذخیره سی. علیین دیو لوړ مقام نوم دی په جنت کی»

پُوښتَنه: چې مراد په دی حدیث کی دا دی چې لوی ثواب به ودَه ته په علیین کی نوشته سی نو دا سَوال نه پیدا کیږی چې په علیین کی خود نور عَملو دَخیر ثوابونه هم ذخیره کیږی. او علیه الصلوٰة و السلام نور یا ته کړه: وَ کَانَ کَمَنْ اَدْرَكَ لَیْلَةَ الْقَدْرِ فِی الْمَسْجِدِ الْاَقْصٰی وَهُوَ خَیْرٌ لَّه مِنْ قِیَامِ نِصْفِ لَیْلَةٍ» او دا سړی لکه هغه سړی گرځي چې

د شب قدر لمونځ په مسجد کی دَبیت المقدس وکړي. او دَغه څلور رکعته بهتر دی. تر نیمی شپی پوری تر نفلو»

سَوال، دلیلة القدر عبادت خو په نصِ قرآن کریم بالا دی تر زرو میاشتو عبادت په نورو شپو کی. او قیام دنصف لیلة خو ډیر لږ عبادت دی **جَواب**: چې په حَدیث شریف کی مراد دا دی چې دَقیامی دنصف لیلة ثواب بالا بود ور کول کیږی تر قیام دَلیلة القدر. وعن ابن عمرؓ ده ووئیل چې رسول الله صَلی اللهُ علیه وسَلم ووئیله که یو چا شپږ رکعته نفل وکړه د مخه تر خبرو کولو. هغه ته به و بخښل سی. گنهونه د پنځوسو کلو» وعن عمار بن یاسرؓ قال رسول الله صَلی الله عَلیه وَسلم چې که چا وکړه پسله مابنامه شپږ رکعته. خدای پاك به گنهونه ور و بخښی که څه هم دومره ډیر گنهونه وي لکه ځګ د دریاب» **درویش** وائی چې په دی حدیث کی که څه هم قید دقبل التکلم نسته لکن مراد دی. ولی چې مطلق پر مقید حمل کیږی چې واقعه یوه وي. کما تقرر فی اصول الفقه»

پُوښتَنه: چې اکثر علماء بخښل دگنهو په سَبب بعض عملو لکه په ما نحن فیه کی مخصوص بولی په صغیره گنهو پوری. وذالك لبشارة عظیمة» او بعض علماء گنهونه عاموي کبائر و گنهوتی هم شامله وي. ففی الا حادیث المذکورة اعظم بشارة للمؤمنین والمؤمنات **فَائِدَه**: دحضرت الامام الاعظمؒ مذهب دا دی چې دا شپږ رکعته دي د مابنام تر لمانځه وروسته په دوه سَلامه سره کوي یعنی اول دوه رکعته او بیا څلور. او یارانؒ وائی چې دا شپږ رکعته دی په دری سَلامه سره کوي یعنی دوه دوه رکعته. او په دره کی وائی چې شپږ سره دي په یوه سَلام کوی او فتوٰی پر قول دامامؒ ده»

مَسئَله: دغه شپږ رکعته دما بنام بالا بود تر سُنتو مؤکده دی او که سره دَهغو دی بعض علماء وائی چې دا شپږ رکعته جَلا ده سنت مؤکده څخه دي. او کمال الدین ابن الهمامؒ په فتح القدیر او امام حلبیؒ په خپل کتاب کی وائی چې دا شپږ رکعته مجموع سنت مؤکده او نفل دی نو نفل څلور رکعته کیږی. **درویش** وائی چې دا هم تائید دامام اعظمؒ کوی چې وائی چې په دوه سَلامه سره دی کوی. ولی جَلا کول د نفلو د سنت مؤکده وو څخه مستحب دی

او صاحبُ الدر ؒ چې شپږ سره په یوه سلام بولي دَهغه په نیزد اشپږ رکعت د سنت
مؤکده ځنې بللی دی. نو چونکه شپږ رکعته په یوه سلامه اَدوم تحریمة وه او سخت وه نو
ځکه دُرر والا دغه مذهب مختار کړی.

علمي تحقيق یوه سله: چې محدثین ټول پردې متفق دي چې روایت د موضوعي حدیث
چې سړی په خبروی ناروادی مګر د بیان سره د وضعي ملګری، او دا یې متفق
دول سره فقهاءُ وائی چې په حدیث ضعیف سره په فضائلو کې دَاعمالو استدلال روادی نو
بناءً علیٰ هذا دَ رولیش وائی چې دغه حدیثونه چې دلته په فضائلو کې د سنتو او نفلو ذکر سوی دی
بحمد الله موضوعي خو یو هم نسته په کښی، بلکه اکثر یې صحیح دي. او که څیری بعض احادیث
مذکوره د سند دلاری ضعیف هم وي. خو بیا استدلال په روادی. ولې دا ځای دبیان د فضائلو د
اعمالو دی. فلا نعتبر بما قیل او یقال؛ قَالَ المُصنفؒ.

وَيَقْتَصِرُ فِي الْجُلُوْسِ الْأَوَّلِ مِنَ الْـ(الاربعة)ـمُـؤَكَّدَةِ عَلَى التَّشَهُّدِ

او بس والی دی کوی په ناسته کې چې اوله ناسته ده. په څلور رکعتیز کې د سنت مؤکدة یعنی
څلور رکعته سنت د مخه تر ماپښین او د مخ دجمعې تر لمانځه. او وروسته دجمعې تر لمانځه
پر ویلو د التحیات، یعنی پر اَشْهَدُ اَنْ لَّا اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاَشْهَدُ اَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهٗ وَرَسُوْلُهٗ
پوره دی وَائي. **فَائِـده:** سره ددی چې په فرضي لمانځه کې د میانځ په ناسته کې تر
التحیات بالا بود وکړی. ولو که په قدر د اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى مُحَمَّدٍ وي سجده سهوه به کوي.
لکن په سُنت مؤکده وو کې چې څلور رکعته وي او د میانځ په ناسته کې تر التحیات بالاو وائی
دفقهاوو اختلاف دی چې سجده سهوه پر لازم ده او که نه! کذا في الدر والغرر، هغه خلک
چې سجده پروائی هغه دا استدلال کوي چې سنت مؤکد ډیر مشابهت لري د فرضو سره.
نو د تشهد ویلو په باره کې حکم د فرضو لري. نو لکه په فرضي لمانځه کې چې د میانځ په
ناسته کې تر التحیات د تیریدو په صورت کې خو سجده سهوه وه. نو په سنت مؤکده وو
کې هم سجده سهوه سته په صورت مذکوره کې..

او هغه علماء چې په صورت مذکوره کې په سنت مؤکده وو کې سجده سهوه نه وائی هغه وائی
چې اصلاً خو سنت مؤکده هم نفل وه لکن په سبب د مداومت دَ علیه الصلوٰة وَالسلام
سنت مؤکد وګرځید له نو د اصل دلاری سجده سهوه نسته،، او هغه دلیل چې اولی دلیل وو
چې سنت مؤکده ډیر آه. جواب دادی چې په مشبه کې خو ټول له احکام د مشبه به جاری
نه وي چې یو د هغو څخه سجده سهوه ده. وهذا المذهب ينبغي ان يفتى به . قَالَ

وَلَا يَأْتِيْ فِي الثَّالِثَةِ بِدُعَاءِ الْاِسْتِفْتَاحِ بِخِلَافِ الْمَنْدُوْبَةِ

او نه اتګ دی نه کوی مصلی د سنت مؤکده وو. چې د دریم رکعت ته ولاړ سي. په سُبْحَانَكَ
اللّٰهُمَّ سره کذا في فتح القدیر وهو الاصح کما في المنیه،، او په خلاف د سنة موکده دی
سنت مندوبه چې څلور رکعته وي. یعنی په دواړو مسئلو کې معنا دا چې د مندوبه څلور
رکعتیزو د میانځ په ناسته کې به درود لازمًا وائي. او چې د دریم رکعت ولاړ سی سُبْحَانَكَ
اللّٰهُمَّ به هم وائی لکه په نفلی خالص څلور رکعته والا،، او که مصلی د مندوبه سُنتو په اوله
ناسته کې نه کښېنستی نو په دریم رکعت کې دی سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ او اَعُوْذُ بِاللهِ نه وائی.

نکته په شرح کې د مُنیې وائی چې مسئله د استفتاح ویلو او مثل د هغه د متقدمینو
څخه د مذهب روایت نسته، البته د متاخرینو څخه دا روایات مروي دي. قَالَ المُصنفؒ

وَاِذَا صَلّٰى نَافِلَةً اَكْثَرَ مِنَ الرَّكْعَتَيْنِ وَلَمْ يَجْلِسْ اِلَّا فِيْ

او که سړی نفل وکړه بالاتر د وه رکعته یعنی څلور مثلاً او نه کښېنستی مګر په اخیر کې

اَخِيْرِهَا صَحَّ اِسْتِحْسَانًا لِاَنَّهَا صَارَتْ صَلٰوةً وَاحِدَةً

صحیح دی لمونځ په از روی استحسان. ولې دا ټول له څلور رکعته یو لمونځ وګرځیدی او په یوه
لمانځه کې صرف اخیره ناسته فرض ده.

Maktaba Tul Ishaat.com

پوښتنه: چې مصنف استحساناً ددې سببه ووايه چې په قیاس کې باید دا لمونځ ناسیدوی کما ذهب الیه زفرؒ وهو روایة عن محمدؒ وجه القیاس. داده چې هر دوه رکعته د نفلو جلا لمونځ دی نو دده میانځ ناسته د شفع اول اخیره ناسته ده. او دا مصلی هغه پرېښوله. او د استحسان دلیل خو هغه دی چې مصنفؒ ووایه، ومما یؤید الاستحسان ماروی مسلمٌ انه صلی الله علیه وسلم یو وخت نه ۹ رکعته لمونځ نفلی وکړی او پرانتم رکعت یې ناسته وکړه. او بیا ونهم رکعت ته ولاړ شو»

مسئله: کې ناسته پر دوو رکعتو هیره سوه جبیره یې په سجده سهوه سره کیږي. او کې په ولاړه کې وه یاد سوه بیرته دی ناستی ته راګرځي او سجده سهوه دی هم وکړي تر هغو چې رکعت یې په سجده سره نه وی مقید کړی» ف م»

پوښتنه چې بعض فقهاء وائي چې دا څلور سره رکعته مثلاً یوه شفعه حسابېږي. نو مصنفؒ هغه رد کړه چې دا څلور سره یو باجمعي لمونځ دئ.

پوښتنه: ابن امیر الحاج وائي په مبحث کې د تراویح چې که یو سړی شل رکعته تراویح په یوه سلام په اخیرکې وکړي په دی کې خو اختلاف د مشائخو ستهٔ. لکن صحیح داده چې داشل سره رکعته په ځای کې د دوو رکعتو د تراویحو دریږي کنه هم شل رکعته نفل خو ګڼل کیږي لکن په ځای کې د دوو رکعتو د تراویح دریږي یعنی ۱۸ رکعته به نور کوي نو هله تراویح پوره کیږي او دغه رنګه که سړی ۴ رکعته تراویح وکړي او په مابین کې ناسته ونه کړي پر دوه رکعته حسابیږي. نو پوښتنه دا ده چې دا قول د مصنفؒ: وَاِذَا صَلّٰی نَافِلَةً آه، د قول دابن امیر حاج مخالف نه ده **جواب** امام طحطاویؒ وائي چې منافات نه سره لري. ولې چې تراویح پر هیئت مخصوصه راغلی دی یعنی دوه دوه رکعته. نو بیله خپله هیئته په بل هیئت سره نه اداکیږي.

مسئله: که سړی په نفلی څلور رکعتو لا مخکې پر دریم رکعت کښیناستی اختلاف دی په صحت کې او خلاصه والا وائي چې لمونځ یې فاسد شو. م» ولې چې مشروع ناسته خو پر دوهم رکعت وه هغه ده پرېښوله. او پر دریم رکعت ناسته خو بې ځایه ده»

نو پر دغه سړي قضاء د دوو رکعتو لازمه ده فقط، ولې چې اول شفعه ده شروع خو صحیح ستوله. لکن په ترک د قعودی ده فاسد کړه نو قضاء یې لازمه ده. او د دوهمی شفع قضاء پرې نسته لانه بناء علی الفاسد» ط قال المصنفؒ:

وَكُرِهَ الزِّيَادَةُ عَلٰى اَرْبَعٍ بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ فِي النَّهَارِ وَعَلٰى ثَمَانٍ لَيْلًا:

او مکروه دی زیاتوالی پر څلورو رکعتو په یوه سلام په ورځ کې، او پر اتو رکعتو زیاتوب په شپه کې. دلیل یې دادی چې علیه السلام والصلوة زیات تر دغو رکعتو په شپه او ورځ کې نه دی کړي نو که مکروه نه وای علیه السلام به د پاره د بیان د جواز یو وخت زیاتوب کړی وای. وهذا اختیار اکثر مشائخ المذهب» او په معراج کې وائي چې صحیح داده چې کراهت نسته لما فیه من وصل العبادة بالعبادة» او امام سرخسیؒ یې هم مکروه نه بولي په دی دلیل چې په صحیح بخاري کې په روایت د عائشه رضی الله تعالی عنها. راغلی دي چې علیه الصلوة والسلام دیارلس رکعته لمونځ د شپې کاوه. یعنی چې لس رکعته بې وکړه کښېنستی به او بیا به دری رکعته وکړه. نو هغه لس رکعت خو نفل دی او دری رکعته یې وتردی ط وائي چې په دغه حدیث د سرخسیؒ مدعی نه ثابتیږي. ولې چې په دی حدیث کې صراحتاً راغلي چې لس رکعته به یې په یوه سلام کوله: قال المصنفؒ:

وَالْاَفْضَلُ فِيْهِمَا رُبَاعٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَؒ

او افضل د نفلو په شپه او ورځ کې څلور رکعته دی په نیز د امام اعظم ابوحنیفهؒ. ولې چې په حدیث کې چې روایت یې عائشه رضی الله تعالی عنها کړي دی او په بخاري وغیره کې موجود دئ دا اس راغلی دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د شپې څلور رکعته لمونځ کاوه چې تې پوښتنه د ښه والي او اوږد والي مه کوه یعنی په ډېر ښه طریقه او ډېر اوږده رکعتونه په سبب د طول قرائت کوله ثُمَّ يُصَلِّي اَرْبَعًا فَلَا تَسْئَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ» دا خود شپې د څلورو رکعتو فضیلت وو. او د ورځې په باره کې د څلورو رکعتو د فضیلت دلیل دا دی» چې علیه الصلوة

والسلام د ثابت لمونځ کاوه څلور رکعته چې په مابین کې بې سلام نه ګرځاوه. او دوام ثابته ده چې عليه الصلوٰة والسّلام د ثابت پر لمانځه مواظبت کړې دی»

فائده: مراد د مواظبت دلته دوام نه دی ولې عمل دائم د عليه الصلوٰة والسلام خو سنت مؤکد بلل کیږی. نو بايد چې صلوٰة الضحیٰ په سنن مؤکده وو شمیرل سوی وای بلکه مراد کول د ثابت د لمانځه دی په اکثرو اوقاتو کی. **دفع توهم** پوه سه چې عليه الصلوٰة والسلام د ثابت لمونځ په کور کی کاوه. نو د امواظبت د هغه حديث سره منا فی نه دی چې راوی وای چې ما د ثابت لمونځ د عليه الصلوٰة والسلام صرف او صرف په کال کی د فتح د مکې مکرمې ولیدی او بیا می نه دی لیدلی»، فتدبر» قال المصنفؒ

وَعِنْدَهُمَا الْاَفْضَلُ فِی اللَّيْلِ مَثْنٰى مَثْنٰى وَبِهٖ يُفْتٰى

او افضله په نیز د یارانو په شپه کی دوه دوه رکعته دي. او په دغه سره فتوی ورکړه کیږي حاصل دا چې یارانو دواړو چې په نفلو کی چې څلور رکعته افضل دی د امام اعظمؒ سره موافق دی د یارانو دليل دادی» چې په حديث شريف کی راغلی دی صلوٰة مثنٰى مثنٰى» او ددی حديث جواب محقق ابن الهمام په فتح القدير کی داسی ورکړی دی. چې د حديث شريف معنی داهم کیدای سي چې دوه رکعته د شپې په نفلو کی افضل دی نسبت وڅلورو ته لکه مدعی د یارانو چې ده. او داهم کیدای سی چې په حق کی د اباحت دوه بیدې تر یوه رکعت، ولې چې یو رکعت لمونځ اباحت نه لری، واذا الاحتمال بطل الاستدلال، نو ترجیح دیوه احتمال پر بل باندی مرجح غواړی. او د عليه الصلوٰة والسلام څلور رکعت په یوه سلام ثابت دی کما مرّ من حديث عائشة رضي او بعض فقهاءؒ وائی چې مراد د مثنی څخه په حديث کی دادی چې صلوٰة الليل شفعه شفعه دی یعنی مقابل د تاك»
او څلور خو هم شفع دی. او ابن همام وائی چې مونږ ترجیح په جانب کی د څلورو ورکوو، ولې چې په څلورو کی مشقت پر سړي ډیر دی. ولې په خدمت کی د عبادت دی ډیره زمانه پاتیږی وقد ورد فی الحديث النبوی: انما اجرك بقدر نصبك» نه دی ستا ثواب مګر په قدر د تکلیف

ستا، د دی خبری دلیل دادی. چې په فقه شریفه کی وائی چې که یو سړي پر ځان نذر کړه چې زه به څلور رکعت لمونځ په یوه سلام کوم، نو په دوه رکعت کولو سره به د نذر غاړې نه خلاصیږی. او که سړي نذر کړه چې زه به څلور رکعته لمونځ په دوه سلامه کوم. نو بیا ده څلور رکعته په یوه سلام وکړه د نذر غاړی خلاصی سوی. نو بیا ابن همامؒ وائی چې نو مونږ ددی سببه حکم کوو چې مراد د مثنی څخه مقابل د تاك دی یعنی یو رکعت سیادري رکعته. وهكذا او د کمال الدینؒ سره موافق دی دده شاګرد علامه قاسمؒ فافهم. قال المصنفؒ

وَصَلٰوةُ اللَّيْلِ اَفْضَلُ مِنْ صَلٰوةِ النَّهَارِ

او د شپې نفل افضل دي تر نفلو د ورځې. ولې د شپې لمونځ خصوصًا په دریمه حصه کی او په بیله خوبه ډیر سخت دی پر نفس» او دریا څخه ابعد دي. او خصوصی مناجات دی د خدای پاك سره» او حواس ډیر سلیم وي. خدای جل سلطانه په بیان کی د دغو لمونځ کوونکو وائی. تَتَجَافٰى جُنُوبُهُمْ عَنِ الْمَضَاجِعِ» الآية وقال الشاعر،
بقدر الكد تكتسب المعالي ؛ ومن طلب العلى سهر الليالي ؛ تروم العز ثم تنام ليلًا ؛ يغوص البحر من طلب اللآلی ؛
قال المصنف

وَطُوْلُ الْقِيَامِ اَحَبُّ مِنْ كَثْرَةِ السُّجُوْدِ

او اوږد ولاړه په لمانځه کی په سبب د طول القرائت محبوب دی وخدای جل شانه ته تر ډیرو سجدو یعنی په سبب د سپک قرائت او ډیر رکعتو. یعنی که د شپې وی او که د ورځې لقوله عليه الصلوٰة والسلام: اَفْضَلُ الصَّلٰوةِ طُوْلُ الْقُنُوْتِ، ای القيام» او بل دليل دادی چې په طول القيام سره قرائت القرآن ډیریږی. او په ډیر والی د رکوع او سجود تسبیحات ډیریږی او شك نسته چې قرائت القرآن افضل دی تر تسبیح ویلو. مصنفؒ په مراقی کی وائی چې په مجتبیٰ کی د امام محمدؒ څخه روایت دی چې کثرة السجود افضل دی. ولې چې عليه الصلوٰة والسلام ویوه سائل ته وو ویله. عَلَيْكَ بِكَثْرَةِ السُّجُوْدِ: ته پر ځان لازم وګرځوه ډیر والی د سجدو، او په بل صحيح حديث کی راغلی دی چې یو سړي د عليه الصلوٰة والسّلام څخه سوال وکړی چې زه ستا مرافقت او ملګرتیا په جنت کی غواړم: عليه الصلوٰة والسّلام

Maktaba Tul Ishaat.com

ورته وَوَئیله یا ابل شئ یعنی د بل شئ سوال وکړه سائل ورته وَوَئیله: هُوَ ذَاكَ، یعنی زما سئوال هم دا غوندی. نو علیه الصلوٰة والسلام ورته وَوَئیله: أَعِنِّی عَلٰی نَفْسِكَ بِكَثْرَةِ السُّجُودِ: یعنی زما سره ته کمک وکړه په تحصیل کی ددی مسئول ستا په ډیر والی سره د سجدو. ؔ او قوله علیه الصلوٰة والسلام: أَقْرَبُ مَا یَكُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَّبِّهٖ وَهُوَ سَاجِدٌ. او بل دا چی په سجده کی غایة خضوع او تذلل دی. او امام احمدؒ په دی مسئله کی توقف کړی دی. لتعارض الادلة، او امام مالکؒ دواړه سره برابر بولی. لتساوی الدلیلین»

درویش وائی: که سړی دَشپی ولمانځه ته تعیین د رکعتو کړی وی مثلاً چی زه به د شپی ۸ رکعته لمونځ کوم نو طول القیام افضل دی. او که تعیین د زمانی کړی وی مثلاً چی زه به یو ساعت نفلونه کوم. نو هغه دپاره کثرة السجود افضل دی» وَاللّٰهُ اعلم بالصواب

درویش مُحمّد عبیدُ الله، ایوبی، قندهاری، سلیمانخیل، سنی، حنفی، نقشبندی وائی چی ددی فصل په مناسبت هغه ابیات چی عارف باالله خواجه عبد الله انصاری رحمة الله علیه: چی دافغانستان دهرات په ښار کی یه مزار یې انوارد ی وَئیلی دی ډیر موزون او مناسب دی، تا چی اهل الله وَخلکو ته معلوم شی. او په دی خلک پوه شی چی مقصود اصلی دعلم نه عمل دی نه مجرد قال وقیل» هغه دمعنی او اسرارو ډک بیتونه دادی.

حبذا قومی که داد بنده گی را داده اند : ترک دنیا گفته اندواز همه ازاده اند

روزها با روزها در گوشه ها بنشسته اند : باز شبها در قیام بنده گی استاده اند

نفس خودرا قهر کرده روح خودرا پرفتوح : زاد تقوی برگرفته بهر مرگ اماده اند

طرفة العینی نبوده غافل از حضرت ولی : سیلها این همه از دیدها بکشاده اند

یکزمان از نوحه همچون نوح فارغ نیستند : همچو یحیٰی گوئیا از بهر زاری زاده اند

زآب ناب تب الی الله غسل کرده آن کسان : روی خود بر خاک پای اسجدوا بنهاده اند

ربنا گویند از ان لبیک عبدی بشنوند : جمله سرمست الست از جرعه این باده اند

راحتی دیدند وذوقی یافتند از انس وجان : روز و شب در کنج خلوت بر سر سجاده اند

تا بدنیا آمدند از کلبهٔ کتم عدم : سوی حضرت جز نیاز و نازنفرستاده اند

پیر انصاری تو میدانی که ایشان کیستند : فقر بی کروفر زمرهٔ دل ساده اند

درویش باگناه بحضرت بی همتا خود چنین عرض مینماید گر قبول افتد زهی عز و شرف :

الهی یا الهی یا الهی : ندارم جز امیدت تکیه گاهی

زکن موجود کردی جملهٔ عالم : مرا از ذنب خود کن عذر خواهی

ندارم طاعت مقبول درگاه : بجز اشک ندامت آه آهی

ندارم توشهٔ راه قیامت : بجز شرمندگی و روسیاهی

شفیع آورده ام روی محمدﷺ : مرا از ذنب خود کن عذر خواهی

بحق حرمت فرقان اعظم : کرم کن بر من گم کرده راهی

اگر دورم مراز دیک دانی : فراموشی مکن ای مهربانی

عُبید را خاتمه بالخیر گردان : بروی چار یار آن مُصطفائی

او دا هم وایم

احب الصالحین ولست منهم : لعل الله یرزقنی صلاحًا

تا نگرید ابر کی خندد چمن : تا نگرید طفل کی جوشد لبن

هر کجا آب روان سبزه شود : هر کجا اشک روان رحمت شود

نقصان رقابل است وگرنه علی الدوام : فیض سحاب و تشش همه کس برابر است

صبا مدینے میں مصطفٰی سے ہم غریبوں کا سلام کہنا : نہیں ہے کوئی بجز تمہارا میرا آتنا پیام کہنا

اللهم اختم لنا بالخیر والسعادة والبشارة من الایمان.

کتاب ______ پښتو نور الایضاح جلد دوم ۲ ۲
مصنف ______ الحاج ابو الفضل ایوبی قندهاری مدظله العالی
کتابت ______ ادنی خوشه چین فضل الحق حقانی القاری
ناشر ______ مکتبة القراءة والتجوید کانسی روڈ کوئٹه

فصل فِیْ تَحِیَّةِ الْمَسْجِدِ وَصَلٰوةِ الضُّحٰی وَاِحْیَاءِ اللَّیْلِ

فصل دی په بیان کی د تحیة مسجد یعنی تحیة رب المسجد ولی تحیه خو د صاحب دمکان لری نه وه مکان ته" ملا علی قاریؒ وائی څوک چی داخل سی و مسجد حرام ته لا یشتغل بالتحیة ای بصلاة التحیة" ولی تحیه د مسجد حرام طواف دی. چی پر چا طواف لازم وی لکه معتمر یا چی د طواف زیارت د پاره راسی. او یا داغسی راسی لکن د طواف اراده لری. نو طواف دی وکړی د غه یی تحیه ده. او که چا اراده د طواف نه در لوده یا خو اراده وه لکن یو ګړی کښینستی. نو هغه سړی دی نه کښینی ترڅو چی د تحیة المسجد لمونځ نه وی کړی. او بل د ښا بنت لمونځ او بل شپه رونول په عبادت سره.. قال المصنفؒ

سَنَّ تَحِیَّةَ الْمَسْجِدِ بِرَكْعَتَیْنِ قَبْلَ الْجُلُوْسِ

سنت ګنړل سوی دی پیښ کښ د مسجد په دوه رکعته سره د مخه تر ناستی. لکن که ئی د دخول په وخت مکروه کی نه وی. لِقوله علیه الصلوٰة والسلام: که یو ستاسی داخل سو و مسجد ته نو تر هغو پوری دی نه کښینی چی دوه رکعته لمونځ یی نه وی کړی. درویش وائی که څه هم څلور رکعته هم روا دی په تحیة المسجد کی لکن افضل دوه رکعته دی لاجل الحدیث القولی والفعلی" کذا قال القهستانیؒ

مسئله: که سړی مسجد ته ورغلی وروسته د سحار د لمانځه یا وروسته د ماز دیګر تر لمانځه چی نفل نه دی روا. نو سُبْحَانَ اللّٰه، لَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، او درود پر نبی علیه الصلوٰة والسلام دی وائی: چی په دې سره حق د مسجد پوره کیږی" تمرتاشی" **مسئله** که سړی مسجد ته ورغلی او اودس یی نه در لودی نو داخلو کلمی دی څلور واره ووائی. سُبْحَانَ اللّٰهِ وَالْحَمْدُ لِلّٰهِ، وَلَا اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ، وَاللّٰهُ اَكْبَرُ" در، عن ض عن ق"

پوښتنه: چی قبل الجلوس صرف د بیان دا ولی دی. ور نه بعد الجلوس هم تحیة المسجد نه ساقطیږی" امام طحطاویؒ وائی چی دا قول د عامه وو دی وَهُوَ الصحیح او بعض فقهاءؒ وائی چی یو وار دی سړی کښینی او بیا دی تحیة المسجد ادا کړی. درویش وائی

چی دا حکم د صریح حدیث مذکور سره منافی دی. قال المصنفؒ

وَاَدَاءُ الْفَرْضِ یَنُوْبُ عَنْهَا وَكُلُّ صَلٰوةٍ اَدَّاهَا عِنْدَ الدُّخُوْلِ بِلَا نِیَّةِ التَّحِیَّةِ

او اداء کول د فرضی لمانځه هم په ځای کی د تحیة المسجد دریږی او د غه رنګه په ځای کی د تحیة المسجد دریږی هر لمونځ چی ادا یی کړی په وخت کی د دخول المسجد بیله نیت د تحیة المسجد" ولی چی مقصود د تحیة څخه احترام او تعظیم د مسجد دی هغه په د غه سره پر ځای سو. **مسئله** که څوک مسجد ته ورتلی نو یی دوه ځی یوه تحیه کافی ده" حمویؒ د اشباه څخه نقل کوی چی هره ورځ پیلا تحیة المسجد کول حرج دی. او بعض علماء وائی چی د هر دخول د پاره جلا جلا تحیه غواړی. قیاسًا علی تحیة الانسان بالسلام فانه کلما هیه سلمه وان کرر الملاقات بینهما کذا فی السراج والفتوی علی الاول خصوصًا فی الطلباء والعلماء"

مسئله: مندوب ده چی په وخت کی د دخول د مسجد دی داسی ووائی: اَللّٰهُمَّ افْتَحْ لِیْ اَبْوَابَ رَحْمَتِكَ" او په وخت کی د وتلو د مسجد څخه دی دعا کوی. اللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْئَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ لامر النبی صلی الله علیه وسلم بذالك" مر قال المصنفؒ:

وَنُدِبَ رَكْعَتَانِ بَعْدَ الْوُضُوْءِ قَبْلَ الْجِفَافِ

او مستحب دی دوه رکعته نفل پیسله او داسه د مخه تر وچ والی. د اندامو، قال علیه الصلوٰة والسلام: مَا مِنْ مُسْلِمٍ یَتَوَضَّأُ فَیُحْسِنُ وُضُوْئَهُ ثُمَّ یَقُوْمُ وَیُصَلِّیْ رَكْعَتَیْنِ یَقْبَلُ عَلَیْهِمَا بِقَلْبِهِ اِلَّا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ" رواه مسلم داسی مسلمان چی اودس تازه کی او ښه پوره اودس تازه کړی او بیا ودریږی. او دوه رکعته نفل وکړی چی زړه یی په متوجه وه هغه لمانځه ته وی مګر واجب دی ده لره جنت"

او سیدنا ابو هریرهؓ څخه روایت دئ چی علیه الصلوٰة والسلام و بلالؓ ته وویل ای بلاله ته ما ته بیان که هغه ډیره ښه عمل چی تا په اسلام کی کړی دی" ولی چی ما واوریدئ تړپ د چوتو ستا زما د مخه په جنت کی یعنی په عالم خوب کی" بلالؓ ورته وویل

Maktaba Tul Ishaat.com

چي تر دغه عمل چېرې امید نه ما په عقیده مانه دی کړي بیله دی چې زه دوړځې اودشپې
نه یم بی اوده سوی مګر ما اودس تازه کړی دئ. او ما په هیڅ وخت کی دوړځې یا دشپې
اودس نه دی تازه کړي مګر نه ما په هغه اودا سه سره نفل کړي هغه ماته نوشته سوي وه.
یعنی په تقدیر الهی کی قال صلی الله علیه وَسلم هُوَذا الکَ ،هم داغه ارجی عمل دی رواه البخاری

مسئله: په شرح کی دمشکوٰة په کتاب الطهارة کی وائی که سړي ورسته تر اودا سه متصل
پر فرضی لمانځه ودریدی ثواب د تحیة الوضوء وړته حاصل سو کما مرّ چی د تحیة المسجد ثواب
په فرضی لمانځه سره هم حاصلیږي. قَـالَ المُصنفُ:

وَاَربَعٌ فَصَاعِدًا فِی الضُّحیٰ الراجح من الروایة » اود غرنګه مندوب دی د څابنت لمونځ علی
او بعض علماء وائی چی
جائزی غیرمندوب دئ: او هغه څلور رکعته یا بالا تر څلورپه وخت کی د ضُحیٰ. په
دلیل دهغه حدیث چی عائشه رضی الله تعالیٰ عنها یې روایت کوی. اودا وائی چی علیه
الصلوٰة والسلام دڅابنت لمونځ کاوه څلور رکعته اوګاهی بی زیا توَل مَاشَاءَ » نو ددی
وجی څخه مونږ صلوٰة الضحیٰ مندوب وَبالَه. اوامام حاکم په خپل کتاب کی چی مستدرک
په نوم دی. داسی وائی ما صحیحت کړي دی د ډیرو امامانو سره د حدیثو چی هغه هم حفاظ او هم
محکم خلک وه په حدیثو کی نو ویئ دڅابنت لمونځ څلور رکعته خوښاوه لتواتر الاخبار
الصحیحة فیها. او بعض مفسرین د دی ایت تفسیر: وَاِبْرَاهِیْمَ الَّذِیْ وَفّٰی » دعلیه
الصلوٰة والسلام څخه داسی نقل کړی دی. چی علیه الصلوٰة والسلام وویل یعنی وصحابه
ووته: اَتَدْرُوْنَ مَا وَفّٰی » آیا تاسی پوهیږی چی څه مراد دی دَ الذی وفّٰی. وَفّٰی
عمل یومِهِ باربع رکعاتِ الضحیٰ »

پوهـسـه: چی څه وخت چی لمر دوئ نیزې راپورته سی یعنی وخت دکراهة الصلوٰة
تیر سی دوه رکعته نفل سنته چی صَلوٰة الاشراق یې بولې: او بیا چی بیا لمر راپورته سی
چی په پښتو یې پوخ څابنت بولي. او تقریبًا لمر د مشرق دخوا څلرمی حصی ته داسمان
راود سیږی. هغه وخت دصلوٰة الضحیٰ دئ.

فائدۃ مجرّبة عند اهل الله: پوهسه: چی اهل تجربه داولیاء الله الکرام وائی چی صَلوٰة
الضحیٰ علاوه تر ثواب اخروی دفراخی د رزق دپاره هم تیر
بهدف دی. لکن دوی دهغه دپاره داترتیب ښا کلی دی. په اول رکعت کی ورسته
تر الحمد لله، سورة وَالشمسِ وَضُحٰهَا الخ اوپه دوهم رکعت کی متصل سورة په
هغه پوري یعنی وَ اللَّیْلِ اِذَا یَغْشٰی آه. او په دریم رکعت کی ورسره جوخت سورة
والضحیٰ آه اوپه څلورم رکعت کی دهغه مُتصل اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ»

اختلاف: بعض علماء وائی چی مداومت یعنی همیشه توب پر صَلوٰة الضحیٰ بدعت
دی دافرقه داسی ډیر عبادات مشهوره، قَولیه، عملیه، مَالیه، وته
بدعت وائی. او باید ددی ډلې وقول ته څوک غوږ ونه نیسی بلکه خپل د مذهب
حنیفی دفقهاء کرامو خبره عملی کړي. اود هغو مذهب دادی چی مداومت یعنی همیشه
توب یې مندوب دئ.

ولی چی په حدیث صحیح کی راغلی دي. اَحَبُّ الاَعْمَالِ اِلَی الله مَا دَاوَمَ عَلَیْهِ صَاحِبه وَاِنْ
قَلَّ» یعنی خوښ د عمل وخدای جل سلطانه ته هغه عمل دی چی دوام وکړي صاحب دعمل پر هغه
که څه هم لږ وي. **قَوله فَصَاعِدًا الخ پوهـسـه**، چی زیا توب تر څلورو رکعتو
تر ۱۲ پوري مروی دئ. امام طبرانی رحمه د ابی الدرداء رض څخه داسی روایت کړي دئ چی
علیه الصلوٰة والسلام وو ویَله که چاد څابنت لمونځ دوه رکعته وکړي. دی به په
غافلانو کی نه نوشته کیږی. او کی څلور رکعته وکړه په عابدینو کی به نوشته سی. او که
شپږ رکعته وکړی دغه ورځ یې کافی ده، اوکی اته رکعته وکړه خدائ به ئې په قانتینو کی
نوشته کړي. او کی دوولس رکعته وکړه خدای جل شانه به ورته یو کور په جنت کی جوړ
کړي. م وفی الدر عن المنیة: اقل مرتبة صلوٰة الضحیٰ ۲ رکعته دی. او اکثر یې ۱۲
رکعته دی. او اوسط یې ۸ رکعته دی وهوا فضلها کما فی الذخائر الاشرفیة، او در ویش
وائی چی زما په نیز یې افضل مرتبه ۴ رکعته دی. ولی څلور رکعته هم په حدیث فعلی دعلیه
الصلوٰة والسلام ثابت دی کما فی حدیث عائشة رض. او هم په حدیث قولي دعلیه الصلوٰة

والسلام كما فى حديث الطبرانى“ او بل داهل الله اولياء الله اتفاق هم پر ځلور رکعته دی كما مر عنقريب ” قَالَ المُصنفُ:

وَنَدُبَ صَلٰوةُ اللَّيۡلِ

او مندوب دی دَشپې لمونځ. په مَراقى كى وَائى چى كه مرتبه د صلٰوة الليل چى تهجد ېې بولى اته رکعته دى كما فى الجوهرة ” **فَائِدَهْ**: فضائل د صلوة الليل بېخى ډېرى آنحضرت صَلى الله عليه وسَلم په يو ځا مع حديث كى وَائى: عَلَيۡكُمۡ بصَلٰوة الليل “ تاسى پر ځان لازم وګرځوى دَشپې لمونځ. فَانه مِن دَأبِ الصالحين قبلكم ” ولى صَلٰوة الليل عادَت وو د صالح بنده ګانو د خداىٔ ترتا سى دَمخه، يعنى په نورو اديا نو كى وَقُرۡبَةٌ اِلى رَبكم او صلٰوة الليل تاسى نږدى كوى وخداى جل شانه ته“ وَمكفرة لِلسَّيِّئَات ” او صلوة الليل رَڼوونكى دى دګنهو ستا سو. وَ مِنهاتٌ عَنِ الاِثم او منع كوونكى دى ستا سو د ګنهو څخه قَالَ اللهُ تعَالىٰ: قُمِ اللَّيۡلَ اِلَّا قَلِيۡلًا“ په تفسير كى د ابن عباسؓ راغلى دى په تفسير د ايت مذكوره قُمِ اللَّيۡلَ كُلَّهٗ اِلَّا قَلِيۡلًا. نو په دى ايتؓ عمل كول ګران سوه پر عليه الصَّلٰوة و السلام او پر ا صحابو رضى اللهُ تعَالىٰ عنهم باندى. ولى دوى ته اندازه او مقدار د قليل نه معلوميدَى. نو دوى به احتياطًا به ټوله شپه په لمانځ تيره كړه. نو خداى جَلَّ شانُهٗ بيا دا ايت نازل كړى“ نِصۡفَهٗ اَوِانۡقُصۡ مِنۡهُ قَلِيۡلًا. اَوۡزِدۡ عَلَيۡهِ ” يعنى نيمى دَشپې تهجد كوه او يا تر هغه كم يعنى تر ثلث پورى. او يا زيات تر نصف يعنى تر ثلثين پورى د شپى او د امر الهى هم پر عليه الصلوة وَ السلام او پر اصحابو مشقت وو. ولى چى اندازه د نصف الليل يا ثلث الليل او يا دوى برخى د شپى هم دوى ته نه معلوميدَى چى په هغه عصر كى سَاعتونه نه وَه چى په هغو سره د امقادير ثلثه پېژندلى وَاى. نو بيا هم د احتياط د سَببه ټوله شپه بى لمانځ كى تيره كړه حتىٰ چى د دوى ولاړى څخه پښى وپړسيدَلى، نو رب جَل وعَلىٰ د هغه ناسخ نازل كړو وقال:“ عَلِمَ اَنۡ لَّنۡ تُحۡصُوۡهُ: خداىٔ علم لرى چى تاسى طاقت د ضبط د نصف الليل او ثلث الليل او ثلثى الليل نه لرئ. فَتَابَ عَلَيۡكُمۡ فَاقۡرَءُوۡا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الۡقُرۡاٰنِ “ نو رجوع وكړه خداىٔ د قبلى مقاديرو څخه نو اوس تاسى

Maktaba Tul Ishaat.com

لمونځ كوئ په شپه كى چى تاسى ته آسان وى: وَلَوۡ قَدۡرَ حلب شَاة“ تر دى وخته پورى خو صلوٰة الليل واجب وُو. او بيا پسله يو كاله يه وجوب منسوخ سُو په پنځو لمونځو سره د فرضو نو تر مابين د واجب او تخفيف يه يو كال تير سُو. او په مابين كى وجوب او نسخ د ه كاله تير، كذا فى العَينى شرح البخارى لبدر الدين العينى الحنفى“ ” ط “ قَالَ المنفُ

وَنَدُبَ صَلٰوةُ الۡاِسۡتِخَارَةِ

او مُستحب دى لمونځ د استخارى پو ه سه: چى معنا د استخارى طلب د خير دى د خداى جَل جَلالهٗ څخه او استخاره دَپاره د راتلونكى كار پكار ده چى خداىٔ وسرى ته په دغه كار كى چى ــــ سَړى اراده ورته كړيده دَ خير جانب وَرته معلوم كى.

فَائِدَهْ: د صلوة الاستخارة بيان په حديث كى د جابرؓ په دَغو الفاظو راغلى دى: كَانَ رَسُوۡلُ اللّٰهِ صَلّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلمَ: يُعَلِمُنَا الۡاِسۡتِخَارَةَ فِى الۡاُمُوۡرِ كُلهَا كَما يُعلمنا السُّوۡرَةَ مِنَ الۡقُرۡاٰنِ “ ترجمه وو عليه الصلوٰة وَالسلام پر دى دَوَل چى مونږ ته يه را ښوولَه: طريقه د استخارى په ټولو كارو كى لكه چى مونږ ته بهٔ يو سورة د قرآن را ښووَى يعنى په ښه تحقيق او مكرر ښووَ نه سره.

پُوهْ سَه: چى په بَل صحيح حَديث كى داسى رَاغلى دى. قَالَ عَليه الصلوة وَالسَّلام مِنۡ سَعَادَةِ المرءِ اى ابن ادم استخارة الله عَزَّوَجَلّ يعنى د نيك بختى څخه د ابن ادم دا ده چى طلب د خير د خداىٔ څخه كوى. قَالَ جابرؓ يقول يعنى رسول الله صلى الله عليه و سَلم: اِذَا هَمَّ اَحَدُكُمۡ بِالۡاَمۡرِ چى قصد وكى يو ستا سى د يو كار **پُوهْ سَه**: چى د كار څخه مراد كار د مستقبل دى چى دَ خير او شر دَواړه احتمال ه پكښى وى. او سړى يه په خير او شر نه پوهيږى يعنى يو مبهم كار وى. نو په دوه دى خوړلو يـا په اوبو څښلو او په نورو عادى كارو كى د استخارى كولو ضرورت نسته“ فَلۡيَرۡكَعۡ رَكۡعَتَيۡنِ مِنۡ غَيۡرِ الۡفَرِيۡضَةِ نو دى دوه ركعت لمونځ وكى مَا سوا د فرضى لمانځه څخه. يعنى صرف نفل دى وكړى. علماء وائى چى په اول ركعت كى دى الكافِرون سورت وَوَائى او په دوهم ركعت كى دى سورة الاخلاص ووائى. او بعض فقهاءُ وائى چى په اول ركعت كى دَا قول د خداىٔ ووائى. وَرَبُّكَ يَخۡلُقُ.

مَا يَشَآءُ وَ يَخْتَارُ تر يُعْلِنُوْنَ پورې. او په دوهم رکعت کې دا قرانی ایتونه ووائی: وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَّلَا مُؤْمِنَةٍ» تر مُبِيْنًا پورې: **بنهانه او اسانه فائده:** که یو سړی ته صلوٰة الاستخارة او د استخارې دعا تکلیف وه. نو په ترمذی کې په اسناد ضعیف سره د ابوبکر الصدیق رضی الله تعالیٰ عنه نه روایت دی. اَنَّ النبی صَلَّی اللّٰهُ علیه وسلم كَانَ اذا اراد امرء اقال اللهمّ خِرلی واخترلی» د جابرؓ د حدیث وخواته ځي:

اِسْتِخَارَه

اَللّٰهُمَّ اِنِّیْ اَسْتَخِیْرُکَ بِعِلْمِکَ ای خدایه زه ستا نه طلب د خیر کوم یعنی په دی کار کې چې زما وِ تا اراده ده، په سبب د علم ستا» یعنی په سبب د دې چې ته په خیر او شر خبر یه» وَ اَسْتَقْدِرُکَ بِقُدْرَتِکَ، زه طلب د قدرت د تا نه کوم په سبب د دې چې ته قادر یه پر شی. وَاَسْئَلُکَ مِنْ فَضْلِکَ الْعَظِیْمُ: او زه ستا نه سوال کوم د بعض فضل عظیم ستا. کلمه د مِنْ د تبعیض د پاره ده، ط، فَاِنَّکَ تَقْدِرُ وَلَا اَقْدِرُ وَ تَعْلَمُ وَلَا اَعْلَمُ وَاَنْتَ عَلَّامُ الْغُیُوْبِ، ولحچې ته قادر یه او زه نه یم قادر. او ته خبر یه او زه نه یم خبر او ته په ټولو غیبو خبر او امورو خبر یه، اَللّٰهُمَّ اِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ خَیْرٌ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ، ای خدایه که ته خبر یه چې دغه کار یعنی چې ما یه اراده کړیده خیر دی ما لره په دین کې او په ژوندکې او په اخیر کار کې:

فَائِدَة: دعا کوونکی دی په عوض کې د لفظ د هَذَا الْاَمْرُ» هغه خپل کار ذکر کړي چې ده اراده ورته کړې وه. **پوښتنه،** اِنْ کُنْتَ آه چې کلمه د شك ده په علم کې د خدائ جل جلاله په خیر والی او شر والی د دی کار څرنګه صحیح کیږي. **جواب:** امام طحطاوی وائی چې شك راجع دی وه داعی ته یعنی چې داعی په دی کې شك دی چې دا کار په علم د خدائ کې ما ته خیر دی او که شر دی او شك وه علام الغیوب ته نه دی راجع فافهم» او قال فِیْ عَاجِلِ اَمْرِیْ وَاٰجِلِهٖ: کلمه د او د پاره د شك د راوي ده. فَاقْدُرْهُ لِیْ وَیَسِّرْهُ لِیْ ثُمَّ

بَارِكْ لِیْ فِیْهِ، پوښتنه: چې لفظ د اَقْدُرُ په ضمه د دال د باب نَصَرَ یَنْصُرُ دی او په کسره د دال د باب د ضَرَبَ یَضْرِبُ دی او معنا یه پر دواړه تقدیره داده چې دا کار ما ته آراسته کړې یعنی ما ته قدرت راکړې پر هغه او ما ته آسان کړې او بیا ما ته برکت په کښې راکړي وَاِنْ کُنْتَ تَعْلَمُ اَنَّ هٰذَا الْاَمْرَ شَرٌّ لِّیْ فِیْ دِیْنِیْ وَمَعَاشِیْ وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ وَقَالَ عَاجِلِ اَمْرِیْ وَاٰجِلِهٖ» ترجمه د دی عبارت د هغه ما سبق پر څیر ده. فَاصْرِفْهُ عَنِّیْ وَاصْرِفْنِیْ عَنْهُ وَاقْدُرْ لِیَ الْخَیْرَ حَیْثُ کَانَ ثُمَّ رَضِّنِیْ بِهٖ» ترجمه: نو بیا زما مخ واړوی د هغه کار نه او هغه کار زما نه لیرې کړې. او ما ته آراسته او آسانه کړې خیر هر چیرې چې وی او ما په هغه راضی و ګرځوی. ثُمَّ یُسَمِّیْ حَاجَتَهٗ: او بیا دی حاجت بیان کړي یعنی په ځای د هَذَا الامر کما سبق. قوله صحاح ستته وو د دے حدیث روایت کړې دی مګر مسلم وفی المراقی» بنه کار دادی چې دا دواړه روایته دی سره جمع کړي یعنی دا سی دی ووائی: وَعَاقِبَةِ اَمْرِیْ وَعَاجِلِهٖ وَاٰجِلِهٖ» وقَالَ ط چې مستحب داده چې د مخه تر دعا دی درود ووائی.

مسئله: استخاره په هغه کارو کې مندوبه ده چې بنده یه په خیر او شر نه پوهیږی لکه نِکاح دیوې ښځې سره یا سفر تجارت ویو خواته. او نور د دی قسمه نه کارونه، او هر چې هغه کارونه دی چې خیر والی ئی په شریعت کې معلوم وی لکه عبادت، او یا یه شر والی معلوم وی لکه معاصی نو هغه و استخارې ته حاجت نه لري. نو ځکه په فارسی ژبه کې وائي: در کار خیر حاجت استخاره نیست،، نَعَم: استخاره په بعض امورو کې د خیر لکه حج یا جهاد، د پاره د تعین د وخت کولای سې.

فَائِدَه، استخاره به تر اوو ورځو مکرره وی کما جآء فی حدیث انسؓ **فَائِدَه** په استخاره کې د خوب لیدل شرط نه دی. او که خوب هم ووینی تعبیر دی د یوه عالِم متقی نه وپوښتی بلکه اصلی فائده د استخارې داده چې د سړي د زړه تردد دفع سی. یا په کولو کې د هغه کار او یا نه کولو کې. یعنی په زړه کې مصمم او ټینګه اراده پیدا سی د کولو د هغه کار» او یا یه زړه کلك منکر سی د هغه کار نه، او بیا یه پر زړه سنه و ګرځي. او بېځله چې د خوبو په تعبیر نه پوهیږی تعبیر د خوب دی نه کوی؛ وهذا تمام البیان فی الاستخارة»

قال المصنفؒ **وَصَلوٰةُ الْحَاجَةِ** اود غه رنګه مندوب دی دحاجت لمونځ، او صلوٰة الحاجت دوه رکعته دي او بعض وائي څلور رکعته دی او به حاوی کي يوه ډيره نادره خبري کړيده. چي وائي صلوٰة الحاجت دوولس رکعته دی او بعض وائي څلور رکعته دي. او دا دوولس چي وائي هغه هم په يوه سلام سره؛ درويش وائي چي اعتبار هغه مقدار لره دی چي د صحيح حديث سره موافق وي. هغه حديث دا دی. په روايت د عبد الله بن ابي اوفیٰ رضی الله تعالیٰ عنه ده وَيَله چي رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمائيله: که چا لره يو حاجت وي د خدای پاك په دربار کي، ويوه بني آدمؑ لره. نو دی اودس تازه کړي او بنه اودس دی تازه کړي يعني که څه هم زوړ اودس يه وي خو بيا هم دی اودس نوي کړي. او بيا دی دوه رکعته لمونځ وکړي يعني نفل، او بيا دی حمد وثنا د خدای ووائي. او بيا دی درود په نبي عليه الصلوٰة والسلام ووائي يعني هر درود چي وي او بيا دی ووائي لَااِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الْحَلِيْمُ الْكَرِيْمُ سُبْحَانَ اللّٰهِ رَبِّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ، اَسْئَلُكَ مُوْجِبَاتِ رَحْمَتِكَ» زه ستا نه غواړم هغه شيان يعني که اقوال وي او که اعمال وي چي اسباب د رحمت او احسان وي. وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ» او هغه شيان غواړم چي ستا د مغفرت د ګنهو قوي اسباب وي. وَالْغَنِيْمَةَ مِنْ كُلِّ بِرٍّ وَالسَّلَامَةَ مِنْ كُلِّ اِثْمٍ، يعني خير مَنا دا چي ما ته غنيمت راکړي هر خير او ما تنهواړه دهري ګناه څخه، لَاتَدَعْ لِيْ ذَنْبًا اِلَّا غَفَرْتَهٗ وَلَا هَمًّا اِلَّا فَرَّجْتَهٗ، ما ته مه پريږده ګنا مګر او وي بخښه، او مه يو غم را پريږدی مګر هغه را لخه زائل کړي. وَلَاحَاجَةً لَكَ فِيْهَا رِضًا اِلَّا قَضَيْتَهَا يَا اَرْحَمَ الرَّاحِمِيْنَ، وروسته تر هغه دعاء دي بيا خپل حاجت د خدای څخه وغواړي که په دنيائي امورو کي وي او که د اُخروي امورو څخه وي. خدای پاك به حاجت د سره کړي؛ درويش وائي: چي هر څوچي د سړي عقيده او اعتقاد پر قول د عليه الصلوٰة والسلام ټينګ وي. هغو نه ژر به کي خدای کامياب کي. او په مراقي کي په يوه بله مختصر [illegible]ناء حاجت د ياره راوړی ده» او دا دعاء رسول کريم صلی الله عليه وسلم ښوولی [illegible]ته چي په سترګو ړوند وو. او و عليه السلام نه راغی او ورته وی وَيل چي يا رسول الله صلی الله عليه وسلم ما ته دعاء وکړه چي ما خدای د ړوند والی څخه صحت راکړي. نو عليه الصلوٰة والسلام و هغه ته وَوَئيله که ستا خوښه وي دا دعاء وځنډوه وَه. په دی کي به خدای تا ته لوی ثواب درکړي يعني پر ړوند والی صبر وکه. او زما څخه دعاء مه غواړه. او که دی خوښه وي زه به دعاء درته وکړم. هغه سړي ورته وو وَيل چي ما ته دعاء وکړه. نو عليه الصلوٰة والسلام هغه ړوند ته امر وکی چي ورسره اودس تازه کړه او بنه اودس وکړه. او دوه رکعته لمونځ وکړه او بيا دغه دعاء وکړه. اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ وَاَتَوَجَّهُ اِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ صلی الله عليه وسلم: يَا مُحَمَّدُ اِنِّيْ تَوَجَّهْتُ بِكَ اِلٰى رَبِّكَ فِيْ حَاجَتِيْ هٰذِهٖ لِتَقْضِيَ لِيْ اَللّٰهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ»

پوه سه: چي امام طبرانيؒ د دی حديث ډيري طريقي ذکر کړی دي. او په اخير کي وَيلي دي چي دا حديث صحيح دئ **سوال**، بعض علماء وائي چي داسي وَيل مکروه دئ. اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ بِاَنْبِيَائِكَ» يعني يا الله زه ستا څخه خواست کوم په برکت ستا د نبيانو **جواب**، ابن امير حاجؒ وائي چي په دی کي هيڅ حَرَج نسته. ولي چي عمرؓ عباسؓ و خدای ته شفيع وګرځاوه په استسقاء کي. او دغه ډله علماء چي او س هم په جامعه کي د اسلام موجود دی چي داسي دُعاء کول خو نهايت مکروه ده. چي اَللّٰهُمَّ اِنِّيْ اَسْئَلُكَ بِحَقِّ مُحَمَّدٍ صلی الله عليه وسلم او بحق الانبياء عليهم السلام او بحق الصلحاء والشهداء الی غير ذالك. د دوی دليل د کراهت دا وائي چي بنده لره پر خدای حق نسته» **جواب** هو انبياء عليهم السلام او نورو مخلصانو بندګانو لره خو پر خدای په استحقاق ذاتي حق نسته» لکن خدای جل سلطانهٗ خپلو نيکانو مخلصانو، بندګانو ته حق ورکړي دی پر خپل ځان فضلًا وکرمًا ولا عاشبة فيه» قال المصنفؒ؛

وَنُدِبَ اِحْيَاءُ لَيَالِي الْعَشْرِ الْاَخِيْرِ مِنْ رَمَضَانَ او مستحب ده په وينه ولو د شپو د لسو اخيرو شپو د مياشتي د روژی يعني په عبادت سره» که لمونځونه کوي، که تلاوت د قرآن کريم کوي، که تسبيح او تهليل او تکبير وائي. الی غير ذالک من انواع العبادات»

Maktaba Tul Ishaat.com

پوښتنه: چې د احیاء د پاره د طلب د لیلة القدر ده چې هغه شپه په دغو لسو شپو کې یوه شپه غیر معلومه ده، او په نص د قرآن عبادت د هغې یوې شپې خیر دی تر عبادت د زرو میاشتو چې د لیلة القدر څخه خالي وي. د سید تنا عائشه رضي الله تعالی عنها څخه روایت دی چې نبي علیه الصلوٰة والسلام به چې د دغه لس شپې اخیرې به د روژې داخلې شوې "احیا اللیل" شپه به ئې ټوله په وېښه تېروله، او کور والا به ئې هم راویښول یعنی د عبادت د پاره، "وَشَدَّ المِئزَرَ" او ملا به ئې ټینګ تړله وو چې دا کنایه ده د اجتهاد فی العبادة څخه، کذا فی حواشی البخاری، په یوه روایت کې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام ذکر کړی یو سړی د بنی اسرائیلو څخه سلاح د جنګ یې فی سبیل الله زر میاشتې ګرځوله نو مسلمانانو تعجب وکړی، یعنې د دې سړي ودې لوی عبادت ته نو خدای پاک سورة القدر نازل کړی. نو د دې معنا داده چې عبادت د لیلة القدر خیر دی تر زر میاشتې عبادت چې په هغو کې هغه اسرائیلي سلاح اخستې وه فی سبیل الله،،

درویش وائی اګرچه په دې کې اختلاف سته چې لیلة القدر په نورو امتو کې هم وه او که خاصه د دې امت ده، لکن امام نواوی په شرح کې د مسلم وائي چې مشهوره او صحیح داده چې لیلة القدر خاصه د امت محمدی صلی الله علیه وسلم او د غه نوموړی امام داهم وئیلی دی چې په اجماع د مجتهدینو د امت د الیلة القدر به تر اخیر الزمان پورې به موجود وی. للاحادیث المشهورة، او دا شپه حقیقة معلومیږی وه. مَنْ شَآءَ اللّٰهُ تَعَالیٰ، ته په هره میاشت کې د روژې کما تظاهرت علیه الاحادیث النبویة، **مسئله:** هغه سړی چې دا شپه صراحة ووینی باید او مستحب داده چې پټه یې وساتی. اقتداءً بالنبی علیه الصلوٰة والسلام

حکمت الٰهی

د دې شپې په پټ ساتلو کې حکمت د رب العزت دادی چې مسلمانان په طلب کې د دې شپې ډیرې شپې عبادت سره رونړی کړی. وهکذا الحکمة فی اختفاء اسم الله الاعظم، وفی اختفاء الخضر. وروی احمد: مَنْ قَامَ لَیْلَةَ القَدْرِ اِیمَانًا وَاحتِسَابًا، غفرله مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذنبه وَمَا تأخر. وقال علیه الصلوٰة والسلام تحروا لیلة القدر فی

العشر الاواخیر من رمضان

اختلاف: اکثر ائمه پردې دي چې دعوت او تاک تخصیص نسته، او بعض علماء وائی چې په تا کو شپو کی ده. او دیر ملایان پردې هم دي چې لیلة القدر د ۲۷ شپه ده وهو قول ابن عباس وهذا هو الشائع فی الناس الیوم. او دیو جماعت د صحابهؓ وو هم دی، بلکه بدر الدین عینیؒ وائی چې دا مذهب د یارانو هم دی، ط، او په مراقی کې وائی چې دا ابن مسعودؓ مذهب دادی. چې لیلة القدر په کال کې یوه شپه ده، وهو قال الامام الاعظمؒ فی المشهور، یعنی لیلة القدر په کال کې بدلیږی داسې چې یو کال په روژه کې وی او بل کال په بله میاشت کې وي. وهکذا قال قاضیخانؒ.

لکن تحقیق دادی چې په مبسوط کې وائی چې د امام اعظمؒ مذهب دادی چې لیلة القدر خو په روژه کې ده لکن ګاهې په یوه روژه کې د مخه شپه وی او په بله روژه کې بیا وروسته شپه وی، وهکذا قال فی المتقدم والمؤخر، او د یارانو مذهب دادی چې لیلة القدر تقدم او تأخر نه لري په ټوله عمر کې او په روژه کې دوی هم بولي. او د دې اختلاف نتیجه په دې مسئله کې ښکاره کیږی چې مثلاً لس شپې د روژې تیرې شوې وې. چې یو سړي ومَا یني ته وَویل چې ته پر ما په لیلة القدر کې طلاقه یې، نو د یارانو پر مذهب چونکه لیلة القدر معینه شپه ده او تغیر او تبدیل نسته نو په دغه موجوده رمضان کې خو دا ئې نه معلومیږی چې لیلة القدر په تیرو سوو لسو شپو کې وه او که په راتلونکو ۲۰ شلو شپو کې وي. نو د دې سړي هلته مَاینه طلاقیږی چې د بل کال د روژې لس شپې تیرې سي، تا چې بالیقین معلومه سي چې لیلة القدر خواه مخواه پیدا سوی ده. او د امام اعظمؒ په نیز دا ښځه نه طلاقیږی څو بل کال مکمل د روژې میاشت تیره سوې نه وی. په دې سبب چې لیلة القدر خو نقل کیږی. نو شاید په موجوده کال کې به لیلة القدر په هغو لسو شپو کې تیره سوې وی چې میړه په هغو کې طلاق نه وو ورکړی، نو هر وخت چې بله روژه مکمله تیره سی نو هلته لیلة القدر په یقین سره پیدا سوه نو هغه طلاق چې معلق په لیلة القدر پورې وو هغه هم واقع سو

دعوٰو خرافات

دوی وائی چې لیلة القدر یوګړی دی چې یو خواست په کښې قبلیږی فقط دا خبره د صریح قرآن څخه مخالفه ده ولې چې لیلة شپې ته وائی

اوشپه د لمر لویدو څخه شروع کیږي تر سپیدو پورې او په قرآن شریف کې هم داسې راغلي دي هِيَ حَتّٰى مَطْلَعِ الْفَجْرِ۔ حقیقت خو دا دی چې عوام طلب د لیلة القدر د دنیا د پاره کوي لکن دا شپه په شریعت کې د عبادت د پاره ده یعنې چې د دې شپې عبادت تر زرو میاشتو عبادت خیر دی۔ البته د خواست یې هم په کښې قبلیږي۔» در» قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَاِحْيَاءُ لَيْلَتَيِ الْعِيْدَيْنِ

او د غه رنګه مندوب ده ژوندي ول د دوو شپو د اختر و چې کشنی او لوی اختر یې بولي. لقوله علیه الصلوٰة والسلام کـه څوک ژوندی کړي شپه د اختر یعنې په عبادت سره ژوندی به کې خدای پاک زړه د ده په هغه ورځ چې زړونه مري.

پــوه ســه: چې مراقي په مندوبا توکي زیات کړي دي. استغفار ویل په سدس اخیر کې د شپې لانه تعالیٰ مدحهم بقوله: وَالْمُسْتَغْفِرِيْنَ بِالْاَسْحَارِ، او د ټولو استغفار و سید دغه استغفار دی. اَللّٰهُمَّ اَنْتَ رَبِّيْ. لَااِلٰهَ اِلَّا اَنْتَ خَلَقْتَنِيْ وَاَنَا عَبْدُكَ وَاَنَا عَلٰى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ اَعُوْذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، اَبُوْءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ وَاَبُوْءُ بِذَنْبِيْ فَاغْفِرْلِيْ فَاِنَّهٗ لَا يَغْفِرُ الذُّنُوْبَ اِلَّا اَنْتَ ۔ ترجمه: ای خدایه ته رب یې زما نشته بل مستحق د عبادت بیله تا. پیدا کړی یم تا زه، او زه بنده ستا یم، او زه ستا په هغه عهد چې ما تا ته کړی دی یعنې عبادت قائم یم او په هغه وعده چې ما ده تا سره کړې ده چې زه به امتثال د امر کوم ثابت یم چې زما په طاقت پوره وي. او زه اقرار کوم ستا په نعمت سره پر ما باندې نو ماته و بخښه ټول ګنهونه زما۔ ولې چې ګنهونه نشي بخښلای د تا څخه ماسوی هیڅ څوک » قَالَ الْمَرَاقِي.. والدعاء فیهما مستجاب ۔ قَالَ الْمُصَنِّفُ؛

وَلَيَالِيْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ

او د غه رنګه مستحب دي ژوندول په عبادت سره د لسو شپو د مخه تر لوی اختر۔ قَالَ علیه الصلوٰة والسلام: مَا مِنْ اَيَّامٍ اَحَبَّ اِلَى اللّٰهِ تَعَالٰى اَنْ يُّتَعَبَّدَ فِيْهَا مِنْ عَشْرِ ذِي الْحِجَّةِ يعدل صيام كل يوم بصيام سنة وقيام كل ليلةٍ منها بقيام ليلة القدر۔

اللهم اغفر لمولفه ولكاتبه ولمن سعى فيه آمين»

قَالَ الْمُصَنِّفُ

وَلَيْلَةِ النِّصْفِ مِنْ شَعْبَانَ

او د غه رنګه مندوب ده ژوندول د برات د میاشتې د نیمایي شپې ولې چې د دې شپې په احیاء سره ګنهونه د یوه کال بخښل کیږي. او د جمعې د شپې په احیاء سره د یوې هفتې ګنهونه زایل کیږي۔ او د لیلة القدر په احیاء سره د ټول عمر ګنهونه بخښل کیږي۔ او هم په دې شپه د ټولو ارزاق او آجالو او عدد د حاجیانو او د عزت او ذلت او د غنا او فقر وغیرها. تقدیر په دغه شپه کیږي **سوال**: تقدیر الهي خو ازلي دی نو څه معنا چې په دې شپه کې تقدیرات الهیه کیږي **جواب**: بیله شکه تقدیرات الهیه خو ازلي دي. لکن ملائکه و وته په دغه شپه تقدیرات د یوه کال معلومیږي. او ټولو ملکو ته بل کال پورې پر خپلو کارو ګمارل کیږي. درولیش وائي چې په فضیلت کې د احیاء د لیلة النصف من شعبان ډیر حدیثونه راغلي دي او تفصیلي بیان یې په روح البیان کې و ګوره: قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيُكْرَهُ الْاِجْتِمَاعُ عَلٰى اِحْيَاءِ لَيْلَةٍ مِّنْ هٰذِهِ اللَّيَالِيْ فِي الْمَسَاجِدِ

او مکروه ده اجتماع د خلکو پر احیاء د یوې شپې د دغو شپو یعنې چې تیری سوي په مسجدو کې. بلکه په نورو ځایو کې لکه یو سرای چې خلګ سره وټ کې هم اجتماع مکروه ده. لکه بعض اماما ن او یا بعض پیران چې کوي ولې دا اجتماع نه نبي علیه الصلوٰة والسلام کړېده او نه اصحابو کرامو ؓ کړېده۔ او اکثر علماء د حجاز چې یو د هغو څخه عطاء ؒ دی. او ابن ابي ملیکة ؒ، او فقهاء د اهل مدینې او اصحاب د مالک ؒ ټوله دا اجتماعات بدعت بولي: او د نبي علیه الصلوٰة والسلام څخه او د ده د اصحابو ؓ څخه نه دي نقل سوي لمونځ په جماعت سره په شپه کې د اختر، او علماء د اهل شام پر دوه قوله دي. اوزاعي ؒ چې امام او لوی فقیه د اهل شام دی هغه دا اجتماع په مساجدو کې مکروه بولي. او بعض معتبر علماء د تابعینو ؓ څخه لکه خالد بن معدان ؒ او لقمان بن عامر ؒ وائي چې په احیاء کې د لیلة النصف من شعبان دې خلګ په مساجدو کې نفلي لمونځونه په جماعت کوي۔

والله اعلم بالصواب؛

Maktaba Tul Ishaat.com

پوښتنه: که بعض کسان د دغو شپو لمونځونه پرځان نذر کړي په جماعت سره نو د کراهت څخه به جماعت نه خلاصیږي. باید خلاص شي. ولې چې په سله نذر څخه خو نفل خالص نه سو پاتې بلکه واجب سوله او جماعت خو په نفلو کښې مکروه دی، ؟

جواب، په دی حیله سره کراهت د جماعت نه دفع کیږي. ولې چې اعتبار اصل ته د لمانځه دی اصل خو په نفل دی. هو، د دغه نذر څخه به د جماعت کولو خلاصیږي نه:. لکن جماعت په دې شرط روا دی چې امام به ناذر نه وي. ولې چې د یوه ناذر په بل ناذر پسې اقتداء نه ده صحیح،

سوال: چې امام ناذر نه وي نو د مقتدی ناذر اقتداء څرنګه پسې روا ده، ولې چې بناده قوي چې د مقتدی لمونځ چې به نذر سره واجب سو پر ضعیف باندی چې د امام لمونځ چې نذر کړی یې نه دی. بلکه صرف نفل دی خو نه ده روا کما فی کتب الفقه،

جواب: اقتداء او بناء د قوي پر ضعیف باندی هلته ناروا ده چې قوت د قوي ذاتي وي لکه اقتداء د مفترض په متنفل پسې. په ما نحن فیه کې خو قوت د صلوٰة المقتدی په سبب د نذر عارض دی. ورنه په اصل کې خو دواړه نفل دي،

فائده: لمونځ په اصل الوضع کې مشروع دی پر صفت د انفراد نو اقتداء په لمانځه کې سره ده کراهته روا ده لکه نفل په جماعت پر طریقه د تداعي. وَاللهُ اَعْلَمُ وَعِلْمُهُ اَتقن وَ اَحْكَمُ:

لوی خوشخبري

محترمو لوستونکو حضرت علامه ابو...

الندهاري الحاج ابوالفضل مولانا عُبَیدُ الله الحنفي

د لومړي ټوک تنویري تفسیر الوجي

اراده لري. ماشاء الله!

کتبه حقاني عفی الله

فَصْلٌ فِي صَلٰوةِ النَّفْلِ جَالِسًا وَالصَّلٰوةِ عَلَى الدَّابَّةِ

څلورمه

وزاد فی المراقی وصلٰوة الماشی، فصل دی په بیان کې د نفلي لمانځه په ناستي او بل په بیان کې د لمانځه پر دابه باندی. او په بیان کې د لمانځه په حال کې د تګ" په مراقی کې وائي چې مصنف تعبیر په نفلو وکړی تا چه سنن مؤکده هم تر لاندی سي چې هغه هم په ناستي صحیح دی. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَجُوزُ النَّفْلُ قَاعِدًا مَعَ الْقُدْرَةِ عَلَى الْقِيَامِ

او روا دی نفل یعني په شمول د سنن مؤکده وو. په ناستي سره د قدرت نه پر ولاړي باندي. او په کتابو کې د فقهي شریفې پر دی باندی اجماع د علماوو نقل کړه سوې ده، او بعض غیر معتمدو قولو کښې سنة الفجر په مستثنیٰ کړي دی، لما قیل بوجوبها وقوة تاکدها، او په بعض غیر صحیح روایتو کې تراویح هم استثناء کړي دی یعنی هغه هم سره د قدرت پر ولاړه په ناستي نه دی روا. والاصح جوازها قاعدًا من غیر عذر، فالحاصل چې ټوله نوافل بلا مثنویة شیئ منها روا دی په ناستي بلا عذر

سوال، په خلاصه کې وائي چې سنت د سحار په اجماع سره بیله عذره په ناستي نه دی روا کما روی الحسنؒ عن الامامؒ فبین دعوی الاجماعین تضادٌ، **جواب**" دعوی د اجماع د خلاصي غلط دی، بلکه اجماع صرف پر تا کد د هغوده کذا قال الطحطاویؒ ص۳۳۶

پوښتنه: چې په جواز کې د نفلو په ناستي سره د قدرت پر ولاړي باندی هیڅ کراهت نسته، دلیل دا دی، چې علیه الصلوٰة والسلام بیله وتر و دوه رکعته نفل په ناستي کوله. او دغه رنګه په اکثر صلوٰة اللیل کې په ناستي لمونځ کاوه د پاره د تخفیف" او د عائشه رضی الله تعالیٰ عنها څخه روایت دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم پسله هغه چې بدن مبارک یې دروند سو نو د تهجد لمونځ به ئې په ناستي کاوه. نو څه وخت چې د رکوع اراده بې وکړه نو به ولاړ سو بیو څو آیته بې په ولاړي وو ئیله او بیا بې رکوع وکړه. او سجده بې وکړه. او په بل رکعت کې بیا قرائت په ناستي شروع کړي وهکذا الی اخیر الصلوٰة،

مسئله: په معراج الدرایه کی وائی چه هر نفل چه سړی په ناستی کوی مستحب داده چه یو څو آیته دی په ولاړی ووائی او بیا دی رکوع وکړی موافقةً للسنة، او که ولاړ سو لکن قرائت یه نه وو وایه او بیا یه رکوع او سجده وکړه بیا هم کفایت دا ستحباب کوی. او که سم ز سو ولاړ او رکوع او سجده یه وکړه هغه کفایت نسی کولای. ولی دا د ولاړی څخه رکوع نه ده، **قال المصنف**:

لَكِنْ لَهُ نِصْفُ اَجْرِ الْقَائِمِ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ

لکن د غه سړی لره چه سره د قدرت نه لمونځ یعنی نفل په ناستی کوی نیمی د ثواب دولاړی د لمانځه دی مګر نه که په عذر سره وو، ولی چه معذور ته پوره ثواب ورکولکیږی. لِقوله علیه الصلوٰة والسلام: مَن صَلی قائمًا فهوافضل ومن صَلی قاعدًا فله نصف اجر القائم ومن صَلی نائمًا ای مضطجعًا فله نصف اجر القاعد **پوهسه**: چه د دې حدیث څخه صاحب الشرع یعنی علیه الصلوٰة والسلام مستثنیٰ دی ولی چه د علیه الصلوٰة والسلام لمونځ یعنی نفل په ولاړی او په ناستی کی ثواب یو دی لهذا من خصوصیاته صلی الله علیه وسلم وقد ورد فی الحدیث ذالک، **فائده** په د غه حدیث کی چه مَن صَلی قائمًا ه روایت شاذه دی. ولی چه نفل سره د قدرت تر پروت لاړی مضطجعًا نه دی روا صرح فی البحر عن الشارق بذالک، او پر د غه روایت یه حکم د شذوذ کړی کما نقل عنه الامام الطحطاویؒ، **قال المصنف**:

وَيَقْعُدُ كَالتَّشَهُّدِ فِي الْمُخْتَارِ

او سړی چه په ناستی لمونځ کوی نو داسی دی کبینی لکه په التحیات کی د نورو لمونځو په مختار روایت کی. **پوهسه**: چه په دی عبارت کی اشاره ودې ته ده چه مصلی جالسًا دی لاس راسته پر ځپه لاس نه ایږدی لاندی تر نامه لکن عمل پر خلاف د دی دی په تولو نړی وا لوکی. یعنی د غه مصلی قاعدًا د قرائت په وخت کی په لاسونه تر نامه لاندی راسته پر ځپه ایږدی. او حق هم دا غه ده تا چه د وخت د قرائت او د التحیات په کیفیت کی د ناستی فرق راسی. په د غه سره تصریح کړه سویده په کتاب

سیاسته الدنیا والدین کی. او د فقهاءؒ په دی عبارت کی چه، قعود د مصلی قاعدًا لکه قیامه ده. هم و د غه طریقی ته اشاره ده، **فائده**: د حضرت الامام الاعظمؒ څخه په ناسته کی د مصلی قاعدًا دری روایت دی. یو روایت دا دی لکه مصنفؒ چه اشاره ورته کړیده بقوله کالتشهد آه د دی معنا داده چه که عذر نه وی نو چپه پښه دی پری باسی او پر هغه دی کښینی او راسته پښه دی جګه ودروی. مصنفؒ دا مختاره ګڼلی ده. او په مراقی وائی وعلیه الفتویٰ او دی روایت ته امام زفرؒ تللی دی وهوالمعمول فی دیارنا، لکن شیخ الاسلامؒ وائی چه افضله داده چه د ولاړی په زمانه کی دا مصلی قاعدًا پر کښه کښینی زنګنون او پنډی دی جګی ونسی او د واړه لاسه دی پس پنډیو تاو کړی چه دې ته په عربی کی احتباء وائی. شیخ الاسلام نقلی دلیل دا وائی چه د علیه الصلوٰة والسلام عمومی نفلی لمونځونه په احتباء سره وه. او عقلی دلیل دا وائی چه په احتباء کی ډیرا ندامونه د قبلی پر طرف کیږی مثلاً ساقان په لکه د ولاړی د لمانځه ګرځی. او دادوهم روایت دی د امام اعظمؒ څخه: وَبِهَا اَخَذ ابویوسفؒ: او دریم روایت د امام څخه دا دی چه چار زانو دی کښینی وَبِهَا اَخَذ محمدٌ: قال فی النهر په دی کی شک نستر چه د غه مصلی قاعدًا ته ناسته په هر د ول روا ده. ولی چه د غه مصلی ته ترک د قیامی روا دی لو ترک د صفة القعود په طریق اولیٰ ورته روا دی. لکن خلاف په افضل کی دی یعنی کم کیفیت د قعود افضل دی.

مسئله: د مریض چه په ناستی د مرض د وجهی لمونځ په ناستی کوی په هیڅ کیفیت مقید نه دی بلکه ده لره د هر د ول ناستی اختیار دی **قال المصنف**

وَجَازَ اِتْمَامُهُ قَاعِدًا بَعْدَ اِفْتِتَاحِهِ قَائِمًا بِلَا كَرَاهَةٍ عَلَى الْاَصَحِّ

او روا دی پوره کول د نفلو په ناستی پسله دی چه شروع یه په ولاړی کړی وی بیله کراهته په صحیح مذهب، **پوهسه**: چه ضمیر د اتمامه و نفلو ته راجع دی او مراد نفل د هغه سړی دی چه قادر پر ولاړه هم وي. او دا هم مذهب دی دابوحنیفهؒ دلیل یه دا دی چه قیام رکن په نفلی لمانځه کی نه ده فجاز ترکه اخیرًا کما جاز اوّلًا، او دیارانو

Maktaba Tul Ishaat.com

مذهب دا دی چې داسې نه ده روا ولې چې د شروع په ولاړې وکړه نو ولاړه پر ده لازم سوه لکه نذر، **والجواب**: چې نذر خو پر سرې صلاة مطلقه کاملةً لازموي سره د ټولو ارکانو چې یو په قیام ده، او شروع په نفلو خو صرف پر سړي ساتنه د نفلو لازموي. دا فتاد مخز.. ولایوجب الشروع القیام؛ او بل دلیل د امام اعظمؒ دا دی چې بقاء د فعل آسانه ده تر ابتدا فاذا لم یکره ابتداءً جالسًا فالتجأ اولیٰ» مر» وفی حدیث عائشة رضی چې علیه الصلوٰة والسلام چې به نفل کول د ولاړې مخز به ناستې ته نقل کیده او د ناستې مخز به ولاړې ته کما مر عنقریب، **فائده**: د حضرت الامام الاعظمؒ او دده شاگردانو اختلاف په یوه شفعه کې دی چې اول یې په ولاړې وی او اخیر یې په ناستې وي. او که یو سړي د څلور رکعتو نفلو نیت وکړی او چې اول شفعه یې په ولاړې وکړه او د التحیات د پاره کښېنستی او بیا شفع ثاني په ناستې وکړه هغه اتفاقا روا دی» ولې چې د نفلو هره شفعه جلا لمونځ دی. قال

وَيَتَنَفَّلُ رَاكِبًا خَارِجَ الْمِصْرِ مُوْمِيًا اِلٰى اَيِّ جِهَةٍ تَوَجَّهَتْ دَابَّتُهٗ

اوروا ده سړي ته چې نفل کوي په حال کې د سپرتیا پر دابه باندې. بلکه بعض علماء وائي چې نفل پر دابه مندوب دي. ولې چې علیه الصلوٰة والسلام دا عمل کړی دي لکن د باندی تر مصر»

پوهه: چې د مصر مخز معنا مصطلح مراد نه ده یعنی ښار، بلکه مراد څندی آبادي ده ولو قریة» نو خارج القریه هم نفل روا دی پر دابه» که په نیت د سفر وتلی وي او که دیو کار د پاره وتلی وي. وعلیه الفتویٰ. وقیل چې یو میل به وتلی وي. وقیل چې دوه فرسخه وتلی وي، والافلا یجوز، او امام ابو یوسفؒ مخز روایت دی چې په مصر کې هم صلوٰة علی الدابه روا دی» وعند مالکؒ شرط د صحت د صلوٰة الدابة دا دی چې دی به حقیقةً مسافروي. او لمونځ به په اشاره کوي، نو که پر څین د دابې او یا بل ځای باندې چې پر دابه وو سجده وکړه عبث کار یې وکړئ. نو مکروه خو دي لکن لمونځ یې نه فاسدیږي. ولې چې په ضمن کې د دغې سجدې خو ایماء هم پید اسوه مع زیادة مگر هغه وخت یې لمونځ فاسد دی که هغه شئ چې ده سجده پر وکړه نجس وو. بر د ر،

وهرجهت ته چې متوجه وه دابه دده که څه هم د قبلې وخواته نه وي روانه» او بعض فقهاء وائي چې دا هلته روا دی چې راکب قادر نه وي پر دې ولو د دابه په قدر د تحریمي مخ پر قبله والا فلا یجوز»

لکن په ظاهر الروایة کې دا شرط نه غواړي. لکن په عمدة الاحکام کې وائي چې په نیز د امام اعظمؒ، او ابي ثورؒ مستحب دا ده چې دابه دی په وخت کې د تحریمې مخامخ و قبله ته کړي؛ ثم یصلی کیف شاء» وبه قال احمدؒ والشافعیؒ و یشترط استقبال القبلة فی افتتاح الصلوٰة **پوهه** چې مصنفؒ مؤمیًا په مفرد صیغه سره ووایه اشاره یې ور دی ته وکړه. چې په جماعت سره لمونځ پر دابه نه دی روا. او چا که جماعت کاوه د امام لمونځ خو صحیح دی او د نورو فاسید دی. لکن دا حکم هلته دی چې پر مختلفو دوابو سپاره وی او که یوه دابه دوه کسه سپاره وه او لمونځ یې په جماعت کاوه بیا روا دی کما فی البحرؒ د ظاهر الروایت دلیل دا دی چې هغه حدیث د جابرؓ چې وائي: رَاَيْتُ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم: یُصَلی النوافِل علیٰ راحلتِهٖ فی کل وَجهٍ یؤمی ایماءً لکن یخفض السجدتین من الرکعتین» رواه ابن حبان فی صحیحه» مر» ترجمه: حضرت جابرؓ وائي چې ما ولیدی علیه الصلوٰة والسلام چې نفلې لمونځونه یې کول پر اوښ باندې په هر طرف او اشاره به یې کوله لکن د سجدې د پاره به یې سر تر رکوع کښته کاوه»

مسئله: که دابې د راکب و پښو ښورولو ته حاجت درلودی او یا وهلو ته. نو په لمانځه کې پروا نه لري. لکن که فعل کثیر نه وو. مر قال المصنفؒ» **وَبَنٰى بِنُزُوْلِهٖ**

یعنی کې شروع د نفلو په سپرتیا کې وکړي په اشاره سره او بیا د دابې مخز راکښته سو، نو پر هغه لمانځه دی بناء وکړي یعنی هغه لمونځ چې ور ته پاتې وو کښته دي په رکوع او سجده پوره کړي. قال المصنفؒ: **لَا بِرُكُوْبِهٖ** او بناء به نه کوي پر سپرتیا کې» معنا دا چې که پر ځمکه نفل په رکوع او سجده سره شروع کړي او بیا سپور سو پر دابه باندې بناء پر هغه لمانځه دی نه کوي. **مسئله**: کې نزول په عمل قلیل سره وو یعنې چې صرف په پښه راواړه و ل راکښته سو، نو خو بناء روا ده او که په عمل کثیر سره وو بیا بناء نه ده روا» مر» فرق د نزول او رکوب دا دی چې راکب چې د رکوب په وخت کې احرام د لمانځه

وتاړه دهغه دپاره ایماء رخصت ده او عزیمت په رکوع او سجده پرنزول سره،
او چې مصلی احرام د لمانځه پر محکه وتاړه دا احرام به مستلزم دی ټولو شرطو لره. نو چې بیا دی
سپورسی نو استقبال القبلة فوت شو. او بیو والی دځای د لمانځه هم فوت شو. ولې چې دابه خو
روانه وه. او طهارة المکان هم فوت شو، او حقیقة رکوع او سجده هم پاته شوه. نو دی کبله
بناء نه ده روا. وهو ظاهر الروایة» هذا محصل ما فی العنایة علی الهدایة

سوال: یو سړی چې مریض وی د رکوع او سجودی توان نه لري او لمونځ په اشاره کوی
لکن نا ببره په لمانځه کې جوړ شو او پر رکوع او سجده قادر سو نو په مقتضیٰ د مسئلې د نزول
باید د غه مریض ته بناء د لمانځه په رکوع او سجده سره روا اسی. لکن فقهاء وائي چې بناء د
مریض نه ده روا» **جواب**: د راکب احرام خو رکوع او سجدی ته شامل وُو. ولې چې
نزول د ده په طاقت پوره دی. بخلاف احرام المریض ولې هغه رکوع او سجدي ته شامل نه
دی ولې چې رکوع او سجده خو په اختیار کی د مریض نه دي لکه نزول د راکب»

سوال: د نزول په صورت کی خو بناء د قوی چې رکوع او سجده والا لمونځ دی پر ضعیف
چې د اشاري لمونځ دی لازمیږی. نو څرنګه بناء صحیح ده کما فی المریض اذا صح، **جواب**:
ایماء د راکب لکه رکوع او سجده ده په قوت کی او د ده ایماء خلف د رکوع او سجدي نه دی.
نو د دی وجهی څخه ده ته روا ده ابتداء د لمانځه په ایماء سره مع قدرت نه
علیهما بالنزول» که ایماء د ده خلف وای د رکوع او سجدی څخه نو بایده ده ته دا ایماء سره
د قدرت نه نه وای روا» اذ الخلف عند الفقهاء» ما لا یصار الیه الا عند تعذر الاصل کالتیمم
الذی هو خلف عن الوضوء بخلاف المریض» ولې چې د ده ایماء د رکوع او سجدی څخه ده، نو
څکه چې مریض ته قدرت د سجدی او رکوع وی ابتداء د لمانځه په ایماء سره نه ده ورته
روا. فلا یصح الجمع بینهما وبین الاصل، یعنی چې لمونځ دی په حال کی د عجز په ایماء وکړی
او عند الصحة دی باقی لمونځ په رکوع او سجده وکړی. وهذا هو السر فی عدم صحة البناء
فی المریض المومی اذا صح فی الصلوٰة» وصحة بناء النازل عن الدابة الصلوٰة بالرکوع والسجود
علی ما مر من صلوته بالایماء فی حالة الرکوب هکذا قالوا فافهم»

قال المصنف **وَلَوْ كَانَ بِالنَّوَافِلِ الرَّاتِبَةِ** که څه هم دا نفل چې پر دابه باندی کوی قسمه د نوافلو
محکمه وو څخه وی چې هغه ته سنن مؤکده وائی او یا سنن زوائد وائی. حتیٰ چې سنة الفجر
هم په دی حکم کی د نورو سنتو سره شریک دی»، قال المصنف:

وَعَنْ اَبِيْ حَنِيْفَةَ رَحِمَهُ اللّٰهُ تَعَالٰى عَلَيْهِ اِنَّهٗ يَنْزِلُ لِسُنَّةِ
او د حضرت الامام الاعظم څخه خدای تعالیٰ دی پر ده رحم وکړی دا سی روایت راغلی دی چې راکب
الْفَجْرِ لِاَنَّهَا اٰكَدُ مِنْ غَيْرِهَا الدابه دی د سنة الفجر د پاره دِ د دابی
څخه راکښته کیږي. ولې چې سنة الفجر
تر نورو سنن مؤکده وو ډیر ټینګ دی. **پوه سه**: چې دا روایت د امام
اعظم څخه یا خو مبنی پر بیان د افضل دی یعنی افضله د سنة الفجر د پاره نزول دی.
تا چې په ما بین کی د سنت مؤکد او د اکد فرق راسی. کذا فی العنایه، او یا مبنی پر روایت
د وجوب د سنة الفجر دی. د امام اعظم څخه دا سی روایت راغلی دی چې سنة الفجر واجب
دی نو حکم د ینزل پر هغه روایت بناء دی» وهذا مختار المصنف فی المراقی» قال المصنف

وَجَازَ لِلْمُتَطَوِّعِ الْاِتِّكَاءُ عَلٰى شَيْئٍ اِنْ تَعِبَ بِلَا كَرَاهَةٍ
او روا ده نفل کوونکی ته تکیه پر شی لکه لکړه یا دیوال او یا خادم، که دی ستړی سو ولی دا عذر دی لکه چې تعوذ ته روا ده چې

وَاِنْ كَانَ بِغَيْرِ عُذْرٍ كُرِهَ فِى الْاَظْهَرِ لِاِسَائَةِ الْاَدَبِ
ستړی سی بلا کراهة والی»، او که چیری دا تکیه نبلا عذره وه نو دا تکیه کول مکروه ده ولې چې د لمانځه سره بی ادبی
ده، لکن مکروه تنزیهی ده، ط، بخلاف القعود بغیر عذر، فانه لا کراهة لانتفاء سوء الادب کما یحکم
به العرف» د، ر، م،

وَلَا يَمْنَعُ صِحَّةَ الصَّلٰوةِ عَلَى الدَّابَّةِ
او نه منع کوی صحت د لمانځه پر دابه باندی -

Maktaba Tul Ishaat.com

قال المصؓ **نجاسة کثیرة علیها ولو کانت فی السرج والرکابین فی الاصح** ډیر نجاست یعنی تر قدر معفو با لا کثر هم دا نجاست په ځین کی وی او یا په رکیبو کی وی په اصح روایت کی، وهومذهب اکثر مشائخنا للضرورة او بل په دلیل ددی چی مصلی علی الدابة څخه چی ساقط سوه ارکان اصلیه دَ لمانځه لکه رکوع او سجده، او قیام نو شرط د طهارة المکان په طریق اولیٰ ساقط دی. ط، قال المصنفؒ:

ولاتصح صلوٰة الماشی بالاجماع او نه دی صحیح لمونځ د تګ کوونکی په اتفاق ځموږ د اماما نو که فرض وی او که واجب او که نفل وی. ولی چی اتحاد د مکان دیوه لمانځه شرط لازم دی او په صورت کی د تګ هغه مختلف کیږی، **فائده** که او باز په او بو کی او بازی کوی هم په لمونځ نه دی صحیح لاختلاف المکان فیه ایضًا او بله خبره داده چی تګ یا او بازی منافی د لمانځه سره دی والعبادة مع المنافی لاتصح»

۱۵ جلده
مجموعه
تفسیر ایوبی
تقریبًا
ان شاء الله تعالیٰ
حضرت ایوبی هغه راجحانی چه
څیړنه دی چی په افغانی تاریخ
نظیر مفقود دی
چی کتابت تهیه ئی احقر
فضل الحق حقانی کړیده
او ناشر یې
مکتبة القراءة والتجوید
کانسی روډ
کوئټه بلوچستان
کتبه
حقانی

فصل فی صلوٰة الفرض والواجب علی الدابة

دا فصل دی په بیان کی د فرضی لمانځه او د واجب لمانځه پر دابه باندی.

قَالَ المُصنفؒ:

لاتصح علی الدابة صلوٰة الفرائض والواجبات کالوتر نه دی صحیح پر دابه باندی فرضی لمونځونه او نه واجب لمونځونه لکه وتر او نذر کړی

والمنذور والعیدین ولا ماشرع فیه نفلا فافسده لمونځ او د اخترو لمونځونه. او د غه رنګ نه دی صحیح قضا راوړه د هغه لمانځه چی شروع یې په نفلی طریقه کړی وی او بیا یې فاسد کړی وی. **فائده**: کی څوک اولاً په ناستی شروع کړی وی او بیا یې فاسد کړی وی. او د جنازی لمونځ هم نه دی روا» مرقال

ولاسجدة تلاوة تلیت علی الارض او هم نه دی روا پر دابه هغه سجده تلاوت چی آیتونه یې پر ځمکه ویل سوی وی. او کی آیتونه هم پر دابه ویل سوی وه بیا سجده تلاوت پر دابه روا ده» در» قال المصنفؒ:

الا لضرورة مګر د ضرورت د وجهی چی په هغه ضرورت سره په دی آیت کی تصریح سوی ده: وَاِنْ خِفْتُمْ فَرِجَالًا اَوْ رُکْبَانًا، الآیه: دا آیت که څه هم په فرائضو کی نازل سوی دی لکه واجب په حکم کی د فرضو دی، پر خلاصه کی وائی چی فرضی لمونځونه پر دابه باندی روا دی» هغه داسی چی دابه دی و دروی مخ پر قبله او تحریمه دی وکړی او لمونځ دی په اشاره وکړی. او کی دابه نه سوای درولای نو دی لمونځ کوی هر جهت ته چی دابه روانه وی که څه هم شایه وقبلی ته وی. دروتیش وائی چی په ننن زمانه کی موټر هم حکم د دابی لری نو که روان وو لمونځ دی په اشاره په کښی کوی. کی په درولو کی خوف وو؛

قَالَ المصنفؒ **لِخَوْفِ لِصٍّ عَلٰى نَفْسِهٖ اَوْ دَابَّتِهٖ اَوْ ثِيَابِهٖ لَوْ نَزَلَ**

لکه بیره دَغله څخه یعنی قطاع الطریق پرځان باندی یعنی چی ما به مړ کړی یا تپی، او یا پر دابه بیریدی چی هغه به راسه بوزی. او یا پر کالو او غنیمه باندی بیریدی په دی توګه کی دا بیره په ددی سبب وه چی که زه ددابی څخه کښته شم، په مراقی کی وائی چی اندیوالان هم نه ورته دریږی. لکن دا بناء پر غالب ده، ولی چی اندیوالان ورته ولاړی نو غل به حمله ونه کړی لکن دا هم عینی ممکنه ده چی سره دَ ولاړی ددوی دے هم غل حمله پر وکړی، نو که داسی بیره موجوده وه نو بیا هم لمونځ پر دابه وکړی. **مسئله**: که دموټر د سو لیانو دا بیره وه چی که موټر وَدَرووَ بیا ره د لمانځه نو غله به حمله وکړی نو موټر دی نه دَرَوی بلکه لمونځ دی په رَوان موټر کی په اشاره وکړی «د»، قَالَ المُصَنِّفُؒ:

وَخَوْفُ سَبُعٍ وَطِيْنُ الْمَكَانِ او د غرنګه که بیره دحملی ددرنده، لیوه پړانګ وغیره وه. او یا باران سوی وُو مثلاً او لاندی ځمکه تول ختی وی. چی مَخ یه په کښی ډوبیدی او یا په ختو ککړیدی او که پټو مثلاً آوار کړی وای هم دغسی کیدی. او یوصرف لند والی دځمکی دی هغه په دابه لمونځ نه رَوا کوی **مسئله**: که دسړی دابه نه وه لکن ځمکه ډیره ختی وه نو لمونځ دِ په وَلاړی او په اشاره اداء کړی، «م»، قَالَ المُصَنِّفُؒ:

وَجُمُوْحِ الدَّابَّةِ وَعَدَمِ وِجْدَانِ مَنْ يُّرْكِبُهٗ لِعَجْزِهٖ

او یا راکب بیریدی که زه ددابی څخه تا سم دابه به بیا سَرکښی وکړی او زه به نه سم پَر سپریدای او بل داسی څوک هم نه وو چی دی پر سپور کړی، نو دی هم لمونځ پر دابه په اشاره وکړی. ولی چی دی عاجز دی دنزول څخه، او کی لمونځ په اشاره وکړی او یا عذر نائل سو یعنی کومکی پید اسوده لمانځه راګرځیده نستته پرده باندی **مسئله**: که سپور پر دابه مریض وو او دی بیریدی که زه کښته سم او لمونځ وکم او بیا سپور سم نو به می مَرض

زیات سی. او یا به می جوړیده و ځنډیږی. نو ر واده وده تر لمونځ پر دابه په اشاره لکن دابه دی مستقبل القبله وَدَروی تر تمام دَ لمانځه. کی امکان وو او که نه وو بیا دی پر وانه دابه لمونځ په اشاره اداکړی، م، ط، **مسئله**: که سپور دَ دابی چی ر اکښته سوی وای ده بیرته سپریدو کی کومکی یه دَر لودی. په دی کی دَ امام اعظمؒ او ده دَ شاګردانوؒ اختلاف دی. او دا مسئله مشهوره په قادر بقدرة الغیر ده، په دی مسئله کی دَ حضرت الامام الاعظمؒ مذهب دادی چی قادر دَبل چا په قدرت سره فی الحقیقه عاجز دَی. او یاران وائی چی په قدرت سره دَ غیر دَی د عجز څخه وُوزی. او احکام دَ قادر پر جاری کیږی، دَرویش وائی چی کافی کتاب و دَ مذهب قول ته دیارانو ترجیح وَر کړیده. لکه بنځه چی قدرت نه لری پر نزول ده دابی څخه مګر نه په محرم سره یا میړه سره، قَالَ

وَالصَّلٰوةُ فِى الْمَحْمِلِ عَلَى الدَّابَّةِ كَالصَّلٰوةِ عَلَيْهَا

او لمونځ په کجاوه کی چی هغه کجاوه پر دابه باروی لکه لمونځ دی پر دابه باندی په هغه کی چی

سَوَاءٌ كَانَتْ سَائِرَةً اَوْ وَاقِفَةً وَړاندی تیر سُو. خواه دابه رَوانه وی او که وَلاړه وی.

وَلَوْ جُعِلَ تَحْتَ الْمَحْمِلِ خَشَبَةٌ حَتّٰى بَقِىَ قَرَارُهٗ اِلَى

او کی وَکړ حول لاندی تر کجاوی یو لرګی یعنی یا مثل دَ لرګی لکه د او سپنی پیپ حتی چی پاته سو

الْاَرْضِ كَانَ بِمَنْزِلَةِ الْاَرْضِ فَتَصِحُّ الْفَرِيْضَةُ فِيْهِ قَائِمًا

اړام دمحمل تر ځمکی پوری نو د غه کجاوه لکه ځمکه داسی ده نو فرضی لمونځ په ولاړی په کښی رَوادی. حاصل ددی مسئلی دا دی چی اول یه دابته ودَرَوله او بیا یه کجاوی ته لرګی یا مثل د هغه تنبه وَر کړ چی کجاوه تر ځمکی پوری آرامه سوه یعنی نه ښوریده نو د غه کجاوه حکم د ځمکی لری نو لمونځ فرضی په وَلاړی په کښی روادی»

Maktaba Tul Ishaat.com

پوښته: چې مصنفؒ داسې عبارت وواید فتصح آه او سره ددې چې په عين ځکه خو فرضي لمونځ بيله ولاړې روانه دی، نو بايد چې په دغه ځايونو کې هم لمونځ فرضي په ولاړې لازم وای.

د دې سبب دا دی چې علماء د نحوې او معاني وائي چې تول احکام د مشبه به په مشبه کې لازم نه دی بلکه شراکت صرف په وجه کې د شبهې غواړي. مثلاً زيد کالاسد يعنې په شجاعت کې. د لته وجه د شبه په مابين کې د ځايونو او ځکه صرف صحت د لمانځه دی په ولاړې نه لزوم د لمانځه په ولاړه ولې چې ځايونو امکان لري چې په ځگوالد دی دومره نه وي چې سړی دی په ولاړې لمونځ په کښې وکړي» ځکه امام طحطاويؒ په دې ځای کې داسې وائي: وَاِنْ لَمْ يمکنه القيام ولا النزول صَلّٰى قاعدًا، کماهومفاد کلامهم او هغه خبره چې چې سيد شارح کړيده چې مصنفؒ عبارت مطلق وواية يعنې چې لمونځ په ولاړې صحيح دی لکن محمول پر هغه دی چې قيامه په کښې ممکنه وي. څه نوي خبره نه ده بلکه د کلام څخه د مصنفؒ دا غه خبره مفهومه ده، ولې چې صحت د لمانځه په ولاړې په ځايونو کې خو مبني پر دې دی چې قيامه به ممکنه وي.

د طلاق او د نکاح د شکلو مسئلو د پاره بې مثاله ذخيره

قدوري پښتو

«جلد دوم»

تصنيف حضرت علامه الحاج مولانا عبيد الله الايوبي الحنفي القندهاري

الناشر:

د افغاني زده کونکو د پاره يوه تحفه

تجويد حقاني

په پښتو ژبه د افغانستان د تولو مدارسو د پاره د اولې درجې

بيات رجمال القران پوره کړي

مکتبة القرائت والتجويد

کانسي روډ شالدره کوئټه

فصل فِي الصَّلٰوةِ فِي السَّفِيْنَةِ

دا فصل دی په بيان کې د لمانځه په کښتۍ کې. قَالَ المنف

صَلٰوةُ الْفَرْضِ فِيْهَا وَهِيَ جَارِيَةٌ قَاعِدًا بِلَا

يعنې فرض لمونځ په کښتۍ کې په داسې حال کې چې هغه روانه وي په ناستې بيله عذره . .

عُذْرٍ صَحِيْحَةٌ عِنْدَ اَبِيْ حَنِيْفَةَ بِالرُّكُوْعِ وَالسُّجُوْدِ

صحيح دی په نيز د امام اعظمؒ په رکوع او سجده سره. او يارانؒ وائي نه دی صحيح،

وَقَالَا لَا تَصِحُّ اِلَّا مِنْ عُذْرٍ وَهُوَ الْاَظْهَرُ

مگر د عذر د سببه. او دا مذهب د يارانو اظهر دی» بيله عذره دا دی چې دی د کښتۍ څخه وتلای شي. قال في المراقي چې غالب په ولاړه کې د کښتۍ سر څرخيده او غالب لکه متحقق دی نو گويا عذر ستة لکن سره ددې مذهب د امام اعظمؒ خو صحت د لمانځه وو خو بيا هم که ولاړه ممکنه وه په ولاړې دې لمونځ وکړي تا چې د شبهې څخه د خلاف لمونځ ووزي او مصلي ته تسکين د زړه پيدا شي.

فائده: د مذهب د يارانوؒ دليل دا دی چې په حديث شريف کې چې روايت په ابن عمرؓ کړي دی داسې راغلي دی چې د عليه الصلوٰة والسلام څخه چا پوښتنه وکړه د لمانځه په کښتۍ کې ده مبارک ورته وويل چې ته لمونځ کوه په کښتۍ کې په ولاړې الاان تخاف الغرق» وقال مثله محمد بن ابي طالب»

او بل دليل په دا دی چې قيام خو رکن د لمانځه ده، نو په عذر محقق سره پاتې کيږي نه په عذر موهوم سره.

پوښته: چې مذهب د امام اعظم لره هم دلائل ستة، يو حديث د ابن سيرينؒ دی چې دی وائي چې موږ لمونځ وکړی سره د انسؓ په کښتۍ کې په ناستې، او که موږ غوښتلای وکنارې ته يعنې وچې ته هم وتلای سوای. او مجاهدؒ وائي چې موږ لمونځ وکړی سره د جناده رضی الله تعالیٰ عنه په کښتۍ کې په ناستې، او که موږ خوښه وای په ولاړې موږ هم

کولای سوای یعنی سر خرخی نه وه، نور دی حدیثو جمعه: زاهدیؒ داسی کړیده چې حدیث
د ابن عمرؓ او جعفرؓ چې یار انو دلیل د عدم صحت گرځولی وو محمول دی پر ندب یعنی ولاړه
مندوبه ده، او حدیث د انسؓ او د جنادهؓ محمول پر بیان د جواز دی، او بیا هم ترجیح د
قول د امام اعظمؒ څندی ثابتین ی، ولی چې د دوو تا بعینو ابن سیرینؒ او مجاهدؒ په
بخلی کړی دی.

پوښتنه: چې کښتی حکم د دابې لري من وجہٍ، ولې چې کښتی مرکب البحر دی. او دابه
مرکب البر دی. نو ځکه په دواړو کې لزوم د قیام ساقط دی. او بیا هم کښتی من وجهٍ
حکم د محکلی لري چې سړی په آرام په کښی ناست وي. نو دی سببه استقبال القبله او
رکوع او سجده په لمانځه کی د کښتی لازمه ده» قَالَ المُصَنِّفُؒ:

وَالْعُذْرُ كَدَوَرَانِ الرَّأْسِ وَعَدَمُ الْقُدْرَةِ عَلَى الْخُرُوجِ وَلَا

او عذر لکه سر خرخی یعنی چې ولاړ سړي پر اڅرخی، او بل عدم قدرت دی پر وتلو د کښتی څخه

يَجُوزُ فِيهَا بِالْإِيمَاءِ اِتِّفَاقًا

او نه دی روا لمونځ په کښتی کې په اشاره سره په اتفاق ولې چې رواکونکی
د ایماء نه حقیقة او نه حکمًا سته، لکه په مریض کی او حکمًا لکه په دابه کی،» مرط در» قَالَ

وَالْمَرْبُوطَةُ فِي لُجَّةِ الْبَحْرِ وَتُحَرِّكُهَا الرِّيحُ شَدِيدًا

او هغه کښتی چې دروَل سوی وي یعنی په لنګر، او سیوبه لویه حصه کی د دریاب او
وي

كَالسَّائِرَةِ وَالْاَفَا الْوَاقِفَةِ عَلَى الْاَصَحِّ

د هغه په باد ښوروي. په سخت ښورېدو

هغه کښتی لکه روانه کښتی داسې ده. یعنی حکم په روانی کښتی دی لکه چې تیر شو، او که باد
ډیره نه ښوروَل نو هغه کښتی لکه ولاړه پر کناره د دریاب پر اصح روایت باندی،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين

قَالَ المُصَنِّفُؒ

وَاِنْ كَانَتْ مَرْبُوطَةً بِالشَّطِّ لَا تَجُوزُ صَلَاتُهُ قَاعِدًا بِالْاِجْمَاعِ

او که په کښتی ډروَلی وه پر کناره د دریاب په لنګرو وغیره سره نو نه دی روا لمونځ
د سړي په دغه کښتی کی په ناستې په اتفاق لکن پر صحیح روایت او بعض ولی
چې په دی کې هم اختلاف سته، مر، قَالَ المُصَنِّفُؒ:

فَاِنْ صَلّٰى قَائِمًا وَكَانَ شَيْءٌ مِّنَ السَّفِيْنَةِ عَلٰى قَرَارِ الْاَرْضِ

او که چیری لمونځ وکړي په دغه کښتی کی چې پر شط البحر وو او یوه حصه د کښتی مخه پر قرار د محکلی وه نو لمونځ

صَحَّتِ الصَّلٰوةُ وَاِلَّا فَلَا تَصِحُّ عَلَى الْمُخْتَارِ

په صحیح دی
یعنی لکه
پرسر یا ندی چې پر محکله پرته وي او کی قرار نه در لودی یوه حصه د کښتی پر محکله باندی نو
لمونځ په په ولاړی نه دی صحیح، ولې چې دغه کښتی په دغه صورت کی دابه ده، یعنی لکه دابی
څخه چې ولاړوی تاکیدا ای سی د دی کښتی څخه خوهم وتای سی نو پر محکله لمونځ کول ممکن
دی مگر هغه وخت بیا په ولاړه کښتی کی په ولاړی لمونځ روا دی که ممکن نه وو وتل د دې
څخه وسړي ته،» مصنفؒ مختاره وو ایه، ولی په دی کی اختلاف سته، مصنفؒ هغه روایت
نقل کړی دی چې محیط او بدائع کی دی، لکن ظاهر کلام د بدایه او نهایه او اختیار دا دی
چې لمونځ په ولاړی په هغه کښتی کی چې مربوط ته وي پر کناره د دریاب روا دی مطلقًا
خواه پر محکله قرار لري او که نه. او د ته خروج ممکن وي او که نه» ط» قَالَ المُصَنِّفُؒ

وَيَتَوَجَّهُ الْمُصَلِّيْ فِيْهَا لِلْقِبْلَةِ عِنْدَ اِفْتِتَاحِ الصَّلٰوةِ

او مخامخ دی دریږی لمونځ کوونکی په کښتی کی یعنی چې روان وي و قبلی ته په شروع
کی د لمانځه، ولې چې استقبال القبله فرض دی او راکب قدرت هم پر لري،

اللهم اغفر لمؤلفه ولكاتبه ولجميع المؤمنين آمين يا رب العلمين»

Maktaba Tul Ishaat.com

قَالَ المصؒ **وَكُلَّمَا اسْتَدَارَتْ عَنْهَا يَتَوَجَّهُ إِلَيْهَا فِي خِلَالِ الصَّلٰوةِ**

او هر وخت چې کښتی دَ قبلې نه وګرځيده يعنې چې سوه لمونځ کوونکی دی وَرسره ګرځي وَطرف دَ قبلې ته په مابين کی د لمانځه حتیٰ چې لمونځ پوره کوی مخامخ و

حَتّٰى يُتِمَّهَا مُسْتَقْبِلًا قبلې ته، په مَراقی کی وَائی که سَړی عاجزه سو د استقبال القبلې نه يعنې ديو عذر په سَبب چې اميد د زوال د هغه عذر وُو، نو دی دې لمونځ بند کړي تر زوال د عذر پورې، او مَراقی زيا ته کړيده که مُصلی د کښتی استقبال القبلة پر يښنو يعنې يا ابتداء او يا په خلال کی دَ لمانځه لمونځ يې دی رَوا په اتفاق دائمه ثلاثه وو"

فَائِدَهْ: طياره که پر محکله ولاړه وه او ځای دَولاړې د لمانځه په کښې وو نو په هغه طياره کی لمونځ په وَلاړې په رکوع او سجده وکړي. او که چېرې دَولاړې د لمانځه نه وو پکښې نو که چېرې تاکيد ای سَوای يعنې ځينې دَ تاکيد و موجوده وه او محافظينو د ميدان هَوائی ده ته اجازه دکښته کيدو وړ کوله. خو تا دی سړی او لمونځ دی پر محکه وکړي، او که ځای دَولاړې د لمانځه پکښې طياره کی نه وو، او اجازه دکښته کيدو هم محافظينو نه ورکوله نو لمونځ په ... کی دَ طيارې په اشاره وکړي، دا خو حکم دولاړې وو او که طياره روان وه نو حکم يې دا دی که ځای دولاړې دَ لمانځه پکښې وی او که نه لمونځ په اشاره کوی، هذا ما حَصَل لی مِن عبارات الفقهاء"

فَائِدَهْ: ټول احکام چې ذکر سوه په باره کی دکښتيو هغه دَ هغو کښتيو وَه چې په پخوا زمانه کی به آب بازانو چلولی او لنګرونه او بيړی پنډی رَسی به وَرسره وی د پاره د درېدو او يا کشيدُو، او يا په اوسنی زمانه کی هغه کشتنی کښتی چې قَائِق يې بولی او په زريعه د مشينانو په دريَاب کی چليږی، او هر چې هغه لوئی کښتی دی چې په سلوو سلو انسانان په کښې سپاره وی سَره ددوی بسترې او سره د ډيرو مالو چې په اصطلاح يې آب ګوټ نه بولي، په هغو کی خو که روانی وی او که ولاړې وی لمونځ په وَلاړې په رکوع او سجده سره په ښه آسانی پکښې کيږی، نو په دَغسی کښتيو کی حتما لمونځ په وَلاړې کوی په اشاره نه دی رَوا.

مګر هغه وخت بيا رواد ی که هوا د درياب طوفانی سوه او د غه لوئيه کښتی په حرکت کی خپل په اضطراب سوه او دَ ولاړې لمونځ دَ ستونځو سره مخامخ سُو، هذا ما حصل لی من عبارات الفقهاءؒ وَاللّٰهُ اعلم بالصواب واليه المرجع وَالمآبُ"

تفسير اولىٰ

قدورى

تجويد حقانى

جمال القرآن

فوائد مكيه

مقدمة الجزرية

الاحسان فى تجويد القرآن

نورانى قاعده

فضائل اعمال پښتو

الناشر مَكتبةُ القراءة والتجويد كانسى روډ كوئټه

فَصْلٌ فِی التَّرَاوِیْحِ

دافصل دی په بیان کی دَ لمانځهٔ دَتراویحو مراقی الفلاح چی تراویح جمع دَترویحة ده او ط وائی چی دَترویحة معنا یو وار راحت ته وائی. او په شرعه شریفه کی دَ څلورو رکعتونو نوم دی ولی و، وسنته تر څلورو رکعته چی خلک یو گړی کښېنی څه نا څه استراحت ورته پیداسوه نو دا تسمیة مجازی دی چی څلورو رکعت یه په نامه د همسایه چی ورو ستته ناسته ده مسمیٰ کړه او دا هم امکان لری چی خودی دَ څلورو رکعت دی راحت وی. لکه په حدیث شریف کی راغلی دی، اَرِحْنَا بِالصَّلٰوةِ یَا بِلَالُ، یعنی اقامت وکړه چی لمونځ اداء کړو چی کوله دَ لمانځه راحت دی دَ زړه ترا نتظار دهغه، او یا په دی سبب یه ترویحه بولی چی پر دی کی راحت دجنت سړی ته رسیږی.

پوښته: په هر لمانځه راحت نه جنت سړی ته رسیږی، نو بیا دهر لمونځ ترویحه وبلل سیږی

جواب علماء په یوه خوله وائی چی په وجه کی تسمیه اطراد شرط او لازم نه دی، کذافی المستصفی، (د) قال المصنف:

اَلتَّرَاوِیْحُ سُنَّةٌ لِّلرِّجَالِ وَالنِّسَاءِ اوتراویح سنت دی دَپاره دَنرو او ښځو، او دا روایت دحسن دی دامام اعظم رحمه، کمافی الخلاصة، وهی سنة مؤکدة کما فی الاختیار، (م) او په روایت کی د اسد بن عمرو عن ابی یوسف دی وائی چی ما سوال وکړی دابوحنیفة رحمه په باره کی دَصلٰوة التراویح چی امیرالمؤمنین هغه په جماعت کښی سره مشروع کړی دی. نو حضرت الامام ووَیل چی تراویح سنت مؤکد دی. او امیرالمؤمنین رض په هغو باندی باعثه کول په جماعت سره دَ ځان دخوانه دی کړی. او نه عمر رض په دی کار کی مبتدع وو.
بلکه دَعمر رض سره نیز اصل موجود وو. چی هغه د علیه الصلوٰة والسلام دخوا وصیت وَه ته په جماعت کولو کی دَتراویح، او سنت یه په فعل دَعلیه السلام ثابت دی لکه عنقریب به راسی. او په دی قول دَعلیه الصلوٰة والسلام یه هم سنت والی ثابتیږی: عَلَیْکُمْ بِسُنَّتِیْ وسنة الخلفاء الراشدین من بعدی، او همیشه والی کړی دی پر تراویح عمر عثمان علی رضی الله تعالیٰ عنهم،

وقد ورد فی حدیث، افترض الله علیکم صیامه وسنة لکم قیامه، والمراد بالقیام التراویح.
او روافض وائی چی تراویح سنت دی نرو له نه ښځو له، او بعض بی دانش علماء وائی چی تراویح سنت عمر دی. بلکه صحیح دا ده چی سنت نبوی دی، (م، د)

تبصره سره د دی چی ټوله کتابونه د فقهی شریفی تراویح سنت عین بولی د نرو او ښځو، لکن واعظان او امامان د مساجدو په باره کی سنت والی د تراویح ښځو له ډیر کم تبلیغ او سخت بیان کوی په دی باره کی. او د دی سببه په اکثرو کورو کی ښځی تراویح نه کوی مگر یو سپین سری په کور کی او د سرسایه په باره کی نرو ښځی لوی او کښتنی گرده په تفصیل یا دوی. وفی البرهان، اجمعت الامة علی مشروعیة التراویح وجوازها ولم ینکرها احد من اهل القبلة الا الروافض، قاله علامه نوح،
د رپش وائی: چی د دی عبارت څخه د نوح رح دا معلومیږی سوه چی روافض یه مطلقاً د مشروعیت څخه منکر دی، او هغه د څخه خبره چی دَ ښځو په باره کی سنت نه بولی قول د مصنف وو به مراقی کی، قال فی المضمرات: التراویح سنة باجماع الصحابة رض ومن بعدهم من الامة ومنکرها ضال مبتدع مردود الشهادة، **سوال**: مصنف تراویح سنت بولی او قدوری وائی چی مستحب دی. فکیف التوفیق بینهما **جواب** د قدوری عبارت داسی دی: ویستحب ان یجتمع الناس آه. نو د دی عبارت حاصل دا دی چی اجتماع دَخلکو پر تراویحو مستحب ده وهو کذلک، او په دی دَلالت نه کوی چی خودی تراویح مستحب دی والی هذا ذهب بعض الفقهاء یعنی چی تراویح سنت دی او جماعت یه مستحب دی.
د رپش وائی: چی دَتراویح د لمانځه شروع د دی ځایه څخه سویده چی په حدیث نبوی صلی الله علیه وسلم کی په روایت د بخاری او مسلم دَ عائشه رضی الله تعالیٰ عنها څخه داسی راغلی دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه شپه یعنی په روژه کی په مسجد کی دَ تهجد لمونځ کاوه نو په مسجد نبوی کی بعض صحابة چی حاضر وه هغوی په علیه الصلوٰة والسلام پسی اقتداء وکړه او د ه ۲ سری لمونځ په جماعت وکړی. او دوهمه شپه یه هم لمونځ دَتهجد په جماعت وکړی او صحابة ترا ولی شپی ډیر وه، ولی هغه دَبرائی شپی څلګو

Maktaba Tul Ishaat.com

نورخبرکړي وه. اوپه دریمه شپه خلک بیخي ډېر راغلي وه. قالتُ فلم یخرج الیهم رسول الله صلی الله علیه وسلم: نو دا وائي چي دریمه شپه نبي علیه السلام ورو نه وتي یعني دهغه بوریا دحجری څخه چي علیه الصلوٰة والسلام داعتکاف دپاره په مسجدنبویؐ کې جوړه کړي وه، حتی چي دبعض خلکو ګمان داسو چي علیه الصلوٰة والسلام بیده دی نوځني بوریا په کشنو شګو ویشتله، اوبعض خلکو به غاړي تازه کولې، خو په هرصورت چي شپه تیره سوه نوآنحضرت صلی الله علیه وسلم چي دسحارلمونځ وکړی نوخلکوته یې ووئیله: چي ماولیده ستاسي اجماع (ونو) کار چي تاسي کاوه، لکن زه دراوتو څخه وتاسي ته منع نه کړم مګر نه دی خبري چي زه وبېریدم چي پرتاسي به دالمونځ فرض سي»

وایضا ورد فی بخاري ومسلم بروایة عائشة رضی الله تعالی عنها» چي علیه الصلوٰة والسلام په روژه کې او په غیرکې دروژی تریوولس رکعته بالالمونځ نه دی کړی وتر په کښې کذا فی صحیحی ابن خزیمہؒ وابن حبانؒ **سوال**: په حدیث کې چي روایت یې ابن ابي شیبهؒ اوطبرانيؒ وبیهقيؒ دابن عباسؓ داسي راغلی دي. چي علیه الصلوٰة والسلام شل رکعته نفل بیله وترو په روژه کې کول **جواب**: محدثانو دا حدیث ضعیف ګڼلی دی بلکه شل رکعته په مواظبت دخلفاء راشدینؓ سوی دابوبکرؓ الصدیق نه ثابت دی کذا قال الامام الطحطاويؒ، وفی البخاري تر هغه وخت چي رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات کیدی کار د تهجد دلمانځه پر هغه ډول وو، یعني پرانفرادی طریقه باته وو او په خلافت کې دابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنهم پرهغه ډول پاته وو، او په اول کې دخلافت دعمرؓ هم داغسي پاته وو خو چي عمرؓ خلک سره جمعه کړه پر جماعت په دغه لمانځه کې په امامت دابي بن کعبؓ فکان ذالک اول اجتماع الناس علی قاریٔ واحدٍ فی رمضان کذا فی فتح الباري» حاصل دادی چي صلوٰة التراویح په جماعت سره په حقیقت کې سُنت دی دنبي علیه الصلوٰة والسلام اودعمرؓ سنت نه دی،

سوال، بعض فقهاءؒ وائي که چاوو ئیله چي تراویح سنت دعمرؓ دی لکه روافض چي وائي هغه کافر دی نو دا حکم صحیح دی او که نه **جواب**: په ډیرو معتبرو کتابو کې راغلی دي چي تراویح سنت دی دعمرؓ په دی معنیٰ چي همیشه توب یې اوشل رکعت والی یې سنت دعمرؓ دی

اودا دی سره منافات نه لري چي اصل دتراویح سنت ده علیه الصلوٰة والسلام دی نوحکم دکفرېي معنا دی، بلکه په حدیث کې دابونعیمؒ من حدیث عروبة الکندیؓ داسي راغلي دي چي علیه الصلوٰة والسلام ووئیله «چي ترما وروسته به ډېر شیان نوي پیدا سي فاحبها الیّ ان تلزموا ما احدثه عمرؓ» اوامام طحطاویؒ وائي چي بحرالرائق دخلاصی څخه داسي نقل کړي دي چي دمشائخوؒ اختلاف وو په دی کې چي تراویح سُنت دی او که مستحب دي» لکن دا اختلاف دفع سو په روایت دحسنؒ دابوحنیفهؒ څخه چي تراویح سنت دی کما فی المراقی، قال

وَصَلَاتُهَا بِالْجَمَاعَةِ سُنَّةُ كِفَايَةٍ

اوکول دتراویحو په جماعت سره سنت کفائي دي. پوه سه، چي دتراویحو په جماعت سره کولو کې دری قوله دي، اول دا چي جماعت دتراویحو سُنت عین دی دنرو دپاره حتی که یوه سړي بیله عذره تراویح یوازی وکړی که څه هم په مسجد کې وکړی ګناه کاردی، ولې چي مخالفت دسُنت یې وکړی،،

مسئله: بناء پردی چي وخت دتراویح بعدالعشاء دی که یو سړي دماخستن لمونځ وکړی او تراویح یې هم وکړی اووتر هم، وروسته داو معلومه سوه چي دماخستن لمونځ دی فاسد اداء کړي وو اوتراویح اووتر دی صحیح کړي دي. نوحضرت الامام الاعظمؒ مذهب دادی چي دماخستن لمونځ دی را وګرځوی په سبب دفساد» اوتراویح دی هم راوګرځوی. ولې تراویح به بیا ځایه وکړی، نو هغه تراویح چي ده دمخه وکړی هغه نفل خالص دی اووترو ته اګرځیده نه غواړي وهو الصحیح ط»

پوه سه: چي په وخت کې دتراویح دری قوله دی: اول دادی، چي شپه ټوله وخت دتراویح دی که دمخه دماخستن ترلمانځه، او که وروسته دمخه تر وتروی او که وروسته، اودې مذهب ته بعض احنافؒ تللی دی چي یو دهغو څخه اسمٰعیل الزاهدی دی، په بحرالرائق کې وائي چي ددی مذهب تصحیح چانه ده وئیلی، اودوهم مذهب دادی چي وخت دتراویح دلمانځه په مابین کې دماخستن دلمانځه اووترو دی، الثالث دریم مذهب مااختاره المصنفؒ فی نورالایضاح»

دا خبره په دې کې بنکاره کیږي که یو سړي تراویح د ماخستن تر لمانځه مخکې وکړي، نو پر اول قول د غه تراویح صحیح دي او تراویح دي، او پر دوهم او دریم قول داغه لمونځ نفل صرف دي د تراویح د سنتو ځای نه نیسي، او یا یو سړي تراویح پس له وترو وکړي نو پر دوهم قول لمونځ تراویح نه دي، او پر دریم قول تراویح دي. او پس اول قول خوښ طریق اولیٰ تراویح دي کما لا یخفیٰ او یا دیوه سړي څخه یوه ترو یحه تیره سي په سبب ده یوه عذر، نو چې وخت د وترو راورسیدئ، دده دا خیال وي کاکه زه دا تروېحه را اګرځوم وتر په جماعت را اخځ تیریږي. نو پر اول قول دی وتر په جماعت وکړي او ترویحه چې پاته سوي وه پس له وترو دي وکړي. او پر دوهم او دریم قول دې ترویحه فائتة تر وترو د مخه وکړي که څه هم وتر بې جماعته کیږي، کله ذالک ظاهر لمن تفکر فی المذاهب الثلاثة، قَالَ

وَيُسْتَحَبُّ تَاخِيْرُ التَّرَاوِيْحِ اِلٰى ثُلُثِ اللَّيْلِ اَوْ نِصْفِهٖ وَلَا يُكْرَهُ

او مستحب دي ځنډول د تراویح تر دریمی د شپې، او یا تر نیمی د شپې او تر نیمی شپې وروسته ځنډول هم مکروه نه دئ.

تَاخِيْرُهَا اِلٰى مَا بَعْدَهٗ عَلَى الصَّحِيْحِ

پر صحیح روایت»

مَسْئَلَه: که یوه شپه تراویح د سړي څخه قضاء سوي صحیح مذهب دا دی چې بیا یه قضاء نسته، او کې څوك قضاء را وړی هغه نفل صرف دی» دررا » او بعض فقهاء وائي چې د روژې د میاشتې تر تیریدو پورې قضاء سته، او بعض وائي چې د دوهمې شپې د تراویح تر وخت د مخه یه قضاء سته،

او پوښتنه: چې مراد د مصنف د لَا یُکْرَهُ څخه دا دی چې مکروه تحریمي نه دی ورنه خلاف الاولیٰ خو یقینًا دی، نو ددې سببه مصنف په مراقی کې وائي چې بنه کار دا دی چې تراویح دې تر اخیر اللیل پورې نه ځنډوي چې خوف د دې سته چې یک لخته به فوت سي په سبب د خوب: قال المصنف:

وَهِيَ عِشْرُوْنَ رَكْعَةً بِعَشْرِ تَسْلِيْمَاتٍ

او دا تراویح شل رکعته دي یعنی په اتفاق د صحابه کرامو پر دوه

رکعت دی سلام اړوي. او دا د قدیمي زماني څخه تر ننی ورځی په میراث پاتیدئ، **فَائِدَه**

که سړي شل سره رکعته سره جوخت کړه یعنی سلام یه په اخیر کې د شلو رکعتو وګرځاوه منګرېږ دوه رکعته یه نا سته کوله نو کفایت د ټولو تراویحو خو په کیږي لکن په قصد داسی کول مکروه دی تلکونه خلاف السنة» او هغه خبره چې منیة المصلی کړیده چې په دې کی کراهت نسته ولې چې تکلیف یه لا ډیردئ، کمال غلطه بللی ده چې ډیر مشقت په عبادت کی هلته سبب د مزید ثواب دی چې د شریعت پا که سره برابری او ده سنت سره موافق وي،

او د دوهم مذهب دا دی» چې مستحب دا ده چې سړي دې تراویح په کور کی کوي، ولې چې د ریاء څخه لیري دی منګر نه هغه څوك چې لوي فقیه او عالم وي» چې په ده پسې خلك اقتداء کوي هغه دی په مسجد کی په جماعت کوي د پاره د ترغیب د خلکو، ولې چې په صورت کی د نه حضور د ده تقلیل د جماعت راځی او عوام خو یه بیا کور هم نه کوي. او دریم مذهب دا دی» چې کول یه په جماعت سره سنت کفائی دئ، یعنی کی بعض کسان په جماعت وکړي. او بعض یه په کور کی وکړي هغه نه دی ګناه ګار، او که ټوله اهل مسجد د جماعت لمونځ پریښودیعنی تراویح ټوله ګناه ګار ه دي،

هذا حاصل ما فی البحر الرائق،

تَفْرِيْع: په اوسنی زمانه کی په سبب د ه سستی د مسلمانانو رواج دا سی دی چې په اکثر مساجدو تراویح د » اَلَمْ تَرَ كَيْفَ آه په سورتو سره کوي، او بعض خلګ چې د ختم القرآن سره ډیره علاقه لري هغه یو څو کوره اتفاق سره وکي، او یې یو کور وي چې د لمانځه نفر یه ډیروي نو حافظ راولي په سراچه کی د ختم تراویح کوي، په دی کار هغو هیڅ حرج او ګناه نسته بلکه بنه کار دی، ولې چې په مسجد کی هغه دی جماعت کیږي، او بعض علماو د عصر حاضر چې حکم د ګناه کار پرد غو خلګو کړي دی او حواله یه و رد محتار» ته کړیده هغه پر خطاء دی او، درد محتار د عبارت معنا هغه ده چې ټوله اهل مسجد یه پریښي دي یعنی جماعت په تراویح کی» بلکه درویش وائي که په مسجد کی د ختم القرآن تراویح کیدلی او یو سړي د خپلې کهالی په سبب تراویح یوازی کور کولی هغه هم نه دی ګناه کار» اګرچه فضیلت د جماعت په تراویحو کی دی خصوصًا په ختم القرآن سره، فتامل ولا تلتفت الی الشهرة»

Maktaba Tul Ishaat.com

مسئله: یوامام دوه ځایه په تراویح کی امامت نشی ورکولای وعلیه الفتوی، ولې چې سنت په یوه وخت نشی مکرر کیدلای، اودوهم تراویح به صرف نفل گرځي او د قوم اقتداء د سنت التراویح پسی کړیده، **مسئله:** داسی سړو ته کراهت نسته په کښی چې یوسړی یو وار به یوه امام پسی تراویح وکړي او بیا په بل امام پسی، د دی مثال دا دی لکه یوسړی چې د ماپښین یا ماخستن لمونځ یواځی وکړي او بیا جماعت ودریږی دی هم اقتداء پسی وکړي. **سوال:** په حدیث شریف کی راغلی دی: وَلَا يُصَلّٰى بَعْدَ صَلٰوةٍ مِثْلُهَا **جواب:** دا دوه لمونځونه خوسره مثل نه دي، ولې چې یو منفرد دی او بل په جماعت دی، نو محمل د حدیث دا دی چې یوسړی یو وار لمونځ په یو مسجد کی په جماعت وکړي او بیا په بل مسجد کی هم پر جماعت پیښ سو، بیا یې په جماعت کوی دا مکروه دَه، او یا یو سړی یواځی لمونځ اداء کړي، او بیا هغه لمونځ یوگړی ورسره بیا انفرادًا کوي.

مسئله: چې تراویح په جماعت سره افضل دی تر یوازې کولو، بعض فقهاءُ وائي چې جماعت په تراویح کی داسی دی لکه جماعت په فرضی لمانځه کی یعنی ثواب یې په (۲۵) درجې یا ۲۷ درجې تر یوازې کولو بالا دی، او بعض علماءُ وائي چې جماعت د تراویح صرف افضل دی تر یوازې نه په قید د عدده ۲۵. یا ۲۷، وهذا هُوَ الصَّوَابُ؛ او فضل چې پر وجه د تداعی نه وی هم په جماعت افضل دی تر یواځی، **مسئله:** که سړی د تراویح لمونځ او یا فرضی لمونځ په کورکی په جماعت وکړي یو فضیلت خو پر ځای سو چې جماعت دی او بل فضیلت فوت سو، فان الاداء فی المسجد له فضیلة زائدة علی الجماعة فی البیت» قَالَ المُصَنِّفُ

وَوَقْتُهَا بَعْدَ صَلٰوةِ الْعِشَاءِ وَيَصِحُّ تَقْدِيمُ الْوِتْرِ عَلَى التَّرَاوِيحِ

او وخت د تراویح پسله اداء کولو د ماخستن د لمانځه دی، قال فی المراقی علی الصحیح الی طلوع الفجر» او صحیح دی مخکی

وَتَاخِيرُهُ عَنْهَا کول د وترو پر تراویح، او وروسته کول تر تراویح، ولې چې تراویح تبع د ماخستن د لمانځه دی د وترو طبع نه دی. لکن بیا هم تاخیر د وترو افضل دی، وهو المعمول فی جمیع بلاد المسلمین»

مسئله: که سړی څلور رکعته تراویح په یوه سلام وکړي او په مابین کی نه کښېنستی نو د غه څلور رکعته پر دوه رکعته حساب کیږی فی الصحیح، مر»

سوال: د فقه شریفی په کتابو کی وائي چې د میانځ ناسته په څلورو رکعتو کی د نفلو واجب دَه او په سجده سهوه سره ئې جبیره کیږی نو په مقتضی د دغې مسئلې باید څلور رکعته حساب سي او سجده سهوه پر لازمه سي که چیری دا کار سهوًا وي. **جواب:** تراویح که څه هم اصلًا نفلی دی لکن پر نورو نفلو نه قیاسیږی، ولې چې تراویح پر هیئت مخصوصه مشروع سوي دي چې پر هر دوه رکعته به سلام گرځوي» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَيُسْتَحَبُّ الْجُلُوسُ

بَعْدَ كُلِّ اَرْبَعٍ بِقَدْرِهَا وَكَذَا بَيْنَ التَّرْوِيحَةِ الْخَامِسَةِ وَالْوِتْرِ

او مستحب ده ناسته پسله هر څلور رکعته په قدر د هغه څلورو رکعتو او دغه رنگه مستحب ده ناسته په مابین کی د پنځمی ترویحې او د وترو په قدر د څلورو رکعتو **مسئله:** پسله دوو رکعتو ناسته مکروه ده» ط» وفی الکافی: مکروه ده قعده استراحت پر پنځه سلام باندی په نیزد جمهورو وجه د استحباب مذکور داده چې توارث پر دغه دول باندی راغلی دی وهذا هو المروی عن ابی حنیفة **مسئله:** خلک په جلسة الاستراحة کی اختیار لري که تسبیح وائي او که قرائت وائي او که یوازې یوازې نفل کوی او که ساکت کښېني،

فائده: په اکثرو مساجدو کی امام تسبیح وائي او خلگو غوږ ورته نیولی وی. په نیت د دی چې موږ ته به په سبب د سماع د تسبیحاتو خدائ ثواب راکړي، ولې چې سامع کالتالی» لکن دا غلطه خبره ده چې سامع کالتالی خاصة قرآن مبارک دَه، البته د مقتدیانو غاړې نه دی بندی ولې چې ساکت خو ناست دی. او که یو قاري قرائت ووائي جهرًا او نورو غوږ ورته نیولی وي ټولو ته خدائ ثواب ورکوي.

دَامَامَانُو غَفْلَت

پوهه که: چې ملایان سره د دی چې د فقه شریفی په کتابو کی دا مسئله وینی چې مستحب ده تاخیر د تراویحو تر ثلث اللیل پوری

خوبیا دوی هم په روژه کی د تراویحو د تلوار د سببه د ماخستن اذان په ډیرو مسجدو کی د مخه تر د اخلید ود وخت د ماخستن کوی، او بیا نو په ډیر تلوار په تراویحو کی هغه لنډ لنډ سورتونه وائی چې سامع په حروفو تمییز نشی کولای، خو میږه هغه ملادی چې د ماخستن لمونځ او دوه رکعته سنت او شل رکعته تراویح سره د جلساتو او سره د دری رکعت وترو او سره د قرائت د تبارك الذی آه په نیم ساعت کی سره ورسوی، او چې بخوا د ماخستن لمونځ او سنت او وترکوله هغه وخت د اټوله معامله سره خلاصه کړي، او په جلسة الاستراحت کی صرف دری واره سُبُّوحٌ قُدُّوسٌ آه تسبیح وائی وابس. نو ته فکر وکړه چې دغه دری واره تسبیح به په قدر د څلورو رکعتو وی او که څرنګه!

او د اختر په ورځ یه نوجدید کالی اغوستی وی او عطر یه هم لګولی وی او د سرمایه په باب کی ډیر اوږد بیان کوی تاچې د روژی د تراویحو محصول ورته ملاوسی. برین عقل و دانش بباید گریست

چې دا حال د ملایانو دی نو د امیانو څه ګله ده» قَالَ المُصَنِّفُ:

وَسُنَّ خَتْمُ الْقُرْاٰنِ فِيْهَا مَرَّةً فِي الْاَشْهَرِ عَلَى الصَّحِيْحِ

او سنت ګڼړل سوی دی ختم د قرآن مبارك په تراویحو کی یو وار په میاشت کی د روژی په اشهر روایت کی په صحیح مذهب د امام اعظم، قال فی المراقی وهو قول الاکثر، نو په هر رکعت کی لس ایت وائی. یا مثل د هغه په ایاتو طویله وو کی، **مسئله**: یو وار ختم د قرآن خو سنت دی او دوه واره فضیلت دی، او دری واره یعنی په هرو لسو شپو کی یو وار سی افضل دی. کذا فی

پوښتنه: چې په صحیح تاریخ کی د امام اعظم رحمة الله علیه راغلی دی چې ده د روژی په میاشت کی یو شپیته واره ختم د قرآن مبارك کاوه. په هره شپه کی یو ختم چې دیرشی، او په هره ورځ کی یو ختم چې داهم دیرش سی او مجموع شپیته سی، وفی جمیع التراویح یو ختم کاوه چې یو شپیته سی، وروی عنه» چې ده په دوه رکعته کی په داخل کی د بیت الله الشریف یو وار قرآن پاك ختم کړی» واشتهر» چې امام اعظم څلویښت کاله د ماخستن په اوداسه د سحار لمونځ کړي دی، او د امام اعظم د ښمنانو چې په سر کی خطیب بغدادی دی

او د نورو وهابیانو د ندان شکن جوابونه په تفصیل سره کړي دي او په شرح کی د قدوری می هم تفصیلی بیان کړی دی، او که مستاد امام اعظم سره محبت سته او غواړی چې د ده مبارك تاریخچه په تفصیل سره او په صحیح ډول زده کړم، نو د درویش شرح پښتو پر فقه اکبر باندی په غور مطالعه کړه او د خپل زړه تشفی په وکړه»

مسئله: که امام د مسجد دیو قوم ختم القرآن نه کاوه نو ده ته روا ده چې بل مسجد ته ولاړ سي کذا فی فتح القدیر» **فائده**: فی فتح القدیر و التبیین کی داسی راغلی دی: که خلګو قرآن مبارك په تراویح کی تر اخیر د روژی د مخه ختم کړي بعض فقهاء وائی چې دغو خلګو ته مکروه نه ده چې د پاتی شپو تراویح پرین دی، ولی مقصود خو ختم القرآن وو هغه خو سو او اکثر فقهاء وائی چې د پاتی شپو تراویح به کوی او کم سورتونه چې په کښی وائی د ده خوښه ده، درویش وائی چې په دی مذهب باید سړي فتوی ورکړي. ولی بعض خلګ په لس شپی کی ختم القرآن کوی. نو پر اول مذهب شل شپی د روژی مبارکی میاشتی به بیله عبادت د تراویحو پر ده تیرین ی، بلکه بعض قاریان په دریو شپو کی خلګو ته د ختم القرآن تراویح ورکړی

مسئله: که قاري د ختم القرآن تراویح خلګو ته ورکولی. او یو سورت او یا یو ایت یه هیر سو، او ورو سته سورت یا ایت یه وَوایه وروسته وریاد سو نو مستحب دا ده چې هغه متروك سورت یا ایت دی بیرته وَوائی او وروسته هغه وئیلی سورة یا ایت دی بس وَوائی تاچې ترتیب د قرآن برابر سی. ط

فائدة جلیلة: ټوله رکعتونه د تراویح په میاشت کی د روژی که میاشت پوره وی شپږ سوه رکعته دي. او که میاشت کمه وی نو به شل کم شپږ سوه رکعته کیږی نو تر لس ایت دی په هر رکعت کی څه بالاوائی که څه هم میاشت پوره وی» ولی د قرآن مبارك ایتونه تر مجموع هغو ایتو چې ده په کامل میاشت کی په هر رکعت کی لس لس ایته وئیلی دی پر هغو بالا دی شپږ سوه شپیته ایت. **فائدة سنیة**: ټوله ایتونه د قرآن مبارك په نیز د حنیفیانو شپږ سوه او شپږ شپیته ایت دي. ۶۶۶۶ په دی ایتو کی زر ایته د وعد الجنة دی، او زر ایته د وعید بالنار دی، او زر بلمیته امرونه دی، او زر ایته

Maktaba Tul Ishaat.com

د نهی دی، او ز، ایته دقِصودی، او ز، ایته اِخبارات دی، او پنځه سوه ایته حلال اوحرام دی او سل ایته دعاء او تسبیح دي. او شپږ شپیته ناسِخ او منسوخ دی، کذا قال الشعبی نا قِلا عن الکشاف » قَالَ المُصنفؒ «

وَلَومَلَّ القَومُ قَرَءَ بِقَدرِ مَا لَا يُؤَدِّي اِلَى تَنفِيرِهِم فِي المُختَارِ

او که چیري سُتړي کیدل مقتدیان د اوږده قرائت څخه او یا د ختم قران څخه، نو امام دی هغه قدر قرائت وائی چی سبب د دوی د نفرت و نه ګرځي. او یک لخته تراویح پرې نږدی، په مختار مذهب کی، یعنی د متأخرینو، په مراقی کی وائی چی افضله زمونږ په زمانوکی بلکه په ټولو زمانوکی دومره قرائت ویل یکار دی چی سبب دَ تنفیرِ دَقوم او دتقلیل الجماعت و نه ګرځي او په محیط کی وائی چی ډیر والی دَقوم افضل دی په جماعت کی تر تطویل دَقرائت و بیځی، او زاهدیؒ وائی چی په تراویح کی دی لکه د ما ښام په لمانځه کی قصار مفصل سورتونه وائی پس له الحمدلله څخه او مکروه دی تحریمًا کم تر دری ایته قصار او یا یو ایت طویله لِترکِ الواجب،

فَائِدَه: هغه خبره چی ابی الفضل الکرمانیؒ او وبریؒ کړیده چی په اوس زمانه کی چی سری تر الحمدُلله وروسته یو ایت یا دوه ایته ووائی هیڅ کراهت نشته، او په یای کی وئیلی دی: وَمَن لم یکن عالمًا باهل زمانه فهو جاهل، انتهی، ددی روایت په باره کی امام طحطاویؒ وائی چی مراد دیوه ایت څخه یو ایت طویله دی، او د ایتیو څخه دوه ایته متوسط دی، ورنه پر ظاهر داقول ډیر ضعیف دی چی په دی کی تفریط په ترک دَواجب آه قَالَ المُصنفؒ:

وَلَا يَترُكُ الصَّلوٰةَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيهِ وَسَلَّمَ

او نه دی پرېږدی درود پر علیه الصلوٰة والسلام په هره تشهد کی د تراویح که څه هم قوم

فِي كُلِّ تَشَهُّدٍ مِنهَا وَلَو مَلَّ القَومُ عَلَى المُختَارِ

خوابدی کیږی - پر مختار قول باندی،

ولی درود زمونږ په نیز سنت مؤکد دئ. او په نیز د حضرت الامام الشافعیؒ فرض دی فلا یصح الصلوٰة عنده بدونه، نو ترک یه مکروه تحریمی دی، قوله علی المختار ای علی المذهب المختار، ولی چی دا عین کسل دی په عبادت کی، او په مراقی کی وائی چی ند رمته چابک چابک ویل د قران دی هم نه کوی. چی ودی ته ترک د الترتیل وائی لکه بعض ملا چتهک اخند چی کوی، قال الله تعالیٰ: وَرَتِّلِ القُراٰنَ تَرتِيلًا، او تعدیل الارکان دی هم نه پرېږدي یعنی سمه رکوع او سمه ولاړه د رکوع څخه، او ناسته په مابین د دوو سجدو او سمه سجده،

ولی دا کار د هغو امامانو دئ چی د خدایه څخه بیریږی، په حدیث شریف کی راغلی دي چی بدغل هغه سړي دی چی د لمانځه غلا کوی، یعنی په ترک دَتعدیل الارکان وغیره، او دا عین سستی ده په عبادت کی دخدائی: قَالَ اللهُ تَعَالىٰ: وَاِذَا قَامُوا اِلَى الصَّلوٰةِ قَامُوا كُسَالىٰ، او ط وائی چی اَعُوذُ بِالله پټ ویل ځای کی او بسم الله په هر رکعت کی او جلسة الاستراحة دی هم نه پرېږدی کی څه هم کراهت تنزیهی دئ. قَالَ المُصنفؒ:

وَلَا يَترُكُ الثَّنَاءَ وَتَسبِيحَ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ

او نه دی پرېږدی سُبحانک اللّهم په ابتداء کی د هری شفع، او نه دی پرېږدی تسبیحات د رکوع او سجدی: ولی چی دا تسبیحات سنت مؤکد دي په مشهور روایت کی د امام اعظمؒ څخه، او فرض دی په روایت کی د ابو مطیع بلخیؒ چی د امام اعظمؒ شاګرد دئ. او بعض فقهاءؒ وائی واجب دی، نو پرېښول یه مکروه تحریمی دی

پوښتنه، چی درود وئیلو په باب کی دومره قدر کفایت کوی: اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلىٰ مُحَمَّدٍ، ولی چی دا غه قدر په نیزد امام شافعیؒ فرض دی، حتیٰ که میاځ په ناسته کی د فرضی لمانځه یا د سنن رواتب دغه قدر سهوًا ووائی سجده پر لازمیږی، در، او سُبحانک اللّهم به امام هم وائی او مقتدی بی هم وائی او منفرد بی هم وائی،

دَنن صبا شکایت، امامان د تراویح دومره چتک دی چی تکبیر تحریمه وائی دوی بیا په قرائت شروع وکړی نو والله اعلم چی دوی سُبحانک اللّهم وائی او که څنګه!

چو کفر از کعبه برخیزد کجا ماند مسلمانی،

سه که څنګه چې دغه کارونه په دنیا کې کیږي نو په خدائ کارونو کې سعیه کړه او زړه ورته مه تړه»

قال المصنف: **وَلَا يَأْتِي بِالدُّعَاءِ إِنْ مَلَّ الْقَوْمُ** او را تګ دی نه کوی په دعا سره که چیری قوم په ملال کې واقع کیدله، پوهه سه چې مراد د دعاء نه هغه دعاء ده چې وروسته تر درود وئیله کیږي. لکن مراد دلته دعاء طویله ده صرح به الطحطاوی، او اما مانو دا فهمولې ده چې اَللّٰهُمَّ رَبَّنَا دی هم نه وائي بس فقط چې لنډ درود به ووایه سلام دی ګرځوی لکن دا فهم غلط دی» ولې چې مصنف په مراقی کې وائي: وَلَا يترک بالمرة» او دعا دی نه پریږدی یک لخته بلکه یوه تر ټولو لنډه دعا مثلاً اَللّٰهُمَّ اغفرلنا چې ووائی هم سنت پرځای کیږی» در، ط، م، قال المصنف:

وَلَا تَقْضِى التَّرَاوِيحَ بِفَوَاتِهَا مُنْفَرِدًا وَلَا بِجَمَاعَةٍ

او قضا نه او ره کیږي د تراویح چې قضاء سې نه یوائې او نه په جماعت سره، او که څوک قضاء راوړی هغه نفل او مستحب دی تراویح نه دی، د عدم قضاء دلیل په دادی چې تراویح تینګ سنت نه دی تر سنتو د ماښام یا ماخستن او د هغو قضاء په فوات کې نشته، نو تراویح قضاء په طریق اولی نشته، ولې قضاء د فرائضو او واجباتو خاصه ده، **پوهه سه** چې تراویح د سنتو څخه دوخت دی یعنی شپې د روژې د میاشتې، او د سنتو څخه د روژې نیولو نه دی، قال علیه الصلوٰة والسلام: وسُنَّةٌ لكم قيام ليله، حتی چې مریض او مسافر چې روژه یې خوړلې وي یا حائض او نفساء، چې پاکه سی شپې ته او یا کافر مسلمان سی د شپې تراویح به کوي. وفي القنية» لَوْتَرَكُوا الجماعة فِي الْفَرْضِ لَيْسَ لَهُمْ اَنْ يُصَلُّوا التراويح بجماعة لانها تبع له آه فافهم»

اللهم اغفر لمولفه ولكاتبه ولمن سعى فيه ولجميع امة النبي صلى الله عليه وسلم
كتبه بقلمه احقر الوراء فضل الحق حقاني بكوئته بلوجستان، ۲۵-۷-۲۰۰۱ء

بَابُ الصَّلٰوةِ فِي الْكَعْبَةِ

باب دی په بیان کې د لمانځه په کعبه شریفه کې. یعنی په داخل کې د بیت الله شریف او د باندی او سر بیره په بام د بیت الله شریف **فَائِدَهْ**: په ډیرو شروحو کې د فقه د کتابو داسی راغلی چې کتاب هغه مبحث ته وائي چې مشتمل پر ډیرو بابو وي. او باب هغه مبحث ته وائي چې په ده کې ډیر فصلونه وي. او فصل هغه مسائل متعدده دي چې دیوی نوعې څخه وي د رویش وائي چې دا تفصیل شاید پر غالب بناء وي. ورته دا فرق په باب الصلوٰة فی الکعبه» باب صلوٰة المسافر وغیره سره منقوض دی، ولې چې دی بابو کې هیڅ فصل نشته» نو صحیح فرق دا دی چې هغه مباحث چې اجناس مختلفه په کښې موجود وي. کتاب وائي لکه نور الایضاح چې کتاب دئ

او که مباحث د هغه د ما قبل او ما بعد څخه جلاوی هغه ته باب وائي. که فصول په کښې وی او که نه لکه باب الصلوٰة فی الکعبه وغیره، او هغه مباحث چې ډیری مسئلی وی او متحدة النوع وي هغه ته فصل وائي، کما مر من الفصول فی هذا الکتاب» فافهم واحفظ فانه سانح جدیده **فَائِدَهْ**: پوهه سه چې دغه معروف شریف خونې ته کعبه وائي: بعض علماء په وجه د تسمیه چار کنجه والی وائي. او بعض علماء وائي وجه د تسمیه ډیر جګ والی دی. ومنه الکاعب لمن ارتفع ثدیها، او دغه خونه بیت الله هم بولي. او اضافت د بیام د تشریف د مضاف ده، او حقیقت دا دی بیت عبادة الله» او بیت الحرام یې هم بولي، د دی سببه چې قتل و قتال په دی کې حرام دی، او بیت عتیق یې هم بولي. یعنی قدیمه خونه قال الله تعالی: اِنَّ اَوَّلَ بَيْتٍ وُّضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِيْ بِبَكَّةَ» الاية، او قبله یې هم بولي ولې چې مسلمانان د لمانځه په وخت کې دي ته مخامخ دریږي. **پوهه سه** چې په لمانځه کې استقبال د قبلی ته شرط دی، نو د استقبال القبله معنا څه ده! په عنایه کې وائي چې شرط د لمانځه مخامخ والی دی ویو جزء ته د کعبې شریفې یا هواء ته د هغې

Maktaba Tul Ishaat.com

مبارکی خونی ترآسمان پوری. اوخودی دا محدوده خونه فقط قبله نه ده، ولې چې صحابه کرامو په زمانه کی د مؤقت حکومت دعبد الله بن الزبیر چې دا خونه ونړوله د نوی بناء دپاره لمونځ یې وهواء ته دکعبې کاوه، اوهیڅ چا دا نقل نه دی کړی چې دخولې مبارکی پرځای یوه پرده واچول سوه. اوبله خبره داده چې څوك چې پر جبل ابی قبیس لمونځ کوی نوخو هیڅ جزء دکعبې د ده ومخته نه دی فقط هواء دکعبې د ده ومخته ده او اجماعاً یې لمونځ روادی. قال المصنف:

صَحَّ فَرْضٌ وَنَفْلٌ فِيهَا صحیح دی فرضی لمونځ اونفلی لمونځ په دننه کی دکعبې وهره خواته چې مخ وي: لقوله تعالیٰ فی قصة بناء ابراهیم وابنه اسمٰعیل علیهما الصلوٰة البیت الشریف: اَنْ طَهِّرَا بَيْتِيَ لِلطَّآئِفِيْنَ وَالْعَاكِفِيْنَ وَالرُّكَّعِ السُّجُوْدِ الآیة، مراد د رکع السجود څخه لمونځ کوونکی دی، نو دې امر الهی څخه دا ظاهره سوه چې لمونځ په کښی روادی. قال

وَكَذَا فَوْقَهَا وَإِنْ لَمْ يَتَّخِذْ سُتْرَةً اودغه رنګه لمونځ روا دی پر بام دکعبې شریفې که څه هم لمونځ کوونکی د مخ وخواته پرده نه وي اچولی، ولې چې په دی صورت کی که خونه لاندی پاته سوه. هوا خویې ترآسمان پوری قبله ده نو استقبال القبله خونه پاتې ږي.

قال المصنف لَكِنَّهُ مَكْرُوْهٌ لِإِسَاءَةِ الْأَدَبِ بِاسْتِعْلَائِهِ عَلَيْهَا لکن دغه کار مکروه دی په سبب ده بې ادبی یعنی ظاهراً لان حقیقة سوء الادب بها کفر، ځکه دکعبې سره په لوړ والی کی برابری ندي، په حدیث کی د بلال رضی الله عنه نه راغلی دی چې آنحضرت صلی الله علیه وسلم په خونه دکعبې کی داخل سو. اولمونځ یې په کښی وکړ، اودا لمونځ دعلیه الصلوٰة والسلام که څه هم نفل وه، لکن د نفلو او فرضو په شرط وائی کی د استقبال القبلة فرق نسته کی څه هم په ارکانو کی فرق سته،

اللهم اغفر لمؤلفه ولکاتبه آمین

قال المصنف وَمَنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ إِلَىٰ غَيْرِ وَجْهِ إِمَامِهِ فِيهَا أَوْ فَوْقَهَا اوکه چا وګرځوله شاه خپله وما سواته دمخ دامام په دننه کی دکعبې شریفې اویا پر بام دهغې صح وَإِنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ إِلَىٰ وَجْهِ إِمَامِهِ لَا يَصِحُّ نو اقتداء یې پسی صحیح ده اوکه شا و مخته دامام و اقتداء یې نه ده پسی روا،

پوهسه، چې مصنف په مراقی کی په شرح کی ددی قول: وَمَنْ جَعَلَ ظَهْرَهُ آه دا صورتونه بیان کړي دی ۱ چې د مقتدی مخ وشاته دامام وي، ۲ دمقتدی مخ وبغل ته دامام وي، ۳ دمقتدی شا وبغل ته دامام وي، ۴ شاه دمقتدی وشاته دامام وي، ۵ بغل دمقتدی و بغل ته دامام وي، ۶ بغل دمقتدی وبغل ته دامام وي په داسی حال کی چې مقتدی متوجه وي وغیرته دجهت دامام، اودا قید ددی دپاره دی که په جهت کی دامام وي خو په طریق اولی یې اقتداء پسی صحیح ده، ۷ یا مخ دمقتدی ومخته دامام وو، په دی اوو صورتو کی اقتداء په دغه امام پسی صحیح ده، مګرکی مخ ومخته دامام وو نومکروه تحریمی دی، ولې چې مشابهت دعبادة الصور سره لازمیږی،

اودا هلته کراهت دی که په مابین کی د مقتدی اوامام پرده وغیره نه وي، اوکه پرده وغیره وه بیا کراهت نسته، ولې چې تشبه دعبادة الصور سره نه لازمیږی، اوپه هغه صورت چې دمقتدی شا ومخته دامام وي اقتداء یې نه ده پسی صحیح، ولې چې په دی صورت کی مقتدی ترامام د مخه ولاړ دی، اوپه هغه اوو صورتو کی که څه هم مقتدی دیوال ته دکعبې شریفې ترامام نږدی ولاړ وي لمونځ په دی سبب صحیح دی چې تقدم پر امام چې ناروا دی هلته دی چې جهت یو وي، اوپه هغو صورتو کی خو جهت مختلف دی، قال المصنف

وَصَحَّ الْاِقْتِدَاءُ لِمَنْ كَانَ خَارِجَهَا بِإِمَامٍ فِيهَا وَالْبَابُ مَفْتُوحٌ اوصحیح ده اقتداء دهغه چا چې دباندی ترخونې دکعبې ولاړ وي په هغه امام پسی چې دننه یې خونې

کی ولاړ وی اود روازه دخونی خلاصه وي، **پوهه سه**: چې دا حکم عام دی که دامام سره په ... ونه کی نور مقتد یان ولاړ وی اوکه نه! ولې چې دا داسی دی لکه په نورو مسجدو کی چې امام یوازی په محراب کی ولاړ وي. **فائده**: دا خبره چې دروازه دې خلاصه وی اتفاق ده، ولی که مقتدی خارج البیت تکبیر وپه وغیره دامام داخل البیت اوریدیا اقتداء پسی صحیح ده که څه هم دروازه تړلی وي. قَالَ المُصنفُ:

وَاِنْ تَحَلَّقُوْا حَوْلَهَا وَالْاِمَامُ خَارِجَهَا صَحَّ اِلَّا لِمَنْ كَانَ

او که شاوخوا خلګ پر کعبه شریفه راوګرځید له، او امام هم دبا ندی ولاړ وو دټولو اقتداء پسی رواده مګر د هغه چا اقتداء نه ده

اَقْرَبُ اِلَيْهَا فِىْ جِهَةِ اِمَامِهِ

پسی رواچې و کعبی شریفی ته نږدی وي ترامام په جهت کد امام، ولې هغه نږ امام د مخ ولاړدی، او په نورو جهتوکی که څه هم بعض مقتدیان وه دیوال دکعبی شریفی نږدی وي ترامام لمونځ او اقتداء یپه رواده، ولې چې تقدم اوتأخر په نیزد اتحاد الجهة معلومیږی. **مسئله**: خلګ چې پر کعبه شریفه راتاو یې ده هغه چا لمونځ نه دئ صحیح چې یوجزء دکعبی دده پر مخ نه وي برابر که څه هم پر جهت دکعبی وي، ولې چې په اتفاق دټولو مذهبو خولك چې لیدو نکی دکعبی وي هغه لره شرط دصحت د لمانځه برابر والی دی پر عین دکعبی او ده جهت اصابت په کافی نه دئ. حاصل دا دی چې په صورت مذکوره کی دمتن که یوه چا مخ وديوال له وی او دبل مخ پر کنج دکعبی برابر وي او دبل مخ وبل دیوال ته وي یا بل کنج ته وي وهکذا دټولو لمونځ روا دی او اقتداء یپه په امام پسی صحیح ده» الا لمن كان آه

مسئله: چې امام په دننه کی دخونی دکعبی وی او نور خوك نه وي ورسره ولاړ لمونځ مکروه دی په دوه سببه یوخو امام پر لوړ ځای ولاړدی، ولې چې تخت دخونی دکعبی پرده باندی محکه لوړدی، او بل دا چې امام یوازی ولاړ دی لکه په نورو مساجدو کی چې امام په داخل کی د محراب یوازی ولاړ وی» کذا قال الامام الطحطاوی»

بَابُ صَلٰوةِ الْمُسَافِرِ

دا باب دی په بیان کی د لمانځه دمسافر، **پوهه سه**: چې اضافت د صلاة ومسافر ته اضافت د فعل ده وفاعل ته او په بل عبارت اضافت دحال دی ومحل ته، او هغه خبره چې مراقی ریاته کړی ده چې دا اضافت دشی وشرط ته، ط، وائی چې شرط خو سفردی مسافر خونه دی» دروبیش وائی که مراد دمراقی مسافر من حیث هومسافر وی نو اعتراض د ط نه پر وارديږی» فافهم **پوهه سه**: چې سفر په لغت کی مطلق قطع دیوی مسافه ده، که ډیره وی او که لږ، او په شرع کی قطع دمسافت مقدره یعنی معلومه په مخصوص تګ سره چې مصنف یه اوس بیانوی» قَالَ المُصنفُ:

اَقَلُّ مُدَّةِ سَفَرٍ تَتَغَيَّرُ بِهِ الْاَحْكَامُ

کمه مده دسفر چې په هغه سره احکام دشرعی بدلیږی لکه قصر د لمانځه وجوبا زمونږ په نیز او یا جواز دخوړلو د روژی الی غیر ذالک: قال الامام الطحطاوی چې سفر دری قسمه دی: یو سفر دی د طاعت دپاره لکه سفر دحج، دجهاد وغیر ذالك» او بل سفر مباح دی لکه د تجارت دپاره او یا سفر د سیاحت دپاره وغیر ذالك، او بل سفر دی د معصیت دپاره لکه سفر د قطاع الطریق، (ویا سفر د چا دوژلو دپاره وغیر ذالك» نو دوه اول خو سبب د رخصت دی په اتفاق د ائمه اربعه وو، او دریم زمونږ حنیفیانو او امام اوزاعی دی دده په نیز او د داؤد او امام مزنی په نیز هم، او د بعض مالکیانو په نیز هم سبب د رخصت دئ» او امام شافعی او امام احمد، او یو قول د مالک وائی چې سفر د معصیت سبب د رخصت نه دئ، دلائل ددواړو ډلو په نورالایضاح اوپه فتاوو کی د فقهی شریفی وګوره»

فائده: مسافر د مقیم نه په دغو احکامو کی جلادی ۱: چې پر مسافر لازم دی قصر د لمانځه یعنی څلور رکعته فرضی لمونځ په دوه رکعته کوی، ۲: ومسافرته مباح دی خوړلك

Maktaba Tul Ishaat.com

د فرضي روژې ۳ مدة دمسح دموزو دمسافر دپاره درې ورځې ده، ۴ اوفرضيت دصلوٰة الجمعة څندې ساقط دی، ۵ اووجوب داخترو د لمونځو، اووجوب داضحيه هم څندې ساقط دی»

بنهانه فائده

پوهسه: چې رخصت ضد دعزيمت دی، عزيمت هغه فعل ته وائي چې مشروع عيثايه په سبب دعذر نه وي، وهومعنى قولهم ما تقرر على الامر الاول. لکه پنځه لمونځونه، روژه وغيره، اورخصت هغه کارته وائي چې دسختۍ نه اسانۍ ته رانقل سوی وي په سبب ديو عذر، اورخصت دوه قسمه دی يو رخصت حقيقي دی چې رخصت ترفيه هم بولي، اى تخفيف، هغه هغه رخصت دی چې عزيمت يه هم مشروع وي اوموجب د ثواب هم وي لکن په سبب د بندګۍ دعجز اود عذر له کبله هغه سختۍ چې په عزيمت کې وه په يسر او ترفيه سره د شارع مهربان دخوا بدله سوی وي، لکه په ژبه کلمه دکفر ويل دهغه چاچې بل سړي دقتل پيش رو ورکړی وي، نودغه سړي په سبب د دغه عذر اجراء د کلمة الکفر روا ده. په شرط د دی چې زړه يې مطمئن بالايمان وي،

اوکه دی په عزيمت عمل وکړي اوهغه بل سړي مړ کړي شهيد دی. اويا لکه خوړل د روژې په سفر کې چې ده ته داسانۍ دپاره روژه خوړل روا دی، اوکه مسافر په عزيمت عمل وکړي اوسره د مشقت روژه و نيسي ثواب يه پېږدی» اوبل رخصت مجازي دی يعنې چې مجازًا يه رخصت بولي، دا هغه رخصت ته وائي چې عزيمت يه بيخي مشروع نه وي اونه موجب د ثواب وي، لکه قصر لمانځه رباعي دپاره د مسافر نو رخصت يه په دی بولي چې دوه رکعته لمونځ نظر ومقيم ته کم سو، لکن په حقيقت د غه دوه رکعته د مسافر دپاره عزيمت دی حتىٰ چې مسافر اختيار نه لري چې لمونځ پوره وکړي بلکه عمل بالرخصت پر لازم دئ حتىٰ که دی پوره پوره لمونځ وکړي هيڅ ثواب يکښې نسته، ولې چې ثواب په هغه کار کې دی چې بنده په امر سوی وي. نه په اعداد وکې د رکعتو، اود مسافر دوه رکعته تر وله مأمور به دی، حتىٰ چې د مقيم څلور رکعته اود مسافر دوه رکعته فرق نه سره لري په ثواب کې،

اويا يو سړي ته بل پيش رود مرګ ورکړي چې ته به شراب څښې، نو دی بر خواه مخواه شراب څښي، ولې چې شراب خو په ابتداء کې داسلام رواوه نو که دغه سړي شراب نه وڅښي اوهغه بل سړي دی مړ کړي، دی بخپلو وژلو ګناه کاردی، هکذا اصح الفقهاء للمذهب الحنيفي

پوهسه: چې رخصت ترفيه کاهې په مابين کې د دوو کارو وي. چې يو يه تر بل آسان وي. لکه دسړي چې موزې په پښو وي، نو ده ته اختيار دی که موزه نه کاږي او مسح پر کوي» چې دا آسانه دی، اوکه موزې کاږي اوپښې پرې مينځي چې دا کار ګران دئ. اودا غاړ نګه پوهسه چې که مسافر څلور رکعته لمونځ وکړي ثواب خو يه نسته کما مرّ بلکه ګناه کاردی په سبب د دی چې د لمانځه سلام يه وځنډاوه، اوپه دی عقيده هم ګناه کاردی چې دده په عقيده دا دوه رکعته زائد هم فرض دي،

قال المصنفؒ **مَسِيرَةَ ثَلٰثَةِ اَيَّامٍ مِنْ اَقْصَرِ اَيَّامِ السَّنَةِ** تګ دی د درو ورځو د هغه لنډو ورځو د کال چې ورځې دژمي دي. قال فى المراقي چې مصنفؒ تقدير په ورځو وکړي، او تقدير يه په مراحلو او يا په فراسخو يه نه وکړي وهوالاصح، اود حضرت الامام الاعظمؒ څخه داسې روايت هم راغلی دی چې سفر مقدر دی په درو مزلو سره، صاحب هدايه وائي چې دا روايت قريب اول ته دئ، ولې چې عادت د مسافرو دادی چې يوه مرحله په يوه ورځ قطع کوي، لکن صاحب البحر الرائقؒ وائي چې زه تعجب کوم وهغه فقهاؤ ته د مذهب حنيفي چې دوی پر خلاف د نص صريح د صاحب المذهب خپل فتوٰی ورکوی چې هغه تقدير په درو مزلو ؤو، لکن په قول د صاحب الهدايه دا تعجب د صاحب البحر دفع سو کما مرّ، اوبعض فقهاء دمذهب حنيفي مدت د سفر په پنځلس فرسخه سره اندازه کړيده. لکن درو يش وائي چې اندازه د فرسخ چې دوولس زره ګامه ده يا زراع دی وعمومي مسافرو ته ډېره ګرانه ده ولهذا لم يفتى به احدٌ ممن يعتد به، قال المصنفؒ

بِسَيْرٍ وَسَطٍ په ميانه تګ سره يعنې چې نه ډېر چابک وي اونه ډېر کراروي. لکن پوهسه چې تګ دورځې معتبر دی ولې چې شپه وخت داستراحت دئ،

مسئله: که یو سړی خارق العادة چابك وي او د بل چا د سیر وسط د درو ورځو منزل دی په یوه ورځ قطع کړی قصر ورته روا دی، ط او صاحب التبیین وائی چی د میانه تګ اندازه په غلبة الظن سره معلومیږی یقین شرط نه دی لمافیه من الحرج الکلی، قال اللهٌ

مَعَ الْاِسْتِرَاحَاتِ

سره د استراحت کولو، نو مسافر د پاره د خوړلو او لمونځو او قضائی حاجت د پاره کښېنستې کیدای شي، **پوښتنه**: چې اکثر له حکم د کل دی نو که مسافر اکثر حصه د لنډی ورځی په منزله تیره کړي او بیا ورته واره وي، او دوهم ورځ هم دغسی وکړی او دریمه ورځ هم هغه مسافر دی قصر ورته روا دی ط **فائده**: زوال اکثره وخت د نهار شرعی دی چی د سپیدو څخه شروع کیږی، تر لرلو یدو پوری چی د دغه وخت د نصف النهار د ریاضی دی» قال المصنفٌ:

وَالْوَسَطُ سَيْرُ الْاِبِلِ وَمَشْىُ الْاَقْدَامِ فِي الْبَرِّ وَفِي الْجِبَالِ

او میانه تګ دی تګ دی د اوبن یعنی په قافله کی نه چابك مهاری اوبن **بِمَا يُنَاسِبُه** لکه د بعض خانانو، او بل تګ دی د پښو په صحراکی، او په غره کی چی سفر او تګ په کښی سخت دی او لوړی او ژوری لري، په موافق د هغه غره معتبر دی، حاصل دا چی په غره کی تګ د اوبن یا د پیاده سړي په تګ لږ مسافت قطع کیږي، تر اواري ځمکی نو د هغه دالږ والی اعتبار نه لري بلکه دی مسافر ګڼل کیږی، کی څه هم مسافت د تګ یه په غره کی تر مسافت د اواری ځمکی لږ وي» قال المصنفٌ:

وَفِي الْبَحْرِ اِعْتِدَالُ الرِّيحِ

او په دریاب کی اعتدل د باد ته اعتبار دی. او دا مذهب دی مفتیٰ به کما فی المراقی، نو که سړی په دریاب کی یعنی په کښتی کی اکثر دورځی سره د اعتدال ده هوا منزل وکړی نو دا لکه تهوله ورځ منزل معتبر دی کی څه هم مسافت تر اواری ځمکی کمه وی»

اللهم اغفرلمؤلفه ولکاتبه امین

قال المصنفٌ **فَيَقْتَصِرُ الْفَرْضَ الرُّبَاعِي** نو مسافر دی قصر کوی د فرضی لمانځه چی څلور رکعت وي، **پوښتنه**: چې مراد د فرض څخه فرض عملی دی، یعنی چی فرضیت یې په یقین سره ثابت وي، نو په دی قید سره وتر خارج سوه. ولی وتر فرض عملی دی کما مرّ، او په قید سره د رباعی د ماښام لمونځ او د سهار لمونځ خارج سوه، ولی چی په هغو کی قصر نشته، او په قید د فرض سره سنن خارج سوه که څه هم رباعی وي. نو که مسافر څلور رکعتی سنت کول قصر به نه کوي،

پوښتنه: آیا مسافر به سنن راتبه کوي او که نه؛ **جواب**: اعدل د مذهبو او مختاره مذهب دا دی که مسافر په حال کی د ارام ولو یو ځای وو، او په امن کی هم وو، نو سنن راتبه دی ادا کوي- او که په حال کی د تګ وو او یا د خوف وو سنن دی پرېږدي، او بعض فقهاء وائی چی مطلقاً کول د سننو افضل دی، تقربًا الی الله تعالیٰ: وقیل الافضل مطلقًا ترك د سنتو دی. د رخصت الهی په واسطه په فرضو کی، او بعض علماء وائی چی سنت د ماښام او د سهار دی نه پرېږدی،

درویش وائی چی د بعض په قول کی افراط دی د سنتو په باره کی، او د قیل په مذهب کی تفریط د سنتو په باب کی: وخیر الامور التوسط بین الافراط و التفریط وهو المذهب المختار المذکور اولًا، **فائده**: په حدیث صحیح کی چی روایت یې عائشه رضی الله تعالیٰ عنها کوي دا سی راغلی دي، فرضت الصلوٰة رکعتین رکعتین فزیدت فی الحضر واقرت فی السفر» لمونځونه په اول کی دوه دوه رکعته وو روسته په کور کی یعنی چی مسافر نه وی بالا بود و وسو یعنی د دوو رکعتو په ماپښین او ماخستن او مازدیګر کی» او د سفر لمونځونه د دغو درو لمونځو په سفر کی په هغه دوه رکعته پاته سوه، عینی په شرح کی د بخاری وائی چی دا زیادت په ورځ د سه شنبه ۱۲ د ربیع الاول وروسته تر راتګ د علیه السلام مدینی منوری ته یوه میاشت، مراقی وائی وائی الا المغرب یعنی د ماښام لمونځ د سره څخه هم دری رکعته وو او بیا نیا توب هم نه په کښی وسو. او د سهار په لمانځه کی هم بالا بود ونه سو. ولی چی د سهار قرائت اوږد وو؛ او د جمعې په لمانځه کی هم بالا بود ونه سو، ولی چی په هغه کی دوی خطبی سته چی په

Maktaba Tul Ishaat.com

ځای کې د دوو رکعتو ولاړ دي، درولیش وائي چې داحدیث نص دی په مذهب کې د حنفیانو یعنې چې دوه رکعته کول دَدغو درو لمونځو لازم دي، ولې چې داغه دوه رکعته په فرض الوقت کې دي چې سفر دی نو اتمام په خلاف دی د مَآ اُمِرَ بِهِ المُسَافِرُ، **پوه سه**: چې بعض اهل المذهب د دغو درو لمونځو پوره کول عزیمت بُولي او دوه یې رخصت بولي وهذ المذهب یخالف الحدیث المذکور، قَالَ المُصَنِّفُ:

مَنْ نَوَى السَّفَرَ وَلَوْكَانَ عَاصِيًا بِسَفَرِهٖ

اود اقصر به هغه سړی کوي چې نیت یې کړي وی د سفر یعنې قصد جازم بیله تَرَدُّده، او قصد یې هم تر لا ځه د مخ وی که څه هم د اسړی گناه کاروی په دی سفر کې لکه عَبد اٰبق د مولی ځنه یا سفرد قاطع الطریق وغیر ذالک، وفیه رد علی من لم یجوز القصر للعاصی بالسفر کما مر، قَالَ المُصَنِّفُ:

اِذَا جَاوَزَ بُيُوْتَ مَقَامِهٖ

هغه کله چې دا مسافر تیر سی تر کورو د هغه ځای چې دی په کښی او سیږی که څه هم خیمې وی لکن شرط تیریده دده دی په هغه طرف کې چې دی دکوم وَوَتی که څه هم د بل طرف سره دده کلی برابر وی یعنې تر هغه بل طرف نه وی تیر سوی، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَجَاوَزَ اَيْضًا مَا اتَّصَلَ بِهٖ مِنْ فِنَائِهٖ

او داغه رنگه شرط دی تیریده دده تر هغو ځایو چې جوت وی دده په ځای پوری چې فناء دده د مقام بَلل کیږی، لکه پر بنار اگر ځیدَلی کورونه چې د ربض المصریه بُولي. ولې چې هغه په حکم کې د مصر دی. او دغه رنگه تیریده غواړی تر هغو قریو چې په ربض المصر پوری متصلې وي فی الصحیح، م،

مسئله په قصر کې دَ لا ځه دا شرط نه دی چې مسافر به خپل کورونه نه وینې، د علی بن ربیعہ ځنه روایت دی چې مونږ په سفر وَوَتلو سره د علی رضی اللهُ عنه د کوفی ځنه او مونږ لیدَلی د کوفی آبادی او سرایونه چې د لا ځه وخت سو حضرت علی رضی الله تعالیٰ عنه دوه رکعته لمونځ وکړی،

اَللّٰهُمَّ اغفر لمؤلفه وَلِکاتبه اٰمِین،

قَالَ المُصَنِّفُ وَاِنْ اِنْفَصَلَ الفِنَاءُ بِمَزْرَعَةٍ اَوْقَدْرِ غَلْوَةٍ لَا يُشْتَرَطُ مُجَاوَزَتُهٗ

او که چیری جلاوه فناء د بنار یا د قریه ځنه په کښت سره یعنې په مابین کې د بنار او د فنا کښت وُو او یا فنا جلاوه د بنار ځنه په خالی ځمکه سره چې مقدار یې یوه غلوه وه او د غلوی مقدار دری سوه گامه دی تر څلورسوه پوری نو شرط نه دی تیریده تر هغه فناء د پاره د اجراء د احکامو د سفر درولیش وائي چې په نهایه کې او په فتاوی الولوالجیة، او په تجنیس کې او په مزید کې وائي چې مسافر دی قصر کوی چې صرف تر آبادیو د بنار تیر سی او نه ده ملحقه فناء د بنار په بنار پوری په حق کې د سفر،

سوال: په فقه شریفه کې وائي چې په فناء د بنار وکی د جمعې لمونځ روادی یعنې فناء د بنار حکم د بنار لري. او مسافر ته قصر په فناء کې، د غو نو مورو کتابو رواکړیده. د دی مطلب دا چې فناء حکم د بنار نه لري، فما الفرق بین صلوة الجمعة والسفر، **جواب**: فناء د بنار حکم لري په منافعو کې د بنار، او دا بنکاره خبره ده چې د جمعې لمونځ د مصالحو ځنه د بنار دی نو د دی سببه چې د جمعې لمونځ په فنا المصر کې روادی، او قصر د لا ځه خو د منافعو ځنه د بنار نه دي، نو د دی کبله فناء المصر د مصر حکم نه لري په باب د قصر د لا ځه، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَالفِنَاءُ المَكَانُ المُعَدُّ لِمَصَالِحِ البَلَدِ كَرَكْضِ الدَّوَابِّ وَدَفْنِ المَوْتٰى

او فناء د بنار هغه ځای ته وائي چې آراسته وی د پاره د مصالحو د بنار لکه ځغلول د آسانو یا خرو یا سیکلانو وغیره، او د پاره د دفن د مړو، وزاد فی المَرَاقی او القاء التراب، یعنې یا د بنار خاوری او کچری هلته غورځول کیږی.

مسئله: باغونه که د خرماوی او که د انگورو مثلاً که څه هم متصل په بنار پوری وي، په حکم کې د بنار نه دي، که څه هم مالکان د دغو باغو یخپلو باغو کې اکثر د کال یا تو له کال او سیږی او او سیده د محافظینو د باغو یا د کښت کوو نکو په هغه ځای کې هیڅ اعتبار نه لري، په اتفاق، معنا چې قصر د مسافر په دغو باغو کې رَوَادی په قول د نامورو کتابو، او دا دي

کتابو د حکم تائید هغه حدیث شریف هم چې آنحضرت صَلی الله عَلیه وسلم چې د مَدینې منورې څخه پــه سَفروَوَتی په ذو الحلیفه کی قصر دَلمانځه وکړی، اوذو الحلیفه اتفاقًا د فناء څخه د مدینې منورې دَه: قَالَ المُصَنِّفُ:

وَيُشْتَرَطُ لِصِحَّةِ نِيَّةِ السَّفَرِ ثَلَاثَةُ أَشْيَاءَ اَلْاِسْتِقْلَالُ

او شرط دی د پاره د صحیح والی دَ نیت د سَفردرې شیَان، اول چې دی بـه مستقل وي په حکمِ

بِالْحُكْمِ وَالْبُلُوْغُ وَعَدَمُ نُقْصَانِ مُدَّةِ السَّفَرِ مِنْ ثَلٰثَةِ أَيَّامٍ

دخپل ځان، یعنې چې دلته سَفرد ی، مطلب دا چې تابع دبـل چابــه نه کوي لکه مَاینه دَمیړه چې تابع ده یا مَرَئۍ چې دبادار تـابع دَئ. دوهــم شرط بلوغ یعنې چې کچنی نابالغه بـه نه وي دریـم دا چې نه به وی کمه مده دهغه سَفرچې ده یَه نیت کړی وی نزدرېو ورځو» قَالَ

فَلَا يَقْصُرُ مَنْ لَمْ يُجَاوِزْ عُمْرَانَ مَقَامِهِ أَوْجَاوَزَ وَكَانَ صَبِيًّا

نو قصر به نه کوي هغه څوك چې تر ابادیو دخپل ځای نه وی تیرسَوی. دا تفریع ده پر هغه خبره چې

أَوْتَابِعًا لَمْ يَنْوِمَتْبُوْعُهُ السَّفَرَ كَالْمَرْأَةِ مَعَ زَوْجِهَا وَ

مصنف ورانـدی کړې وه یعنی قوله اذا جَاوَزبیوت» اویا خو تر عمران تیرسوی وی لکن کچنی نابالغ وي

اَلْعَبْدُ مَعَ مَوْلَاهُ وَالْجُنْدِيُّ مَعَ أَمِيْرِهِ أَوْنَاوِيًا دُوْنَ الثَّلَاثَةِ

دا پر اشتراط البلوغ تفریع ده، اویا تابع وي دبل چې متبُوع یې سَفرنیت نه وی کړې لکه ښځه سره د میړه او مریَئ سره دَبادار. اوفوجی سره د امیره، دا حکم پر هغه خبره تفریع دَئ الاستقلال با الحکم» اویا یې نیت کړی وی دسَفرکم تر درېو ورځو، دا حکم تفریع دَی پر هغه خبرې وعدم نقصان آه»

مسئله: هغه ښځه تابع دمیړه دَه چې وَلوَر معجل ورته سپـدلی وی، اوکه مهر معجل نه وی ورکړې هغه تابع د میړه نه دَه، کی څه هم وطن ورسره کړی وي. ولمحې وَدَغې ښځې ته روا ده چې میړه دبل وار وطیو څخه منع کړې، او دکوره ووزی دپاره دطلب دمهر معجل نه ولاړه سی په نیزد امام اعظمؒ رحمة الله عَلیه، او یارانؓ وائی چې ما ینی ته دَدَغو کار واجازه نسته»م، ط، در»

مسئله: مَرَئۍ چې مکاتب وي چونکه هغه حُردی یَدًا. نو هغه تابع دبادار نه دی» او مدبر او ام الولد تابع دی، او فوجې هلته تبع د امیر دی چې تنخواه یا د امیر دخواوی او یا د بیت المال دَخواوی، زیلعی، اونهر **مسئله**: مزدور دمیاشتی یا دکال تبع دی د مستاجر او شاگرد تبع دی د استاذ، او مُکرَهٌ» په صیغه د اسم مفعول تبع دی د مُکرِهٌ په صیغه د اسم فاعِل.

پوښتنه: څوك چې تر درېو ورځو کم د سَفرنیت وکړي هغه مسافرشرعًا نه دی په باره کی دَقصر الصلوٰة. او پــه باره کی دَترك دجمعې دلمانځه او دجماعَت او دَتیمم بچپل شرط سره او د لمانځه پردا به بانـدی مسافر دی شرعًا»، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَتُعْتَبَرُ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ وَالسَّفَرِ مِنَ الْأَصْلِ دُوْنَ التَّبَعِ

او معتبر دی نیت دَ اقامت او سفرد اصل دخوا چې متبوع دَئ، نه د تبع که چیرې نیت د

إِنْ عُلِمَ نِيَّةُ الْمَتْبُوْعِ فِي الْأَصَحِّ

متبوع ودَه ته معلوم وو په اصح روایت کی، نو حاصِل دا چې پر تابع باندی په نیت کولو د متبوع د اقامَت، اتمام دَلمانځه نه دی لازم تر هغو پورې چې نیت د اقامَت د متبوع خبر نه ی، **مسئله**: پر تابع لازمه ده چې د متبوع څخه سوال وکړي چې هغه یو ځای واړوی چې تا نیت د اقامت کړی دی او که نه! اعزاز، ط قَالَ»

وَالْقَصْرُ عَزِيْمَةٌ عِنْدَنَا

او قصر د لمانځه لازم دی پر مسافر زموږ په نیز خلافًا للشافعیؒ»

Maktaba Tul Ishaat.com

یوملک ته ورسیده اود دوئ دا یقین وو چې ۱۵ ورځې مونږ ته اجازه دخروج را اکړه کېږی. نو دوی به لمونځ پوره کوی ولې چې دوی حکمًا نیت داقامت کړې دی،،

فَـائِـدَه: نیت داقامت عام دی که تر لمانځه دمخه وي اوکه د لمانځه په اول کې وی اوکې په مابَین کې وی اوکې په اخیر کې وي او عام دی لمونځ کوونکی چې نیت داقامت په لمانځه کې کوي که منفرد وی اوکه مقتدی وی اوکه مُدرك داول د لمانځه وي اوکه لعض را کعتونه ځندی تیر سوي وي، قوله بَبلدةٍ اَوقریَةٍ، دا دوه چې مصنف ذکر کړه ولې چې نیت داقامت بیله دَغو دوو بل ځای نه دی روا مثلاً په بیابان کې او په دریاب کی او په کښتی کې، هذا حاصل ما فی البحر الرائق،، قوله اولم ینوی وَبقی سِنین آه یعنی یو سړی مسافر وو او یو ښار ته ور غلی او قصد یې دا وو چې دوی ورځې ور وسته ددی ښار ونه، یا هفته وروسته مثلاً لکن کار یې نه سمیدی کلونه پر تیر سوه، نو دی به قصر کوی، ولې چې علقمة بن قیسؓ پر دغه دَوَل په خوازم کې دوه کاله تیر کړه او ده لمونځ پر قصر کاوه،،

بنـهَانَه فَائِـدَه مهاجرد افغانستان چې پاکستان ته یې هجرت وکړی او یا نور ممالکو ته، او د دوی دا قصد وو چې ۱۵ مثلًا ورځې او یا یوه میاشت که څه هم افغانستان آزاد سی. زه افغانستان ته نه ځم، او دوی ته دا هم یقین وو چې پاکستان مثلاً په زوره په داسی لنډه موده کې څوک دخپل وطنه نه شړي، نو دوی به لمونځ پوره کوی دا خو حال وود هغو مهاجرینو چې په اول کې د انقلاب ثور پاکستان ته را مهاجر سوه خواه په ښارو کې د پاکستان اوسیدل یا په با قاعده کیمپو کې اوسیدل، چې تر دا اوسه یعنی تخمیًا ۲۲ کاله دلته په پاکستان کې پاته دي، حتیٰ چې د کیمپو مهاجرو ځانته سرایونه جوړ کړی دی او مسجدونه او مدرسی یې بناء کړي دی او بازارونه یې کښلی دي، او د ښارو مهاجرینو کوټې جوړې کړي او دکانونه لري او تجارتونه کوی چې حکومت د پاکستان هم علم پر لري، نو دغه مهاجرین لکه بحر الرائق چې ووئیله مقیم حکمًا دي، او یو دغه قسم مهاجرد افغانستان دی چې هم دا اوس په سلو ۲۲ کاله تخمیًا د شماله څخه د افغانستان او یا د نورو ځایو څخه

د سَبَب دَوَچ کالی او یا د سَبَبه د جنګو پاکستان ته را مهاجر سوي دی او د پاکستان حکومت ورته داوله څخه دا اعلان کړی دی چې پاکستان تاسی ته پناه او ځای نه ور کوی نو دغه مهاجرین چې د حکومت سره د پاکستان په کښ مکش اخته دی په هغو که میاشتی تیری سی او که کلونه لمونځ به پوره نه کوی ولې چې دوی نه حقیقةً مُقیم دی او نه حکمًا،، دراشیره

فَائِدَةٌ مُهِمَّة هغه خلګ چې په قاشاق سره پردو یو ممکلتو ته بیله ویزی او بیله پاسپورته خواه د افغانستان وی او که د بل وطن وی خصوصًا چې سعودی عربستان ته په غلا داخل سی، چې د دوی دا یقین وی چې که حکومت را خبر سي سمدستی می سفر کوی هغه سړي چې هر څو عمر که میاشتی وی او که کلونه د غلا پر دَوَل په هغه مملکت کې تیری کړی لمونځ به پوره نه کوی. چې د ده نیت د اقامت نه دی صحیح، البته که ده ته رسمي حکومت د خوا د اوسیدلو اجازه وسوه بیا نو د ده نیت د اقامت صحیح دی،، در قَالَ المصنفؒ

وَلَاتَصِحُّ نِيَّةُ الْاِقَامَةِ بِبَلْدَتَيْنِ لَمْ يُعَيِّنِ الْمَبِيْتَ بِاَحَدِهِمَا

او نه دی صحیح نیت دَاقامت په دوو ښارو کې په داسی دَوَل چې مسافر نه وي معلوم کړي شپه تیرول په یوه کې د هغو دوو،،

پُوښتنه: چې مراد د مصنفؒ د بلدتینو څخه هغه دوه مستقل ځایونه دی چې یو د بل تبع نه وي، که ښارونه وی او که دوی مستقلی قریې وي. او که چیری یو ځای ښار وو او بل ځای قریه وه چې تابع د ښار وه. حتی پر اوسیدونکو د هغی قریه د جمعې لمونځ په ښار کې لازم وو، نو په داسی دوو ځایو کې نیت داقامت صحیح دی او که چیری مسافر خپل شپې تیرولو د پاره یو ښار ټاکلی وو یعنی شپه بی په هغه ښار کې تیرولو د ورځې به که څه هم هغه بل ښار ته ور تلی، نو نیت داقامت یې صحیح دی، ولې چې په اقامت کې معتبر دی د شپې تیریدو ځای دی، نو هغه چې ده مُعین کړی دی نو ګویا داقامت نیت په یوه ځای کې چې مبیت دی کړی دی. د دی دلیل

دادی چې دیوسړی ځخه چې ته چیری اوسیږی د ځی هغه ځای د هیښی چې دی دَښه ری هلته وی کنه هم دوږځی دی په بازار کی وي، یا په بل ځای کی، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَلَا فِي مَفَازَةٍ لِغَيْرِ أَهْلِ الْأَخْبِيَةِ

او دغه رنګه نه دی صَحِیح نیت داقامَت په بیابان کی او دَښت ماسوا له د خیمه والو، او کږدی والو، یعنی مالداران چې ځوږځی یو ځای اوسیږی او ځوږځی بل ځای یعنی دَ خپلو، پسو، بزو، او بنا نو، په ځر ځای پیوږوان وي، نو دغه مالداران که پریوچرا ګاه نیت دَ پنځولسو ورځو وکړی مقیم کرځی، لمونځ به پوره کوي، ولې دوی له د غه چرا ګاهی لکه بنارونه او قریو د نوړو کسانو دَپاره دی، او بیله د غومالداران و بیابان او دَښت محل داوسید و نه دَی. او دغه رنګه جزیرة اودریاب اوکښتی، اوکښتی چلوونکی مسافردی کښتی دده وطن نه دی، نقله الطحطاوی عن البحر، لکن پوهه سه چې د جزیرة ځخه مراد ځوانی جزیری دی چې آبادی به نوی او خلک به نه وه پکښی، ورنه اوس چې په جزائرو کی ښارونه جوړ شوی دی او په زرو خلګ په کښی ژوند کوی لکه بحرین، قطر، دوبئی، ابی ظبی، وغیره په هغوکی نیت داقامَت په اتفاق روادی، او دغه رنګه مراد دکښتیو ځخه هغه ځوانی کښتی دی چې ملاحانو به چلولی، او هرچه اوسنی کښتی دی چې په دریا بُوکی په میاشتو او کلو ولاړی وی او د خوراک، لباس، او نور ژوند انه شیان دوی ته هلته مهیا وي او دیو ځای ځخه بل ځای ته په کلونه نقل کیږی، لکه دامریکا نیا نو بحری کښتی او یا د پاکستانیانو بحری کښتی او دَنورو مملکتونو په هغوکی نیت د اقامت روادی او چلونکی به مقیم دی بالاتفاق، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَلَا يَصِحُّ نِيَّةُ الْإِقَامَةِ لِعَسْكَرِنَا بِدَارِ الْحَرْبِ

او نه دی صحیح زمونږ د مسلمانانو عسکرو ته نیت دَاقامت په دار حرب کی یعنی د کفارو په وطن کی چې د مسلمانانو عسکر د جنګ دپاره هورې ورغلی وی، که ځه هم دوی یو ښار

په محاصره کی نیولی وي، ولې چې دوی دَقرار او فرار ترمابین دی نو نیت داقامت خو عزم غواړی او د وی عزم نه سی کولای، ولې چې شاید وکا فرانو ته به نوی کومک راوړسیږی او مسلمانان به وفرار ته مجبور کړي، او عین ممکن ده چې د غو لږ کافران چې مسلمانانو محاصره کړېدی داسی یو چم به وکړي چې په هغه سره به قلیل بر کثیر غالب سي، قَالَ اللهُ تَعَالیٰ: وَتِلْكَ الْأَيَّامُ نُدَاوِلُهَا بَيْنَ النَّاسِ، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَلَا لِعَسْكَرِنَا فِي مُحَاصَرَةِ أَهْلِ الْبَغْيِ

او دغه رنګه نه دی صحیح نیت داقامت زمونږ عسکرو له چې دوی باغیان د حکومت اسلامی محاصره کړي وی، که ځه هم دا باغیان په عین ښار کی وی، کذا فی العنایة والبحر الرائق.

پوهه سه: چې امام طحطاوی ص۳۲۷ وائی چې بُغَاة هغه قوم دی چې د اطاعت ځخه دامام حق وتلی وي او د دوی عقیده داوی چې مونږ برحق یو، او دوی ته فاسقان نه ویل کیږی بالاتفاق، ولې چې د دوی په زړو کی شبهه سته که ځه هم فاسده شبهه وي چې د هغې په سبب دوی ځان برحق بولي. او که دلیل یې نه وایه نو هغوته غله او قطاع الطریق وائی، مراق وائی که ځه هم ظاهرًا شوکت او غلبه د عسکرو په جانب کی وی، للعلة المذكورة وهو التردد في الفرار والقرار كما مر، قَالَ المُصَنِّفُ:

وَإِنِ اقْتَدَى مُسَافِرٌ بِمُقِيمٍ فِي الْوَقْتِ صَحَّ وَأَتَمَّهَا

او که چیری اقتداء وکړه مسافر په مقیم پسی په وختی لمانځه کی یعنی په ځلور رکعتیز لمانځه کی، صحیح ده

أَرْبَعًا وَبَعْدَهُ لَا يَصِحُّ

اقتداء یې پسی، که ځه هم په اخیره ناسته کی وي، او مقتدی دی چې مسافر دی لمونځ ځلور وکړي په متابعت دامام خپل، قَالَ المُصَنِّفُ: وَبَعْدَهُ لَا يَصِحُّ، او پس له وتو ځخه دوخت صحیح نه ده روا اقتداء د مسافر په مقیم پسی، دلیل یې دادی چې فرض د مسافر تغییر نه خوری پس له خروجه دوخته که مسافر په مقیم پسی اقتداء وکړی پس له وتو ځخه وخت یعنی په قضائی لمانځه کی په شفع اول کی، نو اقتداء د مفترض په متنفل پسی لازمیږی

Maktaba Tul Ishaat.com

په حق کې دقعدې. ولې چې اول ناسته پر مسافر فرض ده، پر مقیم نه ده، او کله اقتداء په شفع ثانۍ کې پسې وکړي نو بیا هم اقتداء د مفترض په متنفل پسې لازمیږي، په باره کې د قرائت، ولې چې قرائت د دغې شفعې پر مسافر فرض دی، او د مقیم دا نفل دی» هدایه»

پوهنه چې دا حکم هلته دی چې د امام او مقتدي لمونځ دواړه قضائي وي، او که چیرې دامام لمونځ قضائي وو او د مقتدي لمونځ په وخت کې وو، لکه چې مقتدي د ماپښین په لاڅه معتقد د قول د امام اعظمؒ وي چې وخت د ماپښین تر مثلینو پورې بولي، او امام معتقد و د مذهب د یارانوؒ، او د امام شافعيؒ چې د ماپښین وخت تر یک چندې پورې بولي، نو څه وخت چې یو مثل تیر سوی وي (او دوه مثله ته سایه نه وي رسیدلې، نو په دغه وخت د امام لمونځ قضائي دی لخروج الوقت فی عقیدته» او د مسافر مقتدي لمونځ وقتي دی لبقاء الوقت علیٰ مذهبه فیصح الاقتداء به» کذا فی السراج کما سیأتی عنقریب» قال

وَبِعَکْسِهٖ صَحَّ فِیْهِمَا او په عکس کې یعنې چې مقیم په مسافر اقتداء وکړي اقتداء یې صحیح ده، که په وخت کې وي او که بعد الوخت وي، ولې په حدیث شریف کې راغلي چې علیه الصلوٰة والسلام چې مسافر وو په مکه شریفه کې اهل مکه ته لمونځ ورکړی. او پر دوه رکعته چې سلام وګرځاوه اهل مکه ته یې داسې وفرمائیله، اَتِمُّوْا صَلٰوتَکُمْ فَاِنَّا قَوْمٌ سُفْرٌ» تاسې خپل لمونځونه پوره کړئ ولې مونږ قوم یو مسافر»

وَاقِعَه څه وخت چې حضرت الامام قاضی القضات ابویوسفؒ سره د هارون الرشیدؒ په سفر د حج تللی وو، امام ابویوسفؒ چې دوه رکعته سفریا لمونځ پوره کړي او سلام یې وګرځاوه نو اهل مکه ته یې داسې ووئیله: اَتِمُّوْا صَلَاتَکُمْ فَاِنَّا قَوْمٌ سُفْرٌ، نو یو مکي وال ورته ووَیل: نَحْنُ اَعْلَمُ بِهٰذَا مِنْكَ» مونږ په دې حکم تر تا ښه خبر یو، فقال ابویوسفؒ: لَوْ عَلِمْتَ مَا تَکَلَّمْتَ فِی الصَّلٰوةِ» که ته علم والاوای نو دې به لمانځه کې ولې خبرې کولې» یعنې ستا خود لمانځه مابین دې نو تا خبرې ولې وکړې»

فقال هارون الرشید لو کان مثل هذا الجواب بدلاً عن الملك الذی أعطانیه الله لکنتُ اَسرّ بذالك»، که مثل د دې پورې معقول جواب عوض وای زما د هغې بادشاهۍ چې خدائ ماته راکړې ده زه به ډیر په خوشحاله سوی وای:

مَسْئَله: څه وخت چې مسافر امام سلام وګرځوي نو مقیم مقتدیان دې ولاړ سي او خپل دوه رکعته دې بیله قرائت اداء کړي په صحیح روایت کې. ولې چې دوی خو لاحق دي یعنې اول د لمانځه یې نیولې دی اخیر د لمانځه څنډې ګویا پاتې سوه. یعنې دوی لکه هغه سړي دي چې اول د لمانځه یې نیولی وي او بیا وروسته حدث ورپیښ سي چې دی اودس تازه کې نو د امام لمونځ ختم سوی وي نو هغه چې خپل پاتې رکعتونه کوي قرائت به نه وائي ځکه چې حکمًا بعد الامام دی» د دې مقیم مقتدي خو فرض القرائت د مخه د امام مسافر سره اداء سو. نو قرائت دې احتیاطًا نه وائي کذا فی الهدایة والوافی»

او سجده سهوه پر دغو مقیمو مقتدیا نو نسته که څه هم دوی چې پاتې لمونځ کوي سهوه یې ولې چې د دوی حکم د لاحق دی کما مر او پر لاحق هیڅ سجده سهوه نسته، او په دوی پسې اقتداء هم نه ده صحیح، ولې چې دوی که څه په پاتې دوه رکعتو منفرد دي باید اقتداء د بل پسې روا دي. لکن دوی مقتدیان دي از روی تحریمه چې په مسافر امام پسې اقتداء کړیده. او دا خو فقهي مسئله چې په مقتدي پسې بل څوك اقتداء نسي کولای، مراقی طحطاوي، هدایه، در» قال المصنفؒ:

وَنُدِبَ لِلْاِمَامِ اَنْ یَّقُوْلَ اَتِمُّوْا صَلَاتَکُمْ فَاِنِّیْ مُسَافِرٌ

او مندوب ده امام لره چې ووائي خلګو ته چې خپل لمونځونه پوره کړئ چې زه مسافر یم» څوك وائي چې پسله یوه سلامه، لکن صحیح دا ده چې وروسته تر دواړو سلاموئ دا خبره وکړي، تا چې مقتدیان په پاتې لمانځه کې قرائت ونه وائي، او مندوب ولې ده» د دې سببه چې امکان لري چې خلګو ته به حال د امام د مخه لا معلوم وي. او یا بې د مخه سئوال څنډې کړي وي»

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَيَنْبَغِي اَنْ يَقُوْلَ ذٰلِكَ قَبْلَ شُرُوْعِهٖ فِي الصَّلٰوةِ**

او بنه کار دی چې امام دی دَ مخه تر شروع په لمانځه کی دغه خبره وکړی تا چې اشتباه د مقتدیانو د اول الامر نه دفع سی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَا يَقْرَءُ الْمُقِيْمُ فِيْمَا يُتِمُّهٗ بَعْدَ فَرَاغِ اِمَامِهِ الْمُسَافِرِ فِي الْاَصَحِّ

او قرائت به نه وائی مقتدی په هغو رکعتو کی چې دی لمونځ په پوره کوی وروسته تر فارغ والی دامام مسافر ده په اصح روایت کی، بلکه په قدر د الحمد لله دی ساکت ولاړ وی.

وجه د اصح روایت هغه ده چې قبلاً انفاً تیره سوه چې دی لکه لاحق دی حکماً او بعض مشائخ وائی چې دی به قرائت وائی لکه مسبوق چې اول د لمانځه څخه دی تیر سوی وی» لکن بینهما فرق، ولی چې مقتدی مقیم خو تحریمةً مقتدی دی لکه لاحق» او ظاهراً خو منفرد دی لکه مسبوق، نو چې مونږ وری ته وګورو چې دی مقتدی دی حکماً، نو دی ګویا خلف الامام دی» نو ده ته قرائت مکروه تحریمی دی، او چې وری ته نظر وکړو چې ظاهراً خو منفرد دی نو ده ته د قرائت مستحب دی» ولی چې فرضی قرائت خو په د امام مسافر سره پوره سو، نو د غه مقیم قرائت په پاته لمانځه کی دائر سو، په مابین کی د مکروه تحریمی او مستحب نو احتیاط دا دی چې قرائت و نه وائی چې مرتکب د مکروه تحریمی و نه ګرځی،،

او مسبوق چې د امام سره دوه اخیر رکعتونه پیدا نیولی» نو د امام سره قرائت مندوب وه نیوی او فرضی قرائت پر پاته دی» نو ده قرائت په سبب د دی چې دی مقتدی دی ظاهراً مکروه تحریمی دی، او په دی سبب چې پر ده فرضی قرائت

پاته دی چې د هغه په پاته والی سره لمونځ فاسدیږی» نو ده یعنی د مسبوق قرائت په پاته لمانځه کی دائر دی په مابین کی د مکروه تحریمی کی و وائی، او ده مفسد الصلوٰة کی نه وائی نو ځکه احتیاط په دی کی دی چې دی و وائی تا چه لمونځ یې فاسد نه سی، هذا محصل ما فی البحر الرائق والرد المحتار والطحطاوی،،

قَالَ الْمُصَنِّفُ **وَفَائِتَةُ السَّفَرِ وَالْحَضَرِ يُقْضٰى رَكْعَتَيْنِ وَاَرْبَعًا**

او قضا یې لمونځونه د سفر او د کور دی دوه رکعته کوی یعنی د سفر دا کی نو هم په کور کی قضاء راوړی او څلور رکعته دی کوی یعنی قضائی د کور که څه هم په سفر کی قضاء راوړی. ولی چې قضائی لمونځ په حضر او سفر سره تغییر نه پیدا کوی، وَلَا يَتَوَهَّمُ قِيَاسَهٗ عَلَى الْمَرِيْضِ وَالصَّحِيْحِ مثلاً د مریض څخه چې لمونځونه د مرض په وخت کی قضاء سوی وی هغه وخت چې ده په اشاره لمونځ کاوه، نو چې دی جوړ سی او هغه لمونځونه قضاء راوړی په رکوع او سجده سره بې قضاء راوړی. په اشاره یې قضاء نه ده وره روا، او یا یو سړی د صحت په وخت کی لمونځ په قضاء کړی وو، او س چې نا جوړی سوا وی رکوع او سجده قدرت نه لري نو هغه د صحت د لمونځو قضا یې په اشاره سره راوړی، ولی په اول صورت کی خو عذر مسقط د رکوع او سجدی چې مرض وو زائل سو. نو قضائی لمونځ بیرته خپل کمال ته راسو، چې رکوع او سجده ده، او په صورت ثانیه کی قضائی لمونځ د خپل کماله څخه راسو په سبب د عذر په وخت کی د قضاء راوړو» ه، ط، در، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْمُعْتَبَرُ فِيْهِ اٰخِرُ الْوَقْتِ او معتبر په لمانځه کی اخیر وقت دی، نو که یو سړی په اول وخت کی دَ لمانځه پر کور وو لکن لمونځ یې نه وکړی او چې اخیر د وقت چیرا اتلی دی مسافر سو لمونځ به دوه رکعت کوی، او که په اول کی د وخت دی مسافر وو، لکن لمونځ یې نه وکړی په اخیر کی د وخت کور ته را سیدی» نو دا لمونځ به څلور رکعته کوی، ولی چې په اصولو کی د فقه شریفی وائی چې سببیّت د وخت لمانځه لره د اول څخه د وخت نقل کیږی تر اخیره پوری د وخت، او پر اخیر سببیّت ختم کیږی، نو ځکه معتبر هم دغه اخیر وخت دی چې کوم تکی پر څه حال دی، مثلاً بنځه په اول کی د وخت د حیض او نفاس څخه پاکه وه، او په اخیر کی د وخت حائضه یا نفساء سوه لمونځ څخه دی ساقط دی، او که حال بالعکس وو لمونځ پر لازم دی هم پر دغه قیاس کړه لیونتوب او پرسد کیده، او کفر او اسلام، فَعَلَيْكَ بِالتَّأَمُّلِ فِي الصُّوَرِ

Maktaba Tul Ishaat.com

المذکورة . قَالَ المصنفؒ پوه سه چې وطن ځای ته داوسیدو وائي. او داوطن دوه قسمه

وَطَنْ دُوه قِسمِ دِیُ وطن پر دوه قسمه دی وَطَنْ اَصْلِی وطن اصلی هغه ځای

ته وائي چې دی هلته زوکړی وی کې واده کړی وی او که نه، او دده قصد ژوند په دغه ځای کې تیره ول وی او قصد د کوچ نه لري، ۲ وطن اقامت وهغه ځای ته وائي چې

صلاحیت د اوسیدو لري یعنی ښار یا قریه وی کما مرسابقا، او سړي نیسله دی چې مسافروی په هغه ځای کې نیت د اقامت وکړی ۱۵ ورځې یا بالاتر ۱۵ ورځو، اذا عرفت هذا فاستمع لما یقول المصنفؒ:

وَیَبْطُلُ الْوَطَنُ الْاَصْلِیُّ بِمِثْلِهٖ فَقَطْ

او باطلیږی وطن اصلی په مثل خپل سره فقط یعنی نه په سفر سره باطلیږی او نه په وطن اقامت سره ولې چې شی چې باطلیږی یا په مثل سره یا په مافوق سره، په مادون سره نه باطلیږی، کما فی المراقی، قَالَ المُصنفُ:

وَیَبْطُلُ وَطَنُ الْاِقَامَةِ بِمِثْلِهٖ وَبِالسَّفَرِ وَبِالْاَصْلِیِّ

او باطلیږی وطن د اقامت یعنی یو سړي چې مسافروو او یو ځای یه نیت د اقامت د ۱۵ ورځو یا بالا وکړی او وروسته د هغه ولاړی بل ځای یه نیت د اقامت د ۱۵ ورځو وکړی، نو هغه اول وطن د اقامت یه باطل سو نو که دی بیا هغه اول ځای ته ورسی لمونځ به پوره کوی، او دغه رنګه باطلیږی وطن داقامت په سفر د هغه ځنې یعنی یو مسافر په یو ځای کې نیت د اقامت د ۱۵ ورځو شاوکړي او د هغه ځایه ځنې بیرته خپل سفر ته ادامه ورکړه، نو هغه وطن د اقامت یه باطل سو، که بیا د سفر په دوران کې هغه اول ځای ته ورسی لمونځ به پوره کوی کې نوی نیت د اقامت بیا په هغه ځای و نه کړي. او دغه رنګه باطلیږی وطن د اقامت په وطن اصلی سره یعنی د وطن ځنې د اقامت ووزی خپل اصلی وطن ته ولاړسي، نو بیله ورځ بیله نیت د سفر هغه وطن اقامت ته ور سیږی لمونځ به پوره کوی ،،

مسئله: که یو سړي خپله کډه او ماینه د یو وطن ځنې نه راوستله، او صرف دی و بل وطن ته ولاړی په سفر لکن په هغه وطن کې هم کور او واده وکړی، نو وطن اول یه سنه باطلیږی بلکه دواړه د ده وطن اصلی دی، هر یوه ته چې ورغلی په هغه وطن کې به لمونځ پوره کوی

پوه سه چې د وطن اصلی په بل وطن اصلی سره د بدلیدو صورت دا دی، لکه مهاجرینؓ د مکی مکرمې ځنې مدینې منورې ته راغلل او بیا د دوی نیت یه وکی و مکی شریفې ته نه و که څه هم مکه مکرمه دار اسلام هم سی، نو د دغو مهاجرینو د پاره اصلیت د وطن د مکی مکرمی باطل سو، نو ځکه رسول کریم صلی الله علیه وسلم او اصحاب کرامؓ پسله دی مکه مکرمه هم فتح سوه او دار اسلام وګرځیده دوی چې به د عمری یا حج یا تجارت د پاره مکی مکرمی ته ورتلل لمونځ یه سفریانه کاوه چې نیت د اقامت د ۱۵ ورځو تیرولو به ئی نه وو،

مسئله: حضرت عثمان رضی الله تعالی عنه په اول کې د خلافت چې به مکی شریفې ته ورغلی لمونځ یه سفریا نه کاوه، او په اخیر دوره کې د خلافت چې به مکی شریفې ته ورغلی لمونځ به ئی پوره کاوه، شارحان د حدیثو مبارکه وو یوه وجه پوره لما نځه کولو د حضرت عثمانؓ دا وائي چې عثمانؓ په اخیره دوره کې د خلافت په مکه شریفه کې نوی واده وکړی نو مکه شریفه او مدینه منوره دواړه د ده وطن وګرځیدل، نو حاصل د دی مسئلې دا دی که دری ځایه یا څلور ځایه سړي و د و نه وکړي او کور و نه جوړ کړي نو ټوله یه وطن اصلی ګرځي

قَالَ المصنفؒ وَالْوَطَنُ الْاَصْلِیُّ هُوَالَّذِیْ تَوَلَّدَ فِیْهِ الْاِنْسَانُ

او وطن اصلی هغه دی چې د انسان تولد (زیږیدنه) په کښی سوی وي

تَزَوَّجَ فِیْهِ اَوْلَمْ یَتَزَوَّجْ وَقَصَدَ التَّعَیُّشَ فِیْهِ لَا الْاِرْتِحَالَ عَنْهُ

ولو خوله ده هلته واده یعنی ماینه هم کړې او کې نه وی کړی، او دده اراده د ژوند تیرولو هلته وی، نه اراده د کوچ او بار د هغه ځایه ځنې"

قال المصنف **وَوَطَنُ الْإِقَامَةِ مَوْضِعٌ نَوَى الْإِقَامَةَ فِيهِ نِصْفَ**

او وطن د اقامت هغه ځای دی چې ده نیت د اقامت په هغه کې کړی وي

شَهْرٍ فَمَا فَوْقَهُ وَلَمْ يُعْتَبَرِ الْمُحَقِّقُونَ وَطَنَ السُّكْنٰى

نیمه میاشت او یا ترې زیات، او اعتبار نه دی ورکړی محققانو د فقهاؤ وطن ته د سکنٰی چې

وَهُوَ مَا يَنْوِي الْإِقَامَةَ فِيهِ دُوْنَ نِصْفِ شَهْرٍ

هغه هغه وطن ته وائي چې سړی نیت د اوسیدو په هغه کې وکړي تر ۱۵ ورځو کم، نو که د اسړی چې مسافر وو او ده ۱۵ ورځو یا بالا نیت په غیر کې د وطن سکنٰی کړی وو هغه وطن د اقامت یې نه باطلیږي. او نه یې سفر یې باطلیږي» یعني حکم د سفر چې قصر الصلٰوة وو نه باطلیږي»

تفریع بعض مهاجرین د افغانستان چې په مغربي ممالکو او یا نورو ممالکو سیاسي پناه اخستې وي او د هغه مملکت شناخت نامه او یا شناخت کارت یې هم اخستی وي او قصد د عود وه افغانستان ته نه لري. او که ځو اوکور یې هم په هغو ممالکو کې وي صرف دې یو سړای په افغانستان کې لري او یا محکه او یا باغ لري، نو دې کاهې د سړای د کرائۍ د پاره یا د محکې د اجاره د پاره یا د باغ د ه، یاد حاصلاتو د تولولو د پاره افغانستان ته راسي دې مسافر دی په لمانځه کې به قصر کوي، تر څو چې نیت د اوسیدو د ۱۵. ورځو یې نه وي کړی.

فرع یو سړی ووچې دوه درې زامنه یې په افغانستان کې وه، او هوري به خپل سراۍ در لودې او زامنو یې هوري دنیائي کاروبار کاوه، او د ده دری زامنه یې د ۲۰ کلونو راسته په پاکستان کې وه چې هوري یې هم خپل سراۍ درلودې، او هوري یې کاروبار کاوه، او د غه دواړې ځلې د زامنو تر تصرف د پلار لاندې دي،

او دواړې ځلې په ولس سره ګډې وې، او پلار به ګاهې پاکستان کې وو او ګاهې به افغانستان ته ورتلو کله هم استوګنه په یوه خواکې ډېره هم وي، نو د غه پلار په د غو دواړو وطنو کې مقیم دی لمونځ به پوره کوي. الا في طريق السفر الى احدهما» درویش

خدایه بیا ب د مسافر خوبه توفیق ستا په خیر خلاص شو،
دنیا دار الاقامت دی د همه وو،
زما سفر و آخرت ته پر ایمان او اخلاص خلاص کړې
پر دې دار کې څه هوس دی د هم وو،

مسافر چې وسفر ته روانیږي. ده کې فکر دا د تر هر شي محکې پیدا کیږي
عبید بیله کومه زاده دی روان و آخرت ته.. دی سپین زیږي په امید ستا و حضرت ته:

تفسیر ابوبی
پښتو
۱۵ جلده تقریبا
تصنیف
الحاج علامه ابو الفضل محمد عبید الله الابوبی القندهاری السلیمانخیلی دام مجدهم
الناشر
مکتبة القرات والتجوید
کانسي روډ شالدره، کوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

باب صلوٰة المریض

دا باب دی په بیان کی دَ لما نځه د نا جوړو:

پُوه سَه: چې د مرض تعریف طبیبان داسی کوی. چې مرض یو حالت دی په بدن کی چې خارج وی د مقتضی غالبی ځنې دَ طبیعت د انسان او یا حیوان، **فائده** مطلق نا جوړی سبب دا حکامو فقهیه وو نه دَه، ولی چې هر انسان چې دی بیخی ځان جوړ بولی هم نا جوړی دَی. د دی کبله چې اطباء وائی چې مِن کُلِّ الوجوه جوړ سړی هغه معتدل المزاج وی او دا سی خو بیا بیخی نادر دی او یا نشته»

نو ځکه صاحبُ البحر وائی» چې اندازه دَمَرض چې په وَلاړی لمونځ دَسړی ځنې ساقط وی او د جمعی د لمانځه حضور هم، او خوړل د فرضی روژی وسړی ته مباح گرځوی» او تیمم هم داده چې یا پرن یا دَت والی دَمَرض موجود بیرېږی، یا پردی بیره وی چې مَرض بری او ږد سی، واتفق علیٰ ذالک الفقهاءُ کلهم» اذا عرفت هذا التمهید فاستمع لقول المصؒ

اِذَا تَعَذَّرَ عَلَى الْمَرِيْضِ كُلُّ الْقِيَامِ اَوْ تَعَسَّرَ بِوُجُوْدِ اَلَمٍ

که مریض ته نه وه ممکنه پوره وَلاړه چې دې ته تعذر حقیقی وائی. او یا ورته گرانه وه وَلاړه په

شَدِيْدٍ اَوْ خَافَ زِيَادَةَ الْمَرَضِ اَوْ اِبْطَائِهٖ صَلّٰى

سبب د ډیر سخت درد د ولاړی په سبب یعنی که لږ درد او تکلیف وو، بیا خو به وَلاړ نه پریږي دی، او دې ته عذر حکمی وائی، او یا بیریدی

قَاعِدًا بِرُكُوْعٍ وَّسُجُوْدٍ

پرن یا توب د مَرض، او یا پردی بیریدی که زه په ولاړی لمونځ وکړم، نو به می مَرض وځنډیږی یعنی زر به جوړ نه سم، نو لمونځ دی کوی په ناستی په رکوع او سجده سره»

پوه سه: چې بیره د زیادة المرض آه ده ته په تجربه معلومه سوی وه چې مخه دی په دَغه نا جوړی مبتلا سوی وو نو چې ده پر ځان تکلیف وکړی او لمونځ یې په ولاړی وکړی نا جوړی یې ډیره سوه او یا وځنډیده، او یا هوښیار مُسلمان طبیب ور ته وَیلی وی چې ته به نه ولاړیږی که ولاړ سوی نا جوړی دی ډیریږی، او یا جوړوالی دی ځنډیږی،

فائده: دا اَلَم شدید مثال د فقهاؤ په سرگرځید و سره وَیلی دی، او د غابن په درد سره او د سر په درد سره، او د مَلا په درد سره الیٰ غیرذالک. ق، در، ط

مسئله: که اَلَم شدید خو په ولاړه کی نه وو لکن په وَلاړه کی د دښمن ځنې یا د لیوه وغیره ځنې بیریدی، نو دا په حکم کی د الم شدید لوی لمونځ په ناستی ور ته روا دی» ط

مسئله: که باران سوی وو او محکه ختی وه. او سړی په یوه کشتنکه خیمه کی وو چې سم نه سوای په کښی دریدلای نو هم دی لمونځ په ناستی وکړي، بحر» **مسئله**: که دَسړی سالنډی کیده که ولاړ سوی وَای نو بیا یې فرض القرائت نه سوای ویلای لمونځ په ناستی ور ته روادی، در»

رُوِیَ عن عمران بن حصینؓ دی وائی چې ما ته مریضی د بواسیرو خونی یا بادی پیښه وه نو ما پوښتنه وکړه د علیه الصلوٰة والسلام ځخه د لمانځه په باره کی نو ده مبارک راته وویله: صَلِّ قَائِمًا فَاِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا» لمونځ په وَلاړه کوه او که دی د ولاړی لمونځ په وَس نه وو پوره بیا لمونځ که وه په ناستی، فَاِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَمُسْتَلْقِيًا» که دی هغه په وسه نه وو پوره بیا سُستنی سَتخ پریوزه لمونځ کوه یعنی په اشاره سره په اخیر کی آنحضرت صلی الله علیه وَسلم ایت په دَوَل د شاهِد تلاوت کړی، لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا» خدای پاک تکلیف نه کوی پر هیڅ چا مگر په قدر دَ طاقت دهغه،

فائده: د مذهب کتابو کی وائی: که سړی د ناستی د لمانځه ځنې عاجز وو نو د ده خوښه ده که لمونځ پر بغل کوی او که ستنی سَتخ کوي. او ثانی افضل دی دا خبره د دوی د تیر سوی حدیث ځنې مخالف ده، ولې چې په حدیث مذکور کی کی علیٰ جنبٍ

د محمد دی او استلقاء یه بناء کړیده پر عدم استطاعت د صلوٰة الجنب **جواب**
امام طحاویؒ وائی چې احتمال لري چې اهل مذهب ته ترحدیث مذکور بل حدیث قوي ثابت
وی، نوځکه دوی د ظاهر د حدیث مذکور پریښو، او رولیش وائی چې په نفس احتمال سره دفع د
مخالفت نه کیږی ترهغو چې د هغه حدیث اقوٰی روایت ونه کړه سی، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَقْعُدُ كَيْفَ شَاءَ فِي الْأَصَحِّ او چې په ناستی لمونځ کوی نوڅرنګه چې د ده خوښه وی هغسی دې
کښینی په اصح روایت کی یعنی که چارزانو کښینی، او که د التحیات پر وزم کښینی
او که لاسونه پر زنګنو راګرځوی، مطلب دا چې ده ته آسانوي، ولې عذر د مرض
د ده څخه رکن د قیامی ساقط کړی نو هیأت د ناستی په طریقه اولیٰ ساقط دیٔ،
دا خو مذهب وو د امام ابوحنیفهؒ او امام زفرؒ وائی چې په ټوله لمانځه کی د ناستی
چپه پښه غوړوی او پرهغی به کښینی، یعنی د التحیات پر وزم لکن امام اعظمؒ
صرف د تشهد په نوبت کی به پرهغه وزم کښینی په نور لمانځه کی دی مختار دیٔ
هر وزم چې کښینی بیله کراهته، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَالْإِقَامَ بِقَدْرِ مَا يُمْكِنُهُ او کی ټوله رکعت یا لمونځ په ولاړی نه سوای کولای په دی معنا چې یوه اندازه
قدر ولاړه یه کولای سوای، نو دی د هغه قدر چې د ده توان وي بیله زیاتت
مشقته په ولاړی لمونځ وکړي. که څه هم په قدر د یوه ایت او یا په قدر د صرف
الله اکبر وی، نو هر وخت چې ور ته تکلیف ډیر سو بیا دی بیرته دی کښینی، ولې چې
طاعت په حسب د طاقت نو که دی ابتداءً د ولاړی توان و طاقت نه درلودای،
خو د ابتداءً نو ناسته روا وه نو انتهاءً هم ناسته ورته روا ده وهو المذهب الصحیح، قال

وَإِنْ تَعَذَّرَ الرُّكُوعُ وَالسُّجُودُ صَلَّى قَاعِدًا بِالْإِيمَاءِ
او که ده ته مشکله وه رکوع او سجده یعنی په ناسته کی هم، نو لمونځ دی وکړي په ناستی په اشاره

سره یعنی چې پر ناستی قادر وی نو په اشاره سره د پاره د رکوع او سجدی یعنی په سر سره
مسئله: که د سري تندی ټپی وو او پر پزه یه سجده کولای سوای نو ده ته
ایماء یعنی اشاره نه ده روا، ولې چې دی پر سجده باندی قادر دی" کذا فی السراج و ط"
مسئله او فی النهر" که یو سړی پر ولاړه قادر وو لکن سجده یه نه سوای کولای
نو رکعت دی په ولاړی اداء کی چې وخت د رکوع او سجدی راغی کښیني دی او په رکوع
او سجده سره دی اشاره وکړی. او یا دی د ولاړی څخه اشاره د رکوع او سجدی وکړی
لکن اول افضل دی، ولې چې ناسته و سجدی ته نږدی ده کذا فی التبیین" و ط قَالَ

وَجَعَلَ إِيمَائَهُ لِلسُّجُودِ أَخْفَضَ مِنْ إِيمَائِهِ لِلرُّكُوعِ
او ګرځوی دی اشاره خپله د سجدی د پاره کښته تر اشاره د رکوع د پاره، او کی سر کښته نه کی

فَإِنْ لَمْ يَخْفِضْهُ عَنْهُ لَا يَصِحُّ د سجدی د پاره تر رکوع په اشاره سره لمونځ یه نه دی صحیح"، په
دی سبب چې اشاره د رکوع او سجدی د پاره بدل دی د حقیقت رکوع او سجدی څخه په
حقیقت سجدی کی خوسر تر وخت د رکوع کښته دی" و للبدل حکم المبدل عنه" در
مسئله: اشاره کوونکی ته دا شرط نه ده چې په قدر د طاقت به سر د سجدی د پاره
تر رکوع کښته کوي بلکه لږ څه کښته والی هم کافی دیٔ، بلکه د رکوع او سجدی د پاره هم
نهایت کوشش شرط نه دی، بلکه لږ څه هم کفایت کوي، کذا فی النهر عن المجتبیٰ و در"
مسئله: که دیو سړي پر حلق زخم وو چې سجده یه نه سوای کولای، او قیامه او رکوع
یه کولای سوای په فتح القدیر کی وائی چې دا سړی دی په ناستی لمونځ په اشاره وکړي. او
دا هم افضل کار دی، او که قیامه او رکوع وکړي او د سجدی د پاره کښیني اشاره وکړي هم
روا ده، او امام حلبیؒ وائی چې باید په هغه صورت کی چې پر قیام قادر وی او د رکوع او
سجدی څخه عاجز وي، د ولاړی څخه اشاره دی افضل وی تا چې د خلاف څخه ووزی،
ولې بعض علماءؒ وائی چې قادر ته پر قیام باندی ولاړه شرط د لمانځه ده، لکن په بحر رائق

Maktaba Tul Ishaat.com

کی وائی چې ظاهر الذهب دادی چې ایماء قائمًا وقاعدًا دواړه روادی: واللّٰه اعلم، قـال

وَلَا يُرْفَعُ لِوَجْهِهٖ شَيْئٌ يَسْجُدُ عَلَيْهِ فَاِنْ فَعَلَ وَخَفَضَ

اونه دی پورته کولی کیږی د مریض و مخته یو شی چې دی سجده پرو کړی پر هغه شی باندی اوکه یه داعنی وکړه سوه، او مریض هم د رکوع

رَأْسَهٗ صَحَّ وَاِلَّا لَا

دپاره لږ سر کښته کی او د سجدی دپاره تر هغه لږ بالا یه کښته کړی لمونځ یه صحیح دی، اوکی بیخی سر نه کړی کښته بلکه صرف چا یه وتندی ته ډېره یا پاك بالښت وغیره وړیوړ ته کړی لمونځ یه نه دی روا، ولی چې ایماء د رکوع او سجدی دواړه نیستی سوه اوکی د رکوع دپاره خو سر کښته کړی لکن سجدی ته ئی نور نه کی کښته م یه لمونځ نه دی رَوَا، ولی چې ایماء د سجدی یه ونه کړه، په حدیث مبارك کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسّلام دیو مریض پوښتنی ته وَر غلی نو علیه الصلوٰة والسلام ولیده چې دې مریض سجده پر بالښته کوله، نو علیه الصلوٰة والسلام بالښت څندی وَغورځوی اوبله وځ چې وَرَغلی هغه پر تخته دلرګی سجده کوله» نو علیه الصلوٰة والسلام هغه لرګی هم څندی وغورځاوه.

اوورته وې ویل چې لمونځ کوه پر ځمکه یعنی سجده» اوکه دی طاقت نه وو بیا اشاره کوه و سجده تر رکوع کښته کوه، اوپه حدیث کی چې طبرانی ؒ یه روایت کړی دی داسی راغلی دی» مَنْ اِسْتَطَاعَ مِنْكُمْ اَنْ يَسْجُدَ فَلْيَسْجُدْ» یعنی پر ځمکه»، وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَلَا يَرْفَعْ اِلٰى وَجْهِهٖ شَيْئًا يَسْجُدُ عَلَيْهِ وَلْيَكُنْ فِىْ رُكُوْعِهٖ وَسُجُوْدِهٖ يُوْمِىْ بِرَأْسِهٖ' او امام طحطاوی ؒ د صاحب مجتبٰی د اسی نقل کړی دی» چې ما ته اشتباه وه په کیفیت د اشاره د رکوع او سجدی په دی کی چې لږ لږ والی کافی دی اوکه په غایت قدرت سر کښ والی لازم دی، وروسته ما روایت د شیخ الاسلام ؒ پیدا کړی چې هغه وائی چې مُوْمِی یعنی اشاره کوونکی: اِذَا خَفَضَ رَأْسَهٗ لِلرُّكُوْعِ شَيْئًا ثُمَّ لِلسُّجُوْدِ شَيْئًا جَازَ»

پوه سه: چې په شرح کی د مقدسی د امام اعظم ؒ څخه داسی روایت نقل کړی دی چې مریض که د اشاره څخه عاجز وو، او صرف سر یه ښوراوه د رکوع او سجدی دپاره روادی او ابن الفضل ؒ وائی چې داسی نه دی رَوَا، ولی چې مریض لره ایماء لازمه وَه او هغه ده و نه کړه، امام طحطاوی ؒ وائی چې قول د ابن الفضل ؒ مشهور دی په مذهب کی یعنی روایت عن صاحب المذهب ؒ ده. قَالَ الْمُصَنِّفُ ؒ:

وَاِنْ تَعَسَّرَ الْقُعُوْدُ اَوْمَأَ مُسْتَلْقِيًا اَوْ عَلٰى جَنْبِهٖ وَالْاَوَّلُ اَوْلٰى

اوکه چیری مشکله وَه مریض ته ناسته، یعنی بی ناسته کولای سَوای په تکیه سر پرېوالی» او نه په تکیه سروه بالښته ته، مثلًا بیله ضرره، اوکی پر یو ډول قعودی یه بی ضرره کولای سوای یا قعوده پر لازمه ده م، ط» نو بیادی لمونځ په اشاره کوی ستنی ستح، او یا پر بغل باندی، او استلقاء بنه ده تر جَنب،

پوه سه: چې په دی مسئله کی دری مذهبه دی کما فی الطحطاوی ؒ **اول مذهب** دادی چې مریض اختیار لری که استلقاء کوی او که پر بغل پرېوزی که څه هم استلقاء اولیٰ ده دا خو حکم دی د مشهورو کتا بو د فقه حنیفی لکه هدایه او د هغی د شرحو، او امام شافعی ؒ وائی چې استلقاء هلته رَوَاده چې د بغل د پرېوتو څخه عاجزه وی **دویم مذهب** هم دا غه دی **او دریم مذهب** دادی چې پر بغل لمونځ هلته روادی چې د استلقاء څخه عاجزه وي، **پوه سه:** کی پر بغل لمونځ کاوه نو استه اړخ افضل دی، ط دلیل د اولویت د استلقاء دادی،» چې یو خو په حدیث شریف د ناستی د تعسر په باب کی داسی راغلی دی، فَاِنْ لَّمْ يَسْتَطِعْ فَعَلٰى قَفَاهُ» کی طاقت د قعود نه وو نو پر شا باندی دی پرېوزی، او د جَنب ذکر په دغه حدیث کی نشته، او بل دا چې په استلقاء کی توجه وقبلی ته ډېروی تر بغل، قال المُصَنِّفُ ؒ:

وَيُجْعَلُ تَحْتَ رَأْسِهٖ وِسَادَةٌ لِيَصِيْرَ مُوَاجِهًا اِلَى الْقِبْلَةِ لَا اِلَى السَّمَاءِ

اوودی وګرځول سی لاندی تر سر

دمریض چی په استلقاء لونځ کوي یو بالبنت تاچی دی مخامخ سی وقبلی ته نه د
اسما رخواته »، قَـالَ الـمـصنفُ :

وَيَنْبَغِي نَصَبُ رُكْبَتَيْهِ حَتّٰى لَا يَمُدُّهُمَا اِلَى الْقِبْلَةِ

او بنه کاردی چی مریض دی په وخت کی د استلقاء زنگنونه جگ ودروی یعنی کی قدرت
وو، ددی دپاره چی پښی ده قبلی وخواته ونه غوړیږی چی دا غزول دپښوو قبلی ته
مکروه دی»، دروښیږوائی: چی مریض ته دپښو غزول وقبلی ته مکروه نوجوړ سړی
ته په طریق اولی مکروه دی، لکه بعض کسان چی کوی »، قَـالَ الْمُصَنِّفُ :

وَاِنْ تَعَذَّرَ الْاِيْمَاءُ اُخِّرَتْ عَنْهُ مَادَامَ يَفْهَمُ الْخِطَابُ قَالَ

اوکه چیری سخته سوه اشاره په تولو اقسامو سره نو لمونځ ځنډی ځنډیږی ترڅو چی دی په خبرو

فِي الْهِدَايَةِ هُوَالصَّحِيْحُ وَجَزَمَ صَاحِبُ الْهِدَايَةِ فِي

سرو پیلی دی په هدایه کی دا قول صحیح دی. او حکم کړی دی صاحب دهدائی په تجنیس

التَّجْنِيْسِ وَالْمَزِيْدِ بِسُقُوْطِ الْقَضَاءِ اِذَا دَامَ عَجْزُهٗ عَنِ

کی او مرقد کی بچی قضاء ځنډی ساقطه ده ترڅو چی یه عجز باقی وی

الْاِيْمَاءِ اَكْثَرَ مِنْ خَمْسِ صَلَوَاتٍ وَاِنْ كَانَ يَفْهَمُ الْخِطَابَ

د اشاری کولو زیات تر پنځو لمونځو، او که څه هم په خطاب سرپوهیږی

وَصَحَّحَهٗ قَاضِيْخَانْ وَمِثْلُهٗ فِي الْمُحِيْطِ

او دا قول صحیح
گنړلی دی په قاضیخان
کی او په مثل ددې په محیط کی.

قَالَ المصنفُ

وَاخْتَارَهٗ شَيْخُ الْاِسْلَامِ وَفَخْرُ الْاِسْلَامِ وَقَالَ فِي

او اختیار کړی دی دا قول شیخ الاسلام یعنی خواهرزاده، او فخر الاسلام یعنی الامام السرخسی، او په

الظَّهِيْرَةِ وَعَلَيْهِ الْفَتْوٰى وَفِي الْخُلَاصَةِ هُوَالْمُخْتَارُ وَ

په ظهیره کی وائی پر دا غربا ندی فتوی ده، او په خلاصه کی وائی دا غه مختاره قول دی، او

صَحَّحَهٗ فِي الْيَنَابِيْعِ وَالْبَدَائِعِ وَجَزَمَ بِهِ الْوَلْوَالِجِيُّ رَحِمَهُمُ اللّٰهُ

دغه رنگه په تاتارخانیه کی وائی دا صحیح قول دی. او پر دا غربا ندی الولوالجیؒ هم حکم کړیدی

وَلَمْ يُوْمِ بِعَيْنَيْهِ وَقَلْبِهٖ وَحَاجِبَيْهِ

او اشاره به نه کوی هغه مریض چی عاجزه وی د
اشاری څخه په سترگو سره او نه په زړه سره او نه ده صحیح په وروځو سره. ولی چی سجده په
سرپوری تعلق لری نه په سترگو سره او نه په زړه پوری او نه په وروځو پوری»، نو بدل
دسجدی چی ایماء ده په حال کی دعجز هم په سرپوری تعلق لري»

پوښتنه: چی امام زفرؒ وائی چی دغه مریض دی په اشاره کوي په سترگو او
زړه سره، او که بیا جوړ سو هغه لمونځ دې راگرځوی، او په بعض روایاتو کی دامام
زفرؒ دا سی نقل سوی دی، چی اول خودی اشاره په وروځو سره کوي، ولی دوی سره
نژدی دي، که دهغه څخه هم عاجزه وو نو دی اشاره په زړه کوی، او حضرت الامام شافعیؒ
وائی چی اشاره دی په سترگو او په زړه کوي. او امام الحسنؒ وائی چی اشاره دی په وروځو
او زړه کوي. او چی جوړ سی لمونځ به بیرته راگرځوی، او د امام ابی یوسفؒ څخه روایت
دی چی مریض چی د سر د اشاره څخه عاجز سی، نو خاص په سترگو اشاره ورته رواده، نه
په زړه سره، او د حضرت الامام محمدؒ څخه په دی باره کی پوښتنه وکړه. ده ورته وویل
چی زه شک نه لرم چی اشاره په سرخوروا ده» لورود النص به»، او په دی کی هم شک نه

Maktaba Tul Ishaat.com

لم چې په زړه خواشاره نه ده روا، ولې چې اصل سجده خود اعمالو څخه د جوارحو ده نو بدل یې بايد فعل د جوارحو وي، او په دې کې شک نشته چې اشاره په زړه سره بدل نه جوړيږي، کذا في الکفايه» د دې تولو جواب دا دی چې ايماء با الرأس په حديث شريف کې راغلی ده، نو که څه هم خلاف القياس ده نو هم مونږ په لازمه بولو په عاجز باندې، او د اصولو د اسلام قانون دی چې يو حکم چې په نص سره خلاف القياس ثابت شي، بل شی بيانه پر قياسيږي، او د مجتهدينو پر دې خبره اتفاق دی چې نصب د ابدالو په رايه سره نا روا دی، په حديث مبارک کې خو داسې راغلي دي: يُصَلي المَرِيضُ قَائِمًا فان لم يستطع فقاعدا فان لم يستطع فعلى قفاه يؤمي ايماءً فان لم يستطع فالله احق بقبول العذر منه»

درويش وائي:

چې د اخيرې جملې د حديث په معنی کې اختلاف دی، بعض علماء يې معنی داسې کوي چې خدای جل شانه د ده څخه عذر د تاخير د لمانځه قبلوي، نو حاصل دا چې که جوړ شو د غو لمونځو قضاء به راوړي، او اکثر علماء لکه چې عنقريب تيره سوه ترجمه د حديث کې داسې کوي خدای جل سلطانه قبول د عذر اسقاط د ده څخه کوي يعنې چې جوړ سي د غو لمونځو قضاء پرې نشته» قال المصنف:

وَانْ قَدَرَ عَلَى الْقِيَامِ وَعَجَزَ عَنِ الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ صَلّٰى قَاعِدًا بِالْاِيمَاءِ

او که چيرې يو مريض خو پر ولاړه قادر وو لکن رکوع او سجده يې نه سوای کولای نو لمونځ دې په ناستې په اشاره سره وکړي، درويش وائي چې دا بيان د افضل وو، او نه اشاره د ولاړې څخه هم روا ده وجه دا فضيلت يې دا ده چې دی په ناسته کې، وحقيقي رکوع او سجدې ته نژدې دی «فينبغي ان يقرب البدل وهو الايماء ايضا منه»

د الکتاب د علامه قندهاري: نوشته کړه فضل حق حقاني: اللهم اغفر لها ولوالديها آمين

قال المصنف: **وَانْ عَرَضَ لَهُ مَرَضٌ يُتِمُّهَا بِمَا قَدَرَ وَلَوْ بِالْاِيمَاءِ فِي الْمَشْهُورِ**

او که يو سړي لمونځ کوونکي ته مرض په لمانځه کې يعنې شروع د لمانځه څخه وروسته په حال کې د صحت وکړه لکن په مابين کې د لمانځه مرض ورته پيښ شو، نو لمونځ دې پسې پوره کړي پر هغه شکل چې دی قادر وي، که څه هم په اشاره سره وي په مشهور روايت کې قال المراقي وهو الصحيح» حاصل دا چې دا مريض دې هغه کړي بعض لمونځ د صحت په وخت کې نه پرېږدي، يعنې ددې د پاره چې د سره څخه يې يک لخته په اشاره وکړم: وَلَا تُبْطِلُوا اَعْمَالَكُمْ» نص قرآن دی» قال المصنف:

وَلَوْ صَلّٰى قَاعِدًا يَرْكَعُ وَيَسْجُدُ فَصَحَّ بَنٰى وَلَوْ كَانَ مُومِيًا لَا

که چيرې يو مريض لمونځ په ناستې کاوه، او رکوع او سجده يې کوله بيا نو جوړ سو يعنې قادر سو پر ولاړه د ولاړې لمونځ دې وکړي يعنې پر بناء دې کړي ولې چې بناء خو لکه اقتداء ده او اقتداء د قائم پر قاعد پسې خوروا ده نو بناء هم روا ده، په نيز د شيخينو خلافا لمحمد درويش وائي چې ديرکع ويسجد آه فائده داده چې که د ده مريض تر رکوع او سجدې کولو د مخه جوړ سو بيا خو بناء اتفاقا روا ده، ولې چې بناء د قوي پر ضعيف نشته په اتفاق سره، او که لمونځ په اشاره کاوه او بيا جوړ سو يعنې پر رکوع او سجدې باندې قادر سو بناء دې نه کوي، بلکه لمونځ دې د سره راگرځوي» لما فيه من بناء القوى على الضعيف، م قال المصنف:

وَلَوْ جُنَّ اَوْ اُغْمِيَ عَلَيْهِ خَمْسُ صَلَوَاتٍ قَضٰى وَلَوْ اَكْثَرَ لَا

او که پر سړي ليونتوب راغلی لکن په آفت اسماني سره کما في المراقي، او يا بې هوښه سو که څه هم د يوه ډنده څخه د ليدو په سبب د بيهوشۍ سوی وي، او تر پنځو لمونځو پورې يې ليونتوب يا بيهوشي دوام وکړي او بيرته جوړ سو او يا په سد کې راغلی د غو لمونځو قضاء به راوړي

اوکه تر یخه لا څه بالاسوه چې د شپږ م لمانځه وخت تیر سو بیا د لمونځو قضاء نسته بائدې طحطاوي وائي چې دا قول دامام محمّدؒ دی او دغه قول تصحیح په اکثرو معتبرو کتابو کي کړه سوی ده» مجمع الانهرؒ

او ابن امیرحاج وائي چې قول دامام محمّدؒ د حقه سره ډیر مشابه دئ، ولې ساقطوونکي د قضاء وقوع في الحرج دی او وقوع في الحرج هلته راځي، چې قضا ئي لمونځونه وحدته د تکرار داخل سي»

پوښتنه: چې مراقي آفت سماوي ذکر کړي ددې سبب که د سړي عقل په شرابو خوړلو سره زائل سوی وي، پرهغه باندې قضاء د لمونځو لازمه ده که څه هم ډیره زمانه پر تیره سي» ولې چې دا زوال د عقل وده ته په معصیت سره حاصل سو نو دی لائق نه دی چې دده سره شریعت تخفیف وکړي. نو هم دا سبب دی که د چا عقل په آفت سماوي سره زائل وي د هغه طلاق نه واقع کیږي او که د شرابو په خوړلو سره یې عقل زائل سوی وو د هغه طلاق واقع کیږي» او حضرت الامام الاعظمؒ وائي که چا کمه دوا یا ګولي د نشي خوړلي وي هرڅونه ډیر چې نشه وي قضا د لمونځو چې په هوش کي راسي بائدې سته، په دلیل ددې چې سقوط د قضاء په حدیث سره سوی دی او حدیث شریف په آفت سماوي کي راغلی دی، نو هغه نشه چې دده په فعل سره یاد ډاکټر په فعل سره سوي وي هغه پر آفت سماوي نه قیاسیږي. او په بعض روایاتو کي راغلي چې جنون مطلقًا که ممتد وي او که غیر ممتد وي قضاء د لمانځه ساقطوي «کذافي البرهان» لکن معتبرکتابونه دفقهي شریفي پرهغه روایت دي په جنون کي هم امتداد شرط دی.

مسئله: که چیري پر سړي والی لره د مجنون او یا بیهوشه وقت معلوم وو، لکه یو سړي چې بې سده وي د شپې چې سپیدي راوچوي لږ په سد کي راسي او بیا بیرته بې سده سي، نو دا افاقه دده اعتبار لري په دې معنا چې هغه د مخه بې سدتیا په اسقاط کي د قضاء اعتبار نه لري. که د مخه اغماء تر شوارو ز کمه وه، بلکه ورو سته اغماء په اعتبار لري، چې خونه اندازي نه راسیږي، او کي افاقت لره وقت معلوم نه وو یعني ګاهي بې خبري د جوړو خلګو وکړي او بیرته بې سده سو، دی افاقت ته اعتبار

نسته کذا في التاتارخانیه» په دې کي بیان د هغه فائدي قید چې مراقي راوړي دی د اغماء سره. واستمراره، ظاهره سوه فتدبر

فائده: هغه قول چې مصنفؒ وئیلي دي چې لمونځونه چې تر شپږ بالاسو نو قضاء ساقطه ده هغه قول دامام محمّدؒ وو کما مرّ، او حضرت الامام الاعظمؒ او امام ابویوسفؒ تجاوز د جنون او اغماء تر یوه شبانه روزه په ساعا تو سره وائي که څه هم یو ګړئ تجاوز وکړي» ولې چې تجاوز په ساعاتو سره منقول دی د حضرت علیؓ او ابن عمرؓ څخه نو هغه اولی بالعمل دی» ولې چې مقدارونه چې دي په رایه نه معلومیږي مثلًا یو سړی په شا بنت کي بې سده سو:

او د ابله ورځ تر زوال د مخه یو ساعت پرسد راغلی، نو په نیز د شیخینؒ قضاء د لمونځو باندې نسته ولې چې د ساعتو په حساب تر شبانه روز بالاسو، او د امام محمّدؒ په نیز قضاء پر سته. ولې لمونځونه په وحدته تکرار نه دی راسیدلی،

فائده امام طحطاويؒ وائي چې اعذار عقلیه دري قسمه دي» یو ممتد دی جدًا لکه کشني والی هغه خو مسقط د ټولو عبادا تو د فرضیت دی، او بل قاصر دی جدًا لکه خوب هغه مسقط د هیڅ عبادت نه دی ولو طال جدًا نادرًا» او بل په مابین کي د ممتد او قاصر دی چې هغه ته اغماء وائي، نو داکه اغماء ممتد سي حکم د صبا لري او که لږ وي حکم د خوب لري» ذکره الحدادي»

فائده، اغماء په روژه او زکوٰة کي کار نه لري، ولې یو میاشت پوره او یا یو کال بسته اغماء نادره نه ده جدًا ولا اعتبار للنادر في الاحکام الفقهیه» بخلاف الجنون فانه یمتد الی الاعوام کثیرًا، فیعتبر في سقوط العبادات»

وَاللّٰهُ اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ»

محترمو لوستونکو! دا پښتو شرحه د نور الایضاح جلد دوم بر تا سو ته د مکتبه القراءة والتجوید له خوا نشر ته وسپارل سي ولې چې حضرت ایوبي یې حقوق وهم دې ادارې ته ورکړي»

Maktaba Tul Ishaat.com

فَصْلٌ فِيْ إِسْقَاطِ الصَّلٰوةِ وَالصَّوْمِ

دا فصل دی په بیان کی د ساقط والی د لمانځه او روژی»

إِذَا مَاتَ الْمَرِيْضُ وَلَمْ يَقْدِرْ عَلَى الصَّلٰوةِ بِالْإِيْمَاءِ لَا يَلْزَمُهُ که چیری مریض مړ سو او دی قادر نه وو پر لمانځه په اشاره یعنی په سره، نو پر ده لازمه نه ده وصیت په هغو لمونځو سره که څه هم لږ وي، **الْإِيْصَاءُ بِهَا وَإِنْ قَلَّتْ** یعنی د طرفه څخه د خدای حکم دا دئ چی پر ده نه ده لازمه وصیت کول په فدیه د هغو لمونځو که څه هم لږ وي، یعنی د شپا نه روځ تر لمونځو کم وي»، دلیل په هغه د مخنی حدیث دی چی خدای پاك د مریض عذر مني» هغه علماءٔ چی د قبول العذر معنا په جواز التاخیر کوي، د هغوی پر مذهب خو په دی سبب پر ده وصیت د لمانځه نه دی لازم چی د غه میت قدرت نه دی پیدا کړی د قضا پر، او پر و ولی په هغی ناجوړی کی مړ سُو. او قدرت خو شرط د تکلیف دی» لَا يُكَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا» آیة کریمه دئ، او هغه مشائخ چی د قبول العذر تفسیر په سقوط سره کوی د هغوی پر مذهب خو نه لازم والی د وصیت ظاهر دئ. ولی چی د ده په ذمه کی لمونځ نسته، اعلم چی نص خو په روژه کی ستر چی ساقطیږی د ذمی څخه د مړی په فدیه سره او امام طحطاویؒ وائی چی د ټولو مشائخو اجماع ده پر دی باندی چی لمونځ لکه روژه دئ استحسانًا» ولی چی لمونځ تر روژی اهم دئ»

لکن اختلاف د مشائخو په دی کی دی چی آیا د ټول شپا نه روز لمونځونه لکه یوه روژه دی په فدیه کی او که هر لمونځ جلا لکه یوه روژه دی په فدیه کی. اعتماد د ډیرو علماوو پر دوهم رأیه دی» نو بناءً علی هذا هغه جاهلان چی وائی چی اسقاط د لمانځه هیڅ اصل نه لري، د دیره د مذهبه څخه لیری خبره ده، ولی چی دا خبره د دوی انکار د داد امر متفق علیه څخه په مذهب کی:

قال المصنفؒ **وَكَذَا الصَّوْمُ إِنْ أَفْطَرَ فِيْهِ الْمُسَافِرُ وَالْمَرِيْضُ وَمَاتَا** او دا غه رنګه روژه د میاشتی د روژی چی وصیت په فدیه نه دی پر لازم که چیری روژه وخوړل مسافر یا مریض په میاشت کی د روژی او دوی مړه **قَبْلَ الْإِقَامَةِ وَالصِّحَّةِ** سوه مسافر د مخه تر مقیم والی او مریض د مخه تر جوړ والی ولی چی خدای پاك د روژی په باره کی وائی: فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ» او دی دوو کسانو خو عدت من ایام اُخر نه دی پیدا کړي، نو ځکه وصیت هم نه دی پر لازم» قال المصنفؒ

وَعَلَيْهِ الْوَصِيَّةُ بِمَا قَدَرَ عَلَيْهِ وَبَقِيَ بِذِمَّتِهِ او لازم دی پر ده وصیت کول په فدیه د هغو روژو چی دی پر قادر سوی وی پر هغه روژو باندی او د ده په ذمه کی پاته وي، د روایت والئ چی تفصیل د دی مسئلی دا دی. چی که یو سړی په میاشت کی د روژی په روژه خوړلی وه لکن بیله عذره پر هغه خو وصیت په فدیه لازم دی که څه هم عِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرُ» یه نه وی پیدا کړي، ولی چی تقصیر د ده دخوا دی، ولی په بی عذره روژه خوړله، او که سړي روژی په میاشت کی د روژی په عذر د سفر یا ناجوړي مثلًا لس روژی وخوړلی، او ورو سته مقیم سو مسافر او یا جوړ سو مریض ورو سته تر پنځو ورځو مثلًا هغه مسافر مړ سو او یا مریض مړ سو، نو پر دی د وارو لازم دی وصیت په فدیه د پنځو ورځو ولی چی قدرت خو دوی پیدا کړي» مِنْ أَيَّامٍ أُخَرَ»

مسئله: د ما بقی فی ذمته د قسمه څخه دی، روژی د کفارة الصوم، روژی د کفارة الظهار، او روژی د جنایت پر احرام او نذری روژی» یعنی د ټولو د پاره وصیت کول په فدیه لازم دی» و فی الدر المختار» ما حاصله دا دی» که د میت په ذمه کی عبادت بدنی وو لکه لمونځ روژه، نو وصی د مړي د ی پسله مرګه د ده پر واجب فدیه ور کړي، او که په ذمه کی د ده عبادت مالی وو لکه زکوٰة وغیره، هر مقدار چی د ده په ذمه کی وو هغونه دی ور کړی، او که مرکب وو، د بدنی او مالی څخه لکه حج نو یو سړی دی واستوی

حج نه دمړي د مال څخه، قَالَ المُصنفُ:

فَيُخْرِجُ عَنْهُ وَلِيُّهُ مِنْ ثُلُثِ

مَا تَرَكَ لِصَوْمِ كُلِّ يَوْمٍ وَلِصَلٰوةِ كُلِّ وَقْتٍ حَتَّى الْوِتْرِ نِصْفَ

نو ورکړي به ئې ولي د مړي د مړي له طرفه څخه (یا دوړ ثت دلاري یا د وصایة دلارئ) د دريمي حصي څخه د مال متروک د مړي ولي چې خوئ مړي په وخت کې د مرض الموت د ده په دريم حصه کې دي د مال د ده او دوي حصي د ميراث خوره دي. نو کړده وصيت کړي خو جبرًا پر دي ولي

صَاعٍ مِنْ بُرٍّ اَوْ قِيْمَتُهُ وَاِنْ لَمْ يُوْصِ وَتَبَرَّعَ عَنْهُ الْوَارِثُ

جَازَ د مړي اجر لوده څه، فديه د روژي د هر ګڼ ورځي او د لمانځه د هر وخت حتى د وتر و فديه نيمه کاسه د غنمو او يا قيمت د نيمي کاسي. او که مړي وصيت نه وو کړي او تبرع يعني احسان وکړي د مړي کسره ميراث خور يعني د فديه ور کولو په وجه سره هم روا ده»

پوښتنه: چې مصنفؒ په مراقي کي وئيلي دي چې پوره د صدقة الفطر، يا پوره د نفقه ولجي د ما يني مثلاً، يا پوره د خروج، او پوره د کفارات ماليه وو، او وصيت په حج سره او يا نذر کړي خيرات د روپو، او يا اعتکاف چې ده نذر کړي وي يعني د روژي فديه دي ور کړي که څه هم لبث في المسجد کفاره نه لري»

مسئله: کې يو سړي پر ځان اعتکاف نذر کړي وو، او دي چې وو په دي وخت کې جوړ ؤد او اعتکاف يه نه وکړي نا جوړي سُو، او قريب للموت سو نو پر ده لازمه ده چې ده روژي د اعتکاف د فديه وصيت دي وکړي، او که دي مريض وو چې اعتکاف يه نذر کړي او هغه مرضه جوړ نه سُو، پس مړ سو، بيا شي نسته، **پوښتنه:** چې ترغنمو قيمت افضل دي ولي چې د مسکين هر حاجت په، و پو سره پوره کيږي ،،

مسئله: چې ميت وصيت و نه کړي او وارث تبرع وکړي په فديه کې د ما عليه کفايت به وکړي اِنْ شَاءَ اللهُ حضرت الامام محمدؒ په اطعام د صوم د ميت تبرعًا و الی يجزيه ان شاء الله او چې وصيت يه وکړي په هغه کې جزمًا وائي چې کفايت کوي، **مسئله:** که بيګا نه سړي تبرعًا د مړي فديه ادا کړي هم صحيح ده، او کې وصيت په حج سره کړي وو نو

منز وړ به د ده کوره څخه ورځي کيږي د ثلث مال څخه د ده، او که تبرعًا ولي حج نيسي کوي نود هر ځايه څخه چې راځي کيږي روا ده. **مسئله:** که مړي ثلث المال د ده د ومره نه وو چې ده وصيت په کړي وي اجراء نسواي ويلاي نو په ترتيب سره دي د فديو غاړه و باسي هغه نوري باقي به اخرت ته پاته سي. **پوښتنه:** چې ترتيب د فدايا وو په ډيريم ځای د سراجي د حواشيو ذکر سوي دي په ډير بسط او تفصيل سره نو هغه حاشيه بايد مطالعه سي»، قَالَ المُصنفُ:

وَلَا يَصِحُّ بِاَنْ يَصُوْمَ عَنْهُ وَلَا اَنْ يُصَلِّيَ

عَنْهُ او نه دي صحيح چې روژه و نسي د مړي د خوا څخه يعني که ولي او که بل څوک وي، او نه صحيح دي لمونځ کول د مړي د خوا» لِقَوْلِهِ عَلَيْهِ الصلوٰة وَالسَّلَام: لَا يَصُوْمُ اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ وَلَا يُصَلِّي اَحَدٌ عَنْ اَحَدٍ وَلٰكِنْ يُطْعِمُ عَنْهُ»

پوښتنه: په صحيح حديث کي راغلي دي: مَنْ مَاتَ وَعَلَيْهِ صِيَامٌ صَامَ عَنْهُ وَلِيُّهُ» او په بل يو حديث شريف کي راغلي دي چې يوي ښځي د عليه الصلوٰة والسلام څخه سوال وکړي چې زما مور مړه سوه او پر دي روژي پا ندي وي. آنحضرت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسلم ورته وويل: صُوْمِيْ عَنْ اُمِّكِ. **جواب:** فقهاءؒ او محدثينؒ وائي چې دا حديث منسوخ دي کما في البرهان، مراقي وائي چې بعض جاهلان عوام و مسکين ته پيسي ورکړي چې زما په پلار مثلاً دونه روژي و نيسه يا دونه لمونځونه وکړه، دا هيڅ شي نه دي، بلکه رب جل سلطانه په هغه صدقه او فديه سره چې شرع شريفي مقرر کړيده، وخپل بنده ته ترروژو او لمونځو ور تيريږي،

سوال: په فقه شريفه کي راغلي دي چې بنده و بل بنده يا مړي يا ژوندي ته ثواب د خپل عمل بخښلاي سي، **جواب:** دا بله خبره ده او صحيح ده لکن روژه د روژي عوض کرځول يا لمونځ د لمانځه ځلا خبره ده»، قَالَ المُصنفُ

وَاِنْ لَمْ يَفِ مَا اَوْصٰى بِهٖ عَمَّا عَلَيْهِ يُدْفَعُ ذٰلِكَ الْمِقْدَارُ

که چيري نه بسيدله هغه پيسي چې مړي وصيت په وکړي. او يا د ريمه د مال د ده په نه بسيدله

Maktaba Tul Ishaat.com

لِلْفَقِيْرِ فَيَسْقُطُ عَنِ الْمَيِّتِ بِقَدْرِهٖ ثُمَّ يَهَبُهُ الْفَقِيْرُ

اوبا وصیت گردسره نه وو کړی. نو بیوچا تبرعًا یو لږ مبلغ چې هغه دده د روژو او لمونځو کفایه نه شوای

لِلْوَلِيِّ وَيَقْبِضُهٗ ثُمَّ يَدْفَعُهُ الْوَلِيُّ لِلْفَقِيْرِ وَهٰكَذَا حَتّٰى

کولای نو په دغه سره صورت کی دا سې حیله وکړی چې دې ته په فقه شریف کی حِیلة الاسقاط وائي

يَسْقُطَ مَا كَانَ عَلَى الْمَيِّتِ مِنْ صَلٰوةٍ وَصِيَامٍ

چې دغه لږ مبلغ د هغو روژو او لمونځو چې بېبیدی، په هغه اندازه سره یو مسکین ته دی ورکړي یعنی تملیکًا، نو په هغه اندازه لمونځونه یا روژې د مړي څخه ساقطیږي، او بیا دی فقیر دغه لږ مبلغ بیرته ولی ته وبخښي، او ولی دی قبض کړي، بیا دی ولی بیرته وفقیرته ورکړي په نیت د اسقاط د میت څخه په هغه اندازه لمونځو یا روژوکی، او فقیر دی قبض کړي. او دا غه تملیک وفقیرته او هبهٔ فقیر وولی ته تر هغو پورې جاري وي څو چې ساقطیږي د مړي څخه ټوله هغه روژې یا لمونځونه چې دده په ذمه کی وه، او یا ساقطیږي نور واجبات چې د میت په ذمه کی وه، لکه چې د مخه تیره سوه. قال الراقی وهو الملخص فی ذالک ان شاء الله تعالى انتهى وكرره

فائده دحیلی څخه د اسقاط ټوله هغه ډلې چې د مذهب تقلید نه لري سخت منکره دي. او په خپلو رسالوکی او تقریروکی د استهزاء په سترګو ورته ګوري، دا بی مذهبه کسان څوک دي؟ وهابیان، سلفیان، پنجپیریان، دوخت ظواهر الحدیث والا، او دې مجموع ډلوته غیرمقلدین وائي. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَيَجُوْزُ اِعْطَاءُ فِدْيَةِ صَلَوَاتٍ لِوَاحِدٍ جُمْلَةً بِخِلَافِ كَفَّارَةِ الْيَمِيْنِ وَاللّٰهُ سُبْحَانَهٗ وَتَعَالٰى اَعْلَمُ

او روا ده ورکول دفدئي د ډېرو لمونځو یوه سړي ته په یوه ځای، په مراقی کی وائي چې د ډېرو روژو دا هم روا ده،

او په خلاف ددی د کفارة قسم چې هغه ویوه سړي ته په یوه ځای نه ده روا، البته ویوه سړي ته په کراتو روا ده، لکن هره ورځ جلا جلا، **پوښته**: چې د صدقه منذوري ورکړه ویوی سړي ته په یوه ځای هم روا ده، ط.

مسئله: د هغه کفاراتو د فدیه دفع ویوه سړي ته په یوه ځای هم نا روا ده چې په کی تصریح په عدد سره وی مثلاً کفارة متعین مسکینًا

ښها نه حواله

پوښته، چې درویش په رد کی درسالې دامین الله السلفی یوه په زړه پورې رساله بنام لله رساله، په بیاض دخیالی لیکلی ده چې نوم یې سیف قندهاري علی عنق امین سلفی دی» او په هغې رسالی کی ټوله هغه خبرې دامین چې د مذاهب اربعوو څخه خلاف وي بلکه د اهل السنة والجماعت د عقائدو څخه خلاف دی په اٰیت او حدیث او د مجتهدینو په نقل سره رد کړي دی چې یوه په هغو کی مسئله د حِیلة الاسقاط ده»

پوښته: چې امین پشاوري په دغه رساله کی ډېر دبې شرمی څخه کار اخستی دی، د مصنف د کتاب العقائد النسفیة» چې په مفتی الثقلین سره شهرت لري، او د اهل سنت والجماعت لوی امام دی، د تاریخ ورقی ټولی دده پر جلالت شاهدی دي، امین مذکور دده په شان کی لیکلی دي، وَلَمْ يَكُنْ عَلٰى طَرِيْقَةِ السَّلَفِ» او په یو بل ځای کی دا سې عبارت لیکلی» لَقَدْ ضَلَّ الاشعرية والماتريدية فی هذه المسألة» او ورته دده بې حیائی الفاظ په شان کی د معتبرینو د اهل السنت والجماعت لیکلی دی، او چونکه درویش ډېر کلونه د مخه پر شرح عقائد یوه حاشیه کړې وه او تخمینًا ۲۰ کالی کیږي، چې دغه کتاب دده درویش د حاشیې سره د علماوو متبحرینو د افغانستان او پاکستان په مدرسو کی وئیل کیږي او هیڅ چا په رد نه دی کړي. او ما په اخیر کی د شرح مذکور یوه حاشیه لیکلی ده چې په هغې کی لنډ عقائد د اهل سنت او جماعت می جمع کړي وه لکه مسئله د سفر وقبرته د علیه الصلوة والسلام او استمداد ده صالحانو بندګانو څخه د خدائ کرڅوندی

وی او که مړه وی خصوصًا الاستمداد من النبی علیه الصلوة والسلام» او نوری ورته مسئلی لیکلی دی»

نو دامین د دغی حاشیه په متعلق کی دا یې عبارت لیکلی دی»
لقد شرع القندهاری فی تشریکاته، وروسته یه دالتي مسئلی په أقوالو دابن تیمیه الحرونی او ابن القیم وغیرهم من ائمة مذهبه » باطلی کړي دي په گمان»، نو لو عبدالوهاب النجدی او ابن القیم وغیرهم من ائمة مذهبه » باطلی کړي دي په گمان»، نو عاصی په حاشیه کی دخیالی دده د ټولو خرافاتو مسئله په مسئله جوابونه ورکړي دي، دا ئې باید اهل علم او اهل انصاف مطالعه کړي» تا چې د مذهب د اهل السنة والجماعت ښه توضیح یه ورته وسی او د ښمنی د امین سلفی به دوی ته ښکاره سی، چې په اندازه کی د اهل السنت والجماعت څخه مخالف دي،

او څوند بې شرمي څخه چې دا عبارت یه په شان کی د تقلید او د مقلدینو او د دوی د کتابو فتاواوو په باره کی استعمال کړي دي **پوهسه**: چې د درویش د دی چلود مذهبو په رد کی په شرح کی د نور الایضاح هم کافی او په ښه پوری کړي دي تردی ځایه د مخه څخه مطالعه کړئ.

دَ تعجُّب دَ که خبَره

دغه دلی د خیر القرون د اماما نو مجتهدانو رحمهم الله تقلید نه کوی، او د ورو سته ملایانو چې تر خیر القرون دیر وروسته وو میدان ته د علم راغلی دی د هغو ډیر سخت مقلدین دی او که دوی وائی چې مونږ په قال الله وقال الرسول عمل کوو د چا تقلید نه کوو دا خبره د دوی غلطه ده. ولی چې دوی په هغه قال الله وقال الرسول عمل کوي چې محمد بن عبدالوهاب یا ابن تیمیه وغیرها دوی ته یه ترجمه کړي وی، نو مونږ مقلدان د مذاهب اربعه وو هم په قال الله وقال الرسول عمل کوو لکن په هغه ډول چې د خیر القرون مجتهدینو په مونږ ته معنا بیان کړي وي،»

اللهم اغفر لمولفه و لکاتبه و لمن سعیٰ فیه وقد اهتم بطبعه شمس الحق شمس»

بابُ قضاءِ الفوائت

باب ثابت دی په بیان کی د قضاء راوړلو د قضائی لمونځو

پوهسه: چې لمونځ چې په قصد بیله عذره سړي پریږدی هغه ته متروک وائی. او چې په عذر ځندی پاتی سی هغه ته فائت وائی» قضاء راوړل خو د واړو لازمه ده لکن په اول صورت کی گناه کاردی توبه پر لازمه ده. او په دوهم صورت کی گناه نسته ولی چې معذور گناه کار نه دی» نو اوس سئوال د دی دی چې مصنف باید په عنوان کی د باب داسی وئیلی وای » باب قضاء الفوائت والمتروکات » لیشمل قضاء القسمین » **جواب** مصنف بناء پر حسن ظن پر مسلمان متروکات نه وو وئیلي یعنی مصنف پر مسلمانانو ښه گمان کوي چې مسلمان به په قصد بیله عذره لمونځ نه پریږدی البته عذر به لري فافهم،

فائِدة سنیّة

پوهسه، چې په نور الانوار، طحطاوی، فتح القدیر او نورو کتابو د اصولو او فقه شریفه وائی چې ما مور به دری قسمه دی ۱ اداء ده ۲ قضاء ده ۳ اعاده ده. او اداء هم دری قسمه ده، اداء کامله ده لکه لمونځ په جماعت سره، او اداء قاصره لکه لمونځ بې جماعته یعني یوازی بیله عذره، وجه د قصوریه دا ده چې د لمانځه یو زیبا وصف چې جماعت دی په کښی فوت سو، او اداء شبیه بالقضاء ده» یعنی په حقیقت کی خو اداء وی لکن مشابه د قضاء سره وي، لکه د سړي څخه چې اول د لمانځه د امام تیرسوی وي نو څرنگه چې امام سلام وگرځوی، مقتدی چې په اصطلاح کی لاحق بولي، هغه تیر سوی لمانځه ته ولاړ سي،

نو دغه لمونځ چې لاحق یه کوی په واقع کی خو اداء ده چې په خپل وخت کی لمونځ دی، لکن څو مقتدی په سبب د اقتداء بالامام لمونځ د امام سره پر ځان لازم کړي وو، او اوس لمونځ دده هغسی نه دی نو شبیه بالقضاء وی ته وائی،» **فائده**: مصنف په مراقی

Maktaba Tul Ishaat.com

کی وائی چې قضاء په لغت کی حکم ته وائی. نو هم دا سبب دی چې قاضی ته د محکمې قاضی وائی
اوپه شریعت کی اسقاط دی د واجب په مثل سره د هغه د خپل خوا نه»

پوهه: چې ورته عبارت په ورته کتابونو کی د فقهې شریفې اعلی دی، لکن امام طحطاوی وائی چې قضاء په عین هغه سبب سره واجبه ده چې په هغه سبب سره اداء واجبه وه. نو بناءً علی هذا قضاء تسلیم د عین واجب دی د مثل د واجب نه دی، لکن دا قدر په فرق دی چې اداء تسلیم د عین واجب دی په خپل وخت کی او قضاء تسلیم د عین واجب دی پس له خروجه د وخت»، نو دی وائی چې دا قول د مصنف چې په مثل سره مبنی دی پر مرجوح مذهب باندی» هغه دا چې لبعض فقهاء وائی چې وجوب د قضاء په سبب جدید سره دی» او دا او س قضائی لمونځ چې سړی کوی په دی سبب مثل د واجب دی آه»

ارولیش والی چې دا اختلاف چندانی اختلاف نه دی، ولی چې د عین واجب او د مثل د واجب اطلاق پر قضائی د لمانځه دواړه روا دی، په دوه اعتباره. په اعتبار د دی چې سبب د قضاء عین سبب دی د اداء دی لکه مذهب راجح چې دی پر قضاء اطلاق د عین واجب صحیح دی، او په دی اعتبار چې د دی وقت د قضاء عین وقت د اداء نه دی اطلاق د مثل الواجب پر قضاء هم صحیح دی، فلاحاجة الی حمل کلام المصنف علی القول المرجوح کما حمله الطحطاوی» بل الاختلاف المذکور اختلاف اٰخر لادخل له فی اطلاق العین او المثل فافهم» او اعاده د لمانځه، اگر څوک د لمانځه دی په خپل وخت کی په سبب د نقصان ما سوا د فساد څخه» ولی فقهاء وائی چې هر لمونځ چې سره د کراهت تحریمی اداء سو اعاده یې پر واجب ده، په هغه وخت کی، او مندوبه چې وخت تیر سی، او مصنف چې په مراقی کی قید د واجب وو ایه اشاره یې ودی نه وکړه. چې د سنتو، اگر څو لوته قضاء نه ویل کیږی. مثلاً شارع م امر کړی چې د سړی څخه د سحار لمونځ قضاء سی نو چې فرض، اگر څوی سنت دی هم، او گرځوی. لکن پر عبارت د مم د سنت، اگر څو لوته قضاء نه وائی. او که په ځای کی د واجب عبادت ذکر سی او داسی وویل سی چې اداء کول د عبادت

دی په خپل وقت متن کی او قضاء مثل د عبادت دی په بل وخت کی نو قضاء ته سنتو چې شارع امر په قضاء سره کړی هغو ته هم شاملیږی، فافهم قال المصنف:

اَلتَّرْتِیْبُ بَیْنَ الْفَائِتَةِ وَبَیْنَ الْوَقْتِیَّةِ او ترتیب په ما بین کی د وقتی لمونځو چې لږو او ترشیپ لا نځه کموی یعنی چې دوختی لمانځه وخت فراخ وی چې قضائی او وختی دواړه په کښی ځائیږی، او که وخت تنګ وو د اصله څخه لکه د ما ښام لمونځ او یا په صنع د مصلی تنګ سو، مثلاً د ما پښین د لمانځه وخت خو په اصل کی فراخ دی لکن مصلی د ما پښین لمونځ وځنډاوه چې اوس دواړه پکښی ځائیده نو بیا ترتیب ساقط دی وختی لمونځ دی وکړی او بیلا شرط د دی چې قضائی لمونځ یې په یاد وی او کی هغه هیر وه بیا هم ترتیب ساقط دی» قال المصنف:

وَبَیْنَ الْفَوَائِتِ مُسْتَحَقٌّ او په ترتیب کول دی د وقتی لمانځه او د قضائی لمانځه په معنی د دی چې قضائی دی تر وختی د مخه، اگر څوی، او د غه ترتیب په خود ی قضائی وو کی مثلاً د سړی څخه د ما پښین ماز دیگر ما ښام لمونځونه قضاء سوی وه. نو د قضاء او ر وپه وخت کی به اول د ما پښین لمونځ، اگر څوی او بیا دی د ماز دیگر لمونځ و، وسته د ما ښام لمونځ، دا ترتیب دواړه مستحق او لازم دی»

پوهه: چې ترتیب فرض عملی دی کی خوک و نه کړی مثلاً د وقتی او قضائی لمانځه تر ما بین وقتی لمونځ یې نه دی صحیح بیرته، اگر څوی چې قضائی و، وسته سی، وکذا بین الفوائت»

فائده: حضرت الامام احمد بن حنبل وائی که سړی په قصد بیله عذره لمونځ قضاء کړی پر هغه یې قضاء نسته، ولی د دی امام په نیز دا سړی مرتد سو، او مرتد چې توبه وکاږی په قضاد ما ترکه نه دی مامور ط»، **فائده**: قوله عمر وخت دی د قضائی لمونځو بیله د دری اوقات مکروهه وو، او په قهستانی کی وائی چې قضاد لمانځه واجب علی الفور ده په نیز د امام ابو یوسف او علی التراخی واجبه ده په نیز د امام محمد»

ومن الامام اعظمؒ فیه روایتان، **فائده**: په مجتبیٰ کی وائی چی قضاء راوړه د لمونځو نه غډم واجب علی الفور ده لکن په عذر د سعی د نفقه د عیال او یا نورو حوائجو په تاخیر سره ګناه کار نه دی، ط

فائده مصنفؒ په مراقی کی دلیل د وجوب د ترتیب هغه حدیث بولی چی رسول کریم صلی الله علیه وسلم وویل که سړی بیده سو دیوه لمانځه نه او یا یې هیر وو نو د غه قضائی لمونځ هلته ورته یاد سو چی دی د امام سره په بل لمانځه ولاړ وو، نو هغه لمونځ دی د امام سره ترپایه ورسوی. او بیا دی قضائی لمونځ راوګرځوی. او وروسته دی بیرته هغه لمونځ وکړی چی امام سره کړی وو" یعنی هغه د امام لمونځ یې نفل سوه" مراقی وائی چی دا حدیث مشهور دی او ټوله امت قبول کړی هم دی، نو په داسی حدیث سره فرض عملی ثابتیږی. او بل دلیل د ترتیب د فوائتو تر مابین هغه حدیث دی د بخاری وغیره چی د علیه الصلوٰة والسلام څخه چی څو لمونځونه په غزوة الخندق کی قضاء سوه نو په ترتیب سره ئی راګرځول" او رلیښ وائی چی تفصیل د قصی د غزوة الخندق چی ډیره رقت امیزه قصه ده د دروليش په کتاب البلاغ المبین کی مطالعه کړی، او په هغه کتاب کی درویش د ټولو غزوات د انحضرت صلی الله علیه وسلم په تفصیل سره کړی دی، موافق او برابر د احادیثو مبارکو حاصل دا دی، چی د علیه الصلوٰة والسلام څخه نه ده ثابته سوی چی د څخه دی کی یو لمونځ په د مخه تر هغه نه اداءً او نه قضاءً نو که ترتیب په قضائی لمونځو صرف مستحب وای یعنی واجب او لازم نه وای لکه بعض ائمه چی وائی نو انحضرت صلی الله علیه وسلم به عمل په ترتیب سره ګاهی ګاهی پریښی وای د پاره د بیان د جواز، او یا بی قولی اشاره و ترک د ترتیب ته کړی وای د پاره د جواز او داسی نقل د علیه الصلوٰة والسلام څخه نه دی ثابت، او نه د یو صحابیؓ څخه ترک الترتیب یا قولاً یا عملاً روایت سوی دی. بلکه په صحیح حدیث صحیح کی د خفر الخندق په موقع کی چی غزوة الاحزاب یې هم بولی. کفارو انحضرت صلی الله علیه وسلم د څلورو لمونځو څخه مشغول کړی، یعنی دری لمونځونه خو بیخی څنډی قضاء سوه، ماپښین، مازیګر، ماښام. او یو لمونځ چی ماخستن وو د وخت معتاد څخه وځنډیدی. حتی چی شپه ډیره تیره

سوه نو یې بلالؓ امر کړی اذان یې وکړی او بیا یې اقامت وکړی نو د ماپښین لمونځ یې وکړی او بیا یې اقامت وکړی د مازدیګر لمونځ یې وکړی. او بیا اقامت وکړی د ماښام لمونځ یې وکړی او بیا یې اقامت وکړی د ماخستن لمونځ یې وکړئ، قال المصنفؒ:

وَيَسْقُطُ بِاَحَدِ ثَلَاثَةِ اَشْيَاءٍ ضِيْقُ الْوَقْتِ الْمُسْتَحَبِ

او ساقطیږی ترتیب په یو د درو شیانو، اول تنګ والی دی د وخت مستحب، د لمانځه په اصح

فِي الْاَصَحِّ وَالنِّسْيَانُ روایت کی، او دوهم هیرېده د قضائی لمانځه، د ضیق الوقت معنا دا ده چی د غه وخت چی مصلی به لمونځو شروع وکی قضائی او وختی دواړه نه په کښی ځائیږی" **مسئله**: که د وختی لمانځه وخت په واقع کی ډیر فراخ وو لکه مثلاً د ماپښین وخت که چیری مصلی د ابتداء څخه د وخت شروع په لمونځو کړی وای قضائی او وقتی دواړه په کښی ځائیده. لکن د شروع په لمونځو سره دومره وخت نه وکړه. بلکه وروسته یې شروع په وکړه لکن دا پاته وخت د قضائی او وختی د اداء کولو څخه تنګ وو، نو هم ترتیب ساقط دی

پوښتنه: چه اعتبار ضیق الوقت لره دی په واقع کی نه د ده په ګمان حتی که د سړی دا ګمان وو چی وخت پاته تنګ دی. نو یې وختی لمونځ وکړی تر لمانځه وروسته دا ورته ښکاره سوه چی وخت خو فراخ وو، نو هغه وختی لمونځ چی ده وکړی باطل سو

فائده: مراد د تنګ والی څخه د وخت تنګ والی دی د کولو څخه د جنس قضائی که یو وی او که دوه یا دری مثلاً او د وختی لمانځه" بحر، مراقی، در،

پوښتنه: چی مراد د تغیر څخه د وخت مستحب دا دی چی په شرع کی چی دیوه لمانځه د پاره مستحب وخت بیان کړی سوی وی د هغه وخت تغییر لا نه یږی، مثلاً د سړی څخه د ماپښین لمونځ قضاء سوی وو. نو ده چی د مازدیګر په وخت کی شروع په لمانځه کوله دومره وخت پاته وو چی که ده د ماپښین لمونځ راګرځولای" د مازدیګر لمونځ یا ټول یا بعض یې وزیړ والی ته د وخت رسیدی نو ترتیب ساقط دی"

Maktaba Tul Ishaat.com

لکن مراد دا دی چې وخت لمونځ په قرائت مسنونه وکړي نو وختي او قضائي دواړه نه ځائيږي
لیعنې په تطويل د قرائت په وقتي لمانځه کې، او که قضائي او وختي دواړه په قرائت مسنونه
سره وکړي دواړه ځائيږي او وقت مکروه ته نه رسيږي نو ترتيب لازم دی،

فائده،

مصنف چې اصح وويل ددې دپاره چې په ضيق الوقت کې اختلاف دی چې اصل وقت
په ضيق کې معتبر دی او که وقت مستحب، امام طحطاوي فقيه ابوجعفر، داول نسبت و
امام اعظم او امام ابويوسف ته کړی دی، او د دوهم نسبت يې و امام محمد ته کړی دی
او د مصنف مختاره مذهب د امام محمد دی نو ځکه يې في الاصح وويله، مثلاً ديوسړي
څخه د ماپښين لمونځ قضا سوی وو، نو مازديگر چې په لمانځه شروع کوله دوني وخت پاته
وو چې که ده د ماپښين لمونځ راگرځولای د مازديگر لمونځ ټوله يا بعض يې و مکروه
وخت ته رسيدی مگر د ټوله وخته څخه نه وتی، نو پر اوله مذهب دی داول د ماپښين لمونځ
راوگرځوي او بيا دی د مازديگر لمونځ وکړي يعنې ترتيب لازم دی. او پر دوهم مذهب دی
صرف د مازديگر لمونځ اداء کړي»
د ماپښين قضائي دی د ماښام تر لمانځه د مخه راوگرځوي. يعنې د مازديگر په لمانځه کې ترتيب
ساقط دی» بحر، در، ط» **پوهسه:** چې په محيط کې او په فتاوائي ظهيريه
کې ترجيح و قول ته د امام محمد ورکړي سوی دی»

فائده: په مجتبی کې وائي که څوک سړي چې پر ده قضائي لمونځ وو نو که ده د
مراعات سره د سنت د قرائت او د مستحب تسبيح وغيره وقتي کولای نو قضائي نه سوای
ورسره ځائيدلای. او که تخفيف په قرائت وغيره کې کړي وای نو قضائي هم ورسره کيدلای
سوای» نو دی په ادنی ما يکفي سره کفايت وکړي په وقتي لمانځه کې او قضائي دی هم راوگرځوي

تنبيه: مونږ چې د مخه قرائت وئيلی وو هغه رأی د بعض فقهاء دہ. **مسئله**
که سړي شروع وکړه په وختي لمانځه او قضائي يې هير وو، په وروسته کې په لمانځه کې
قضائي ور په ياد سو لکن وخت تنگ وو نو ترتيب ساقط دی هغه وقتي لمونځ دی پوره کړي؟

فائده: بيره په اسقاط د ترتيب معتبره ده، او جهل ته د مصلي اعتبار نسته يعنې
يو سړی په دې نه پوهيدی» چې د قضائي لمانځه او د وقتي لمانځه ترمابين ترتيب لازم
دی هغه ته اعتبار نسته بلکه د ده ته د وقتي لمانځه کول د مخه تر قضائي ناروادی» في
النقاية فرض الترتيب ولو جاهلاً» وقال شارحها يعني العلامة القهستاني» چې دا مذهب
دی د ائمه ثلاثه رحمهم، او د حسن بن زياد څخه روايت دی، إذا لم يعلم به لم يجب
عليه» يعنې که سړی په وجوب د ترتيب نه وو خبر نو پر هغه ترتيب هم نه دی واجب»
قال الطحطاوي وبه اخذ الاكثرون كما في التمرتاشي» قال المصنف:

وَاِذَا صَارَتِ الْفَوَائِتُ سِتًّا غَيْرَ الْوِتْرِ فَاِنَّهُ لَا يُعَدُّ مُسْقِطًا

او ساقطوونکی د ترتيب دا دی چې قضائي لمونځونه شپږ سي، غير د وتر څخه ولی
چې وتر مسقط د ترتيب نه دي يعنې په هغه شپږ ولمونځو

وَاِنْ لَزِمَ تَرْتِيْبُهُ

کې نه حسابيږي چې ترتيب په ساقطيږي، که څه هم ترتيب
په قضاء راوړود وتر وهم لازم دی، دليل د سقوط د ترتيب په شپږ والي د قضائي
لمونځو دا دی چې که په سله شپږ والي هم ترتيب لازم وی نو مسلمانان به په يوه لوی
حرج کې واقع سي. او په دين کې حرج نسته» قال الله تعالىٰ: وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّيْنِ
مِنْ حَرَجٍ» وايضاً قال: يُرِيْدُ اللّٰهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيْدُ بِكُمُ الْعُسْرَ» يعنې خدای پاک
اراده لري و تاسې ته د آسانۍ او اراده نه لري و تاسې ته د سختۍ، يعنې په ديني چارو کې او
بل دليل دا دی چې شپږ لمانځه چې سړی راگرځوي يعنې قضائي په بعض اوقاتو کې به
وقتي لمونځ څندی پاته سي وهو حرام» په مراقي وائي چې معتبر و تل د وخت د شپږم
لمانځه دی په صحيح روايت کې د مذهب ولې چې کثرت د قضائي لمونځو په دې سره راځي
چې يو قضائي لمونځ مکرر سي» تکرار د قضائي لمانځه چې راځي په وتلو د وخت د شپږم
لمانځه سره، او د حضرت الامام محمد څخه داسې روايت را اغلی دی، چې په مجرد دخول د وخت
د شپږم لمانځه ترتيب ساقط سو، دليل د دې چې وتر مسقط د ترتيب نه دی دا دی» چې

مسقط د ترتیب هغه شپږ لمونځونه دي چې د عقیدې دلارې فرض وي. و ترخو په نیز
دیا رانو سنت دي. او په نیز د امام اعظمؒ فرض عملي دي **مسئله**: ترتیب چې وقتي
لمانځه او د قضائي لمونځو ترمابین ساقط سي د خودي قضائي لمونځو ترمابین هم ساقط دئ،
م، د ر» قال المصنفؒ:

وَلَمْ يَعُدِ التَّرْتِيبُ بِعَوْدِهَا اِلَى الْقِلَّةِ په سبب د کثرة د قضاء د اوبه ر اگرچې هغه ترتیب چې
لمونځو ساقط سوی وو، په سبب د گرځیدو د قضائي لمونځو وحد ته د لږ والي په دې سبب
چې بعض لمونځونه قضائي سړي ر او گرځوله مثلاً د سړي څخه دیوی میاشتی لمونځونه
قضا سوي وه ترتیب خونو ساقط سو، نود کرار کرار قضائي لمونځونه ر اگرځول حتی چې یو
لمونځ ور ته پاته سو، نو دغه سړی سره دی چې دغه یو قضائي لمونځ پیادوی او ل وقتي لمونځ
وکړی او بیا یې قضائي لمونځ ادا کی صحیح دی. ولي ساقط لَا يَعُوْدُ» په بحر ائق کی یو په
زړه پوری مثال راوړی دئ. چې یو ځای لږ اوبه مرداري ولاړی وي، ور وسته پر هغو
لږ اوبو نوری ډیری جاري اوبه ر اسي چې و به هیږی، ور وسته هغه جاري اوبه قطع سي
او هغه د مخه اندازه لږ او به پاتی سي، بیا بیرته به نجاست نه را گرځي» قال المصنفؒ

وَلَا بِفَوْتِ حَدِيْثَةٍ بَعْدَ سِتٍّ قَدِيْمَةٍ عَلَى الْاَصَحِّ فِيْهِمَا

او داغه رنگه نه اگرڅې ترتیب ساقط په قضا کیدو د نوی لمانځه په سلسله شپږو لمونځو په
خوانیو چې ده قضا کړي وه، او ده د څخه هیر وه، نودی سړي وقتي لمونځ تر نوی قضائي
لمانځه د مخه وکړی. او بیا یه شپږ قدیم قضائي لمونځونه ور پیاد سوه وقتي لمونځ یه صحیح سو
مصنفؒ وائي چې پر اصح روایت په دغو دواړو مسئلو کښی»
پوهسه: چې مصنفؒ ور وسته تر هغه قول: وَلَمْ يُعِدِ التَّرْتِيْبُ آه په مراقي کی وائي
وعليه الفتوى، لكن بعض فقهاء وائي چې ترتیب ر اگرځي قال في المجتبى وهو احوط، وذكر
الصدر الشهيدُ وهو الصحيح وكذا قال في التجنيس والمزيد، قال صاحب الهداية وهو الاظهر

لان علة السقوط هو الكثرة وقد زالت» حاصل د دلیل د هدائی دادی چې علت د سقوط د
ترتیب خو کثرت د قضائي لمونځو وو، او هغه خواوس زائل سو ولي چې مصلي د بعض لمونځو
قضا راوړه نو بیرته قضائي لمونځونه وقلت ته ر او گرځیده او په قلیل کی خو ترتیب واجب
وو، (درویش وائي: چې صاحب البحرؒ مصنفؒ تائید کړی دی او که زه د اصحاب الترجیح
څخه وائي مابه هم د مصنفؒ د مذهب تائید کړی وای، ولي چې ساقط» لَا يَعُوْدُ» قضیه مسلمه
وما قال المصنفؒ في المسئلة الثانية لا يفوت» آه قال فيها في المراقي وعليه الفتوى، وفيه رد
لما قال بعض العلماء» چې هغه د مخه شپږ لمانځه چې ده په خوا قضا کړي وه داسي باید فرض سي
ان لم يكن يعنی لکه ده چه نه وه قضا کړي، نو دغه وقتي لمونځ چې ده تر نوی قضائي
لمونځ د مخه وکړی صحیح نه دئ، دوی وائي چې مونږ دا کار د ده د زجر د پاره وکړی
او دی قول تصحیح په محیط کی او سراج الدرایه کی کړیده » د مفتی به مذهب دلیل دادی
چې د مصلي اشتغال په دغه نوی قضائي لمانځه تر وقتي لمانځه د مخه اولی نه دی تر اشتغال
په هغه قدیمه قضائي وو سره »
او که مصلي په هغو لوسره اشتغال وکړی تر وقتي د مخه نو خو وختي لمونځ د خپله وخت
وو زی وهو حرام» قال المصنفؒ:

فَلَوْ صَلّٰى فَرْضًا ذَاكِرًا فَائِتَةً

وَلَوْ وِتْرًا فَسَدَ فَرْضُهُ که ئې چیری فرض وکړي د وختي لمانځه فرض او ده په یاد وو (دا تفریع ده پر لزوم د ترتیب په اول کی د باب» او د وَلَا يَفُوْتُ حَدِيْثَةٍ» سره کار نه لري)
قضائي لمونځ که څه هم هغه وتر وي، نو فرض یه فاسد سوه لوجوب الترتيب عليه»
فَائِدَه: مصنفؒ فَرْضُهُ وویل او داسي نه وویل چې فَسَدَ صَلٰوتُهُ د دی د پاره
چې په مذهب د امام اعظمؒ خو اصل لمونځ فاسد نه دی بلکه نفل گرځي هُوَ وَصْف د فرضیت
یه ولاړی»، قال المصنفؒ:

فَسَادًا مَوْقُوْفًا یعنی فساد یه یقیني نه دی بلکه په ور وسته لمونځو پوري اړه
لري نو بیا به فساد بیرته پورته سي او یا به یقیني سي، لکه مصنفؒ چې

Maktaba Tul Ishaat.com

بیان د دی په دغه قول سره کوی» قـال المُصنفؒ

فَإِنْ خَرَجَ وَقْتُ الْخَامِسَةِ مِمَّا صَلَّاهَا بَعْدَ الْمَتْرُوكَةِ

نو که ووتی وخت د پنځم لمانځه د هغو لمونځو څخه چی ده وکړه پسله متروکه لمانځه څخه چی پریا یی وه

ذَاكِرًا لَهَا صَحَّتْ جَمِيعُهَا فَلَا تَبْطُلُ بِقَضَاءِ الْمَتْرُوكَةِ

په تولو لمونځو کی هغه قضا ئی لمونځ نو ټول لمونځونه یی صحیح سوه: حاصل د دی مسئلی دا دی چی دیوه **بَعْدَه** سړی څخه یو لمونځ قضاء سو، ورو سته د هغه قضا ئی لمونځونه ئې او ګرځاوه بلکه پنځه لمونځه پرله پسی یې وقتی وکړه چی په ټولو کی هغه قضائی لمونځ ورته پیاد سوو، نو ټول لمونځونه وقتی یې صحیح سوه په نیزد امام اعظمؒ ابو حنیفه» دلیل یې دا دی چی کړی پنځه لمونځه چی په سبب د وجوب الترتیب فاسد سوه، نو حکمًا دا هم په متروکه وو کی حساب سوه یو خو هغه بل متروک وو چی شپږ سوه. نو ګویا ابتداءً متروکات شپږ وه او ترتیب ساقط وُو، مثال د مسئلی هغه دی چی یو سړی زکوٰة د مخه تر کال تیر یدو ورکی نو د دی زکوٰة فرض والی موقوف دی پر تیر یدو د کال نو چی کال تیر سُو نصاب پر ځپله لا پاته وو نو هغه د مخه زکوٰة فرضی وګرځیدئ: او که ورسته نصاب بالکل د ما بین څخه ولاړی نو هغه ورکړی زکوٰة نفل سوله، او یاراںٔ په مسئله مذکوره د لمونځو کی دا سی وائی چی دغه پنځه لمانځه فاسد سوه، په فساد قطعی سره، او پر ده په قضاء د دغو پنځو سره د هغه اول فائت لازم ده. نو اوس شپږ قضا ئی لمونځونه سوه، نو تر دی ورو سته چی دی وقتی لمونځونه کوی، هغه صحیح دی کی څه هم هغه شپږ قضائی لمونځونه یې نه وی را ګرځولی، ولی چی ترتیب په سبب د شپږ والی د قضا ئی لمونځو ساقط سُو. قال المصؒ

وَإِنْ قَضَى الْمَتْرُوكَةَ قَبْلَ خُرُوجِ وَقْتِ الْخَامِسَةِ بَطَلَ

او کی قضاء راوړه د هغه قضائی لمانځه د مخه تر وتو د وخت د پنځم لمانځه چی د ده په

وَصْفُ مَا صَلَّاهُ مُتَذَكِّرًا قَبْلَهَا وَصَارَ نَفْلًا

په هغو کی قضا ئی لمونځ په یادوو. نو باطل سو صفت د هغو څلورو لمونځو یعنی فرض والی یې باطل سُو. او ذات د لمانځه یې باقی دی ولی خو نفل وګرځیده. او دا هم مذهب دی دا امام اعظمؒ ابو حنیفه او امام ابو یوسفؒ او په نیزد امام محمدؒ باطل سوه هغه لمونځونه اصلاً و وصفًا، شیخینؒ وائی چی تحریمه خو د اصلی لمانځه وه لکن سره د وصف د فرضیت» نو چی وصف د فرضیت یې باطل سُو اصل خو یې پاته دی نو نفل وګرځیده. او امام محمدؒ وائی چی تحریمه خو د فرضی لمانځه د پاره وَه، چی فرض یې باطل سوه نو تحریمه باطله سوه نو بې تحریمی خو نفل نه دی روا

پوهسه چی امام ابو یوسفؒ په اوله مسئله کی د حضرت الامام الاعظمؒ څخه مخالفت وو او په دوهمه مسئله کی د امام اعظمؒ سره موافق دی **فَائِدَه**: د دی دوو مسئلو په باره کی خلګ یا طالبان یو د بل څخه پوښتنه کوی، او وائی کوم دی هغه یو لمونځ چی پنځه لمونځه فاسد دوی: کوم لمونځ دی ! چی پنځه لمونځه صحیح کوی نو د اول سوال جواب دوهمه مسئله ده او د دوهم سوال جواب اوله مسئله ده» قَالَ المُصنفؒ:

وَإِذَا كَثُرَتِ الْفَوَائِتُ يَحْتَاجُ لِتَعْيِينِ كُلِّ صَلٰوةٍ يَقْضِيهَا

او که قضا ئی لمونځونه بیخی ډیر وَه نو مصلی محتاج دی چی د هر لمانځه چی قضاء یې اوړی تعیین د تاریخ او د وخت د هغه لمانځه به کوی. ولی فرائض هم ډیر دی او تاریخونه او وختونه یې هم سره مختلف دی» په مراقی کی وائی د مثال په توګه چی زه قضائی لمونځ د ماپښین کوم د دوشنبی د ورځی، د اتلسم تاریخ د ځیمی خور ۱۰۵۲ھ او دا بنکاره خبره ده چی په دا سی تعیین کی ډیر تکلیف دی، ولی چی د بعض خلګو څخه په مختلفو کلو کی او په مختلفو میاشتو او مختلفو ورځو کی. مختلف لمونځونه قضا سوی وی. نو د وی په قضاء اوړلو کی د هغو لمونځو د اټوله تعینات څرنګه وکړای سی.

بَل فی مثل هذا تعسّر واصل الیٰ حد التعذر" او سره ددی چې زمونږ دین اسلام بناء پر آسانی ده، قَالَ عَلَیه الصلوٰة والسلام ا تیتکم بالحنیفة السهلة" الحَدیث" نو ددی سببه مصنفؒ وائی: قَالَ المُصنفؒ:

فَاِنْ اَرَادَ تَسْهِیْلُ الْاَمْرِ عَلَیْهِ نَوٰی اَوَّلُ ظُهْرٍ عَلَیْهِ اَوْ اٰخِرَهُ

نو که مصلی او قضا ، او ړو نکی پر ځان نیت کول او تعین کول آسانه ګرځوی نو دا سی دی وَوائی چې زما نیت دی داول ماپښین چې ماسته لیعنی چې پر ما یه قضا سته. پر دی سبب چې پر ما دهغه وخت راغلی دی او ما نه دی کړی. نو ددی لا نځه قضا چې را وړی نو دَا ماپښین دما بین وَلاړی او بَل دماپښین لمونځ د ده په ذمه اول وګرځیدی، وهکذا دماز دیګر ماښام ماختن سحار، په قضائی لمونځو کی دی وړته نیت کوی، او یادی داخیر ماپښین چې زما پر ذمه لازم دی، وهکذا فی الصلوة الأخر" قـال المصنفؒ،

وَكَذَا الصَّوْمُ مِنْ رَمَضَانَیْنِ

او دغه رنګه دی حکم دقضائی روژو د دوو میاشتو دروژی یعنی تعیین غواړی یا تفصیلی یا اجمالی کما مر فی الصلوٰة" او که دیوی میاشتی دروژی دوی دری قضائی روژی پر ده باندی وی نو هغه تعیین نه غواړی په اتفاق سره، حتیٰ که پر سری دوی روژی باندی وی او د روژی نیت یه وکی تعیین داول اوثانی شرط نه دی. لکن مَعَ عَدم شرطیة تعیین احد الیومین لو عین لکان اولیٰ"

فَائِدَه فرق دلمونځ او دروژو په اشتراط کی دَ تعیین فی الاول دون الثانی ان.. اسباب الصلوٰة وهی الاوقات متعددة مختلفة" او سبب دروژو میاشت ده او هغه یوه ده نو په قضا راوړو کی دروژو صِرف اکمال العدد مقصود دی. قَالَ عَلیٰ اَخذ تَصحیحین مختلفین" پر یوه ددوو تصحیح مختلفو" ولی امام زیلعیؒ تصحیح دلزوم التعیین کړیده، او خلاصه والا تصحیح دعدم لزوم التعیین کړیده" او رویش وائی چې واضح خبره ده چې په تعیین کی د نیت که په تفصیلی توګه وي، او که په اجمالی

کما مَرّ سابقًا څه نا څه حَرَج دی، خصوصًا دعوام الناس دپاره. او خدای جل سُلطانه وائی "یُرِیْدُ اللّٰهُ بِکُمُ الیُسْرَ وَلَا یُرِیْدُ بِکُمُ العُسْرَ" او بل ځای وائی: وَمَا جَعَلَ عَلَیْکُمْ فِی الدِّیْنِ مِنْ حَرَجٍ" چې په کلمه دمِن استغراق یه حَرَج زمونږ څخه بوی ته کړیده. او په بل ایت کی داسی راغلی دی " لَا یُکَلِّفُ اللّٰهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا"

نو ددی کبله چې تلاش وکړو صاحب دکنزالد قائق رحمۃ اللہ علیہ په مسائل شتی وو کی دکنز داسی وائی. انه لایحتاج الی التعین وهو الاصح عَلیٰ مَا قاله فی القنیه" مَن یقضی لیس عَلیه ان ینوِیَ اول صلوٰة کذا او اخیر فینوی ظهرًا او عصرًا و نحوها علی الاصح انتهیٰ په تحقیق شان دادی چې حاجت نشته وتعیین ته یعنی دنیت په قضائی لمونځو کی یعنی نه تفصیلا او نه اجمالًا" وَهُوَالاصح" لکه په قنیه کی چې وائی څوک چې قضا راوړی یعنی د لمونځو یاد روژو نشته، پر ده باندی چې دی به نیت کوی، داول فلانی لمونځ او یا اخیر بلکه دی دې نیت کوی چې قضا راوړم د ماپښین یا دماز دیګر او یا مثل د هغو علی الاصح آه او د کنز وخبری ته ترجیح ورکړیده صاحب د خانیه او خلاصه" او پردا غه رأیه دی صاحب دفتح القدیرؒ قَالَ المصؒ فی المَراقی"

چې څوک چې په واقعه د ډیرو قضائی لمونځو مبتلا سی. نو دی رجوع و مذهب او رائی ته د کنز الدقائق وکړی. ولی چې د هغه په حکم کی فراخی ده، او په اخیر کی وائی. وَ اللّٰهُ رَؤُف رحیمٌ" خدای ډیر مهربانه دی ځکه یه د غایت رحمت له کبله دامت مرحومه په دینو چارو کښی دحرج سره نه دی مخامخ کړی" کما مر مِن الایات الدالّة عَلیٰ ذالك" وَاسِعٌ عَلِیْمٌ فراخ دی رحمت د ده جَل شانه او دی بنه خبر دی په حَال دبندګانو چې څونه لمونځونه بنده قضاء کړی دی نو هغه به څنګه ساقط کړی" یعنی بیله تعیین دبنده"

تذنیب

مَسْئَلَه: که یو سړی ډیر لمونځونه خو قضا کړی دی لکن مقدار او حساب د هغو یقینًا نه وو معلوم" نو دی پخپل ګمان سره عمل وکړی. او کی غالب الظن نه وو، نو تر هغو دی راګرځوی چې ده ته یقین کیږی چې نور قضائی نو نشته"

مَسْئَلَه: بعض صوفیان خلګ دټوله عمر لمونځونه راګرځوی دپاره داحتیاط، او سره

Maktaba Tul Ishaat.com

ددی چې ده هیڅ لمونځ هم نه وی قضاء کړې، بعض علماء وائی داسی کول مکروه دی لکن دغه سړی ته افضله داده، چې که څه هم دی نیت دقضائی لمونځ کوی، خو په اخیرو دوو رکعتوکی دی باید لا فاتحه دالحمد لله سره سورت هم وائی. ولی دغه لمونځ دده که قضائی په ذمه کی دده نه وی نفل دی، اوپه نفلوکی انضمام دسورت واجب دی،

اوپه فرضی لا فاتحه کی صرف لازم نه دی، اوچې دوترو قضاء اوړی په دریم رکعت کی دعائی قنوت ووائی. اوپه اخیرو نا سته کی دی په قدر د تشهد کښینی او بیرته دی ولاړ شی څلورم رکعت دی هم وکړی بیا دی کښینی او التحیات وغیره دی ترپایه ووائی بیا د سلام وگرځوی. نو که دده په ذمه کی وترو وه خو هغه وتر یه وکړه او که نه وه نفل یه څلور رکعت یه وکړه ولی دری رکعت خو نفل نسته، اوداچې دریم رکعت دی کښینی د نفلونه تاوان نه لری ددی سببه چې یقینی نفل خو نه دی،

فائده اودغه رنګه دمابنام قضائی احتمالی دی څلور رکعته کوی په دریو ناستو سره په سنتونو کی دی دقضائی نیت نه کوی اودغه رنګه دماښت په لا فاتحه کی دقضائی نیت نه کوی اوپه صلوة التسبیح کی دی هم دقضائی نیت نه کوی. اودغه رنګه په هغو نوافلوکی چې فضیلت یه په احادیثو مبارکه وو سره ثابت وی دقضائی نیت دی نه کوی، اوما سوا دغو نفلو نځه په نیت دقضائی لمونځو افضل دی ترنیت د نفلو، ولی قضاء اوړه ډیره مهمه ده ترمجرد نفلو، مر، ط، در، والله ولی الفضل والتوفیق، قال المصنف،

وَيُعْذَرُ مَنْ اَسْلَمَ بِدَارِالْحَرْبِ بِجَهْلِهٖ بِالشَّرَائِعِ

اومعذور گڼل کیږی هغه سړی چې اسلام راوړی په دارحرب کی په نا خبرتیا سره په احکامو شرعیه وو، یعنی دغه مسلمان که نه لمونځ کاوه او نه ئی روژه نیوله او نور شرعی شریعی اود اسلام کارونه گناه گار نه دی. ولی چې دی د شرعی په احکامونه ووخبر نو دی معذوره دی، ولی چې خطاب الهی وهغه چاته متوجه کیږی چې په مشروعه احکامو خبروی اویا دلیل د خبرتیا ورته وی.

مصنف قید ددارالحرب ووایه. ولی که په داراسلام کی یو کافر مسلمان شی هغه په ټولو احکامو شرعیه وو مکلف دی، که څه هم په جاهل وی. ولی چې دلیل دخبرتیا چې داراسلام دی په ځای کی د خبرتیا دریږی، دا خوزمونږ دحنفیانو مذهب وو، اوامام شافعی او امام احمد اوزمونږ دمذهب امام زفر پتوله احکام عملیه او فرعیه پر دغه مسلمان ددارحرب لازم بولی. او دی په مکلف بولی که څه هم په خبر نه وی حتی که دغه مسلمان لمونځ نه کوی یا روژی نه نیولی وغیره گناه گاردی او قضا یه پر لازمه ده،

دوی حضراتو قیاس دفرعیه اعمالو پر ایمان کوی یعنی هر کافر ددارالحرب مکلف په ایمان سره دی بالاتفاق **جواب** دلیل دوجود د صانع اود وحدت او د علم او حیوة دده عقلی دلائل دی چې هر عاقل په برابر ولای شی که غور وکړی او په دقت د نظر په مصنوعاتو علویه او سفلیه کی دخدای جل شانه سره فکر وکړی قال الشیرازی ؎

برگ درختان سبز درنظر هوشیار ٭ هر ورقی دفتریست معرفت کردگار

وقال الآخر

گر انبیاء هم نامدی نی شرع بودی درجهان ٭ نه واجب شدی بر مؤمنان ایمان بخالق مقتدر

وقال الآخر

نقصان ز قابل است وگرنه علی الدوام ٭ فیض سعادتش بهمه کس برابر است

قال الله تعالی شانه

وَفِيْٓ اَنْفُسِكُمْ اَفَلَا تُبْصِرُوْنَ، یعنی کرد خاړی چې مصنوعاتو الهیه وو ځنه نظر قطعه شی ستاسی په اعضاوو کی دلائل دوجود او د قدرت او د علم وغیره دباری تعالی موجود دی. بیشکه،

نُورُالْاِيْضَاح جلد ۳

به هم ان شاء الله ډیر ژر ستاسو حضورته وړاندی شی،

بَابُ اِدرَاكِ الفَرِيضَةِ

باب ثابت دی په بیان کی دیښولو دیو سړی فرضی لمونځ دامام سره نواضافت دادراك ولفظة دفریضی اضافت دمصدر دی ومفعول ته، امام طحطاویؒ په تمهید کی ومسائلو ته ددی باب داسی وائی. چی قانون شرعی دادی، چی ماتول دعبادت بیله عذره حرام دی، او پریښودل دعبادت دپاره دکامل اداءکولو کمال دی، ولی که څه هم دا نقض دعبادت صورةً نقصان دی لکن په معنیٰ کی اکمال دی او قانونی خبره ده چی مراعات دمعنیٰ ته مراعات د صورت بالا دی لکه دیوه زاړه مسجد نړول دپاره دبنه پوخ جوړولو، او یا لکه یو سړی چی پر محګه سر کښیږدی دسجدی دپاره او زوف یه په تندی جګ سی. بیرته سراپورته کی بل ځای سجده پوره کړی رواده. او دوی سجدی نه بلل کیږی» اِذَا تَمَهَّدَ هٰذَا فَاسْتَمِعْ لِمَا يَقُولُ الْمُصَّ

اِذَاشَرَعَ فِیْ فَرْضٍ مُنْفَرِدًا فَاُقِیْمَتِ الْجَمَاعَةُ قَطَعَ وَاقْتَدٰی

که شروع وکړی یوه مصلی په فرضی لمانځه کی، یوازی نو اقامت وکړه سو دجماعت دپاره نو دغه منفرد دی لمونځ قطع کړي او اقتداء دی په امام پسی وکړی»

پوهـسـه: چی مصنفؒ قید دفرض وواېه، ولی کی دنفلو نیت کړی وو هغه دی نه قطعه کوی بلکه دوه رکعته دی وکی بیا دی سلام وګرځوی اقتداء دی په امام پسی وکړي او دفرض لفظ یه مطلق وواېه تاچی وقتی او قضائی دواړو ته شامل سی، او نفل دی نه قطع کوی ولی چی دنفلی لمانځه په قطع کولو خو ابطال دنفلو دی بالکلیه اکمال نه دی» دوختی لمانځه مثال خو ظاهر دی» دقضائی مثال دادی چی دیو څو کسانو څخه متعدد لمونځونه قضاء سوی وه، لکه دعلیه الصلوٰة والسلام څخه چی سره دا صحابوؓ په غزا کی دخندق څلور لمونځونه قضاء سوی وه، نو په داسی صورت کی یو منفرد هغو کسانو څخه دماپښین لمونځ مثلاً یوازی راګرځاوه هغه نور ملګری راغله دغه دماپښین لمونځ چی دهغو څخه هم قضاء

سوی وو، په جماعت یه شروع کړه. نو هغه منفرد دی خپل لمونځ ور ته قطع کړي، او په جماعت کی دی شریک سی ولی چی په دی شراکت کی اکمال دده د لمانځه دی چی په جماعت بی اداء کړي»

پوښتنه که منفرد د مازدیګر لمونځ راوګرځاوه، او ملګرو یه دماپښین په لمانځه شروع وکړه نو هم دی منفرد له لمونځ ور ته قطع کوی که څرنګه! **جواب** یا نه دی قطع کوی او شراکت دی نه ورسره کوی. ولی چی یو والی د لمانځه د مقتدی او د امام په صحت کی داقتداء شرط دی» **فـائـده**: دفرض په قید سره مصنفؒ نفل وایستل، ولی چی نفل به شفع ګرځوی بیا به اقتداء کوی. ولی چی په قطعه کولو کی حود نفلو ابطال ر اځی بالکلیه اکمال په کښی نشته، البته که سړي پر نفلی لمانځه ولاړ وو او جنازه راغله اودی بیریدی که نه نفل شفع کوم، د جنازی لمونځ راڅخه تیریږی نو دی نفل قطع کوی دجنازی لمونځ دی وکړي، ولی نفلی لمونځ خو بیا قضاء لري او جنازي لمونځ خو عوض نه لري»

پـوهـسـه: چی مصنفؒ په مراقی کی وائی چی اقامت به په هغه محل کی وی چی هلته منفردًا لمونځ کوی. نو که دکور منفردًا لمونځ کاوه او دمسجد اقامت یه واوریدی په سبب دقرب دار، او یا په سبب دلاوډ سپیکر، او یا ده بچپل مسجد کی منفردًا لمونځ کاوه ولی دخپل مسجد لمونځ څندی تیر سوی وو، نو د بل مسجد اقامت یه واوریدی» با حد النحوین المذکورین» په دواړو صورتو کی پر ده قطعه د لمانځه نه ده لازمه» انتهٰی بخلاصته»

امام طحطاویؒ داخبره نه منی او دی وائی چی جماعت خو واجب دی یعنی پر صحیح روایت د احنافو کما فی فتح القدیر» او جماعت مقید دده بچپل مسجد پوری نه دی، بلکه فقهاءؒ تصریح کړیده چی که دسړی څخه دخپل مسجد جماعت تیر سوی وو، او په بل مسجد کی امید دجماعت وو نو هغه مسجد ته تګ پر لازم دی، نو تقید دمراقی بی فائدی دی.

فـائـده: مراد د اقامت څخه متعارف اقامت نه دی بلکه تحریمه دامام ده، ولی که مجرد مؤذن شروع په اقامت متعارفه وکړی او منفرد اول رکعت په سجده سره نه وي.

Maktaba Tul Ishaat.com

مقيد کړي او دده غالب گمان داوي چې مؤذن اقامت خلاصوي نو به سبک دوه رکعته نفل ورته پوره کړم بيا قطعه في الحال لازم نه ده بلکه شفع د نفلو دي پوره کړي، کذا نقل عن ملا مسکينؒ درويش وائي چې ما په عبارت د ملا مسکينؒ د غه قيد زيات کړي چې دده غالب آه نو هغه اعتراض د طحطاويؒ په ملا مسکينؒ کړي دي نه وارديږي چې دي وائي چې مدة د اقامت هو قليلة جدًا لا يتأتى فيها رکعتان فتدبر"

مسئله: چې مصنفؒ په مراقي کې د قطع په تفسير کې داسې وائي "بتسليمة قائمًا" لکن په مجمع الانهر کې وائي چې قطعه عامه ده کې په سلام کوي او کې بيله سلام کوي او کې په ولاړې کوي او کې په رکوع کې کوي، وهو الصحيح، وقيل لو کان قائمًا يقطعه بتسليمة واحدة وقيل بتسليمتين وقيل يقعد ثم يسلم وقيل يقعد ويتشهد ايضًا ثم يسلم تسليمتين للقطع والفتوى على قول المصنفؒ، در"

درويش وائي چې امام طحطاويؒ وائي چې مصنفؒ حکم د قطع د لمانځه او د اقتداء په امام پسې نه دی کړي يعني دا قطع او اقتداء لازم ده او که جائز ده، آه والجواب ان عبارة المصنفؒ بظاهره تدل على اللزوم لان عبارة الفقهاء يحمّل على اللزوم" والقرينة عليه انهم اذا کان العمل جائزًا او واجبًا يقولون يجوز له کذاه نعم عبارت د در مختار دلالت په جواز کوي، ولې چې هغه دا قطعه مشابه گرځولې ده د جائز عمل سره حيث يقول يقطعها لعذر احراز الجماعة کما لو ندت دابته الى ان قال ويجب القطع نحو انجاء غريق آه نو چې د قطع واجب و بولل د پاره د انجاء غريق نو دا معلومه شوه چې د پاره د احراز د جماعت صرف قطعه روا ده لکه د ند د دابه په وخت کې چې قطعه روا وه واجبه نه وه. او بعض علماء وائي چې لمونځ دې تر هغو نه قطع کوي څو يوه شفعه نه کړي پوره د څلورو رکعتي لمانځه"

قال المصنفؒ **اِنْ لَمْ يَسْجُدْ لِمَا شَرَعَ فِيْهِ اَوْ سَجَدَ فِيْ غَيْرِ رُبَاعِيَّةٍ**

او دا قطعه د لمانځه به هلته کوي کې سجده نه وه کړې د هغه لمانځه چې ده شروع منفردًا په کړي وه. او يا يې سجده خو کړې وه لکن لمونځ غير رباعي وو، يعني يا دوه رکعته لکه د سحار لمونځ يا درې رکعته لکه د ماښام لمونځ،

يعني په د غو لمونځو کې به يې فورًا قطعه کوي" پس له سجدې څخه ولې کړ دی د سحار په لمانځه کې بل رکعت ور ضم کې خو فرض د سحار پوره شوه او جماعت فوت شو، او په امام پسې د نفلو نيت هم نشي کولای. ولې چې وروسته د سحار نه لمانځه نفل نه دي روا. او کې د ماښام په لمانځه کې که بل رکعت ور ضم کړي فا يضًا جماعت گويا څندي فوت شو لان للاکثر حکم الکل" او د امام سره په نفلي لمانځه هم نشي گډی دا ئ، ولې چې درې رکعته نفل هم نشته، او که څلور رکعته پس له سلامه د امام ور جوت کړي مخالفت د امام لازميږي، مر، ط در،

وَاِنْ سَجَدَ فِيْ رُبَاعِيَّةٍ ضَمَّ رَكْعَةً ثَانِيَةً وَسَلَّمَ لِتَصِيْرَ الرَّكْعَتَانِ

او کې په رباعي لمانځه کې سجده کړې وه نو ور جوت کړي يو رکعت بل او بيا دې باقاعده سلام په

لَهُ نَافِلَةً ثُمَّ اقْتَدَى مُفْتَرِضًا دواړه خواوو گرځوي تا چې هغه دوه رکعته به دده د پاره نفل شي، او بيا دې اقتداء په امام پسې وکړي فرضي لمونځ کوونکي"

مسئله: چې درې رکعته نفل په نيز د بعض علماوو صحيح نه دي. او بعض علماء وائي صحيح دي لکن مکروه دي" د مصنفؒ عبارت په مراقي کې دواړو مذهبونو ته شامل دي ولې هغه وائي "لمنع التنفل بالبتيراء" لفظ د منع عدم صحت او مکروه دواړو ته شامل دي فهي من جوامع الکلم" قال صاحب البحرؒ چې تصريح د مشائخو په څلورو رکعتي فرضي لمانځه کې چې يو رکعت يې کړي وي د بل ضمول واجب دي، صريح دي په دې کې چې يو رکعت لمونځ باطل دي صرف مکروه نه دي. او د صاحب البحر ورور هم ورته خبره کړې ده في النهر" ط

قال المصنفؒ **وَاِنْ صَلّٰى ثَلَاثًا اَتَمَّهَا ثُمَّ اقْتَدٰى مُتَنَفِّلًا اِلَّا فِي الْعَصْرِ وَالْفَجْرِ**

يعني د رباعي لمانځه درې رکعته يې کړي وه منفرد نو دې يو بل رکعت وکړي چې څلور پوره شي. ولې چې اکثر لره حکم د کل دي. او پس له اتمامه دې بيا اقتداء پسې وکړي نفل کوونکي، مگر نه په مازديگر کې او د سحار په لمانځه کې

ولې چې نهی راغلی دی د نفلو څخه وروسته تر دغو دوو لمونځو، او مراقي مغرب وروسته ولاړ دي. ولې چې درې رکعت نفل خو نشته او که څلورم ورضم کړي مخالفت د امام راوړی دی، وقد قال النبی صلی الله علیه وسلم: لرجل اذا صلیت فی اهلك ثم ادرکت الصلوة ای بالجماعة فصلها ای بالجماعة نفلا الا الفجر والمغرب» او نهی د نفلو څخه پس له مازدیگر خو مشهوره ده، قال المصنف:

وَإِنْ قَامَ لِثَالِثَةٍ فَأُقِيمَتْ قَبْلَ سُجُودِهِ قَطَعَ قَائِمًا بِتَسْلِيمَةٍ

او که منفرد ولاړ سو و دریم رکعت او بیا اقامت شروع سو د جماعت د پاره د مخه تر سجدې د دریم رکعت لمونځ دی قطع کړي په ولاړې په یوه سلام یعني په جماعت کې دې شامل سي،

فِي الْأَصَحِّ

په دې کې رد دی پر شمس الائمة السرخسیؒ چې هغه وائي که کښېني نه فسخ لمونځ په فاسد دی» وما قال المصنف هو مذهب فخر الاسلام چې هغه وائي چې الله اکبر دې ووائي په ولاړې په نیت د شروع په لمانځه کې د امام، نو ختم د مخه د لمانځه په ضمن کې د شروع په لمانځه د امام حاصل سو. او که لاسونه ترغوږو پورته کوي هم وړ سته جواز دی» قال المصنف:

وَإِنْ كَانَ فِي سُنَّةِ الْجُمُعَةِ فَخَرَجَ الْخَطِيبُ أَوْ فِي سُنَّةِ الظُّهْرِ

که چیرې لمونځ کوونکی په څلور رکعته کې د سنت د جمعې وو او خطیب راووتی یعني د پاره د خطبې

فَأُقِيمَتْ سَلَّمَ عَلَى رَأْسِ رَكْعَتَيْنِ وَهُوَ الْأَوْجَهُ

او یا سړی په څلور رکعتیزو سنتو کې وو د ماپښین او اقامت د پاره د جماعت شروع سو» نو دی دې سلام وګرځوی یعني یو وار دې کښېني پر سر د دوو رکعتو، او دا اوجه مذهب د ئ، او د امام اعظمؒ څخه او د امام ابو یوسفؒ څخه روایت دی، ولې چې په دا سې کولو کې دوې فائدې دي، یو اوریده د خطبې دی چې فرض دی، او بل اداء د سنتو ده پس له جمعې څخه،

او د ماپښین په لمانځه کې اداء د فرضي لمانځه په وجه اکمله یعني په جماعت، او اداء د سنتو وروسته تر لمانځه، او دوه رکعت نفل به ورپاتی ګڼل سوه، او دا هم مذهب دی د شمس الائمة السرخسیؒ او بقالیؒ. په بحر الرائق کې وائي چې په څلور رکعتو سنتو کې د مخه تر ماپښین د لمانځه او یا د مخه د جمعې تر لمانځه» چې د ماپښین د لمانځه اقامت وسي، او یا خطیب په خطبه شروع وکړي او مصلی پر هغو سنتو ولاړ وي نو څه به کوي د مصنف مذهب هغه وو چې په متن کې ذکر سو:

لکن صاحب البحر وائي چې صحیح دا ده چې څلور سره رکعته دې پوره کړي» کما صرح به الوالوالجیؒ صاحب المبتغی والمحیط والشمنیؒ»، ولې دا څلور سره رکعته یو لمونځ دی، او قطع یې د اکمال د پاره نه ده بلکه د ابطال د پاره ده صورةً ومعنًی، او فتح القدیر والکه مصنفؒ وائي چې دوه رکعته دې پوره کړي او سلام دې وګرځوی او په جماعت کې دې شامل سي او یا و خطبې ته دې غوږ ونیسي، ولې دا سنت خو پس له فرضي لمانځه اداکیدای سي او چې دی یې قطع کړي پر دوه رکعته ابطال د عمل خو نه راځي ولې دوه رکعته یې نفل سوه او مولوي اعزاز علیؒ و مذهب ته د صاحب البحر ترجیح ورکړې ده، ولې چې د هغه د تصحیح سره د ډیرو مشائخو برابر دی» او هغه خبره چې فتح القدیر وکړه چې پر دوو رکعته سلام ګرځولو کې ابطال نشته د هغه جواب دا دی چې که څه هم ابطال د اصلي لمانځه خو نشته، لکن ابطال د وصف د سنتیت خو به سته،

او دا څلور رکعته یو لمونځ دی د دې سببه په دریم رکعت کې سبحانك اللهم او اعوذ بالله نه ویل کیږي د رویش وائي چې د فتح القدیر مراد دا نه دی چې په قطع کې ابطال د سنتیت نه راځي. بلکه دی وائي چې ابطال د عمل نه راځي ولې دوه رکعت لمونځ په شرعه کې صلوة کامله دی، او پاته دا خبره سوه چې ابطال د وصف د سنت والي خو به راغی مونږ وایو نعم لکن د دې ابطال خو جبیره سته، چې اداء کول د دغو سنتو وروسته تر فرضي لمانځه. که څوك وائي چې پس له فرضي خو قضاء ده جواب یې دا دی چې قضاء ورته ویل مجاز دی کما صرح به الامام الطحطاویؒ په ص۳۶ کې حاصل د کلام دا دی

Maktaba Tul Ishaat.com

چې دَغه څلور رکعته که ترلمانځه (فرض) د مخه وسي او که وروسته اداء ده او وصف د سنتيت
به پرځای ـ ی» نو چې دی قطع کړي پر دوه رکعته. نو په قدر د دوو رکعتو به جماعت
کامل شُو. او استماع د خطبې به هم په دغه اندازه کامل سوه نو بناءً علیٰ هذا د
درویش : بیلان ومذهب ته د مصنف دی» قال المصنفؒ:

او بیادی قضا راوړی د هغو څلورسُنتو

ثُمَّ قَضَى السُّنَّةَ بَعْدَ الْفَرْضِ

پسله اداء څخه د فرضی لمانځه یعنو ماپښین یا د جمعې

پـوهـسـه: چې د مخه مونږ وو ښَیله چې د قضاء لفظ ویل مجاز دی په اعتبار د دی چې د غه سُنت ترځپل ځای وروسته سَوله، ورنه حقیقةً اداء ده. ولې چې وقت باقي دی

قال المصنفؒ

وَمَنْ حَضَرَ وَكَانَ الْإِمَامُ فِي صَلٰوةِ الْفَرْضِ اِقْتَدٰى بِهٖ

که یو سَړی حاضر سو یعنی مسجد ته او امام په فرضی لمانځه کی وو، سمدستی دی اقتداء پسی

وکړي او ځان دی نه مشغوله کوي د امام د لمانځه

وَلَا يَشْتَغِلُ عَنْهُ بِالسُّنَّةِ

څخه په سنتو کولو سره یعنی که څه هم د سُنتو په کولو سره د ده څخه یو رکعت هم نه تیریږی **مسئله:** که سَړی د باندی تر مسجد وو او دی نه بیریدی چې که زه سنت وکړم د لمانځه به یو رکعت تیر سی نو سنت دی وکړي او بیادی اقتداء په امام پسی وکی، ولی د ده فضیلت به ورته حاصل سی یواداء د سُنتو ده په خپل ځای کی. او بل تَوله لمونځ په جماعت کول دی» قال المصنفؒ:

اِلَّا فِي الْفَجْرِ اِنْ اَمِنَ فَوْتَهٗ وَاِنْ لَّمْ يَاْمَنْ تَرَكَهَا

مگر نه په سنتو کی د سحار

د لمانځه نو که دی په امن کی وو د فوت څخه د امام د لمانځه کی څه هم خیال داوی چې په التحیات کی پسی رسیږم، نو دی سنت وکړي که څه هم په مسجد کی وی لکن د صفو څخه گوښه» او که بیریدی چې زه که سنت کوم تَوله لمونځ د جماعت راسه تیریږی نو دی سنت پریږدی

پوښـتنه: په حدیث شریف کی راغلی دی چې علیه الصلوٰة والسلام وائی: اِذَا اُقِيْمَتِ

الصَّلٰوةُ فَلَا صَلٰوةَ اِلَّا الْمَكْتُوْبَةَ، **جواب**: مراق وائی چې هغه حدیث محمول پر غیر د سنة الفجر دی. **فـائـدَه**: افضل کار دادی چې سنة الفجر دی سَړی په کور کی کوی» قال علیه الصلوٰة والسّلام: مَنْ صَلّٰى رَكْعَتَي الْفَجْرِ اَيْ سُنَّتَه فِيْ بَيْتِهٖ يُوَسِّعُ لَهٗ رِزْقَهٗ، وَيَقِلُّ الْمُنَازِعُ بَيْنَهٗ وَبَيْنَ اَهْلِهٖ وَ يُخْتَمُ لَهٗ بِالْاِيْمَانِ» که څوک دوه رکعته سُنت د سحار په کور کی وکړي خدای پاک به فراخی ورکړي په رزق کی د ده او لږ به وی جګړی د ده او د کور والا تر مابین. او خاتمه د ژوند به ئی پر ایمان وي، ثم اختلفوا راجح مذهب دادی چې د غه دوه رکعته سنت دی په اول سپیدو کی وکړي. او بعض علماء وائی چې د فرضی لمانځه وخت نژدی سی بیا دی سنت وکړي»

فـائـدَه علیه الصلوٰة والسلام توله عمر سُنة الفجر په کور کی کوله. او په هغه ځای انکار کاوه چې سنة الفجر به ئی په مسجد کی کول (درویش وائی چې د دی حدیث څخه دا معلومه سوه چې په وخت کی د جماعت د سنة الفجر په مسجد کی مکروه دی، امام طحطاویؒ د فتح القدیر څخه په باره کی د سنة الفجر یو ښه تحقیق نقل کړی دی. او وائی چې څه وخت چې مؤذن په اقامت شروع وکړ او سړی راورسیدی. نو په دروازه کی د مسجد د باندی دی سنت وکړي، او که د باندی ځای نه وو، نو سنت دی پریږدی، ولی کی دی په مسجد کی که څه هم لیري وی د صفو څخه مخالفت د جماعت لازمیږی او هغه مکروه دی، او ترك د مکروه مقدم دی تر فعل د سُنتو»

درویش وائی وفیه نظر ولی مکروه چې تنزیهی وی فعل د آكَدُ السُّنَن تر افضل دی لکه د سحار سُنت» لکن کراهت د کولو د سُنتو فرق سره لري: اشد کراهة په دادی چې په داخل د صفو کی سَړي سنت کوی، وروسته تر هغه بیا دا مکروه دی چې د صف تر شا به ئی حائل سنت کوی. او تقریبًا د کراهة خالی طریقه په دا ده که مسجد دوی حصی وی یوه د دولې د لمانځه د پاره وه او یوه حصه د ژمی د پاره وه، او امام د دولې په حصه کی پر جماعت ولاړ وو او سَړي د ژمی په حصه کی د مسجد سنت کوله او بالعکس» درویش چې د تحقیق څخه د فتح القدیر دا معلومه سوه چې هغه خبره چې مصنفؒ د مراقی کړیده او ما هم را نقل کړه

لکن د صفو څخه گوښه، ځای د خدشې دی الا ان یرید المصنف تخفیف الکراهة فی ذالک لا نفیها بالکلیة: وَاللّٰهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ بِالصَّوَابِ والیه المرجع والمآب هو الموفق للصواب

فائده چې مصنف تَرْکَهَا وَوَیَله او قَطْعَهَا یې نه وو ویله اشاره یې وه دی ته وکړه چې په سنتو یې شروع نه وي کړي او که شروع یې کړي وه بیا دي خواه مخواه پوره کړي. ولې چې په قطع کې ابطال د عمل دی ط»

مسئله: په حدیث کې دا بوهریرة رض راغلي دي: چې د سحار په سنتو کې دي په اول رکعت دي اَلَمْ نَشْرَحْ لَكَ وائي او په دوهم رکعت کې دي اَلَمْ تَرَ كَيْفَ وائي. او امام غزالي وائي چې د سنتو په اول رکعت کې قُلْ يَآ أَيُّهَا الْكٰفِرُونَ وائي او په دوهم رکعت کې دي قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ» وَائي: قال الامام الطحطاوي که جمع د دواړو وکړي ښه کار دی»

سوال د فقهي شریفې په کتابو کې وائي چې جمع د دوو سورتو په یو رکعت کې مکروه ده **جواب**: چې هغه په فرضو واجبو سنتو کې ده. او د اتره د نفلو ډېره فراخه ده **پوښتنه** چې سنة الفجر خو اکد د سنتو دی. نو ولې دا دراك الجماعة د پاره او سره دي چې جماعت پرېښودل مذهب هم سنت دی **جواب** په حدیث شریف کې راغلي دي چې جماعت پر یوازې فرضي لمانځه ۲۷ درجې بالا دی، او ثواب د سنة الفجر ویوی درجې ته د هغه ۲۷ درجو نه رسیږي»

فَوَائِدِ شَتّٰی

په حدیث شریف کې راغلي دي چې علیه الصلوٰة والسلام وائي چې لمونځ د سړي په کور کې افضل دی تر لمانځه زما په دغه مسجد کې الا المکتوبة» او سره د دې چې په حدیث کې د بیهقي راغلي دي چې لمونځ په مسجد الحرام کې په یوه لك لمونځو دی د بل مسجد، او لمونځ زما په دغه مسجد کې په زر لمانځه دی د بل مسجد، او لمونځ د بیت المقدس په مسجد کې په پنځه سوه لمونځه دی، د بل ځای تر لمانځه، نو اوس ته اندازه وکړه چې نفل یا سنت په کور کې څومره ثواب لري. او په هدایه کې وائي چې افضل په عامة السنن او نوافلو کې کور دی.

مګر هغه وخت که بیره وي چې زه که وروسته یا د مخه سنت کوم کوم په یو بل کار به مشغول شم، او فقیه ابو جعفر الهندواني وائي چې دوه رکعته سنت تر ماښام وروسته او تر ماپښین وروسته دي په مسجد کې کوي او نور سنن دي په کور کې کوي»

فائده درویش وائي چې په ملایانو کې دا خبره مشهوره ده بلکه په بعض کتابو کې د فقهي شریفې هم مسطوره ده چې د امام محمد په نیز کې د سنة الفجر په کولو کې د یوه رکعت د فرضي لمانځه امید وو نو سنت دې وکړي. او که امید نه وو که څو هم د تشهد د اشتراك امید یې وي نو سنت دې پرېږدي، او د شیخینو مذهب دا دی که صرف د تشهد امید وي نو سنت دې نه پرېږدي، او دوي دا مسئله قیاس وي د جمعې په لمانځه چې د ماپښین لمونځ به څو وخت ورته پرېږدي چې په هغه کې اختلاف د شیخینو او امام محمد مشهور دی، لکن دا قیاس غلط او مع الفارق دی. ولې مقصود د لته خو ادراك د فضیلت د جماعت دی او هغه فضیلت په ادراك د تشهد ی هم حاصلیږي بالاتفاق بین الامام وشیخیه کما فی الدر حاشیة الغرر لمؤلف نور الایضاح، ونص علی الاتفاق بین ائمتنا الثلثة الکمال بخلاف الجمعة لان الجماعة شرط لها، فلهذا اختلفوا ان ای قدر من الجماعة کاف فی ادراك الجمعة فافهم» قال المصنف:

وَلَمْ تُقْضَ سُنَّةُ الْفَجْرِ اِلَّا بِفَوْتِهَا مَعَ الْفَرْضِ او قضا نه راوړه کیږي د سنتو د سحار مګر نه که سنت فوت سي سره د فرضو یعني بیا په تبع کې د فرضو دي راګرځوي که منفرد او وي او که په جماعت وي، او امام محمد وائي چې قضاء د سنتو یوازې هم سته، لکن تر لمر ختو وروسته او تر زوال د مخه» نو قضاء د سنتو د سحار یوازې تر طلوع الشمس د مخه او یا تر زوال وروسته اتفاقا نشته» **پوښتنه** چې په قضا کې د سنة الفجر یوازې بعد طلوع الشمس وقبل الزوال په حقیقت کې اختلاف د شیخینو او د امام محمد نشته» ولې دوي یو له وائي کې قضاء او ړي لَا بَأْسَ بِهِ» صرف امام محمد دا وائي چې زما د ا

Maktaba Tul Ishaat.com

داخوبنه ده چې قضاء دي ځکه اوري او بیا هم کي نه ځکه اوره شي نسته با ندي، هو په دي کي اختلاف سته چې فرضي لمونځ هم قضا سوي وي، نو تر زوال وروسته د سنتو قضاء سته او که نه. امام محمدؒ وائي سته، او صحیح داده چې پر قول د شیخینو یه قضا تبعًا هم نسته «كذا في غاية البيان» مر، ط، بحر، در، قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَقَضَى السُّنَّةَ الَّتِي قَبْلَ الظُّهْرِ فِي الصَّحِيحِ فِي وَقْتِهِ قَبْلَ شَفْعِهِ

او قضا دي اوري د سنتو چې د مخه تر ماپښین دي، په صحیح روایت کي په وخت کي د ماپښین د مخه تر هغه دوه رکعته وروستني سنتو. قال في المراقي على المفتي به كذا في شرح الكنز للعلامة المقدسيؒ، چونکه بعض فقهاءؒ وئیلي دي چې د دي څلور رکعتو سنتو قضاء نسته» ولي چې مواظبت نبویؐ پر دوي باندي د مخه تر فرضو ثابت دي» نو ځکه مصنفؒ رد اعلی هذا البعض في الصحیح وویله»

پوهسه: چې اطلاق د قضا پر دغو سنتو مجاز دي په اعتبار د دي چې ځپل ځای کي نه دي، ور نه حقیقةً قضاء نه دي ولي چې وخت د ماپښین باقي دي، (وقضاء هغه ته وائي چې تر وخت خارج سي، د دي سببه په قهستاني کي وائي چې د قضائي نیت دي نه کوي بلکه د سنتونیت دي کوي، قوله في وقته، اه او بعض مشائخ وائي چې بعد الوقت دي هم قضاء اوري که د فرضي لا ځځه سره قضا سوي وه، ولي چې د پر شیان که څه هم اصلاً نه کول کیږي تبعًا کول کیږي» ط دلیل د دي قول د مصنفؒ قبل شفعه آه دا دي چې د دغه څلور رکعته تر هغه دوو رکعتو خود مخ دي. ولي چې دوي تر فرضو د مخ دي او فرض تر دي دوو رکعتو د مخ دي وَالتقدم على التقدم على الشئ متقدم علیه» او په فتاوی عتابي کي وائي چې مختار د مخ کول دي د دوو رکعتو پر څلورو باندي، وفي مبسوط شیخ الاسلام وهو الاصح» په حدیث کي چې روایت یه عائشه رضي الله تعالی عنها کړي دي دا وائي چې کله به چې ده علیه الصلوٰة والسلام څخه هغه څلور رکعته قبل الظهر پاته سوه نو هغه تر دوو رکعتو وروسته یه کوله» او بل دا دي چې هغه څلور رکعته تر ځپل محل خو پاته سوه، نو بي لاځه

هغه دوه رکعت د ځپل محل څخه چې اتصال بالفرض ولي وروسته کوي، وعلی هذا المذهب فتوی الفقیر **پوهسه**: چې هغه څلور رکعته چې ترجمي د مخ دي حکم یه د څلورو رکعتو قبل الظهر دي» مر، **مسئله**: هغه څلور رکعت سنت زوائد چې خلک یه د مخه د ماخستن تر لما نځه کوي که چیري پاته سي مانع د قضا یه نسته پسله فرضو. لکن بعد الرکعتین اتفاقًا» مر، در» او بعض فقهاءؒ وائي چې د هغو قضاء نسته ولي هغه مندوب دي» س، ط، در» لکن فتوی پر قول د مصنفؒ ده چې در اگر جید و مانع نسته یعني را ترځول یه ښه کار دي» قَالَ الْمُصَنِّفُ:

وَلَمْ يُصَلِّ الظُّهْرَ جَمَاعَةً بِإِدْرَاكِ رَكْعَةٍ أَوْ رَكْعَتَيْنِ بَلْ أَدْرَكَ

او لمونځ په جماعت د ماپښین نه دي کړي چا چې یو رکعت ونیوی او یا دوه رکعته دا خو اتفاقي

فَضْلَهَا وَاخْتُلِفَ فِي مُدْرِكِ الثَّلَاثِ

ده بلکه ثواب د جماعت یه پیدا کړی او اختلاف دي په مدرک کي د دریو رکعتو» د دي سببه که یو څوک قسم واخلي چې زه د ماپښین لمونځ په جماعت نه کوم، او بیا یه یو رکعت یا دوه رکعته د امام سره وکړي په قسم کي نه دي حانث، او که چا دسي قسم واخستي چې زه ثواب د جماعت د ماپښین د لما نځه نه حاصلوم بیا د امام سره یو رکعت ونیوي په قسم کي حانث دي بلکه کي د امام سره تشهد ده یه ونیول هم حانث دي، او په صورت د دریو رکعتو نیولو سره چې سړي قسم واخلي چې زه د ماپښین په جماعت نه کوم، شمس الائمةؒ وائي چې په قسم کي حانث دي» لان للاكثر حكم الكل» او پر ظاهر المذهب نه دي حانث» ولي چې ده خو بعض ظهر په جماعت وکړي او قسم یه پر ټوله ظهر اخستي وو»

مسئله: په شرح کي د مقدسي وائي چې مسبوق ته خو ثواب د جماعت حاصل سو لکن دومره ثواب نه دي لکه د مدرک چې اول د لما نځه د امام یه نیولی وي، ولي د مسبوق نه څخه تحریمه تیره سوه. قَالَ الْمُصَنِّفُ:

اللهم اغفر لمولفه ولكاتبه ولمن سعى فيه آمين یارب العلمين»

وَيَتَطَوَّعُ قَبْلَ الْفَرْضِ اِنْ اَمِنَ فَوْتَ الْوَقْتِ وَاِلَّا فَلَا

او سړی دی تطوع کولای سی د مخه تر فرضي لمانځه که دی بیغمه وو د تیریدو نخه د وخت اوکه د وخت پر تیریدو بیریدی نو تطوع دی بیا پرېږدی، **پوه سه** چی لفظ دَ تطوع عام دی سنت مؤکد ته هم وائی او خالص نفلو ته هم وائی. نو ځکه مراقی وائی بمؤکد وغیرہ، **فائده**: دا حکم مسافر او مقیم دواړو ته شامل دی،

فائده امام طحطاوی وائی چی ظاهر د عبارت یعنی یَتَطَوَّعُ» دلالت کوی پر تخیر د مصلی یعنی کی کوی او کی نه کوی، لکن په ټولو تطوعو کی تخیر نسته بلکه سنت مؤکد په کولو کی تخیر نسته خا مخا به ئی کوی، که د فوت الوقت بیرہ نه وه اوکه تطوع مستحب وه نو کول یه هم مستحب دی» البته په نفلی مجرد کی تخیر سته، وَالجواب عنه ان ترجمة یتطوع فی المتن یجوز ان یتطوع» و لیس المراد بالجواز تساوی الطرفین الذی هو معنی الامکان الخاص عند الحکماء» بل المراد به الامکان العام المقید بجانب الوجود یعنی لیس عدم التطوع ضروریا، فیشمل المؤکد والمستحب والجائز البحت، فافهم»

مسئله: که متطوع سره د دی چی پر فوت د وخت نه بیریدی مگر پر فوت د جماعت بیریدی نو دی هم تطوع پرېږدی، وَاِلَّا فَلَاه **حکمت** د تطوع قبل الفرض فائده داده چی د شیطان طمع قطع سی، په دی معنا چی شیطان چی فکر وکړی چی دی سړی زما په وسوسه تطوع لا نه پریښوده نو فرضی لمونځ به ځنګه پرېږدی قال فی المراقی فی حکمة السنن القبلیة لتکمیل نقصها فی حقنا» او په دی عبارت د ده دا سوال واردیږی چی تکمیل نقصان خو فرع د وجود د نقصان لره، نو د غه سړی خو تر او سه فرضی لمونځ نه دی کړی نو د نقصان د ادراک به څه معلومیږی، چی دی سنن قبلیه د هغه د پاره کوی البته دا حکمت په سنن بعدیه کی مناسب وو، واجاب عنه المحقق المحشی په دی سره چی سړی چی فرضی لمونځ ناقص وکړی تکمیل د نقصان یه په سنن قبلی وو سره کیدای سی» ویدل علیه ماورد فی الاثر» چی څه وخت چی په لمانځه کی د سړی خلل پیدا سی

نو حق تعالی وَملکوته وَوائی وګوری چی د غه مصلی لره څه نوافل سته لو که نوافل وه نو کامل ول کیږی په هغو سره هغه خلل موجود، وهذه النوافل عام دی قبلی او بعدی ته دواړو ته شامل دی»

سوال: دا حکمت په سنتو کی دَ علیه الصلوٰة والسلام څرنګه صورت لری ولی چی په لمانځه کی د ده مبارک خو نه وجود د خلل سته او نه طمع دَ شیطان وجود لری **جواب** سنن دَ آنحضرت صلی الله علیه وسلم د پاره د پوره والی د درجو دی، قال المصنف،

وَمَنْ اَدْرَكَ اِمَامَهُ رَاكِعًا فَكَبَّرَ وَوَقَفَ حَتّٰى رَفَعَ الْاِمَامُ رَاْسَهُ

که څوک ور سیده وامام ته په حال کی د رکوع نو ده الله اکبر ووایه او دا عنی ودریدی حتی چی امام سر اپورته کړی. د دغه سړی دغه رکعت

لَمْ يُدْرِكِ الرَّكْعَةَ

نه دی حساب **پوه سه**: چی قید د وقف اتفاقی دی ولی چی په مراقی کی وائی که مقتدی ده اَللهُ اَکبَر وَیلو سره سمدستی په امام پسی رکوع ته ولاړی لکن امام د ده تر سیدو د رکوع دَ مخه سر اپورته کی هم دَ غه مقتدی دَ غه رکعت نه دی نیولی **پوه سه**: چی دَ غه تلواری متقدی به تکبیر تحریمه په ولاړی وائی بیا به رکوع ته ځی. او که ده په حال کی د جو غه کیدو و رکوع ته الله اکبر ووایه. نو که رکوع ته تر ولاړه نږدی وو شروع په لمانځه یه نه صحیح کیږی. حاصل دادی چی د ادراك الرکعة د پاره شرط مشارکت د امام سره دی په یوه جزء کی دَ قیام او بیا په یو جزء کی د هغه فعل چی په حکم کی د ولاړی وی لکه رکوع او شرط دا نه دی چی دوه تکبیره به مقتدی وائی یو د تحریمی د پاره او یو د رکوع د پاره کما فی المراقی»

درویش وائی چی فتوی خو پر قول د مصنف ده ولی هغه اثر سره د ابن عمر رضی الله تعالی عنهما برابر دی چی هغه د اسی وائی چی که ته ور سیدی و امام ته په رکوع کی او یا م رکوع ورسره وکړه د مخه تر دی چی امام سر اپورته کوی، نو تا د غه رکعت ونیوی. او که امام سر اپورته کی د مخه تر دی چی ته رکوع ته وَ تلی نو په تحقیق د غه رکعت ستا څخه فوت سو

Maktaba Tul Ishaat.com

لکن سره د هغه په دی مسئله کی نور اقوال هم شته، بعض فقهاء وائی چی که مقتدی په کښته والی ورکوع ته شروع وکړه او امام په پوره تکبیر وسره د رکوع څخه شروع وکړه نو دغه رکعت به ونیوی، او بعض فقهاء وائی چی ترهغو چی امام سم نه وی دریدلای او دی ورسره شریک دغه رکعت به حساب دی، او بعض فقهاء وائی چی ترهغو مقتدی مدرک د رکعت نه سی کیدلای چی تول کامله رکوع ونه نسی. او بعض فقهاء وائی چی په قدر د یوی تسبیح شراکت په رکوع کی ضروری دی د پاره د ادراک الرکعة» ابن امیرحاجؒ وائی: وَالاول اوجه یعنی چی قول د مصنفؒ هم وو. او امام حلبیؒ وائی: وهو الاصح لان الشرط المشارکة فی جزء من الرکوع وان قل» قــال المُصنفؒ:

وَاِنْ رَكَعَ قَبْلَ اِمَامِهٖ بَعْدَ قِرَاءَةِ الْاِمَامِ مَا تَجُوْزُ بِهِ الصَّلٰوةُ

او که رکوع وکړه مقتدی د مخه تر امام، پسله دی څخه چی امام دومره قرائت ویلی وو چی لمونځ پر روا وو، (او بیا مقتدی

فَاَدْرَكَهٗ اِمَامُهٗ فِيْهِ صَحَّ وَ اِلَّا فَلَا

په رکوع کی وو چی امام هم رکوع ته ورغلی نو رکوع د مقتدی صحیح ده، او دغه رکعت به ونیوی، او که داسی نه وه یعنی یا رکوع د مقتدی د مخه وه تر قرائت د امام ما تجوز بــه الصلوٰة، چی هغه یو آیت طویله دی یا دری کشنی آیتونه دی، او یا دغه مقتدی ته امام په حال کی د رکوع نه ور رسیدی بلکه مقتدی سر اپورته کړی وو چی امام رکوع ته ولاړی بیا د مقتدی دغه رکوع نه ده صحیح، ولی دده دغه رکوع په دواړو صورتونو کی تر وخت د مخه ده، نو مقتدی دوهم رکوع د امام سره وکړی. او کی نه وکړی او د لمانځه سلام وګرځوی، د مقتدی لمونځ باطل سو.

مسئله که مقتدی سجده وکړه د مخه تر امام نو که دغه سجده پسله دی څخه وه چی امام سر د رکوع څخه راپورته کړی وو، او بیا امام چی مقتدی په سجده کی وو پسی ور ورسیدی دغه سجده د مقتدی صحیح ده لکن ګناه کار دی. او که امام لا سر د رکوع څخه نه وو راپورته

کړی مقتدی سجدی ته ولاړی د حضرت الامامؒ څخه روایت دی چی دغه سجده به نه ده صحیح ولی بیوخته ده»

مسئله: په تتمه کی او خانیه او محیط کی وائی.. که امام په سجده کی وو او یا ناست وو مقتدی نیت بسی وکی نو دا مقتدی به دوه تکبیره وائی یو د شروع د لمانځه او بل د انحطاط دپاره **سوال**: د مخه تیره سوه چی امام په رکوع کی وی نو پر مقتدی دوه تکبیره ویل نه دی لازم فما الفرق» **جواب** چونکه په حال کی د رکوع وقیام ته نږدی دی نو ځکه تکبیر الافتتاح د تکبیر الرکوع څخه غنی او مسئله بخلاف هذه المسئلة»

مسئله که امام پر سجده پروت وو نو پر مقتدی واجبه ده چی تکبیر افتتاح دی په ولاړی ووائی. او بیا دی په سجده د امام سره ګډون وکړی کی څه هم دغه رکعت نه دی حساب، او که دغه مقتدی یوازی سپکه رکوع وکړه. او بیا د امام سره په دواړو سجدی وکړی لمونځ خو نه دی فاسد لکن مدرک د رکعت نه دی. ولی هغه یوازی رکوع دده لغوه ده. او که امام پر سجده وو مقتدی داغسی ولاړ وو چی امام راپورته سو نو مقتدی په باقی لمانځه کی شراکت ور سره وکړی او د هغه فوت سوی رکعت قضا یه راوړه ور وسته تر فراغ د امام لمونځ به صحیح دی. ولی چی مقتدی د رکعت قضا سره د دوو سجدو راوړه. او که څه هم داسی فعل د حدیث مبارک څخه مخالف دی چی روایت په ابوداؤدؒ د ابی هریرهؓ څخه کړی دی چی علیه الصلوٰة والسلام وائی چی تاسی راسی و لمانځه ته په داسی کی چی مونږ پر سجده پراته یو تاسی هم سجده راسره کوی او تاسی د اهیڅ شی مه بولی یعنی پر رکعت یه مه حسابی. او که چا رکوع د امام سره ونیوله نو هغه دغه رکعت هم ونیوی»

قــال المصنفؒ

وَكُرِهَ خُرُوْجُهٗ مِنْ مَسْجِدٍ اُذِّنَ فِيْهِ حَتّٰى يُصَلِّىْ

په کراهت تحریمی سره ۲

او مکروه دی وتل د هغه مسجد څخه چی اذان په کښی وسی. ترهغو چی لمونځ کوی. ولی چی په صحیح حدیث شریف کی داسی راغلی دی: چی نه وزی د مسجد څخه پسله اذان څخه مګر منافق، او یا هغه سړی چی په یو کار پسی ووزی او بیرته اراده د راتګ لری» .

قال المصنف **اِلَّا اِذَا کَانَ مُقِیْمُ جَمَاعَةٍ اُخْرٰی وَاِنْ خَرَجَ بَعْدَ** مګر که چېرې دا کوونکی د بل مسجد د جماعت وو لکه امام یا مؤذن د بل مسجد وو، او که وتلی د مسجد څخه پسله دی څخه چې لمونځ یې **صَلَاتُهٗ مُنْفَرِدًا لَا یُکْرَهُ** یوازې وکړی بیا مکروه نه دی. ولې ده خو جماعت د دا بې الله چې مؤذن وو ور کړی یعنې په انفرادی لاندې سره نو دوهم وار جماعت پرده نه دی لازم که څه هم ترك د جماعت مکروه دی» قال المصنف:

اِلَّا اِذَا اُقِیْمَتِ الْجَمَاعَةُ قَبْلَ خُرُوْجِهٖ فِی الظُّهْرِ وَالْعِشَاءِ مګر بیا مکروه دی وتل د مسجد څخه کې لمونځ هم یوازې کړی وی که جماعت برپا یعنې سو یعنې قامت د جماعت د پاره وکړه سو د ماپښین په لمانځه کې او یا د ماخستن په لمانځه کې. ولې خو نفل لمانځه سیت دی په امام پسې وکی، چې ترد غو دوو لمونځو وروسته خو نفل روا دی، په خلاف د سهار د لمانځه او یا د مازدیګرد لمانځه چې نفل ترهغو وروسته نسته، او په خلاف د ماښام د لمانځه چې دری رکعت نفل خو هم نسته، نو به داسې خلګ نه متهموی چې دی چې د جماعت څخه ولاړې یا د خوارجو څخه دی، او یا شیعګانو څخه چې څه لمونځ په جماعت نه کوی. ولې دوی وائی چې امام الجماعت د ګناه څخه بایده معصوم وي. او دا خبره د دوی صرف دروغ دهٔ. ولې په حدیث شریف کې راغلی دی صَلُّوْا خَلْفَ کُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم من کان یؤمن باللهِ والیومِ الاٰخرِ فلا یقفن مواقف التهم» که د چا ایمان وی په خدای او په ورځ د آخرت نو دی هیڅ کله نه دریږی په ځای کی د تهمتو» قال المصنف:

فَیَقْتَدِیْ فِیْهِمَا مُتَنَفِّلًا نو اقتدا دی وکړی په دغو دوو لمونځو کې په امام پسې نفل کوونکی لدفع التهمة عنه **فَائِدَه** مکروه ده ناسته د دغه سړي چې لمونځ یې یوازې کړی وی د ماپښین یا ماخستن په مسجد کی

چې جماعت ولاړ وی. ولې چې په دی ناسته کې مخالفت د جماعت لازمیږی. او د ماښام لمونځ نفلی دا امام سره نسته په ظاهر روایت کې **فَائِدَه**: امام طحطاوی وائی چې په اول کی د مسئلې مراد ده اذان څخه نفس د خول د وخت دی که اذان په مسجد کی سوی او که نه درویش وائی چې دا خبره چا تائیدکړي نه ده، او د عرفه څخه هم خلاف ده ولې د ماپښین وخت مثلاً پسله زوال د لمړ داخلیږی او جماعت یوساعت یا دوه ساعت وروسته خصوصاً په دوبې قائمیږی. نو به داسې دوساعته په انتظار د جماعت په دی مسجد کی ناست وی» او لفظ د حدیث هم د دی خبرې پر خلاف دی قال علیه الصلوٰة والسلام لا یخرج من المسجد بعد النداء الا منافق» او نداء خو اذان ته وائی نه دخول الوقت ته»

مَسْئَلَه، که مؤذن څخه پل مسجد کی قائم مقام د ر لودی وه هغه ته هم وتل پسله اذانه مکروه دی» ط **مَسْئَلَه** په هغه سړي چې د سهار یا مازدیګر لمونځ یې یوازې کړی وي واجب ده مسجد څخه دی ووزی» ولې چې جماعت و دریږی او دی یوازې ناست وي، سبب د لوی تهمت ګرځي، کذا فی النهر الفائق» قال المصنف:

وَلَا یُصَلِّیْ بَعْدَ صَلٰوةٍ مِّثْلَهَا او سړي دی نه کوی پسله لمانځه څخه مثل د هغه لمانځه» په مراقی کی وائی چې دغه عبارت لفظ د حدیث دی» نو څوك وائی معنا یې داده چې نه دی کوی دوه رکعته نفل سره د قرائت او دوه رکعته بیله قرائت» نو دا بیان دد ې دی چې په څلور سره رکعتو کی د نفلو قرائت فرض دی لکن داده لفظ څخه د حدیث ډېره لرې ترجمه ده» او څوك وائی چې مراد دا دی چې سړی لمونځ وکړي بیرته دی نه راګرځوي د پاره د طلب د ثواب» او بعض وائی چې معنا د حدیث داده چې په مجرد توهم د فساد دی بیرته لمونځ نه راګرځوی، ولې چې په دې سو دروازه د وسوسو خلاصیږی. او څوك وائی چې دا نهی دی د تکرار څخه د جماعت په هیئت اولی: وَاللهُ تَعَالٰی اَعْلَمُ بِالصَّوَاب

کتبهٗ بیده و احقر العباد فضل الحق حقانی غفرله»

Maktaba Tul Ishaat.com

بَابُ سُجُودِ السَّهْوِ

باب ثابت دی په بیان کې د سجدهٔ سهوه"

پُوهه سَـله: چې اضافت د سجود وسهوی ته اضافت دَ حکم دی وسبب ته دَ هغه یعنی هغه سجده چې سبب یې سهوه ده" مر د ر. اومراد د سجود نه جنس سجده ده نو دوو سجدو ته هم شامل شو. فلا یتوهم ان لفظ السجود مفرد فکیف یشمل السجدتین" او سهوه او نسیان او شک، په حکم کې په نیز د فقهاوو یو شی دی. او ظن طرف راجح ته وائي که څه هم په نیز د حکماوو د ۳ دریو لفظو فرق سته، ولې دوی وائي چې شک تساوی د طرفینو ته وائي او نسیان هغه ده چې یو شي چې سړي ته معلوم وو، مګر اوس یې هم د عقل او د حافظې وتلی وی چې نو کسب جدید غواړي او سهوه داده چې شي په مدرکه کې باقي وی صرف د حافظې نه وتلی وی نو کسب جدید نه غواړي بلکه چې سنه فکر وکړي ور پیا دیږي" ط د ر،

قال المصنفؒ: واجب دی.

یَجِبُ سَجْدَتَانِ دوې سجدې دی کوي. په مراقی کې وائي چې دلیل د وجوب یې دا دی، چې دا سجده ضمان د فائت دی" وهو لا یکون الا واجبا وهو الصحیح" ولې که فائت فرض وی خو لمونځ یې باطل دی. او که سنت وی هغه ضمان نه لري، او بعض فقهاء وائي چې سجود السهو سنت دَه، ولې چې علیه الصلوة والسلام چې یو وخت په لمانځه کې سهوه شو نو یې دوې سجدې وکړې ور وسته تر سلام"

پُوهه سَـله: چې د غه دوې سجدې د سهوې هم د غسې دی لکه د اصلي لمانځه سجدې یعنی په ما بین کې د دغو دوو سجدو به کښیني پښه به پرې باسي، او د وضع او رفع د پاره به الله اکبر وائي. او په دواړو کې به تسبیح د سجدې وائي و کل ذالک مسنون" ط، او بعض فقهاء وائي چې په سجود السهوه کې به دا سې تسبیح وائي: سُبْحَانَ مَنْ لَا یَنَامُ وَلَا یَسْهُو" ط وائي چې دا سې تسبیح خو مناسب د حال سره ده نو که دواړه قسمه تسبیح سره جمع

کړي ډیره به ښه وی **مَسْئَلَه** که یو سړي فقط یوه سجده وکړه د سهوې د پاره نو کې په قصد دا سې وکړه نو ګناه کار دی بل شي نشته او که په سهوه دا کار وکړي نو واجب خو یې نه سوه پر ځای لکن د دی سهوی جبیره بری نشته" کما فی البحر لو سهى فی سجود السهو لا یسجد لهذا السهو کما قال اهل الصرف لا تصغیر المصغر"

یَحْکِیٰ قِصَّه: محمد بن الحسن الشیبانیؒ یو ورځ و کسائي نحوی ته چې د ده د خاله زوی وو دا سې وویل چې ته ولې اشتغال په فقه سره نه کوې! کسائي ورته وویل چې زما نحوه داسې محکم زده ده چې و ټولو علمو ته وما ته هدایت کوي" امام محمدؒ ورته وویله چې زه به تا سوال د یوې مسئلې د فقهې شریفې کوم، ته ئې د قواعدو نه نحوي ما ته جواب راکړه، کسائي ورته وویل چې را باندی وی کړه، امام محمدؒ ورته وویله که سړي په سجده سهوه کې سهوه سو نو څه به کوي! کسائي یوګړی فکر وکړي او بیائي ورته وویل د دی سهوی د پاره سجده سهوه نه غواړي. امام محمدؒ ورته وویل چې دا حکم نو تا د کومه قاعدې نه د نحوې معلوم کړي، کسائيؒ ورته وویل دې قاعدې نه چې نحاة وائي المصغر لا یصغر نو امام محمدؒ د ده ز را اکت ته تعجب وکړي: او په مضمرات کې وائي چې که چیری د سهوی په سجده سهوه کې هم سجده سهوه لازم سی نو تسلسل لازمیږي وهو باطل" قال المصنفؒ:

بِتَشَهُّدٍ وَتَسْلِیْمٍ سره د التحیات پسله سجود السهو او بیا به پای کې سلام ګرځول لکن په مراقی کې وائي چې درود دی هم وائي او اللهم ربنا دی هم وائي پر مختار مذهب باندی **پُوهه سَـله:** چې التحیات او سلام خو واجب دی ولې هغه اوله تشهد او سلام خو پوته سوله پر ګرځیدو و سجدی ته، او درود به باره کې فخر الاسلام وائي یعنی قبل سجود السهو وبعده" واختاره فقیه ابو جعفر الطحاویؒ

قال المصنفؒ: **بِتَرْكِ وَاجِبٍ سَهْوًا** په سبب د پرېښودو د واجب په سهوه سره که ترک د واجب وی او که تاخیر د واجب وی او که

زیادت وی او که نقصان، د واجب په قید سره فرض او سنت خارج شوه ولې فرض خو جبیره نه لري. بلکه لمونځ په فاسد شي. او لمونځ په ترک د سنت ناقص نه ورته ویل کیږي حتی چې جبیره د نقصان وغواړي وقدم قبیل هذا» او سهوًا مصنفؒ د دی د پاره وَو ښیله چې په قصدًا دا کار کوونکی مستحق د تغلیط دی یعنی ماموړ په د ې دی چې لمونځ د سره راوګرځوي»

بنهاني فائدې د طحطاوي په حوالې

۱ که سړی په لا مخه کې ایت د سجدې ووایه او سجده یه وځنډوله. صاحب هدایه په تجنیس کې وائی چې سجده سهوه په دی تاخیر کې نشته» ولې سجدهٔ تلاوت په صلب کې لا مخه واجبه ده

۲ که مصلی بسم الله پرېږدی پر ظاهر المذهب خو سجده سهوه نشته مګر زیلعیؒ شارح الکنز وائی چې سجده سهوه به واجب ده»

۳ او که یو سړی د الحمد لله یو ایت پرېږدی په نیزد حضرت الامام الاعظمؒ سجده سهوه بانډی لازمه ده، او په نیزد یارانو چې اکثر حصه د فاتحې پرېږدی نو سجده سهوه پر واجبه ده» وبه جزم فی الفتح تبعًا للمحیط» والفتوی علی قول الامامؒ»

۴ پوه سه چې د مخه کول د الحمد لله پر سورت واجب دی، یعنی په قدر د یو رکن داداوری نه ځنډوي، نو که مصلی د مخه تر فاتحه شروع په سورة وکړه سهوًا او بیا یه فاتحه ورپیاد شوه نو فاتحه دی ووائی او سورت دی راوګرځوي او سجده سهوه دی هم وکړي ولې چې واجب یه تر ځپل محل وځنډاوه.

۵ که سړی تر الحمد لله مکرر کړه یا یوه حصه دغی په یوه کې دا ولو دوو رکعتو تر سورة د مخه سجده سهوه پرې لازمه ده. ۶ که سړی سورت پرېښو او په رکوع کې ور پیاد سو یا پس له رفع د رکوع څخه تر سجدې د مخه نو دی بیرته و لاړ سی سورة دی ووائی او رکوع دی بیرته راوګرځوي او سجده دی هم وکړي. ولې چې په ویلو سره د سورت شو فرض وګرځېدی»

نو هغه د مخه رکوع په پوره شوه، حتی کې رکوع ته راوګرځول لمونځ یه فاسد سو، ولې چې فرضی رکوع په کښې پاته سوه»

۷ او که سړی سورة ووایه او فاتحه یه هیره سوه. او بیا یه په رکوع کې ور پیاد سوه. نو دی بیرته و لاړ سی الحمد لله دی ووائی او سورت دی راوګرځوي او رکوع دی هم راوګرځوي او سجده سهوه دی هم راوکړي»

۸ که د سړی څخه دعائی قنوت هیر سوا و په رکوع کې ور پیاد سو نو دی د بېرته نه ولاړیږی او دعائی قنوط دی نه وائی. ولې چې ځای د قنوط خو قبل الرکوع وو هغه فوت سو، او که فرضًا دی ولاړ هم سو او قنوط یه ووایه رکوع دی نه راګرځوي. ولې قنوط خو فرض نه سو واقع کیدای، نو په ده فرض عملی چې رکوع وه نه پوره نه کیږي. لکن په دواړو حالو کې به سجده سهوه کوي لترك الواجب په اول صورت کی او یا د تاخیره واجب د ه کبله په دوهم صورت کې»

۹ که لمونځ کوونکی په رکوع کې او یا په قومه او یا په سجده کې ایت ووایه سجده سهوه پرې لازمه سوه.

۱۰ که سړی په اوله ناسته کې قرائت ووایه نو که د مخه تر التحیات ووایه هم سجده سهوه پر لازمه ده. ولې چې واجب یه پرېښو چې ویل د تشهدی دی په اول کې د ناستې، او کی قرائت وروسته تر التحیات ووایه نو هم سجده سهوه پر لازمه ده ولې اتصال د ولاړی د فراغه سره د تشهدی واجب دی هغه پاته سو، او کې په اخیره ناسته کې قرائت ووایه نو که قبل التشهد وو سجده سهوه پر لازمه ده» لفوات الواجب وهو الشروع بالتشهد فی اول الجلوس» او که بعد التشهد یه قرائت ووایه » سجده سهوه نشته»، چې په اخیره ناسته کې بعد التشهد ازادی ده دعاء کولای سی ثنا ویلای سی»، او قرائت خو هم د دعو دوو څخه نه خالی کیږی» او کې تشهد په اخیره ناسته کې دوه واره و ویل او یا تشهد په ولاړی وویله یا په رکوع کې یا په سجده کې سجده سهوه بانډی نشته [illegible]

۱۱ که سړی تشهده پرېښوول په دوو ناستو کې او یا په بعض د تشهدی پرېښو سجده سهوه په ظاهر روایت کې بانډی سته، ولې چې تشهده ذکر د واحد منتظم دی

Maktaba Tul Ishaat.com

نوترك د بعض په لګه ترك دکل دی، اود غړ ګه کی دعائی قنوط دوترو پری منو، یا الله اکبر یه پرینبږ نو سجده سهوه دی وکړی او بحرو دی ته ترجیح ورکړیده»

١٢ اوکه امام جهر یه قرائت سره پرینبو په هغه لمانځه کی چی قرائت یه په جهر سره وو اویا یه جهر وکړی په خفیه لمانځه کی سجده سهوه بانده سته، لکن په دی کی اختلاف دی چی موجب د سهوی څومره دی! والاصح: چی په قدر د ما تجوز به الصلوٰة په دواړو صور توکی، ولی چی د لږ جهر او یا د لږ اخفاء احتراز نه کیږی»

پوښتنه: په حدیث صحیح کی د بخاری وغیره راغلی دی چی علیه الصلوٰة والسلام به کاهی په مونږ یو ایت په سری لمانځه کی اوراوه، **جواب** بعض فقهاء وائی چی دا اورول د دی دپاره وو چی صحابهٔ ته دا ور معلوم کړی چی قرائت مشروع دی په هغه لمونځو کی چی قرائت یه په جهر وی. او فتح القدیر دا جواب رد کړی. او دی وائی چی دا مشروع والی د قرائت په سری لمونځو کی د مخه وو معلوم.. فلاحاجة الی اعلامه فی الصلوٰة» ولی چی په حدیث مبارك کی دا سی راغلی دی چی په ابتداء کی د اسلام د ټولو لمونځو قرائت په جهر سره وو، تر هغو چی دا آیت نازل سو، وَلَا تَجْهَرْ بِصَلَاتِكَ وَلَا تُخَافِتْ بِهَا وَابْتَغِ بَيْنَ ذَٰلِكَ سَبِيلًا نو بیا لمونځونه دوه قسمونه سوه کما هو الآن» نو صاحب الفتح وائی چی قرائت د علیه السّلام په جهر په سری لمونځو کی د پاره د بیان د جواز دی یعنی په قدر د یوه ایت یعنی کوتاه جهر په سری لمانځه کی پرواه نه لری» ولی چی احتراز د جهر سره بالکلیه مشکل دی خصوصًا په ابتداء کی د ساه کښلو»

درویش وائی چی د پرشارحان د حدیثو وائی چی دغه ایت: وَلَا تَجْهَرْ الآیة» په دی بار کی نازل سوی دی چی آنحضرت صلی الله علیه وسلم به په ابتداء کی د اسلام په جهری لمونځو کی لوړ محبته قرائت ډیر په زوره وایه حتی چی کافرانو چی به واوریدی نو قرآن او مَن اَنزَلَهُ وَمَن نُزِلَ علیه ته بی پوچ ویَله، نو په دی ایت کی آنحضرت صلی الله علیه وسلم په دے مامور سو چی ته قرائت ډیر په زوره مه وایه چی کفار یه هم اوری او د بسکنځلو سبب وګرځی وَلَا تُخَافِتْ ا، او دونه کرار یه هم مه وایه چی اصحابٌ یه نه اوری» وَابْتَغِ»

قال المصنفؒ **وَاِنْ تَكَرَّرَ** که څه هم دا سهوه مکرر سی یعنی دوه دری ځایه سهوه سی هم هغه دوی سجدی کافی دی بالاجماع که هغه سهوی د یوه جنسه څخه وی اوکه مختلف الجنس وی، لکه یو سړی چی طمانینت د رکوع او سجدی پرین دی او تشهد اوله هم پرین دی»، قال المصنفؒ:

وَاِنْ تَرَكَهٗ عَمَدًا اَثِمَ وَوَجَبَ اِعَادَةُ الصَّلٰوةِ لِجَبْرِ نَقْصِهَا

اوکه پریښودو واجب په قصد سره گناه کار دی، او په ده واجبه ده راګرځول د لمانځه د پاره د جبیره د نقصان یعنی په ترك د واجب، د دی معناده

وَلَا يَسْجُدُ فِى الْعَمَدِ لِلسَّهْوِ چی فرض لمونځ خو یه اول دی او دوهم یه جبیره ده. او بعض علماء وائی چی فرض لمونځ یه دوهم دئ، اول یه نفل سوه، او سجده دی نه کوی په عمد کی د سهوی د پاره. ولی چی سجده سهوه خو په سهوه سره اړه لری د لته خو عمد دی سهوه نسته، او بل دا چی عمد خو اقوی دی تر سهوی نو جابر د ضعیف چی سهوه ده جابر د قوی نسی کیدای چی عمد دی» قال المصنفؒ:

قِيْلَ اِلَّا فِىْ ثَلَاثٍ تَرْكُ الْقُعُوْدِ الْاَوَّلِ يَعْنِىْ عَمَدًا اَوْ تَاخِيْرِ

او بعض فقهاء وائی چی مګر په دری صورته کی په عامد هم سجده سهوه سته، او دا چی اوله

سَجْدَةٍ مِنَ الرَّكْعَةِ الْاُوْلٰى اِلٰى اٰخِرِ الصَّلٰوةِ يعنى عمدًا **اَوْ تَفَكُّرِهٖ عَمَدًا**

ناسته پرین دی په قصد سره. دوهم دا چی وځنډوی سجده د اول رکعت تر اخیره پوری د لمانځه دریم دا چی قصدًا فکر وکړی، حتی چی دا غه فکر یه مشغول

حَتّٰى شَغَلَهٗ عَنْ رُكْنٍ کړی دا دا کولو څخه د رکن د لمانځه» **پوه سه** چی امام طحطاویؒ دا صورتونه هم زیات کړی دی» چی په اوله ناسته کی عمدًا درود ووائی. دوهم دا چی الحمد لله عمدًا پرین دی» قال فی المراقی سؤال وسود فخر الاسلام

البدیعُ نخه چې څرنګه دَعمَد په صورت کې سجده سهوه سته، نوده جواب ورکړی چې دا سجده عذر د سجده سهوه نه ده، یعنی غرض ددی دوو سجدو نخه عذر کول دی دمُصلی دهغه کناره نخه چې ده عمدًا خلاف الشریعت وکړی» درویش وائی چې پردی تقدیر استثناء دالّا فی ثلاث آه دسجود السهوه نخه بناء پر تشاکل صورې ده» فافهم» قَالَ المُصنفُ

وَيُسَنُّ الْإِتْيَانُ بِسُجُودِ السَّهْوِ بَعْدَ السَّلَامِ وَيَكْتَفِيْ

اوسنت دی په ظاهر روایت کې. اوبعض علماء وائي چې کول دسجده سهوه یعنی وروسته کول یه واجب دی

بِتَسْلِيْمَةٍ وَاحِدَةٍ عَنْ يَمِيْنِهِ فِي الْأَصَحِّ فَإِنْ سَجَدَ

دلیل د ظاهر روایت هغه نخنی حدیث دی چې علیه الصلوٰة والسلام سجود السهوه پسله سلام وکړه حاصل دا چې سنت دی ره اتګ په سجده

قَبْلَ السَّلَامِ كُرِهَ تَنْزِيْهًا

سهوه سره پسله سلامه، او اکتفاء دی کوی په یوه سلام سره پر راسته اړخ په اصح روایت کې. اوبعض علماء وائي چې سلام دَسجود السهوی دې دغه وخواته وی فرقًا بین سَلام القطع وسلام السهو» وجه د ظاهر روایت دا ده چې قبل الوجه سلام خو معهود نه دی، نو کې قبل السّلام سجده وکړه مکروه دی تنزیهًا»

فَـائِـدَه، په هدایه کې وائي چې سجود السهوه دې وروسته تر دوه سلامه کوي، قال وهوالصحیح او ملاخسرو هم دهدایه تائید کړی دی لکن شیخ الاسلام خواهرزاده وائي چې سجده سهوه دی پسله دوه سلامه نه کوی» ولې چې دوهم سلام لکه خبرې دی او پسله خبرو نخه سجده سهوه نسته، او مصنف په مراقی کې وائي چې احوط بعد تسلیمه خصوصًا چې شیخ الاسلام پسله دوه سلامه سجده سهوه ممنوع بولی، او ط وائي چې قول په دی سره چې سجده سهوه دی پسله یوه سلامه کوی اعدل داقوالو دی او اصح داقوالو» والله اَعْلَمُ **مسـئـله** که سړي سجده سهوه دمخه تر سلام وکړه وروسته تر سلام دی بیا نه راګرځوي، ولې چې په دی مسئله کې اختلاف داماما نو سته چې امام شافعی

سجده سهوه قبل السلام که نو هم مصلی حنیفی وی کفایت کوي، او که امام حنیفی مذهب مقتدی شافعیُ مذهبه وو او هغه سجده سهوه دمخه تر سلام کوله مقتدی دی هم ورسره وکړی» م، ط، در قَـالَ المصنفُ»

وَيَسْقُطُ سُجُوْدُ السَّهْوِ بِطُلُوْعِ الشَّمْسِ بَعْدَ السَّلَامِ

او ساقطیږی سجدهٔ سهوه په راختلو سره دلمر پسله سلامه دسحار په لمانځه کې، او داغه رنګه

فِي الْفَجْرِ وَاِحْمِرَارِهَا فِي الْعَصْرِ وَبِوُجُوْدِ مَا يَمْنَعُ

ساقطیږی سجدهٔ سهوه په وخت کې دسوروالی دلمر په مازدیګر کې. داخو واړه د دی سببه چې مکروه کاره نخه ځان وساتي، او دغه رنګه سجده سهوه ساقطیږی

الْبِنَاءَ بَعْدَ السَّلَامِ

په وجود سره د داسی شی چې هغه بناء د ما بعد پر ما قبل منع کوی پسله سلامه: مثلًا پسله سلامه متصل سړي پسکی واچول یا خوراک یه شروع کې بناء د ما بعد پر ما قبل منع کوی، لفوات شرط سجدة السهو» ولې په سجده سهوه سره خو دی بیرته لمانځه ته راوګرځیدی او د لمانځه شرط خو فوت سو نو د سجدهٔ سهوه شرط هم فوت سو چې رجوع و لمانځه ته ده» قَـالَ المُصنفُ:

وَيَلْزِمُ الْمَأْمُوْمَ بِسَهْوِ اِمَامِهٖ لَا بِسَهْوِهٖ

او لازمیږی سجدهٔ سهوه پر مقتدی په سهوه سره دامام او نه لازمیږی په سهوه سره دمقتدی نه پر ده او نه پر امام» په حدیث کې راغلی دی چې څه وخت چې علیه الصلوٰة والسلام په سبب دَ سهوی سُجده کوله نو ټوله خلکو سجده ور سره وکړه. خواه دی مقتدی دَمخه تر سهوی دَامام اقتداء پیسی کړي او کې وروسته تر سهوی دامام **مسـئـله** که یو سړي دامام سره یوه سجده سهوه و نیوله دهغه بلی قضاء پری نسته،» او په صورت کې د دی چې مقتدی سهوه سی پر ده چې نسته سجده سهوه ولې که دی یوازی کوي دامام نخه مخالف سو، او علیه الصلوٰة والسّلام وائي: لَا تَخْتَلِفُوْا عَلٰى اَئِمَّتِكُمْ:

Maktaba Tul Ishaat.com

اوکه امام دده په متابعت سجده سهوه وکړي نو اصل چې امام وو تبع وګرځي. نو سجده سهوه اصلاً ساقطه ده مع انه قال صلى الله عليه وسلم: الامام لكم ضامن يرفع عنكم سهوكم وقراءتكم» ترجمه: امام ستاسي ضامن دی یعنی د لمانځه ستاسي پوره کوي سهوه ستاسي یعني ستاسي په سهوه سره پرتاسي سجده سهوه نشته، او دی ضامن دی ستاسي قرائت یعنی په امام پسی تاسي قرائت مه وایاست که فاتحه وي او که نور، کما هو مذهب الحنفية»

قال المصنف **وَيَسْجُدُ الْمَسْبُوقُ مَعَ إِمَامِهِ ثُمَّ يَقُومُ بِقَضَاءِ مَا سُبِقَ** او سجده سهوه دی کوي مسبوق یعنی چې اول د لمانځه څندی تیر سوي وي، سره د امامه، ولې چې ده متابعت دامام

بِهِ وَلَوْ سَهَى الْمَسْبُوقُ فِيمَا يَقْضِيهِ سَجَدَ أَيْضًا په سبب داقتداء پرځان باندی لازم کړي دی، او بیا دی ولاړ سي وه قضا ته، د هغه لمانځه چې تر ده وړاندی والی سوي دی یعنی هغه رکعتونه چې امام دده تر اقتداء د مخه کړي دی **فائده** میري مسبوق دې دامام تر یوه سلام وروسته چټک نه ولاړیږی تر هغو چې ده ته دا معلومه چې پر امام سجدهٔ سهوه نسته»

فائده: مسبوق ته روا ده چې په قدر دتشهد کښېنستو چې دامام تر سلام دمخه دی ولاړ سي په دغو ذیل صورتو کی ده چې دی ماسح وي د موزو، نو دی بیرېږی که زه دامام و سلام ته ګورم مُده دمسحې به می تیره سي، ۲ چې دی معذور وي بیرېږی چې وخت د عذر به می تیر سی که زه انتظار ده سلام دامام وکړم، ۳ او یا بیرېږی چې که زه انتظار وکړم او بیا قضاء د ځلور رکعتو، او رم د جمعې ده لمانځه وخت به تیر سي» یا داختر و د لمانځه وخت به تیر سي، ۴ یا بیرېږی چې پر ما به قضائی لمانځه کی د سحار لمر راوخیژی که زه انتظار وکړم، ۵ او یا بیرېږی که زه انتظار وکړم نو ما په قضائی لمانځه کی به خلګ رها تر مخ تیرېږی، او که چیری سهوه مسبوق څپل قضائی لمانځه کی وړ پیښه سوه د هغه د پاره به یوازی بله سجده سهوه کوي. یعنی هغه سجده سهوه د

دامام سره چې ده وکړه ددی سهوی غاړه نه په وزی **سوال**: تکرار د سجده سهوه خو په یوه لمانځه کی نا روا دی نو څرنګه مسبوق دوه واره سجده سهوه کوي **جواب** د مسبوق لمونځ حکماً دوه لمونځونه دی. یو لمونځ یې په متابعت دامام دی، او بل په قضائی لمانځه کی خودی منفرد او مستقل دی،،

مسئله که مسبوق د سلام سره دامام یوځای سلام وګرځاوه، او یا یه د مخه تر امام سلام وګرځاوه دادواړه سهواً څندی پلینه سوه نو پرده سجده سهوه نشته، ولې چې تر او سه دی په حال کی داقتداء دی» او کی امام وروسته سلام وګرځاوه. سجده سهوه به کوي. ولې چې دی منفرد دی څپل په لمانځه کی سهوه سو، قال المصنف:

وَلَا اللَّاحِقُ او سجده سهوه دی دامام سره نه کوي لاحق، لاحق هغه مقتدی ته وائی چې په اول کی د لمانځه دامام سره شریک سوی وي، او اخیرد لمانځه څندی تیر سي په سبب د عذر لکه چې بیده سي، او یا یه اودس مات سي نو دی لکه مدرک چې په سهوه سره دده پرده سجده سهوه نسته، دا خوهلته دامسئله ده چې لاحق څپل لمانځه کی سهوه سي، **مسئله**: که امام مسافر وو او مقتدی مقیم وو نو مقتدی چې وروسته تر سلام دامام خپل لمونځ پوره کاوه سهوه سو نو اصح دا ده چې سجده سهوه دی وکړي. ولې چې دی منفرد دی حکماً، او بدائع والاهم داحکم صحیح بللی دی

مسئله نادره په دری رکعتی لمانځه کی په سبب د سهوی او سجده تلاوت، لس واره ناسته ممکنه ده، هغه داسې چې یو سړی په امام اقتداء وکړه په اوله ناسته کی دامام (۱) او بیا یه تشهد وو ویل دامام سره په اخیره ناسته کی، (۲) او پر امام سجده سهوه وه هغه سجده مقتدی هم ور سره وکړه» نو بیا یه التحیات دامام سره وویل (۳)، او امام ایت دسجدی په لمانځه کی وئیلی وو، هغه وربیاد سو، نو مقتدی ددی سره سجده تلاوت وکړي او بیاد امام سره تشهد وو ئیله (۴)، او امام بیاد دی تاخیر سجده تلاوت دپاره سجده سهوه وکړه او مقتدی ورسره وکړه بیاد امام سره یه تشهد وو ئیله (۵)، نو بیا چې امام سلام وګرځاوه او دی وقضا ته د مافات ولاړ سو چې دوه رکعته دی، نو یو رکعت چې

وکړي خوبیا کښېني او تشهده به وائي (٦) او یو رکعت خو به بل کوي او بیا به کښېني تشهده به وائي (٧) او مقتدي پخپل قضائي لمانځه کښې سهوه سوی وو نو سجده سهوه یې وکړه او بیا کښېنستي تشهده یې ووئیله (٨) او بیا د مقتدي ورپیاد سر حي ماخو پخپل قضائي لمانځه کښې ایت دسجدې وئیلي وُو، نو ده هغه دپاره یې سجده وکړه. او بیا یې تشهده ووئیله (٩) او بیا د دې تاخیر دپاره یې سجده سهوه وکړه او تشهده یې ووئیله (١٠) نو ور وسته لمونځ پوره سُو، هذا من النوادر" بلکه په رد محتار کښې او په طحطاوي کښې وائي چې ترلسو هم ب لاکیدای شي. په قدر د سجدهٔ تلاوت پر امام او مقتدي فتفکر فیها"، قال المصنفؒ

وَلَا يَأْتِي الْإِمَامُ بِسُجُودِ السَّهْوِ فِي الْجُمُعَةِ وَالْعِيدَيْنِ

او راتګ دی نه کوي امام وکذا الماموم په سجود السهو سره د جمعې په لمانځه او دا اختر په لمانځه کښې"، قال في المراقي دفعاً للفتنة، یعني خلق په تشویش او اضطراب کښې واقع کیږي په سبب د ډېروالي د جماعت بعض خلګ پر سجده به پراته وي او بعض لیري خلګ نه ... طحطاوي وائي چې ظاهره دا ده چې دا کراهت تنزیهي دی، ولې چې بعض ... سجدهٔ سهوه به کوي"

پوهسه: چې د کثرت اجتماع الناس فیها څخه دا معلومیږي، که دا اجتماع د خلګو ډېر نه وه بیا دی سجده سهوه حتماً کوي، لکه په کوم کښې پر لس ګامه مثلاً جامع مسجد جوړ دی او په هر جامع مسجد کښې د عیدګاه لمونځ کیږي، نو دی کښې د جمعې په ورځ یا د اختر په ورځ ترنور ورځو دي لمونځو چندانی ډېر خلګ نه وي او نه په سجده سهوه کښې په خلګو تشویش پیدا کیږي، قال المصنفؒ:

وَمَنْ سَهَى عَنِ الْقُعُودِ الْأَوَّلِ مِنَ الْفَرْضِ عَادَ إِلَيْهِ (وجوباً)

مَا لَمْ يَسْتَوِ قَائِمًا

که څوک یعني مصلي سهوه سي د اولي ناستې څخه د فرضي لمانځه یعني هیره یې سي او ولاړ نه شي نو واجب ده چې بیرته دی ناستې ته

را وګرځي که سم دم نه وو دریدلي په ظاهر روایت کښې، او دا غه هم اصح حکم دی

پوهسه: چې د قریب د اولي ناستې هم دا غه حکم دی، ولې وتر غوندې فرض عملي دی، او

پوهسه چې مصنفؒ دا حکم د تبیین او برهان او فتح القدیر سره برابر دی، او حدیث سره هم برابر دی" قال علیه الصلوٰة والسلام: إذا قام الامام في الركعتين فان ذكر قبل ان يستوي قائما فليجلس وان استوى قائما فلا يجلس ويسجد للسهو رواه ابوداؤد"، که اراده وکړه د ولاړیدو امام یعني په ولاړیدو یې شروع وکړه. په دوو رکعتونو کښې ورپیاد سوه یعني د میانځ ناسته د مخ تر دې چې سم دریږي نو دې بیرته کښېني او که سم دم ولاړ سو بیا دی نو نه کښېني او سجدهٔ سهوه دې وکړي **پوهسه** چې قید د امام اتفاقي دی للا تمام بشان ولې چې د منفرد حکم هم دا غه دی، وفي الهداية والكنز ان كان الى القيام اقرب لا يعود والا عاد" قال المصنفؒ:

وَالْمُقْتَدِي كَالْمُتَنَفِّلِ يَعُودُ وَإِنِ اسْتَتَمَّ قَائِمًا

او مقتدي که پسې ولاړ سي هغه لکه نفل کوونکي دی چې پر دوو رکعته ولاړ سي او د میانځ ناسته یې هیره سي نو اګر څه به د میانځ ناستې ته که څه هم تام ولاړ سوي وي، مقتدي خو په دې سبب چې متابعت د امام پر ده لازم دی، او متنفل په دې سبب چې هر دوه رکعته د نفلو علاحده لمونځ دی ځکه دی به د میانځ په ناسته کښې درود حتماً وائي، او په دریم رکعت کښې سبحانك اللهم وائي نو د میانځ ناسته پر فرض ده، وفرض ناستې ته خو به حتماً را ګرځي، او بعض فقهاء وائي نه دی را ګرځي. قال في التاتارخانية وهو الصحيح"

قال المصنفؒ

فَإِنْ عَادَ وَهُوَ إِلَى الْقِيَامِ أَقْرَبُ سَجَدَ لِلسَّهْوِ وَإِنْ كَانَ

او که د غه سړي چې د ناستې څخه سهوه سوو ولاړ ته نژدې وو سجده دی وکړي د سهوې د پاره ولې چې واجب ځنډی

إِلَى الْقُعُودِ أَقْرَبَ لَا سُجُودَ عَلَيْهِ فِي الْأَصَحِّ

پاته سو، او که چیري و ناستې ته نژدې وو،

Maktaba Tul Ishaat.com

نادِرہ کہ دغہ سړی پہ اخیرہ ناستہ کی لږ کښینستی یعنی پہ قدر د تشہد نہ وی اوبیا ولاړ سی او بیرتہ کښینی بیا غہ لږ التحیات نور وَوائی او بیا وَلاړ سی او بیرتہ کښینی نو پہ دې یمہ ناستہ کی تشہدہ پوره کړی، نو لمونځ یې صحیح دی حتیٰ کہ دی ورو ستہ ترھغہ دہ لمانځہ سرہ منافی یو کار وکړی لکہ خوړلہ وغیرہ لمونځ یې تام سو داددی سببہ چی د تشہدی پر یوہ ځای وَیل فرض نہ دی،، ھذا حاصل مافی المراقی

قال المصنفؒ **فَاِنْ سَجَدَ صَارَفَرْضُہٗ نَفْلًاوَضَمَّ سَادِسَۃً اِنْ شَآءَ**

او کہ سجدہ وکړہ دزائدہ رکعت دپارہ نو وګرځیدی فرض یې نفل، او ورجوت دی کړی یو رکعت بل کی خوبنہ وی، تاچی نفلی لمونځ یې جوت سی، **پوښتنہ**: چی پہ نیزد امام محمدؒ فرض یې ھلتہ نفل کیږی. چی دسجدی څخہ سر اپورتہ کړی، ولی چی تمام دیرن چی دلتہ دغہ سجدہ دہ، پہ انتقال د ھغہ رکن څخہ کیږی، قال فی المراقی وھو المختار للفتوی،، او ولی پہ دی صورت کی فرض نفل سَوہ سَبب دادی چی پہ دسجدی ددہ شروع پہ نفلو صحیح سَوہ دمخہ تر اکمال دَفرضو، او پہ نیزد ابو یوسفؒ چی صرف تندی دی پر سجدہ کښیښو فرض یې نفل سَوہ، ولی چی دَاغہ پورہ سجدہ دہ چی سجدہ پہ شرعہ کی ایښودل دتندی دی پر ځمکہ،،

فَائِدَۃُ الْخِلَافِ کہ دغہ مصلی صرف چی تندی یې کښیښو اودس یې مات سو پہ نیز دامام محمدؒ اودس دی تازہ کړی. او د نوړ لمانځہ بناء دی پر وکی، ولی چی دی ھنوز پہ تحریمہ کی دلمانځہ دی، او امام ابو یوسف وائی چی بناء نہ دہ پر صحیح ولی چی پہ وضع د تندی لمونځ پورہ سو. نو ددہ بی اودسیا خارج الصلوٰۃ دہ، مصنفؒ چی اِنْ شَآءَ ووایہ ددی سببہ چی دی سړی خو پہ نفلو شروع قصدًا نہ دہ کړی چی اتمام یې پر لازم سی، البتہ مندوب دی او کی خوښہ سی سلام دی پر پنځم رکعت وګرځوی. او ھیڅ شی پر دہ نشتہ مګر نفل یې پنځہ رکعتہ سَوہ، **مسئلہ**: د دغہ لمانځہ ضمان پر دہ نشتہ یعنی کی فاسد کړی قضاء نہ لری عند علمائنا الثلثۃ،، نص علیہ غیر واحدٍ من اھل المذھب کذا قال الامام الطحاوی در ص ۳۸۲

قال المصنفؒ **وَلَوْ فِی الْعَصْرِ** کہ څہ ھم مازدیګر پہ لمانځہ کی وی ھم دی شپږم رکعت ور ضم کړی، ولی دمازدیګر تر لمانځہ دمخہ خو نفل قصدًا روا دی نو بیلہ قصدہ خو پہ طریقہ اولیٰ روا دی، او داشپږ رکعتہ نفل خو بی قصدہ دمازدیګر تر لمانځہ دمخہ وکړل چی دمازدیګر لمونځ خو دی وروستہ کوی. قال المصنفؒ

وَرَابِعَۃً فِی الْفَجْرِ او کہ د سحار پہ لمانځہ کی سھوا ودریم رکعت تہ ولاړ سو او دہ دریم رکعت سجدہ یې وکړہ فرض خو یې باطل سَوہ نو څلورم رکعت دی ھم ورجوت کی چی څلور رکعتہ سی، ولی کہ دی څلورم رکعت نہ کی ور ضم نو خو نفل یې دری رکعتہ سَوہ ھغہ مکروہ دی، او ضم چی مکروہ دی پہ سبب د وخت د سحار، نو داد وہ کراھت سرہ معارض سَوہ نو ضم الرکعۃ مباح سُو، **فائدہ** مصنفؒ د ماښام لمونځ نہ کی ذکر ولی ھغہ پہ سھوہ سرہ پہ څلور سوہ فلاحاجۃ الی الضم فیہ

قال المصنفؒ **وَلَاکَرَاھَۃَ فِی الضَّمِّ فِیْھِمَا** او ھیڅ مکروہ والی نشتہ پہ ضم لو کی د رکعت پہ ماښام او سحار کی، **پوښتنہ**: چی امام طحطاویؒ وائی چی ضمیر تثنیہ دلتہ مناسب نہ وو، ولی چی دمخہ مونږ وَ یل چی د ماښام پہ لمانځہ کی ضم نشتہ، ولی چی ھغہ پخپلہ څلور سوہ، فالصواب ان یقول فیہ بافراد الضمیر بارجاع الی الفجر فافھم، قال المصنفؒ

عَلَی الصَّحِیْحِ یعنی پر صحیح روایت پہ دواړو کی یعنی پہ مازدیګر او سحار کی پردی کی اشارہ دہ وھغہ روایت تہ چی پہ سراج وھاج کی وائی چی د مازدیګر پہ لمانځہ کی دی شپږم رکعت نہ ور جوت وی، یا قاضیخانؒ وائی چی د سحار پہ لمانځہ کی دی څلورم رکعت ور ضموی » قال المصنفؒ:

وَلَایَسْجُدُ لِلسَّھْوِ عَلَی الْاَصَحِّ او سجدہ سھوہ دی ھم نہ کوی پر اصح روایت کی، ولی چی ددی مصلی لمونځ فرضی خو فاسد سو او د فساد جبیرہ پہ سجدہ سھوہ سرہ نہ کیږی. وَقِیل یَسجد للسھو علی قولھما کذا قال الزیلعیؒ»

قَالَ المصنفؒ **وَاِنْ قَعَدَ الْاَخِيْرَ ثُمَّ قَامَ عَادَ وَسَلَّمَ مِنْ غَيْرِ اِعَادَةِ التَّشَهُّدِ**

او که چیرې مصلي کښینستی په اخیره ناسته کی و روسته ولاړ سو بل رکعت ته که په سهو سره وي او که په قصد سره وي" م "، نو تر هغو پورې چې د دغه رکعت سجده یې نه وي کړې که څه هم قرائت یې وئیلی وي او رکوع یې هم کړي وي بېرته به ئې راوګرځوي و ناستې ته ولې چې دم تر رکعت پر ښنول پرواه نه لري، او سلام دې وګرځوي او دَ تشهد دې اګر څیده نسته باندې **مسئله** که داغه سړي سلام په ولاړې وګرځوي صحیح خو دی لکن سنت طریقه پاته سوه. ولې چې سنت سلام ګرځول دي په ناسته کی، دلیل د دې چې دَ تشهد ی را ګرځیده نسته، دا دی چې تشهد په ولاړې سره نه باطلیږي، او امام ناطفيؒ وائي چې تشهد به اګرځوي

مسئله که دغه سړي امام وو، نو که دې په نفلی لمانځه پسې روان سو، قوم دې متابعت نه کوي بلکه دوی به ورته ناست وي، ولې چې په بدعت کی متابعت نسته" نو که چیرې امام دمختر سجدې د زائد رکعت بېرته را ګرځیدی نو په سلام ګرځولو کی قوم موافقت ورسره وکړي او که امام زائد رکعت ته سجده وکړه قوم دې فی الحاله سلام وګرځوي: قَالَ المصنفؒ:

فَاِنْ سَجَدَ لَمْ يُبْطِلْ فَرْضُهٗ وَضَمَّ اِلَيْهَا اُخْرٰى

او کی زائد رکعت ته سجده وکړه فرض یې نه دي باطل ولې چې اخیره ناسته خو یې کړې صرف ورته لفظ د سلام پاته دی او هغه خو واجب دئ" او ورجوت

لِتَصِيْرَ الزَّائِدَتَانِ لَهٗ نَافِلَةً وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ دې کړي دغه رکعت ته یو بل رکعت، خو ځکه وائي دا ضم مستحب دی او بعض وائي واجب دي، تا چې دغه دوه رکعته دده د پاره نفل سي، **پوښتنه**: چې دغه دوه رکعته نفل دسنت بعدي وو به ځای کی نه سي دریدلای. ولې چې سنت بعدي تحریمه نوی غواړي او مواظبت نبوی هم ئې دغه ول رانغلی دی، او سجده سهوه دې هم وکړي، ولې چې سلام چې

واجب وو وځنډیدی **مسئله**: که یو چا اقتداء په دغه امام پسې په دغه نفلی رکعتو کی وکړه، نو دا مقتدي به شپږ رکعت پوره کوي ولې چې دی تابع ده تحریمې د امام دی امام خو په موجوده تحریمه سره شپږ رکعته وکړه، او په نیز د امام اعظمؒ او ابو یوسفؒ دوه رکعته پر ده لازم دی. ولې خو امام د فرضی لمانځه ځخه وتلی دی، امام طحطاويؒ وائي چې صحیح قول د امام محمدؒ دی، او که چیرې دغه مقتدي دغه دوه رکعته زائد فاسد کړي امام محمدؒ وائي چې دی لکه امام چې فاسد کی قضاء باندې نسته او شیخینؒ وائي چې د دوو رکعتو قضاء دې راوړي، قال فی المراقی وعلیه الفتوی

قَالَ المُصنفؒ **وَلَوْ سَجَدَ لِلسَّهْوِ فِيْ شُفْعِ التَّطَوُّعِ لَمْ يَبْنِ شُفْعًا اٰخَرَ**

او کی سجده سهوه وکړه په هغه دوه رکعتو نفلو کی بل شفع به نه پر بناء کوي ازروی

عَلَيْهِ اِسْتِحْبَابًا فَاِنْ بَنٰى اَعَادَ سُجُوْدَ السَّهْوِ فِي الْمُخْتَارِ

استحباب او کی بناء پر وکړه سجده سهوه به راګرځوي په مختار روایت کی،

پوښتنه: چې مصنفؒ لَمْ يَبْنِ ووئیل لَمْ يُصِحّ یې نه ووئیل، ولې چې نفس بناء خو صحیح ده چې تحریمه پاته ده، او وجه د عدم بناء که څه هم صحیح ده دا ده چې په دې بناء سره هغه کړې سجده سهوه بې ضرورته باطلیږي « لوقوعه فی وسط الصلوٰة »، او اعاده د سجده سهوه هم پر دغه بناء دی چې هغه اوله سجده سهوه خو باطله سوه، ولې چې بناء د بلې شفع پر را اغله ،،

پوښتنه چې صاحب البحر وائي چې مصنفؒ خو عدم بناء د شفع اخر مستحب وبلل لکن دا بناء مکروه تحریمي ده، ولې چې مصلي به یا هغه کړې سجده سهوه باطلوي، او یا بې نه باطلوي « او د ادواړه کاره غیر مشروع دي » اول د دې سببه چې ابطال د عمل کوي وهو حرام بالنص: لَا تُبْطِلُوْا اَعْمَالَكُمْ ، او دوهم د دې سببه چې هغه سجده سهوه خو په میانځ کی د لمانځه ده. او سره د دې چې سجده نه وي منګر په اخیر کی د لمانځه "

Maktaba Tul Ishaat.com

اذا علمت هذا مع ظهوره يكون عدم البناء واجبا لا مستحبا"، وَقد اَيّد
قال الامام ما قال صاحب البحر كثير من الفقهاء" وَاللهُ اَعْلَمُ بِالصَّوابِ وَاِلَيهِ المرجع والمآب
اركان

قال المصنفؒ **وَلَوْ سَلَّمَ مَنْ عَلَيْهِ سَهْوٌ فَاقْتَدٰى بِهٖ غَيْرُهٗ صَحَّ**

که چیرې سلام وګرځاوه هغه مصلي چې پر ده باندې سجده لازمه وه او په دغه حال کې پر ده

اِنْ سَجَدَ لِلسَّهْوِ وَاِلَّا فَلَا يَصِحُّ وَيَسْجُدُ لِلسَّهْوِ وَاِنْ

پسې اقتداء وکړه بل سړي اقتداء يې صحيح ده که چيرې ساهي سجده وکړه د سهوې د پاره

سَلَّمَ عَامِدًا لِلْقَطْعِ مَالَمْ يَتَحَوَّلْ عَنِ الْقِبْلَةِ اَوْ يَتَكَلَّمْ

ولې چې دی په سجده کولو سره وګرځيدی واحرام ته د لمانځه چې د ده وَتل د لمانځه څخه پر دغه سجده موقوف وُو، **فائده**: دغه مقتدي به هم سجده سهوه وروسره کوي، او مقتدي به اخيرکې د خپل لمانځه هغه سجده سهوه نه راګرځوي که څه هم په مابين کې د لمانځه د ده، ولې چې دی امام اخير د لمانځه د ده د پاره حکمًا او متابعةً اخير د لمانځه دی او ده امام د پاره حقيقةً لو که چيرې ساهي سجده سهوه نه وکړه، نو د دغه مقتدي اقتداء نه ده پسې روا، ولې چې د سلام وګرځاوه او سجده سهوه يې هم ونه کړه د لمانځه څخه دی خارج سو په نيزد امام اعظم او امام ابو يوسف رحمهما الله تعالى، خلافا لمحمد وزفرؒ"، هغه وائي اقتداء پسې صحيح ده، او د دغه مصلي حکم دادی چې سجده سهوه به وجوبًا کوي که څه هم ده سلام په قصد ګرځولی وي، د پاره د قطع د لمانځه"، ولې نفس نيت د تغيير د مشروع کار چې دلته سجده سهوه ده، وهغه مشروع کار ته تغيير ورکوي، او دغه سلام ته اعتبار نسته ولې دا خوځ کردی، نو وروسته تر سلام په دغه مذکوره نيت سجده سهوه پر ده واجب ده ولې چې تحريمه د لمانځه باقي ده تر هغو چې د قبلې څخه مخ نه وي اړه ولی، او يا يې خبرې نه وي کړي، ولې په دغو دوو کارو سره تحريمه باطله سوه"

او بعض فقهاءؒ وائي چې په خبرو کې خو دا غه حکم دی. او په نفس ... سره تحريمي ابطال نه راځي خو چې تر مسجد نه وي وَتلی" قال المصنفؒ:

وَلَوْ تَوَهَّمَ مُصَلِّيْ رُبَاعِيَّةٍ اَوْ ثُلَاثِيَّةٍ اِنَّهٗ اَتَمَّهَا

او که چيرې توهم وکړ يعني د خطا خوا يې غالب وي، لمونځ کوونکی د څلورو رکعتو فرضو او يا لمونځ کوونکی د درې رکعتو که څه هم وترو وي

ثُمَّ عَلِمَ اِنَّهٗ صَلّٰى رَكْعَتَيْنِ چې ما لمونځ پوره کړی. وروسته يې يقين سو چې ما خو دوه رکعته وکړه لکن د لمانځه سره منافي کار لکه خبرې خوړلک، وغيره يې نه وي کړي **ظن** دا دی چې د صواب خوا يې غالبه وي، او توهم خو ذکر سو، **فائده**، او ياد ور پياد سي چې ما خو سجده د لمانځه چې صلبيه يې بولي پرې ايښې ده او يا پر ما سجده تلاوت سته، قال المصنفؒ:

اَتَمَّهَا وَسَجَدَ لِلسَّهْوِ وَاِنْ طَالَ تَفَكُّرُهٗ وَلَمْ يُسَلِّمْ حَتّٰى اِسْتَيْقَنَ

لمونځ دی پوره کړي په کولو د ما ترکهٔ، او سجده سهوه دی وکړي ولې چې تحريمه د لمانځه پاته ده، که څه هم ډېر سي فکر، وو هل د ده په تيقن کې د متروك او سلام يې هم نه وي ګرځولی حتی چې يقين په متروك ور ته حاصل سو" قال المصنفؒ:

اِنْ كَانَ قَدْرَ اَدَاءِ رُكْنٍ وَجَبَ عَلَيْهِ سُجُوْدُ السَّهْوِ وَاِلَّا لَا

که چيرې وه زمانه د فکر د ده په قدر د اداء د يوه رکن وه نو سجده سهوه دی هم وکړي او که زمانه د تفکر د ده تر زمانې د اداء د رکن کمه وه بيا سجده سهوه بانددې نسته، په اول صورت کې تاخير د واجب وه د دريم رکعت نه پيدا سو، او په دې قدر تاخير سره سجده سهوه لازميږي، او په دوهم صورت کې چونکه زمانه د تفکر لږ ده هغه عفوه دي"

اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِمُؤَلِّفِهٖ وَلِكَاتِبِهٖ

مسائل د باب السهو

۱ که یو مصلي سجده صلبیه پاتې وه، او یا بل فرضي عمل او ده ته پیاد شوه نو ده قصدًا سلام وګرځاوه. لمونځ یې باطل شو. ولې د اسلام په مابین کې د لمانځه دی او دا سلام چونکه عمدًا دی، نو دا سلام جلا کوونکی د فرائضو د لمانځه دی که څه هم ذکر دی» بخلاف المسئلة فان السلام وجد بعد تمام حقیقتها». «مر ط، در»

۲ که د مصلي سجده سهوه هیره وه او یا سجده صلبیة وه او یا سجده تلاوتیه وه او ده هیره وه. نو په دغه دریو سره مسئلو کې اګر ځول پر فرض ده، تر هغو پورې چې دی د مسجد څخه نه وي وتلی، او یاد لمانځه منافي لکه اکل او شرب وغیره نه وي صادر شوي. او که دی مسجد څخه وتی او یا منافي کار د لمانځه د ده څخه صادر شوی وو، د مخه تر قضا د ما نسیه نو که سجده صلبیه لمونځ یې فاسد شو.

۳ که مصلي سلام وګرځاوه او پر ده باندې یوه سجده تلاوتیه وه او بل سجده سهوه وه نو د ده دواړې هیرې وي. او یا یې سهویه فقط پیاد وه نو دا سلام د ده قاطع د لمانځه نه دی، نو دی دی اول سجده تلاوت وکړي، او بیا دې تشهد ووائي تا چې هغه د مخه قعده پوره نه سي، او بیا دې سلام وګرځوي او بیا دې سجده سهوه وکړي. او بیا دې تشهد ووائي تا چې هغه د مخه تشهد پوره نه سي، او بیا دې سلام وګرځوي.

۴ او که د دغه سړي دواړې سجدې پیاد وې او یا تلاوتیه یې پیاد وه فقط او سړ د هغه په قصدًا سلام وګرځاوه، نو دا سلام قاطع د لمانځه دی او د ده څخه سجده سهوه او سجده تلاوتیه دواړې ساقطې سوې، ولې چې په سبب د قطع د لمانځه بناء نه سي کولای «مر، ب، ط، مر، در»

۵ د مسائلو د باب السهو خلاصه دا ده که یو سړي سلام وګرځوي په سهوه سره پر دوه رکعتو مثلاً او په هغه ځای کې د لمانځه وي چې ور پیاد سي چې زما څخه دوه رکعته مثلاً پاته وي او مخ یې د قبلې څخه هم نه وي اړه ولی، او منافي د لمانځه لکه خوراک خبرې یې هم نه وي کړې

بیرته دې خپل لمونځ پوره کړي بیله نوي تحریمې بلکه پر ما مضی دې پسې بناء او لمونځ یې تام دی او سجده سهوه به کوي. او که پسې بل سړي په دغه حالت کې اقتداء وکي اقتداء یې صحیح ده، او که مخ د قبلې څخه واړاوه نو تر څو چې دی په مسجد کې وي او منافي د لمانځه کار یې هم نه وي کړی بیا دې هم بناء پر ما مضی وکړي لکه د مخ مسئله لعینها» ولې چې ټوله یې حکم کې د یوه ځای دی. ولې چې ټوله مسجد ځای د لمانځه دی»

او که د مسجد څخه ووتی او بیا ور پیاد سوه لمونځ یې فاسد سو بناء پر ما مضی نه ده صحیح، او که د اصل په صحراء کې وو او جماعت ولاړ وو نو تر هغو پورې چې تر صفوفو وسته یا پر راسته اړخ نه وي تیر سوی. را او دې ګرځي و پوره کولو ته د لمانځه، او که تیر سوی وو او بیا ور پیاد سوه لمونځ یې فاسد سو عود و ما مضی ته دې نه کوي. او که دی د مخ پر خوا راهي سو نو ځای ته د سجدې اعتبار نسته، نو که تر ځای د سجدې تیر سو عود به نه کوي بلکه لمونځ یې فاسد سو في الاصح، او که یې د مخ و خوا ته ستره وي هغو ته اعتبار نه دی په مجازات او عدم مجازات کې، ولې چې داخل د سترې په حکم کې د مسجد دی» هذا حاصل ما في ط

اصل د سجدهٔ سهوي څه دی؟ پوه سه چې په صحاح ستة وو کې داسي راغلي دي چې یو وخت آنحضرت صلی الله علیه وسلم د ماپښین په لمانځه کې وو یا د ماز دیګر په لمانځه کې (شک د راوي دی) او خوک چې وائي د ماخستن لمونځ وو هغه غلطه ده، خیر خو پر دوه رکعته یې سلام وګرځاوه. او په قوم کې حضرت ابوبکر او عمر رضی الله تعالی عنهما هم موجود وه، لکن دوی حضراتو د هیبته په دې باره کې د علیه السلام سره خبرې نسوای کولای او په خلګو کې یو سړی وو چې علیه الصلوة والسلام به ورته ذو الیدین وایه، ولې لاسونه د قامت په مناسبت اوږده وه، او نوم آخر باقي یا عرباض بن عمرو وو، هغه د علیه الصلوة والسلام څخه پوښتنه وکړه: اَقُصِرَتِ الصَّلٰوةُ اَمْ نَسِيتَ، یعنی تاته په لمانځه کې وحي راغلي چې د اربا عي لمونځ کوتاه سو یعني پر دوه رکعته ودریدی او که دې دوه رکعته هیر سوه علیه الصلوة والسلام ورته وویل: کل ذالک لم یکن» یعنی نه لمونځ کوتاه سوی او نه زما هیر سوي بلکه لمونځ مي پوره یعني زما په ظن کې ذو الیدین قد کان بعض

Maktaba Tul Ishaat.com

ذالک»، نو یوه خواخو پیښه ده یعنې چې کوتاه سوي نه دی نو دی هیر سوي دی. نو بیا ذوالیدین پوښتنه وکړه: اَحَقٌ مَا یَقُولُ ذُوالیَدَین قَالُوا نَعَم» نو بیا علیه الصلوة والسلام دوه رکعته نور وکړه او په اخیر کی سجده سهوه وکړه الی اخر الحدیث»

فائده: په دغه وخت کی په لمانځه کی خبری رواوی بیا منسوخ سوی، یعنې که څوک اوس ورته خبری وکړي لمونځ یې فاسد دی، او دلیل د نسخ یې دادی چې عمرؓ ته دا غسی واقعه پیښه سوه یعنې سهوه سو او بیا د خلکو څخه پوښتنه وکړه، لکن لمونځ یې د سره بیرته راوگرځاوه نو که دې ته نسخ نه وای ثابته نو ده عمل څخه د نبی علیه الصلوة والسلام په ولی مخالف وکړاوه او په دغه لمانځه کی د حضرت عمرؓ ډیر صحابه کرامؓ هم موجود وه، چا انکار ورته نه کړي»، فصار اجماعًا منهم علی ذالک»

سهانه فائده

د دی حدیث څخه دا معلومه سوه چې سهوه پر انبیاء کرام علیهم الصلوة والسلام باندی رواده او هغه چې بعض علماء وائي چې سهوه پر انبیاء علیهم السلام نه ده روا، ولی چې سهوه خو د غفلت څخه پیښیږي او انبیاء علیهم السلام د غفلت څخه پاک دی دا خبره د دوی تول صحیح حدیثو څخه خلاف ده، او دوی د ې خبری خطا کړې دی چې سهوه پر انبیاء علیهم السلام په امور تبلیغیه ووکی نه ده روا، یعنې چې دوی د خدای پاک د خوا څخه بیان د احکامو کوي او یا د عقائدو دینیه وو کوي. او هغه کارونه چې په تبلیغ پوری اړه نه لري په هغو کی سهوه پر دوی روا ده **پوه سه**: چې سهوه د نبی علیه الصلوة والسلام په لمانځه کی هم د سبب د غفلت نه وه بلکه دا سهوه په سبب د استغراق او شغل په خدای پاک سره وه چې لمونځ یې څنډی هیر کړی سه ولنعم ما قال الشاعر البارع»

یَا سَائِلُ عَنْ رَسُولِ اللهِ کَیْفَ سَهَا ؞ وَالسَّهْوُ مِنْ کُلِّ قَلْبٍ غَافِلٍ لَاهِي.
جواب: قَدْ غَابَ عَنْ کُلِّ شَیْئٍ سِرُّهٗ فَسَهَا ؞ عَمَّا سِوَی اللهِ فَالتَّعظِیمُ لِلّٰهِ»

فَصْلٌ فِی الشَّکِّ

دا فصل دی په بیان کی د شک یا په لمانځه کی او یا په طهارت کی: قال المراقی فی بیان بیان الشک وهو تساوی الامرین یعنې شک برابر والی دی د دوو شیانو او ریش وائي، د ظاهر لفظ څخه دا توهم کیږي چې مراد د شک څخه معنی حکمی ده وهو تساوی النقیضین» لکن امام طحطاویؒ وائي چې هغه معنا دلته نه ده مراد بلکه مراد معنائی لغوی ده وهو عدم الیقین» قهستانیؒ، یعنې که دواړه طرفه سره برابر وی او که یوه خوا راجح او بله مرجوح وي، ولی چې دا فصل د دغی معنای اعم د پاره معقود دی،

سوال: مصنفؒ وروسته وائي: وهو تساوی الطرفین **جواب** هغه خبره په صورت کی د بطلان ده هلته د شک څخه معنائی منطقی حکمی مراد ده » قال المصنفؒ

تُبْطِلُ الصَّلٰوةُ بِالشَّکِّ فِیْ عَدَدِ رَکَعَاتِهَا اِذَا کَانَ قَبْلَ

باطلیږی لمونځ په شک سره لکه د درو او دوو تر ما بین شک وی، چې دا شک پیدا سی د مخه تر اکمال

اِکْمَالِهَا وَهُوَ اَوَّلُ مَا عَرَضَ لَهٗ مِنَ الشَّکِّ

د رکعتو او وی دغه شک اول چې ورته وړ پیښ سو **پوه سه** چې اکثر مشائخ پر دی دي چې د بلوغ وروسته د ده اول شک وو، او فخر الاسلامؒ وائي چې په دغه لمانځه کی د ده اول شک وو، واختیاره ابن الفضلؒ م» قال المصنفؒ»

اَوْکَانَ الشَّکُّ غَیْرُ عَادَةٍ لَهٗ

او یا شک د ده عادت نه وی که څه هم اول شک نه وی» وجه او دلیل د بطلان یې دا قول د علیه الصلوة والسلام دی»، اِذَا شَکَّ اَحَدُکُمْ فِیْ صَلٰوتِهٖ اِنَّهٗ کَمْ صَلّٰی فَلْیَسْتَقْبِلِ الصَّلٰوةَ یعنې که چا ته شک پیدا سو په لمانځه کی چې ما څو رکعته کړي دی نو لمونځ دی د سره راوگرځوي،

سوال په دی حدیث شریف کی خودانه دی راغلی چی دا اول شک وي **جواب**
چونکه په بل روایت کی قید داول شک نه راغلی دی نو په قانون دمحدثینو دا مطلق محمول
پرهغه مقید دی، او بل دلیل دادی چی داسړی د صحرا نه دشک و عران ته دیقین نه انتلای
سی چی لمونځ نه اوګرځوی دسره نحه، لکه یوسړی چی شک وي چی ما ددی وقت لمونځ به
کړي اوکه نه او وقت هم باقی وي نو دغه شک دی په یقین بدل کړی اولمونځ دی وکړي

قال المصنف **فَلَوْشَكَّ بَعْدَ سَلَامِهٖ لَا يُعْتَبَرُ اِلَّا اَنْ يَّتَيَقَّنَ بِالتَّرْكِ**
اوکه سړی شک سو پس له سلام ګرځولو نحه، او یا قبل السلام لکن چی په قدر دتشهد په ناسته
کړي وي نو دغه شک له اعتبار نسته، ولی چی ظاهر الحال دلالت پر اتمام کوی. مګر هغه وخت
اعتبار لري که پس له شکه ده ته یقین سوه چی ما یو رکعت کم کړی دی مثلاً نو هغه دی وکړي

مسئله: که سړي لمونځ وکړی یعنی سلام یې وګرځاوه نو یو عادل سړي ورته ووَیل
چی تا یو رکعت کم وکړي او ده دا باور وو چی ما لمونځ پوره وکړی نو د هغه عدل واخبار
ته دی نه ګوری، یعنی لمونځ دی نه راګرځوی او که دوو عادلانو دا خبره ورته وکړه نو
دوی په خوله دی عمل وکړی او لمونځ دی راوګرځوی،،

مسئله: که دامام او مقتدیانو سره اختلاف سو په عدد کی د رکعاتو د لمانځه
نو که دامام پر خپل خبره کلک یقین وو، نو د مقتدیانو خبرو ته دی نه ګوري
او که دامام پر خپله خبره باور نه وو نو د مقتدیانو خبره دی ومني، که څه هم بعض
مقتدیان دده دخبري ملاتړ کوی،، قال المصنف:

وَاِنْ كَثُرَ الشَّكُّ عَمِلَ بِغَالِبِ ظَنِّهٖ اوکه مصلی ته په عدد کی د رکعتو ډیر واره شک ور
پیښیدی یعنی سره ددی چی عادت یې نه وي، نو دی دی عمل په غالب ګمان سره وکی
یعنی پس له فکر هغه لوري ته دی چی ترجیح ورته وايي: قال المصنف:

خدایه وبخښی مولف او هم کاتب ؛ چی په ورځ دمحشرګاه نه سی ور اسیب ؛

فَاِنْ لَّمْ يَغْلِبْ لَهٗ ظَنٌّ اَخَذَ بِالْاَقَلِّ وَقَعَدَ بَعْدَ كُلِّ رَكْعَةٍ
او که غالب ګمان ده ته نه سو پیدا نو پس له تحری څخه نو بناء د لمانځه دی پر هغه لږ عدد وکړي
مثلاً په دوو او دریو کی شک وو پر دوو دی بناء وکړي
ظَنَّهَا اٰخِرَ صَلَاتِهٖ ولی چی دوه خو متیقن دي او کښینیدی پر هغه رکعت
چی دده ګمان کیږی، یعنی د اکثر پر احتمال چی دا به اخیر د لمانځه وی،،

منثورات فصل السهو | دفتاوو په کتابو کی وائي : که مصلی شک سو چی ما اول تکبیر ووایه
او که نه، نو تکبیر الافتتاح یې اوګرځاوه او سبحانک اللهم
یې هم وویل ورو سته یې ورپیاد سوه چی ما خو تکبیر الافتتاح ویلی وو، سجده سهوه
دی وکړی، چی تاخیر د قرائت یې وکړی. او کی نه سوه ورپیاد هیڅ شی نسته، پر مذهب
دفخر الاسلام چی اول شک یې په دغه لمانځه کی دی" مراد څنګه دی دا معین لمونځ
دی چی هم دا اوس یې دی کوی، نتیجه یې دا ده که سړي د ماسپښین په لمانځه کی مثلاً شک
سو. نو لمونځ به د سره شروع کړي په هغه کی بیا شک سو، دالمونځ به راګرځوی. ولی
دا خو هغه معین لمونځ نه دی چی دی د مخه په کښې شک وو، بلکه په دی لمانځه کی یې هغه
د ول عمل کوي لکه مصنف چی وائي : وَاِنْ كَثُرَ الشَّكُّ آه"

پ[illegible] مسئله : چی ثمره داختلاف دابن الفضل د مذهب او د امام سرخسی د مذهب
او د اکثر [illegible] په دی مسئله کی ښکاره کیږی. چی یوسړی شک سو په اول پلا، په یوه لمانځه
کی نو هغه لمونځ [illegible] وه ګرځاوه، او بیا پس له څو کلو څخه بیا په یوه لمانځه کی شک سو"
نو پر قول د امام سرخسی دغه لمونځ به هم راګرځوی، ولی چی شک خو دده عادت نه وو، په کلو
کی پیښیده شک نه بولي، او پر قول دابن الفضل دی هم دالمونځ راوګرځوی ولی چی
دا خو اول سهوه ده په دغه [illegible] کی، او پر قول داکثر المشائخ نه راګرځیده نسته، ولی
چی دا خو اوله سهوه بعد البلوغ [illegible] ول سهوه بعد البلوغ خو د هغه بل کال داوه"

Maktaba Tul Ishaat.com

«لمانځه ښځه ځان و باسي»

مسئله: لمانځه بېرته راګرځول دادي چې د هغه اول لمانځه ته لکه خوړلو وغيره، او يا په سلام سره يا په خبرو سره او يا په عمل منافي دَ لمانځه ګرځوي. ولې سلام د ناستې په شريعت کې خلاصوونکې نه دى. داده چې په ناستې دى سَلام وګرځوي «نقله الامام الطحطاوىٔ عن السيدٔ وهو عن الزيلعي»

مسئله: که يوسړي شك سو په يوم لمانځه کې د شبا نه روژه، يعنى داخو يې يقين دى لکن په تعيين کې د هغه لمانځه ووچې ږ ماښځ خو يو لمونځ د شبا نه روژ قضا سوې دى، او ګرځوي، تا چې په يقين سره د شك وو، نو د يوم شبا نه روژ ټول لمونځونه دى راو ګرځوي، تا چې په يقين سره د قضائي لمانځه ښځه خلاص سى» فتح «

مسئله: که دسړي شك وو په اودس ماتيدو کې او يقين يې وو په طهارت کې نو دى اودس کوي، يعنى دسړي سره يقيناً پيادوې چې ما خو په فلاني ځاى اودس تازه کړى لکن شك په دى کې وو چې مابيا اودس مات کړي او که نه. نو دى اودس لري، او که ده سړي يقين وو په بې اودسيا بندى او شك يې وو په اوداسه کې يعنى دسړي يقيناً پياد و چې ما خو په فلانى ځاى اودس مات کړى، مګر شك په دى کې وو چې بيا ما اودس تازه کړى او که نه! نو دا سړي بې اودسه دى. او دا هم معناد هغه قول د فقهاوؤ: «اَلْيَقِيْنُ لَايَزُوْلُ بِالشَّكِّ»

مسئله: که يوسړي شك سو په بعض اندامو کې داوداسه چې ما پريولو او که نه! او اول شك وو دده نو هغه اندام دى پرې مينځي او که ورته شکونه وده ته ډير پيدا کيده هغه ته دى التفات نه کړي، ولې چې اخير الامر موسوس ګڼدى جوړيږي»

مسئله: که سړي په لمانځه کې وو او په تکبير افتتاح کې شك سو چې ما وواې او که نه، که اول وار وو اودى ګرځي او که ډير وو بيا نو دى خپل لمونځ دى نيسي کوي.

مسئله: که دسړي په له اوداسه ښځه دا شك ور پيدا سو، چې دا اوبه پاکې وې او که مردارې، او يا په نجاست کې دځاى شك ورته پيدا سى او يا په طلاق کې دَمابينى شك ورته پيدا سو يعنى چې ما به طلاق ورکړي وى او که نه د اشکوك اعتبار نه لري،

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ، خالق السموات والارضين، الموفق للخيرات المنزل للبركات عَلٰى مَا اَنْعَمَ على هذ العبد الضعيف العاصى ابى الفضل الموعو محمد عبيد الله» السنى عقيدةً، الحنفى مذهبًا، النقشبندى مشربًا، السليمانخيلى نسبًا، القندهارى موطنًا، الافغانى لسانًا، الايوبى تخلصًا، ابن الحاج المرحوم الملا محمد ايوب غفرله البارى، من تاليف الجزء الثانى لشرح نور الايضاح السامى، بالخير والعافية والصحة والسلامة، والصلوة والسلام على سيد طائفة الانبياء والمرسلين وسيلتنا فى مشكلات الدارين، محمد وعلى اله وصحبه الطاهرين الكاملين خصوصًا على الخلفاء الراشدين، واتباعهم الورعين، خصوصًا على امام الائمة سراج الامة المرحومة ابى حنيفة النعمانؒ، وعلى جميع الائمة المجتهدين فى الدين والائمة المحدثين والقراء المجودين وعلى سائر اولياء الله الصالحين خصوصًا على قائدى الطرق الاربعة فى الطريقة، وعلى جميع امة خير البشر الى يوم القيامة، والدين، برحمتك يا ارحم الراحمين واغفرلى ولوالدىّ وارحمهما كما ربيانى صغيرًا، امين يارب العلمين: يوم الاربعاء ۱۵ من جمادى الاول سنة ۱۴۲۲ھ ق»

ابيات

۱۔ د عشق مقام ډير عالى ؞ وهر مطلب ته خولك په عشق رسيږى.
۲۔ زما په زړه کې دښوونې عشق دى ؞ ځکه قلم مې پر صفحو چليږى.
۳۔ زما ټوله عمر په دى کار کې تير سو ؞ يخ وګرمې وما ته يو معلوميږى.
۴۔ سره د درس و تدريس تصنيف ؞ هم برابر او هميشه کرم کيږى.
۵۔ داد خداى فضل او مهربانى ده و رورو ؞ چې په دى کار کې ملال پر زړه نه تيريږى.
۶۔ خلګ حيران دى و دى کار ته زما ؞ لکن قلم دى چې د عشق پر کاغذه چليږى.
۷۔ دنيا طلبه ته په غوږ ګوړى ؞ چې په هيڅ ډول په دنيا فانى نه مريږى.

چی په هیڅ ډول د طلب سره یه نه تیرېږی۔ ٭ داد دوی عشق کامیابه کړی دی دوی
۸۔ داد دوی عشق کامیابه کړی دی دوی ٭ همیشه ستاسی ترغوږ و تیرېږی۔
۹۔ د منهومان لا یشبعان حدیث ٭ ددی بنوونی پر ډیوه کړیږی۔
۱۰۔ عبید الله لکه پتنګ همیشه ٭

خواجه عبد الله الانصاریؒ

ای طالبی که دعوی عشق خدا کنی ٭ بر غیر او نظر محبت چرا کنی۔
از جستجوی خلق تو بیگانه شو اگر
خواهی که دل بحضرت او آشنا کنی

حقا که شور و لوله در آسمان فتد
آندم که تو ز بیم خدا یک ندا کنی
ملک دو عالم از تو شود گر ز روی عجز
خود را فدای خاطر یک بینوا کنی
انصاریا چو روز شوی روشن از شبی
خود را بعجز در سبحان گدا کنی۔

وما احب ما قیل

صرفت العمر فی لهو ولعبٍ ٭ فآهًا ثم آهًا ثم آهًا ٭
احب الصالحین ولست منهم ٭ لعل الله یرزقنی صلاحًا ٭
وما انا من کید الحسود بآمن ٭ ولا جاهل یدری ولا یتدبر ٭
هم یحسدوننی وشر الناس کلهم ٭ من عاش فی الناس غیر محسود

اللهم اغفر لمولفه ولکاتبه کتبه احقر العباد فضل الحق حقانی غفرله وقد نشره مکتبة القراءت والتجوید بکوهته حسب الاهتمام شمس الحق شمس مدیر المکتبة،

دپښتو نور الایضاح جلد دوهم د مضمونو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

دنور الایضاح پښتو دوهم ټوک د مضمونو فهرست

دپښتو نور الایضاح دوهم ټوک د مضمونو فهرست

دپښتو نور الایضاح دوهم ټوك دمضمونو فهرست

دپښتو نور الایضاح دوهم ټوك دمضمونو فهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

اِعلان — خبرتیا

چونکه دا شرحه زما عبید الله مستقل تصنیف دی او ډیره جان فشانی می په کښی کړیده، اوبیا زما دکتابو ناموړی کاتب» قارِی فضل الحق صاحب» دنوشته نه علاوه ډیر مصرف یه دکتابت په دوران کښی په کښی کړی دی» لهذا اما حقوق دَطبع ددی شرحې وناموړی قارِي صاحب ته هدیه کړیدی. هیڅ کتا بفروش حق د طبع زما دغې شرحې نه لري، او د کمپیوټر دلاړي دی هم دلاوري دطبع نه کوي، شرعی او اخلاقی او تجارتی قوانین دی په فهم کی ولري، تیار خوري دی نه کوي، او د سرلغړولو په صورت کی به علاوه تر حقوقی جنجال، د ناموړی قارِي صاحب زما چی مصنف د دی کتاب یم هم د حتی المقدور کشر ماکشره به مخامخ سی، البته قارِي صاحب به هم کتا بفروشانو ته فی جلد ۵ کالداري مراعات په نظر کی ولري، ان شاء الله تعالیٰ: وما علینا الا البلاغ قبل الوقت

دحضرت ابوبی دخط متن:

= اعلان = خبرتیا»

چونکه دا شرحه زما عبید الله مستقل تصنیف دی او ډیره جان فشانی می په کښی کړیده» اوبیا زما دکتابو ناموړی» قاري فضل الحق صاحب» دنوشته نه علاوه ډیر مصرف یه دکتابت په دوران کښی په کښی کړی دی
لهذا ما حقوق دطبع ددی شرحی ده ناموړی قاري صاحب ته هدیه کړی دی هیڅ کتابفروش حق دطبع
زما ددغی شرحی نه لري» اوده کمپیوټر دلاري دی هم دلاوري دطبع نه کوي»
شرعی او اخلاقی او تجارتی» قوانین دی په فهم کی ولري» تیار خوري دی نه کوي» اوده سرلغړولو په صورت کی
به علاوه تر حقوقی جنجال ده ناموړی قاري صاحب زما چی مصنف ددی کتاب یم »
هم ده حتی المقدور کشر ماکشره به مخامخ سی البته قاري صاحب به هم کتابفروشانو ته فی جلد ۵ کالداري
مراعات په نظر کی ولري ان شاء الله تعالیٰ وما علینا الا البلاغ قبل الوقت

عبید الله ابوبی قندهاری